کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری

كشف الباري

عما في

صحيح البخاري

كتاب الاستيذان، كتاب الدعوات، كتاب الرّقاق

مؤلف ← صدر وفاق المدارس مولانا سليم الله خان مدظله العالي
شيخ الحديث جامعه فاروقيه كراچي
ترتيب وتحقيق ← مولانا ابن الحسن عباسي (مؤلف درس مقامات)
ترجمه ← مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصيات

① داحاديثو تخريج
② د تعليقات بخاري تخريج كول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دگرانو لغاتو لغوي صرفي او نحوي حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره كښې پوره تحقيق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشيه كښې حواله وركول
⑦ د ترجمة الباب متعدد په بيانولو كښې پوره تحقيق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقيقي بيان او بيا د مذهب حنفي ترجيح
⑨ دحديث اطراف بيانول چه په بخاري كښې داحديث په كوم كوم ځائې كښې دې

جلد ⑮

خورونكى فيه:ا. كتب خانه محله جنگى پيښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب الاستیذان، کتاب الدعوات، کتاب الرقاق

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پېښور یونیورسټي

د ملاویدو پتې د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲۴۳۳۴
- اسد الله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷۴۷۷۶۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳۴۱۷۴۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانسان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹۴۴۷۴۱۳
- مکتبهٔ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹۴۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۶۱۹۶۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامين

شميره	مضمون	صفحه

۸۲ كتاب الاستيذان

شمیره	مضمون	صفحه

۸۳: کتاب الدعوات (الاحادیث: ۵۹۴۵-۶۰۴۸)

شمیره	مضمون	صفحه

۸۴: کتاب الرقاق

۸۳: کتاب الرقاق

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: ﴿مِنْهُمُ الْمُوبَقُ بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمُ الْمُخَرْدَلُ﴾:	۴۲۳
	قوله: ﴿قَشَبَنِي رِيحُهَا﴾:	۴۲۳
	قوله: ﴿فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فِي الصُّورَةِ الَّتِي يَعْرِفُونَ﴾:	۴۲۳
	مسئله د الله پاک د متشابهات صفاتو	۴۲۴
	د اهل سنت مسلک:	۴۲۴
	① اول مسلک	۴۲۴
	② دویم مسلک	۴۲۵
	③دریم مسلک	۴۷۰
	راجح او محتاط مسلک	۴۷۲
	څو اهم خبرې	۴۷۳
	د سلفي حضراتو تشدد	۴۷۴
	۵۲: بَابٌ فِي الْحَوْضِ	۴۷۶
	د حوض مفهوم:	۴۷۶
	د حوض کوثر ثبوت	۴۷۶
	حوض به د صراط نه مخکښې وی که روستو	۴۷۷
	یو اشکال او د هغې جواب	۴۷۷
	د ترجمة الباب وضاحت	۴۷۸
	قوله: ﴿فَلاَ أُرَاهُ يَخْلُصُ مِنْهُمْ إِلاَّ مِثْلُ هَمَلِ النَّعَمِ﴾:	۴۸۴
	د ترجمة الباب سره مناسبت	۴۸۴
	قوله: ﴿وَزَادَ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ﴾:	۴۸۶
	مستورد ابن شداد:	۴۸۷
	قوله: ﴿أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ: تَرْجِعُونَ عَلَى الْعَقِبِ﴾:	۴۸۷

بسم الله الرحمٰن الرّحیم

۸۲: کتاب الاستیذان

① باب بدء السلام

د کتاب الاستیذان او کتاب الادب ترمینځه مناسبت : امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د کتاب الادب نه بغیر کتاب الاستیذان ذکر فرمائیلې دې. چاته تلو سره د هغه نه د دننه داخلیدو اجازت اخستلو استئذان وائی. او دا هم د آداب معاشرت نه یو اهم اسلامی ادب دې. خو د دې په احکاماتو کښې چونکه تفصیل دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله د دې دپاره د مستقل کتاب عنوان اوتړلو.

د استئذان معنی : د استئذان معنی ده ﴿ طلب الاذن فی الدخول لمحل لا یملکه المستاذن ﴾ (۱) یعنی کوم ځائې چه د انسان ملکیت نه وی هلته د داخلیدو نه مخکښې اجازت طلب کولو ته استئذان وئیلې شی.

د ترجمة الباب مقصد : امام بخاری رحمه الله په دې کتاب کښې د ټولو نه مخکښې ترجمة الباب "باب بدء السلام" په الفاظو سره قائم کړې دې. بداء (د باء په فتحې او د دال په سکون سره) د ابتداء په معنی کښې دې (۲) په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د سلام د ابتداء واقعه بیان کړې ده.

استئذان متصل سلام ذکر کولو سره ئې دې طرف ته اشاره اوکړه چه کوم سړې سلام نه کوی هغه ته دې دداخلیدو اجازت ورنکړې شی (۳) ددې تفصیل وړاندې په باب کښې راروان دې.

۵۸۷۳: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ، طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا، فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ، فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ، فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ. فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللَّهِ. فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ، فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ» [ر: ۳۱۴۸]

ترجمه : د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل الله پاک سیدنا ادم علیه السلام په خپل صورت باندې پیدا کړو. د هغوی اوږد والې شپیته ګزه وو. چه کله الله پاک هغه پیدا کړو نو وې وئیل لاړه شه او د ناستو ملائکو دې جماعت ته سلام اوکړه او واوره

---

(۱) فتح الباری ۳/۱۱، ارشاد الساری ۲۲۸/۱۳، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲
(۲) فتح الباری ۳/۱۱، ارشاد الساری ۲۲۸/۱۳، عمدة القاری ۱۱۶/۲۲
(۳) فتح الباری ۳/۱۱، ارشاد الساری ۲۲۸/۱۳، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

چه هغوی څه جواب درکوی هم هغه به ستا او ستا د اولاد سلام وی. نو هغوی ټولو سره ﴿السّلام علیکم﴾ اووې. ملائکو اووې ﴿السلام علیك ورحمة الله﴾ ملائکو د ﴿ ورحمة الله﴾ ضافه اوکړه پس هر هغه سړې کوم چه به جنت ته داخلیږی هغه به د سیدنا آدم علیه السلام په صورت پیدا کیږی د سیدنا ادم علیه السلام نه روستو د خلقو په قد کښې کمې شروع شو کوم چه تر اوسه پورې جاری دې

د خلق الله ادم علی صورته تشریح: ﴿ خَلَقَ اللهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا ﴾ د دې جملې په تشریح کښې د حضرات محدثینو مختلف اقوال دی:

① یو قول دا دې چه په ﴿علی صورته﴾ کښې ضمیر لفظ ادم طرف ته راجع دې او مطلب دا دې چه الله پاک سیدنا ادم علیه السلام لره د تخلیق د ابتداء نه هم د هغوی په صورت او شکل باندې پیدا کړو او د نورو انسانانو په شان د هغوی تخلیق په هغه تدریجی مراحلو باندې نه دې شوې چه په هغې کښې انسان اول یو نطفه، بیا مضغه، بیا جنین. بیا طفل. بیا صبی او بیا خوانیدو سره د خلقت مراحل پوره کوی، بلکه هغه د شروع نه د ټولو اندامونو او کامل شکل و صورت سره د شپیتو ګزو پوره انسان جوړ کړې شوې وو.[1]

د صحیح بخاری شارح علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې د دهریه په عقیده باندې رد دې چه د انسان خلقت د اولې ورځې نه د نطفه او مضغه تدریجی مراحلو سره راروان دې. انسان د نطفې او نطفه د انسان پیداوار دې. په دې حدیث کښې صراحت راغلو چه د سیدنا آدم علیه السلام خلقت د نطفې نه نۀ دې شوې بلکه هغه د خاورې نه په شروع کښې په خپل اصل صورت باندې پیدا کړې شوې وو.[2]

② دویم قول دا دې چه په﴿ علی صورته﴾ کښې ضمیر د لفظ الله طرف ته راجع دې، او د ﴿صورة﴾ نه مراد صفت دې، مطلب دا دې چه الله پاک سیدنا ادم علیه السلام لره په خپل صفت باندې پیدا کړو. یعنی هغه ئې د هغه صفاتو سره موصوف کړو کوم چه د الله پاک د صفاتو سورې او نظاره ده. پس الله پاک هغوی حی، عالم، قادر، مرید، متکلم، سمیع او بصیر جوړ کړو.[3]

③ دریم قول دا دې چه ضمیر د لفظ الله طرف راجع دې او د ﴿ صورة ﴾ نه صفت نه دې مراد بلکه صورت او هیئت مراد دې، خو د الله پاک طرف ته اضافت د تشریف او تکریم دپاره دې.[4] لکه "روح الله" او "بیت الله" کښې د روح او بیت اضافت د الله پاک طرف ته د شرف او عظمت د ظاهرولو دپاره دې، په دې صورت کښې د سیدنا آدم علیه السلام د شکل او صورت

---

[1] فتح الباری ۳/۱۱، ارشاد الساری ۲۲۸/۱۳، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

[2] شرح صحیح البخاری لابن بطال ۶/۹، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

[3] ارشادالساری ۲۲۹/۱۳، فتح الباری ۴/۱۱، شرح صحیح البخاری لابن بطال ۷/۹، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

[4] ارشاد الساری ۲۲۹/۹، مرقاة المفاتیح، کتاب الدیات، باب ما لا یضمن من الجنایات: ۸۵/۷، عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

وجاهت او لطافت او د هغوی حسن او ښکلا طرف ته اشاره کول مقصود دی چه الله پاک سیدنا ادم علیه السلام په داسې لطیف او جمیل صورت باندې پیدا کړو کوم چه په اسرار او لطائف باندې مشتمل دې او که چه هغه د خپل قدرت کامله په ذریعه د خپل طرف نه ورکړې دې.[۱]

قوله: ﴿فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ﴾: یعنی تاسو د سلام کولو نه پس واورئ چه څنګه په جواب کښې تحیة پیش کوی، هم هغه به ستاسو او ستاسو د امت تحیة وی. د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې ﴿يجيبونك﴾ دې، یعنی هغه څنګه جواب درکوی.[۲]

طوله ستون ذراعا: یعنی د سیدنا آدم علیه السلام اوږد والې دهغوی دپیدائش په وخت شپیته ذراع وو

د ذراع نه څه مراد دې، د سیدنا ادم علیه السلام ذراع یا موجوده ذراع؟ زیات صحیح خبره دا ده چه د موجوده خلقو ذراع مراد دې.[۳] د سیدنا آدم علیه السلام ذراع نه دې مراد[۴] او مطلب دا دې چه د سیدنا آدم علیه السلام قد په اوږد والی کښې د دې دور د خلقو د شپیتو ګزو په اندازه وو. یعنی شپیته ګزه وو. ځکه چه که د آدم علیه السلام ذراع مراد کړې شی نو د دې مطلب به دا وی چه د هغوی ذراع د هغوی د قد د شپیتمې حصې برابر وو. کوم چه د هغوی د قد د اوږد والی او تناسب اعضاء اعتبار سره بالکل بې جوړه معلومیږی. ځکه چه ذراع عموما د انسان د ربع او څلورمې حصې برابر وی او مناسب او ښکلې هم هغه وخت لګی چه کله هغه د هغه د ربع په اندازه وی. د شپیته ګزه انسان صرف یو ګز لاسونه به بالکل هم دغه شان بې جوړه معلومیږی لکه د دې دور د شپږ فټه انسان د څلور انچو لاس به نامناسب معلومیږی. په دې وجه د ذراع نه د دې دور د عام خلقو ذراع مراد دې.[۵]

سلام د امت محمدیه خصوصیت: ﴿ ذرية ﴾ نه د سیدنا آدم علیه السلام عام ذریة نه دې مراد. بلکه صرف د امت محمدیه صلی الله علیه وسلم مسلمان ذریة مراد دې.[۶]

وجه دا ده چه د نورو څو روایاتو نه معلومیږی چه د سلام مشروعیت د امت محمدیه صلی الله علیه وسلم خصوصیت دې

پس امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې او ابن ماجه په سنن کښې د سیده عائشه رضی الله عنها نه مرفوع روایت نقل کړې دې چه په هغې کښې دی ﴿ مَا حَسَدَتْكُمُ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ مَا حَسَدُوكُمْ عَلَى

---

[۱]) ارشاد الساری ۲۲۹/۱۳. شرح صحیح البخاری لابن بطال ۸/۹. مرقاة المفاتیح. کتاب الدیات. باب ما لا یضمن من الجنایات: ۹۷/۷

[۲]) ارشاد الساری ۲۲۹/۱۳. فتح الباری ٤/۱۱. عمدة القاری ۲۲۹/۲۲

[۳]) عمدة القاری ۲۸۷/۱۵. فتح الباری ٤٤۲/۶. تحفة الباری ۵۶/٤. الابواب والتراجم للكاندهلوی ۲۱۲/۱. مرقاة شرح مشكاة ۷۳۰/۹.

[۴]) ایضا

[۵]) حواله سابقه. د زیات تفصیل دپاره اوګورئ: مظاهر حق جدید (رقم الحدیث: ۵۷۳۶)

[۶]) ارشاد الساری ۲۲۹/۱۳. فتح الباری ۵/۱۱

السَّلامِ وَالتَّأمِينِ ﴾[١] يعنى يهوديان چه څنګه په سلام او آمين وئيلو باندې تاسو سره حسد کوى. په بل څه څيز باندې داسې حسد نه کوى

هم دغه شان د سيدنا ابوذر غفارى رضی الله عنه يو اوږد مرفوع روايت امام مسلم رحمه الله نقل کړې دې.

په دې کښې دى ﴿ اول من جاء بتحية السلام ﴾[٢]

يعنى د ټولو نه اول ماته د سلام ډالئ راکړې شوه.

امام بيهقى رحمه الله په شعب الايمان کښې د سيدنا ابوامامه رضی الله عنه نه مرفوعا روايت نقل کړې دې.

﴿إِنَّ اللهَ جَعَلَ السَّلامَ تَحِيَّةً لأُمَّتِنَا، وَأَمَانًا لأَهْلِ ذِمَّتِنَا ﴾[٣] يعنى سلام زمونږ د امت دپاره ډالئ او د اهل ذمه دپاره امان دې

په سنن ابى داؤد کښې د سيدنا عمران بن حصين رضی الله عنه نه په يو روايت کښې دى ﴿ كُنَّا نَقُولُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْعَمَ اللهُ بِكَ عَيْنًا وَأَنْعِمْ صَبَاحًا فَلَمَّا كَانَ الإِسْلامُ نُهِينَا عَنْ ذَلِكَ ﴾[٤] يعنى مونږ به د جاهليت په زمانه کښې ﴿ انعم بك عينا ﴾ ستا په ذريعه دې سترګې يخې وى او ﴿ انعم صباحا ﴾ ستا سحر دې په خير وى (نيه چارې) الفاظ وئيل. د اسلام د راتلو نه پس مونږ د دې الفاظو نه منع کړې شو

د مقاتل بن حيان رحمه الله په روايت کښې دى ﴿ كانوا فى الجاهلية يقولون : حييت مساء، حييت صباحا، فغيرالله ذلك السلام ﴾[٥] يعنى د جاهليت په زمانه کښې به خلقو ﴿ حييت مساء او حييت صباحا ﴾ الفاظ د سترې مشى په طور وئيل چه د هغې معنى ده سحر او ماښام ژوندې اوسې. الله پاک هغه په سلام باندې بدل کړو.

قوله: فقال : السلام عليكم : سيدنا آدم عليه السلام ته ﴿ سلم ﴾ وئيلو شوې وو. د ﴿ السلام عليكم ﴾ الفاظ يا خو هغوى د امر د صيغې نه پخپله فهم کړل او يا الله پاک د الهام په ذريعه هغوى ته دا الفاظ اوښودل[٦]

---

[١] اخرجه الامام البخارى فى الادب المفرد (مع فضل الله الصمد). باب فضل السلام. رقم الحديث: ٩٨٨. ٤٤٩/٢. واخرجه ابن ماجة فى كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها. باب الجهر بآمين. رقم الحديث : ٧٨٦. ٢٨٧/١.

[٢] اخرجه مسلم. بتغيير فى كتاب فضائل الصحابة. باب من فضائل ابى ذر رضى الله تعالى عنه. رقم الحديث ٢٤٧٣. ٤/ ١٩٢١

[٣] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان. باب فى مقاربة وموادة اهل الدين. رقم الحديث ٨٧٩٨. ٤٣٦/٦.

[٤] اخرجه ابوداؤد فى الادب. باب فى الرجل يقول : انعم الله بك عينا. رقم الحديث : ٥٢٢٧

[٥] فتح البارى ٥/١١

[٦] فتح البارى ٥/١١.

﴿السلام علیکم﴾ په الف لام سره غوره او افضل دي. که څوک بغیر د الف لام نه ﴿سلام علیکم﴾ اوائی نو هم صحیح دي.(۱) په قرآن کریم کښې دی ﴿ فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾(۲) په یو بل آیت کریمه کښې دی ﴿ سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴾(۳) په دواړو آیتونو کښې سلام بغیر د الف لام نه دي.

د علیکم السلام وئیلو مطلب که یو سړي ﴿علیکم السلام﴾ اوائی نو د راجح قول مطابق دا هم د سلام صیغه ده او په دې سره به سلام أدا شي. خو قاضي عیاض او امام غزالي ﷫ دې ته مکروه وئیلې دي.(۴) خو امام نووي﷫ فرمائی چه ﴿ والمختار لا یکره، ویجب الجواب، لانه سلام﴾(۵) یعنی مختار قول دا دې چه دا مکروه نه ده او د دې جواب ورکول واجب دی ځکه چه دا سلام دې.

په سنن ابی داؤد او سنن ترمذی کښې د ابو جری جابر بن سلیم الهجیمی ﷛ نه روایت دې چه ﴿ أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْتُ عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ «لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَوْتَى ﴾(۶) زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او اومې وئیل ﴿علیک السلام یا رسول الله﴾ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿علیک السلام﴾ مه وایه. ځکه چه دا د مړو تحیة ده. د دې روایت نه د ﴿علیک السلام﴾ کراهت معلومیږی.

قوله: ﴿ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللهِ ﴾: یعنی ملائکو په جواب کښې د ﴿ ورحمة الله ﴾ اضافه اوکړه. دا اضافه کول بالاتفاق مستحب ده. که سلام کونکی ﴿ورحمة الله﴾ اووي نو په جواب ﴿ وبرکاته ﴾ اضافه مستحب ده.

د ومغفرته ورضوانه د اضافې حکم د ﴿ وبرکاته ﴾ نه په سلام او د هغې په جواب کښې د ﴿ومغفرته، ورضوانه ﴾ اضافه مشروع ده یا نه؟ په دې سلسله کښې روایات مختلف دی امام مالک﷫ په موطاء کښې د سیدنا ابن عباس ﷠ روایت نقل کړې دې. په هغې کښې

---

(۱) فتح الباری ۵/۱۱، ارشاد الساری ۲۳۰/۱۳

(۲) سورة الانعام الایة : ۵٤

(۳) سورة الصافات، الایة ۷۹

(۴) ارشاد الساری ۲۳۰/۱۳، فتح الباری ۵/۱۱

(۵) فتح الباری ۵/۱۱، شرح مسلم للنووی کتاب السلام ۲۱۲/۲

(۶) اخرجه ابوداؤد فی ابواب السلام، باب کراهیة ان یقول : علیک السلام ۳۵۱/۲، والترمذی فی ابواب الاستیذان والادب، باب ما جاء فی کراهیة ان یقول : علیک السلام مبتداء ۱۰۱/۲.

دی ﴿ انتهى السلام الى البركة ﴾ يعنى په ﴿ وبركاته ﴾ باندې سلام پوره كيږي. [1]
خو د سيدنا انس. سيدنا ابن عمر او سيدنا زيد بن ارقم رضي الله عنه نه داسې روايات منقول دی چه په هغې كښې د ﴿ وبركاته ﴾ نه پس اضافه منقول ده. [2]
دا روايات اګر چه ضعيف دی، خو د ټولو د يوځائې كولو نه د ﴿ وبركاته ﴾ د اضافې مشروعيت ثابتيږي. پس حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى !
﴿ وهذه الاحاديث الضعيفة، اذا انضمت قوى ما اجتمعت عليه من مشروعية الزيادة على "وبركاته" ﴾ [3]
دلته په روايت كښې دی چه سيدنا آدم عليه السلام ﴿ السلام عليكم ﴾ اووې او ملائكو په جواب كښې ﴿ السلام عليك ﴾ اووې. د دې نه معلومه شوه چه د سلام په جواب هم هغه صيغه استعمالولې شي كومه چه د سلام دپاره خاص ده. د كشميهنى په روايت كښې ﴿ وعليك السلام ﴾ دې. [4]
په جواب كښې كه چا صرف ﴿ وعليكم ﴾ اووې نو هم كافى ده خو كه ﴿ عليكم ﴾ ئې بغير د واؤ نه اووې نو د جواب دپاره به كافى نه وى. [5]
د سلام او د هغې د جواب متعلق نور احكام: سلام كول مسنون او جواب وركول واجب على الكفاية دی كه په جماعت كښې يو كس جواب وركړو نو د ټولو د طرف نه به كافى شی [6]
سلام كولو او د هغې په جواب وركولو كښې ضرورى ده چه په دومره اوچت آواز سره وی چه نزدې كس ئې واورى. كه د دې نه ئې رو اووې نو هغه شرعا كافى نه دې [7]
د سلام جواب فوراً وركول واجب دی. كه په دې كښې تاخير اوكړې شو نو ګناهګار به وی [8]

---

[1] اخرجه الامام مالک فى الموطاء. كتاب السلام. باب العمل فى السلام. رقم الحديث : ۲. ۲. ۹۵۹. واخرجه البيهقى فى شعب الايمان. باب رد السلام. رقم الحديث : ۹۰۹۶. ۵۱۰/۶
[2] فتح البارى ۷/۱۱. عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيد . أَنَّ رَجُلاً سَلَّمَ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ . فَقَالَ : السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ . وَالْغَادِيَاتُ وَالرَّائِحَاتُ . فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ : وَعَلَيْكَ أَلْفًا . ثُمَّ كَأَنَّهُ كَرِهَ ذٰلِكَ. اخرجه الامام مالک فى الموطاء. كتاب السلام ۹۶۶/۲.
" عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ. قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْنَا. فَرَدَدْنَا عَلَيْهِ السَّلَامَ قُلْنَا: " وَعَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ" اخرجه البيهقى فى شعب الايمان. فصل فى كيفية السلام وكيفية الرد. رقم الحديث : ۸۸۸۱. (۴۵۶/۶)
[3] فتح البارى ۷/۱۱
[4] فتح البارى ۶/۱۱. ارشاد السارى ۲۳۰/۱۳. عمدة القارى ۲۳۰/۲
[5] شرح صحيح مسلم للنووى كتاب السلام ۲۰۲/۲
[6] شرح صحيح مسلم للنووى كتاب السلام ۲۱۲/۲. فتاوى هندية كتاب الكراهية. الباب التاسع : ۳۲۵/۵. رد المختار. فصل فى البيع ۲۹۳/۵
[7] شرح مسلم للنووى. كتاب السلام ۲۱۳/۲. رد المختار ۲۹۳/۵. فتاوى هندية كتاب الكراهية ۳۲۶/۵.
[8] رد المختار فصل فى البيع ۲۹۳/۵

د غائب جواب كه څوك راورسوی نو د هغه په جواب کښې ﴿ وعليك وعليه السلام ﴾ الفاظ ونيل يكار دی .[1]

قوله: فلم يزل الخلق ينقص حتى الآن : دلته ﴿ حتى ﴾ په معنی د ﴿ الى ﴾ دي او مطلب دا دې چه د شپیتو ذراع نه د انسان قامت په مزه مزه ښکته کیدلو. او تقریبا شپږو فتو نه راکوز شو. د نقص او کمی دا سلسله په هره صدئ کښې جاری وه. تردې چه د رسول الله ﷺ په زمانه باندې راتلو سره اودریده .[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته په دې مقام کښې دا اشکال دې چه د هغې صحیح جواب مانه اوسه پورې اونشو. هغه دا چه دا نقص دا سلسله په هره صدئ کښې وه. د سیدنا آدم علیه السلام نه واخله تر قوم ثمود پورې، په هغې کښې هیڅ خاص کمې نشته. ځکه چه د قوم ثمود چه کوم آثار ملاؤ شوې دی چه دا کمې انتهائی کمه شوې دی. هغه خلق د انتهائی اوچت قد او قامت مالکان وو او د قوم ثمود نه پس چه تر نن پورې په انسانی قامت کښې کوم کمې راغلې دې. هغه ډیر زیات دې. ځکه چه د قوم ثمود او د آدم علیه السلام په زمانه کښې ډیره فاصله ده. او د قوم ثمود نه د رسول الله ﷺ د زمانې پورې فاصله نسبتا کمه ده پس حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:

﴿ ويشكل على هذا ما يوجد الآن من آثار الأمم السالفة كديار ثمود فإن مساكنهم تدل على أن قاماتهم لم تكن مفرطة الطول على حسب ما يقتضيه الترتيب السابق ولا شك أن عهدهم قديم وأن الزمان الذى بينهم وبين آدم دون الزمان الذى بينهم وبين أول هذه الأمة ولم يظهر لى إلى الآن ما يزيل هذا الاشكال ﴾

د دې جواب دا کیدې شی چه په حدیث کښې د ﴿ نقص ﴾ ذکر مطلق دې. د زمانې د څه مخصوص مقدار او په څه خاص تناسب سره د نقص ذکر نه دې. لهذا که د قوم ثمود پورې نقص زیات نه شو نو دا هیڅ د اشکال خبره نه ده که روستو زیادت شوې وی نو هیڅ د اشکال خبره نه ده

⑵ باب

قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ * فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ * لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ).(٢) وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ أَبِي الْحَسَنِ لِلْحَسَنِ إِنَّ نِسَاءَ الْعَجَمِ يَكْشِفْنَ صُدُورَهُنَّ

[1] رد المختار فصل فی البیع ٥/ ٢٩٤
[2] فتح الباری ٦/ ٤٤٣، عمدة القاری ١٥/ ٢٨٧، تحفة الباری ٤/ ٥٦، مرقاة ٩/ ٧٣٠

وَرَءُوسَهُنَّ قَالَ اصْرِفْ بَصَرَكَ عَنْهُنَّ. قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ (قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ). وَقَالَ قَتَادَةُ عَمَّا لاَ يَحِلُّ لَهُمْ (وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ) (خَائِنَةَ الأَعْيُنِ) مِنَ النَّظَرِ إِلَى مَا نُهِيَ عَنْهُ. وَقَالَ الزُّهْرِيُّ فِي النَّظَرِ إِلَى الَّتِي لَمْ تَحِضْ مِنَ النِّسَاءِ لاَ يَصْلُحُ النَّظَرُ إِلَى شَيْءٍ مِنْهُنَّ مِمَّنْ يُشْتَهَى النَّظَرُ إِلَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً. وَكَرِهَ عَطَاءٌ النَّظَرَ إِلَى الْجَوَارِي يُبَعْنَ بِمَكَّةَ، إِلاَّ أَنْ يُرِيدَ أَنْ يَشْتَرِيَ.

امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې د ټولو نه اول د سورة النور درې آيتونه ذكر كړې دى چه د هغې ترجمه دا ده.

"اې ايمان والو! تاسو د خپلو كورونو نه علاوه نورو كورونو ته مه داخليږئ. چه ترڅو پورې مو اجازت نه وى حاصل كړې او د هغې اوسيدونكو ته مو سلام نه وى كړې. هم دا ستاسو دپاره غوره ده چه تاسو نصيحت حاصل كړئ بيا كه تاسو په هغه كورونو كښې څوك بيا نه مومئ نو هغې ته مه ځئ چه ترڅو پورې تاسو ته اجازت درنكړې شى او كه تاسو ته جواب ملاؤ شى چه واپس شئ نو واپس شئ. هم دا خبره ستاسو دپاره غوره ده او الله پاک ته ستاسو د ټولو اعمالو خبر دې."

مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله د دې آيتونو په تفسير كښې ليكى:

"يعنى خاص د خپل اوسيدو چه ئې كوم كور دې د هغې نه سوا دې بل كور ته بغير د خبر كولو نه داخل نه شى. معلومه نه ده چه هغوى به په څه حال كښې وى او هغه وخت د چا دننه راتلل خوښوى او كه نه. لهذا دننه تلو نه مخكښې آواز وركولو سره دې اجازت حاصل كړى او د ټولو نه غوره آواز د سلام دې. په حديث كښې دى چه درې كرته دې سلام اوكړى او د داخليدو اجازت دې واخلى. كه درې كرته سلام كولو نه پس هم اجازت ملاؤ نه شى نو واپس دې لاړ شى. په حقيقت كښې دا داسې حكيمانه تعليم دې چه كه د دې پابندى اوكړې شى نو د كور والا او ملاقات كونكى دواړو دپاره غوره ده. خو افسوس چه نن مسلمانان دا مفيد تعليمات پريږدى كوم چه نور قومونه هم د هغوى نه زده كولو سره ترقى كوى." (١)

د استيذان طريقه او حكم: د سورة النور د دې آيات مباركه نه د استيذان طريقه او حكم نسبتا په تفصيل سره بيان كړې شوې دې، چه د هغې حاصل دا دې چه انسان كله د بل سړى په كور كښې داخليدل غواړى نو هغه دې اجازت طلب كړى او د اجازت ملاويدو نه پس بيا داخل شى.

د اجازت طلب كولو په كيفيت كښې لږ شان اختلاف دې.

① د بعض علماء كرامو په نزد د استيذان صحيح صورت دا دې چه اول دې اجازت طلب كړې شى او د اجازت ملاويدو نه پس دې سلام اوكړې شى يعنى په استيذان كښې سلام مقدم دې. (٢)

(١) تفسير عثمانى: ٤٧١، سورة النور آيت نمبر ٢٧
(٢) تكملة فتح الملهم ٢٢٩/٤، شرح صحيح مسلم ٢١٠/٢، لامع الدرارى ٤٨/١٠

دا حضرات يو خو د قرآن كريم د ذكر شوي آيت كريمه نه استدلال كوى چه په هغې كښې ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ﴾ په دې آيت كريمه كښې د ﴿ تستانسوا ﴾ ترجمه مفسرين حضرات په ﴿ تستاذنوا ﴾ سره كړې ده. [۱] مطلب دا دې چه د چا په كور كښې د داخليدو نه مخكښې دوه كارونه كول پكار دى يو استيناس يعنى استيذان او دويم سلام. په آيت كريمه كښې استيذان په سلام باندې مقدم كړې شوې دې.
دويم دا چه دا حضرات د سيدنا ابو ايوب انصارى رضي الله عنه د روايت نه استدلال كوى كوم چه ابن ماجة په خپل سنن كښې نقل كړې دې. په هغې كښې دى ﴿ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، هَذَا السَّلَامُ، فَمَا الِاسْتِئْذَانُ؟ قَالَ: يَتَكَلَّمُ الرَّجُلُ تَسْبِيحَةً، وَتَكْبِيرَةً، وَتَحْمِيدَةً، وَيَتَنَحْنَحُ، وَيُؤْذِنُ أَهْلَ الْبَيْتِ ﴾ [۲] يعنى يا رسول الله! دا خو سلام شو، د استيذان څه طريقه ده؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: داسې انسان لره تسبيح او تكبير او مرئ تازه كولو سره د خپل راتلو خبر وركول پكار دى. په دې كښې دى چه د سلام نه مخكښې تسبيح وغيره لوستل، او مرئ تازه كول استيذان دې.
۲: خو د جمهور علماء كرامو په نزد د استيذان مسنون طريقه دا ده چه سلام دې په استيذان باندې مقدم كړې شى، يعنى اول دې سلام اوكړى او بيا دې كور ته د داخليدو اجازت طلب كړې شى. [۳] مثلا اول دې دا اووئيلې شى ﴿ السلام عليكم ﴾ د دې نه پس دې اووئيلې شى چه: زه دننه راتلې شم؟
دا حضرات يو خو په سنن ابى داؤد كښې د ربعى د روايت نه استدلال كوى چه رسول الله ﷺ په كور كښې وو. د بنو عامر يو سړى كور ته د دننه داخليدو اجازت طلب كړو او وې وئيل ﴿ ألج ﴾ (آيا زه دننه داخليدې شم) رسول الله ﷺ خپل خادم ته اوفرمائيل ﴿ اخْرُجْ إِلَى هَذَا فَعَلِّمْهُ الِاسْتِئْذَانَ فَقُلْ لَهُ قُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ ﴾ يعنى دې سړى ته ور اوځه او ورته د استيذان طريقه اوښايه او اووايه چه په داسې وئيلو سره دې اجازت طلب كړى: السلام عليكم آيا زه داخليدې شم؟ هغه صاحب دا هدايت اوريدلو، پس هغوى اووې ﴿ السلام عليكم أأدخل ﴾ رسول الله ﷺ هغوى ته اجازت وركړو. [۴]
امام بيهقى رحمه الله هم په شعب الايمان كښې د سيدنا جابر رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې، په هغې كښې دى: ﴿ لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلَامِ ﴾ [۵]

---

[۱]) سورة النور آيت ۲۷، تفسير القرطبى ۲۱۳/۱۲، وروح المعانى ۱۳۳/۱۰، ابن كثير ۲۷۸/۳
[۲]) اخرجه ابن ماجة فى سننه فى كتاب الادب باب الاستيذان ۲۶۳ (اسناده ضعيف)
[۳]) اوګورئ: تكملة صحيح مسلم ۲۲۹/٤، شرح مسلم للنووى ۲۱۰/۲، لامع الدرارى ٤۸/۱۰
[۴]) الحديث اخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب، باب الاستيذان ٤۳۷/۲، (اسناده صحيح)
[۵]) الحديث اخرجه البيهقى فى شعب الأيمان باب فى مقاربة وموادة اهل الدين، رقم الحديث ۸۸۱۶، ٤٤۱/۶ (اسناده ضعيف)

يعني څوک چه په سلام سره ابتداء نه کوي هغه ته اجازت مه ورکوئ
امام بخاري رحمه الله هم په الادب المفرد کښې د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه دغه شان روايت نقل کړې دې (١)
د دې رواياتو نه معلومیږي چه سلام په استيذان باندې مقدم دې. هر چه تعلق دې د قرآن کريم د آيت نو د هغې دا جواب کيدې شي چه هلته واؤ د جمع دپاره دې د ترتيب دپاره نه دې لکه چه په اصول فقه کښې قاعده مشهوره ده. (٢)
او د سيدنا ابوايوب انصاري رضي الله عنه روايت ته حافظ ابن حجر رحمه الله ضعيف وئيلې دې (٣) په دې وجه هغه د ذکر کړې شوې هغه رواياتو په مقابله کښې حجت نه دې.
بهر حال د جمهور علماء کرامو په نزد د اجازت طلب کولو مسنون طريقه هم دا ده چه اول سلام اوکړې شي، د دې نه پس دې خپل نوم اخستلو سره اجازت طلب کړې شي. خو داسې ځايونه. کورونه او ځايونه چه هلته هر سړي ته عام د ورتلو اجازت وي. مثلا مسافر خانې. اسپتال وغيره نو هلته به د استيذان ذکر شوې حکم نه وي. په آيت کريمه کښې د ﴿ بيوتاغير مسكونة ﴾ نه هم داسې مقامات مراد دی. (٤)
قوله: وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ أَبِي الْحَسَنِ لِلْحَسَنِ إِنَّ نِسَاءَ الْعَجَمِ يَكْشِفْنَ صُدُورَهُنَّ وَرُؤُوسَهُنَّ قَالَ اصْرِفْ بَصَرَكَ عَنْهُنَّ: سعيد بن ابی الحسن رحمه الله، د امام حسن بصري رحمه الله رور دې. هغوی د خپل رور حسن بصري رحمه الله نه تپوس اوکړو چه عجمي زنانه خپله سينه او سر ښکاره ساتي؟ امام حسن بصري رحمه الله اوفرمائيل: تاسو خپل نظر د هغوی نه بچ ساتئ او په دليل کښې هغوی د قرآن کريم دا آيت کريمه: ﴿ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ﴾ پيش کړو، په دې آيت کريمه کښې مومنانو ته د سترګو د ښکته کولو حکم کړې شوې دې.
قول الله عزوجل: په ترکيب کښې مرفوع هم کيدې شي، په دې صورت کښې به دا د مبتداء محذوف دپاره خبر وي او د ﴿ اقراء ﴾ فعل محذوف کيدو د وجې نه منصوب هم کيدې شي. (٥)
کشميهنی نه علاوه په نورو نسخو کښې ﴿ وقول الله ﴾ په واؤ سره دې، په دې صورت کښې به دا آيت کريمه د مستقل ترجمة الباب په حيثيت سره وي، د امام حسن بصري رحمه الله د قول

---

(١) الحديث اخرجه الامام البخاری فی الادب المفرد مع شرحه فضل الله الصمد ٥٠٥/٢ (صحيح الاسناد)
(٢) کشف الاسرار ١٠٩/٢
(٣) فتح الباری ٩/١١ قال الحافظ : واخرج ابن ابی حاتم بسند ضعيف من حديث ابی ايوب.
(٤) عمدة القاری ٢٣١/٢٢. ارشاد الساری ٢٣٢/١٣، د تفصيل دپاره اوګورئ : تفسير القرطبی ٢٢١/١٢ وروح المعانی ١٣٧/١٠.
(٥) عمدة القاری ٢٣١/٢٢

حصه به نه وي [١]

قوله: وَقَالَ قَتَادَةُ عَمَّا لَا يَحِلُّ لَهُمْ: د ﴿وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾ تفسير امام قتاده رحمه الله كړي دي چه هغه مومنين د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی د هغه څیزونو نه کوم چه د هغوی دپاره جائز نه دي. ابن ابی حاتم د قتاده رحمه الله دا تعليق موصولا نقل کړي دي [٢]

په سورة غافر کښې دي ﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ﴾ خائنة الاعين د ﴿نظرة﴾ صفت دي [٣]، او د دې نه ممنوعه څیزونو طرف ته کتل مراد دي، یعنی چه د کومو څیزونو طرف ته کتل شرعا جائز نه دي. د هغې طرف ته سترګې اوچتول ﴿خائنة الاعين﴾ (د سترګو خیانت) دي

قوله: ﴿وَقَالَ الزُّهْرِيُّ فِي النَّظَرِ إِلَى الَّتِي لَمْ تَحِضْ مِنَ النِّسَاءِ لَا يَصْلُحُ النَّظَرُ إِلَى شَيْءٍ مِنْهُنَّ مِمَّنْ يُشْتَهَى النَّظَرُ إِلَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً﴾: امام محمد بن شهاب الزهری رحمه الله فرمائی چه کومو زنانو باندې د کم عمرئ یا بوډا نوب د وجې نه حیض نه راځي. هغوی ته د شهوت په نظر کتل صحیح نه دي.

دا تعليق چا موصولا نقل کړي دي دا معلومه نه شوه [٤]

قوله: ﴿وَكَرِهَ عَطَاءٌ النَّظَرَ إِلَى الْجَوَارِي يُبَعْنَ بِمَكَّةَ إِلَّا أَنْ يُرِيدَ أَنْ يَشْتَرِيَ﴾: امام عطاء بن ابی رباح رحمه الله به په مکه مکرمه کښې خرڅیدونکو وینځو طرف ته کتل مکروه ګڼړل. خو چه چا به اخستل غوښتل هغه به ئې د دې حکم نه مستثنی ګڼړلو.

ابن ابی شیبة رحمه الله د عطاء دا تعليق موصولا نقل کړي دي [٥]

د ايات استيذان نه پس د تعليقات ذكر كولو مقصد: د امام حسن بصری، امام زهری او امام عطاء رحمهم الله دا تعليقات د آيات استيذان نه پس ذكر كولو كښې دې خبرې طرف ته اشاره كول مقصود دي چه د استيذان د مشروعيت غرض او غاية دا دي چه بغير د اجازت نه د داخليدو په صورت کښې چه کور والا د کومو څیزونو طرف د چا کتل نه خوښوی، هغه د کتلو نه بچ کړي شي. او په دې ټولو کښې خطرناک امر پردو زنانو ته کتل دي،

پس شارحين د بخاری ليکي:

﴿ وجه ذكر هذا عقيب ذكر الآيات الثلاث المذكورة الإشارة إلى أن أصل مشروعية الاستئذان الاحتراز من وقوع النظر إلى ما لا يريد صاحب المنزل النظر إليه لو دخل بلا إذن، واعظم ذلك النظر الى النساء الاجنبيات ﴾ [٦]

---

[١]) عمدة القاری ٢٣١/٢٢. فتح البارى ١٠/١١.

[٢]) عمدة القارى ٢٣١/٢٢. فتح البارى ١٠/١١

[٣]) روح المعانى، سورة غافر ٥٩/١٣. عمدة القارى ٢٣١/٢٢

[٤]) تعليق التعليق کښې هم د ﴿اما قول الزهرى﴾ نه پس علامة الحذف دي. ١٢٠/٥

[٥]) عمدة القارى ٢٣٢/٢٢

[٦]) ارشاد السارى ٢٣٢/١٣. فتح البارى ١٠/١١، عمدة القارى ٢٣١/٢٢

۵۸۷۴ : حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِي قَالَ أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُاللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ
أَرْدَفَ رَسُولُ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ يَوْمَ النَّحْرِ خَلْفَهُ عَلَى عَجُزِ رَاحِلَتِهِ، وَكَانَ الْفَضْلُ رَجُلاً وَضِيئًا، فَوَقَفَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- لِلنَّاسِ يُفْتِيهِمْ، وَأَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمَ وَضِيئَةٌ تَسْتَفْتِي رَسُولَ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- فَطَفِقَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا، وَأَعْجَبَهُ حُسْنُهَا، فَالْتَفَتَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَنْظُرُ إِلَيْهَا، فَأَخْلَفَ بِيَدِهِ فَأَخَذَ بِذَقَنِ الْفَضْلِ، فَعَدَلَ وَجْهَهُ عَنِ النَّظَرِ إِلَيْهَا، فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللّٰهِ فِي الْحَجِّ عَلَى عِبَادِهِ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا، لاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ، فَهَلْ يَقْضِي عَنْهُ أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ قَالَ: نَعَمْ.» [ر: ۱۴۴۲]

دا روایت په کتاب الحج کښې تیر شوې دې، په دې کښې د سیدنا فضل بن عباس رضی الله عنهما قصه ذکر کړې شوې ده. د حجة الوداع په موقع باندې هغه رسول الله ﷺ سره په سورلئ باندې شاته ناست وو. یو زنانه د رسول الله ﷺ نه د یوې مسئلې د تپوس کولو دپاره راغله چه ډیره ښکلې وه، سیدنا فضل رضی الله عنه هغې ته کتل. رسول الله ﷺ چه کله اولیدل چه سیدنا فضل رضی الله عنه هغې ته مسلسل ګوری نو رسول الله ﷺ خپل لاس شاته بوتلو سره د فضل رضی الله عنه زنانه اونیوله او د هغه زنانه ئې د هغوی مخ واړولو.

قوله: ﴿عَجُزِ رَاحِلَتِهِ﴾: عجز (د عین فتحې او د جیم د ضمې سره) د سورلئ شاته حصه

د حدیث الباب نه مستفاد څو احکام . ددې حدیث نه څو خبرې معلومې شوې:

① یو دا چه په حالت د احرام کښې د زنانو دپاره د مخ داسې پرده نشته چه کپړه ئې د مخ سره اولګی. (۱) خو که کپړه د مخ نه لرې کولو سره داسې زوړنده کړې شی چه مخ د خلقو نه پټ هم وی او کپړه هم د مخ سره نه لګی نو دا جائز دې بلکه هم په دې کښې احتیاط دې (۲)

پردئ زنانه ته د کتلو حکم : ۲: دویمه خبره ترې دا معلومه شوه چه پردئ زنانه ته په غور سره کتل جائز نه دی. سیدنا فضل بن عباس رضی الله عنهما رسول الله ﷺ د داسې کتلو نه منع کړو.

د حنابله او شوافع حضراتو په نزد پردئ زنانه ته کتل مطلقا ناجائز او حرام دی که د فتنې ویره وی او که نه وی. (۳)

---

[۱]) فتح الباری ۴۰۶/۳ (کتاب الحج، باب ما یلبس المحرم من الثیاب والاردیة والازر) عمدة القاری ۱۶۶/۹ (کتاب الحج باب ما یلبس المحرم من الثیابت والاردیة والازر) رد المختار، کتاب الحج، فصل فی الاحرام، مطلب فیما یحرم بالاحرام وما لا یحرم ۱۷۶/۲، وبدائع الصنائع، کتاب الحج، فصل : واما بیان ما یحظره الاحرام ومالا یحظره ۱۸۶/۲.

[۲]) فتح الباری ۴۰۶/۳ (کتاب الحج، باب ما یلبس المحرم من الثیاب والاردیة والازر)

[۳]) المغنی لابن قدامة ۴۰۶/۳، ما نصه : فاما نظر الرجل الی الاجنبیة من غیر سبب، فانه محرم الی جمیعها فی ظاهر کلام احمد، واما مذهب الشافعیة : فما نقله النووی فی المنهاج ما نصة : ...بقیه برصفحه آئنده...

د احنافو او مالکیانو حضراتو په نزد د پردئ ښځې مخ ته کتل جائز دی، په دې شرط چه د فتنې ویره نه وی. (١)
که د فتنې ویره وی نو بیا بالاتفاق کتل ناجائز دی او چونکه په غالب احوالو کښې د فتنې ویره وی، په دې وجه متاخرین احناف هم مطلقا د عدم جواز فتوی ورکړې دې (٢)
خو د ضرورت مواقع د دې نه مستثنی دی، مثلا ډاکټر ته د علاج په وخت یا قاضی ته د

...بقیه ازحاشیه گذشته] ویحرم نظر فحل بالغ الی عورة حرة کبیرة اجنبیة، وکذا وجهها وکفیها عند خوف فتنة، وکذا عند الامن علی الصحیح. (وانظر تکملة الفتح ٢٦٩/٤، والفتاوی هندیة ٣٣٩/٥ ما نصه : وَأَمَّا النَّظَرُ إلَى الْأَجْنَبِيَّات فَنَقُولُ : يَجُوزُ النَّظَرُ إلَى مَوَاضِعِ الزِّينَةِ الظَّاهِرَةِ مِنْهُنَّ وَذَلِكَ الْوَجْهُ وَالْكَفُّ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ ... واما المالكیة : فمذهبهم ما ذکره الخرشی فی حاشیته علی مختصر الخلیل ٣٤٧/١ : وعورة الحرة مع الرجل الاجنبی جمیع بدنها حتی دلالیها؟ وقصتها، وما عدا الوجه والکفین ظاهرهما وباطنهما فیجوز النظر لهما بلا لذة ولا خشیة فتنة من غیر عذر، ولو شابة.

(١) وفی الدر المختار ٢٦١/٥، فحل النظر مقید بعدم الشهوة، والا فحرام، وهذا فی زمانهم، واما فی زماننا فمنع من الشابة، وانظر احکام القرآن للجصاص ٤٥٦/٣، سورة احزاب.

(٢) لاندې د څو اردو فتاوی نه د دې مسئلې متعلق عبارتونه نقل کولې شی:
١: مفتی اعظم هند، مفتی کفایت الله رحمه الله فرمائی : د پردې او حجاب د حکم مدار د فتنې په ویره باندې دی او دا ظاهره ده چه په مخ باندې نظر پریوتل د فتنې په باره کښې زیات موثر دی. پهدې وجه فقهاء کرامو د مومنه حره (آزادې مسلمانې ښځې) دپاره د پردو سرو مخکښې مخ ښکاره کول ناجائز کړې دی. د ارشادات او دلالات نصوص نه د مخ د پټولو تائید کیږی او هم دا احوط او اسلم ده. پس برقع اچولو سره وتل اوفق بالشرع والحکمة دی. (کفایة المفتی ٣٩٢/٥، کتاب الحجاب)
٢: او یو دې حجاب یعنی ټولو پردو زنانو نه پرده کوم چه صرف په زنانو باندې لازم ده، په سرو باندې نه. په دې کښې د سر نه واخله تر خپو پورې سره د مخ نه ټوله حصه پټول ضروری دی. (فتاوی حقانیه ٤٨٥/٢)
٣: مولانا حکیم الامت رحمه الله فرمائی : د احادیث و آیات او روایات فقهیه نه صفا معلومیږی چه د زنانه دپاره حکم اصلی حجاب او استتار بجمیع اعضائها وارکانها ثابت دې، خو چه چرته سخت ضرورت وی یا د بودئ کیدو د وجې نه مطلق احتمال د فتنې او اشتهاء باقی نه وی هلته د مخ او لاسونو کشف جائز دی. او هم دا مطلب دې د هغې د نه ستر کیدو. (امداد الفتاوی ١٨١/٤)
۴: صاحب د احسن الفتاوی لیکی : د پردې په ثبوت کښې اوس څه امور بالاختصار بیانولې شی.
١: زنانه دپاره بغیر د ضرورت نه په برقع کښې وتل هم حرام دی. ٢: د څه اهم ضرورت دپاره په پرده کښې وتل ورله جائز دی. په دې شرط چه برقع وغیره ډولی نه وی. څه قسم خوشبوئی ئې نه وی لګولې. خبرې او چال ئې ښکلې نه وی د فتنې ویره ئې نه وی ٣: بغیر د پردې نه بهر وتل او د غیر محرم مخکښې مخ ښکاره کول بغیر د سخت ضرورت نه حرام دی. (احسن الفتاوی ٢٢٩/٩)
۵: مولانا مفتی محمود الحسن ګنګوهی رحمه الله لیکی : معلومه شوه چه زنانو ته اصالة په کورونو کښې د اوسیدو حکم دې، که د څه حاجت د وجې نه اوځی نو مخ او سر لره پټولو سره وتل پکار دی، د لارې کتلو دپاره ورته د یوې سترګې ښکاره کولو ګنجائش دې. (فتاوی محمودیه ٤٠/١٢)
او په یو بل مقام باندې لیکی : د پردی سرې نه د مخ پټول بغیر د فساد د ویرې نه هم سوا د مستثنی مواقع نه په هر حال کښې ضروری دی. (فتاوی محمودیه ١٩٩/٥)

ګواهئ ورکولو په وخت که ضرورت وی نو د کشف وجه ګنجائش دې ﴿ لان الضرورة تبيح المحظورة ﴾[1] یعنې د ضرورت د وجې نه ممنوع څیزونه جائز کیږی
امام بخاری رحمه الله د آیات استیذان نه پس، د غض بصر آیاتونه او روایات ذکر کړې دی، په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چه د استیذان یو مصلحت دا هم دې چه د نظر ممنوعه ارتکاب اونشی ځکه چه پردئ زنانه ته کتل جائز نه دی او په کور کښې زنانه اکثر بې پردې وی، په دې وجه که داجازت طلب کولو نه بغیرڅوک داخل شی نو دستر ګو حفاظت به اونه شی.

۵۸۷۵ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ». فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا لَنَا مِنْ مَجَالِسِنَا بُدٌّ نَتَحَدَّثُ فِيهَا. فَقَالَ «إِذَا أَبَيْتُمْ إِلاَّ الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ». قَالُوا وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلاَمِ، وَالأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْىُ عَنِ الْمُنْكَرِ [ر: ٢٣٣٣]

ترجمه : د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تاسو په لارو کښې د کیناستلو نه ځان ساتئ! خلقو عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ: زمونږ دپاره یو بل سره په لارو کښې د خبرو کولو نه خلاصې نشته. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر کله ستاسو خبرې کول ضروری دی نو لارې ته د هغې حق ورکوئ. خلقو تپوس اوکړو: یا رسول الله ﷺ ! د لارې څه حق دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : سترګې ښکته ساتل، د تکلیف ورکونکو امورو نه بندیدل، د سلام جواب ورکول، د ښه خبرو حکم کول او د بدو خبرو نه منع کول.
د حدیث مناسبت د ترجمة الباب نه واضح دې.

③ بَابُ السَّلاَمُ اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللَّهِ تَعَالَى : وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا

حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قُلْنَا السَّلاَمُ عَلَى اللَّهِ قَبْلَ عِبَادِهِ، السَّلاَمُ عَلَى جِبْرِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى مِيكَائِيلَ، السَّلاَمُ عَلَى فُلاَنٍ، فَلَمَّا انْصَرَفَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ «إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلاَمُ، فَإِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلاَةِ فَلْيَقُلِ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ. فَإِنَّهُ إِذَا قَالَ ذَلِكَ أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ

[1] الاشباه والنظائر، القاعدة الخامسة، ص ٩٤، وقواعد الفقه ص: ٨٩

وَالْأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. ثُمَّ يَتَخَيَّرُ بَعْدُ مِنَ الْكَلَامِ مَا شَاءَ». [ر: ٧٩٧]

لفظ ﴿ السلام ﴾ د الله پاک په اسماء حسنی کښې دي. د دې معنی سلامتی ده. دلته د دې نه مراد ﴿ ذوالسلامة ﴾ دي، يعنی الله پاک د ټولو نقصاناتو او عيوبو نه منزه دې [١] حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن دقيق العيد نه نقل کوی

﴿ السلام يطلق بإزاء معان منها السلامة ومنها التحية ومنها أنه اسم من أسماء الله قال وقد يأتي بمعنى التحية محضا وقد يأتي بمعنى السلامة محضا وقد يأتي مترددا بين المعنيين كقوله تعالى ولا تقولوا لمن ألقى إليكم السلام لست مؤمنا فإنه يحتمل التحية والسلامة ﴾ [٢]

يعنی د سلام اطلاق په ډيرو معنی باندې کيږی، سلامتی، تحيه. او د الله پاک د نوم په طور استعماليږی. کله دا صرف د سالم کيدو په معنی باندې راځی او کله صرف د تحية په معنی باندې راځی. او کله په دې کښې د دواړو معنو احتمال وی. لکه چه د قرآن کريم په آيت کښې دی ﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ ﴾ دلته سلام د تحية او سلامتئ دواړو معنی لری.

قوله: ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ﴾: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې آيت کريمه سره اشاره فرمائيلې ده چه د تحية چه کوم عام حکم کړې شوې دې. د دې نه لفظ د سلام مراد دې. د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه په آيت کريمه کښې د تحية نه مراد سلام دې [٣] خو ابن التين د بعض مالکيانو علماء کرامو نه نقل کړې دی چه د تحية نه هديه مراد ده. [٤] علامه قرطبی رحمه الله احنافو ته هم د دې قول نسبت کړې دې [٥] خو علامه عينی رحمه الله د دې ترديد کړې دې او فرمائيلې ئې دی چه نسبة هذا الى الحنفية غير صحيحة [٦] يعنی د احنافو طرف ته د دې نسبت کول صحيح نه دی خو علامه جصاص رحمه الله په احکام القرآن کښې دا په هديه باندې محمول کړې دې [٧]

---

[١] عمدة القاری: ٢٣٣/٢٢، فتح الباری ١٥/١١، ارشاد الساری ٢٣٥/١٣، لسان العرب، فصل السين المهملة: ٢٩٠/١٢، وتاج العروس، باب الميم، فصل السين ٣٣٨/٨

[٢] فتح الباری ١٨/١١، عمدة القاری ٢٣٣/١١

[٣] عمدة القاری ٢٣٣/٢

[٤] عمدة القاری ٢٣٣/٢، فتح الباری ١٦/١١

[٥] سورة النساء/٨٦، تفسير القرطبی ٢٩٨/٥، (سورة النساء) عمدة القاری ٢٣٣/٢٢، فتح الباری ١٦/١١.

[٦] عمدة القاری ٢٣٣/٢٢

[٧] احکام القرآن للجصاص ٢٠٧/٢، سورة النساء/٨٦ علامه جصاص د هدية تصريح خو نه ده کړې خو هم د دې آيت کريمه نه په رجوع فی الهبة باندې استدلال کوی او ظاهره ده چه دا استدلال به هله صحيح وی چه کله تحية نه هدية مراد کړې شی. پس هغوی ليکی: فإذا حملنا...[بقيه برصفحه آئنده...

حاصل دا چه که يو سړي سلام کولو سره د ﴿ السلام عليكم ﴾ الفاظ اوائي چه د جواب ورکونکی دپاره مستحب دی چه د ﴿ وعليكم السلام ورحمة الله ﴾ د اضافي سره جواب ورکړی فالزيادة مندوبة والمماثلة مفروضة.(١)

د علامه ګنګوهی توجيه: مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله په لامع الدراری کښې په ترجمة الباب کښې د آيت کريمه د ذکر کولو يوه بله وجه ليکلې ده، پس هغوی فرمائي:

﴿ ولعل الوجه فى ايراد الاية فى هذا الباب ان المامور به من التحية ما فيه حسن، سواكان الحسن قليلا او كثيرا، كمايدل عليه قوله تعالى ﴿ باحسن منها ﴾ فان صيغة التفضيل مشعرة بزيادة الحسن فى هذا الرد، فكان دليلا على اصل الحسن فى التحية، وليس فى قولهم : السلام على الله حسن، لانقلاب المعنى، فلم يكن قائله اتيا بالمامور به لان المامور به انما يتادى اذا تضمن الحسن ولواقل ممافى ردها ﴾.(٢)

يعنى په دې باب کښې د آيت کريمه د راوړلو وجه دا کيدې شي چه مامور به هغه تحيه ده چه په هغې کښې حسن او ښکلا وی، که هغه حسن او ښکلا لږه وی او که ډيره. لکه چه د الله پاک د دې ارشاد ﴿ باحسن منها ﴾ نه هم دا فهميږی، په دې کښې ﴿ احسن ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده. کوم چه په جواب کښې د حسن په زيادت باندې دلالت کوی نو دا په دې آيت د تحيه کښې په اصل حسن او خوبئ باندې دليل شو او په ﴿ السلام على الله ﴾ وئيلو کښې هيڅ حسن نشته. ځکه چه معنى بدله شوې ده نو په دې باندې عمل کونکي به په مامور به باندې عمل کونکي نه وی ځکه چه مامور به هغه وخت ادا کيږی چه کله هغه حسن او خوبيانو لره متضمن وی. اګر چه هغه د هغه حسن نه کم تر وی کوم چه د هغې په جواب کښې دې.

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله په الابواب والتراجم کښې دې توجيه ته لطيف او قوی وئيلې ده.(٣)

حديث په باب کتاب الصلاة کښې تير شوې دې.(٤) په هغې کښې دی ﴿ ان الله هو السلام ﴾ په قرآن کريم کښې هم د الله پاک په اسماء حسنى کښې دا لفظ راغلې دې. سورة حشر کښې دی ﴿ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ ﴾

امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې د سيدنا انس رضى الله عنه په حسن سند سره يو روايت نقل کړې

...بقيه ازحاشيه گذشته] قوله تعالى وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا على حقيقته أفاد أن من ملك غيره شيئا بغير بدل فله الرجوعَ فيه ما لم يَثبتْ منه فهَذا يدلّ على صحة قول أصحابنا فيمن وهب لغيرى ذى رحم أن له الرجوع فيها ما لم يثبت منها.

(١) تفسير ابن كثير ٥٣١/١، عمدة القارى ٢٣٣/٢٢

(٢) لامع الدرارى ٤٩/١٠، ٥٠

(٣) الابواب والتراجم لصحيح البخارى، كتاب الاستيذان، باب السلام اسم من اسماء الله ص ١٢١.

(٤) الصحيح للبخارى، كتاب الصلاة، باب التشهد فى الآخرة، رقم الحديث ٨٣١

دي په هغې كښې دى ﴿ إِنَّ السَّلَامَ اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى ، وَضَعَهُ اللهُ فِي الْأَرْضِ ، فَأَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ ﴾[1] ، يعنى سلام د الله پاک يو نوم دې كوم چه الله پاک په زمكه كښې كيخودلې دې. لهذا دا خپل مينځ كښې خور كړئ.

د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما نه هم يو روايت موقوفا منقول دې په هغې كښې دى ﴿ السلام اسم الله، وهو تحية اهل الجنة ﴾[2] ، يعنى سلام د الله پاک نوم دې او د جنت والو تحيه ده.

④ باب تَسْلِيمِ الْقَلِيلِ عَلَى الْكَثِيرِ

[٥٨٧٧] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ، وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ ». [٥٨٧٨ - ٥٨٨٠]

د ترجمة الباب مقصد : د دې ځائې نه وړاندې په څلورو واړو بابونو كښې امام بخارى رحمه الله دا بيان كړې دى چه سلام چاته كول پكار دى، پس په باب كښې ئې د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه روايت نقل كړې دې. رسول الله ﷺ فرمائى وړوكې دې په مشر باندې، تيريدونكې دې په ناست باندې او كم خلق دې په زياتو باندې سلام كوى

﴿ يسلم ﴾ اگر چه د مضارع صيغه ده او خبر دې خو دلته د امر په معنې كښې دې. پس د مسند احمد په روايت كښې ﴿ ليسلم ﴾ د امر په صيغې سره راغلې دې.[4]

⑤ باب تَسْلِيمِ الرَّاكِبِ عَلَى الْمَاشِي

حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا مَخْلَدٌ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زِيَادٌ أَنَّهُ سَمِعَ ثَابِتًا مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي، وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ ». [ر: ٥٨٧٧]

---

[1]) الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) باب السلام من اسماء الله عزوجل. رقم الحديث. ٩٨٩. (٤٤٩/٢)

[2]) شعب الايمان للبيهقى. فصل فى سلام من دخل بيته او بيتا ليس فيه احد. رقم الحديث : ٨٨٣٥ (٤٤٦/٦)

[3]) الحديث. اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الاستئذان. باب يسلم الراكب على الماشى (رقم الحديث ٥٨٧٨). وكذا فى باب يسلم الصغير على الكبير. (رقم الحديث ٥٨٨٠) واخرجه مسلم فى كتاب السلام. باب يسلم الراكب على الماشى والقليل على الكثير ١٧٠٣/٤ (رقم الحديث ٢١٦٠) واخرجه الترمذى فى كتاب الاستئذان. باب ما جاء فى تسليم الراكب على الماشى. ٦٢/٥. (رقم الحديث : ٢٧٠٤) واخرجه ابو داؤد فى ابواب الاستئذان. باب من اولى بالسلام : ٣٥١/٤ (رقم الحديث : ٥١٩٨)

[4]) مسند الامام احمد بن حنبل مرويات ابى هريره رضى الله عنه ٣١٤/٢

سورلئ باندې سور سړي دې په پیدل تلونکی باندې سلام اوکړي. سلام په اصل کښې د تواضع هم علامت دې او د سور حالت د تواضع زیات محتاج دې ځکه چه د سورلئ د وجې نه په زړه کښې تکبر راتلې شی (۱)

⑥ باب تَسْلِيمِ الْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ

[۵۸۷۹] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زِيَادٌ أَنَّ ثَابِتًا أَخْبَرَهُ - وَهُوَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدٍ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ قَالَ «يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ

روان سړي به په ناست باندې سلام کوی، ګویا سلام کول د تلونکی سړی وظیفه ده که تلونکی زیات وی او ناست کم وی نو په دې صورت کښې به څه کولې شي؟ د مشی په اعتبار سره سلام ماشی له کول پکار دی خو د قلة په حیثیت سره که اوکتلې شی نو سلام قاعد له کول پکار دی.

د دې جواب علامه کرمانی رحمه الله دا کړې دې چه په داسې صورت کښې دواړه برابر دی. چه څوک هم ابتداء بالسلام اوکړي، هم هغه به غوره وی. (۲)

په دې کښې دې د دومره خبرې لحاظ اوساتلې شی چه په یو جماعت باندې سلام اوکړې شو نو د ټول جماعت جواب ورکول ضروری نه دی. که په جماعت کښې یو هم جواب ورکړو نو د ټولو د طرف نه به کافی شی.

⑦ باب تَسْلِيمِ الصَّغِيرِ عَلَى الْكَبِيرِ.

[۵۸۸۰] وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ، وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ، وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ» [ر: ۵۸۷۷]

په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا ادب بیانول غواړي چه ماشوم دې مشر ته سلام کوی ګویا په سلام کښې ماشوم له ابتداء کول پکار دی.

⑧ باب إِفْشَاءِ السَّلاَمِ

[۵۸۸۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ أَشْعَثَ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رضى الله عنهما - قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى

---

(۱) ارشاد الساری ۲۸/۱۳، فتح الباری باب یسلم الصغیر علی الکبیر ۱۸/۱۱

(۲) شرح الکرمانی: ۷۸/۲۲، ارشاد الساری: ۲۳۸/۱۳، ۲۳۹.

الله علیه وسلم - بِسَبْعٍ بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَنَصْرِ الضَّعِيفِ، وَعَوْنِ الْمَظْلُومِ، وَإِفْشَاءِ السَّلَامِ، وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، وَنَهَى عَنِ الشُّرْبِ فِي الْفِضَّةِ، وَنَهَانَا عَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ، وَعَنْ رُكُوبِ الْمَيَاثِرِ، وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ، وَالْقَسِّيِّ، وَالإِسْتَبْرَقِ. [ر: ۱۱۸۲]

د ترجمة الباب مقصد په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د سلام خورولو فضيلت او اهميت بيانول غواړی.

حديث الباب د دې خائې نه مخکښې په څو مقاماتو باندې تير شوې دې (۱) په دې کښې رسول الله ﷺ چه د کومو اووه څيزونو حکم کړې دې، په هغې کښې يود سلام خورول هم دی. سلام خپل مينځ کښې د محبت پيدا کولو ذريعه ده او د اسلامی معاشرې يو امتيازی وصف دې د سلام په فضيلت باندې ډير احاديث راغلی دی. (۲)

---

۱) الحديث اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، رقم الحديث، ۱۲۳۹، واخرجه ايضا فی کتاب النکاح، باب حق اجابة الوليمة والدعوة ومن اولم سبعة ايام ونحوه رقم الحديث ۵۱۷۵، واخرجه فی کتاب الاشربة، باب انية الذهب والفضة، رقم الحديث ۵۶۳۵، وايضا اخرجه فی کتاب المرضی، باب وجوب عيادة المريض رقم الحديث ۵۶۴۹، وفی کتاب اللباس باب باب الميثرة الحمراء رقم الحديث ۵۸۴۹، وباب خواتيم الذهب رقم الحديث ۵۸۶۳، وفی کتاب الادب باب تشميت العاطس اذا حمد الله، رقم الحديث ۶۳۲۲، وفی کتاب المظالم والغصب، باب نصر المظلوم، رقم الحديث ۲۴۴۵، وفی کتاب اللباس، باب لبس القسی رقم الحديث ۵۸۳۸.

۲) چه د هغې نه بعض دلته نقل کولې شی:

۱ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ. فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. فَرَدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "عَشْرٌ". ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ. فَرَدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "عِشْرُونَ". ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. فَرَدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "ثَلَاثُونَ" (شعب الايمان للبيهقی ۶/ ۴۵۴، باب فی موادة ومقاربة اهل الدين)

۲ وَقَالَ عَمَّارٌ ثَلَاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الإِيمَانَ الإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ وَالإِنْفَاقُ مِنَ الإِقْتَارِ. (صحيح البخاری ۱/ ۹ کتاب الايمان، باب افشاء السلام من الاسلام فوق رقم الحديث: ۲۸)

۳ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى أَمْرٍ إِذَا أَنْتُمْ فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ. (الجامع الصحيح للترمذی ۵/ ۵۳ کتاب الاستئذان، باب ما جاء فی افشاء السلام، رقم الحديث ۲۶۸۸)

۴ عَنْ مَالِك، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّ الطُّفَيْلَ بْنَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ يَأْتِي عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ فَيَغْدُو مَعَهُ إِلَى السُّوقِ، قَالَ: فَإِذَا غَدَوْنَا إِلَى السُّوقِ، لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَّاطٍ، وَلَا صَاحِبِ بِيعَةٍ، وَلَا مِسْكِينٍ، وَلَا أَحَدٍ إِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ. قَالَ الطُّفَيْلُ: فَجِئْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ. فَقُلْتُ لَهُ: وَمَا تَصْنَعُ فِي السُّوقِ؟ وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ، وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ، وَلَا تَسُومُ بِهَا، وَلَا تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ؟ قَالَ: وَأَقُولُ اجْلِسْ بِنَا هَاهُنَا نَتَحَدَّثُ. قَالَ فَقَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: يَا أَبَا بَطْنٍ وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ، نُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِيْنَا. (الموطاء للامام محمد ۳۸۴، ۳۸۵ باب رد السلام)

...[بقيه برصفحه آئنده...

⑨ باب السَّلَامِ لِلْمَعْرِفَةِ وَغَيْرِ الْمَعْرِفَةِ.

۵۸۸۲| حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي يَزِيدُ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَيُّ الإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ « تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ، وَعَلَى مَنْ لَمْ تَعْرِفْ». [ر: ۱۲]

۵۸۸۳| حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثٍ، يَلْتَقِيَانِ فَيَصُدُّ هَذَا، وَيَصُدُّ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ». وَذَكَرَ سُفْيَانُ أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْهُ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ. [ر: ۵۷۲۷]

د سلام متعلق څو امور: د سلام متعلق دي د څو امورو لحاظ او ساتلې شي

① راتلونکی که زيات وی او په هغوی کښې يو کس سلام اوکړو نو هغه به د ټولو د طرف نه کافی شي. کښې ټول به ګناهګار وی. هم دا حکم د جواب ورکونکو هم دي (۱)

② سلام کول سنت او د هغې جواب ورکول واجب دی. علامه ابن عبدالبر په دې باندې اجماع نقل کړې ده (۲)

③ د سلام کولو کم از کم درجه دا ده چه د سلام کونکی او جواب ورکونکی آواز واورى. د آواز نه بغير صرف په لاس يا سر خوزولو سره به د سلام سنت نه ادا کيږی (۳) هم دغه شان جواب فورا ورکول واجب دی. که فورا ئې جواب ورنکړو او د نورو اعمالو نه فارغ کيدو نه پس ئې جواب ورکړو نو واجب به نه ادا کيږی (۴)

④ په کافر باندې سلام کول جائز نه دی، که يو کافر په مسلمان باندې سلام اوکړو نو په جواب کښې به صرف «وعليکم» وئيلې شي. «وعليکم السلام» دې نه وائی (۵)

.....بقيه ازحاشيه ګذشته]

۵ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: إِنَّ السَّلَامَ اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللَّهِ . وَضَعَهُ اللَّهُ فِي الأَرْضِ . فَأَفْشُوهُ بَيْنَكُمْ. (الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) ۴۸۷/۳)

۶ عن ابن عمر عن النبى صلّى الله عليه وسلّم قال إن سركم أن يخرج الغل من صدور كم فافشوا السلام بينكم. (احكام القرآن للجصاص : ۴۵۳/۳، سورة النور/۲۷)

(۱) شرح مسلم للنووی. كتاب الاستئذان ۲۱۲/۲

(۲) شرح مسلم للنووى . كتاب الاستئذان ۲۱۲/۲ ورد المختار. كتاب الحظر والاباحة ۲۹۳/۵

(۳) شرح مسلم للنووى. كتاب الاستئذان ۲۱۳/۲ وردالمختار. كتاب الحظر والاباحة ۲۹۳/۵ فتح البارى ۱۶/۱۱

(۴) شرح مسلم للنووى. كتاب الاستئذان ۲۱۳/۲ وردالمختار. كتاب الحظر والاباحة ۲۹۳/۵، فتح البارى ۱۶/۱۱

(۵) شرح مسلم للنووى . باب النهى عن ابتداء اهل الكتاب بالسلام وكيف يرد عليهم ۲۱۳/۲ ورد المختار. كتاب الحظر والاباحة ۲۹۲/۵

د جمهور علماء کرامو هم دا مسلک دې چه په کافر او ذمي باندې دې سلام اونکړې شي. د بعض علماء کرامو په نزد په ذميانو باندې سلام کول جائز دي [۱]

⑤ سړې دې په پردئ زنانه باندې سلام نه کوي، هم دغه شان دې ښځه په پردی سړی سلام نه کوي [۲] په بعض فاسقانو باندې هم د سلام نه احتراز کولو باره کښې فقهاء کرامو تصريح کړې ده مثلا شرابي او لوفر انسان ته سلام نه کول افضل دي [۳] د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قول دې (لا تسلموا على شربة الخمر) [۴]

په ماشومانو باندې سلام کول جائز دي ځکه چه دغه شان به د هغوی تربيت کيږي. خو که يو ماشوم داسې حالت کښې دې چه په هغه باندې سلام کولو سره په فتنه کښې د اخته کيدو ويره ده نو بيا سلام ترک کول پکار دي [۵]

⑥ په بعض صورتونو کښې د سلام حکم نه لاګو کيږي، مثلا څوک خوراک کوي يا اوبه څکي يا په بيت الخلاء او غسل خانه کښې دې. يا اوده دې يا په مانځه کښې مصروف دې يا په مطالعه کښې مشغول دې نو په دې صورتونو کښې سلام نه دی کول پکار [۶]

خو که څوک خوراک څکاک ته ناست دې خو نمړئ ئې لا په خوله کښې نه ده نو په داسې صورت کښې سلام کيدلې شي [۷]

په حمام کښې دننه که ئې لنګ په بدن باندې دې نو په هغه باندې سلام کيدلې شي خو که د لنګ نه بغير دې نو بيا پرې سلام کول جائز نه دي [۸]

---

[۱] رد المختار، كتاب الحظر والاباحة ۲۹۲/۵

[۲] رد المختار، كتاب الحظر والاباحة ۲۶۱/۵، شرح مسلم للنووى، باب استحباب السلام على الصبيان ۲۱۵/۲، مرقاة شرح مشكاة كتاب الادب ۵۰/۹

[۳] رد المختار، كتاب الحظر والاباحة ۲۹٤/۵

[۴] الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) ٤۷۲/۲

[۵] عمدة القارى ۲٤۳/۲۲، فتح البارى، كتاب الاستئذان، باب التسليم على الصبيان: ۳۹/۱۱

[۶] رد المختار كتاب الحظر والاباحة ۲۹۵/۵، كتاب الصلاة باب ما يفسد الصلاة وما يكره ٤۵۶/۱.

[۷] رد المختار كتاب الحظر والاباحة ۲۹۵/۵، رد المختار كتاب الصلاة باب ما يفسد الصلاة وما يكره ٤۵۶/۱ .... پس علامه ابن عابدين رحمه الله په اشعارو کښې دننه په کومو خلقو چه سلام نه دی کول پکار هغوی ذکر کړي دي:

رد السلام واجب إلا على	من فى الصلاة أو بأكل شغلا
أو شرب أو قراءة أو أدعيه	أو ذكر أو فى خطبة أو تلبيه
أو فى قضاء حاجة الإنسان	أو فى إقامة أو الأذان
أو سلم الطفل أو السكران	أو شابة يخشى بها افتتان
أو فاسق أو ناعس أو نائم	أو حالة الجماع أو تحاكم
أو كان فى الحمام أو مجنونا	فواحد من بعدها عشرونا

(رد المختار، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها ٤۵۷/۱)

[۸] عمدة القارى ۲۳۶/۲۲

⑦ سلام يقينا د خپل مينځ كښې محبت او مودت ذريعه او وسيله ده. خاص كر هغه وخت چه كله سلام د زړه نه اوكړې شي او د هغې د معنى طرف ته خيال اوساتلې شى. چه تاسو په دنيا او آخرت كښې زما د شر او هر قسم شر نه سالم او محفوظ شئ او د الله پاک سلامتى دې تاسره شامل وى. چه كله د دې نيت او جذبې سره سلام اوكړې شى نو د هغې بركات به مخې ته راځى [1]

⑧ په ټيلى فون وغيره باندې چه كله رنګ راشى نو خلق ريسور اوچتولو سره "هيلو" Hello، وائى دا اسلامى طريقه نه ده. صحيح اسلامى طريقه دا ده چه د "هيلو" په ځائې ﴿السلام عليكم﴾ اووئيلې شى

⑨ د سلام دپاره ضرورى نه ده چه د مخكښې نه دې پيژندګلو وى. سلام د اسلامى معاشرې يو عام تحيه ده. امام بيهقى رحمه الله د سيدنا عبدالله بن مسعود رضى الله عنه مرفوع روايت نقل كړې دې، د هغې الفاظ دى ﴿إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ، أَنْ يَمُرَّ الرَّجُلُ فِي الْمَسْجِدِ، لَا يُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، وَأَنْ لَا يُسَلِّمَ الرَّجُلُ إِلَّا عَلَى مَنْ يَعْرِفُ﴾ [2] يعنى د قيامت يو علامت دا دې چه انسان به په مسجد باندې تيريږى او په هغې كښې به هغه چرته دوه ركعته هم نه وى كړې او دا چه هغه به صرف په پيژندګلو كس باندې سلام كوى. امام طحاوى رحمه الله دا روايت په دې الفاظو سره نقل كړې دې ﴿ان من اشراط الساعة السلام للمعرفة﴾ [3] يعنى د قيامت يو علامت دا دې چه په پيژندګلو كس باندې به سلام كولې شى.

پس امام بخارى رحمه الله دلته باب السلام للمعرفة وغير المعرفة هم په دې سلسله كښې قائم كړې دې. چه په هغې كښې هغوى د سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما مرفوع حديث نقل كړې دې په هغې كښې دى ﴿وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ، وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ﴾

⑩ باب آيَةِ الْحِجَابِ

[۵۸۸۴| ۵۸۸۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّهُ كَانَ ابْنَ عَشْرِ سِنِينَ مَقْدَمَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْمَدِينَةَ، فَخَدَمْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَشْرًا حَيَاتَهُ، وَكُنْتُ أَعْلَمَ النَّاسِ بِشَأْنِ الْحِجَابِ حِينَ أُنْزِلَ، وَقَدْ كَانَ أُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ يَسْأَلُنِي عَنْهُ، وَكَانَ أَوَّلَ مَا نَزَلَ فِي مُبْتَنَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِزَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ، أَصْبَحَ النَّبِيُّ -

[1]) عمدة القارى ۲۲/۲۳۶. فتح البارى. كتاب الصلاة. باب التهشد فى الاخرة: ۲/۲۱۲. شرح مسلم للنووى: ۲/۲۱۳

[2]) شعب الايمان للبيهقى. باب فى مقاربة وموادة اهل الدين ۶/۴۳۱. رقم الحديث ۸۷۷۸) فتح البارى ۱۱/۲۵. عمدة القارى ۲۲/۲۳۷

[3]) فتح البارى ۱۱/۲۵. عمدة القارى ۲۲/۲۳۷

صلى الله عليه وسلم - بِهَا عَرُوسًا فَدَعَا الْقَوْمَ، فَأَصَابُوا مِنَ الطَّعَامِ ثُمَّ خَرَجُوا، وَبَقِي مِنْهُمْ رَهْطٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَطَالُوا الْمُكْثَ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَخَرَجَ وَخَرَجْتُ مَعَهُ كَيْ يَخْرُجُوا، فَمَشَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّى جَاءَ عَتَبَةَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ، ثُمَّ ظَنَّ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُمْ خَرَجُوا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ، حَتَّى دَخَلَ عَلَى زَيْنَبَ فَإِذَا هُمْ جُلُوسٌ لَمْ يَتَفَرَّقُوا، فَرَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَرَجَعْتُ مَعَهُ، حَتَّى بَلَغَ عَتَبَةَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ، فَظَنَّ أَنْ قَدْ خَرَجُوا، فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ، فَإِذَا هُمْ قَدْ خَرَجُوا، فَأُنْزِلَ آيَةُ الْحِجَابِ، فَضَرَبَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سِتْرًا.

په دې باب کښې امام بخاري رحمه الله د سورة احزاب د آيت حجاب د نزول والا روايت ذکر کړې دې سيدنا انس رضي الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ مدينې منورې ته د تشريف راوړلو په وخت د لسو کالو اوم. د هغوی په خدمت کښې لسو کالو پورې پاتې شوې يم. زه د پردې د حکم متعلق د خلقو نه زيات خبر يم چه کله هغه نازل شو. د سيدنا ابی بن کعب رضي الله عنه (په شان د قرآن قاری) به زما نه د دې متعلق تپوس کولو د حجاب آيت د ټولو نه مخکښې چه کوم وخت رسول الله ﷺ سيده د زينب بنت جحش رضي الله عنها سره واده کړې وو هغه وخت نازل شو. خو څه خلق رسول الله ﷺ سره پاتې شو او د ډير وخته پورې ناست وو نو رسول الله ﷺ اودريدلو او بهر لاړو. چه دا خلق لاړ شی. رسول الله ﷺ روان شو زه هم هغوی سره روان شوم. تردې چه د عائشې رضي الله عنها د دروازې درشل ته اورسيدل. بيا د هغوی خيال راغلو چه خلق به تلې وی نو رسول الله ﷺ واپس شو. زه هغوی سره واپس شوم تردې چه د سيده زينب رضي الله عنها کور ته داخل شو نو وې کتل چه لا تراوسه پورې هغه خلق ناست دی. لا تلې نه دی. رسول الله ﷺ واپس شو. زه هم هغوی سره واپس شوم. تردې چه د عائشې رضي الله عنها دروازې ته اورسيدل. بيا ئې خيال اوکړو چه هغه خلق به تلې وی بيا راواپس شو. زه هم هغوی سره راواپس شوم نو وې کتل چه خلق تلې دی. بيا آيت حجاب (د پردې آيت) نازل شو نو رسول الله ﷺ زما او خپل مينځ کښې پرده راوستله.

۵۸۸۵ : حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ أَبِي حَدَّثَنَا أَبُو مِجْلَزٍ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - زَيْنَبَ دَخَلَ الْقَوْمُ فَطَعِمُوا، ثُمَّ جَلَسُوا يَتَحَدَّثُونَ فَأَخَذَ كَأَنَّهُ يَتَهَيَّأُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُومُوا، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ قَامَ، فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ مِنَ الْقَوْمِ وَقَعَدَ بَقِيَّةُ الْقَوْمِ، وَإِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - جَاءَ لِيَدْخُلَ، فَإِذَا الْقَوْمُ جُلُوسٌ، ثُمَّ إِنَّهُمْ قَامُوا فَانْطَلَقُوا فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَجَاءَ حَتَّى دَخَلَ، فَذَهَبْتُ أَدْخُلُ فَأَلْقَى الْحِجَابَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، وَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ) الآيَةَ.

قَالَ: أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: فِيهِ مِنَ الْفِقْهِ: أَنَّهُ لَمْ يَسْتَأْذِنْهُمْ حِينَ قَامَ وَخَرَجَ، وَفِيهِ: أَنَّهُ تَهَيَّأَ لِلْقِيَامِ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَقُومُوا. [ر: ۴۵۱۳]

سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ چه کله د زینب رضی الله عنها سره نکاح اوکړه نو خلق راغلل او خوراک ئې اوکړو او ناست وو خبرې ئې کولې نو رسول الله ﷺ داسې ظاهره کړه ګویا پاسیدل غواړی خو خلق پانسیدل. چه کله رسول الله ﷺ دا صورت حال اولیدو نو پاسیدل. چه کله هغوی پاسیدل نو په هغوی کښې څه خلق خو لاړل خو څه ناست وو. رسول الله ﷺ زینب رضی الله عنها ته ورتلل غوښتل خو او ئې لیدل چه خلق ناست دی. بیا هغه خلق پاسیدل او لاړل نو ما رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو (چه خلق تلی دی) هغوی تشریف راوړلو او دننه داخل شو. زه هم دننه لاړم چه هغوی زما او خپل مینځ کښې پرده زوړنده کړه او الله پاک د حجاب آیت ﴿یاایها الذین امنوا لاتدخلوا بیوت النبی﴾ نازل اوفرمائیلو

د سورة احزاب دا آیت کریمه د حجاب د حکم متعلق د ټولو نه اول نازلیدونکي آیت دې. دا آیت کریمه په ۳ یا ۵ هجری کښې نازل شوې دې [1] ، حافظ ابن کثیر رحمه الله د ۵ هجری قول ته ترجیح ورکړې ده. [2]

په قرآن کریم کښې د زنانو د پردې متعلق اووۀ آیتونه نازل شوې دی. څلور په سورة احزاب کښې او درې په سورة نور کښې. [3]

د پردې مراتب: مولانا محمد شفیع رحمه الله په احکام القرآن کښې دپردې درې مراتب لیکلي دی

① **حجاب الاشخاص البیوت:** یعنی په کورونو کښې اوسیدل وی او زنانه بغیر د ضرورت نه بهر لاړې نه شی. د قرآن کریم آیت ﴿وقرن فی بیوتکن﴾ کښې د دې حکم بیان کړې شوې دې [4]

② **حجاب بالبرقع:** د ضرورت په مواقع باندې که یو زنانه بهر اوځی نو د بلې خپې پورې دې په برقع یا اوږد څادر کښې پټه وی او د بدن یو حصه دې هم ښکاره نه وی [5]

③ دریمه درجه دا ده چه د سر نه والا خپو پورې ټول بدن ئې پټ وی خو مخ او لاسونه ئې ښکاره وی. کومو حضراتو چه د سورة النور د آیت ﴿الاما ظهر منها﴾ تفسیر په مخ او لاسونه سره کړې دې د هغوی په نزد لاسونه او مخ عورت نه دې. د احناف حضراتو اصل مسلک هم دا دې. لکه چه مخکښې نقل کړې شوې دی. په دې شرط چه د فتنې ویره او د خوند اخستلو قصد نه وی او چونکه په غالب احوالو کښې د فتنې ویره وی. په دې وجه متاخرین

---

[1] الاصابة فی تمیز الصحابة، حرف الزائی، القسم الاول ۳۱۳/٤، ترجمة زینب بنت جحش، والاستیعاب لابن عبدالبر (علی هامش الاصابة) ٤/ ۳۱٤، ترجمة زینب بنت جحش، والادب المفرد (مع فضل الله الصمد)، باب کیف نزلت آیة الحجاب ۴۹۵/۲.

[2] التفسیر للحافظ بن کثیر رحمه الله ۵۰۳/۳، (سورة الاحزاب)

[3] په سورة احزاب کښې آیت نمبر ۳۳، ۵۳، ۵۵، ۵۹، او په سورة نور کښې آیت نمبر ۳۰، ۳۱ او ۶۰ نازل شوې دې.

[4] احکام القرآن ۳/ ٤۵٤، سورة الاحزاب

[5] احکام القرآن ۳/ ٤۵٤، سورة الاحزاب

احنافو مطلقا د عدم جواز فتوى وركړې ده.[١]

د امام بخاري رحمه الله مقصد: د شارحينو د كلام نه معلوميږي چه د امام بخاري رحمه الله مقصد د آيت حجاب شان نزول بيانول دي.[٢] شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائي چه زما په نزد وجه دا ده چه امام بخاري رحمه الله د آية حجاب مصداق بيانول غواړي.[٣]

چونكه د استيذان ابواب شروع دي او د استيذان يو مقصد او مصلحت د بې پردګئ نه بچ كيدل هم دى. په دې وجه د پردې او حجاب آيت باندې امام بخاري رحمه الله باب قائم كړې دې.[٤]

٥٨٨٢: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رضي الله عنها زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم احْجُبْ نِسَاءَكَ. قَالَتْ فَلَمْ يَفْعَلْ، وَكَانَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - يَخْرُجْنَ لَيْلاً إِلَى لَيْلٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ، خَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ، وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ فِي الْمَجْلِسِ فَقَالَ عَرَفْتُكِ يَا سَوْدَةُ. حِرْصًا عَلَى أَنْ يُنْزَلَ الْحِجَابُ. قَالَتْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ آيَةَ الْحِجَابِ. [ر: ١٤٦]

ترجمه: سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه سيدنا عمر رضي الله عنه به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض كولو چه خپلې بيبياني په پرده كښې ساتئ، د عائشې رضي الله عنها بيان دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې اونكړل. د رسول الله صلى الله عليه وسلم بيبياني به د حاجت پوره كولو دپاره د شپې وتلې، پس سيده سودة بنت زمعه رضي الله عنها بهر اوتله. او هغه يوه لوړه زنانه وه. سيدنا عمر رضي الله عنه هغه وخت په يو مجلس كښې ناست وو. هغوى اوليده او وې وئيل: اې سودة! ته ما اوپيژندلې! صرف په دې شوق ئې داسې اووې چه د حجاب حكم نازل شى، د عائشې رضي الله عنها بيان دې چه د دې نه پس الله پاک د حجاب آيت نازل اوفرمائيلو.

قوله: ﴿قال ابوعبدالله: فيه من الفقه انه لم يستأذنهم حين قام وخرج﴾: امام بخاري رحمه الله فرمائي چه د ايت حجاب د شان نزول والا ايت كريمه يو خو دا خبره معلومه شوه چه كوربه ته د بهر تلو او مجلس نه پاسيدو كښې د ميلمنو نه د اجازت اخستلو ضرورت نشته لكه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم بهر لاړو او دويمه دا چه ميلمنو ته په خپل څه عمل يا حركت سره د تلو اجازت وركول جائز دى. لكه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اودريدلو سره بهر لاړو خو مقصود ئې ميلمنو ته خبرداري وركول وو چه هغوى لاړ شى، د امام بخاري رحمه الله دا قول د ابوذر او

[١]) احكام القرآن ٤٦٠/٣، سورة الاحزاب
[٢]) الابواب والتراجم باب اية الحجاب ١٢٢/٢
[٣]) الابواب والتراجم باب اية الحجاب ١٢٢/٢
[٤]) ايضا

ابو الوقت د نسخو نه علاوه په باقى نسخو كښې نشته (١)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دلته ئې نه كيدل غوره دى خكه چه امام په دې باندې مستقل باب قائم كړې دې
په باب كښې امام بخارى رحمه الله د آيت حجاب د شان نزول په طور د سيده زينب رضي الله عنها او سيده سودة رضي الله عنها دواړو واقعات ذكر كړې دى، داسې چه اول د سيده سودة رضي الله عنها واقعه پيښه شوې وى او د هغې نه پس د سيده زينب رضي الله عنها د وليمې واقعه پيښه شوې وى. (٢)

⑪ باب الاِسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ.

[٥٨٨٧] حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِى حَفِظْتُهُ كَمَا أَنَّكَ هَا هُنَا عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ اطَّلَعَ رَجُلٌ مِنْ جُحْرٍ فِى حُجَرِ النَّبِى - صلى الله عليه وسلم - وَمَعَ النَّبِى - صلى الله عليه وسلم - مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ فَقَالَ «لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُ لَطَعَنْتُ بِهِ فِى عَيْنِكَ، إِنَّمَا جُعِلَ الاِسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ. [ر: ٥٥٨٠]

يعنى د استيذان حكم د نظر پريوتلو د وجې نه دې، مقصد دا دې چه د اجازت طلب كولو نه بغير كه يو سړې د چا په كور كښې داخل شى نو د كور په زنانو باندې ئې نظر پريوتلې شى. د دې حكمت په وجه باندې د استيذان حكم مشروع كړې شوې دې.
په روايت كښې دى چه يو سړى په سورى كښې د رسول الله ﷺ د كوړونو نه يو كور كښې اوكتل او د رسول الله ﷺ په لاس كښې د سر ګرولو آله وه چه په هغې باندې ئې خپل سر ګرولو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كه ماته معلومه وې چه ته به داسې ګورې نو په دې به ما ستا سترګه ويشتلې وې، د اجازت حكم خو د كتلو د وجې نه مقرر كړې شوې دې.
مدرى: د سر ګرولو آله ته وائى، دا روايت په كتاب اللباس كښې د باب الامتشاط د لاندې تير شوې دې.

٥٨٨٨ (٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِى بَكْرٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلاً اطَّلَعَ مِنْ بَعْضِ حُجَرِ النَّبِى صلى الله عليه وسلم - فَقَامَ إِلَيْهِ النَّبِى - صلى الله عليه وسلم بِمِشْقَصٍ أَوْ بِمَشَاقِصَ - فَكَأَنِّى أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَخْتِلُ الرَّجُلَ لِيَطْعُنَهُ. [٦٤٩٤، ٦٥٠٤]

---

(١) ارشاد السارى ١٣/٢٤٤، فتح البارى ١١/٢٧، عمدة القارى ٢٦/٢٣٨
(٢) ارشاد السارى ١٣/٢٤٤، ٢٤٥، فتح البارى ١١/٢٨
(٣) الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الديات، باب من اخذ حقه، او اقتص دون السلطان (رقم الحديث : ٦٨٨٩) وفى باب من اطلع فى بيت قوم ففقؤا عينه، فلا دية له (رقم الحديث ٦٩٠٠) واخرجه مسلم فى كتاب الادب، باب تحريم النظر فى بيت غيره (رقم الحديث ٢١٥٧) واخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب، باب كم مرة يسلم الرجل فى الاستئذان ٤/٣٤٣ (رقم الحديث : ٥١٧١) واخرجه الترمذى فى كتاب الاستئذان، باب من اطلع فى دار قوم بغير اذنهم (رقم الحديث : ٢٧٠٨)

د باب په دې دويم روايت کښې سيدنا انس ﷺ فرمائي چه يو سړی د رسول الله ﷺ د حجرو نه په يو حجره کښې په پټه باندې اوکتل. رسول الله ﷺ د غشي څوکه اخستلو سره اودريدلو. هغه منظر زما د سترګو وړاندې دې چه رسول الله ﷺ هغه سړي د غشي په دې سوکه باندې وهلو دپاره لټولو

مشقص: (دميم په کسرې. د شين سکون اود قاف فتحې سره) دغشي سوکې ته وائي يعنى پلک

يختل الرجل: ﴿ياتيه من حيث لا يشعر﴾ سړی ته د داسې طرف نه راتلل چه د هغه خيال نه وی

﴿ليطعنه﴾ د طعن معنى د نيزې يا سوکې والا څيز باندې د وهلو هم راځي. دلته هم دا معنى مراد ده

⑫ باب زِنَا الْجَوَارِحِ دُونَ الْفَرْجِ

[٥٨٨٩] [١] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضى الله عنهما- قَالَ لَمْ أَرَ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِنْ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ. حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِمَّا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا، أَدْرَكَ ذَلِكَ لاَ مَحَالَةَ، فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ، وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ، وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي، وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ كُلَّهُ وَيُكَذِّبُهُ». [٦٢٣٨]

د ترجمة الباب مقصد د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د شرم ګاه نه علاوه د بدن د نورو اندامونو نه هم د زنا ارتکاب کیدې شي. خود هغې نوعيت مختلف وی. مثلا په شهوت سره کتل د سترګو زنا ده. د شهوت خبرې کول د ژبې زنا ده، په شهوت سره ښکلول د شونډو زنا ده. په شهوت سره رانيول د لاسونو زنا ده، د زنا په اراده باندې تلل د خپو زنا ده. پس د ابن جرير په يو روايت کښې دی : ﴿زنا العين النظر، وزنا الشفتين التقبيل، وزنا اليدين البطش، وزنا الرجلين المشى﴾ [٢]

په باب کښې چه امام بخاری رحمه الله کوم روايت نقل کړې دې. هغه ئې اول د سيدنا ابن عباس ﷺ نه موقوفا نقل کړې دې او دا ناقص دې. د دې نه پس ئې د معمّر په طريق سره مرفوعا نقل کړو او هغه کامل دې

---

[١] الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب القدر ٩/٩ باب : (وحرام على قرية اهلكنها انهم لا يرجعون) الانبياء ٩٥. (رقم الحديث : ٦٦١٢) واخرجه مسلم فى كتاب القدر. باب : قدر على ابن ادم حظه من الزنا وغيره. (رقم الحديث ٦٢٤٣) واخرجه ابوداؤد فى كتاب النكاح. باب ما يؤمر به من غض البصر : ٢٤٧/٢ (رقم الحديث : ٢١٥٣)

[٢] ارشاد السارى ٢٤٧/١٣

سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی ﴿لَمْ أَرَ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِنْ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ﴾ سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما په دې حال کښې د قرآن کريم په آيت کښې د واقع لفظ ﴿اللمم﴾ تشريح کول غواړی. په آيت کريمه کښې دی ﴿الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ﴾ [1] سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی: چه د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه يو قول چه څومره د ﴿اللمم﴾ مشابه او موافق دې، دغه شان يو څيز هم ما نه دې ليدلې يعنی سيدنا ابوهريره رضي الله عنه چه په خپل يو روايت کښې کوم څيزونه بيان کړی دی، ماته هم هغه د ﴿اللمم﴾ مصداق معلوميږی. سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مرفوعا نقل کوی چه الله پاک د ابن ادم عليه السلام دپاره د زنا يو حصه ليکلې ده کومه چه به هغه ته ضرور ملاويږی. پس د سترګو زنا کتل دی، د ژبې زنا وئيل دی او د نفس خواهش او تمنا کول دی او شرمګاه د هغې تصديق يا تکذيب کوی.

﴿اللمم﴾ نفسانی خواهشاتو او وړو ګناهونو ته وائی [2] مولانا انور شاه کشميری رحمه الله په فيض الباري کښې فرمائی:

﴿يريدُ ابنُ عبّاسٍ أن يستفيدَ من حديث أبي هريرةَ هذا تفسيرَ قوله تعالى: {إِلَّا اللَّمَمَ} (النجم: ٣٢)، فجعل دواعي الزِّنَا، وما يقعُ من الرجل في سلسلة الزِّنَا من المعاصي كلّها صغائرَ ولمماً، فإن غشي الزنا تُحْسَبُ كلُّها من الزنا، وتنقلب كبائرَ، وإلّا فهي صغائرُ تَصْلُحُ أن تُغْفَرَ له، ويُعْفَى عنها. فاستفاد منه بعضُهم تعريفَ الصغيرة، وقال: إنّ المعاصي على نحوين: منها ما تقعُ تمهيداً، ومنها ما تكون مَقْصَداً. فالتي تقعُ في السلسلة، وتكون وسيلةً لتحصيل منتهاها، هي الصغائرُ، وذلك المنتهى هو الكبيرةُ. قلتُ: ولا بُدَّ فيه من تنبيهٍ، وهو أن السمعَ، والبصرَ، والنظرَ قد تَصِيرُ مقصودةً أيضاً، وذلك حين يَعْجَزُ عن المنتهى - أعني الزنا - فيرضى بتلك الأمور، ويجعلها مقصورةً لحظِّ نفسه، وحينئذٍ لا ريب في كونها كبيرةً. نعم إن أتى بها في سلسلة الزنا، ثم امتنع عنه مخافةَ ربّه جلَّ وعلا، فَيَنْزِلُ امتناعُه عن الزنا منزلةَ التوبة، ويُرْجَى له أن تُغْفَرَ له تلك السلسلة بأسرها، إذا أَتْبَعَهَا بحسنةٍ، فإنَّ الحسناتِ يُذْهِبْنَ السيئاتِ﴾ [3]

ترجمه: يعنی سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د حديث نه څوخبرې مستنبط کوی: د الله پاک د قول ﴿الا اللمم﴾ تفسير، پس هغوی د زنا اسباب او د زنا په سلسله کښې چه سړې په کومو ګناهونو کښې واقع کيږی، هغې ټولو ته ئې صغائر او للم وئيلې دی. پس که هغه سړې په زنا کښې اونيولې شو نو دا ټول ګناهونه به ئې زنا شمارلې شی او دغه شان به کبائر اوګرځی. ګينې وی خو به دا صغائر چه د هغې معافی او مغفرت کيدې شی. بعض

---

[1]) سورة النجم آية ٣٢

[2]) ارشاد السارى ٢٤٦/١٣، عمدة القارى ٢٤٠/٢٢، فتح البارى ٦١٦/١١

[3]) فيض البارى ٤١٠/٤

حضراتو د دې نه د صغيره تعريف هم مستنبط کړې دې. پس هغوی وئيلې دی چه ګناهونه په دوه قسمه دی. يو هغه دی کوم چه د تمهيد په طور وی. دويم هغه کوم چه مقصد وی. پس کومه ګناه چه د خپل منتهی د حصول ذريعه وی هغه صغائر دی او هغه منتهی کبيره ده. خو په دې کښې يو تنبيه ضروری ده او هغه دا چه غوروئه. سترګې او نظر هم کله مقصود جوړ شی، او دا هغه وخت چه کله سړې د منتهی يعنی زنا نه عاجز شی نو هغه هم په دې امور باندې قانع او تيار وی او د خپل نفس د حصې دپاره هم دا مقصود ګرځوی. په داسې صورت کښې د دې په کبيره کيدو کښې هيڅ شک نشته. خو که هغه دا ګناه د زنا دپاره اوکړې. بيا هغه د الله پاک د ويرې نه هغه د ګناه نه اوويريدلو نو د هغه د زنا بنديدل به د توبې قائم مقام شی او د الله پاک د رحمت نه اميد دې چه دا ټول ذرائع به الله پاک معاف کړی. ځکه چه د الله پاک د ويرې نه د زنا نه ځان ساتل د توبې قائم مقام دی، او توبه نيکی ده او نيکئ ګناهونو لره ختموی.

قوله: ﴿وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذٰلِكَ كُلَّهُ وَيُكَذِّبُهُ﴾: يعنی د سترګو زنا کتل دی او د ژبې زنا خبرې کول دی. نفس خواهش او تمنا کوی او شرمګاه د هغې تصديق يا تکذيب کوی يعنی که هغه واقعتا په زنا کښې اخته کيږی نو د شرمګاه د طرف نه د دې خواهش تصديق کيږی او که اخته نه شی نو د هغې تکذيب کيږی. [1]

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله يو بله معنی هم بيان کړې ده هغوی ليکی: ﴿معنی تصديق الفرج وتكذيبه ان الفرج ان كان يتاثر بزنا العين كالقبلة، وبزنا اليد كاللمس ونحوهما بان يحصل فى الفرج شئ من الحس والحركة والانتشار، تكون هذه الامور اى: زنى الجوارح المذكور فى الحديث فى حكم الزنا، وان لم يتاثر الفرج، ولم ينتشر الالة، فلا تكون هذه الامور فى حكم الزنا بل اخف منه جريمة، والله اعلم﴾ [2]

يعنی د شرمګاه د طرف نه د تصديق او تکذيب کيدو مطلب دا دې چه شرمګاه د سترګو زنا مثلا کتلو سره يا د لاس په زنا مس کولو وغيره سره متاثر شو، په داسې طريقه چه په شرمګاه کښې حرکت او انتشار وغيره محسوس شی نو دا ټول امور يعنی په حديث کښې مذکور د جوارح زنا به د زنا په حکم کښې وی، او که شرمګاه متاثره نه شوه او آله منتشر نه شوه نو دا امور به د زنا په حکم کښې نه وی، بلکه دا به د هغې نه کم درجې والا جرم او ګناهونه وی.

•••

[1]) لامع الدراری ۵۲/۱۰، فتح الباری ۶۱۶/۱۱

[2]) الابواب والتراجم ۱۲۲/۲، كتاب الاستئذان باب زنى الجوارح دون الفرج او لامع الدراری ۵۲/۱۰ باندې هم دا عبارت د معمولی تغير سره موجود ده.

⑬ باب التسليم والاستئذان ثلاثا

[۵۸۹۰] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ -رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا سَلَّمَ سَلَّمَ ثَلاَثًا، وَإِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلاَثًا. [ر: ۹۴]

[۵۸۹۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خُصَيْفَةَ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كُنْتُ فِي مَجْلِسٍ مِنْ مَجَالِسِ الأَنْصَارِ إِذْ جَاءَ أَبُو مُوسَى كَأَنَّهُ مَذْعُورٌ فَقَالَ اسْتَأْذَنْتُ عَلَى عُمَرَ ثَلاَثًا، فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَرَجَعْتُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ قُلْتُ اسْتَأْذَنْتُ ثَلاَثًا، فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَرَجَعْتُ، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلاَثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ، فَلْيَرْجِعْ». فَقَالَ وَاللَّهِ لَتُقِيمَنَّ عَلَيْهِ بِبَيِّنَةٍ. أَمِنْكُمْ أَحَدٌ سَمِعَهُ مِنَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَاللَّهِ لاَ يَقُومُ مَعَكَ إِلاَّ أَصْغَرُ الْقَوْمِ، فَكُنْتُ أَصْغَرَ الْقَوْمِ، فَقُمْتُ مَعَهُ فَأَخْبَرْتُ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ ذَلِكَ. وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ أَخْبَرَنِي ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنِي يَزِيدُ عَنْ بُسْرٍ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ بِهَذَا. [ر: ۱۹۵۶]

د ترجمة الباب مقصد: استیذان او سلام درې کرته مشروع دي. د سلام نه مراد سلام د استیذان دي. عام سلام یو کرت وی. په هغې کښې تکرار نشته. خو که مجمع لویه وی او یو کرت د سلام رسیدل ګران وی نو په داسې صورت کښې مکرر سلام کیدلې شی. هم دغه شان که مخاطب سلام نه وی اوریدلې نو بیا هم هغه ته د اورولو دپاره دوباره سلام کیدلې شی. (۱)

د باب اول حدیث په کتاب العلم کښې په باب اعاد الحدیث ثلاثا لیفهم د لاندې تیر شوې دې. (۲)

د باب دویم حدیث کښې سیدنا ابوسعید خدری رضي الله عنه فرمائی چه زه د انصارو په یو مجلس کښې ناست اوم چه سیدنا ابو موسی اشعری رضي الله عنه راغلو او هغوی په ویره کښې وو، وې وئیل ما د فاروق اعظم رضي الله عنه نه درې کرته اجازت طلب کړو، هغوی اجازت رانکړو نو زه واپس شوم. هغوی تپوس اوکړو ته د دننه راتلو نه چا منع کړې. ما اووې چه ما درې کرته اجازت طلب کړو. خو ماته اجازت ملاؤ نه شو. په دې وجه زه واپس شوم. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی: «إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلاَثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ» یعنی په تاسو کښې که یو کس درې کرته اجازت طلب کړی او هغه ته اجازت اونکړې شو نو واپس دې شی. سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه اوفرمائیل قسم په الله ته به په دې باندې ګواه پیش کوې، سیدنا ابوموسی رضي الله عنه تپوس اوکړو په تاسو کښې د رسول الله ﷺ نه چا دا حدیث اوریدلې دې؟ سیدنا ابی بن کعب رضي الله عنه اوفرمائیل: قسم په الله! ستا د ګواهئ دپاره به د قوم نه کم عمره ماشوم اودریږی!

---

(۱) فتح الباری ۳۲/۱۱، ارشاد الساری: ۲۴۸/۱۳

(۲) صحیح البخاری، کتاب العلم، باب من اعاد الحدیث ثلاثا لیفهم عنه، رقم الحدیث ۹۴

سيدنا ابو سعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى چه زه هغه وخت دتبولونه وركي وم. زه د ابوموسى رضي الله عنه سره اودريدم او سيدنا عمر رضي الله عنه ته مي اووئيل چه رسول الله ﷺ دا ارشاد فرمائيلي دي

قوله: ﴿وَاللَّهِ لَتُقِيمَنَّ عَلَيْهِ بِبَيِّنَةٍ﴾: د صحيح مسلم په روايت كښې دا اضافه هم ده ﴿ والا اوجعتك ﴾ (١) او د بكير بن الاشج په روايت كښې دى ﴿ فَوَاللَّهِ لَأُوجِعَنَّ ظَهْرَكَ وَبَطْنَكَ. أَوْ لَتَأْتِيَنَّ بِمَنْ يَشْهَدُ لَكَ عَلَى هٰذَا ﴾ (٢) يعنى گواهان پيش كړئ گينې تاسو ته سزا دركوم

قوله: ﴿فَأَخْبَرْتُ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: ذٰلِكَ﴾: د سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه په خدمت كښې د سيدنا ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دپاره گواهى وركونكې سيدنا ابوسعيد خدرى رضي الله عنه وو كوم چه د ټولو نه زيات كم عمره وو.

په صحيح مسلم كښې د سيدنا ابوبرده رضي الله عنه يو روايت دې چه دا گواهى سيدنا ابى بن كعب رضي الله عنه وركړې وه (٣) خو په دې دواړو كښې داسې تطبيق كيدلې شي چه د سيدنا ابوسعيد رضي الله عنه د گواهئ نه پس سيدنا ابى بن كعب رضي الله عنه هم گواهى وركړې وى (٤)

قوله: ﴿وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنِي ابْنُ عُيَيْنَةَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ عَنْ بُسْرٍ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ بِهٰذَا﴾: پورته په روايت موصوله كښې عنعنه ده. ﴿ بسر عن ابى سعيد ﴾ دې. په دې تعليق كښې د سماع تصريح ده. د دې تصريح د وجې نه امام بخارى رحمه الله دا تعليق دلته ذكر اوفرمائيلو (٥) ابو نعيم دا تعليق موصولا نقل كړې دې. (٦)

سيدنا فاروق اعظم رضي الله عنه چه كله سيدنا ابوموسى اشعرى رضي الله عنه ته د گواه پيش كولو دپاره اووې. حال دا چه هغه يو عادل او ثقة صحابى وو. د دې يوه وجه په يو روايت كښې په دې الفاظو باندې راغلې ده : ﴿ أما انى لم أتهمك، ولكنى أردت ألا يتجرأ الناس على الحديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ (٧)

او د موطاء په روايت كښې دى ﴿ أَمَا إِنِّي لَمْ أَتَّهِمْكَ، وَلَكِنْ خَشِيتُ أَنْ يَتَقَوَّلَ النَّاسُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ﴾ (٨) يعنى زه تا متهم (تهمتى) نه گڼرم. (ستاسو په صداقت كښې زما شك نشته) خو زما مقصد دا دې چه خلق په رسول الله ﷺ باندې د ځان نه حديث جوړ نه كړى.

---

(١) صحيح مسلم. كتاب الاداب. باب الاستئذان ٢/٢١٠
(٢) صحيح مسلم. كتاب الاداب. باب الاستئذان ٢/٢١١
(٣) صحيح مسلم. كتاب الاداب. باب الاستئذان ٢/٢١١
(٤) فتح البارى ١١/٣٤
(٥) عمدة القارى ٢٢/٢٤٢، فتح البارى ١١/٣٤. ارشاد السارى ١٣/٢٤٩
(٦) عمدة القارى ٢٢/٢٤٢، فتح البارى ١١/٣٤. ارشاد السارى ١٣/٢٤٩
(٧) شرح صحيح البخارى لابن بطال ٩/٢٥
(٨) الموطاء للامام مالك ٢/٩٦٣. كتاب الاستئذان

د دي حديث نه يو خبره معلومه شوه چه صاحب منزل ته د ا اختيار حاصل دي چه كه هغه په څه كار كښې مشغول دې نو د سلام استيذان جواب دې نه وركوي دويمه خبره ترې نه دا معلومه شوه چه ډير كرته يو لوئي عالم او لوئي سړى ته يو مسئله معلومه نه وى او وړوكى نه معلومه وى. لكه چه فاروق اعظم رضي الله عنه ته دا حكم معلوم نه وو [1].

فائده : دلته د باب په اول حديث كښې يو راوى عبدالله بن مثنى دې. كوم چه مختلف فيه دې. عجلى د هغه توثيق كړې دې [2]، او ابوزرعه او ابن معين هغه ته ﴿ ليس بشئ ﴾ ونيلې دي [3]، امام نسائى رحمه الله فرمائى ﴿ ليس بالقوى ﴾ [4]، حافظ ابن حجر رحمه الله په الهدى السارى كښې د هغوى دفاع كړې ده [5].

ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې د هغوى ذكر كړې دې او فرمائيلي ئې دى چه دوى په هغه رواياتو كښې غلطى كوى كوم چه ئې د خپل تره ثمامه بن عبدالله نه علاوه نورو خلقو نه نقل كړې وى. د ثمامه نه د هغوى روايات صحيح دى [6]، او دلته د بخارى روايت د ثمامه نه دې

⑭ باب إِذَا دُعِيَ الرَّجُلُ فَجَاءَ هَلْ يَسْتَأْذِنُ

قَالَ سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي رَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: هُوَ إِذْنُهُ.

[٥٨٩٢] [7]، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ. وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ أَخْبَرَنَا مُجَاهِدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى

---

[1]) فتح البارى كتاب الاستئذان ٣٧/١١

[2]) تهذيب التهذيب ٣٨٨/٥، الترجمة ٦٥٩، الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل ٢١٤.

[3]) ارشاد السارى ٢٣٧/١٣، خو په: تهذيب التهذيب ٣٨٨/٥، او تعليقات الرفع والتكميل لعبد الفتاح ابى غدة ص ٢١٤ باندې د ﴿ ليس بشئ ﴾ قول صرف د ابن معين طرف ته منسوب دې اگر چه په ارشاد السارى كښې ابن معين او ابوزرعه دواړو طرف ته نسبت كړې شوې دې. خو په صالح وئيلو كښې ابوزرعه د ابن معين سره دې

[4]) تهذيب التهذيب ٣٨٨/٥، الترجمة : ٦٥٩، تهذيب الكمال : ٢٧/١٧، الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل : ٢١٤، الترجمة : ٥٣٢١

[5]) هدى السارى مقدمة فتح البارى : ٤١٦، الفصل التاسع، تهذيب التهذيب ٣٨٨/٥، كښې هم د ابن معين او ابوزرعة توثيق منقول دې

[6]) ارشاد السارى ٢٤٧/١٣، او امام بخارى رحمه الله هم د عبدالله بن مثنى د هغه روايتونو نه استدلال كوى كوم چه هغوى د ثمامه نه نقل كړى وى. پس حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى قلت : لم ار البخارى احتج به الا فى روايته عن عمه ثمامة فعنده عنه احاديث. (هدى السارى مقدمة فتح البارى ٤١٦)

[7]) الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الرقاق، باب كيف كان عيش النبى صلى الله عليه وسلم واصحابه وتخليهم من الدنيا (رقم الحديث ٦٠٨٧) ٢٣٧٠/٥، وكذا اخرجه الترمذى فى كتاب الزهد والنسائى فى الرقاق.

الله علیه وسلم - فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ فَقَالَ «أَبَا هِرٍّ الْحَقْ أَهْلَ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ». قَالَ فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ، فَأَقْبَلُوا فَاسْتَأْذَنُوا فَأَذِنَ لَهُمْ، فَدَخَلُوا. [۶۰۸۷]

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه چا يو بل سړی ته دعوت اوکړو او هغه راغلو نو آيا هغه ته به د اجازت اخستلو ضرورت وی؟ د دې نه پس ئې د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه په ذريعه حديث نقل کړې دې چه ﴿ هو اذنه ﴾ يعنی د نوې اجازت اخستلو ضرورت نشته. دعوت ورکول او راغوښتل اجازت دې. دا تعليق امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې او امام ابوداؤد رحمه الله په سنن کښې موصولا نقل کړې دې (۱)

په حديث الباب کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم سيدنا ابوهريره رضی الله عنه ته أوفرمائيل چه اهل صفه راطلب کړه. پس هغوی راغوښتل. هغوی راغلل او اجازت ئې طلب کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو.

په دې باندې اشکال کيدې شی چه د دې نه مخکښې په تعليق کښې ﴿ هواذنه ﴾ وئيلې شوې دې چه دعوت ورکول اجازت دې او دلته په حديث کښې اجازت طلب کړې شوې دې په ظاهره دواړو کښې تعارض دې. علامه قسطلانی رحمه الله د دې په جواب کښې ليکی!

﴿ واجيب: بانه يختلف بطول العهد وقصره فان طال العهد بين الطلب والمجيئ احتاج الى استئناف الاذن، والا فلا... والاستئذان على كل حال احوط ﴾ (۲)

يعنی د دې جواب دا دې: چه د استيذان حکم د وخت د اوږدوالی او کم والی په اعتبار سره مختلف دې، که د دعوت ورکولو او حاضريدلو ترمينځه وخت اوږد وی نو د نوی سره نه به اجازت اخلی. احتياط هم په دې کښې دې چه اجازت واخستلې شی

⑮ باب التَّسْلِيمِ عَلَى الصِّبْيَانِ

[۵۸۹۳] (۳) - ۶۲۴۷ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَيَّارٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضی الله عنه أَنَّهُ مَرَّ عَلَى صِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ وَقَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَفْعَلُهُ.

---

(۱) الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) ۲/۵۱۱، رقم الحديث ۱۰۸۶، باب دعا الرجل اذنه. وسنن ابی داؤد ۲/۳۴۹، كتاب الادب، باب فی الرجل يدعی ان يكون ذكل اذنه.

(۲) ارشاد الساری ۱۳/۲۵۰

(۳) الحديث اخرجه مسلم فی كتاب السلام، باب استحباب السلام على الصبيان عن انس بن مالك ۴/۱۷۹۸، وكذا اخرجه الترمذی فی كتاب الاستئذان، باب ما جاء فی التسليم على الصبيان ۵/۵۷ (رقم الحديث: ۲۶۹۶) واخرجه فی السنن الكبرى فی كتاب عمل اليوم والليلة، باب التسليم على الصبيان ومما زحتهم ۶/۹۰، (رقم الحديث ۱۰۱۶۲) واخرجه ابوداؤد فی كتاب الاستئذان، باب فی السلام على الصبيان: ۴/۳۵۲، (رقم الحديث: ۵۲۰۲)

لکه چه مخکښې تير شوې دی چه په ماشومانو باندې سلام کول جائز دی. رسول الله ﷺ به هم دغه شان کول، خو که يو ماشوم داسې دې چه په سلام کولو سره ئې د فتنې ويره وی نو سلام نه دی کول پکار.

⑯ باب تَسْلِيمِ الرِّجَالِ عَلَى النِّسَاءِ، وَالنِّسَاءِ عَلَى الرِّجَالِ

[۵۸۹۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ كُنَّا نَفْرَحُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. قُلْتُ وَلِمَ قَالَ كَانَتْ لَنَا عَجُوزٌ تُرْسِلُ إِلَى بُضَاعَةَ - قَالَ ابْنُ مَسْلَمَةَ نَخْلٍ بِالْمَدِينَةِ - فَتَأْخُذُ مِنْ أُصُولِ السِّلْقِ فَتَطْرَحُهُ فِي قِدْرٍ، وَتُكَرْكِرُ حَبَّاتٍ مِنْ شَعِيرٍ، فَإِذَا صَلَّيْنَا الْجُمُعَةَ انْصَرَفْنَا وَنُسَلِّمُ عَلَيْهَا فَتُقَدِّمُهُ إِلَيْنَا، فَنَفْرَحُ مِنْ أَجْلِهِ، وَمَا كُنَّا نَقِيلُ وَلاَ نَتَغَدَّى إِلاَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ.

[۵۸۹۵] حَدَّثَنَا ابْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلاَمَ». قَالَتْ قُلْتُ وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، تَرَى مَا لاَ نَرَى. تُرِيدُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم تَابَعَهُ شُعَيْبٌ وَقَالَ يُونُسُ وَالنُّعْمَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَبَرَكَاتُهُ

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه سړی په زنانو او زنانه په سړو باندې سلام کولې شی. په دې شرط چه د فتنې ويره نه وی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمې سره د هغه روايت ترديد کول غواړی چه په هغې کښې د سړو په زنانو او د زنانو په سړو باندې سلام کولو ته مکروه وئيلې شوې دی.

د اسماء بنت يزيد رضي الله عنها په روايت کښې د دې تصريح ده چه په هغې کښې دی ﴿ مَرَّ عَلَيْنَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فِي نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا ﴾ يعنی رسول الله ﷺ په مونږ زنانو باندې راتير شو نو هغوی په مونږ باندې سلام اوکړو امام ترمذی رحمه الله دې روايت ته حسن وئيلې دې. [۱] خو چونکه دا روايت د امام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه وو، په دې وجه ئې نه دې ذکر کړې.

د احناف حضراتو او جمهور فقهاء کرامو په نزد په غير محرم او پردئ ځوانې زنانه باندې سلام کول جائز نه دی. هم دغه شان په بوډئ مشتهاة باندې هم سلام کول صحيح نه دی، خو که يو بوډئ مشتهاة ده نو په هغې باندې سلام کيدلې شی. [۲]

---

[۱]) الجامع للترمذی، کتاب الادب ۹۹/۲، باب ما جاء فی التسليم علی النساء. (قلت : لم اجده فی الترمذی بهذا اللفظ بل هو فی ابی داؤد)

[۲]) اوجز المسالک ۱۰۵/۱۵، جامع السلام، العمل فی السلام، وشرح صحيح مسلم للنووی: ۲۱۵/۲، کتاب السلام، باب استحباب السلام علی الصبيان.

د باب په دويم روايت کښې د سيدنا جبريل علیه السلام په سيده عائشه رضی الله عنها باندې د سلام ذکر دې.

علامه قسطلانی رحمه الله ليکی ((وقد كان جبريل عليه السلام يأتى النبى صلى الله عليه وسلم فى صورة دحية، وحينئذ فتحصل المطابقة بين الترجمة والحديث، ويزول الاشكال)) [1]

يعنی سيدنا جبريل علیه السلام به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې د سيدنا دحية الكلبى رضی الله عنه په شکل کښې راتلو. دغه شان په ترجمه او حديث کښې مطابقت حاصليږی او اشکال ختميږی

د باب په آخر کښې د معمر متابعت لره امام بخاری رحمه الله په كتاب الرقاق کښې. د يونس تعليق په مناقب کښې موصولا نقل کړې دې. د نعمان بن راشد تعليق طبرانی موصولا نقل کړې دې [2]

⑰ باب إذا قال من ذا فقال أنا

[٥٨٩٦] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا -رضى الله عنه- يَقُولُ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ «مَنْ ذَا». فَقُلْتُ أَنَا. فَقَالَ «أَنَا أَنَا». كَأَنَّهُ كَرِهَهَا.

په دې روايت کښې سيدنا جابر رضی الله عنه فرمائی چه زه د خپل پلار د قرض په سلسله کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم ما دروازه اوټکوله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل څوک ئې؟ ما اووې: زه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: زه زه؛ ګويا هغوی دا خبره ناخوښه کړه پس ادب هم دا دې چه د استيذان په وخت خپل نوم واخستلې شی. امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې هم دا ادب بيان کړې دې.

⑱ باب من رد فقال عليك السلام

قَالَ سَعيد عن قتادة، عن ابى رافع، عن ابى هريرة، عَنِ النبى صلى الله عليه وسلم قَالَ: هُواذنه.

وَقَالَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - «رَدَّ الْمَلاَئِكَةُ عَلَى آدَمَ السَّلاَمُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللَّهِ».

[٥٨٩٧] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- جَالِسٌ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « وَعَلَيْكَ السَّلاَمُ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ». فَرَجَعَ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ. فَقَالَ «وَعَلَيْكَ السَّلاَمُ فَارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ». فَقَالَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْفِي الَّتِي

[1]) ارشاد السارى ٢٥٢/١٣

[2]) ارشاد السارى ٢٥٢/١٣، عمدة القارى ٢٤٢/٢٢، فتح البارى ١٤١/١١

بَعْدَهَا عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ. فَقَالَ «إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذٰلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا». وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ فِي الْأَخِيرِ «حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا».

حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا». [ر ۷۲۴]

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب سره مقصد دا دې چه د سلام جواب ورکولو سره ﴿عليك السلام﴾ هم وئيلې شي او ﴿السلام عليك﴾ هم وئيلې شي. لفظ على مقدم کولې هم شي او موخر کولې هم او دې طرف ته هم اشاره کيدې شي چه د واؤ نه بغير جواب ورکړې کيدې شي، د مفرد صيغه استعمالولې شي.[۱]

افضل هم دا ده چه په جواب کښې ﴿وعليكم السلام﴾ د جمع په صيغې سره جواب ورکړې شي. اګر چه مخاطب يو وی.[۲]

قوله: ﴿وَقَالَتْ عَائِشَةُ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ﴾: دا حديث اوس موصولا تير شوې دې. په دې کښې ﴿عليه﴾ جار مجرور په ﴿السلام﴾ باندې مقدم دې ﴿وَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم رَدَّ الْمَلَائِكَةُ عَلَى آدَمَ السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ﴾ يعنى ملائكو سيدنا آدم عليه السلام ته په جواب کښې وئيلې وو: ﴿السلام عليك ورحمة الله﴾ په دې کښې السلام مقدم دې. دا تعليق هم د کتاب الاستيذان په شروع کښې موصولا تير شوې دې.

په حديث الباب کښې د ﴿وعليك السلام﴾ الفاظ راغلی دی. په دې کښې هم ﴿عليك﴾ مقدم دې. دا حديث په کتاب الصلاة کښې په تفصيل سره تير شوې دې.[۳]

د ابو اسامة تعليق په کتاب الايمان والنذور کښې موصولا ذکر کړې شوې دې.[۴]

---

[۱]) عمدة القاری ۲۴۵/۲۲، ارشاد الساری ۲۵۴/۱۳، فتح الباری ٤٤/۱۱

[۲]) وفی رد المختار: ۲۹۳/۵: والافضل للمسلم ان يقول: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته والمجيب كذلك يرد. وارشاد الساری ۲۵۶/۱۳. وكما اخرج البخاری من طريق معاوية بن قرة قال: قَالَ لِي أَبِي: يَا بُنَيَّ، إِذَا مَرَّ بِكَ الرَّجُلُ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَلَا تَقُلْ: وَعَلَيْكَ، كَأَنَّكَ تَخُصُّهُ بِذٰلِكَ وَحْدَهُ، فَإِنَّهُ لَيْسَ وَحْدَهُ، وَلٰكِنْ قُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ ... الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) ۴۸۵/۲، ۴۸۶، (رقم الحديث ۱۰۳۷) باب كيف رد السلام.

[۳]) صحيح البخاری ۱۶۷/۱، كتاب الصلاة، باب وجوب القراءة للامام والماموم فی الصلاة كلها فی الحضر والسفر، رقم الحديث ۷۵۷.

[۴]) صحيح البخاری، كتاب الايمان والنذور، باب اذا حنث ناسيا فی الايمان، رقم الحديث ۶۶۶۷.

⑲ باب إذَا قَالَ فُلَانٌ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ

[٥٨٩٨] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ قَالَ سَمِعْتُ عَامِرًا يَقُولُ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- حَدَّثَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ لَهَا «إِنَّ جِبْرِيلَ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ». قَالَتْ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ. [ر: ٣٠٤٥]

د ترجمة الباب غرض: شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله كيدې شى د رواياتو د اختلاف طرف ته اشاره كوى. امام ابوداؤد رحمه الله هم بعينه هم دا ترجمه قائم كړې ده [۱] او د هغې د لاندې ئې دوه احاديث ذكر كړې دى. يو حديث كوم چه د بنو تميم د يو سړى نه روايت كړې شوې دې، چه د هغه نوم نه دې ذكر كړې شوې. هغوى وائى چه ماته زما پلار او هغوى ته زما نيكۀ دا حديث بيان كړو چه زما پلار زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اوليږلم چه هغوى ته سلام اووايه : ﴿ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ. فَقَالَ «عَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ» ﴾ يعنى زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شوم او عرض مې اوكړو چه زما والد صاحب تاسو ته سلام كولو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : ﴿ عَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ ﴾.

د دې نه پس امام ابوداؤد رحمه الله د عائشه رضي الله عنها مذكوره حديث ذكر كړې دې. په دې كښې صرف ﴿ وعليه السلام ﴾ دې. په مبلغ باندې يعنى سلام رارسونكى باندې سلام نشته. [۲]

مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله فرمائى چه په دواړو طريقو سره جواب وركول جائز دې. [۳] د امام بخارى رحمه الله مقصد كيدې شى چه دې طرف ته اشاره كول وى چه په رواياتو كښې دواړه طريقې راغلى دى. [۴] امام نووى رحمه الله فرمائى :

﴿ فى هذا الحديث مشروعية ارسال السلام، ويجب على الرسول تبليغه، لانه امانة، وتعقب بانه بالوديعة اشبه، والتحقيق : ان الرسول ان التزمه اشبه بالامانة والا فوديعة، والودائع اذا لم تقبل لم يلزمه شئ ﴾ [۵]

يعنى په دې حديث كښې د سلام ليږلو د مشروعيت ذكر دې او په قاصد باندې د هغه رسول واجب دى ځكه چه دا امانت دې، بعض د دې تعاقب كولو سره ليكلې دى چه دا د وديعة زيات مشابه دې، تحقيقى خبره دا ده چه كه قاصد د دې زيات التزام اوكړو نو دا به د امانت سره زيات مشابه وى ګينې بيا به وديعة وى او د ودائع حكم دا دې چه كه هغه قبوله نه كړې شوه نو په هغه باندې هيڅ هم لازم نه دى.

---

[۱] سنن ابى داؤد ٣٥٨/٤، كتاب الادب، باب فى الرجل يقول : فلان يقرئك السلام.
[۲] سنن ابى داؤد، كتاب الادب، باب فى الرجل يقول : فلان يقرئک السلام : ٣٥٩/٤، رقم الحديث ٥٢٣٢
[۳] بذل المجهود، باب فى الرجل يقول للرجل فلان يقرئک السلام فكيف يرد؟ ١٧١/٢
[۴] فتح البارى ٣٨/١١.
[۵] ارشاد السارى ٢٥٧/١٣، لامع الدرارى، كتاب الاستيذان، باب اذا قال : فلان يقرئک السلام ٥٥/١٠

⑳ باب التَّسْلِيمِ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ

[۵۸۹۹] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم رَكِبَ حِمَارًا عَلَيْهِ إِكَافٌ، تَحْتَهُ قَطِيفَةٌ فَدَكِيَّةٌ، وَأَرْدَفَ وَرَاءَهُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَهُوَ يَعُودُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فِي بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ، وَذَلِكَ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ حَتَّى مَرَّ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ، وَفِيهِمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ، وَفِي الْمَجْلِسِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ، فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ ثُمَّ قَالَ لَا تُغَبِّرُوا عَلَيْنَا. فَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ وَقَفَ فَنَزَلَ، فَدَعَاهُمْ إِلَى اللَّهِ وَقَرَأَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ أَيُّهَا الْمَرْءُ لَا أَحْسَنَ مِنْ هَذَا، إِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا، فَلَا تُؤْذِنَا فِي مَجَالِسِنَا، وَارْجِعْ إِلَى رَحْلِكَ، فَمَنْ جَاءَكَ مِنَّا فَاقْصُصْ عَلَيْهِ. قَالَ ابْنُ رَوَاحَةَ اغْشَنَا فِي مَجَالِسِنَا، فَإِنَّا نُحِبُّ ذَلِكَ. فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَتَوَاثَبُوا، فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُخَفِّضُهُمْ، ثُمَّ رَكِبَ دَابَّتَهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ «أَيْ سَعْدُ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالَ أَبُو حُبَابٍ». يُرِيدُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ قَالَ كَذَا وَكَذَا قَالَ اعْفُ عَنْهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاصْفَحْ فَوَاللَّهِ لَقَدْ أَعْطَاكَ اللَّهُ الَّذِي أَعْطَاكَ، وَلَقَدِ اصْطَلَحَ أَهْلُ هَذِهِ الْبَحْرَةِ عَلَى أَنْ يُتَوِّجُوهُ فَيُعَصِّبُونَهُ بِالْعِصَابَةِ، فَلَمَّا رَدَّ اللَّهُ ذَلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِي أَعْطَاكَ شَرِقَ بِذَلِكَ، فَذَلِكَ فَعَلَ بِهِ مَا رَأَيْتَ، فَعَفَا عَنْهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- [ر: ۲۸۲۵]

د مسلمانانو او کفارو په مخلوط مجلس باندې د سلام حکم: چه په یو داسې مجلس باندې ورتیر شی چه په هغې کښې مسلمانان او کفار دواړه وی، هلته سلام کول پکار دی. امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا سنت ده چه کله په یو داسې مجلس باندې ورتیر شی نو سلام علی العموم کول پکار دی او قصد د مسلمانانو کول پکار دی.[1] ابن العربی رحمه الله فرمائی چه هم دا حکم د داسې مجلس دې چه په هغې کښې اهل سنت او اهل بدعت وی، عادل او ظالم وی، نیک او فاجر وی، نو سلام کول پکار دی خو اراده د نیکانو خلقو کول پکار دی.[2]

په حدیث الباب کښې دی: «حَتَّى مَرَّ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ

---

[1]) فتح الباری ۴۷/۱۱، والابواب والتراجم، کتاب الاستئذان، باب التسلیم فی مجلس فیه اخلاط من المسلمین والمشرکین.

[2]) فتح الباری ۴۷/۱۱، شرح سنن الترمذی للامام ابی بکر ابن العربی المالکی ۱۷۳/۱۰، ابواب الاستئذان باب ما جاء فی السلام قبل الکلام

وَالْيَهُودِ ... فَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم ﴾ يعنى رسول اللهﷺ په داسې مجلس باندې ورتير شو چه په هغې كښې د مسلمانانو نه علاوه بت پرست او يهوديان هم وو نو رسول اللهﷺ په هغوى باندې سلام اوكړو.

٢١: بَابُ مَنْ لَمْ يُسَلِّمْ عَلَى مَنِ اقْتَرَفَ ذَنْبًا، وَلَمْ يَرُدَّ سَلاَمَهُ حَتَّى تَتَبَيَّنَ تَوْبَتُهُ، وَإِلَى مَتَى تَتَبَيَّنُ تَوْبَةُ الْعَاصِي

وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو لاَ تُسَلِّمُوا عَلَى شَرَبَةِ الْخَمْرِ.

[٥٩٠٠] حَدَّثَنَا ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ تَبُوكَ وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ كَلاَمِنَا، وَآتِي رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأُسَلِّمُ عَلَيْهِ، فَأَقُولُ فِي نَفْسِي هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلاَمِ أَمْ لاَ حَتَّى كَمَلَتْ خَمْسُونَ لَيْلَةً، وَآذَنَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِتَوْبَةِ اللَّهِ عَلَيْنَا حِينَ صَلَّى الْفَجْرَ. [ر: ٢٢٠٩]

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب دوه اجزاء دى.

① اول جزء دا دې چه په فاسق او گناهگار باندې سلام نه دى كول پكار تردې چه هغه توبه اوكړى. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله د دې مسئلې په حكم كښې د اختلاف طرف ته اشاره فرمائيلې ده.[١]

په فاسق او مبتدع باندې د سلام كولو حكم: پس د جمهور علماء كرامو په نزد په فساق او مبتدعين باندې سلام نه دى كول پكار. خو كه د هغه د طرف نه د سلام نه كولو په صورت كښې د نقصان رسولو ويره وى نو بيا د سلام گنجائش شته.[٢] امام نووى رحمه الله د دې تصريح كړې ده.[٣]

امام ابن العربى رحمه الله په دې باندې دومرة اضافه كړې ده چه په دې صورت كښې دې د سلام كولو په وخت دا نيت اوكړې شى چه سلام د الله پاك په نومونو كښې يو نوم دې نو گويا د ﴿السلام عليكم﴾ معنى ده ﴿الله رقيب عليكم﴾.[٤]

خو د بعض علماء كرامو په نزد په فاسق او بدعتى باندې سلام كول جائز دى، ابن وهب فرمائى چه په كافر باندې هم سلام كيدلې شى.[٥]

---

[١] فتح البارى ٤٨/١١

[٢] فتح البارى ٤٨/١١، ارشاد السارى ٢٦٠/١٣، عمدة القارى : ٢٤٧/٢٢

[٣] شرح صحيح مسلم للنووى ٢١٤/٢، كتاب السلام، باب النهى عن ابتداء اهل الكتاب بالسلام وكيف يرد عليهم.

[٤] شرح سنن الترمذى للامام ابى بكر ابن العربى المالكى ١٧٤/١٠، ابواب الاستئذان

[٥] فتح البارى ٤٨/١١، عمدة القارى ٢٤٧/٢٢

په درمختار کښې دی چه په فاسق باندې سلام کول مکروه دی. په دې شرط چه هغه د خپل فسق اعلان کونکې وی. خو که څوک ښکاره فسق کونکې نه وی نو بیا سلام بغیر د کراهت نه جائز دې [۱]

د ترجمة الباب دویم جزء دې ﴿الی متی تتبین توبة العاصی﴾ یعنی د ګناه کونکی د توبې صحت به کله معلومیږی. یعنی د داسې قرائن دپاره څومره موده پکار ده چه په هغې کښې د هغه د توبې صحت معلوم شی، په هغې کښې یو کال، شپږ میاشتې او پنځوس ورځو موده ذکر کړې شوې ده چه په دومره موده کښې د هغه حالت واضح کیږی.[۲]

ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په دې کښې هیڅ موده نه شی متعین کیدې [۳]

د حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمه الله د کلام نه معلومیږی چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دوه اجزاء ذکر کړې دی. یو سلام او د هغې جواب. دویم د توبې د صحت موده

د شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله رائې : شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی چه د فقهاء احناف د کتابونو تفصیلات که اوکتلې شی نو د دوو په ځائې ترجمة الباب په درې اجزاء باندې مشتمل دې. یو سلام. دویم د هغې جواب او دریم د توبې د صحت موده. سلام او جواب دواړه بیل بیل حکم لری. چرته چه سلام کول شرعا جائز نه وی. هلته جواب هم مشروع نه دې. خو که فاسق سلام کړې وی نو د هغې جواب ورکول واجب کیږی.[۴] صاحب د بحر الرائق د دې طرف ته اشاره کړې ده. [۵]

قوله: ﴿وَقَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ عَمْرٍو لَا تُسَلِّمُوا عَلَى شَرَبَةِ الْخَمْرِ﴾:

شربة: د شارب جمع ده، سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما فرمائی : په شراب څکونکو باندې سلام مه کوئ. دا اثر امام بخاری رحمه الله د په الادب المفرد کښې موصولا نقل کړې دې [۶] د دې نه پس په باب کښې امام بخاری رحمه الله د سیدنا کعب بن مالک رضی الله عنه حدیث نقل کړې دې.

---

[۱]) رد المختار ۲۹٤/۵

[۲]) فتح الباری ٤٨/١١، الابواب والتراجم، کتاب الاستئذان، باب من لم یسلم علی من اقترف ذنبا ولم یرد سلامه حتی تتبین توبته. ۱۲۳/۲

[۳]) شرح صحیح البخاری لابن بطال ۳۶/۹

[٤]) الابواب والتراجم، کتاب الاستئذان باب من لم یسلم علی من اقترف ذنبا ولم یرد سلام حتی تتبین توبته. ۱۲۳/۲

[۵]) ثُمَّ اعْلَمْ أَنَّهُ يُكْرَهُ السَّلَامُ عَلَى الْمُصَلِّي وَالْقَارِئِ وَالْجَالِسِ لِلْقَضَاءِ أَوْ الْبَحْثِ فِي الْفِقْهِ أَوْ التَّخَلِّي وَلَوْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ لَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ الرَّدُّ لِأَنَّهُ فِي غَيْرِ مَحَلِّهِ. بابَ ما یفسد الصلاة وما یکره فیها : البحر الرائق ۹/۲، وقال فی رد المختار : وینبغی وجوب الرد علی الفاسق لأن کراهة السلام علیه للزجر فلا تنافی الوجوب علیه، باب ما یفسد الصلاة وما یکره ٤۵۷/۱.

[۶]) الادب المفرد مع فضل الله الصمد ٤٧٢/٢، باب لا یسلم علی فاسق، خو په الادب المفرد کښې د ﴿شربة الخمر﴾ په ځائې ﴿شُرَّابِ الْخَمْرِ﴾ دې.

په هغې كښې د رسول الله ﷺ هغوى سره د ترك سلام و كلام قصه ذكر كړې شوې ده. معلومه شوه چه د ګناه د وجې نه ترك سلام كيدلې شي.

۲۲: باب كَيفَ يُرَدُّ عَلَى أهْلِ الذِّمَّةِ السَّلاَمُ

[۵۹۰۱] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ دَخَلَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكَ. فَفَهِمْتُهَا فَقُلْتُ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَهْلاً يَا عَائِشَةُ، فَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ». فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «فَقَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ». [ر: ۲۷۷۷]

سيده عائشه رضي الله عنها روايت كوى چه د يهودو يو جماعت د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او وې وئيل ﴿السام عليك﴾ (يعنى په تا دې لعنت وى) زه پرې پوهه شوم نو ما اووې ﴿عليكم السام واللعنة﴾ (هم په تاسو دې هلاكت او لعنت وى) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې عائشې پريږده! الله پاك په ټولو معاملاتو كښې نرمى خوښوى. ما عرض اوكړو: يا رسول الله ﷺ! آيا تاسو واونريدل چه دې خلقو څه اووې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ما هم ﴿وعليكم﴾ اووې.

[۵۹۰۲] [1] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ:
«إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُودُ فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمُ السَّامُ عَلَيْكَ. فَقُلْ وَعَلَيْكَ». [۶۵۲۹]

د سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كله يهود تاسو ته سلام اوكړى او په هغوى كښې يو كس ﴿السام عليك﴾ اوائى نو تاسو ﴿وعليك﴾ وايئ.

[۵۹۰۳] [2] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -

---

[1] الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب استتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم، باب اذا عرض الذمى وغيره بسب النبى ﷺ ولم يصرح نحو قوله: السام عليك (رقم الحديث ۶۹۲۸) واخرجه مسلم فى كتاب السلام، باب النهى عن ابتداء اهل الكتاب بالسلام وكيف يرد عليهم (رقم الحديث ۲۱۶۳) واخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب، باب فى السلام على اهل الذمة (رقم الحديث ۵۲۰۶) واخرجه الترمذى فى كتاب الاستئذان، باب ما جاء فى التسليم على اهل الذمة (رقم الحديث ۲۷۰۱) واخرجه ابن ماجة فى كتاب الادب باب رد السلام على اهل الذمة (رقم الحديث ۳۶۹۸)

[2] الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب استتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم، باب اذا عرض الذمى وغيره بسب النبى ﷺ ولم يصرح نحو قوله: السام عليك (رقم الحديث ۶۹۲۶) ... [بقيه برصفحه آئنده...

«إِذَاسَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا وَعَلَيْكُمْ».
د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله تاسو ته اهل کتاب سلام اوکړی نو تاسو ﴿ وعلیك ﴾ وایئ.

د ترجمة الباب غرض: ذمیانو که سلام اوکړو نو څنګه به جواب ورکولې شی؟ ﴿ کیف یرد ﴾ وئیلو سره امام بخاری رحمه الله دې خبرې ته اشاره اوکړه چه د سلام جواب ورکولو ممنوع نه دی. خو د جواب کیفیت په دې کښې مختلف دې.
د بعض علماء کرامو په نزد پوره جواب ورکول فرض دی. د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه ﴿من سلم علیك فرده، ولوکان مجوسیا ﴾ یعنی څوک چه سلام کوی د هغه جواب ورکوئ اګر چه هغه مجوسی وی، د امام قتادة او امام شعبی رحمهما الله هم دا مسلک دې.[1]
د جمهور علماء کرامو په نزد به د هغوی د سلام په جواب کښې صرف ﴿ وعلیکم ﴾ وئیلې شی. د لفظ سلام سره به جواب نه شی ورکولې.[2]
په درمختار کښې دی ﴿ ولو سلم یهودی أو نصرانی أو مجوسی علی مسلم فلا بأس بالرد ولکن لا یزید علی قوله وعلیك ﴾[3] یعنی که یو یهودی، نصرانی یا مجوسی په مسلمانانو باندې سلام اوکړو نو په جواب ورکولو کښې څه باک نشته، خو په جواب کښې به صرف ﴿ وعلیك ﴾ وئیلې شی د دې نه زیات نه.
د باب نه لاندې چه امام بخاری رحمه الله کوم حدیث ذکر کړې دې، د هغې مناسبت د باب سره ښکاره دې.

...بقیه ازحاشیه گذشته] واخرجه مسلم فی کتاب السلام، باب النهی عن ابتداء اهل الکتاب بالسلام وکیف یرد علیهم (رقم الحدیث ۲۱۶۳) وفی روایة ابی داؤد : أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- قَالُوا لِلنَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- إِنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ يُسَلِّمُونَ عَلَيْنَا فَكَيْفَ نَرُدُّ عَلَيْهِمْ قَالَ : قُولُوا وَعَلَيْكُمْ. کتاب الادب، باب فی السلام علی اهل الذمة (رقم الحدیث : ۵۲۰۶) واخرجه ابن ماجة فی کتاب الادب، باب رد السلام علی اهل الذمة (رقم الحدیث ۳۶۹۷)

[1]) فتح الباری ۵۰/۱۱، عمدة القاری ۲۴۸/۲۲
[2]) شرح صحیح مسلم للنووی ۲۱۳/۲، کتاب السلام، باب النهی عن البداء اهل الکتاب، بالسلام وکیف یرد علیهم، وفتح الباری ۵۳/۱۱
[3]) الدر المختار ۲۹۲/۵

۲۳: باب من نظر في كتاب من يحذر على المسلمين ليستبين أمره

[۵۹۰۴] حدثنا يوسف بن بهلول حدثنا ابن إدريس قال حدثني حصين بن عبد الرحمن عن سعد بن عبيدة عن أبي عبد الرحمن السلمي عن علي رضي الله عنه قال بعثني رسول الله صلى الله عليه وسلم والزبير بن العوام وأبا مرثد الغنوي وكلنا فارس فقال «انطلقوا حتى تأتوا روضة خاخ، فإن بها امرأة من المشركين معها صحيفة من حاطب بن أبي بلتعة إلى المشركين». قال فأدركناها تسير على جمل لها حيث قال لنا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال قلنا أين الكتاب الذي معك قالت ما معي كتاب. فأنخنا بها، فابتغينا في رحلها فما وجدنا شيئا، قال صاحباي ما نرى كتابا. قال قلت لقد علمت ما كذب رسول الله صلى الله عليه وسلم والذي يحلف به لتخرجن الكتاب أو لأجردنك. قال فلما رأت الجد مني أهوت بيدها إلى حجزتها وهي محتجزة بكساء فأخرجت الكتاب قال فانطلقنا به إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال «ما حملك يا حاطب على ما صنعت» قال ما بي إلا أن أكون مؤمنا بالله ورسوله، وما غيرت ولا بدلت، أردت أن تكون لي عند القوم يد يدفع الله بها عن أهلي ومالي، وليس من أصحابك هناك إلا وله من يدفع الله به عن أهله وماله. قال «صدق فلا تقولوا له إلا خيرا». قال فقال عمر بن الخطاب إنه قد خان الله ورسوله والمؤمنين، فدعني فأضرب عنقه. قال فقال «يا عمر وما يدريك لعل الله قد اطلع على أهل بدر فقال اعملوا ما شئتم فقد وجبت لكم الجنة» قال فدمعت عينا عمر وقال الله ورسوله أعلم. [ر: ۲۸۴۵]

د سيدنا علي ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ زه، سيدنا زبير بن عوام او سيدنا ابو مرثد الغنوي ﷺ اوليږلو او په مونږ کښې هر يو په اس باندې سور وو او حکم ئې راکړو چه روضه خاخ ته لاړ شئ. هلته يو مشرکه زنانه ده. هغه سره د حاطب بن ابى بلتعه ﷺ خط دې کوم چه د مشرکانو په نوم دې. سيدنا علي ﷺ فرمائي چه مونږ هغه هلته په اوښ باندې تلونکې بيا موندله د کوم ځائې چه رسول الله ﷺ خبر راکړې وو مونږ ورته اووې هغه خط کوم چه تا سره دې چرته دې؟ هغې اووې: ما سره خو هيڅ خط نشته؟ مونږ د هغې اوښ چو کړو. او د هغې د کيجاوې وغيره تلاشي مو واخستله خو هغه خط ملاؤ نه شو. زما دواړو ملګرو هم اووې چه خط نشته. بيا ما اووې: ماته معلومه ده چه رسول الله ﷺ دروغ نه دی وئيلي. قسم دې په هغه ذات چه د هغه قسم خوړلې شي خط راوباسه ګينې تا به بربنډه کړم، چه کله هغې زمونږ سختى اوليده نو د هغه څادر نه ئې چه د هغې نه ئې لنګ وهلې وو، خط راويستلو او رائې کړو، مونږ هغه خط اخستلو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر

شو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: حاطب! تا داسې ولې اوکړل؟ حاطب رضی الله عنه عرض اوکړو: یا رسول الله ﷺ! زه په الله او د هغه په رسول ﷺ ایمان لرم. زه بدل شوې نه یم (یعني مرتد شوې نه یم) ما اوغوښتله چه په هغوی باندې احسان اوکړم چه هغوی زما د اهل وعیال دفاع او نګرانی اوکړي او د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم رشته دار هلته موجود دی کوم چه د هغوی د اهل وعیال نګرانی کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: حاطب رشتیا وائي. اوس هغه ته هیڅ مه وایئ. سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه عرض اوکړو چه هغه د الله پاک، رسول الله ﷺ او مومنانو سره خیانت کړې دې تاسو ماته اجازت راکړئ چه زه د هغه سټ اووهم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې عمر! تاته معلومه نه ده چه الله پاک د اهل بدر متعلق خبر ورکړې دې چه څه مو خوښه وی کوئ؛ ستاسو دپاره جنت واجب شو. د راوی بیان دې چه د سیدنا عمر رضی الله عنه د سترګو نه اوښکې روانې شوې او عرض ئې اوکړو: الله پاک او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي.

د ترجمة الباب مقصد: بغیر د اجازت نه د چا خط لوستل جائز نه دی. امام ابوداؤد رحمه الله د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما روایت نقل کړې دې په هغې کښې دی ﴿مَنْ نَظَرَ فِي كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّمَا يَنْظُرُ فِي النَّارِ﴾ یعني چا چه د خپل رور د اجازت نه بغیر د هغه خط اوکتلو ګویا هغه اور ويني. (۱) امام بخاری رحمه الله په دې باب سره دې طرف ته اشاره اوفرمائیله چه د عدم اجازت حکم هغه وخت دې چه کله هغه خط د مسلمانانو دپاره مضر او نقصان ورکونکې نه وی، که یو مشکوک خط وی یا د یو متهم سړی خط دې نو هغې لره پرانستلو سره بغیر د اجازت نه لوستلې کیدې شی. پس د سنن ابی داؤد د حدیث متعلق علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی: ﴿انما هو في حق من لم يكن متهما على المسلمين، واما من كان متهما فلا حرمة له﴾ (۲) بغیر د اجازت نه د چا خط لوستل اګر چه په عام حالاتو کښې صحیح نه دی خو په مشکوک خط کښې چونکه د زیاتې خطرې او فساد ویره وی په دې وجه د هغې د لوستلو ګنجائش شته.

په حدیث الباب کښې د سیدنا حاطب بن ابی بلتعه (البدری) رضی الله عنه د خط واقعه ذکر شوې ده، کومه چه په کتاب التفسیر کښې د سورة ممتحنة د لاندې تیره شوې ده او په کتاب المغازی کښې ﴿باب فضل من شهد بدرا﴾ د لاندې هم دا حدیث تیر شوې دې، هم هلته په کشف الباری کښې د دې تفصیل راغلې دې. (۳)

(۱) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة باب الدعاء، ۷۸/۲ (رقم الحدیث ۱۴۸۵) (ضعفه ابوداؤد)
(۲) ارشاد الساری ۲۶۵/۱۳
(۳) کشف الباری، کتاب المغازی باب فضل من شهد بدرا: ۱۲۹، ۱۳۶

۲۴: باب كَيْفَ يُكْتَبُ الْكِتَابُ إِلَى أَهْلِ الْكِتَابِ

[۵۹۰۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ وَكَانُوا تِجَارًا بِالشَّامِ، فَأَتَوْهُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ قَالَ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُرِءَ فَإِذَا فِيهِ « بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، السَّلاَمُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ». [ر: ۷]

د ترجمة الباب مقصد : اهل كتابو ته به خط څنګه ليکلې شي؟ امام بخاري رحمه الله په باب کښې حديث هرقل ذکر کولو سره بيان کړی دی چه د هغې طريقه څنګه کيدل پکار دی. شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله ليکی :

﴿ والاوجه عندی ان الامام البخاری اشار بهذه الترجمة الی هذا، بان يكتب عليهم : السلام علی من اتبع الهدی، لا بلفظه المعروف، بلفظ الخطاب : السلام عليكم ﴾ [۱]

يعنی زما په نزد زياته مناسب دا ده چه امام بخاري رحمه الله په دې ترجمې سره دا بيانول غواړی چه اهل کتاب ته د خط ليکلو په وخت سلام داسې ليکل پکار دی ﴿ السلام علی من اتبع الهدی ﴾ معروف لفظ يعنی لفظ خطاب ﴿ السلام عليكم ﴾ نه دی ليکل پکار.

حديث هرقل او د هغې نه د اخذ شوې فوائدو او آدابو مکمل تفصيل په کشف الباری، اول جلد کښې تير شوې دې. [۲]

۲۵: باب بِمَنْ يُبْدَأُ فِي الْكِتَابِ

[۵۹۰۶] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ ذَكَرَ رَجُلاً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا، فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ وَصَحِيفَةً مِنْهُ إِلَى صَاحِبِهِ. وَقَالَ عُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِيهِ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « نَجَرَ خَشَبَةً، فَجَعَلَ الْمَالَ فِي جَوْفِهَا، وَكَتَبَ إِلَيْهِ صَحِيفَةً مِنْ فُلاَنٍ إِلَى فُلاَنٍ». [ر: ۱۴۲۷]

د ترجمة الباب مقصد : د دې باب د لاندې امام بخاري رحمه الله د خط ليکلو يو بل ادب طرف ته اشاره کړې ده چه د خط په ابتداء کښې به د چا نوم ليکلې شی، د خط ليکونکی يا که د مکتوب اليه؟ په عام حالاتو کښې خو مناسب دا ده چه کاتب خپل نوم مخکښې اوليکی او

---

[۱] الابواب والتراجم : كتاب الاستيذان، باب كيف يكتب الكتاب الى اهل الكتاب ۱۲۳/۲

[۲] كشف الباری، باب كيف كان بدء الوحی : ۵۵۵/۱

د هغې نه روستو د مكتوب اليه نوم وي، د رسول اللهﷺ په خطونو كښې به د هغوى اسم مبارك رومبې وو، په سنن ابى داؤد كښې د سيدنا علاء خضرمى رضی اللہ عنہ په باره كښې دى چه كله به هغوى رسول اللهﷺ ته خط ليكلو نو اول به ئې خپل نوم ليكلو. [1] چونكه د رسول اللهﷺ دا معمول وو، په دې وجه به ئې په اتباع سنت كښې داسې كول.
مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله فرمائى چه كه يو وړوكې چا غټ ته خط ليكى، مثلا مريد خپل شيخ يا شاګرد خپل استاذ ته نو په دې صورت كښې د ادب تقاضه دا ده چه كاتب خپل نوم د مكتوب اليه نه روستو اوليكى. [2] امام نووى رحمه الله هم د دې تصريح كړې ده. [3]
امام بخارى رحمه الله ته چونكه د خپل شرط مطابق څه حديث ملاؤ نه شو، په دې وجه ئې د ليث رحمه الله تعليق دلته ذكر كړو چه په هغې كښې دى چه د بنى اسرائيل يو سړى لرګې د دننه نه خالى كولو سره په هغې كښې دولس زره ديناره كيخودل او خپل ملګرى ته ئې خط اوليكو ﴿من فلان الى فلان﴾ په دې خط كښې د كاتب نوم مقدم وو.
دا اګر چه د بنى اسرائيل واقعه ده خو امام بخارى رحمه الله د ماقبل شريعتونو د غير منسوخ واقعاتو نه هم استدلال كوى. [4]

د ليث دا تعليق امام بخارى رحمه الله په الادب المفرد كښې موصولا نقل كړيدې. [5]

۲۶: باب قول النبي صلى الله عليه وسلم «قوموا إلى سيدكم»

[۵۹۰۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ أَهْلَ قُرَيْظَةَ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِلَيْهِ فَجَاءَ فَقَالَ «قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ». أَوْ قَالَ «خَيْرِكُمْ». فَقَعَدَ عِنْدَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «هَؤُلاَءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ». قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ مُقَاتِلَتُهُمْ، وَتُسْبَى ذَرَارِيُّهُمْ. فَقَالَ «لَقَدْ حَكَمْتَ بِمَا حَكَمَ بِهِ الْمَلِكُ». قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ أَفْهَمَنِي بَعْضُ أَصْحَابِي عَنْ أَبِي الْوَلِيدِ مِنْ قَوْلِ أَبِي سَعِيدٍ إِلَى حُكْمِكَ. [ر:۲۸۷۸]

سيدنا ابو سعيد خدرى رضی اللہ عنہ روايت كوى چه اهل قريظه (يهوديان) د سيدنا سعد رضی اللہ عنہ په حكم باندې راكوز شو (يعنى وې وئيل چه د سعد فيصله به مونږ ته منظور وى) نو رسول اللهﷺ سيدنا سعد رضی اللہ عنہ راطلب كړو، چه هغوى راغلل نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل د خپل سردار دپاره اودريږئ (د راوى شک دې چه رسول اللهﷺ ﴿ قوموا الى سيدكم اوفرمائيل يا قوموا الى

[1] سنن ابى داؤد، كتاب الادب، باب فيمن يبداء بنفسه فى فى الكتاب، ۳۳۵/۴، (رقم الحديث : ۵۱۳۴)
[2] بذل المجهود، كتاب الادب باب كيف يكتب الى الذمى، ۷۱/۲۰
[3] شرح مسلم للنووى، باب كتب النبى صلى الله عليه وسلم الى هرقل ملک الشام يدعوه الى الاسلام ۹۸/۲
[4] فتح البارى ۴۸/۱۱
[5] الادب المفرد مع فضل الله الصمد ۵۴۵/۲، باب بمن يبداء فى الكتاب، (رقم الحديث ۱۱۲۸)

خيركم ﴾ سيدنا سعد رضی الله عنه د رسول الله ﷺ سره كيناستلو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دوى ستا په فيصله باندې راضى شوې دى. سيدنا سعد رضی الله عنه اوفرمائيل : زه فيصله كوم چه په دوى كښې دې چه په دوى كښې دې جنګ كونكى قتل كړې شى. او د هغوى اولاد دې قيد كړې شى. رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تا هم هغه فيصله كړې ده كومه چه د الله پاک حكم دې ابو عبدالله (بخارى) فرمائى : چه ما ته زما بعض ملګرو د ابو الوليد په واسطه د ابو سعيد قول (په ځائې د نزلوا على حكمك) ﴿نزلوا الى حكمك﴾ نقل كړې دې.

د ترجمة الباب مقصد : علامه عينى رحمه الله ليكى :

﴿وغرضه من هذه الترجمة بيان حكم قيام القاعد للداخل، ولكن لم يجزم بالحكم لمكان الاختلاف فيه﴾ (١)

د دې ترجمې مقصد د داخليدونكى دپاره د ناست كس د پاسيدو حكم بيانول دى. خو چونكه په دې كښې اختلاف دې په دې وجه امام بخارى رحمه الله په دې باندې جزم اونكړو.

د قيام مختلف صورتونه او د هغې حكم : د چا دپاره د قيام مختلف صورتونه كيدې شى. په هغې كښې اكثر صورتونه متفق عليه دى. او د هغې حكم واضح دې. سردار ناست او حاضرين مسلسل په تعظيم او تكريم كښې مسلسل ناست دى. دا صورت بالاتفاق ناجائز دې. يا د راتلونكى په زړه كښې تكبر او لوئې والې وى او هغه غواړى چه خلق دې هغه ته اودريږى. دا صورت هم بالاتفاق ناجائز دې، كه د راتلونكى په زړه كښې د تكبر پيدا كيدو ويره وى نو د هغه دپاره قيام مكروه دې. د چا په راتلو باندې د خوشحالئ د وجې نه : استقبال دپاره اودريدل بالاتفاق مستحب دى. د مباركئ وركولو دپاره اودريدل هم مستحب دى. يو مصيبت زده ته د تسلئ وركولو دپاره اودريدل هم بالاتفاق مستحب دى. د دې ټولو صورتونو په حكم كښې اختلاف دې. (٢)

د قيام تعظيمى په حكم كښې اختلاف : صرف يو صورت د قيام تعظيمى په حكم كښې اختلاف دې او هغه دا دې چه د راتلونكى په اكرام كښې يو سړې اودريږى او د راتلونكى په زړه كښې نه خو د خپل ځان دپاره د دې قيام تعظيمى خواهش دې او نه تمنا. په دې صورت كښې د علماء كرامو اختلاف دې. د جمهور علماء كرامو په نزد دا جائز ده خو دا اجازت په دوه شرطونو سره مشروط دې. يو دا چه د چا دپاره اودريږى د هغه په زړه كښې دې دا طلب نه وى چه خلق دې د هغه دپاره اودريږى.

دويم شرط دا دې چه د اودريدونكى په زړه كښې دې د دې قيام داعيه وى، كه په زړه كښې ئې د هغه د اكرام داعيه نه وى. صرف د رياء او تملق د وجې نه اودريږى نو جائز نه ده. (٣)

---

(١) عمدة القارى، الابواب والتراجم. كتاب الاستئذان. باب قول النبى ﷺ قوموا الى سيدكم : ١٢٣/١، ٢٥١/٢٢.

(٢) فتح البارى ٥٢/١١، عمدة القارى ٢٥٢/٢٢

(٣) كشف البارى، كتاب المغازى، باب مرجع النبى ﷺ من الاحزاب ومخرجه الى بنى قريظة ومحاصرته اياهم : ٣٠٥

بعض حضرات دې قيام ته ناجائز وائي او هغوی د لاندې ذکر کيدونکي حديث نه استدلال کوی په طبرانی کښې د سيدنا انس رضی الله عنه حديث دې ﴿إنما هلك من كان قبلكم بأنهم عظموا ملوكهم: بأن قاموا وقعدوا﴾ (۱) يعنی ستاسو نه مخکښې خلق صرف په دې وجه هلاک شو چه هغوی به د خپلو بادشاهانو داسې تعظيم کولو چه خلق به ولاړ وو او بادشاهان به ناست وو

په سنن ابی داؤد کښې د سيدنا معاويه رضی الله عنه حديث دې ﴿سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول «من أحب أن يمثل له الرجال قياما فليتبوأ مقعده من النار»﴾ (۲) يعنی ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغوی اوفرمائيل څوک چه دا خوښوی چه خلق دې هغه ته ولاړ وی نو هغه دې خپله استوګنه په جهنم کښې جوړه کړی

د سيدنا ابو امامة رضی الله عنه حديث دې ﴿خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم متوكئا على عصا فقمنا إليه فقال «لا تقوموا كما تقوم الأعاجم يعظم بعضها بعضا»﴾ (۳) يعنی رسول الله ﷺ په همسا باندې تکيه لګونکي زمونږ طرف ته بهر راوتلو نو مونږ د هغوی دپاره اودريدلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو مه اودريږئ څنګه چه عجميان د يو بل دپاره اودريږي.

خو جمهور وائي چه د دې احاديثو نه د قيام تعظيمی د جواز والا صورت مراد نه دې.

نورصورتونه مراد دی. په حديث الباب کښې د رسول الله ﷺ قول دې ﴿قوموا الى سيدكم﴾ د دې نه صفا جواز معلوميږی.

مانعين د دې حديث په باره کښې وائي چه د قيام دا حکم د تعظيم او اکرام دپاره نه وو بلکه د اعانت دپاره وو. چونکه سيدنا سعد رضی الله عنه زخمي وو نو هغوی لره د سورلئ نه په کوزولو کښې د مدد ورکولو دپاره رسول الله ﷺ د قيام حکم ورکړو پس په مسند احمد کښې د سيده عائشه رضی الله عنها په روايت کښې د دې صراحت دې. په هغې کښې دی ﴿قوموا الى سيدكم فانزلوه﴾ (۴) علامه قسطلانی رحمه الله ليکی:

﴿وعن أبي الوليد بن رشد: أن القيام على أربعة أوجه الأول محظور لمن يريد أن يقام له تكبرا وتعظيما على القائمين له والثاني مكروه لمن لا يتكبر ولا يتعاظم ولكن يخشى أن يدخل نفسه بسبب ذلك ما يحذر ولما فيه من التشبه بالجبابرة وجائز على سبيل الاحترام والاكرام لمن لا يريد ذلك ويؤمن معه التشبه بالجبابرة،

---

۱) مجمع الزوائد منبع الفرائد. كتاب الادب. باب ما جاء فى القيام ۷۰/۸. (قلت: ضعفه الهيثمى هناک)
۲) سنن ابى داؤد. كتاب الادب. باب فى قيام الرجل للرجل. ۳۵۸/٤. (رقم الحديث: ۵۲۲۹)
۳) وفى معناه. روى مسلم فى صحيحه إن كدتم آنفا لتفعلون فعل فارس والروم يقومون على ملوكهم وهم قعود فلا تفعلوا: ۳۰۹/۱. (رقم الحديث ٤۱۳) وابوداؤد فى كتاب الادب. باب فى قيام الرجل للرجل: ۳۵۸/٤ (رقم الحديث ۵۲۳)
٤) مسند الامام احمد ۱٤۲/۶

ومندوب لمن قدم من سفره فرحا بقدومه ليسلم عليه أوإلى من تجددت له نعمة فيهنيه بحصولها أو مصيبة فيعزيه بسببها، او الحاكم فى محل ولايته، كما دل عليه قصة سعد فانه لما استقدمه النبى ﷺ حاكما فى بنى قريظة، فرآه مقبلا، قال : قوموا الى سيدكم، وما ذاك الا ليكون انفذ لحكمه، فاما اتخاذه ديدنا فمن شعار العجم، وقد جاء فى السنن انه لم يكن احب اليهم من رسول الله صلى الله عليه وسلم، وكان اذا جاء لا يقومون له، لما يعلمون من كراهيته لذلك ﴾ [1]

یعنی: ابوالولید بن رشد رحمه الله فرمائی چه قیام په څلور قسمه دې!

① ممنوع : هغه متکبر سړې چه دا وائی چه خلق د هغه د تعظیم دپاره اودریږی، د هغه دپاره اودریدل ممنوع دی.

② مکروه : هغه سړې چه متکبر خو نه دې خو د هغه دا ویره وی چه په دې سره به د هغه په زړه کښې د تکبر وغیره بدی پیدا شی نو د هغه دپاره اودریدل مکروه دی، بله دا هغه وخت هم مکروه دی چه کله د متکبرینو سره د مشابهت ویره وی.

③ جائز : کوم سړې چه د تعظیم او اکرام غوښتونکې نه وی، بله دا چه د متکبرینو سره ئې د مشابهت ویره هم نه وی نو د هغه دپاره اودریدل جائز دی.

④ مستحب : لکه څوک د سفر نه راشی نو د هغه د راتلو په خوشحالئ کښې اودریدل چه هغه ته سلام اوکړې شی یا چه چا ته یو نعمت حاصل شوې وی نو د هغه په حصول باندې هغه ته د مبارکئ ورکولو دپاره اودریدل، یا په یو مصیبت او آفت باندې د تعزیت کولو دپاره اودریدل یا د حاکم دپاره د هغه په محل د ولایت کښې اودریدل. دا مستحب دی، لکه چه د سیدنا سعد رضی الله عنه د قصې نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ هغوی لره په بنو قریظه کښې حاکم مقرر کړو او راطلب ئې کړو چه کله رسول الله ﷺ هغوی په راتلو باندې اولیدل نو وې فرمائیل : د خپل سردار دپاره اودریږئ : او رسول الله ﷺ داسې صرف دې دپاره اوکړل چه د هغوی حاکمیت نافذ شی. پاتې شوه دا چه د دې نه عادت او طور طریقه جوړه کړې شی نو دا د عجمیانو شعار دې. د سنن حدیث دې چه صحابه کرامو ته د رسول الله ﷺ نه زیات محبوب بل څوک نه وو او رسول الله ﷺ چه به کله تشریف راوړلو نو صحابه کرام رضی الله عنهم به د هغوی دپاره نه اودریدل ځکه چه هغوی ته معلومه وه چه رسول الله ﷺ دا کار نه خوښوی. ددې مسئلې څه تفصیل په کتاب المغازی کښې د غزوه بنی قریظه د لاندې تیرشوې دې.[2]

قوله: قال ابو عبدالله : افهمنى بعض اصحابى : دا د امام بخاری رحمه الله قول دې، علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا وئیل غواړی چه ما د ابوالولید نه د ﴿ على

---

[1]) ارشاد السارى ۲۶۸/۱۳

[2]) کشف البارى، کتاب المغازى، باب مرجع النبى صلى الله عليه وسلم من الاحزاب ومخرجه الى بنى قريظة ومحاصرته اياهم ص ۲۹۶.

حكمك ﴾ الفاظ اوريدلي دي، او حال دا چه زما بعض شيوخ د هغوى نه د ﴿ الحكمك ﴾ الفاظ نقل كړي دي، يعنى هغوى ﴿ على ﴾ حرف استعلاء ﴿ ال ﴾ استعمال كړې دي.[1] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى د ﴿ بعض اصحابى ﴾ نه يا خو امام محمد بن سعد رحمه الله مراد دې چا چه په خپل طبقات كښې دا حديث د ابو الوليد نه هم په دې سند سره ذكر كړې دې. او يا د ترې مراد ابن ضريس دې.[2]

۲۷: باب الْمُصَافَحَةِ

وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ عَلَّمَنِي النَّبِي صلى الله عليه وسلم التَّشَهُّدَ وَكَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ.[ر: ۵۹۱۰]

سيدنا ابن مسعود رضي الله عنه بيان كړې دې چه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم تشهد اوښودلو او زما لاس د هغوى د دواړو لاسونو ترمينځه وو.

وَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَامَ إِلَى طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ يُهَرْوِلُ، حَتَّى صَافَحَنِي وَهَنَّأَنِي. [ر: ۴۱۵۶]

او سيدنا كعب بن مالك رضي الله عنه فرمائى چه زه مسجد ته داخل شوم نو او مې كتل چه رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف فرما دي، طلحه بن عبيد په تندئ سره زما طرف ته راغلو، تردې چه ما سره ئې مصافحه اوكړه او ماته ئې مباركى راكړه.

[۵۹۰۸] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لأَنَسٍ أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - قَالَ نَعَمْ.

امام قتاده رحمه الله روايت كوى چه ما د سيدنا انس رضي الله عنه نه تپوس اوكړو : آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې د مصافحې رواج وو؟ هغوى اوفرمائيل : او!

[۵۹۰۹][3] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عَقِيلٍ زُهْرَةُ بْنُ مَعْبَدٍ سَمِعَ جَدَّهُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ هِشَامٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ.[ر: ۳۴۹۱]

او ابو عقيل زهره بن معبد روايت كوى چه هغوى د خپل نيكه عبدالرحمن بن هشام نه واوريدل هغوى اووې چه (يو كرت) مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، او هغوى د سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه لاس نيولې وو.

د ترجمة الباب مقصد : امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د مصافحې مشروعيت بيان كړې

---

[1] شرح الكرمانى : ۹۸/۲۲

[2] فتح البارى ۶۰/۱۱

[3] ۵۹۰۸-۵۹۰۹: الحديث اخرجه الترمذى فى كتاب الاستئذان، باب ما جاء فى المصافحة ۸۴/۵ (رقم الحديث ۲۷۲۹)

دي. امام ترمذی رحمه الله په سنن کښې د سیدنا ابو امامة رضي الله عنه حدیث بیان کړې دې ﴿ وَتَمَامُ تَحِيَّتِكُمْ بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ ﴾ یعنی ستاسو دپاره د تحیة تکمله مصافحه ده [۱]
امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې صحیح سند سره د سیدنا انس رضي الله عنه مرفوع حدیث بیان کړې دې. ﴿ قَدْ جَاءَكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ وَهُمْ أَوَّلُ مَنْ جَاءَ بِالْمُصَافَحَةِ ﴾ [۲] یعنی اهل یمن راغلل او د تولو نه اول مصافحه هم هغوی اوکړه.
امام ترمذی رحمه الله هم د سیدنا انس رضي الله عنه یو حدیث نقل کړې دې چه په هغې کښې دی. یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو: ﴿ الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ أَيَنْحَنِي لَهُ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ؟ قَالَ: نَعَمْ ﴾ [۳] یعنی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! که یو مسلمان د خپل رور سره ملاویږی نو د هغه دپاره ښکته شي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل نه. هغه اووي د هغه لاس نیولو سره هغه سره مصافحه اوکړي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل او.
په سنن ابی داؤد کښې د سیدنا براء بن عازب رضي الله عنه مرفوع روایت دې ﴿ مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَفْتَرِقَا ﴾ [۴] یعنی دوه مسلمانان چه کله یو ځائې شی او مصافحه کوی نو د هغوی د جدا کیدو نه مخکښې د هغوی مغفرت اوکړې شی.
د مصافحې حکم او طریقه : د دې احادیثو په بناء امام نووی رحمه الله فرمائی چه د مصافحه په سنت کیدو باندې اجماع ده. [۵]
د امام مالک رحمه الله نه د دې کراهت منقول دې خو هغوی روستو رجوع کړې وه. [۶]
مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله په فیض الباری کښې فرمائی چه د مصافحه عام طریقه خو دا ده چه په دواړو لاسونو باندې مصافحه اوکړې شی خو که چا په یو لاس سره مصافحه اوکړه نو هم سنت به ادا شی. [۷]
مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په الکوکب الدري کښې فرمائی چه مصافحه په یو لاس سره هم ثابت ده او په دواړو لاسونو سره هم ثابت ده خو په یو لاس سره مصافحه کول چونکه د فرنګیانو شعار جوړ شوې دې. په دې وجه واجب الترک دې. [۸]

---

[۱] الحديث اخرجه الترمذي في سننه، كتاب الاستئذان، باب ماجاء في المصافحة ۸٤/٥ (رقم الحديث ۲۷۳۱)
[۲] الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) باب المصافحة ۴۳۲/۲ رقم الحديث ۹۶۷
[۳] جامع الترمذي، كتاب الاستيذان، باب ما جاء في المصافحة ۷۵/٥، رقم الحديث ۲۷۲۸
[۴] سنن ابى داؤد، كتاب الادب، باب في المصافحة، ۳۵٤/٤، رقم الحديث ۵۲۱۲.
[۵] اعلم! انها سنة مجمعة عليها عند التلاقي، الفتوحات الربانية على الاذكار النووية ۳۹۲/٥
[۶] فتح الباري ۵۵/۱۱، الكوكب الدري، كتاب الاستيذان، باب في المصافحة، ۳۹۳/۳، والمدونة الكبرى
[۷] فيض الباري، كتاب الاستيذان، باب المصافحة ٤۱۱/٤
[۸] الكوكب الدري، كتاب الاستيذان، باب في المصافحة، ۳۹۲/۳، لامع الدراري، كتاب الاستيذان، باب المصافحة ۵۶/۱

يو غلط رواج نن صبا بعض غير مقلدين په يو لاس باندې مصافحه كولو ته سنت وائى او په باب كښې ذكر شوې د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د قول نه استدلال كوى ﴿ عَلَّمَنِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم التَّشَهُّدَ وَكَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ ﴾ يعنى رسول الله ﷺ ماته تشهد اوښودلو او زما لاس د هغوى د دواړو لاسونو ترمينځه وو.
مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله د يو غير مقلد سره په دواړو لاسونو باندې مصافحه اوكړه. او هغه په يو لاس او په استدلال كښې ئې ﴿ وكفى بين كفيه ﴾ پيش كړو چه سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه زما يو لاس د رسول الله ﷺ په دواړو لاسونو كښې وو.
مولانا اوفرمائيل چه بيا په سنت باندې چا عمل اوكړل؟ ما يا تاسو؟ ځكه چه رسول الله ﷺ دواړه لاسونه ملاؤ كړې وو نو د رسول الله ﷺ په فعل باندې عمل كولو ته سنت وائى. بيا هغه لاجواب كيدو سره خاموش شو. [1]
بيا د ﴿ وكفى بين كفيه ﴾ نه دا نه لازميږى چه سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې يو لاس ملاؤ كړې وى. ځكه چه په ظاهر كښې داسې نه شى كيدې چه رسول الله ﷺ خو دې دواړه لاسونه ملاؤ كړې وى او سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يو لاس
سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هم په ظاهر كښې دواړه لاسونه ملاؤ كړې وو خو يو لاس چونكه د رسول الله ﷺ د دواړو لاسونو ترمينځه وو، په دې وجه ئې د هغې ذكر اوكړو. بل لاس ئې په مينځ كښې نه وو. بلكه دپاسه وو.
بهر حال په يو لاس يا دواړو لاسونو سره مصافحه كول مستحب او مسنون دى. خو د پردئ زنانه او دداسې كم عمره هلكانو سره مصافحه كول صحيح نه دى چرته چه دفتنې ويره وى [2]
د باب سره د دويم حديث مناسبت بيانولو سره حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى
﴿ وجه ادخال هذا الحديث فى المصافحة: ان الاخذ باليد يستلزم التقاء صفحة اليد بصفحة اليد غالبا ﴾ [3]
يعنى دې حديث لره په مصافحه كښې د داخلولو وجه دا ده چه لاس نيول عموما د يو لاس د تلى د بل لاس د تلى يوځائې كولو لره مستلزم وى

٢٨: بَابُ الْأَخْذِ بِالْيَدَيْنِ

وَصَافَحَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ ابْنَ الْمُبَارَكِ بِيَدَيْهِ.

[٥٩١٠] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سَيْفٌ قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يَقُولُ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَخْبَرَةَ أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَكَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ التَّشَهُّدَ، كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ

---
[1] تذكرة الخليل: په دواړو لاسونو سره مصافحه كول ص ٢٩٨
[2] ويستثنى من عموم الامر بالمصافحة المراءة الاجنبية والامرد الاحسن. فتح البارى ٢٥/١١
[3] فتح البارى ٢٥/١١، ٢٦

عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ:
وَهُوَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْنَا، فَلَمَّا قُبِضَ قُلْنَا السَّلَامُ يَعْنِي عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-

د ترجمة الباب مقصد د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه په دواړو لاسونو سره مصافحه کيدلې شی. په باب کښې ئې دوه روايتونه ذکر فرمائيلې دی. په اول روايت کښې دی چه حماد بن زيد د امام عبدالله بن مبارک رحمه الله سره په دواړو لاسونو مصافحه اوکړه او دويم روايت هم هغه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه والا دې.

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائی چه په مخکښې ترجمة الباب او په دې ترجمة الباب کښې د تکرار وهم نه دی کيدل پکار. د دواړو ترجمو مقصد بيل بيل دې. د اول ترجمة الباب مقصد د مصافحه مشروعيت لره بيانول دی او په دې ترجمة الباب سره د مصافحې کيفيت لره بيانول مقصود دی.[1]

قوله: ﴿وَصَافَحَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ ابْنَ الْمُبَارَكِ بِيَدَيْهِ﴾: غنجار په تاريخ بخاری کښې دا د اسحاق بن احمد بن خلف په طريق سره موصولاً ذکر کړې دې.[2]

قوله: وهو بين ظهرانينا: علامه عينی رحمه الله فرمائی: واصله: ظهرينا: بالتثنية ای ظهری المتقدم والمتاخر، ای: بيننا فزيد الالف والنون للتاکيد.[3] يعنی ﴿ظهرانينا﴾ په اصل کښې ﴿ظهرينا﴾ وو. کوم چه د ﴿ظهر﴾ تثنيه ده. يعنی د وړاندې او شاته سړی د شا ترمينځه. يعنی زمونږ ترمينځه بيا د تاکيد په غرض سره (د راء نه پس) ئې د الف او نون اضافه اوکړه نو ﴿ظهرانينا﴾ شو

قوله: ﴿فَلَمَّا قُبِضَ قُلْنَا السَّلَامُ يَعْنِي عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم﴾: يعنی ترڅو پورې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوندې وو نو مونږ به ﴿السلام عليك ايها النبى﴾ لوستلو. خو چه کله هغوی وفات شو نو بيا مونږ ﴿السلام﴾ يعنی على النبى صلى الله عليه وسلم. د ﴿السلام عليك ايها النبى﴾ وئيلو. دا تشريح امام بخاری رحمه الله کړې ده. دا خبره صرف په دې روايت کښې ده په باقی رواياتو کښې نشته.[4]

---

[1]) الابواب والتراجم. کتاب الاستيذان. باب الاخذ باليدين وصافح حماد: ۱۲۴/۲
[2]) فتح البارى ۶۷/۱۱
[3]) عمدة القارى ۲۵۳/۲۲، ۲۵۴
[4]) عمدة القارى ۲۵۴/۲۲

۲۹: باب المعانقة وقول الرجل كيف أصبحت

۵۹۱۱ | حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا بِشْرُ بْنُ شُعَيْبٍ حَدَّثَنِي أَبِي عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيًّا - يَعْنِي ابْنَ أَبِي طَالِبٍ - خَرَجَ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ - رضى الله عنه - خَرَجَ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَقَالَ النَّاسُ يَا أَبَا حَسَنٍ كَيْفَ أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللَّهِ بَارِئًا فَأَخَذَ بِيَدِهِ الْعَبَّاسُ فَقَالَ أَلاَ تَرَاهُ أَنْتَ وَاللَّهِ بَعْدَ الثَّلاَثِ عَبْدُ الْعَصَا وَاللَّهِ إِنِّي لأُرَى رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سَيُتَوَفَّى فِي وَجَعِهِ، وَإِنِّي لأَعْرِفُ فِي وُجُوهِ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْمَوْتَ، فَاذْهَبْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَنَسْأَلَهُ فِيمَنْ يَكُونُ الأَمْرُ فَإِنْ كَانَ فِينَا عَلِمْنَا ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ فِي غَيْرِنَا أَمَرْنَاهُ فَأَوْصَى بِنَا. قَالَ عَلِيٌّ وَاللَّهِ لَئِنْ سَأَلْنَاهَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَيَمْنَعُنَا لاَ يُعْطِينَاهَا النَّاسُ أَبَدًا، وَإِنِّي لاَ أَسْأَلُهَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَبَدًا. [ر: ۴۱۸۲]

سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوی چه سیدنا علی رضی الله عنه یعنی د ابوطالب خوئي رسول الله ﷺ ته راغلو.

او د احمد بن صالح په روایت کښې دی چه سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه چه د رسول الله ﷺ د خوا نه د هغوی د مرض الوفات کښې واپس شو نو خلقو ترې تپوس اوکړو اې ابو الحسن: د رسول الله ﷺ طبیعت سحر څنګه وو؟ هغوی اووې الحمد لله ښه دې. سیدنا عباس رضی الله عنهما د هغوی لاس اونیولو او وې وئیل قسم په الله پاک! آیا ته نه ګورې درې ورځې پس به ته د ډنډې غلام شې. زما خیال دې چه رسول الله ﷺ به په دې بیمارئ کښې وفات شی. زه د بنو عبدالمطلب د مخونو نه د هغوی د مرګ آثار پیژنم. په دې وجه ما سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شه چه مونږ د هغوی نه تپوس اوکړو چه خلافت به په کوم خاندان کښې وی. که زمونږ په خاندان کښې وی نو مونږ ته به دا معلومه شی او که زمونږ نه علاوه د بل چا په لاس کښې وی نو مونږ به ورته اووایو چه زمونږ دپاره وصیت اوکړئ. سیدنا علی رضی الله عنه اوفرمائیل: قسم په الله پاک! که مونږ د هغوی نه تپوس اوکړو او هغوی منع کړو نو بیا به ئې خلق مونږ ته کله هم رانکړی. زه به د دې متعلق د رسول الله ﷺ نه کله هم سوال اونکړم.

د ترجمة الباب دوه اجزاء دی، اول جزء **المعانقة** ده. او دویم جزء **کیف اصبحت** دې.

① امام بخاری رحمه الله چه په باب کښې کوم حدیث ذکر فرمائیلې دې د هغې په ظاهر کښې د معانقې سره هیڅ تعلق نشته او نه پکښې د معانقې څه ذکر شته.

بعض حضرات وائي چه په اصل كښې دا مستقل ترجمة الباب وو. امام بخارى رحمه الله د دې نه لاندې هغه حديث ذكر كول غوارى چه په هغې كښې د سيدنا حسن رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ د معانقې ذكر دې. دا حديث امام بخارى رحمه الله په كتاب البيوع كښې باب ما ذكر في الاسواق د لاندې او په كتاب اللباس كښې د باب السخاب للصبيان د لاندې تير شوې دې [١]، امام بخارى رحمه الله د دې حديث دپاره بياض پريخودلې وو. كاتب بياض ختمولو سره دواړه ترجمې (المعانقة) او (كيف اصبحت) رايو ځائې كړې [٢].

بعض شارحينو دا هم ليكلي دى چه امام بخارى رحمه الله په يو نوى سند سره د سيدنا حسن رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره د معانقې ذكر كول غوښتل. ځكه چه امام عموما د يو سند اعادة نه كوى خو هغوى ته بل سند ملاؤ نه شو. په دې وجه ئې بياض پريخودلې وو [٣].

مولانا رشيد احمد ګنګوهى رحمه الله معانقة د حديث الباب نه په طريقه د مقايسه ثابت كړې ده. پس هغوى ليكى.

(الجزءان من الترجمة يتوقف اثباتهما على نوع مقايسة، فان المعانقة غاية فى المواجهة، واثر يترتب على المخالة، فاذا جازت المواجهة وكان الخلة باعثة عليها، لربما ادت الى المعانقة) [٤].

يعنى د ترجمې د دواړو اجزاء اثبات په يو قسم قياس باندې موقوف دې. په داسې طريقه چه معانقة د انتهائى درجې په مخ سره استقبال كول دى او مواجهه يو اثر دې كوم چه خپل مينځ كښې په دوستانه باندې مرتب وى. پس هر كله چه مواجهه جائز ده او دوستانه په هغې باندې باعث ده نو دا ډير كرته د معانقې طرف ته بوتلونكې وى

بهر حال د امام بخارى رحمه الله مقصود د معانقې حكم بيانول دى

د معانقة حكم: د جمهور علماء كرامو په نزد معانقة جائز ده. د امام مالک رحمه الله نه كراهت منقول دې.

ابن عساكر رحمه الله په تاريخ دمشق كښې يو قصه نقل كړې ده چه سفيان بن عيينة رحمه الله امام مالک رحمه الله ته راغلو. چه سلام ئې اوكړو نو امام مالک رحمه الله اوفرمائيل: لولا انها بدعة لعانقتك، نو سفيان رحمه الله اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ د سيدنا جعفر طيار رضي الله عنه سره معانقه كړې وه. امام مالک رحمه الله اوفرمائيل: دا د هغوى خصوصيت وو. سفيان ثورى رحمه الله اوفرمائيل: د خصوصيت دپاره د دليل ضرورت دې نو امام مالک رحمه الله خاموش شو [٥].

---

[١] (رقم الحديث ٢١٢٢)، (رقم الحديث ٥٨٨٤)

[٢] الابواب والتراجم، كتاب الاستئذان، باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ : ١٢٤/٢

[٣] الابواب والتراجم، كتاب الاستئذان، باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ : ١٢٤/٢

[٤] لامع الدرارى، كتاب الاستئذان، باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ ٥٨/١٠

[٥] شرح صحيح البخارى لابن بطال، كتاب الاستئذان، باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ ٤٩/٩، فتح البارى ٧٠/١١

قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه د امام مالک رحمه الله خاموشي د تسليم كيدو دليل دې.[1]
په هدايه كښې معانقة ته مكروه وئيلې شوې ده خو دا په هغه صورت باندې محمول ده چه كله په يوه كپړه كښې دوه كسان معانقة اوكړي.[2] په يو روايت كښې دى ﴿ نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن المكامعة وهى المعانقة ﴾[3] يعنى رسول الله ﷺ د مكامعة يعنى معانقة نه منع فرمائيلې ده. دا حديث هم په دې صورت باندې محمول دې.
علامه ابن عابدين رحمه الله د معانقې په جواز باندې اجماع نقل كړې ده.[4]
د ترجمة الباب دويم جزء دې ﴿ كيف اصبحت ﴾ په روايةِ الباب كښې ﴿ كيف اصبح ﴾ په صيغه د غائب سره دې. مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله په لامع الدرارى كښې فرمائى :
﴿ واما قولهم : اصبحت، فان السؤال لما ثبت عن حال الغائب، كان سؤاله عن حال الحاضر المخاطب اظهر فى الجواز، وايضا، فان السوال عن حاله صلى الله عليه وسلم كان يتضمن المسالة عن حال اهل البيت باسرهم، ومنهم : على رضى الله تعالى عنه، وهو المخاطب فى هذا الكلام فثبت بالسؤال عن حاله عليه الصلاة والسلام جواز المسالة عن حال المخاطب، وان كانت دلالته عليه تضمينه ﴾[5]
يعنى : پاتې شو د عربو دا قول ﴿ اصبحت ﴾ نو هر كله چه د غائب د حال متعلق سوال ثابت شو نو حاضر به د مخاطب متعلق د دې سوال د جواز په باره كښې ظاهر تر وى. بلكه دا چه د رسول الله ﷺ د دې سوال په باره كښې سوال د ټولو اهل بيت د حال په باره كښې سوال لره متضمن دې. چه په هغوى كښې سيدنا على رضى الله عنه هم دې. كوم چه په دې كلام كښې د قائل مخاطب دې. پس د رسول الله ﷺ د حال په باره كښې د سوال نه دا ثابتيږى چه د مخاطب د حال په باره كښې سوال كول جائز دى. اگر چه دلالت تضمنى دې.
د معانقة په باره كښې د سيدنا انس رضى الله عنه يو حديث هم په طبرانى كښې دې. په هغې كښې دى ﴿ كانوا اذا تلاقوا تصافحوا، واذا قدموا من سفر تعانقوا ﴾[6] يعنى حضرات صحابه كرام رضى الله عنهم چه به كله د يو بل سره ملاويدل نو مصافحه به ئې كوله او كله چه به د سفر نه راتلل نو معانقة به ئې كوله.
هم دغه شان د سيدنا زيد بن حارثه رضى الله عنه په باره كښې د سيده عائشه رضى الله عنها په باره كښې راځى

[1]) الابواب والتراجم : كتاب الاستئذان. باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ ١٢٤/٢
[2]) الهداية : كتاب الكراهية ٤٦٥/٤، الابواب والتراجم. كتاب الاستئذان. باب المعانقة وقول الرجل. كيف اصبحت؟ ١٢٤/٢
[3]) الدراية فى تخريج احاديث الهداية ص ٢٣٢
[4]) رد المختار. كتاب الحظر والاباحة. باب الاستبراء وغيره : ٢٦٩/٥
[5]) لامع الدرارى. كتاب الاستيذان. باب المعانقة وقول الرجل. كيف اصبحت؟ ٥٩/١٠
[6]) مجمع الزوائد ومنبع الفرائد. كتاب الادب. باب المصافحة والسلام ونحو ذلك : ٣٦/٨

چه کله هغه مديني طيبې ته راغلو نو د رسول الله ﷺ په در باندې حاضر شو. نو رسول الله ﷺ اودريدلو او هغه ته ئې غاړه ورکړه.[1]
ابو الهيثم بن التيهان نه هم معانقة ثابت ده چه رسول الله ﷺ سره چه کله هغوى ملاؤ شو نو رسول الله ﷺ هغوى ځان ته رانزدې کړو.[2]
حديث الباب. كتاب المغازى كښې په باب مرض النبى صلى الله عليه وسلم دلاندې تيرشوې دې.[3]

٣٠: باب مَنْ أَجَابَ بِلَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ

حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنْ مُعَاذٍ قَالَ أَنَا رَدِيفُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «يَا مُعَاذُ». قُلْتُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ. ثُمَّ قَالَ مِثْلَهُ ثَلاَثًا «هَلْ تَدْرِى مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا». ثُمَّ سَارَ سَاعَةً فَقَالَ «يَا مُعَاذُ». قُلْتُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ. قَالَ «هَلْ تَدْرِى مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ إِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ أَنْ لاَ يُعَذِّبَهُمْ».
حَدَّثَنَا هُدْبَةُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ عَنْ مُعَاذٍ بِهَذَا. [ر: ٢٧٠١]

سيدنا انس ﷺ د سيدنا معاذ بن جبل ﷺ نه روايت کوى چه زه په رسول الله ﷺ پسې شاته سور اوم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې معاذ: ما اووې ﴿ لبيك وسعديك ﴾، بيا ئې هم دغه شان درې کرته اوفرمائيل: (بيا ئې اوفرمائيل) آيا تا ته معلومه ده چه د الله پاک په بندګانو باندې څه حق دې؟ (د هغه حق دا دې چه) د هغه بندګى اوکړى او څوک هم دهغه شريک نه کړې شى. بيا لږ ساعت روان وو او وې فرمائيل: اې معاذ: ما عرض اوکړو ﴿ لبيك وسعديك ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا تاته معلومه ده چه د بندګانو په الله پاک باندې څه حق دې چه کله بندګان دا کار اوکړو؟ هغه دا دې چه الله پاک به هغوى ته عذاب نه ورکوى.

[٥٩١٣] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِى حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ حَدَّثَنَا وَاللَّهِ أَبُو ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ كُنْتُ أَمْشِى مَعَ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - فِى حَرَّةِ الْمَدِينَةِ عِشَاءً اسْتَقْبَلَنَا أُحُدٌ فَقَالَ «يَا أَبَا ذَرٍّ مَا أُحِبُّ أَنَّ أُحُدًا لِى ذَهَبًا يَأْتِى عَلَىَّ لَيْلَةٌ أَوْ ثَلاَثٌ عِنْدِى مِنْهُ دِينَارٌ، إِلاَّ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ، إِلاَّ أَنْ أَقُولَ بِهِ فِى عِبَادِ اللَّهِ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا». وَأَرَانَا بِيَدِهِ. ثُمَّ قَالَ «يَا أَبَا ذَرٍّ». قُلْتُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «الأَكْثَرُونَ هُمُ الأَقَلُّونَ إِلاَّ مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا». ثُمَّ قَالَ لِى «مَكَانَكَ لاَ تَبْرَحْ يَا أَبَا ذَرٍّ حَتَّى أَرْجِعَ». فَانْطَلَقَ حَتَّى

[1] ارشاد السارى ٢٧٣/١٣، وفتح البارى ٦٢/١١
[2] فتح البارى ٧٢/١١، شرح صحيح البخارى لابن بطال، كتاب الاستئذان، باب المعانقة وقول الرجل : كيف اصبحت؟ ٤٩/٩
[3] كشف البارى، كتاب المغازى، باب مرض النبى صلى الله عليه وسلم، ص ٦٨، رقم الحديث : ٤١٨٢

غَابَ عَنِّی، فَسَمِعْتُ صَوْتًا فَخَشِیتُ أَنْ يَكُونَ عُرِضَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَرَدْتُ أَنْ أَذْهَبَ، ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ تَبْرَحْ». فَمَكُثْتُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ سَمِعْتُ صَوْتًا خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ عُرِضَ لَكَ، ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَكَ فَقُمْتُ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَانِی، فَأَخْبَرَنِی أَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِی لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ. قَالَ «وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ». قُلْتُ لِزَيْدٍ إِنَّهُ بَلَغَنِی أَنَّهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ. فَقَالَ أَشْهَدُ لَحَدَّثَنِيهِ أَبُو ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ. قَالَ الأَعْمَشُ وَحَدَّثَنِی أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِی الدَّرْدَاءِ نَحْوَهُ. وَقَالَ أَبُو شِهَابٍ عَنِ الأَعْمَشِ «يَمْكُثُ عِنْدِی فَوْقَ ثَلاَثٍ». [ر: ۲۲۵۸]

زید بن وهب فرمائی: قسم په الله پاک: چه ابوذر رضی الله عنه په ربذه کښې مونږ ته بیان اوکړو چه چه زه د رسول الله ﷺ سره د ماسخوتن په وخت کښې په حره باندې تیریدم. زمونږ مخې ته د احد غر راغلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې ابوذر! زما دا خوښه نه ده چه ما سره دې د احد د غر برابر سرۀ زر وی او په ما باندې یو ورځ یا یو شپه تیره شی په داسې حال کښې چه ما سره د هغې نه د قرض نه علاوه یو دینار هم وی مګر دا چه هغه د الله پاک په بندګانو باندې داسې او داسې خرچ کړم اوپه خپل لاسونو مبارکو سره ئې اشاره اوفرمائیله. او وې فرمائیل اې ابوذر: ما اووې ﴿لبیك وسعدیك یا رسول الله﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په دنیا کښې) زیاتو مالونو والا به (په آخرت کښې) غریبانان وی خو هغه خلق چه داسې او داسې خرچه کوی. بیا ئې ماته اوفرمائیل چه اې ابوذر رضی الله عنه ته په دې ځائې اودریږه ترڅو پورې چه زه نه یم راغلې. ته هم په دې ځائې کښې اوسیږه. پس هغوی روان شو. تردې چه زما د نظر نه غائب شو. ما یو آواز واوریدلو زما ویره پیدا شوه چه رسول الله ﷺ ته چرته څه حادثه نه وی پیښه شوې. په دې وجه ما تلل اوغوښتل بیا ماته د رسول الله ﷺ قول رایاد شو چه هم دلته اودریږه پس زه اودریدم (چه کله هغوی تشریف راوړلو) نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ما یو آواز واوریدلو. په دې وجه زما ویره پیدا شوه چه چرته تاسو ته څه حادثه نه وی پیښه شوې (ما راتلل اوغوښتل) بیا ماته ستاسو حکم رایاد شو چه هم دلته اودریږه پس زه ولاړ اوم.

رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه جبرائیل وو. هغوی ماته خبر راکړو چه زما په امت کښې چه څوک د الله پاک سره څوک شریک نه کړی او هغه مړ شی نو جنت ته به داخلیږی ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! اګر چه هغه زنا او غلا کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اګر چه هغه زنا او غلا کوی. د راوی بیان دې چه ما د زید نه تپوس اوکړو چه ماته معلومه شوې ده چه هغه ابوالدرداء رضی الله عنه وو هغوی اووې چه زه ګواهی ورکوم چه ماته ابوذر رضی الله عنه په ربذه کښې بیان کړې دې. ماته اعمش وئیلې دی چه ماته ابو صالح او هغوی د ابوالدرداء رضی الله عنه نه هم دغه شان حدیث نقل کړو او ابو شهاب د اعمش نه ﴿یمکث عندی فوق ثلاث﴾ الفاظ نقل کړې دی.

د لبیک وسعدیک لغوی تحقیق: علامه عینی رحمه الله لیکی!

﴿ أى هذا باب فى بيان من أجاب لمن يسأله بقوله لبيك ومعناه أنا مقيم على طاعتك من قولهم لب فلان بالمكان إذا أقام به وقيل معناه إجابة بعد إجابة وهذا من المصادر التى حذف فعلها لكونه وقع مثنى وذلك يوجب حذف فعله قياسا لأنهم لما ثنوه صار كأنهم ذكروه مرتين فكأنه قال لبالبا ولا يستعمل إلا مضافا ومعنى لبيك الدوام والملازمة فكأنه إذا قال لبيك قال أدوم على طاعتك وأقيمها مرة بعد أخرى أى شأنى الإقامة والملازمة وأما سعديك فمعناه فى العبادة أنا متبع أمرك غير مخالف لك فأسعدنى على متابعتك إسعادا وأما فى إجابة المخلوق فمعناه أسعدك إسعادا بعد إسعاد أى مرة بعد أخرى ﴾ [1]

يعنى : دا باب د هغه سړی په بيان کښې دې کوم چه د چا په طلب کولو باندې په جواب کښې ﴿ لبيك ﴾ اوائی. د دې معنی ده : زه ستا په طاعت باندې قائم او برقرار يم. دا د ﴿ لب فلان بالمكان ﴾ نه اخستلې شوې دې، چه د هغې معنی ده په يو ځائې کښې مقيم کيدل. بعض د دې معنی په ﴿ اجابة بعد اجابة ﴾ سره کړې ده. يعنی زه مسلسل ستاسو آواز اورم. دا د هغه مصادر نه دې چه د هغې فعل په دې وجه حذف کړې شوې دې چه هغه تثنيه واقع شوې دی. او د مصدر تثنيه واقع کيدل قياس حذف فعل لره واجب کوی. ځکه چه عربو کله دا تثنيه جوړه کړه نو ګويا هغوی دا دوباره ذکر کړه نو ګويا هغوی داسې اووې : لبالبا. او دا لفظ صرف مضاف استعماليږی. او د ﴿ لبيك ﴾ په معنی کښې دوام او ملازمت دې. ګويا ﴿لبيك﴾ وئيلو سره قائل داسې اووې چه زه به ستا په اطاعت کښې مسلسل يم او هغه به بار بار قائموم يعنی زما حالت اقامت او ملازمت دې. پاتې شو ﴿ سعديك ﴾ نو د عبادت په باب کښې د دې معنی ده اې الله ! زه به ستا حکم منم او ستا مخالفت به نه کوم. پس ته ما په خپله اتباع باندې بار بار سعادتمند کړه. او د مخلوق په اجابت کښې د دې معنی دا ده چه زه به تا بار بار خوشحالوم

د ترجمة الباب مقصد : د ترجمة الباب مقصد بيانولو سره شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله ليکی :

﴿ ولعل الغرض منه الرد لما حكى عن مالك من كراهة ذلك، كما فى .. الشرح الكبير، ، واوله بان مراده استعمال تلبية الحج، لا مطلق لبيك، وترجم الامام ابوداؤد فى سننه على هذا المعنى بقوله : باب الرجل ينادى الرجل : فيقول لبيك ﴾ [2]

يعنى : د ترجمة الباب مقصد په امام مالک رحمه الله باندې رد کيدې شی، د چانه چه د دې

---

[1]) عمدة القارى ۲۵۵/۲۲

[2]) الابواب والتراجم، كتاب الاستئذان، باب من اجاب لبيک وسعديک : ۱۲۳/۲، وسنن ابى داؤد كتاب الادب، باب فى الرجل ينادى الرجل فيقول : لبيک : ۳۵۹/٤

الفاظو وئيلو كراهت منقول دي لكه چه په الشرح الكبير كښې دي. صاحب د شرح كبير د امام مالك رحمه الله د دې قول دا تاويل كړې دې چه د هغوى مراد مطلقا لبيک نه دې. بلكه د حج د تلبية استعمال دې. امام ابوداؤد رحمه الله په سنن كښې په دې معنى باندې د دې الفاظو د ترجمې سره ترجمة الباب قائم كړې دې: ﴿ باب الرجل ينادى الرجل، فيقول: لبيك ﴾ يعنى دا باب د دې په بيان كښې دې چه يو سړې بل ته آواز او كړى نو بل په جواب كښې ﴿لبيك﴾ اوائى.

د باب د لاندې چه امام بخارى رحمه الله كوم احاديث ذكر كړې دى. په هغې كښې د ﴿ لبيك وسعديك ﴾ الفاظ دى. په اول روايت كښې د رسول الله ﷺ په رابللو باندې سيدنا معاذ بن جبل رضي الله عنه او په دويم روايت كښې سيدنا ابوذر رضي الله عنه دا الفاظ وئيلې دى.

د باب دويم روايت په كتاب الجنائز او كتاب اللباس وغيره كښې تير شوې دې.(١)

قوله: ﴿ قال الاعمش : وحدثنى ابو صالح عن ابى الدرداء نحوه وقال ابو شهاب عن الاعمش : يمكث عندى فوق ثلاث ﴾: امام بخارى رحمه الله دا فرمائيل غواړى چه اعمش دا حديث د ابو صالح عن ابى الدرداء په طريق هم په دې الفاظو سره روايت كړې دې. او حال دا چه ابو شهاب د ﴿ اعمش عن زيد بن وهب عن ابى ذر ﴾ په طريق سره نقل كړې دې. خو د دې حديث الباب الفاظ ﴿ ياتى على ليلة او ثلاث عندى منه دينار ﴾ په ځائې دا الفاظ دى ﴿ يمكث عندى فوق ثلاث ﴾ او حال دا چه باقى حديث يو شان دې. خو د حديث الباب په آخر كښې د اعمش او ابوذر ترمينځه د سوال او جواب چه كومه تبادله شوې ده. هغه په دې كښې نشته.(٢)

٣١: بابُ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ

[٥٩١٤](٣) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ، ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ». [ر: ٨٢٩]

چا لره د خپل ځائې نه د پاسولو حكم: يو سړې كه د مخكښې نه په يو ځائې كښې ناست دې

(١) كتاب فى الاستقراض واداء الديون والحجر والتفليس، باب اداء الديون، رقم الحديث : ٢٣٨٨

(٢) فتح البارى ١١/٧٤

(٣) (٥٩١٤) الحديث اخرجه مسلم فى كتاب السلام، باب تحريم اقامة الانسان من موضعه المباح (رقم الحديث ٢١٧٧) واخرجه الترمذى فى كتاب الادب، باب ما جاء فى كراهية ان يقام الرجل من مجلسه ثم يجلس فيه (رقم الحديث ٢٧٤٩، ٢٧٥٠) واخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب، باب فى الرجل يقوم للرجل من مجلسه (رقم الحديث : ٤٨٢٨)

نو هغه لره د خپل ځائې نه پاسول صحيح نه دی. ﴿لايقيم﴾ اګر چه مضارع په صيغه د خبر دې خو معنی اعتبارسره دا نهی ده.[1] په بعض روايتونو کښې ﴿لايقم﴾ په صيغه د نهی سره هم راغلې دې او د صحيح مسلم په روايت کښې ﴿لايقيمن﴾ نهی په نون د تاکيد سره ده.[2] دا نهی د بعض علماء کرامو په نزد د تحريم دپاره ده او د بعض په نزد د تنزيه دپاره ده. علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه نهی په ظاهر کښې د تحريم دپاره راځی او د دليل نه بغير دا د بل څه معنی دپاره نه شی اخستلې کيدې.[3]

د حديث الفاظ اګر چه عام دی خو عموم مراد نه دې بلکه په حديث کښې بيان کړې شوې حکم د هغه مجالسو متعلق دې کوم چه د هر يو دپاره عام او مباح وی لکه مسجد، پارک وغيره. او که يو ځائې د چا ملکيت دې نو ظاهره ده چه هلته د هغه د اجازت نه بغير کيناستل جائز نه دی.[4]

۳۲: باب (إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا) الآيَة| المجادلة: ۱۱ _

[۵۹۱۵] حَدَّثَنَا خَلاَّدُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا. وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَكْرَهُ أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ، ثُمَّ يَجْلِسَ مَكَانَهُ [ر: ۸۶۹]

سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت نقل کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې خبرې نه منع فرمائيلې ده چه يو سړې د هغه د ځائې نه پاسولې شی او د هغه په ځائې دويم سړې کينی پس ګنجائش راوباسئ او فراخی پيدا کړئ. سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما به دا خبره مکروه ګڼړله چه يو سړې د هغه د ځائې نه پاسولې شی بيا د هغه په ځائې خپله کينی

د ترجمة الباب مقصد: د کرمانی رحمه الله د نسخې نه علاوه په باقی نسخو کښې ﴿المجلس﴾ مفرد دې، د کرمانی په نسخه کښې ﴿المجالس﴾ په صيغه د جمع سره دې. په آيت کريمه کښې دواړه قراءتونه دی. د عاصم قراءت د جمع دې.[5]

---

[1] وهو خبر معناه النهي. عمدة القاری ۲۵۶/۲۲، فتح الباری ۷۳/۱۱۱

[2] صحيح مسلم، کتاب السلام، باب تحريم اقامة الانسان من موضعه المباح الذی سبق اليه : ۱۷۱۴/٤، رقم الحديث (۲۱۷۷)

[3] ارشاد الساری ۲۸۶/۱۳

[4] ارشاد الساری ۲۸۶/۱۳

[5] صحيح البخاری بشرح الکرمانی، کتاب الاستيذان، باب اذا قيل لکم تفسحوا فی المجلس : ۱۰٤/۲۲، ارشاد الساری ۲۸۶/۱۳

د مجلس نه د رسول الله ﷺ مجلس هم مراد کړې شوې دې خو د هغوی د مجلس سره خاص نه دې بلکه د طاعت هر مجلس د دې نه مراد کيدلې شي او په دې کښې دا ادب بيان کړې شوې دې چه د مجلس نه د چا د اوچتولو په ځائې. په دې کښې راټوليدو سره فراخي پيدا کړې شي. [1]

د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما نه يو روايت هم منقول دې چه د دې نه د قتال مجالس مراد دی. د شهادت په شوق کښې د حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم د قتال په صف اول کښې د ځائې موندلو دپاره په خپل مينځ د يو بل نه مخکښې کيدل. د دې په باره کښې په آيت کريمه کښې حکم بيان کړې شو. [2]

قوله: ﴿يفسح الله لكم اى: توسعوا يوسع الله عليكم منازلكم في الجنة﴾: [3] الله پاک به ستاسو دپاره فراخي پيدا کړی يعنی فراخی پيدا کړئ. الله پاک به ستاسو د جنت په کورونو کښې فراخي پيدا کړی.

د روايت الباب په آخر کښې د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما په باره کښې دی چه هغوی به دا خبره ناخوښه ګڼړله چه يو سړې د خپل مجلس نه پاسی او بل سړې راشی او د هغه په ځائې باندې قبضه اوکړی.

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ فرمائی: ﴿إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ﴾ [4] يعنی که په تاسو کښې يو سړې د خپل ځائې نه پاسی بيا هغه خپل ځائې ته راواپس شی نو هغه د دې ځائې زيات حقدار دې.

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه يو روايت دې، په دې کښې دی ﴿جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَامَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ فَذَهَبَ لِيَجْلِسَ فِيهِ فَنَهَاهُ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم﴾ [5] يعنی يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. يو سړې د هغه دپاره د خپل ځائې نه پاسيدو. چه په هغې باندې هغه د هغه په ځائې کيناستل اوغوښتل نو رسول الله ﷺ هغه منع کړو.

حاصل دا چه يو سړې چه کله مخکښې په يو ځائې کښې کيناستلو او د څه عارض د وجې نه هغه پاسيدو نو د هغه د حق جلوس به نه زائل کيږی، بل سړی لره دهغه په ځائې نه دې کيناستل پکار. [6]

---

[1] وذهب الجمهور الى انها عامة فى كل مجلس من مجالس الخير. فتح البارى ۷٤/۱۱

[2] ارشاد السارى ۲۷۷/۱۳

[3] عمدة القارى ۲۵۷/۲۲

[4] اخرجه مسلم فى كتاب السلام. باب اذا قام من مجلسه ثم عاد فهو احق به : ۱۷۱۵/٤۰، رقم الحديث ۲۱۷۹. واخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب. باب اذا قام من مجلسه ثم رجع : ۲٦٤/٤، رقم الحديث : ٤۸۵۳

[5] اخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب. باب فى الرجل يقوم للرجل من مجلسه ۲۵۸/٤، رقم الحديث : ٤۸۲۸

[6] فصار كانه ملك منفعة فلا يزاحمه غيره عليه. فتح البارى ۷۵/۱۱

هم دا حکم په هغه صورت کښې هم دې چه کله يو عالم يا مفتى په مسجد وغيره کښې درس ورکوى او د هغه ځائې متعين وى نو په هغه متعين ځائې باندې د درس په وخت کښې بل چا لره کيناستل نه دى پکار. بعض د عدم جلوس دې حکم ته واجب وئيلې دې خو د جمهورو په نزد مستحب دې (۱)

۳۳: باب مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ أَوْ بَيْتِهِ، وَلَمْ يَسْتَأْذِنْ أَصْحَابَهُ، أَوْ تَهَيَّأَ لِلْقِيَامِ لِيَقُومَ النَّاسُ

[۵۹۱۶] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ سَمِعْتُ أَبِي يَذْكُرُ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - زَيْنَبَ ابْنَةَ جَحْشٍ دَعَا النَّاسَ طَعِمُوا ثُمَّ جَلَسُوا يَتَحَدَّثُونَ - قَالَ - فَأَخَذَ كَأَنَّهُ يَتَهَيَّأُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُومُوا، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ قَامَ، فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ مَعَهُ مِنَ النَّاسِ، وَبَقِىَ ثَلاَثَةٌ، وَإِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - جَاءَ لِيَدْخُلَ فَإِذَا الْقَوْمُ جُلُوسٌ، ثُمَّ إِنَّهُمْ قَامُوا فَانْطَلَقُوا - قَالَ - فَجِئْتُ فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُمْ قَدِ انْطَلَقُوا، فَجَاءَ حَتَّى دَخَلَ فَذَهَبْتُ أَدْخُلُ، فَأَرْخَى الْحِجَابَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، وَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلاَّ أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ﴾ إِلَى قَوْلِهِ ﴿إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا﴾. [ر: ۴۵۱۳]

د سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چه کله رسول الله ﷺ د زينب بنت جحش رضی الله عنها سره نکاح اوکړه نو خلقو ته ئې دعوت اوکړو. د خوراک کولو نه پس هغوى ناست وو خبرې ئې کولې. د راوى بيان دې چه رسول الله ﷺ دا ظاهر کړه چه ګويا اودريدل پکار دى، خو خلق اونه دريدل چه کله رسول الله ﷺ دا اوليدل نو اودريدل چه کله هغوى اودريدل نو هغوى سره چه کوم خلق وو هغوى هم اودريدل او درې سړى پاتې شو. رسول الله ﷺ چه راغلو نو وې کتل چه خلق ناست دى. بيا هغه خلق هم پاسيدل او لاړل. سيدنا انس رضی الله عنه فرمائى چه زه راغلم او رسول الله ﷺ ته مې خبر ورکړو چه هغوى تلى دى په دې اوريدلو باندې رسول الله ﷺ راغلو. تردې چه کور ته داخل شو. ما هم داخليدل اوغوښتل نو رسول الله ﷺ زما او خپل مينځ کښې پرده واچوله او الله پاک دا آيت کريمه نازل اوفرمائيلو: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ...﴾ اې ايمان والو! د رسول الله ﷺ کورونو ته مه داخليږئ مګر دا چه تاسو ته اجازت اوکړې شى. د ﴿إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا﴾ پورې.

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخارى رحمه الله مقصد د دې ترجمة الباب نه دا دې چه که يو ميلمه د زيات وخته پورې ايسارېږى کوم چه د کوربه دپاره د تکليف باعث وى نو کوربه د خپل عمل د هرې اندازې نه هغه ته د تلو پيغام ورکولې شى او دا تنبيه کول د د ميلمه د اکرام

(۱) فتح البارى ۱۱/۷۵

خلاف نه دد [1]

وجه دا دد چه ميلمه لره د كوربه رعايت كولو سره دومره ايساريدل پكار دى چه په هغې سره هغه ته تكليف نه رسيږى. او كه د ميلمه رعايت نه كوى نو كوربه دې هم د هغه د اجازت نه بغير د مجلس نه د پاسيدو خبرداري كولې شى [2].

۳۴. بَابُ الِاحْتِبَاءِ بِالْيَدِ وَهُوَ الْقُرْفُصَاءُ

[۵۹۱۷] [3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي غَالِبٍ أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْحِزَامِيُّ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضى الله عنهما- قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ مُحْتَبِيًا بِيَدِهِ هَكَذَا.

احتباء خپې د سينې طرف ته راټولو سره كيناستلو ته وائى. چه د هغې تفصيل په كشف البارى، كتاب اللباس كښې باب اشتمال الصماء د لاندې تير شوې دې [4].

﴿قرفصاء﴾ په لاسونو باندې تكيه لګولو سره كيناستلو ته وائى. او احتباء عام دہ. كه په لاسو سره وى او كه په څادر وغيره سره وى [5].

۳۵: بَابُ مَنِ اتَّكَأَ بَيْنَ يَدَيْ أَصْحَابِهِ

قَالَ خَبَّابٌ أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَهْوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً قُلْتُ أَلاَ تَدْعُو اللَّهَ فَقَعَدَ. [ر: ۳۴۱۶]

سيدنا خباب ﷛ فرمائى چه زه رسول الله ﷺ ته راغلم او هغوى په څادر باندې تكيه لګونكې ناست وو. ما عرض اوكړو: آيا تاسو به د الله پاک نه دعا نه غواړئ؟ په دې اوريدلو باندې، رسول الله ﷺ كيناستلو.

[۵۹۱۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ». قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ».

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرٌ مِثْلَهُ، وَكَانَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ فَقَالَ «أَلاَ وَقَوْلُ الزُّورِ». فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ. [ر: ۲۵۱۱]

---

[1] الابواب والتراجم، كتاب الاستيذان، باب من قام من مجلسه او بيته : ۱۲٤/۲

[2] فتح البارى : ۷۶/۱۱

[3] (۵۹۱۷) الحديث اخرجه البخارى فى كتاب التوحيد، والحديث من افراده، عمدة القارى ۲۵۹/۲۲

[4] كشف البارى، كتاب اللباس، باب اشتمال الصماء ص ۱۸۲

[5] الابواب والتراجم، كتاب الاستيذان، باب الاحتباء باليد وهو القرفصاء : ۱۲٤/۲

عبدالرحمن بن ابی بکره د خپل والد ﷺ نه روایت کوی چه هغوی بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : آیا زه تاسو ته د ټولو نه لوئې ګناه بیان نه کړم؟ خلقو عرض اوکړو : ولې نه یارسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دالله پاک سره شرک اودوالدینونافرمانی کول. مسدد په واسطه د بشر هم دا حدیث داسې بیان کړو چه رسول الله ﷺ تکیه لګولې وه بیا کیناستلو او وې فرمائیل : واورئ د دروغو نه بچ شئ. او دا ئې بار بار فرمائیل تردې چه مونږ په زړه کښې اووې چه کاش ! رسول الله ﷺ خاموش شی.

د ترجمة الباب مقصد : ﴿ اتکا ﴾ معنی اضطجاع یعنی د سملاستو هم راځی او مشهوره معنی ئې د تکیه لګولو ده. (١) مطلب دا دې چه که یو سړې د خپلو ملګرو په محفل کښې ډډه وهی. یا په اړخ باندې سملی نو په سنت کښې د دې اصل موجود دې. (٢)

حدیث الباب امام بخاری ﷺ په دوه طریقو سره ذکر کړې دې، په دویم طریق کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ تکیه لګونکې ارشاد فرمائیلو او د لویو ګناهونو ذکر ئې کولو. خو د ﴿قول الزور﴾ ذکر کولو سره کیناستلو.

۳٦: بَاب مَنْ أَسْرَعَ فِي مَشْيِهِ لِحَاجَةٍ أَوْقَصْدٍ

[٥٩١٩] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهُ قَالَ صَلَّى النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- الْعَصْرَ، فَأَسْرَعَ، ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ. [ر: ٨١٣]

د ترجمة الباب مقصد : د څه ضرورت د وجې نه که یو سړې خپل عام چال پریخودلو سره په تیز رفتار سره ځی نو دا د وقار خلاف نه ده، لکه چه په حدیث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ ورکړو او په تیزئ سره کور ته لاړو، د کتاب الصلاة او کتاب الزکاة په روایت کښې تصریح ده چه د صدقې څه مال په کور کښې پاتې شوې وو، رسول الله ﷺ د هغې د تقسیمولو دپاره په تیزئ سره لاړو چه هغه چرته د شپې پورې پاتې نه شی. (٣)

دا د معمول د رفتار نه لرې کیدو سره په تیز رفتارئ سره د تلو خبره ده. باقی عام رفتار تیز کیدل پکار دی یا نه؟ سیدنا عبدالله بن عمر ﷺ به تیز تلو او فرمائیل به ئې : تیز تلل د تکبر نه د لرې والی او ضرورت لره د زر پوره کولو ذریعه ده. (٤)

(١) فتح الباری ٨٠/١١، عمدة القاری ٢٥٩/٢٢، تحفة الباری ١٥٧/٦، ارشاد الساری ٢٧٩/١٣
(٢) قال المهلب : انه یجوز للعالم والامام الاتکاء فی مجلسه بحضرة جلسانه لاستراحة اوالم فی بعض اعضائه، ارشاد الساری ٢٨٠/١٣
(٣) صحیح البخاری، کتاب الزکاة، باب من احب تعجیل الصدقة من یومها : ٣٠٢، رقم الحدیث : ١٤٣٠.
(٤) فتح الباری ٨١/١١، ارشاد الساری ٢٨١/١٣، عمدة القاری ٢٦٠/٢٢

۳۷: باب السَّرِيرِ

۵۹۲۰ | حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ -رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يُصَلِّي وَسْطَ السَّرِيرِ، وَأَنَا مُضْطَجِعَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ تَكُونُ لِي الْحَاجَةُ ، فَأَكْرَهُ أَنْ أَقُومَ فَأَسْتَقْبِلَهُ فَأَنْسَلُّ انْسِلاَلاً. [ر: ۴۸۶]

د ترجمة الباب غرض : ﴿ سرير ﴾ كټ ته وائي. د ترجمة الباب مقصد دا دې چه تخت وغيره استعمالول د زهد خلاف نه دی [۱] په حديث الباب كښې سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ به د تخت مينځ ته اودريدلو سره مونځ كولو او زه به د هغوی او د قبلې ترمينځه ناسته اوم. كه زما به څه ضرورت وو نو ما به دا ناخوښه ګڼړله چه پاسم او د هغوی مخې ته راشم، په دې وجه به زه په مزه مزه (په ملاسته ملاسته) اوخوئيدم.

۳۸: باب مَنْ أُلْقِيَ لَهُ وِسَادَةٌ

۵۹۲۱ | حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا خَالِدٌ. وَحَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ خَالِدٍ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو الْمَلِيحِ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِيكَ زَيْدٍ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو فَحَدَّثَنَا أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - ذُكِرَ لَهُ صَوْمِي ، فَدَخَلَ عَلَيَّ ، فَأَلْقَيْتُ لَهُ وِسَادَةً مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ، فَجَلَسَ عَلَى الأَرْضِ ، وَصَارَتِ الْوِسَادَةُ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، فَقَالَ لِي «أَمَا يَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلاَثَةُ أَيَّامٍ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «خَمْسًا». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «سَبْعًا». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «تِسْعًا». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «إِحْدَى عَشْرَةَ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «لاَ صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ، شَطْرَ الدَّهْرِ، صِيَامُ يَوْمٍ ، وَإِفْطَارُ يَوْمٍ». [ر: ۱۰۷۹]

ابو قلابة. د ابو المليح نه روايت كوی چه زه ستا د والد صاحب سره سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما ته لاړم هغوی ماته بيان اوكړو چه د رسول الله ﷺ مخكښې زما د روژې تذكره اوشوه نو هغوی ماته تشريف راوړلو ما د هغوی ته يو تكيه واچوله چه د كجهورو د پوستكو نه ډک كړې شوې وو، هغوی په زمكه باندې كيناستل او تكيه زما او د هغوی ترمينځه وه. بيا هغوی ماته اوفرمائيل چه آيا ستا په مياشت كښې درې روژې كافى نه دی؟ ما اووې يا رسول الله ﷺ (زما د دې نه د زياتو طاقت دې) رسول الله ﷺ اوفرمائيل نو پنځه؟ يا رسول الله ﷺ (زما د دې نه زيات طاقت دې) هغوی اوفرمائيل . نو اووه؟ ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ (زما د دې نه زيات طاقت دې) رسول الله ﷺ اوفرمائيل نو نهه؟ ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ (زما د دې نه زيات طاقت دې) رسول الله ﷺ اوفرمائيل نو

[۱]) الابواب والتراجم. كتاب الاستيذان. باب السرير : ۱۲۵/۲

يولس؟ ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ زما د دې نه زیات طاقت دې، رسول اللهﷺ اوفرمائیل د داؤدعلیه السلام د روژو نه لویه هیڅ روژه نشته په دې طریقه چه یوه ورځ روژه وی او یوه ورځ بوزه وی.

[٥٩٢٢] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ أَنَّهُ قَدِمَ الشَّأْمَ. وَحَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ ذَهَبَ عَلْقَمَةُ إِلَى الشَّأْمِ، فَأَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي جَلِيسًا. فَقَعَدَ إِلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتَ قَالَ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ. قَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ السِّرِّ الَّذِي كَانَ لاَ يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ- يَعْنِي حُذَيْفَةَ- أَلَيْسَ فِيكُمْ- أَوْ كَانَ فِيكُمْ- الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ- صلى الله عليه وسلم- مِنَ الشَّيْطَانِ- يَعْنِي عَمَّارًا- أَوَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ السِّوَاكِ وَالْوِسَادِ- يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ- كَيْفَ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَقْرَأُ (وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى). قَالَ (وَالذَّكَرِ وَالأُنْثَى). فَقَالَ مَا زَالَ هَؤُلاَءِ حَتَّى كَادُوا يُشَكِّكُونِي، وَقَدْ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- [ر: ٣١١٣]

ابراهیم د علقمة نه روایت کوی چه هغوی شام ته اورسیدل نو یو مسجد ته راغلل او دعا ئې اوکړه یا الله! ماته یو ملګرې راکړه. بیا سیدنا ابوالدرداءرضی الله عنه سره کیناستل او تپوس ئې ترې اوکړو چه ته د کوم ځائې اوسیدونکې ئې؟ هغوی اووې د کوفې اوسیدونکې یم علقمة اووې چه آیا په تاسو کښې سړې نه دې کوم چه په دې راز باندې پوهیږی کوم چه د هغه نه علاوه بل چاته نه دې معلوم یعنی حذیفهرضی الله عنه. آیا په تاسو کښې هغه سړې نشته او یا ئې دا اووې چه آیا په تاسو کښې هغه سړې نه وو چاته چه الله پاک د خپل رسولﷺ په خوله باندې د شیطان نه پناه ورکړې وه، یعنی عمارضی الله عنه او آیا په تاسو کښې د تکیه او مسواک والا یعنی ابن مسعودرضی الله عنه نه دې. عبداللهرضی الله عنه به ﴿ والیل اذا یغشی ﴾ څنګه لوستلو؟ وې وئیل ﴿والذکر والانثی ﴾ به ئې لوستلو. سیدنا ابوالدرداء اوفرمائیل: خلقو به زه په شک کښې اچولم. حال دا چه ما د رسول اللهﷺ نه هم داسې اوریدلې دی.

د ترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې امام بخاریرحمه الله چاته د تکیه ورکولو ذکر کړې دې. په یو حدیث کښې د درې څیزونو په باره کښې راغلې دی چه که هغه پیش کړې شی نو رد کول نه دی پکار، په هغه دریو کښې یو تکیه هم ده.[1]

د باب په اول روایت کښې دی چه سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاصرضی الله عنهما د رسول اللهﷺ په خدمت کښې تکیه پیش کړه، رسول اللهﷺ تواضعا په زمکه باندې کیناستلو او تکیه د دواړو ترمینځه وه. رسول اللهﷺ د هغوی نه تپوس اوکړو چه آیا په میاشت کښې درې

[1]) رواه الترمذی فی الشمائل، باب ما جاء فی تعطر رسول الله صلی الله علیه وسلم ولفظه : ثلاث لا ترد : الوسائد، والدهن، والطیب، واللبن. ص ١٤.

روژې ستا دپاره كافي نه دي؟ ﴿قلت يا رسول الله﴾ سيدنا عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما اووې يا رسول الله! وړاندې جمله محذوف ده يعنې زه د دې نه د زياتو طاقت لرم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿خمسا﴾ يعنې ﴿صم خمسا﴾ پنځه ورځې روژې اونيسه.

په آخر كښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿لَا صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ شَطْرَ الدَّهْرِ صِيَامُ يَوْمٍ وَإِفْطَارُ يَوْمٍ﴾ يعنې د صوم داؤدي نه زياته هيڅ روژه نه ده، نيمه زمانه دې روژه اونيولې شي. داسې چه يوه ورځ ئې روژه وي او يوه ورځ افطار.

﴿شطر الدهر﴾ منصوب على الاختصاص دې او ﴿صيام يوم﴾ منصوب على الاختصاص هم كيدې شي او د ﴿هو﴾ مخذوف دپاره خبر هم كيدې شي. په دې صورت كښې به دا مرفوع وي.[1]

دويم حديث په مناقب كښې تير شوې دې[2] په دې كښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په باره كښې دي چه هغوى به د رسول الله ﷺ مسواک او تكيه سنبهالوله. هم د دې جملې په مناسبت سره دا حديث دلته ذكر كړې دې.

فائده: د باب په دواړو احاديثو كښې امام بخارى رحمه الله دوه دوه سندونه ذكر كړې دي. كوم چه د نكتې نه خالي نه دي. په اول حديث كښې چه امام بخارى رحمه الله كوم دوه سندونه ذكر كړې دي. په هغې كښې په اول سند كښې د هغوى او د خالد بن عبدالله طحان ترمينځه د يو راوى اسحاق بن شاهين واسطه ده. او په دويم سند كښې دوه دوه واسطې دي. يو د عبدالله بن محمد او دويم د عمرو بن عون. ګويا دويم سند د يوې واسطې د زياتيدو د وجې نه نازل شوې دې. چونكه سند عالي چه په هغې كښې اسحاق بن شاهين مذكور دې د الفاظو سره دا حديث په كتاب الصلاة كښې تير شوې دې په دې وجه دلته سند نازل عمرو بن عون مذكور دې په الفاظو سره دا حديث ذكر كړې شو او د سند نازل په راوړلو كښې هم دا نكته ده چه صرف په يو سند سره او په يو طريق باندې د حديث اعادة لازم نه شي. د څو مقاماتو نه علاوه په باقي پوره صحيح كښې د امام بخارى رحمه الله هم دا طريقه ده[3]

د دويم حديث په شروع كښې هم امام بخارى رحمه الله دوه سندونه ذكر كړې دي. اول سند كښې د هغوى او د شعبه ترمينځه د دوه راويانو يحيى بن جعفر بكيندى او د يزيد بن هارون واسطه ده. او په دويم سند كښې واسطه يوه ده يعنې د ابوالوليد. ګويا اول سند نازل شو، كيدې شي چه دوه سندونه راوړلو سره امام بخارى رحمه الله په دې خبره باندې تنبيه فرمائى چه د دې يو سند نازل دې او يو عالي.

---

[1] ارشاد السارى ۲۸۲/۱۳، عمدة القارى ۲۶۲/۲۲

[2] صحيح البخارى، كتاب الاستئذان، باب من القى له وسادة/۱۳۴۱، رقم الحديث: ۶۲۷۸

[3] فتح البارى: ۸۲/۱۱

او يو نكته دا هم كيدې شى چه په اول سند كښې د شعبه نه راويت كونكى راوى يزيد عنعنه كړې ده او په دويم سند كښې د شعبه نه روايت كونكى راوى ابوالوليد د تحديث تصريح كړې ده

۳۹: باب القَايِلَةِ بَعْدَ الجُمُعَةِ

[۵۹۲۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا نَقِيلُ وَنَتَغَدَّى بَعْدَ الجُمُعَةِ. [ر: ۸۹۶]

﴿قائلة او قيلولة﴾ د غرمې په وخت آرام كولو ته وائى (۱) امام ابن ماجة د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه يو مرفوع روايت نقل كړې دې، د هغې الفاظ دا دى: ﴿اسْتَعِينُوا بِطَعَامِ السَّحَرِ عَلَى صِيَامِ النَّهَارِ، وَبِالْقَيْلُولَةِ عَلَى قِيَامِ اللَّيْلِ﴾ (۲) يعنى: د ورځې د روژې دپاره په پيشمنى كولو مدد او د تهجدو دپاره په قيلولة باندې مدد حاصلوئ

هم دغه شان طبرانى د سيدنا انس رضي الله عنه مرفوع روايت نقل كړې دې په دې كښې دى ﴿قِيلُوا فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَا تَقِيلُ﴾ (۳) يعنى قيلوله كوئ، ځكه چه شيطانان قيلوله نه كوى

د سيدنا خوات بن جبير رضي الله عنه نه هم يو روايت موقوفا مروى دې هغوى فرمائى: نوم اول النهار حرق، واوسطه خلق، وآخره حمق ﴾ (۴) يعنى د ورځې په شروع كښې خوب اور دې. د مينځ په حصه كښې د فطرت موافق دې او په آخرى حصه كښې حماقت دې

۴۰: باب القَايِلَةِ فِي المَسْجِدِ

[۵۹۲۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ مَا كَانَ لِعَلِيٍّ اسْمٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَبِي تُرَابٍ، وَإِنْ كَانَ لَيَفْرَحُ بِهِ إِذَا دُعِيَ بِهَا، جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَيْتَ فَاطِمَةَ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - فَلَمْ يَجِدْ عَلِيًّا فِي البَيْتِ فَقَالَ «أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ». فَقَالَتْ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ، فَغَاضَبَنِي فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِإِنْسَانٍ «انْظُرْ أَيْنَ هُوَ» فَجَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هُوَ فِي المَسْجِدِ رَاقِدٌ. فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ مُضْطَجِعٌ، قَدْ سَقَطَ

---

(۱) فتح البارى ۸۳/۱۱، عمدة القارى ۲۶۳/۲۲، تحفة البارى ۱۵۸/۶، ارشاد السارى ۲۸۳/۱۳

(۲) سنن ابن ماجة، كتاب الصيام، باب ما جآء فى السحور: ۵۴۰/۱، رقم الحديث

(۳) احكام القرآن ۲۳/۱۳، ومجمع الزوائد، كتاب الادب، باب القيلولة ۱۱۲/۸، قال الهيثمى: فيه كثير بن مروان وهو كذاب.

(۴) المستدرک للحاكم، كتاب الادب، ادب العطاس: ۲۹۳/۴، وفى تنزيه الشريعة المرفوعة للكنانى: ۱۹۸/۲، النوم اول النهار حرق، والنوم فى وسط النهار خلق، والنوم بعد المغرب يقطع الرزق.

رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ، فَأَصَابَهُ تُرَابٌ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَمْسَحُهُ عَنْهُ -وَهُوَ يَقُولُ «قُمْ أَبَا تُرَابٍ، قُمْ أَبَا تُرَابٍ». [ر: ۴۳۰]

سیدنا سهل بن سعد رضی الله عنه روایت کوي چه سیدنا علی رضی الله عنه ته د ابوتراب نه زیات خوښ بل نوم نه وو او کله چه به ورته په دې نوم آواز کولې شو نو ډیر په خوشحالیدو. رسول الله ﷺ د فاطمې رضی الله عنها کور ته تشریف راوړلو. سیدنا علی رضی الله عنه ئې په کور کښې بیا نه موندلو نو تپوس ئې اوکړو چه ستا د تره ځوئې چرته دې؟ سیده فاطمه رضی الله عنها اوفرمائیل : چه زما او د هغوی ترمینځه څه خبره راغله. په دې وجه هغه خفه کیدو سره بهر لاړو او کور ئې قیلولة اونکړه. رسول الله ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل چه ته اوګوره هغه چرته دې. هغه سړې واپس راغلو او عرض ئې اوکړو : یا رسول الله ﷺ هغوی په مسجد کښې دی. رسول الله ﷺ هغوی ته تشریف راوړلو. هغه وخت هغوی ملاست وو او څادر د هغوی د شانه خوئیدلې وو په دې وجه خاوره د هغوی په بدن باندې لګیدلې وه. رسول الله ﷺ د هغوی د بدن نه خاوره پاکوله او فرمائیل ئې : اې ابو تراب پاسه! اې ابو تراب پاسه!

په مسجد کښې د اودهٔ کیدو حکم : په مسجد کښې اودهٔ کیدل جائز دی یا نه په دې کښې تفصیل دې.

د امام شافعی رحمه الله په نزد مطلقا جائز دی. (۱)

د امام مالک رحمه الله په نزد د مسافر دپاره جائز دی او د مقامي سړی دپاره نه. (۲)

د امام احمد رحمه الله مسلک هم د امام مالک رحمه الله په شان دې. (۳)

د احناف حضراتو رحمهم الله په نزد د معتکف او مسافر دپاره جائز دی او د عام خلقو دپاره مکروه. (۴)

د حدیث الباب نه جواز معلومیږی، د احنافو د طرف نه دا جواب ورکړې کیدې شی چه ممکنه ده سیدنا علی رضی الله عنه د اعتکاف نیت کړې وی.

مولانا انور شاد کشمیری رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ او سیدنا علی رضی الله عنه دپاره د مسجد بعض احکام خاص وو. مثلا هغوی دواړو په جنبی حالت کښې په مسجد باندې تیریدلې شو خو د نورو خلقو دپاره د دې اجازت نه وو. د دې حاصل دا دې چه په مسجد کښې د سیدنا علی رضی الله عنه اودهٔ کیدل د هغوی خصوصیت دې. د عام امت دپاره ترې نه استدلال کول صحیح نه دی. (۵)

---

(۱) عمدة القاري، كتاب الصلاة، باب نوم الرجال في المسجد : ۱۹۸/۴

(۲) فتح الباري، كتاب الصلاة، باب نوم الرجال في المسجد ۶۹۳/۱

(۳) عمدة القاري، كتاب الصلاة، باب نوم الرجال في المسجد ۱۹۸/۴

(۴) رد المختار، مطلب في الغرس في المسجد، ۴۸۹/۱

(۵) فيض الباري، كتاب الصلاة، باب نوم الرجال ۴۹/۲

(۴۱) باب مَنْ زَارَ قَوْمًا فَقَالَ عِنْدَهُمْ

۵۹۲۵) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ كَانَتْ تَبْسُطُ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - نِطَعًا فَيَقِيلُ عِنْدَهَا عَلَى ذَلِكَ النِّطَعِ - قَالَ - فَإِذَا نَامَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَخَذَتْ مِنْ عَرَقِهِ وَشَعَرِهِ، فَجَمَعَتْهُ فِي قَارُورَةٍ، ثُمَّ جَمَعَتْهُ فِي سُكٍّ - قَالَ - فَلَمَّا حَضَرَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ الْوَفَاةُ أَوْصَى أَنْ يُجْعَلَ فِي حَنُوطِهِ مِنْ ذَلِكَ السُّكِّ - قَالَ - فَجُعِلَ فِي حَنُوطِهِ.

د ترجمة الباب مقصد: علامه سندهی رحمه الله د ترجمة الباب مقصد بيانولو سره فرمائی چه د قرآن کريم آيت کريمه ﴿إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا﴾ (۱) اګر چه په ظاهره کښې مطلق دې چه د خوراک کولو نه پس تلل پکار دی خو معنی اعتبار سره دا مقيد دې او د وتلو حکم صرف په هغه صورت کښې دې چه کله څه داعی نه وی. (۲) خو که په کور کښې د اوسيدو ضرورت دې او د کور والو د طرف نه د دې اجازت هم دې نو په داسې صورت کښې د ﴿فانتشروا﴾ د حکم نه مستثنی ده. (۳)

د باب اول حديث د سيدنا انس رضی الله عنه نه روايت دې هغوی فرمائی چه ام سليم رضی الله عنها به د رسول الله ﷺ دپاره د څرمنې درئ خوروله، رسول الله ﷺ به په هغې باندې قيلولة فرمائيله، چه رسول الله ﷺ به اوده شو نو هغې به د رسول الله ﷺ خوله او وينستهٔ مبارک په يوه شيشه کښې جمع کول. بيا به ئې هغه په خوشبوئی کښې جمع کول. د راوی بيان دې، چه کله د سيدنا انس رضی الله عنه د وفات وخت رانزدې شو نو هغوی وصيت اوکړو چه هغه خوشبوئی دې زما په حنوط کښې ګډه کړې شی، پس د هغوی په حنوط کښې هغه ګډه کړې شوه.

﴿نطع﴾ (د نون د کسرې او د طاء په فتحې سره) د څرمنې دستر خوان او درئ ته وائی.

﴿سك﴾ (د سين په ضمې سره) علامه ابن الاثير رحمه الله په النهاية کښې ليکی: ﴿هو طيب معروف يضاف الى غيره من الطيب، ويستعمل﴾ (۴) يعنی سک يو معروف خوشبوئی ده کومه چه د يو بل خيز سره ګډولو باندې استعمالولې شی، علامه پټنی د دې ترجمه په تار سره هم کړې ده. (۵)

﴿حنوط﴾ (د حاء په فتحې سره) مرې ته چه کومه خوشبوئی، د تجهيز او تکفين په وخت لګولې شی، هغې ته حنوط وئيلې شی. (۶)

---

(۱) سورة الاحزاب آية: ۵۳

(۲) حاشية صحيح البخاري للسندی: ۹۲۹/۲

(۳) روح المعانی، المجلد الثانی عشر، الجز الاول: ۷۰

(۴) النهاية لابن الاثير ۳۸٤/۲، عمدة القاری ۲٦٤/۲۲

(۵) مجمع بحار الانوار ۹۳/۳

(۶) عمدة القاری ۲٦٤/۲۲

قوله: اخذت من عرقه وشعره: د دې نه په ظاهر كښې معلوميږى چه ام سليم رضي الله عنها به د اوده کيدو په وخت د رسول الله ﷺ د قيلولې په موقع باندې خوله او ويښته جمع کول. حال دا چه حقيقت داسې نه دې، د اوده كيدو په وخت به ئې صرف خوله مبارکه راجمع کړه. ويښته مبارک هغوى سره د مخکښې نه موجود وو، پس امام ابن سعد رحمه الله د سيدنا انس رضي الله عنه روايت په صحيح سند سره نقل کړې دې، په هغې کښې تصريح ده چه رسول الله ﷺ چه كله په منى كښې ويښته مبارک حلق کړل نو سيدنا ابو طلحه رضي الله عنه هغه محفوظ کړل او سيده ام سليم رضي الله عنها ته ئې راوړل (۱) د رسول الله ﷺ هغه ويښته مبارک هغوى په يو شيشه كښې كيخودل او خوله مبارکه ئې هم په هغه شيشه كښې جمع کړه او هغه ئې د يو سفوف نما خوشبويئ سره گډه کړه. علامه عينى رحمه الله ليکلې دى چه سک يعنى د سفوف والا خوشبوئ سره ئې خوله مبارکه په دې وجه يوځائې کړه چه چرته هغه اوچيدو سره ختمه نه شى.(۲)

د دې حديث نه د تبرک بآثار الصالحين جواز معلوميږى.

[۵۹۲۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا ذَهَبَ إِلَى قُبَاءٍ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَتُطْعِمُهُ، وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، فَدَخَلَ يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَضْحَكُ. قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ «نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ، يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ، مُلُوكًا عَلَى الأَسِرَّةِ». - أَوْ قَالَ «مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ». شَكَّ إِسْحَاقُ - قُلْتُ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. فَدَعَا ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ، غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ، يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ، مُلُوكًا عَلَى الأَسِرَّةِ». أَوْ «مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ». فَقُلْتُ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. قَالَ «أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ». فَرَكِبَتِ الْبَحْرَ زَمَانَ مُعَاوِيَةَ، فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ، فَهَلَكَتْ. [ر: ۲۶۳۶]

سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه روايت كوى چه رسول الله ﷺ به چه كله د قباء طرف ته تشريف يوړلو نو د ام حرام بنت ملحان رضي الله عنها كور ته به تلو. هغې به په رسول الله ﷺ ډوډئ خوړله، ام حرام رضي الله عنها د سيدنا عبادة بن الصامت رضي الله عنه بى بى وه، يوه ورځ هغوى تشريف راوړلو نو ام حرام رضي الله عنها په هغوى باندې ډوډئ اوخوړله او رسول الله ﷺ هم هلته اوده شو بيا په خندا باندې بيدار شو، ام حرام رضي الله عنها تپوس اوكړو : يا رسول الله ﷺ تاسو څه څيز اوخندولئ؟

(۱) طبقات ابن سعد. ابو طلحة : ۵۰۵/۳، ۵۰۶
(۲) عمدة القارى ۲۶۴/۲۲

رسول الله ﷺ اوفرمائيل زما په امت کښې څه خلق د الله پاک په لاره جهاد کونکی زما مخکښې داسې پيش کړې شو چه د درياب په مينځ کښې د بادشاه په شان هغوی په خپل تخت باندې سوارۀ دی ،د راوی شک دې چه ملوکاعلی الاسرة دې او که مثل الملوك على الاسرة ئې اوفرمائيل، ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ د الله پاک نه اوغواړئ چه ما هم د هغوی نه اوګرځوی. پس رسول الله ﷺ دعا اوفرمائيله بيا رسول الله ﷺ سر کيخودلو سره اودۀ شو او په خندا باندې بيدار شو. ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ: تاسو ولې خاندئ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل زما د امت غازيان زما مخې ته پيش کړې شو چه د درياب په مينځ کښې سوارۀ دی. د بادشاهانو په شان تخت باندې دی. ما عرض اوکړو چه دعا اوکړئ چه زه هم د هغوی نه شم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ته د ړومبنو نه ئې. پس ام حرام رضي الله عنها د امير معاويه رضي الله عنه په زمانه کښې په درياب باندې سورده شوه. چه کله د درياب نه راوتله نو د سورلۍ نه پريوتله او وفات شوه

داحديث په کتاب الجهاد کښې تيرشوې دې [۱]﴿ثبج هذا البحر﴾ثبج د منا او ظهر په معنی دې

علامه قسطلانی رحمه الله ليکی : ﴿ وفى الحديث جواز ركوب البحر الملح ومشروعية القائلة، وفيه علم من اعلام نبوته، وهو الاخبار بما سيقع، فوقع كما قال ﴾[۲]

يعنی په دې حديث کښې په مالګين سمندر کښې د سفر کولو جواز او د قيلولة مشروعيت معلوميږی. بله دا چه په دې کښې د رسول الله ﷺ د نبوت د علاماتو نه يو دليل او علامت هم دې او هغه دا چه رسول الله ﷺ په راروانه زمانه کښې د واقع کيدونکې يوې واقعې خبر ورکړې دې کومه چه روسته هم دغه شان واقع شوه څنګه چه رسول الله ﷺ خبر ورکړې وو

۴۲: بَابُ الْجُلُوسِ كَيْفَمَا تَيَسَّرَ

|۵۹۲۷| حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضى الله عنه - قَالَ نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ لِبْسَتَيْنِ ،وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ، وَالاِحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، لَيْسَ عَلَى فَرْجِ الإِنْسَانِ مِنْهُ شَيْءٌ، وَالْمُلاَمَسَةِ، وَالْمُنَابَذَةِ. تَابَعَهُ مَعْمَرٌ وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَفْصَةَ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُدَيْلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ. |ر: ۳۶۰|

سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه روايت کوی چه رسول الله ﷺ د دوه قسم جامې او دوه قسمه بيع نه منع فرمائيلې ده. ،يعنی، اشتمال صماء او په يو کپړه کښې د داسې کيناستلو نه چه په شرمګاه باندې هيڅ هم نه وی او د ملامسة او منابذة نه ئې منع فرمائيلې ده.

د ترجمة الباب مقصد : د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه انسان څنګه غواړی د خپل

---

[۱]) کشف الباری، کتاب الجهاد، باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء : ۷۱

[۲]) ارشاد الساری ۲۸۷/۱۳

سهولت مطابق کیناستلي شي. د دې حديث د لاندې چه کوم حديث امام بخاری ﷫ ذکر کړې دې د هغې سره مطابقت بیانولو سره علامه قسطلانی ﷫ ليکی

(ومطابقة الحديث لما ترجم من حيث انه خص النهي بحالتين، فيفهم منه ان ما عداهما ليس منهيا عنه، لان الاصل عدم النهي، فالاصل الجواز) [۱]

يعنى د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه رسول الله ﷺ په حديث کښې نهی د دوه حالتونو سره خاص فرمائيلې ده نو د دې نه معلومه شوه چه د دې نه علاوه باقی حالتونه ممنوع نه دی. ځکه چه عدم نهی او جواز اصل دی

علامه سندهی په دې مطابقت باندې اعتراض کړې دې او فرمائيلې ئې دی چه په حديث کښې د جامې ذکر دې د ناستې نه دې [۲]

ابن بطال ﷫ په شرح بخاری کښې د ابن طاؤس نه تربعا يعنى چوکور کيناستل مکروه نقل کړې دی [۳]

خو امام مسلم او امام ابوداؤد ﷮ د سيدنا جابر بن سمرة ﷛ نه روايت نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ د سحر د مانځه نه پس د نمر د ختلو پورې په خپل ځائې باندې تربعا تشريف فرما وو [۴]

قوله: ﴿تَابَعَهُ مَعْمَرٌ وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَفْصَةَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ بُدَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ﴾:

يعنى د سفيان بن عيينة متابعت دې درې راويانو کړې دې. د معمر بن راشد متابعت امام بخاری ﷫ په کتاب البيوع کښې. د محمد متابعت ابن عدى او د عبدالله متابعت امام ذهلی ﷫ موصولا نقل کړې دې [۵]

۴۳: بَاب مَنْ نَاجَى بَيْنَ يَدَيِ النَّاسِ، وَمَنْ لَمْ يُخْبِرْ بِسِرِّ صَاحِبِهِ، فَإِذَا مَاتَ أَخْبَرَ بِهِ

|۵۹۲۸| حَدَّثَنَا مُوسَى عَنْ أَبِي عَوَانَةَ حَدَّثَنَا فِرَاسٌ عَنْ عَامِرٍ عَنْ مَسْرُوقٍ حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ أُمُّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ إِنَّا كُنَّا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - عِنْدَهُ جَمِيعًا، لَمْ تُغَادَرْ مِنَّا وَاحِدَةٌ، فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - تَمْشِي، لاَ وَاللهِ مَا تَخْفَى مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فَلَمَّا رَآهَا رَحَّبَ قَالَ «مَرْحَبًا بِابْنَتِي». ثُمَّ أَجْلَسَهَا عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ، ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ بُكَاءً شَدِيدًا، فَلَمَّا رَأَى حُزْنَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ إِذَا هِيَ تَضْحَكُ. فَقُلْتُ

[۱] ارشاد السارى ۲۸۸/۱۳
[۲] حاشية صحيح البخارى ۹۳۰/۲
[۳] شرح صحيح البخارى لابن بطال ۵۹/۹
[۴] سنن ابى داؤد. كتاب الادب. باب فى الرجل يجلس متربعا ۲۶۳/۴. رقم الحديث : ۴۸۵۰
[۵] فتح البارى ۹۵/۱۱. ارشاد السارى ۲۸۸/۱۳

لَهَا أَنَا مِنْ بَيْنِ نِسَائِهِ خَصَّكِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِالسِّرِّ مِنْ بَيْنِنَا، ثُمَّ أَنْتِ تَبْكِينَ، فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سَأَلْتُهَا عَمَّا سَارَّكِ
قَالَتْ مَا كُنْتُ لأُفْشِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سِرَّهُ. فَلَمَّا تُوُفِّي قُلْتُ لَهَا عَزَمْتُ عَلَيْكِ بِمَا لِي عَلَيْكِ مِنَ الْحَقِّ لَمَّا أَخْبَرْتِنِي. قَالَتْ أَمَّا الآنَ فَنَعَمْ. فَأَخْبَرَتْنِي قَالَتْ أَمَّا حِينَ سَارَّنِي فِي الأَمْرِ الأَوَّلِ، فَإِنَّهُ أَخْبَرَنِي أَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُهُ بِالْقُرْآنِ كُلَّ سَنَةٍ مَرَّةً «وَإِنَّهُ قَدْ عَارَضَنِي بِهِ الْعَامَ مَرَّتَيْنِ، وَلاَ أَرَى الأَجَلَ إِلاَّ قَدِ اقْتَرَبَ، فَاتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي، فَإِنِّي نِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ». قَالَتْ فَبَكَيْتُ بُكَائِي الَّذِي رَأَيْتِ، فَلَمَّا رَأَى جَزَعِي سَارَّنِي الثَّانِيَةَ قَالَ «يَا فَاطِمَةُ أَلاَ تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ - أَوْ - سَيِّدَةَ نِسَاءِ هَذِهِ الأُمَّةِ». [ر: ٣٤٢٦]

د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه مونږ ټولې د رسول الله ﷺ بيبياني هغوی سره جمع وې. په مونږ کښې يوه هم غائبه نه وه. سيده فاطمه رضي الله عنها راغله او د هغې چال د رسول الله ﷺ د چال سره ډير مشابه وو. رسول الله ﷺ د هغې په ليدو باندې هرکلې اووې او وې فرمائيل ستړې مه شې! بيا ئې خپل ښي يا ګس طرف ته هغه کينوله. بيا ئې هغې سره پټې خبرې اوکړې نو هغې په زوره په ژړا شوه. چه کله رسول الله ﷺ هغه غمژنه کيدو سره اوليده نو دوباره ئې ورته پټه خبره اوکړه نو هغه په خندا شوه. ما هغې ته اووې چه رسول الله ﷺ په مونږ ټولو کښې خاص تاسره د راز خبره اوکړه او بيا هم ته ژاړې. چه کله رسول الله ﷺ لاړو نو ما د هغوی نه تپوس اوکړو څه خبره ئې اوکړه؟ فاطمه (رضي الله عنها) اووې چه زه د رسول الله ﷺ راز نه ښکاره کوم. چه کله د رسول الله ﷺ وفات اوشو نو ما هغې ته اووې چه زه تاته قسم درکوم د هغه حق په عوض کوم چه زما په تا باندې دې. ته ماته دا خبره اوکړه. فاطمه رضي الله عنها اوفرمائيل چه او اوس به ئې درته بيان کړم پس هغې اووې چه اول چه ئې په پټه باندې کومه خبره اوکړه (هغه دا وه) چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل چه جبرائيل عليه السلام به ماته هر کال د قرآن يو دور کولو او دې کال ئې دوه کرته دور اوکړو. اوس مرګ ماته نزدې ښکاره کيږی په دې وجه د الله پاک نه اويريږه او صبر کوه زه ستاسو دپاره ښه وړاندې تلونکې يم پس زه په ژړا شوم لکه چه تاسو اوليدل. چه کله هغوی زما ويره اوليده نو په دويم کرت ئې په پټه اوفرمائيل چه اې فاطمه! آيا ته دا نه خوښوې چه د مومنانو د زنانو سرداره شې يا ئې اوفرمائيل چه د دې امت د زنانو سرداره شې.

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب دوه اجزاء دی، د اول جزء حاصل دا دې چه د دريو کسانو نه د زياتو جماعت وی نو په هغوی کښې د چا سره پټې خبرې کول جائز دی، په حديث کښې چه کوم ممانعت راغلې دې، هغه د دې صورت سره خاص دی، چه کله صرف درې کسان وی، ځکه چه په داسې صورت کښې که دوه کسان پټې خبرې اوکړی نو د دريم په شک پيدا شی خو د خلقو د کثرت په صورت کښې ددې جواز دې ځکه چه د کثرت په صورت کښې د دوه کسانو پټې خبرې عموما د شک باعث نه وی.

د ترجمة الباب د دويم جزء نه د امام بخاري رحمه الله مقصد دا دي چه که په راز افشاء کولو کښې څه نقصان نه وي، نو هغه دصاحب راز د مرګ نه پس افشاء کولې شي. اکثر شارحين بخاري د ترجمة الباب هم دا مقصد بيان کړې دې. (۱)

د شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله رائې : خو شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائي چه زما په نزد د اول جزء مقصد دا دې چه د ډيرو خلقو په موجودګئ کښې که د يو کس سره پټې خبرې اوکړې شي نو دا د مجلس او د خلقو د آداب او اكرام خلاف نه ده. (۲) چونکه عام شارحينو چه کوم غرض ترجمه بيان کړې وو په هغې باندې وړاندې تلو سره امام بخاري رحمه الله مستقل ترجمة الباب ﴿ باب اذا كانوا اكثرمن ثلاثة، فلا باس بالمسارة والمناجاة ﴾ قائم کړې دې نو که د دې ترجمة الباب هم هغه مقصد واخستلې شي په کوم باندې چه وړاندې مستقل باب راروان دې نو تکرار به لازم شي. (۳)

۴۴: باب الإستِلقَاءِ

[۵۹۲۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبَّادُ بْنُ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي الْمَسْجِدِ مُسْتَلْقِيًا، وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الأُخْرَى.

د حديث مناسبت د باب سره واضح دې.

د تکرار ترجمة وهم او د هغې دفع کول : بعينه هم دا ترجمة او حديث په كتاب اللباس کښې تير شوې دې. (۴) په ظاهر کښې تکرار دې، شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائي !

﴿ وعندي يمكن ان يقال في وجه الفرق بينهما : ان المصنف ذكره سابقا لمناسبة اللباس، لاحتمال الكشف في هذه الصورة، وههنا ذكره لبيان الجواز، لورود النهي عنه ..... ويمكن ايضا ان يقال : ان المقصود في الترجمة السابقة هو الجزء الثاني من الترجمة، وهو وضع الرجل على الاخرى والمقصود ههنا نفس الاستلقاء ﴾ (۵)

يعني : زما په نزد په دواړو ترجمو کښې فرق داسې بيانيدلې شي چه امام بخاري رحمه الله اول دا د كتاب اللباس سره د مناسبت د وجې نه ذکر کړې دې، ځکه چه د استلقاء صورت کښې د کشف عورت احتمال وي. او دلته د استلقاء د جواز د بيانولو دپاره ذکر کړې شوې دې ځکه چه د دې متعلق نهي راغلې ده. او دا هم وئيلې کيدې شي چه په مخکښې ترجمة کښې د ترجمة جزء ثاني مقصود وو يعني يوې خپې لره په بله خپله باندې کيخودل، او حال دا چه دلته د نفس استلقاء بيان مقصود دې.

---

(۱) عمدة القاري ۲۶۵/۲۲، فتح الباري ۹۷/۱۱
(۲) الابواب والتراجم، كتاب الاستيذان، باب من ناجى بين يدى الناس : ۱۲۵/۲
(۳) ارشاد الساري ۲۹۳/۱۳، فتح الباري ۹۹/۱۱، عمدة القاري ۲۶۸/۲۲
(۴) صحيح البخاري، كتاب اللباس، باب الاستلقاء ووضع الرجل على الاخرى : ۱۲۷۱، رقم الحديث ۵۹۶۹
(۵) الابواب والتراجم، كتاب الاستيذان، باب من ناجى بين يدى الناس : ۱۲۵/۲

٤٥: باب لا يتناجى اثنان دون الثالث

وَقَوْلُهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَةِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَى). إِلَى قَوْلِهِ (وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ) المجادلة: ٩، ١٠
وَقَوْلُهُ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً ذَلِكَ خَيْرٌ لَكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ) إِلَى قَوْلِهِ (وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ)المجادلة: ١٢، ١٣
[٥٩٣٠][1] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ. وَحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الثَّالِثِ»

د ترجمة الباب مقصد : په دې باب کښې يو ادب بيان کړې شوې دې چه که درې سړی په يو مجلس کښې دی نو په هغوی کښې دوه کسانو لره خپل مینځ کښې پټې خبرې نه دی کول پکار. امام بخاری رحمه الله د قرآن کريم د سورة مجادلة دوه آيتونه نقل فرمائيلې دی. اول آيت کريمه نمبر ۹ دې. چه د هغې ترجمه دا ده:

اې ايمان والو! چه کله تاسو خپل مینځ کښې پټې خبرې کوئ نو د گناه، ظلم او د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ خبرې مه کوئ، بلکه د نيکۍ او تقوی خبرې کوئ.

يعنی رشتينی مسلمان لره د منافقانو د خوئی نه ځان ساتل پکار دی. د هغوی پټې خبرې د ظلم، زياتی او د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ دپاره نه. بلکه د نيکۍ تقوی او د معقول خبرو د اشاعت دپاره کيدل پکار دی.

دويم آيت کريمه نمبر ۱۱ ده. چه په هغې کښې مومنانو ته حکم کړې شوې وو چه رسول الله ﷺ سره د خبرو کولو نه مخکښې صدقه کوئ. مولانا شبير احمد عثمانی رحمه الله د دې آيت کريمه په تفسير کښې ليکلې دی:

" منافقانو به بې فائدې خبرې د رسول الله ﷺ په غوږونو مبارکو کښې کولې چه په خلقو کښې خپل لوئې والې بيان کړی او بعض مسلمانانو به غير مبهم خبرې پټې کولې او دومره وخت به ئې اخستلو چه نورو خلقو ته به د رسول الله ﷺ نه د مستفيد کيدو موقع نه ملاويده، يا به يو وخت هغوی خلوت غوښتلو نو په هغې کښې به هم تنګی وه خو د مروت او اخلاقو په وجه باندې به ئې څوک نه منع کولو. هغه وخت دا حکم اوشو چه کوم قدرت والا سړې د رسول الله ﷺ سره پټه خبره کول غواړی هغه دې د دې نه مخکښې خيرات کولو سره راځی. په دې کښې ډير فائدې دی، د غريبانانو خدمت، د صدقه کونکی د نفس تزکيه،

[1] (٥٩٣٠) اخرجه مسلم فى السلام، باب تحريم مناجاة الاثنين دون الثالث بغير رضاه : ١٧١٧/٤ (رقم الحديث ٢١٨٣)، وابوداؤد فى الادب، باب فى التناجى : ٢٦٣/٤، (رقم الحديث : ٤٨٥١)، وابن ماجة فى الادب باب لا يتناجى اثنان دون الثالث ١٢٤١/٢، (رقم الحديث : ٣٧٧٥) واخرجه الترمذى فى كتاب الادب، باب ما جاء لا يتناجى اثنان دون الثالث (رقم الحديث ٢٨٢٥)

د مخلص او د منافق تمیز. د پټو خبرو کونکو تقلیل وغیره. او چا سره چه د خیرات کولو دباره هیڅ نه وی د هغه نه دا قید معاف دې. چه کله دا حکم نازل شو نو منافقانو د بخل د وجې نه هغه عادت پریخودلو او مسلمانان هم پوهه شو چه زیاتې پټې خبرې کول د الله پاک ناخوښې دی. په دې وجه ئې دا قید اولګولو. آخر ئې دا حکم په ورپسې آیت کریمه کښې منسوخ اوفرمائیلو (۱)

مفسرین فرمائی چه په دې آیت کریمه باندې صرف علی ﷺ عمل کړې وو (۲).

د دواړو ایتونو د ترجمة الباب سره مناسبت د اول دوه آیتونو د ترجمة الباب سره مناسبت اکثر شارحینو لیکلې دې او هغه دا چه د دریم سړی په موجودګئ کښې د دوه سړو په مینځ کښې پټې خبرې کول جائز نه دی، خو که د دریو نه زیاتی وی نو بیا جائز دی. خو جواز هغه وخت دې چه کله هغه پټې خبرې په ګناه. ظلم او د الله او د هغه د رسول ﷺ په نافرمانئ باندې مشتمل وی.

او تاسو داسې هم وئیلې شئ چه د درې کسانو په موجودګئ کښې د دوه کسانو پټې خبرې کول ګناه ده. چه د هغې نه په آیت کریمه کښې منع فرمائیلې شوې ده.

خو په ترجمة الباب کښې د ذکر شوی دریم آیت مناسبت شارحینو نه دې بیان کړې. علامه ګنګوهی رحمه الله دا مناسبت بیان کړې دې. هغوی فرمائی:

(ومناسبته الآيتين بالترجمة خفية، الا ان يقال: ان تناجي اثنين اذا كان سببا لمساءة الثالث، كان ذلك تناجيا بالاثم والعدوان، وهو منهى عنه، فكان ايراد الاية تعميما لها حتى يدخل فيه تلك الجزئية، وان التناجي لا بد وان يكون على حسب قواعد المقررة وآدابه المعلومة، دل عليه الاية الثانية، فان خصوص تقديم الصدقة، وان كان منسوخا، غير ان ما تضمنه هذه الاية من كون النجوى على حسب الادب غير منسوخ، سواء كان النجوى بالرسول صلى الله عليه وسلم، او غيره) (۳)

یعنی د دواړو آیتونو د ترجمة الباب سره مناسبت کښې څه خفاء ده. خو داسې مناسبت پیدا کیدلې شی چه د دوه سړو پټې خبرې که د دریم کس د زړه د خفه کولو سبب وی نو دا به د ګناه او عدوان پټې خبرې وی چه د هغې نه په آیت کریمه کښې ممانعت راغلې دې. نو د آیت ذکر کولو مقصد د دې ممنوعه صورت د شامل کولو دپاره دې. چه دا مخصوص جزئیه (د دریو په موجودګئ کښې د دوه کسانو پټې خبرې) هم په دې کښې داخله شی او دویم د دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه پټې خبرې د مقرر کړې شوې قاعدو او معروف آداب سره کیدل پکار دی. په دې مقصد باندې بل آیت دلالت کوی ځکه چه د پټو خبرو کولو نه

---

(۱) تفسیر عثمانی، سورة المجادلة: ۷۲۱

(۲) الجامع لاحکام القرآن ۳۰۲/۱۷، والتفسیر الکبیر ۲۷۱/۲۹، وروح المعانی، المجلد الرابع عشر، الجزء الثانی: ۳۱.

(۳) لامع الدراری، کتاب الاستئذان، باب: لا یتناجی اثنان ... ۶۱/۱۰، الابواب والتراجم کتاب الاستئذان، باب: لا یتناجی اثنان دون الثالث، ۱۲۵/۲

مخکښې د صدقې کولو نص اګر چه منسوخ دې، خو د آیت کریمه مضمون چه پټې خبرې د آدابو مطابق کیدل پکاردي، منسوخ نه دی. که پټې خبرې د رسول الله ﷺ سره یا بل چا سره.

٣٦: باب حِفْظِ السِّرِّ

[٥٩٣١] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَسَرَّ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- سِرًّا فَمَا أَخْبَرْتُ بِهِ أَحَدًا بَعْدَهُ، وَلَقَدْ سَأَلَتْنِي أُمُّ سُلَيْمٍ فَمَا أَخْبَرْتُهَا بِهِ.

د ترجمة الباب غرض: د راز افشاء کول جائز نه دی، د سیدنا جابر رضي الله عنه روایت ابن ابی شیبة نقل کړې دې، رسول الله ﷺ فرمائی: «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ بِالْحَدِيثِ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ» (٢) یعنی که یو سړی یو خبره اوکړه او د خبرې د کولو په وخت هغه یو خوا بل خوا اوکتل چه څوک خو اوری نه، نو هغه خبره امانت دې.

هم دغه شان په مصنف د عبدالرزاق کښې یو مرسل روایت دې: «إِنَّمَا يَتَجَالَسُ الْمُتَجَالِسَانِ بِالْأَمَانَةِ فَلَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُفْشِيَ عَلَى صَاحِبِهِ مَا يَكْرَهُ» (٣) یعنی چه دوه ملګری د امانت د رعایت سره کینی، پس د چا دپاره جائز نه دی چه هغه د خپل ملګری د یو داسې خبرې افشاء اوکړی چه د هغې افشاء هغه ته بده لګی.

حدیث الباب د سیدنا انس رضي الله عنه نه روایت دې، هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته د راز یو خبره اوکړه کومه چه ما چاته هم نه ده کړې.

د مسلم شریف په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ زه د څه کار دپاره اولیږلم، په هغې کښې وخت اولګیدو، چه کله زه کور ته راغلم نو زما مور ام سلیم رضي الله عنها زما نه د تاخیر وجه اوتپوسله، ما اووې چه رسول الله ﷺ زه په څه کار پسې لیږلې اوم، هغې اووې: څه کار وو؟ ما اووې: هغه راز دې. هغوې اووې: بیا خو د رسول الله ﷺ راز چاته هم مه بیانوه (٤)

بعض حضراتو فرمائیلې دی چه دا راز کیدې شی چه د رسول الله ﷺ د ازواج مطهرات متعلق وو، د علم او عمل متعلق څه خبره نه وه، ګینې انس رضي الله عنه به هغه ځنګه پټوله. (٥)

راز ښکاره کول هغه وخت ناجائز دی چه د هغې په افشاء کولو کښې صاحب راز یا یو بل سړی ته څه نقصان رسیدلې شی. (٦)

---

(١) اخرجه مسلم فی فضائل الصحابة، باب: من فضائل انس بن مالک رضی الله تعالی عنه: ١٩٢٨/٤، (رقم الحدیث: ٢٤٨٢)

(٢) ارشاد الساری ٢٩٢/١٣، فتح الباری ٩٩/١١

(٣) فتح الباری ٩٩/١١

(٤) صحیح مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب: من فضائل انس بن مالک رضی الله تعالی عنه: ١٩٢٩/٤، رقم الحدیث ٢٤٨٢.

(٥) فتح الباری ٩٩/١١، عمدة القاری ٢٦٨/٢٢

(٦) فتح الباری ٩٩/١١، عمدة القاری ٢٦٨/٢٢، شرح صحیح البخاری لابن بطال ٦٤/٩

٤٧: باب إذا كانوا أكثر من ثلاثة فلا بأس بالمسارة والمناجاة

[٥٩٣٢] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنه - قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى رَجُلَانِ دُونَ الْآخَرِ، حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ، أَجْلَ أَنْ يُحْزِنَهُ».

سیدنا عبدالله بن مسعود ﷛ روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله تاسو درې کسان یئ نو دوه کسان دې دریم لره پریخودلو سره پټې خبرې نه کوی. چه ترڅو پورې ډیر کسان نه وی. ځکه چه دا خبره به ده لره خفه کوی.

[٥٩٣٣] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَسَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمًا قِسْمَةً فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِنَّ هَذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللَّهِ. قُلْتُ أَمَا وَاللَّهِ لَآتِيَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ فِي مَلَإٍ، فَسَارَرْتُهُ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى مُوسَى أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ. [ر: ٢٩٨١]

سیدنا عبدالله بن مسعود ﷛ روایت کوی چه رسول الله ﷺ یوه ورځ څه مال تقسیم کړو نو یو انصاری اووې چه دا هغه تقسیم دې په کوم باندې چه د الله پاک د رضا اراده نه ده کړې شوې. ما اووې قسم په الله پاک! زه به رسول الله ﷺ ته ځم (او هغوی ته به بیان کوم) پس زه د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم هغه وخت هغوی د جماعت سره وو. ما په پټه رسول الله ﷺ ته خبره اوکړه نو هغوی غصه شو. تردې چه د هغوی د مخ مبارک رنګ سور شو. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله پاک دې په موسی ﷤ باندې رحم اوکړی. هغوی ته ډیر تکلیف ورکړې شو. خو هغوی صبر اوکړو.

چه کله په مجلس کښې د درې کسانو نه زیات وی نو د دوه کسانو خپل مینځ کښې پټې خبرې جائزدی. په باب کښې د ذکرشوې دواړو احادیثو مناسبت د ترجمة الباب سره ظاهر دې.

د باب په اول حدیث کښې ﴿اجل﴾ د مفعول له کیدو د وجې نه منصوب دې، او دا د خپل مابعد ﴿ان يحزنه﴾ طرف ته مضاف دې.

٤٨: باب طُولِ النَّجْوَى

وقوله: (وَإِذْ هُمْ نَجْوَى) الاسراء: ٤٧ مَصْدَرٌ مِنْ نَاجَيْتُ، فَوَصَفَهُمْ بِهَا، وَالْمَعْنَى يَتَنَاجَوْنَ.

[٥٩٣٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَرَجُلٌ يُنَاجِي رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَمَا زَالَ يُنَاجِيهِ حَتَّى نَامَ أَصْحَابُهُ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى. [ر: ٦١٢]

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد دا دې چه د ضرورت په وخت په پټه باندې ډیر وخت خبرې هم کیدې شی، د قرآن کریم په سورة مجادلة کښې دی ﴿ واذ هم نجوی ﴾ نجوی

مصدر دې. د مصدر حمل په ذات باندې مبالغة کیدې شي. مقصد دا دې چه هغوی خپل مینځ کښې په کثرت سره پټې خبرې کوی.
په روایت کښې دی چه یو سړی د رسول اللهﷺ سره ډیر وخته پورې پټې خبرې کولې. شارحینو لیکلې دی چه د دې سړی نوم معلوم نه شو.[1]

۴۹: باب لَا تُتْرَكُ النَّارُ فِي الْبَيْتِ عِنْدَ النَّوْمِ

[۵۹۳۵][2] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ».
سالم د خپل پلار (عبدالله بن عمرؓ) نه او هغوی د رسول اللهﷺ نه روایت کوی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل: چه کله تاسو اوده کیږئ نو په خپلو کورونو کښې اور مه پریږدئ

[۵۹۳۶][3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضى الله عنه - قَالَ احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ، فَحُدِّثَ بِشَأْنِهِمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّ هَذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ، فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ».
د سیدنا ابوموسی اشعریؓ نه روایت دې چه په مدینه منوره کښې یو کور. د شپې د ټول کور دخلقو سره اوسوزیدل. دهغه خلقو واقعه چه د رسول اللهﷺ مخکښې بیان کړې شوه نو هغوی اوفرمائیل: دا اور ستاسو دشمن دې په دې وجه چه کله تاسو اوده کیږئ نو دا مړکوئ

[۵۹۳۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ كَثِيرٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «خَمِّرُوا الآنِيَةَ وَأَجِيفُوا الأَبْوَابَ، وَأَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ، فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ رُبَّمَا جَرَّتِ الْفَتِيلَةَ فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ الْبَيْتِ». [ر: ۳۱۰۶]
په دې باب کښې دا خبره بیان کړې شوې ده چه د اوده کیدو په وخت په کور کښې اور نه دی پریخودل پکار ځکه چه ډیر کرته هغه خور شی او نقصان پیدا شی په باب کښې په دویم حدیث کښې دی چه دا اور ستاسو دشمن دې. امام ابن العربیؒ په شرح د ترمذی کښې فرمائی: (معنی کون النار عدوا لنا انها تنافی ابداننا واموالنا منافاة العدو، وان کانت لنا بها منفعة لکن لا

---

[1]) فتح الباری فی الاذان، باب الامام تعرض له الحاجة بعد الاقامة ۱۶۳/۲

[2]) الحدیث اخرجه مسلم فی کتاب الاشربة، باب الامر بتغطیة الاناء، وایکاء السقاء (رقم الحدیث: ۲۰۱۵) واخرجه ابوداؤد فی کتاب الادب، باب فی اطفاء النار باللیل ۳۶۳/٤، (رقم الحدیث: ۵۲٤۶)، واخرجه الترمذی فی کتاب الاطعمة، باب ما جاء فی تخمیر الاناء، واطفاء السراج والنار عند المنام ۲۶۳/٤، (رقم الحدیث: ۱۸۱۳) واخرجه ابن ماجة فی کتاب الادب، باب اطفاء النار عند المبیت (رقم الحدیث ۳۷۶۹)

[3]) (۵۹۳۶) الحدیث اخرجه مسلم فی کتاب الاشربة، باب الامر بتغطیة الاناء، وایکاء السقاء (رقم الحدیث: ۲۱۰۶) واخرجه ابن ماجة فی کتاب الادب، باب اطفاء النار عند المبیت ۱۲۳۹/۲ (رقم الحدیث ۱۷۷۰)

يحصل لنا منها الا بواسطة ﴾ يعنى په اور كښې اګر چه فائده هم ده خو براه راست چونكه هغه د انسان مال او بدن لره سيزى. په دې وجه باندې په هغه د دشمن اطلاق اوكړې شو [1]
د باب په دريم حديث كښې دى «د اوده كيدو نه مخكښې، لوښى پټ كړئ. دروازې بندې كړئ. ډيوې مړې كړئ. ځكه چه ډير كرته مږه باتئ په راښكلو يوسى او د كور خلق او سيزى
﴿اجيفوا﴾: بند كړئ.

د فويسقة مصداق او وجه تسمية: د ﴿فويسقة﴾ نه مراد مږه ده. د طحاوى په روايت كښې دى چه د سيدنا ابو سعيد خدرى رضي الله عنه نه د دې د وجې تپوس اوكړې شو چه مږې ته ﴿فويسقة﴾ ولې وئيلې شى؟ هغوى اوفرمائيل: رسول الله ﷺ يوه شپه ويښ وو. مږه راغله او باتئ ئې راښكله چه كور لره او سيزى. رسول الله ﷺ اودريدلو او هغه ئې قتل كړه او د هغې وژل ئې د محرم او غير محرم ټولو دپاره جائز كړل [2]

فائده: په اور كښې دننه الله پاک حركت، حرارت، خشكى، لطافت او رڼړا پنځه صفتونه پيدا فرمائيلې دى. د حركت د وجې نه هغه ايشول كوى. د حرارت د وجې نه ګرمول كوى. د خشكئ د وجې نه اوچول كوى. د لطافت د وجې نه په انسانى بدن كښې داخليږى او د رڼړا د وجې نه خوا كښې ځيزونه روښانه كوى. دا د انسان دپاره مضر هم دې او مفيد هم [3]

۵۰: باب إِغْلَاقِ الأَبْوَابِ بِاللَّيْلِ

۵۹۳۸| حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ أَبِي عَبَّادٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ بِاللَّيْلِ إِذَا رَقَدْتُمْ، وَغَلِّقُوا الأَبْوَابَ، وَأَوْكُوا الأَسْقِيَةَ، وَخَمِّرُوا الطَّعَامَ وَالشَّرَابَ». - قَالَ هَمَّامٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ - (وَلَوْ بِعُودٍ يَعْرِضُه)[ر: ۳۱۰۶]
د سيدنا جابر رضي الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ فرمائى چه د شپې كله تاسو اوده كيږئ نو ډيوې مړې كوئ، دروازې بندوئ، د مشكو خولۀ تړئ او د څكلو ځيزونه پټوئ.

او د همام بيان دې چه زما خيال دې، چه رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائيل ﴿ولوبعود﴾ يعنى اګر كه په يو لرګى سره ولې نه وى.
د شپې دروازې بندولو سره اوده كيدل پكار دى.
﴿وَأَوْكُوا الأَسْقِيَةَ﴾: يعنى مشكونه په څه اوتړئ.
قوله: ﴿قَالَ هَمَّامٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَلَوْ بِعُودٍ﴾: همام بن يحيى رحمه الله فرمائى چه زما شيخ امام عطاء رحمه الله د ﴿ولوبعود﴾ اضافه هم كړې وه. يعنى د خوراک څكاک ځيزونه پټ كړئ اګر

---
[1] فتح البارى ۱۰۳/۱۱، عمدة القارى ۲۷۰/۲۲
[2] شرح معانى الآثار، كتاب مناسک الحج، باب ما يقتل المحرم من الدواب ۴۱۱/۱
[3] ارشاد السارى ۲۹۶/۱۳، ۲۹۷

چه په یو لړکی سره وی.

۵۱: باب الختان بعد الكبر ونتف الإبط

[۵۹۴۱] (۱) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ، وَالِاسْتِحْدَادُ، وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَقَصُّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ». [ر: ۵۵۵۲]

[۵۹۴۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ بَعْدَ ثَمَانِينَ سَنَةً، وَاخْتَتَنَ بِالْقَدُومِ». مُخَفَّفَةً.

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ وَقَالَ «بِالْقَدُّومِ».

[۵۹۴۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَخْبَرَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ مِثْلُ مَنْ أَنْتَ حِينَ قُبِضَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ أَنَا يَوْمَئِذٍ مَخْتُونٌ. قَالَ وَكَانُوا لَا يَخْتِنُونَ الرَّجُلَ حَتَّى يُدْرِكَ.

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د ختنة اهمیت لره بیانول غواړی. مقصد دا دې چه سنت په ابتدائی عمر کښې کول پکار دی. خو که د چا سنت نه وی شوې نو د غټیدو نه پس هم کول پکار دی، د څه نه چه د دې اهمیت معلومیږی لکه چه په روایت الباب کښې دی چه سیدنا ابراهیم علیه السلام د اتیا کالو نه پس ختنة کړې وه.

د ختنې (سنت کولو) حکم: ختنة د امام شافعی او امام احمد رحمهما الله په نزد واجب ده. (۲) د بعض مالکیانو هم دا مسلک دې. (۳) او د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم یو روایت د وجوب منقول دې. (۴)

دامام مالک رحمه الله د مشهور روایت او د احناف حضراتو رحمهم الله په نزد ختنه (سنت) مسنون دې. (۵)

ونتف الابط: د ترخونو په ویښتو کښې سنت طریقه دا ده چه هغه د ویخ نه ویستلې شی او خرئیل ئې هم جائز دی، که په لاس باندې راویستلو سره چاته تکلیف وی نو هغه حلق هم

---

(۱) (۵۹٤۱) الحديث اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الاستئذان فی هذا الباب (رقم الحدیث: ۶۳۰۰) والحدیث من افراده، انظر: (عمدة القاری ۲۲/۲۲۳)

(۲) ردالمختار، کتاب الختنی، مسائل شتی: ۵/۵۳۰، والمغنی لابن قدامة، باب ما تکون الطهارة من الماء: ۶۳/۱

(۳) اوجز المسالک ۱۶/۲۶۹

(۴) فتح الباری ۱۰/٤۱۹

(۵) رد المختار، کتاب الختنی، مسائل شتی: ۵/۵۳۰، والمنتقی للباجی کتاب: ۷/۲۳۲

کولې شی (۱)

قوله: اختتن ابراهیم بعد ثمانین سنة : په موطاء کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه یو موقوف روایت موجود دې. په هغې کښې دی چه سیدنا ابراهیم علیه السلام د ټولو نه اول ختنة کړې وه. هغه وخت د هغوی عمر شپږ شلې کاله وو. (۲)

خو اکثر او مشهور روایات د اتیا کالو دی، حافظ ابن حجر رحمه الله په دواړه قسم روایاتو کښې تطبیق کړې دې چه اتیا کاله د خپل قوم نه د جدا کیدو د وخت نه او شپږ شلې کاله د ولادت د مودې د وخت نه (۳)

قوله: واختتن بالقدوم: ﴿قدوم﴾ د دال په تخفیف سره د آله نوم هم دې او د یو کلی نوم هم دې. کوم چه د شام ښهر حلب ته نزدې واقع دې.

او یو روایت ﴿قدوم﴾ د دال د تشدید سره دې. مهلب فرمائی چه په تشدي سره د ځائې نوم دې او د دال په تخفیف سره د آلې نوم دې. (۴)

یعنی سیدنا ابراهیم علیه السلام په قدوم مقام کښې ختنة اوکړه یا قدوم آله استعمالول سره ئې ختنة اوکړه.

په یو روایت کښې د ﴿قدوم﴾ تفسیر په تبر سره کړې شوې دې. (۵)

د باب په آخری روایت کښې دی چه د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه تپوس اوکړې شو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت هغه د کوم عمر د سړی په شان وو؟ د ابن عباس رضی الله عنهما څه عمر وو، هغوی جواب ورکړو چه هغه وخت زما ختنة شوې وه. راوی وائی چه خلقو به د بلوغ نه مخکښې ختنة نه کوله ګویا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما بالغ وو

د ختنه سنت، کولو عمر ختنه په کوم عمر کښې کول پکار دی. په دې کښې اختلاف دې.

په در مختار کښې دی ﴿وقته غیر معلوم﴾ یعنی د دې هیڅ وخت نه دې معلوم (۶) د امام ابوحنیفه او حضرات صاحبین رحمهم الله نه هم هیڅ وخت نه دې نقل شوې. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی ﴿لاعلم لی بوقته﴾ یعنی ماته د دې وخت نه دې معلوم (۷)

---

(۱) المغنی لابن قدامة، باب ما تکون الطهارة من الماء ۶۴/۱

(۲) وتعقبه الشیخ محمد زکریا الکاندهلوی فی اوجز المسالک بان ما حکی الحفاظ من روایة الموطاء لیست ههنا فی النسخ المصریة، ولا الهندیة، کتاب صفة النبی صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة : ۲۸۳/۱۶

(۳) فتح الباری : ۱۰۷/۱۱

(۴) فتح الباری : ۱۰۷/۱۱

(۵) فتح الباری : ۱۰۷/۱۱، ارشاد الساری ۲۹۸/۱۳

(۶) الدر المختار، کتاب الخنثی، مسائل شتی، ۵۳۰/۵

(۷) قال فی الدر المختار : وقته غیر معلوم، وقیل : سبع سنین. کذا فی الملتقی، وقیل: عشر، وقیل: اقصاه اثنا عشر سنة، وقیل: العبرة بطاقته. وهو الاشبه. کتاب الخنثی، مسائل شتی، ۵۳۰/۵، والبحر الرائق، مسائل شتی: ۴۵۸/۸.

په البحر الرائق کښې دی چه د يو قول مطابق د دې اول وخت اووهٔ کاله او انتهائی وخت دولس کاله دې او په يو قول کښې انتهائی وخت لس کاله دې.[1]

يو قول دا هم دې چه د ولادة په اووهٔ ورځ باندې ختنه کول مستحب دی، خو ابن المنذر رحمه الله د امام مالک رحمه الله نه د دې کراهت نقل کړې دې، هغوی فرمائی دا د يهودو فعل دې.[2]

د باب د کتاب الاستيذان سره مناسبت : د ختان مناسبت بيانولو سره علامه کرمانی رحمه الله ليکی : «ان الختان يستدعی الاجتماع فی المنازل غالبا»

يعنی د ختنې په وخت چونکه عموما خلق په کورونو کښې جمع وی. د دې مناسبت د وجې نه ئې دا په کتاب الاستيذان کښې ذکر کړو. چونکه چرته خلق جمع کيږی هلته به د اجازت اخستلو ضرورت وی.[3]

۵۲: باب كُلُّ لَهْوٍ بَاطِلٌ إِذَا شَغَلَهُ عَنْ طَاعَةِ اللَّهِ. وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ.

وَقَوْلُهُ تَعَالَى: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ. لقمان: ۶

[۵۹۴۲] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ حَلَفَ مِنْكُمْ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ بِاللاَّتِ وَالْعُزَّى. فَلْيَقُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ. فَلْيَتَصَدَّقْ». [ر: ۴۵۷۹]

د ترجمة الباب مقصد : امام ابوداؤد او امام احمد رحمهما الله د سيدنا عقبة بن عامر رضی الله عنه نه يو مرفوع روايت نقل کړې دې، د هغې الفاظ دی : «كُلُّ مَا يَلْهُو بِهِ الْمَرْءُ الْمُسْلِمُ بَاطِلٌ إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِهِ، وَتَأْدِيبَهُ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتَهُ أَهْلَهُ»[4] چونکه دا روايت د امام بخاری رحمه الله په شرط نه وو، په دې وجه ئې هغه په ترجمة الباب کښې ذکر کړو، حاصل دا دې چه هر هغه لوبه کومه چه انسان د الله پاک د طاعت او د نورو ذمه داريانو نه غافل کړی، هغه جائز نه ده.

د ترجمة الباب دويم جزء دې «وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ» دا هم د حديث مرفوع حصه ده کوم چه په کتاب الادب کښې تير شوې دې، په دې کښې دی «وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ. فَلْيَتَصَدَّقْ»

---

[1] البحر الرائق، مسائل شتی : ۴۵۸/۸.

[2] اوجز المسالک، کتاب صفة النبی صلی الله عليه وسلم، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة ۲۷۳/۱۶

[3] ارشاد الساری ۳۰/۱۳، هم دغه شان اوګورئ: شرح الکرمانی : ۱۲۰/۲۲

[4] سنن الترمذی، کتاب فضائل الجهاد، باب ما جاء فی فضل الرمی فی سبيل الله : ۱۷۴/۴، رقم الحديث : ۱۶۳۸، ورواه ابوداؤد فی سننه بلفظ : ليس من اللهو الا ثلاث : تاديب الرجل فرسه، وملاعبته اهله، ورميه بقوسه ونبله، کتاب الجهاد، باب الرمی : ۱۳/۳، رقم الحديث ۲۵۱۳

د دې تشریح په کشف الباری، کتاب التفسیر کښې تیره شوې ده.[۱]

د ترجمة الباب دریم جزء د قرآن کریم آیت کریمه دې ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ﴾

په دې آیت کریمه کښې د ﴿ لهو الحديث ﴾ تفسیر امام حسن بصری رحمه الله کړې دې. ﴿ كل ما شغلك عن عبادة الله وذكره من السمر والاضاحيك والخرافات والغناء ونحوها ﴾ یعنی د لهو الحدیث نه هر هغه څیز مراد دې، چه د الله پاک د فرمانبردائ نه لرې کونکې وی. مثلا فضول قصې بیانول، توقې ټقالې کول، واهیات مشغلې او سندرې وغیره.

د حدیث د باب او د باب د کتاب سره مناسبت: د حدیث د باب سره مناسبت او د ترجمة الباب د کتاب الاستیذان سره مناسبت بیانولو باندې علامه قسطلانی رحمه الله لیکی:

﴿ ان الداعي الى القمار لا ينبغي ان يؤذن له في دخول المنزل، ثم لكونه يتضمن اجتماع الناس، ومناسبة بقية حديث الباب للترجمة ان الحلف باللات لهو يشغل عن الحق بالخلق فهو باطل ﴾[۲]

یعنی جوارئ ته دعوت ورکونکی لره کور ته د داخلیدو اجازت نه دی ورکول پکار. بیا جواری د خلقو اجتماع لره هم متضمن ده. او د حدیث الباب د ترجمة الباب سره مناسبت دا دې چه د لات قسم خوړل داسې لهو ده چه د الله پاک نه غافل کولو سره د مخلوق طرف ته متوجه کونکې ده. لهذا دا باطل ده.

۵۳: باب مَا جَاءَ فِي الْبِنَاءِ

وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - «مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ إِذَا تَطَاوَلَ رِعَاءُ الْبَهْمِ فِي الْبُنْيَانِ». [ر: ۵۰]

د ترجمة الباب غرض: په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د تعمیراتو متعلق حکم بیان کړې دې چه بغیر د ضرورت نه پورته او لوئې کورونه جوړول غوره او جائز نه دی.

په استدلال کښې ئې د ابوهریره رضی الله عنه د حدیث یو حصه دلته تعلیقا ذکر کړې ده ﴿ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ إِذَا تَطَاوَلَ رِعَاءُ الْبَهْمِ فِي الْبُنْيَانِ ﴾ یعنی د قیامت د علاماتو یو علامت به دا وی چه شپونکیان به لوئې تعمیرات کولو سره خپل مینځ کښې فخر کوی، مقصد دا دې چه د ذلیل او رذیل خلقو په لاسونو کښې به دولت راډیر شی، او بغیر د ضرورت نه به لوئې لوئې کورونه جوړولو سره فخر او تقابل کوی.

﴿ رعاء ﴾ (د راء په کسرې سره) د راعی جمع ده په معنی د شپونکی. ﴿ البهم ﴾ (د باء په فتحې او د هاء په سکون سره) د ﴿ بهيمة ﴾ جمع ده، د ګډو بیزو بچی ته وائی او یا دا د ﴿ بهم ﴾ (د باء

---

[۱] کشف الباری، کتاب التفسیر، باب: افرایتم اللات والعزی ۶۳۹.
[۲] ارشاد الساری ۳۱/۱۳

په ضمې او د هاء په سکون سره، د ﴿ ابهم ﴾ جمع ده علامه عینی رحمه الله د دې په تشریح کښې فرمائی ﴿ الابهم : هو الذی یخلط لونه شئ سوی لونه ﴾ [۱] یعنی : هغه څیز چه د هغه د رنګ سره بل څیز ګډ شوې وی او د هغه رنګ د دهٔ د رنګ نه مختلف وی. بهر حال د ﴿ رعاة البهم ﴾ نه مراد د ګډو بیزو شپونکیان دی

د بې فائدې اوچتو تعمیراتو مذمت : امام بخاری رحمه الله د حدیث دا حصه د اوچت او پورته بې فائدې تعمیراتو په مذمت کښې پیش کړې ده چه داسې کول د قیامت علامت دې. د دې په مذمت کښې بل یو صریح حدیث هم راغلې دې

د سیدنا خباب رضی الله عنه مرفوع روایت دې : ﴿ یُؤجَرُ الرَّجُلُ فِی نَفَقَتِهِ کُلِّهَا إِلاَّ التُّرَابَ ﴾ یعنی انسان ته د هغه په پوره نفقه او خرچ باندې اجر ورکولې شی. سوا د خاورې نه، (تعمیرات کولو نه) [۲]

په یو روایت کښې دی ﴿ إِذَا أَرَادَ بِعَبْدٍ هَوَانًا أَنْفَقَ مَالَهُ فِی الْبُنْیَانِ ﴾ [۳]

یعنی الله پاک چه کله د یو انسان سره د بدئ معامله کول غواړی نو هغه خپل مال په تعمیراتو کښې خرچ کول شروع کړی.

هم دغه شان ابن ابی الدنیا د عماره بن عامر نه یو موقوف روایت نقل کړې دې. ﴿واذا رفع الرجل بناء، فوق سبعة اذرع، نودی، یا فاسق الی این ﴾ [۴] یعنی کله چه څوک د اووهٔ ذراع نه اوچت کور جوړوی نو هغه ته آواز کولې شی چه اې فاسقه! ته چرته روان ئې؟

۵۹۴۳| [۵] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ - هُوَ ابْنُ سَعِيدٍ - عَنْ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ رَأَيْتُنِي مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بَنَيْتُ بِيَدِي بَيْتًا، يُكِنُّنِي مِنَ الْمَطَرِ، وَيُظِلُّنِي مِنَ الشَّمْسِ، مَا أَعَانَنِي عَلَيْهِ أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللَّهِ.

---

[۱] عمدة القاری ۲۷۱/۲۲

[۲] قال الامام انور شاه الکاشمیری رحمه الله تعالی : واعلم أنّک لا تَجدُ الشرعَ إلاَّ وهو يَذمُّ البناءَ. حتّی أنّه ذَمّ تزخرفَ المساجد أيضاً. وجعل التباهی فيها من أمَارات الساعة. وذلک هو منصبُه. فإنه لا يقولُ لنا إلاَّ نُصْحاً نصيحاً. ولا يبيّنُ لنا إلاَّ حقّاً حقيقاً. فسدَّ علينا سُبُلَ الشياطين من كل جانب. فلو كان وسَّع فيه من أوّل الأمر. لبلغ اليوم حالهم إلی حدّ لا يُقَاس. فإنّهم إذا فعلوا بعد هذا التضييق ما فعلوا. فلو كان الأمرُ موسّعاً مصرّحاً. لرأيتَ الحالَ ما كان. فلذا لم يَردْ الشرعُ فيه بالتوسيع. إلاَّ أنه يجب علينا أن لا نَهْدرَ المصالحَ الشرعيةَ. فقد رأينا اليومَ أن المساجدَ لو كانت علی حالها فی السلف. ونحن فی دار الكفر. لانهدَمت ألوفٌ منها. ولَمّا وجدتَ لها اليومَ رَسْماً ولا اسماً. فالأنسبُ لنا اليومَ أن نُجَصّصَ المساجدَ. لتكونَ شعائر الله هی العليا. ولا تندرسُ بمرور الأيام. فَيَغْصبها الكفّارُ. ويَجْعَلُوها نَسْياً مَنْسِيّاً. والله تعالی أعلم. فيض الباری. كتاب الاستئذان. باب ما جاء فی البناء : ٤١٤/٤.

[۳] فتح الباری ۱۱۱/۱۱... (اخرجناه من الاوسط لان ابن حجر قد اخطاء فی نقله عنه)

[٤] فتح الباری ۱۱۱/۱۱

[۵] الحديث اخرجه ابن ماجة فی كتاب الزهد. باب فی البناء والخراب : ۱٦۹۳/۲ (رقم الحديث : ٤١٦٢)

سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه ما د رسول الله ﷺ په زمانه كښې خپله په خپل لاس باندې يو كور جوړ كړې وو چه ماته به ئې د باران نه پناه راكوله او د ګرمئ نه به ئې سورې راكولو. د هغې په جوړولو كښې د الله پاك په مخلوق كښې چا هم زما مدد نه دې كړې. په دې كښې اشاره وه چه هغه كور معمولى او وړوكې شان وو

[۵۹۴۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَاللَّهِ مَا وَضَعْتُ لَبِنَةً عَلَى لَبِنَةٍ، وَلاَ غَرَسْتُ نَخْلَةً، مُنْذُ قُبِضَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَالَ سُفْيَانُ فَذَكَرْتُهُ لِبَعْضِ أَهْلِهِ قَالَ وَاللَّهِ لَقَدْ بَنَى بَيْتًا. قَالَ سُفْيَانُ قُلْتُ فَلَعَلَّهُ قَالَ قَبْلَ أَنْ يَبْنِيَ.

سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس نه خو ما يوه ښخته په بلې ښخته ايخې ده او نه مې يو بوټې لګولې دې.

سفيان رحمه الله فرمائى چه ما دا حديث د هغوى بعض د كور خلقو ته بيان كړو نو هغوى اووې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما خو كور جوړ كړې دې .... سفيان فرمائى چه جواب وركړو چه كيدې شى د كور د جوړولو نه مخكښې ئې داسې وئيلې وى.

◈◈◈◈◈◈◈

د كتاب الاستيذان په ابوابو باندې يو نظر: امام بخارى رحمه الله په كتاب الاستيذان كښې لاندې ذكر شوې درې پنځوس (۵۳) ابواب قائم فرمائيلې دى!

۱: باب بدء السلام ۲: باب سورة النور (الايات ۲۷-۲۹)

۳: باب السلام اسم من اسماء الله تعالىٰ ۴: باب تسليم القليل على الكثير

۵: باب تسليم الراكب على الماشى ۶: باب تسليم الماشى على القاعد

۷: باب تسليم الصغير على الكبير ۸: باب افشاء السلام

۹: باب السلام للمعرفة وغير المعرفة ۱۰: باب اية الحجاب

۱۱: باب الاستئذان من اجل البصر ۱۲: باب زنا الجوارح دون الفرج

۱۳: باب التسليم والاستئذان ثلاثا ۱۴: باب اذا دعى الرجل فجاء هل يستاذن؟

۱۵: باب التسليم على الصبيان ۱۶: باب تسليم الرجال على النساء والنساء على الرجال

۱۷: باب اذا قال: من ذا؟ فقال: انا ۱۸: باب من رد فقال: عليك السلام

۱۹: باب اذا قال فلان يقرئك السلام

۲۰: باب التسليم فى مجلس فيه اخلاط من المسلمين والمشركين

۲۱: باب من لم یسلم علی من اقترف ذنبا ولم یرد سلامه حتی تتبین توبته والی متی تتبین توبة العاصی.

۲۲: باب کیف الرد علی أهل الذمة بالسلام

۲۳: باب من نظر فی کتاب من یحذر علی المسلمین لیستبین أمره

۲۴: باب کیف یکتب الکتاب إلی أهل الکتاب. ۲۵: باب بمن یبدأ فی الکتاب

۲۶: باب قول النبی صلی الله علیه وسلم قوموا إلی سیدکم ۲۷: باب المصافحة

۲۸: باب الاخذ بالیدین ۲۹: باب المعانقة وقول الرجل کیف اصبحت؟

۳۰: باب من اجاب لبیک وسعدیك ۳۱: باب لا یقیم الرجل الرجل من مجلسه

۳۲: باب سورة المجادلة (الایة ۱۱) ۳۳: باب من قام من مجلسه او بیته

۳۴: باب احتباء بالید وهو القرفصاء ۳۵: باب من اتکاء بین یدی اصحابه

۳۶: باب من اسرع فی مشیه لحاجة او قصد ۳۷: باب السریر

۳۸: باب من القی له وسادة ۳۹: باب القائلة بعد الجمعة

۴۰: باب القائلة فی المسجد ۴۱: باب من زار قوما فقال عندهم

۴۲: باب الجلوس کیفما تیسر ۴۳: باب من ناجی بین یدی الناس

۴۴: باب الاستلقاء ۴۵: باب لا یتناجی اثنان دون الثالث

۴۶: باب حفظ السر ۴۷: باب اذا کانوا اکثر من ثلاثة فلا باس بالمسارة

۴۸: باب طول النجوی ۴۹: باب لا تترك النار فی البیت عند النوم

۵۰: باب اغلاق الابواب باللیل ۵۱: باب الختان بعد الکبر ونتف الابط

۵۲: باب کل لهو باطل اذا شغله عن طاعة الله ۵۳: باب ما جاء فی البناء

❋❋❋❋

په دې کښې بعض ابواب خو داسې دی چه د هغوی د استئذان سره تعلق واضح نه دې. لکه چه د امام بخاری رحمه الله صنیع دې چه هغوی په معمولی مناسبتونو سره هم ابواب او احادیث راوړی او ډیر کرته هغه نسبت ډیر خفی او دقیق وی. مثلا آخر باب د تعمیراتو متعلق دې، د دې باب په ظاهر کښې د استئذان سره هیڅ تعلق نشته ځکه چه په دې باب کښې د بې فائدې اوچتو کړې شوو ابادو کراهت بیان کړې شوې دې خو چونکه استئذان، چاته د تلو او د داخلیدو اجازت طلب کولو ته وائی او د سړی د ملاقات دپاره یو کور یا آبادئ ته تلل وی. په دې مناسبت سره ئې د آبادئ متعلق باب هم امام بخاری رحمه الله په کتاب الاستئذان کښې ذکر اوفرمائیلو.

د دې نه مخکښې یو باب د شپې د دروازو د بندولو سره متعلق دې او په هغې کښې دا بیان کړې شوې دی چه د شپې دروازې بندول پکار دی.... چونکه په استئذان کښې انسان د

دروازې خوا له ورځی. په دې مناسبت سره امام د ﴿ غلق الابواب ﴾ باب د کتاب الاستئذان د لاندې ذکر اوفرمائیلو.

هم دغه شان باب اية الحجاب امام بخاری رحمه الله قائم فرمائیلې دې، د استئذان د مشروعیت ډیر زیات مصالح دی، په هغې کښې یو مصلحت دا هم دې چه بې پردګی نه وی او په یو پردی سړی او غیر محرم باندې نظر پرې نه اوځی، په دې مناسبت سره د حجاب په آیت باندې مستقل باب قائمولو سره امام بخاری رحمه الله د کتاب الاستئذان د لاندې ذکر فرمائیلې دې.

هم دغه شان په کتاب الاستئذان کښې امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دې باب الختان بعد الکبرونتف الابط، په ظاهر کښې د ختنان مناسبت د استئذان سره نشته، خو چونکه د ختنة په موقع باندې عموما خلق په کورونو کښې جمع کیږی او د استئذان ضرورت وی. په دې وجه امام بخاری رحمه الله په کتاب الاستئذن کښې ذکر اوفرمائیلو. والله اعلم

۸۳: کتاب الدعوات

(الاحادیث : ۵۹۴۵-۶۰۴۸)

کتاب الدعوات په ۶۹ ..... ابواب او ۱۴۵ ..... احادیثو مرفوعه باندې مشتمل دې، چه په هغې کښې شوارلس احادیث معلق دی ... او باقی ۱۰۴ احادیث موصول دی. چه په هغې کښې ۱۲۱ ..... احادیث مکرره دی او باقی ۲۴ ..... احادیث غیر مکرر دی، یعنی کتاب الدعوات یا د دې نه مخکښې امام بخاری رحمه الله هغه مکرر نه دی ذکر کړی، په دې کښې د اتۀ (۸) احادیثو نه علاوه د باقی احادیثو تخریج امام مسلم رحمه الله هم کړې دې او هغه متفق علیه دی ... په کتاب الدعوات کښې امام بخاری د حضرات صحابه کرامو او تابعینو رضی الله عنهم نهه آثار ذکر فرمائیلې دی.

دعا او د هغې اداب

دعا د مومن وسله. د عبادت او بندګئ نچوړ. د درمند زړه علاج او د بې قرار زړه اسره ده. چه کله ټولې ظاهرى أسرې بيکاره شى. د توقعاتو او اميدونو دروازې بندې شى. د خواهش شين ښاخ. د ارمان د بې رنګه ازغى صورت خپل کړى. هر طرف ته تيارۀ خوره شى. د نااميدئ په حالت کښې د مومن بنده سره صرف يو د دعا ډيوه پاتې کيږى. هغه لاس اوچتوى. د رب دربار ته ځى په عاجزئ سره فريادونه کوى د اسمان نه د رحم راوړلو او د ورکړې موندلو دپاره د هغه د محبت ژړاګانې شروع شى. د هغه اهونه اوچت شى. او د هغه اوښکې روانې او د هغه فريادى آوازونه اوچتيږى... د هغه په زړه کښې د خپلو بدعملو. د شيطان د دهوکو. او د نفس د زخمونو درد تازه شى. د هغه په زړه کښې د دروغژنو خدايانو نه د اميدونو کم عقل توب. د زمانې بې وفائى. د لارې تکليفونه. د منزل د مشکلاتو او د ژوند د شکايتونو درد راويخ شى. د جذباتو په سيلاب کښې د هغه اينختونکې ژبه (ربى، ربى) اې زما ربه! اې زما ربه، نه مخکښې نه ځى. د احساساتو بيړه د الفاظو د شکال اختيارولو په ځائې د سلګو رخ اختيار کړى او د سرکشئ تيزې چپې. د پښيمانتيا د ساحل سره لګيدو باندې فناء شى. هغه ويريږى هم او غواړى هم. رپيږى هم او آواز هم کوى. هغه ته ويره هم وى او اميد هم چه د ويرې او اميد دا يوځائې کيفيت د ايمان نخښه ده. د هغه يقين پيدا شى چه د دې در په سوالګر جوړيدو کښې د قسمت مالدارى او د بې نوايئ نه خلاصى ده. د ذلت هم دا ادا د بندګئ معراج. د بنده او خالق ترمينځه عجز ونياز او د نصرت خداوندې د وصول کولو موثر ذريعه ده. حديث قدسى دې الله پاک وائى زه د ماتو زړونو سره يم[1]) زړه ماتيږى. خواهش شکست خورى او د تمنا آئينه زره زره کيدو سره خوريږى نو د عجز او بندګئ جوهر پرقيږى:

تو بچا بچا کے نہ رکھ اسے تیرا آئینہ ہے وہ آئینہ
کہ شکستہ ہو تو عزیز تر ہے نگاہِ آئینہ ساز میں

هسې خو هر سړې په خپله ژبه کښې د خپل فهم او ضرورت مطابق د الله پاک د ذات نه دعاګانې غواړى خو د احاديث مبارکه د ذخيرې نه چه کومې دعاګانې منقول دى. د هغې فصاحت او بلاغت. د هغې سلاست او روانى. د هغې جامعيت او شيرنى او د هغې برابروالى او روغ والى ته کتلو سره بيشکه دا وئيلې کيدې شى چه د آسمانى کتابونو او صحيفو نه علاوه د دې دومره ښکلى کلام هيڅ مثال نشته. د دنيا هيڅ خير داسې نه دې

---

[1]) ولفظه (انا عند المنكسرة قلوبهم من اجلى) ذكره السخاوى فى المقاصد الحسنة ص ١٠٦.قال العجلونى : قال فى المقاصد ذكره فى البداية للغزالى . وقال القارى عقبه : ولا يخفى أن الكلام فى هذا المقام لم يبلغ الغاية . قلت وتمامه " وأنا عند المندرسة قلوبهم لأجلى " . ولا أصل لهما فى المرفوع . انتهى. كشف الخفاء (٢٠٣/١)، رقم ٦١٤

کوم چه په هغې کښې نه وی غوښتلې شوې. هیڅ شر داسې نشته چه د هغې نه پکښې پناه نه وی غوښتلې شوې. په هغه دعاګانو کښې د هر ضرورت او قسم خیر احاطه کړې شوې ده. د هر قسم پریشانئ نه د نجات دپاره وظیفه ښودلې شوې ده. د هر مقام مناسبت سره د ذکر تلقین کړې شوې دې. دا دومره موثر او بابرکته دعاګانې دی چه که انسان د هغې اهتمام کوی نو د هغوی د شپې او ورځې ټول ساعتونه د الله پاک د ذکر او مناجات نه معطر معطر شی په قول د مولانا ابوالحسن ندوی رحمه الله:

دا دعاګانې مستقل معجزات او د نبوت دلائل دی. د دې الفاظ شهادت ورکوی چه صرف د یو پیغمبر د ژبې مبارکې نه راوتلې دی. په هغې کښې د نبوت نور دې. د پیغمبر یقین دې. د عهد کامل نیاز دې. د محبوب رب العالمین اعتماد او ناز دې. د فطرت نبوت معصومیت او سادګی ده. د دردمند او پریشانه زړه بې تکلفی او بې قراری ده. د صاحب عرض او حاجت مند اصرار او اضطرار هم دې او د بارګاه الوهیت ادب شناس احتیاط هم. د زړه زخم او د درد سړیکه هم ده او کارساز کارسازی او د زړه د آبادئ یقین او سرور هم.

لږ اوګورئ! د زبان رسالت نه په رپید رپیدو ادا شوې دا بلیغ دعاګانې په کوم عالم کښې وئیلې شوې دی او د رحمت په دریاب کښې هغې څومره بدلون پیدا کړې دې:

﴿ اللّٰهُمَّ إِنَّكَ تَسْمَعُ كَلَامِي وَتَرَى مَكَانِي وَتَعْلَمُ سِرِّي وَعَلَانِيَتِي لَا يَخْفَى عَلَيْكَ شَيْءٌ مِنْ أَمْرِي أَنَا الْبَائِسُ الْفَقِيرُ الْمُسْتَغِيثُ الْمُسْتَجِيرُ الْوَجِلُ الْمُشْفِقُ الْمُقِرُّ الْمُعْتَرِفُ بِذَنْبِهِ أَسْأَلُكَ مَسْأَلَةَ الْمِسْكِينِ وَأَبْتَهِلُ إِلَيْكَ ابْتِهَالَ الْمُذْنِبِ الذَّلِيلِ وَأَدْعُوكَ دُعَاءَ الْخَائِفِ الضَّرِيرِ مَنْ خَشَعَتْ لَكَ رَقَبَتُهُ وَفَاضَتْ لَكَ عَيْنَاهُ وَذَلَّ لَكَ جَسَدُهُ وَرَغِمَ أَنْفُهُ لَكَ اللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي بِدُعَائِكَ شَقِيًّا وَكُنْ بِي رَءُوفًا رَحِيمًا، يا ارحم الراحمين، يا ارحم الراحمين، يا ارحم الراحمين ﴾ (١)

اې الله: ته زما آواز اورې! او زما مقام وینې. زما په باطن او ظاهر باندې عالم ئې. زما هیڅ معامله ستا نه پټه نه ده. زه مصیبت زده. محتاج. فریادی. پناه طلب کونکې. په ویره او رپیدو سره د خپلو ګناهونو اعتراف کونکې او اقراری، د مسکین په شان ستا نه غوښتنه کوم او د ګناه ګار عاجز په شان ستا نه دعا غواړم، د هغه غمژن، په لړزان سړی په شان دعا چه د هغه سټ ستا مخکښې ښکته شو. چه د هغه اوښکې ستا دپاره اوبهیدلې، چه د هغه بدن ستا دپاره ښکته شو او د چا پوزه چه ستا دپاره په خاورو ککړه شوه...... اې زما ربه! زما الله! ما د دې دعا نه مه محروم کوه ما سره د شفقت او کرم معامله اوکړه. اې ارحم الراحمین. اې ارحم الراحمین

چه کله د ایمان دا کیفیت. د عجز او بندګئ دې احساس او بې اعتدالیانو باندې د ندامت د دې جذباتو سره مومن بنده دعا کوی. د رب نه غواړی او د هغه په حضور کښې لاسونه حوروی. نو بیا د رحمت وریخ وریږی. د برکتونو تالې پرانستلې شی او د نصرت دروازې

(١) اخرجه الطبرانی فی المعجم الصغیر ص ١٤٤. اورده الهیثمی فی مجمع الزوائد ١٥٢/٣. وفی المجمع: یا خيرَ الْمَسْئُولِينَ وَيَا خَيْرَ الْمُعْطِينَ مكان یا ارحم الراحمین.

آزادیږی، د زړه بوجهـ سپکیږی او د باطن غبار په لرې کیدو محسوسیږی... بعض ناپوهو ته شکایت وی چه په دعاګانو باندې سترې شو، او قبلیږی نه... دا غلط فهمی ده، حقیقت دا دې چه په دې دربار کښې یو آواز هم فضول نه ځی، که د څه مصلحت د وجې نه په دنیا کښې یو دعا قبوله نه شی نو د آخرت دپاره ذخیره کولې شی یا د هغې په عوض کښې راتلونکې یو آفت ختم کړې شی او یا قبوله خو شی خو مصلحتا پکښې تاخیر اوکړې شی. [۱]

دعا صرف د لویو حاجتونو د حل کولو دپاره نسخه نه ده، بلکه د وړو وړو ضرورتونو. او لږو پریشانو دپاره هم، هم د دې رب د بارګاه طرف ته د رجوع کولو حکم ورکړې شوې دې. په حدیث کښې دی چه که د چا د پیزار تسمه ماته شی، د هغې دپاره هم د الله پاک نه دعا کول پکار دی. [۲]

اداب دعا: د قرآن او حدیث نه ماخوذ، د دعا څه آداب دی. چه د هغې رعایت اوکړې شی نو د دعا قبولیت یقینی شی او د هغې زر د قبلیدو امکانات روښانه شی، امام بخاری رحمه الله هم د کتاب الدعوات په مختلف بابونو کښې د هغه آدابو طرف ته اشاره فرمائیلې ده، دلته د هغه آدابو مختصر ذکر کولې شی.

① په اودس کښې دعا کول د دعا د آدابو نه دی، سیدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د دعا درخواست اوکړو نو رسول الله ﷺ اوبه راطلب کړې، اودس ئې اوکړو. او بیا ئې دواړه لاسونه اوچتولو سره دعا اوفرمائیله. [۳] د دې روایت نه یو ادب د دعا معلوم شو خو ظاهره ده چه دا هم هغه وخت ممکن دې چه کله د اودس دپاره وخت وی، چرته چه د اودس دپاره موقع ملاؤ نه شی، د هغې نه بغیر هم دعا کیدلې شی.

② قبلې ته مخ کولو سره دعا کول هم د دعا د آدابو نه دی، امام بخاری رحمه الله وړاندې مستقل باب قائم کړې دې، باب الدعاء مستقبل القبلة، په دې باب سره ئې هم دې طرف ته اشاره فرمائیلې ده. د رسول الله ﷺ نه په ډیرو احادیثو کښې د قبلې طرف ته مخ کولو سره د دعا ثبوت ملاویږی، د صحیح بخاری او صحیح مسلم په روایت کښې دی:

《 اسْتَقْبَلَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم الْكَعْبَةَ فَدَعَا عَلَى نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ 》 [۴] یعنی: رسول الله ﷺ قبلې طرف ته مخ مبارک اوګرځولو او د قریشو د یو جماعت خلاف ئې بددعا اوکړه.

---

[۱] لما رواه ابو سعید الخدری رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ، وَلاَ قَطِيعَةُ رَحِمٍ، إِلاَّ أَعْطَاهُ اللَّهُ بِهَا إِحْدَى ثَلاَثٍ: إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا قَالُوا: إِذًا نُكْثِرُ. قَالَ: اللَّهُ أَكْثَرُ. (الجامع لأحکام القرآن: ۳۲۰/۲) (اسناده جید)

[۲] لفظه عن انس رضی الله تعالی عنه: لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا حَتَّى يَسْأَلَ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ. (سنن الترمذی، کتاب الدعوات، باب یسال الحاجة وان صغرت)

[۳] صحیح البخاری، کتاب الدعوات باب الدعاء عند الوضوء رقم الحدیث ۱۳۸۳

[۴] صحیح البخاری کتاب المغازی،باب دعاء النبی صلی الله علیه وسلم علی کفارقریش،رقم الحدیث: ۳۹۶۰

③ په دعا کښې دننه لاس اوچتول هم د آداب نه دی، د صحیح بخاری روایت دې:
﴿ رَفَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَدَيْهِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ ﴾ [1]
یعنی رسول اللهﷺ دواړه لاسونه مبارک اوچت کړل او دعا ئې اوکړه: اې الله! زه د خالد بن ولید رضی الله عنه د عمل نه براءت کوم.
او په سنن ترمذی او سنن ابی داؤد کښې د سیدنا سلمان فارسی رضی الله عنه روایت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل:
﴿ إِنَّ اللَّهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحِي أَنْ يَرْفَعَ الْعَبْدُ يَدَيْهِ فَيَرُدَّهُمَا صِفْرًا ﴾ [2]
یعنی: د الله پاک ذات ډیر حیاء والا او سخی دې، چه کله بنده خپل دواړه لاسونه د هغه په دربار کښې اوچت کړی نو د هغې په خالی او محروم واپس کولو باندې هغه له حیاء ورځی.
امام بخاری رحمه الله په کتاب الدعوات کښې ﴿ باب رفع الایدی فی الدعا ﴾ قائم کولو سره، هم دا ادب ثابت کړې دې.
د لاس اوچتولو مسنون طریقه دا ده چه د دواړو لاسونو تلی پورته طرف ته وی. د سنن ابی داؤد په روایت کښې دی: ﴿ إِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَاسْأَلُوهُ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ، وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا ﴾ [3]
چه کله تاسو د الله پاک نه غواړئ نو د تلو دننه حصې مخامخ کولو سره غواړئ. لاسونو الټه کولو سره ترې مه غواړئ.
لاسونه دې د اوږو د برابرئ پورې اوچت کړې شی، د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت، امام ابوداؤد رحمه الله نقل فرمائیلې دې ﴿ الْمَسْأَلَةُ أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا ﴾ [4] (د دعا کولو په وخت دې لاسونه د اوږو برابر یا هغې ته نزدې اوچت کړې شی).
او په صحیح بخاری کښې د سیدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې هغوی فرمائی ﴿ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ: رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ ﴾ [5] (رسول اللهﷺ دعا اوفرمائیله نو هغوی خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او ما د هغوی د ترخونو سپین والې اولیدو)
سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: لاسونه دې ښه خوارهٔ کړې شی ﴿ وَالِابْتِهَالُ أَنْ تَمُدَّ يَدَيْكَ جَمِيعًا ﴾ [6] یعنی عاجزی او زاری دا ده چه ته خپل دواړه لاسونه خوارهٔ کړې.

---

[1]) صحیح البخاری، کتاب المغازی، باب بعث النبی صلی الله علیه وسلم خالد بن الولید الی بنی جذیمة، رقم الحدیث ۴۳۳۹
[2]) سنن الترمذی، کتاب الدعوات، باب بلاعنوان، (رقم الحدیث: ۳۵۵۶) ۵/۵۵۶، ۵۵۷، وسنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب الدعاء، (رقم الحدیث : ۱۴۸۸)، ۲/۷۸، واللفظ للترمذی.
[3]) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم الحدیث ۱۴۸۶) ۲/۷۸
[4]) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم الحدیث ۱۴۸۹) ۲/۷۸
[5]) صحیح البخاری، کتاب الدعوات، باب رفع الایدی فی الدعاء : ص ۱۶۰۲
[6]) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم الحدیث ۱۴۸۹) ۲/۷۹

④ د دعا نه مخکښې او د دعا په آخر کښې د الله پاک حمد او ثناء او درود شريف لوستل هم د دعاء د آدابو يو اهم ادب دې. په سنن ترمذى کښې، د سيدنا فضالة بن عبيد رضی الله عنه نه روايت دې. چه رسول الله ﷺ تشريف فرما وو، يو سړې داخل شو. مونځ ئې اوکړو او په دې الفاظو سره ئې دعا کوله ﴿ اللهم اغفرلي وارحمني ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل اې مونځ کونکيه! تا تندى اوکړه چه کله تاسو د مونځ کولو نه پس کينئ نو د الله پاک شايان شان حمد کوئ. درود شريف لولئ او بيا د الله پاک نه دعا کوئ د دې نه پس يو بل صاحب راغلو. هغوى د مونځ کولو نه پس د الله پاک حمد او ثناء بيان کړه، درود ئې اولوستلو نو رسول الله ﷺ هغه ته خطاب کولو سره اوفرمائيل ﴿ ايها المصلي ادع تجب ﴾ (اې مونځ کونکيه! دعا کوه ستاسو دعا به قبلولې شى) (١)

د الله پاک حمد و ثناء او په رسول الله ﷺ باندې درود ليږل د الله پاک په دربار کښې نه رد کيږى او د خبره د الله پاک د شان کريمى نه بعيد دې چه د دعا اول او آخر حصه قبوله کړى او په مينځ کښې د خپل بنده غوښتلې شوې حاجت دې رد کړى، په دې وجه د دعا په اول او آخر کښې د الله پاک حمد او ثناء او په رسول الله ﷺ باندې درود د دعا قبوليت لره يقينى کوى. (٢)

⑤ د دعا نه مخکښې، خپل عجز، خپلې کوتاهيانې او د خپلو گناهونو اعتراف هم، د دعا د آدابو نه دې. رسول الله ﷺ فرمائى:

﴿ إِنَّ اللهَ لَيَعْجَبُ مِنَ الْعَبْدِ إِذَا قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، قَالَ: عَبْدِي عَرَفَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ وَيُعَاقِبُ ﴾ (٣)

يعنى: الله پاک ته د خپل بنده دا ادا ډيره خوښه ده، چه کله هغه ﴿ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ﴾ وائى نو الله پاک فرمائى: زما بنده ته معلومه ده چه د هغه يو رب دې. چه هغه بخښنه کوى او سزا ورکوى.

⑥ دعا د زړه په دې يقين سره کول پکار دى چه هغه به د الله پاک په دربار کښې قبليږى او نه به شى رد کولې. سيدنا ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړې دې

---

(١) سنن الترمذی، (رقم الحديث ٣٤٨٦، ٢٨٢/٥، وسنن النسائی (رقم الحديث ١٢٨٤) : ٤٤/٣. ومسند الامام احمد ١٨/٦

(٢) قال السيوطی رحمه الله فی جلاء الافهام :

قال ابن القيم رحمه الله : فمفتاح الدعاء الصلاة على النبی كما أن مفتاح الصلاة الطهور.... ثم نقل عن احمد بن ابی الحوراء قال سمعت أبا سليمان الدارانی يقول من اراد أن يسأل الله حاجته فليبدأ بالصلاة على النبی وليسأل حاجته وليختم بالصلاة على النبی فإن الصلاة على النبی مقبولة والله اكرم أن يرد ما بينهما. (جلاء الافهام : ٢٦٢)

(٣) اخرجه احمد فی مسنده ٩٧/١، ١١٥، ١٢٨. من حديث علی رضی الله تعالى عنه.

﴿ ادْعُوا اللهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالإِجَابَةِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ ﴾ [۱]
دعا کوئ. په دې يقين سره چه ستاسو دعا به قبليږي او په دې خبره خان پوهه کړئ چه الله پاک د بې پرواه زړه دعا نه قبلوي،
هم دغه شان دعا د پوره عزم او کلک والي او صفا الفاظو سره کول پکار دی. په شک او تردد سره نه شي قبليدې. امام بخاري رحمه الله په کتاب الدعوات کښې په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې ﴿باب ليعزم المسالة، فانه لا مكره له﴾ او د هغې د لاندې نې د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړې دې چه په تاسو کښې دې څوک داسې دعا نه کوي چه اې الله که ته غواړې نو ماته بخښنه اوکړه. بلکه په پوره عزم او کلک والي سره دې دعا کوي
⑥ د دعا الفاظ درې کرته يا بار بار مکرر کول هم د دعا د آدابو نه دي: پس په صحيح بخاري او صحيح مسلم کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دې. هغوی فرمائي ﴿ كَانَ إِذَا دَعَا دَعَا ثَلَاثًا، وَإِذَا سَأَلَ سَأَلَ ثَلَاثًا ﴾ [۲] يعنې رسول الله ﷺ به چه کله دعا کوله او د الله پاک نه به ئې څه غوښتل نو درې کرته به ئې دعا کوله او درې کرته به ئې غوښتل،
په سنن ابن ماجة کښې د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه روايت دې. رسول الله ﷺ اوفرمائيل کوم سړې چه د الله پاک نه درې کرته جنت اوغواړي نو جنت وائي. اې الله : دې جنت ته داخل کړه. او کوم سړې چه درې کرته د جهنم نه پناه اوغواړي نو جهنم وائي اې الله دې د جهنم نه بچ کړه [۳]
⑧ دعا به په زارئ سره کول پکار دی. په قرآن کريم کښې هم د دې حکم کړې شوې دې.
﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾ [۴] تاسو د الله پاک نه په زارئ او رو آواز دعاګانې غواړئ.
خپله به رسول الله ﷺ د الله پاک په دربار کښې په زارئ سره دعا فرمائيله چه هم دا شان عبديت دې. سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما فرمائي
﴿ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ يُصَلِّي، وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ ﴾ [۵]
يعنې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلم. هغوی په مانځه کښې مشغول وو. او د هغوی د سينې مبارکې نه داسې آواز راوتلو لکه چه د کټوئ د خوټکيدو په وخت آواز راوځي

---

[۱] صحيح مسلم. کتاب الجهاد والسير. باب ما لقى النبى صلى الله عليه وسلم من اذى المشركين والمنافقين. رقم الحديث ۴۶۴۹
[۲] صحيح مسلم. کتاب الجهاد والسير. باب ما لقى النبى صلى الله عليه وسلم من اذى المشركين والمنافقين. رقم الحديث ۴۶۴۹
[۳] سنن ابن ماجة. ابواب الزهد. باب صفة الجنة. رقم الحديث : ۴۳۴۰
[۴] سورة الاعراف : ۵۵
[۵] سنن النسائى. ابواب السهو. باب البكاء فى الصلاة. رقم الحديث : ۱۲۱۵

امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم کښې د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت نقل کړې دې. هغوی فرمائی

﴿ أَنَّ النَّبِيَّ ـ صلى الله عليه وسلم ـ تَلَا قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي إِبْرَاهِيمَ ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ﴾ الآيَةَ، وَقَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴿ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ « اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي » . وَبَكَى فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيكَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ ـ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ـ فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ بِمَا قَالَ . وَهُوَ أَعْلَمُ . فَقَالَ اللهُ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ ﴾ [1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيدنا ابراهيم عليه السلام په سلسله کښې د الله پاک دا قول ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا ﴾ اولوستلو. يعنی اې زما ربه: بيشکه دې بتانو ډير زيات خلق ګمراه کړی دی. پس چا چه زما اتباع اوکړه هغه زما نه دې او څوک چه زما نافرمانی اوکړی نو ته بيشکه زيات معاف کونکې او ډير رحم کونکې دې. او د سيدنا عيسی عليه السلام دا قول ﴿ ان تعذبهم فانهم عبادك ﴾ يعنی اې الله: که ته هغوی ته عذاب ورکړې نو دا ستا بندګان دی او که ته هغوی معاف کړې نو ته غالب او حکمت والا ئې، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او وې فرمائيل: اې الله: زما امت زما امت! او په ژړا شو. الله پاک اوفرمائيل: اې جبرائيل عليه السلام! محمد (صلى الله عليه وسلم) ته لاړ شه. د هغوی نه تپوس اوکړه چه کوم څيز ته اوژړولې؟ حال دا چه الله پاک ته حقيقت معلوم وو. جبرائيل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو او سوال ئې اوکړو. رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته حقيقت بيان کړو. بيا الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: اې جبرائيل: محمد (صلى الله عليه وسلم) ته لاړ شه او ورته اووايه چه مونږ به تاسو ستاسو د امت په باره کښې خوشحاله کړو. تاسو به نه ناراضه کوو.

د دې نه علاوه په نورو ډيرو احاديثو کښې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ژړا، زارئ او فرياد او خپل رب ته سوال او زاری کولو سره د خپلې دعا او د خپل مراد پوره کولو ذکر ملاويږی، بهر حال په دعا کښې ژړل او د رب په حضور کښې اوښکې بهيول، دعا لره قبوليت ته نزدې کوی او د رحمت درياب لره متحرک او عنايت الٰهی لره د متوجه کولو سبب دې.

⑨ دعاء په مزه او رو آواز کښې کول پکار دی، په چغو او شور او هنګامې سره دعا کول، د دعا د آدابو خلاف دی. د الله پاک ارشاد دې ﴿ ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴾ په دې آيت کريمه کښې په مزه مزه د دعا غوښتلو حکم کړې شوې دې.

⑩ د دعا يو اهم ادب دا دې چه دعا کولو سره انسان تنګ او بې صبره نه شی، د قبوليت دعا په سلسله کښې جلد بازی، بې صبری او تنګيدلو اظهار کول، د دعا د غير مقبول جوړيدو سبب جوړيدې شی، دعا په تسلسل، استقامت، او دوام سره کول پکار دی او په

[1]) صحيح مسلم، كتاب الايمان، باب دعاء النبی صلی الله عليه وسلم لامته، رقم: ٤٩٩

يو موقع باندې هم دا نه دی وئیل پکار چه زه دعا خو کوم خو قبلیږی نه. پس په صحیح مسلم او سنن ترمذی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه روایت دې چه بنده تر څو پورې د جلد بازۍ نه کار وانخلی، د هغه دعا قبلولې شی، د جلد بازۍ مطلب چه کله د رسول الله ﷺ نه اوتپوسلې شو نو هغوی اوفرمائیل چه سړې دې داسې اوائی چه ما ډیرې دعاګانې اوکړې خو زما خیال دې چه زما دعاګانې نه قبلیږی.(۱)

⑧ دعا لره د قبلولو دپاره، د هغې په آخر کښې لفظ د ﴿آمین﴾ وئیل مؤثر دی، امام حاکم په مستدرک کښې د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړې دې چه په کوم مجلس کښې یو سړې دعا کوی او نور خلق په هغې باندې ﴿آمین﴾ وائی نو الله پاک د هغوی دعا قبلوی.(۲)
او د سنن ابی داؤد په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ په دعا کښې د زاری او فریاد کونکی یو سړی په خوا کښې اودریدلو ﴿اوجب ان ختم﴾ یعنی هغه دعا قبولیت ته اورسوله، که دې دعا ختم کړی؟ تپوس اوشو په کوم څیز باندې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په ﴿امین﴾ باندې، پس د رسول الله ﷺ نه هغه تپوس کونکې صحابی دعا کونکی ته راغلو او ورته ئې اووې چه د دعا په آخر کښې ﴿آمین﴾ اووایه او زیرې واخله.(۳)
بهر حال د دعا اختتام په دې مبارکې کلمې سره کول پکار دی او هم دا د اسلافو او مشرانو معمول هم دې.

⑨: دعا آخری ادب دا دې چه د دعا نه د فراغت نه پس دواړه لاسونه په مخ باندې راښکلې شی. سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ ارشاد نقل اوفرمائیلو:
﴿سَلُوا اللهَ عَزَّوَجَلَّ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ، وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا، فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوا بِهَا وُجُوهَكُمْ﴾(۴)
یعنی د لاس دننه حصه غوړولو سره د الله پاک نه غواړئ او کله چه فارغ شئ نو دواړه لاسونه په مخ باندې راکاږئ.
هم دغه شان د سیدنا عمر رضی الله عنه روایت، امام ترمذی رحمه الله نقل کړې دې!
﴿كَانَ رَسُولُ اللهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ﴾(۵)
رسول الله ﷺ به چه کله په دعا کښې لاس اوچت کړل نو لاندې کول به ئې نه چه ترڅو پورې به ئې په مخ مبارک نه وو راښکلې.

(۱) صحیح مسلم، کتاب الذکر والدعاء، باب بیان انه یستجاب للداعی ما لم یعجل رقم الحدیث ۲۷۳۵، وسنن الترمذی، کتاب الدعوات، باب ما جاء فی من یستعجل فی دعائه : رقم الحدیث ۳۳۸۷.
(۲) المستدرک : کتاب معرفة الصحابة ۳۴۷/۳
(۳) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب التامین وراء الامام : ۲۴۷/۱، رقم الحدیث ۹۳۸
(۴) سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب الدعاء (رقم الحدیث ۱۴۸۵) : ۷۸/۲. (اسناده ضعیف)
(۵) سنن الترمذی، کتاب الدعاء، باب ما جاء فی رفع الایدی عند الدعاء، (رقم الحدیث : ۳۳۸۶) ۴۸/۵، ۴۹ (ضعیف جدا)

د دې آدابو رعایت کولو سره که دعا اوکړې شي نو انشاء الله د الله پاک د دربار نه به نه شي رد کولې
خو دې خبرې ته دې پکښې اوکتلې شي چه د دې آدابو سره سره دې د دعا د قبولیت د دې شرط هم خیال ساتلې شوې وی چه دعا کونکې حرام خور نه وی. د کوم سړې غذا ، جامه او د معاش ذریعه چه حرام وی. د هغه دعا نه قبلیږی. د رسول الله ﷺ حدیث دې:
﴿ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ ﴾ [1]
یعنی یو سړې اوږد سفر کولو سره د خورو او متغیر ویښتو او پریشانه حالت او هیئت سره د آسمان طرف ته لاس اوچتولو سره ﴿ یا رب یا رب ﴾ وئیلو سره دعا غواړی. (چه د هغې تقاضه دا ده چه الله پاک هغه قبول اوفرمائی)، خو د هغه خوراک، د هغه څکاک او د هغه اغوستل د حرامو وی، په حرام مال سره هغه لوئې شوې وی، په داسې صورت کښې به د هغه دعا څنګه قبوله شي ؟
د ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه یو قول: او په آخر کښې د مشهور بزرګ حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه یو قول نقل کولې شي. د هغوی نه چا تپوس اوکړو چه مونږ دعا کوو ، خو زمونږ دعاګانې نه قبلیږی. هغوی اوفرمائیل:
﴿ لأنکم عرفتم الله فلم تطیعوه، وعرفتم الرسول فلم تتبعوا سنته، وعرفتم القرآن فلم تعملوا به، وأکلتم نعم الله فلم تؤدوا شکرها، وعرفتم الجنة فلم تطلبوها، وعرفتم النار فلم تهربوا منها، وعرفتم الشیطان فلم تحاربوه ووافقتموه، وعرفتم الموت فلم تستعدوا له، ودفنتم الأموات فلم تعتبروا، وترکتم عیوبکم واشتغلتم بعیوب الناس ﴾ [2]
یعنی تاسو ته د الله پاک معرفت حاصل دې خو د هغه اطاعت نه کوئ. د الله پاک د رسول پیژندګلو درته حاصل ده خو د هغوی د سنت اتباع نه کوئ، په قرآن کریم باندې سره د پوهې عمل نه کوئ. د الله پاک نعمتونه خورئ خو شکر نه ادا کوئ، د جنت نه خبر یئ خو د هغې طلب نه کوئ. جهنم پیژنئ خو د هغې نه تیخته نه کوئ. د شیطان د دشمنئ معلومیدو باوجود د هغه سره جنګ نه کوئ بلکه هم د هغه موافقت کوئ. د مرګ د حقیقت معلومیدو باوجود د هغې دپاره تیاری نه کوئ او د مړو د ښخولو باوجود عبرت نه حاصلوئ. خپل عیبونه ستاسو د سترګو نه ورک دی او د خلقو په عیبونو کښې تاسو خپل ځان مشغول کړې دې:

---

[1] الصحیح لمسلم، کتاب الزکاة، باب قبول الصدقة من الکسب الطیب وتربیتها، رقم ۲۳۴۶، وسنن الترمذی، ابواب تفسیر القرآن، رقم ۲۹۸۹، وسنن الدارمی، کتاب الرقاق، باب فی اکل الطیب ۳۸۹/۲، رقم: ۲۷۱۷، مسند الامام احمد بن حنبل : ۳۲۸/۲
[2] الجامع لاحکام القرآن للقرطبی : ۳۱۲/۲

﴿بسم الله الرحمٰن الرحيم﴾

۸۳: کتاب الدعوات

وَقَوْلِ اللهِ تَعَالٰى: ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ،،غافر: ۶۰_

د کتاب الاستيذان سره مناسبت دعوات ،د دال او عين په زبر سره، د دعوة جمع ده. دعوة. د دعا په معنی ده (۱) امام بخاري رحمه الله په دې کتاب کښې دعاګانې او د هغې متعلقات ذکر فرمائيلي دی. د دعا معنی د حاجت طلب کولو هم راځي او د آواز کولو هم راځي (۲).
حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره فرمائي چه استيذان د بندو دروازو د پرانستلو دپاره وی. دعا هم د پورته دروازو د پرانستلو دپاره کولې شي.

د دعا اهميت او فضيلت : په ترجمة الباب کښې امام بخاري رحمه الله د قرآن کريم آيت ذکر فرمائيلي دې. د الله پاک ارشاد دې : ما رابلئ. زه به ستاسو دعا قبلوم. بيشکه کوم خلق چه زما د بندګئ نه تکبر کوی هغوی به نزدې جهنم ته ذليله داخل شي.
په دعا باندې په حديث کښې د عبادت اطلاق هم کړې شوې دې. د سيدنا نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت امام ترمذی او امام احمد رحمهما الله مرفوع نقل فرمائيلي دي ﴿ الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ ﴾ (۳) يعنی دعا سراسر عبادت دې

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه امام احمد رحمه الله يو مرفوع روايت په دې الفاظو نقل کړې دې ﴿ مَنْ لَمْ يَدْعُ اللهَ، غَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ ﴾ (۴) يعنی څوک د الله پاک نه دعا نه غواړی الله پاک په هغه باندې غضبناک کيږی.

هم دغه شان امام ترمذی رحمه الله د سيدنا انس رضي الله عنه يو مرفوع حديث نقل فرمائيلي دي ﴿ الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ ﴾ (۵) يعنی دعا د عبادت مغز دې.

د امام ترمذی او امام ابن ماجه د يو مرفوع روايت الفاظ دی : ﴿ لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ سُبْحَانَهُ مِنَ الدُّعَاءِ ﴾ (۱) يعنی د الله پاک په نزد د دعا نه عزت مند بل يو څيز هم نشته

---

(۱) عمدة القاری ۲۲/۲۸۶، فتح الباری ۱۱/۱۱۳، ارشاد الساری ۱۳/۳۰۳
(۲) عمدة القاری ۲۲/۲۸۶، فتح الباری ۱۱/۱۱۳
(۳) مسند الامام احمد : ۴/۲۶۷، واخرجه الترمذی فی کتاب التفسير، باب سورة المؤمن ۵/۳۷۴، رقم الحديث ۳۲۴۷
(۴) مسند الامام احمد ۲/۴۴۳ (حسن الاسناد)
(۵) اخرجه الترمذی، فی کتاب الدعوات، باب ما جاء فی فضل الدعاء : ۵/۴۵۶، رقم الحديث ۳۳۷۱ (سند: ضعيف)

د سيدنا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يو مرفوع حديث دې. د هغې الفاظ دی : ﴿ سَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ ﴾ (۲) يعنی د الله پاک نه د هغه د فضل سوال کوئ. ځکه چه د الله پاک نه غوښتل د هغه خوښ دی. هم دغه شان د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما يو حديث امام ترمذی رحمه الله نقل کړې دې د هغې په سند کښې اګر چه ضعف دې خو امام حاکم په مستدرک کښې هغه ته صحيح وئيلې دې (۳) د هغې الفاظ دا دی :

﴿ ان الدُّعاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ فَعَلَيْكُمْ عِبادَ اللهِ بِالدُّعاءِ ﴾ (۴)

يعنی دعا په ټولو آفتونو کښې نافع ده. که هغه نازل شوې وی يا تر اوسه پورې نه دی نازل شوی. نو د الله پاک بندګانو! د دعا ضرور اهتمام کوئ.

د سيده عائشه رضي الله عنها يو مرفوع روايت طبرانی نقل کړې دې. د هغې الفاظ دی ﴿ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ الْمُلِحِّينَ فِي الدُّعَاءِ ﴾ (۵) يعنی الله پاک هغه خلق خوښوی چه په زاریٔ سره دعاګانې کوی حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی اګر چه د دې حديث راويان ثقه دی خو په يو ځائې کښې عنعنه ده. (۶)

په ايت کريمه کښې د دعا مصداق : د قرآن کريم ذکر کړې شوې آيت کښې ﴿ ادعونی ﴾ نه مراد د اکثر حضراتو په نزد دعا ده. بعضو وئيلې دی چه د دې نه عبادت مراد دې ځکه چه وړاندې په وعيد ﴿ يستکبرون عن عبادتی ﴾ کښې د عبادت لفظ ذکر شوې دې (۷) خو جمهور فرمائی چه دعا هم چونکه عبادت دې. په دې اول خاص او د هغې نه پس عام ذکر کړې شوه. ځکه چه څوک د عام عبادت نه اعراض کوی هغه به د دعا نه هم اعراض کوی. (۸)

---

(۱) اخرجه الترمذی. فی كتاب الدعوات. باب ما جاء فی فضل الدعاء : ۴۵۵/۵. رقم الحديث ۳۳۷۰. واخرجه الامام ابن ماجة فی كتاب الدعاء. باب فضل الدعاء : ۲ /۱۲۵۸. رقم الحديث ۳۸۲۹ (اسناده حسن)

(۲) اخرجه الترمذی. فی كتاب الدعوات. باب فی انتظار الفرج وغير ذلک. ۵۶۵/۵. رقم الحديث : ۳۵۷۱ (اسناده ضعيف)

(۳) المستدرک للحاکم. كتاب الدعاء. باب الدعاء مما نزل ومما لم ينزل : ۴۹۳/۱

(۴) سنن الترمذی. فی كتاب الدعوات. باب فی دعاء النبی صلی الله عليه وسلم : ۲۵۲/۵. رقم الحديث ۳۵۴۸. وقال الترمذی : هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عبدالرحمن بن ابی بكر القرشی. هو ضعيف فی الحديث. ضعفه بعض اهل العلم من قبل حفظه. وقال المنذی فی الترغيب والترهيب. وقد طعن فی عبدالرحمن بن ابی بكر المليكی فقال : وهو ذاهب الحديث. كتاب الدعوات. باب : ان الدعاء ينفع مما لم نزل ومما لم ينزل : ۴۸۰/۲

(۵) فتح الباری . ۱۱۴/۱۱

(۶) فتح الباری : ۱۱۴/۱۱

(۷) روح المعانی. المجلد الثالث عشر. الجزء الاول : ۸۱

(۸) تفسير القرطبی : ۳۲۶/۱۵. ۳۲۷. روح المعانی. المجلد الثالث عشر. الجزء الاول : ۸۱

د قبولیت دعا معنی د قرآن کریم په دې آیت کښې دی چه الله پاک به د دعا غوښتلو نه پس قبول فرمائی. ډیر کرته دعا غوښتلې شی خو قبلیږی نه. په دې سلسله کښې دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د دعا د قبولیت مختلف صورتونه دی. کله بعینه هم هغه څیز ورکولې شی. چه د کوم بنده سوال کوی او کله هغه څیز چونکه د مصلحت خلاف وی په دې وجه هغه دعا د هغه دپاره د آخرت ذخیره کړې شی او که د هغې په عوض کښې څه بل آفت ختم کړې شی پس امام احمد بن حنبل رحمه الله د سیدنا ابوسعید رضی الله عنه یو مرفوع حدیث نقل کړې دې.

(مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ، وَلاَ قَطِيعَةُ رَحِمٍ، إِلاَّ أَعْطَاهُ اللهُ بِهَا إِحْدَى ثَلاَثٍ: إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا)

یعنی هر مسلمان چه داسې دعا اوغواړی چه د ګناه او قطع رحمی سره متعلق نه وی نو الله پاک د هغې په بدل کښې د دریو څیزونو نه یو ضرور ورکوی یا خو فورا هغه ته مطلوب څیز ورکړی. یا هغه دعا د هغه دپاره د آخرت ذخیره اوګرځوی. یا د هغې په مثل د هغه نه څه آفت لرې کړی [1] امام حاکم رحمه الله په مستدرک کښې دې حدیث ته صحیح وئیلې دې [2].

① باب وَلِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ

[۵۹۴۵] [3] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ يَدْعُو بِهَا، وَأُرِيدُ أَنْ أَخْتَبِئَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لأُمَّتِي فِي الآخِرَةِ». [۷۰۳۲]

[۵۹۴۶] وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ قَالَ مُعْتَمِرٌ سَمِعْتُ أَبِي عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «كُلُّ نَبِيٍّ سَأَلَ سُؤْلاً - أَوْ قَالَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ قَدْ دَعَا بِهَا - فَاسْتُجِيبَ، فَجَعَلْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

د رسول الله ﷺ مخصوص دعا رسول الله ﷺ فرمائی چه د هر نبی یو خاص دعا وی کومه چه هغه کوی، او هغه مقبول وی، او زه غواړم چه زه خپله دعا په آخرت کښې د خپل امت د شفاعت دپاره محفوظ کړم

دویم روایت د سیدنا انس رضی الله عنه نه دې. فرمائی. چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل هر نبی خپل مطلوب غوښتلې دې یا ئې اوفرمائیل د هر یو نبی یو دعا قبلیږی. پس هغوی دعا هم اوکړه او قبوله هم شوه خو ما خپله دعا د قیامت په ورځ باندې د خپل امت د شفاعت دپاره

---

[1] مسند الامام احمد : ۱۸/۳

[2] المستدرک للامام حاکم، کتاب الدعوات ۴۹۳/۱ (قال حسین سلیم اسد فی تعلیق مسند ابی یعلی : اسناده جید)

[3] الحدیث اخرجه مسلم فی کتاب الایمان، باب احتباء النبی صلی الله علیه وسلم دعوة الشفاعة لامته (رقم الحدیث : ۲۰۰)

مختصر ځه کړي شوه

یو اشکال او د هغې جواب په دې باندې په ظاهر کښې اشکال واردیږي چه د هر نبي خو د یو نه زیاتې دعاګانې قبلیږي. ولته د یو تحدید څنګه اوکړې شو؟

د دې جواب دا دې چه د یوې دعا قبولیت یقیني دې. مطلب دا دې چه د هر نبي یوه دعا یقیني قبلیږي. د باقي دعاګانو د قبولیت په باره کښې په یقین سره نه شي ونیلې کیدې چه هغه به قبلیږي. اګر چه په هغې کښې هم د قبولیت امید دې

پس حافظ ابن حجر رحمه الله لیکي: ﴿ والجواب ان المراد بالاجابة في الدعوة المذكورة القطع بها، وما سوا ذلك من دعائهم فهو على رجاء الاجابة ﴾ [۱]

د معتمر روایت امام مسلم رحمه الله موصولاً نقل کړې دې. [۲] په اکثر نسخو کښې ﴿ قال معتمر ﴾ دې خو د اصیلي په نسخه کښې ﴿ وقال لي خليفة : حدثنا معتمر ﴾ دې. د دې نسخې مطابق دا تعلیق نه دې. بلکه موصول دې. [۳]

② باب أَفْضَلِ الاِسْتِغْفَارِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى (اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا) نوح: ۱۰ - ۱۲

(وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ).آل عمران ۱۳۵

د ترجمة الباب مقصد امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې د استغفار افضل کلمات نقل فرمائیلې دی. په حدیث کښې هغې ته ﴿ سيد الاستغفار ﴾ وئیلې شوې دې. په "فضل الاستغفار" سره ترجمه قائم کولو باندې ئې اشاره اوفرمائیله چه په حدیث کښې ﴿ سيد ﴾ په معنی د افضل دې. د سیادت نه فضیلت مراد دې [۴]

په ترجمة الباب کښې امام د سورة النور درې آیتونه او د سورة آل عمران یو آیت کریمه نقل فرمائیلې دې. په دې آیتونو کښې د استغفار ذکر دې. د سورة نوح د آیتونو حاصل دا دې چه تاسو استغفار کوئ. الله پاک بخښنه کونکې ذات دې. د استغفار په نتیجه کښې به الله پاک په تاسو باندې په شیبو باران اوکړي. مال او دولت او ځامن درکولو سره به ستاسو مدد اوکړي. باغونه او نهرونه به تاسو ته درکړي

ځلور مرضونه، یو علاج : امام حسن بصري رحمه الله ته یو سړي د قحط سالۍ شکایت اوکړو. یو

---

[۱] فتح الباري ۱۱۶/۱۱

[۲] صحیح مسلم. کتاب الایمان. باب اختباء النبي صلى الله عليه وسلم. دعوة الشفاعة لامته ۱۹۰/۱

[۳] فتح الباري : ۱۱۷/۱۱

[۴] عمدة القاري ۲۷۷/۲۲. ۲۷۸. فتح الباري ۱۱۸/۱۱

ورته د فقر او غربت. یو ورته د باغونو د اوچیدلو او یو ورته د خوئی د نه کیدو شکایت اوکړو. هغوی ټولو ورته د استغفار وئیلو اووې او د قرآن کریم د دې آیتونو نه ئې استدلال اوکړو چه د استغفار په نتیجه کښې الله پاک د دې نعمتونو د ورکړې ذکر فرمائیلې دې [1]

د سورة آل عمران د آیت کریمه مفهوم دې. هغه خلق چه هغوی د بې حیایئ ارتکاب کړې دې یا ئې په خپل ځان باندې (د الله پاک احکام ماتولو سره) ظلم کړې دې. بیا هغوی ته الله پاک رایاد شو او د خپلو گناهونو معافی ئې طلب کړه. په داسې حال کښې چه دا خلق په خپله گناه باندې اصرار هم نه کوی

قوله: اذا فعلوا فاحشة اوظلموا انفسهم: د فاحشه نه زنا او بې حیائی مراد ده او د ظلم نه عام گناه مراد ده [2]

﴿ذکروا الله﴾ د الله پاک یاد راغلو چه د الله پاک د وعدې او وعید دواړو خیال ورته راغلو.

﴿وهم یعلمون﴾ یعنی هغوی ته معلومه شوه چه هغوی چه کوم کار کړې دې هغه حرام دې. ځکه چه د عدم علم په صورت کښې هغوی معذور حساب کیدلې شو [3]

[۵۹۴۷] [4] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ كَعْبٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي شَدَّادُ بْنُ أَوْسٍ -رضى الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «سَيِّدُ الاِسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ بِذَنْبِي، اغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ». قَالَ «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهْوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهْوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهْوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ». [۵۹۶۴]

سید الاستغفار او د هغې فضیلت: سیدنا شداد بن اوس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت نقل کړې دې چه سید الاستغفار دا دې چه ته داسې اوائې: ﴿اللهم انت ربی الخ﴾ یعنی اې الله! ته

---

[1] عمدة القاری ۲۷۷/۲۲، ۲۷۸. فتح الباری ۱۱۸/۱۱. ارشاد الساری ۳۰۶/۱۳

[2] تفسیر القرطبی. سورة آل عمران. رقم الایة: ۱۳۵: ۲۱۰/۴. التفسیر الکبیر. سورة آل عمران رقم الایة ۱۳۵: ۹/۱۰، ۱۱

[3] تفسیر القرطبی. سورة آل عمران. رقم الایة: ۱۳۵: ۲۱۰/۴. التفسیر الکبیر. سورة آل عمران رقم الایة ۱۳۵: ۹/۹، ۱۰

[4] الحدیث اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات. باب منه: ۴۶۸/۵. (رقم الحدیث: ۳۳۹۳) واخرجه بوداؤد فی کتاب الادب. باب ما یقول اذا اصبح (رقم الحدیث: ۵۰۷۰) واخرجه ابن ماجة فی کتاب الدعاء باب ما یدعو به الرجل اذا اصبح واذا امسی (رقم الحدیث: ۳۸۷۲)

زما رب ئې: ستا نه سوا بل څوک معبود نشته. هم تا زه پيدا کړې يم او زه صرف هم ستا بنده يم او زه د خپل استطاعت مطابق ستا په عهد او ستا په وعده قائم يم. زه د خپلو بدعملونو د بدئ نه ستا پناه غواړم. تا چه کوم نعمتونه ماته راکړې دی. د هغې اقرار او د خپلو ګناهونو اعتراف کوم. ماته بخښنه اوکړه بيشکه ستا نه سوا هيڅ څوک د ګناهونو بخښلو والا نشته

رسول الله ﷺ فرمائی چا چه دا کلمات د زړه د صدق نه سحر اووې او د ماښام کيدو نه مخکښې هم په دې ورځ باندې مړ شو نو هغه جنتی دې او چا چه دا کلمات د زړه د صدق نه ماښام اووې او د سحر کيدو نه مخکښې مړ شو نو هغه هم جنتی دې.

دې کلماتو ته د سيد الاستغفار وئيلو وجه: دې کلماتو ته سيد الاستغفار ونيلې شوې دې. صاحب د بهجة النفوس ليکی:

﴿ وقد جمع صلى الله عليه و سلم فى هذا الحديث من بديع المعانى وحسن الألفاظ ما يحق له انه يسمى سيد الاستغفار ففيه الإقرار لله وحده بالالهية والعبودية والاعتراف بأنه الخالق والاقرار بالعهد الذى اخذه عليه والرجاء بما وعده به والاستعاذة من شر ما جنى العبد على نفسه واضافة النعماء إلى موجدها واضافة الذنب إلى نفسه ورغبته فى المغفرة واعترافه بأنه لا يقدر أحد على ذلك الا هو وفى كل ذلك الإشارة إلى الجمع بين الشريعة والحقيقة فإن تكاليف الشريعة لا تحصل الا إذا كان فى ذلك عون من الله تعالى ﴾ [1]

يعنی: دا حديث چه په کومو بهترين الفاظو او شاندار معانی باندې مشتمل دې. د هغې په وجه دا د دې خبرې انتهائی مستحق دې چه دې ته ﴿ سيد الاستغفار ﴾ اووئيلې شی. پس په دې کښې د الله پاک الوهيت او عبوديت او د هغه د خالق کيدو اعتراف دې او د هغه عهد او وعدې اقرار دې کومه چه هغه د خپل بنده نه په دې باندې اخستلې وه او په دې کښې د هغه وعدې هم اظهار دې کومه چه الله پاک د بنده سره کړې ده. او دغه شان په دې کښې پناه غوښتلې شوې ده د هغه ګناهونو د شر نه کومې چه بندګانو کړې دی هم دغه شان په دې کښې د نعمتونو نسبت د هغې موجد او د ګناه او تقصير نسبت خپله د بنده طرف ته کړې شوې دې. د دې نه علاوه په دې کښې د مغفرت ربانی د شوق او رغبت د اظهار سره د دې خبرې هم اعتراف دې چه په مغفرت باندې صرف الله پاک قادر دې هم دغه شان په دې کښې د شريعت او د حقيقت د جمع کيدو طرف ته هم اشاره ده او د دې خبرې طرف ته هم چه د احکام شرعيه پابندی د الله پاک د مدد نه بغير ممکن نه ده.

د استغفار برکات: د استغفار ډير برکتونه او فضائل دی: انسان د الله پاک حقوق د هغه شايان شان نه شی ادا کولې. کمې ته ضرور کيږی. ګناهونه ترې کيږی هغه کمې پوره کول. صرف د الله پاک نه د معافئ غوښتلو په صورت کښې کيدې شی. په سنن ابی داؤد او سنن ترمذی کښې د سيدنا صديق اکبر ﷺ مرفوع روايت دې: ﴿ مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ

[1] فتح الباری ۱۱/۱۲۰، ۱۲۱

سَبْعِينَ مَرَّةً ﴾ [۱] یعنی استغفار کونکي په ګناه باندې اصرار کونکي نه شمارلې کیږي. اګر چه هغه په ورځ کښې اویا کرته ګناه کوي
خو د دې دپاره شرط دا دې چه ګناه ئې پریخودلې وي، دا نه چه په ګناه کښې مشغول هم دې او په ژبه باندې استغفار هم کوي [۲]

د عهد او وعدې مصداق : ﴿ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ ﴾ د عهد نه یا خو عام عهد مراد دې یعنی د ایمان عهد او الله پاک سره د چا نه شریکولو عهد

شارح بخاری علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د عهد نه ﴿ عهد الست ﴾ مراد دې او د وعدې نه مراد د الله پاک هغه وعده ده چه د هغې ذکر په یو حدیث کښې دې ﴿ ان من مات لایشرك بالله شیئا وادی ما افترض علیه ان یدخله الجنة ﴾ [۳] یعنی کوم سړې چه په داسې حال کښې فوت شو چه هغه د الله پاک سره څوک شریک کړې نه وی او ټول فرائض او واجبات ئې ادا کړې وی نو (وعده ده چه) الله پاک به هغه جنت ته داخل کړي.

⑶ باب اسْتِغْفَارِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ

[۵۹۴۸] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «وَاللَّهِ إِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً».

په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د رسول الله ﷺ نه د استغفار وقوع او د دې د مقدار بیان فرمائی
په روایت کښې دی . رسول الله ﷺ فرمائی چه په ورځ او شپه کښې اویا کرته نه زیات استغفار غواړم ﴿ سبعین ﴾ عدد د کثرت دپاره هم راځی او د عدد معین دپاره هم؛ دلته دواړه کیدې شی [۴]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دی ﴿ انی استغفر الله فی الیوم مائة مرة ﴾ الفاظ دی
په دې باندې اشکال راځی چه رسول الله ﷺ خو معصوم دې نو هغوی ته د استغفار کولو څه ضرورت دې؟

① د دې جواب دا دې چه انبیاء علیهم السلام د صغائر او کبائر نه خو معصوم وی. خو د صغائر نه

---

[۱] سنن ابی داؤد، ابواب الوتر، باب فی الاستغفار ۸۴/۲ (رقم الحدیث : ۱۵۱٤) سنن الترمذی، کتاب الدعوات : باب ۱۰۷ : ۵۵۸/۵ (رقم الحدیث : ۳۵۵۹)
[۲] فتح الباری ۱۱۸/۱۱، التفسیر الکبیر، سورة آل عمران رقم الایة : ۱۳۵، ۱۰/۹
[۳] حدیث عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، فتح الباری ۱۲۰/۱۱
[۴] فتح الباری، ۱۲۱/۱۱، عمدة القاری ۲۷۹/۲۲، هم دغه شان اوګورئ : ارشاد الساری ۳۰۹/۱۳

معصوم نه وی. استغفار د صغائر د وجې نه کوی [۱]

۞ د بعض علماء کرامو په نزد انبیاء ﷺ د کبائرو او صغائرو نه معصوم وی. د هغوی په نزد جواب دا دې چه ډیر کرته خلاف اولی کارونه د انبیاء ﷺ نه صادریږی هغه اګر چه د ګناه په شمیر کښې داخل نه وی خو د انبیاء ﷺ د اوچت شان او رفع مقام وجې نه (حسنات الابرار سیئات المقربین) د قاعدې په بناء باندې انبیاء ﷺ هغه هم په خپل حق کښې ګناه ګڼړی او استغفار کوی [۲]

۞ باب التَّوْبَةِ

قَالَ قَتَادَةُ (تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا) التحریم: ۸ _ الصَّادِقَةُ النَّاصِحَةُ.

د استغفار او توبې ابواب په شروع کښې د ذکر کولو وجه: امام بخاری رحمه الله د باقی دعاګانو نه مخکښې. د کتاب الدعوات په ابتداء کښې د استغفار او توبې په ابواب ذکر کولو سره د دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه د دعاګانو د قبولیت امکانات هغه وخت زیات وی. چه کله دعا کونکې د معاصی نه پاک وی او لرې وی. په دې وجه د دعا نه مخکښې د خپلو ګناهونو معافی او توبه کول پکار دی دې دپاره چه کومه دعا اوکړې شی. هغه زر قبوله شی [۳]

استغفار د توبې یو جزء دې د توبې لفظی معنی د واپس کیدو او رجوع کولو ده. مراد د ګناه نه واپس کیدل او رجوع کول دی. توبه د درې څیزونو نوم دې. اول په کړې ګناه باندې پښیمانه کیدل. دویم: د الله پاک نه د هغه د بخښنې دعا کول. دریم: د بیا دپاره د دغه ګناه نه کولو عزم [۴]

د توبه نصوح تفسیر **قوله**: (قَالَ قَتَادَةُ: تَوْبَةً نَصُوحًا: الصَّادِقَةُ النَّاصِحَةُ): د قرآن کریم په سورۃ تحریم کښې دی (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللهِ تَوْبَةً نَصُوحًا) امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه په د (توبة نصوح) په تفسیر کښې د اهل علم دیرویشت (۲۳) اقوال دی. [۵]

امام قتادة د توبة نصوح تشریح په ریشتینې توبې سره کړې ده [۶] نصوح که د نصح او نصیحت نه واخستلې شی نو د دې معنی د خالص کولو راځی. توبة نصوح یعنی ریا او نمود نه خالص او رشتینې توبه.

---

[۱] فتح الباری ۱۲۲/۱۱، وعمدة القاری ۲۷۹/۲۲

[۲] فتح الباری ۱۲۲/۱۱، وعمدة القاری ۲۷۹/۲۲

[۳] فتح الباری : ۱۲۳/۱۱

[۴] فتح الباری ۱۲٤/۱۱، عمدة القاری ۲۷۹/۲۲

[۵] تفسیر القرطبی : ۱۹۷/۱۸

[۶] تفسیر القرطبی : ۱۹۷/۱۸

او که دا د نصاحت نه مشتق او منلې شي نو د دې معنی د کپړې ګنډلو او جوړ لګولو راځی توبة نصوح یعنی پیوند کونکې توبه. مطلب دا شو چه د ګناهونو د وجې نه د تقوی په لباس کښې چه کوم سورې پیدا شوې دې. دا توبه هغې لره يوځائې کونکې دې (۱).

امام حسن بصری رحمه الله فرمائی چه توبهٔ نصوح دا ده چه سړې په خپلو تیرو ګناهونو باندې نادم کیدو سره د بیا دپاره د نه کیدو کلکه اراده اوکړی (۲) توبه که په حقوق العباد کښې د کوتاهئ سره متعلق ده نو په دې صورت کښې، متعلقه حق لره ادا کول ضروری دی. مثلاً د چا مال که غصب کړې شې نو په دې کښې صرف استغفار کول کافی نه دی. بلکه هغه مال واپس کول ضروری دی (۳)

۵۹۴۹ (۴) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ حَدِيثَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَالآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ قَالَ «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ، وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلَى أَنْفِهِ». فَقَالَ بِهِ هَكَذَا قَالَ أَبُو شِهَابٍ بِيَدِهِ فَوْقَ أَنْفِهِ. ثُمَّ قَالَ «لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ رَجُلٍ نَزَلَ مَنْزِلاً، وَبِهِ مَهْلَكَةٌ، وَمَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، فَوَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ نَوْمَةً، فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ رَاحِلَتُهُ، حَتَّى اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْحَرُّ وَالْعَطَشُ أَوْ مَا شَاءَ اللَّهُ، قَالَ أَرْجِعُ إِلَى مَكَانِي. فَرَجَعَ فَنَامَ نَوْمَةً، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَإِذَا رَاحِلَتُهُ عِنْدَهُ». تَابَعَهُ أَبُو عَوَانَةَ وَجَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ.

وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ سَمِعْتُ الْحَارِثَ.

وَقَالَ شُعْبَةُ وَأَبُو مُسْلِمٍ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ. وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ عُمَارَةَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ.

حارث بن سوید فرمائی چه زمونږ نه سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه احادیث بیان کړل. یو خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او دویم خپله نقل کوی. هغوی وائی چه مومن خپل ګناهونه داسې محسوس کوی لکه د یو غر نه لاندې ناست او ویریږی چه چرته دا په هغه باندې راګزار نه شی او فاسق خپل ګناهونه د هغه مچ په شان معمولی ګنړی کوم چه د هغه په پوزه باندې

---

(۱) روح المعانی. المجلد الرابع عشر. الجزء الثانی : ۱۵۷

(۲) روح المعانی. المجلد الرابع عشر. الجزء الثانی : ۱۵۷

(۳) تفسیر القرطبی : ۱۸/۱۹۷. ۱۹۸

(۴) الحدیث اخرجه مسلم فی کتاب التوبة. باب فی الخص علی التوبة والصرح بها (رقم الحدیث : ۲۷۴٤). واخرجه الترمذی فی کتاب الزهد فی ابواب صفة القیامة. باب ما جاء فی استعظام المؤمن ذنوبه (رقم الحدیث : ۲٤۹۷. ۲٤۹۸) واخرجه النسائی فی کتاب النعوت. باب قوله : ﴿ ولتصنع علی عینی ﴾ ٤/٤۱۵. (رقم الحدیث : ۷۷٤۱)

تيريږي «راوي ابو شهاب په خپله پوزه باندې لاس رابنكلو سره د دې منظر طرف ته اشاره اوكړه»
بيا هغوی اووې چه الله پاک د خپل بنده په توبه باندې د هغه سړی نه هم زيات خوشحاليږي چه په يو مهلک او خطرناک ځائې كښې دمه كوی. هغه سره د هغه سورلی وی چه په هغې باندې د هغه خوراک او اوبه وی. هغه سر كيخودلو سره اوده شو او چه كله بيدار شو نو وې كتل چه د هغه سورلی غائبه ده. هغه سمدستی د هغې په لټون كښې اوتلو. تردې چه د گرمئ او تندې شدت پيدا شونو هغه اووې زه خپل ځائې ته دوباره ځم. هلته تلو سره هغه لږ ساعت اوده شو. چه بيا ئې سر راوچت كړو نو وې كتل چه د هغه سورلی. د هغه خوا كښې ده «نو د سورلئ په خپله خوا كښې ليدو باندې چه دا سړی څومره خوشحاليږی. الله پاک د بنده په توبه باندې هم دغه شان خوشحاليږی»

قوله: احدهما عن النبی صلی الله عليه وسلم والاخر عن نفسه: يعنی سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دوه احاديث بيان فرمائيلی دی. يو د رسول الله ﷺ د طرف نه او دويم د خپل طرف نه. يعنی يو حديث مرفوع وو. او دويم حديث موقوف. ﴿إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ﴾ دا حديث موقوف دې. او ﴿لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ﴾ دا حديث مرفوع دې [1]

قوله: ان المؤمن يرى ذنوبه كانه قاعد تحت جبل: په ﴿ يرى ذنوبه ﴾ كښې د ﴿ يرى ﴾ مفعول ثانى حذف دې ﴿اى يرى ذنوبه كالجبال﴾ [2] يعنی مومن خپل گناهونه دغرپه شان درانه گڼړی

فقال هكذا: د ﴿ به ﴾ ضمير د باب طرف ته راجع دې يعنی هغوی په لاس سره اشاره كولو باندې بيان اوكړو چه داسې

وبه مهلكة: مهلكة د ميم او لام په فتحې سره د هلاكت ځائې ته وائی او ﴿ مهلكة ﴾ د ميم په ضمې او د لام په كسرې سره د اسم فاعل مؤنث صيغه ده په معنی هلاكونكې [3]

په دې روايت كښې د بنده په توبه باندې د الله پاک د راضی كيدو او خوشحاليدو يو مثال بيان فرمائيلی شوې دې. يو سړې په صحرا كښې دې او د هغه د ژوند د ضرورت ټولو خوراک څښاک څيزونه د هغه په سورلئ باندې بار دی. د سړی سترگې ورشی او هغه سورلئ غائبه شی. د سترگو غړيدو نه پس هغه ته لوږه تنده محسوس شی. د سورلئ په لټون كښې يو خوا بل خوا اوځی. خو هغه په نظر نه راځی. ظاهره ده، ځنگل بيابان دې او د چرته نه هم خوراک څښاک نه ملاويږی، هغه مرگ لره مخامخ ليدو سره واپس خپل ځائې ته لاړ شی چه د هغه دوباره سترگې ورشی اوچه كله ئې سترگې اوغړيږی نو د هغه سورلی د هغه د خوراک او څښاک د څيزونو سره موجود وی، اوس ظاهره ده چه د هغې په ليدو باندې هغه ته كومه

[1]) فتح البارى ۱۲۸/۱۱، عمدة القارى : ۲۸۰/۲۲، ارشاد السارى : ۳۱۳/۱۳
[2]) ارشاد السارى ۳۱۱/۱۳
[3]) فتح البارى ۱۲۸/۱۱، عمدة القارى : ۲۸۱/۲۲، ارشاد السارى : ۲۱۲/۱۳

خوشحالي ملاويږي. د هغې اندازه نه شي کيدلې د صحيح مسلم په روايت کښې دومره اضافه هم ده

﴿ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ، أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ ﴾[1]

يعنې هغه هم د دې پريشانۍ په حالت کښې وي چه د هغه سورلۍ ناځاپه د هغه په خوا کښې وي نو هغه د هغې واږې اونيسي، بيا ئې د خوشحالۍ نه بې اختياره دا الفاظ د خولې نه اوځي اې الله! ته زما بنده ئې او زه دې رب يم د ډيرې خوشحالۍ د وجې نه د هغه نه غلطي اوشي الله پاک هم د بنده په توبه باندې دومره خوشحاليږي او راضي کيږي

قوله: حتی اشتد عليه الحر والعطش او ماشاء الله: راوی ابو شباب ته دلته شک دې چه ﴿ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْحَرُّ وَالْعَطَشُ ﴾ ئې اوفرمائيل يا که ﴿ اشْتَدَّ عَلَيْهِ مَا شَاءَ اللهُ ﴾ ئې اووې

د حديث نه مستنبط اداب: حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن ابی جمره په حوالې سره د دې حديث فوائد بيانولو سره ليکي :

﴿ وفي حديث بن مسعود من الفوائد جواز سفر المرء وحده لأنه لا يضرب الشارع المثل الا بما يجوز... وفيه ان من ركن إلى ما سوى الله يقطع به أحوج ما يكون إليه لان الرجل ما نام في الفلاة وحده الا ركونا إلى ما معه من الزاد فلما اعتمد على ذلك خانه ... وفيه بركة الاستسلام لامر الله لان المذكور لما ايس من وجدان راحلته استسلم للموت فمن الله عليه برد ضالته وفيه ضرب المثل بما يصل إلى الإفهام من الأمور المحسوسة والارشاد إلى الحض على محاسبة النفس واعتبار العلامات الدالة على بقاء نعمة الإيمان ﴾[2]

يعنې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په حديث کښې ډير فوائد دی

① د سړی دپاره ځانله سفر کول جائز دی. ځکه چه شارع صرف د هغه څيزونو سره مثال بيانوی کوم چه جائز وی، او حديث د نهی په کراهت باندې محمول دی او د دې حديث نه د نهی حکمت هم ښکاره کيږی

② کوم سړی چه په غير الله باندې اعتماد اوکړو نو الله پاک د هغه نه د هغه د ټولو نه اهم او ضروری څيز منقطع کوی. ځکه چه هغه سړې په صحرا کښې يواځې په دې وجه اوده شوې وو چه د هغه په خپله توښه باندې اعتماد وو چه کله هغه په توښه باندې اعتماد اوکړو نوې هغې هغه سره خيانت اوکړو

③ د الله پاک حکم ته سر ښکته کولو کښې برکت دې. ځکه چه دا سړې چه د خپلې سورلۍ د ملاويدو نه مايوس شو نو د مرګ مخکښې تسليم شو، نو الله پاک په هغه باندې احسان کولو سره د هغه ورک شوې څيز را واپس کړو

[1] صحيح مسلم، کتاب التوبة، باب فی الحض على التوبة والفرح بها : ۲۱۰۴/۴
[2] فتح الباری ۱۰۸/۱۱ (المکتبة الشاملة)

④ مثال: د هغه امور محسوسه سره بيانول پکار دی چه د هغې په فهم کښې آساني وی
⑤ د نفس د محاسبه کولو ترغيب پکښې ورکړې شوی دی او د هغه علاماتو د اظهار حکم ورکړې شوې دي کوم چه د نعمت په باقي کيدو باندی دلالت کوی

قوله: تابعه ابوعوانة وجرير عن الاعمش: پوره په سند کښې ترتيب دا دې (ابوشهاب عن الاعمش عن عمارة عن الحارث) ... د ابوشهاب متابعت ابو عوانة وضاح بن عبدالله يشکری رحمه الله او جرير بن عبدالحميد رحمه الله کړې دې. د ابوعوانة متابعت اسماعيلی او د جرير متابعت بزار موصولا نقل کړې دې.[1]

قوله: ﴿وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، حَدَّثَنَا عُمَارَةُ سَمِعْتُ الحَارِثَ﴾: ابو اسامة حماد بن اسامة هم د اعمش نه دا روايت نقل کړې دې. خو په هغې کښې د عنعنه په ځائې د سماع تصريح ده. دا تعليق امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړې دې.[2]

قوله: ﴿وَقَالَ شُعْبَةُ، وَأَبُو مُسْلِمٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنِ الحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ﴾: شعبه بن الحجاج او ابو مسلم عبيدالله هم دا روايت د اعمش نه نقل کړې دې خو په دې طريق کښې د اعمش شيخ عمارة نه دې بلکه ابراهيم تيمی دې. د دې نه معلومه شوه چه کوم طرق تير شوې دی په هغې کښې د اعمش شيخ عمارة دې.

قوله: ﴿وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ عُمَارَةَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنِ الحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ﴾: د ابو معاوية بن حازم دا طريق نور هم مختلف دې. هغه د اعمش په واسطه باندې او ابراهيم دواړو نه نقل کوی خو د عمارة د شيخ په ځائې اسود دې، او په ما قبل ټولو طرق کښې د هغوی شيخ حارث دې او د ابراهيم په طريق کښې د هغوی شيخ حارث بن سويد دې او په اول طريق کښې هغه د عمارة شيخ دې

دغه شان دا ټول طرق راجمع شو او په دې کښې د دې جزوی اختلاف نشاندهی هم امام بخاری رحمه الله اوکړه. خو امام مسلم رحمه الله چونکه صرف د ابو شهاب طريق ذکر کړې دې[3]، امام بخاری رحمه الله هم موصولا هم هغه طريق ذکر کړې دې. په دې وجه هم هغه قابل ترجيح دې. شارحينو ليکلي دی چه دغه شان اختلاف قادح او مضر نه وی.[4]

---

[1] عمدة القاری ۲۸۱/۲۲. ارشاد الساری ۳۱۲/۱۳
[2] فتح الباری ۱۲۹/۱۱
[3] فتح الباری ۱۲۹/۱۱. عمدة القاری : ۲۸۲/۲۲. ارشاد الساری : ۳۱۳/۱۳
[4] فتح الباری ۱۲۹/۱۱. عمدة القاری : ۲۸۲/۲۲. ارشاد الساری : ۳۱۳/۱۳

۵۹۵۰ [۱] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - . وَحَدَّثَنَا هُدْبَةُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « اللَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلَى بَعِيرِهِ، وَقَدْ أَضَلَّهُ فِي أَرْضِ فَلَاةٍ »

سیدنا انس بن مالک رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی الله پاک د خپل بنده په توبه باندې د هغه سړي نه هم زیات خوشحالیږي. چه هغه ته په ځنګل کښې د هغه ورک شوي اوښ دوباره ملاؤ شي

امام بخاری رحمه الله دا روایت په دوه طریق سره نقل کړې دې. اول طریق کښې د هغوی شیخ اسحاق بن حبان دې او په دویم طریق کښې د هدبه بن خالد نه دې.

امام مسلم رحمه الله هم په کتاب التوبة کښې دا حدیث ذکر کړې دې. هغوی د هدبة په طریق سره نقل کړې دې [۲]

⑤ باب الضَّجْعِ عَلَى الشِّقِّ الأَيْمَنِ

۵۹۵۱ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ، حَتَّى يَجِيءَ الْمُؤَذِّنُ فَيُؤْذِنَهُ. [ر: ۱۹۴۹]

د سیده عائشه رضي الله عنها نه روایت دې هغوی بیان اوکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شپې یولس رکعته کول. بیا چه به کله صبا راوختلو. نو دوه سپک سپک رکعتونه به ئې اوکړه. بیا به په خپل ښی طرف باندې سملاستلو. تردې چه مؤذن به راغلو او هغوی ته به ئې خبر ورکړو

د ترجمة الباب مقصد په ښی طرف باندې سملاستل مستحب دی. امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ددې استحباب بیانول غواړي. په کتاب الدعوات کښې د دې مناسبت بیان کړې شوې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په ملاسته باندې دعاګانې لوستلې. لکه چه وړاندې راځی [۳] بعض حضراتو وئیلي دی چه دا ئې د وړاندې بابونو دپاره په طور د تمهید او توطئه ذکر فرمائیلي دي [۴]

---

[۱] الحديث اخرجه مسلم في كتاب التوبة. باب في الحض على التوبة والفرح بها. (رقم الحديث : ۲۷۴۷) واخرجه الترمذي في كتاب الدعوات. باب في فضل التوبة والاستغفار وما ذكر من رحمة الله لعباده. (رقم الحديث : ۳۵۳۸). واخرجه ابن ماجة في كتاب الزهد. باب ذكر التوبة (رقم الحديث : ۴۲۴۷).

[۲] صحيح مسلم. كتاب التوبة. باب في الحض على التوبة والفرح بها : ۲۱۰۵/۴. رقم الحديث : ۱۷۴۷

[۳] عمدة القاري : ۲۸۲/۲۲. ارشاد الساري : ۳۱۴/۱۳

[۴] فتح الباري ۱۳۱/۱۱. ارشاد الساري : ۳۱۴/۱۳

په ښی طرف باندې د سملاستلو فوائد: په ښی طرف باندې د سملاستلو ډیرې فائدې دی. زړه عموما چونکې ګس طرف ته وی. په دې وجه په ښی طرف باندې سملاستلو کښې په هغه باندې بوجهه نه راځی. خوب هم ډیر زیات ژور نه وی چه د انسان نه مونځ فوت شی. د زړه حرکت هم په مناسب رفتار سره وی نور هم ډیر فوائد بیان کړې شوې دی.[1]

⑥ باب إِذَا بَاتَ طَاهِرًا

[۵۹۵۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ مَنْصُورًا عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رضی الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ، وَقُلِ اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَهْبَةً وَرَغْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. فَإِنْ مُتَّ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَاجْعَلْهُنَّ آخِرَ مَا تَقُولُ» فَقُلْتُ أَسْتَذْكِرُهُنَّ وَبِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ قَالَ «لاَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ» [ر ۲۴۴]

د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد دا دې چه انسان په اودس کښې اوده شی. د دې فضیلت دې. په سنن ابی داؤد کښې د سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه مرفوع روایت دې:

﴿ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَبِيتُ عَلَى ذِكْرٍ طَاهِرًا فَيَتَعَارُّ مِنَ اللَّيْلِ فَيَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ ﴾[2]

یعنی کوم مسلمان چه اودس کولو سره ذکر کولو سره اوده شی او د شپې د هغه سترګې اوغړیږی او هغه د الله پاک نه د دنیا او آخرت د څه خیر سوال اوکړی نو الله پاک ئې ورته ضرور ورکوی.

د باب د کتاب سره مناسبت: د کتاب الدعوات سره د دې باب د مناسبت په باره کښې علامه عینی رحمه الله لیکی: هوان فيه دعاء عظيما[3] یعنی د کتاب الدعوات سره د دې باب مناسبت دا دې چه په دې کښې د یوې عظیم الشان دعا ذکر دې.

په روایت الباب کښې دی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله تاسو د اوده کیدو اراده اوکړئ نو اودس اوکړئ. څنګه چه د مانځه دپاره اودس کولې شی او دا دعا اولوله:

﴿ قُلِ اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ، وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ ﴾

یعنی اې الله! زما خپل نفس ستا اطاعت کونکې جوړ کړو. ما خپله معامله تاته اوسپارله. ما خپل ذات ستا طرف ته متوجه کړو او ما ته د خپلې شا اسره جوړه کړې ستا طرف ته د رغبت او شوق او ستا د ویرې د وجې نه. (ځکه چه) ستا نه علاوه ستا نه د تیختې او پناه

---

[1]) الابواب والتراجم ۲/۱۲۷، فیض الباری ۴/۴۱۶

[2]) سنن ابی داؤد، ابواب النوم، باب فی النوم علی طهارة ۴/۳۱۰، رقم الحدیث: ۵۰۴۲

[3]) عمدة القاری: ۵۰۴۲

اخستلو خائې نشته. ما ايمان راوړې دې ستا په كتاب كوم چه تا نازل كړې دې او ستا په نبى ﷺ كوم چه تا راليږلې دې

كه د دې دعا لوستلو سره تاسو اوده شئ او مړه شئ نو ستاسو مرګ به په فطرت باندې وى.

دا كلمات د ټولو خبرو په آخره كښې لولئ چه د هغې نه پس بيا هيڅ خبره نه وى.

يو اشكال او د هغې جواب

قوله: ﴿فَإِنْ مُتَّ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ﴾: په دې باندې اشكال كړې شوې دې چه كله دا كلمات او نه لولى او په اوده كيدو سره د هغه وفات اوشى نو د هغه مرګ به بيا هم په فطرت وى نو بيا د دې كلماتو د لوستلو څه خصوصيت او فائده ده؟ علامه قسطلانى رحمه الله په جواب كښې ليكى:

﴿اجيب بتنويع الفطرة، فطرة القائلين فطرة المقربين الصالحين، وفطرة الاخرين فطرة عامة المؤمنين﴾[۱]

يعنى د فطرت څو قسمونه دى. يو د عام مومنانو فطرت دې او يو د مقربين او صالحينو فطرت دې. د دې كلماتو د لوستونكو مرګ به د صالحينو په فطرت باندې وى. او د هغوى نه علاوه د نورو خلقو مرګ به د عام مومنانو په فطرت باندې وى او دغه شان د دې دعا امتياز واضح كيږى

په ماثور دعاګانو كښې د روايت بالمعنى حكم:

قوله: ﴿فقلت: استذكرهن: وبرسولك الذى ارسلت﴾: سعد بن عبيد رحمه الله د سيدنا براء بن عازب رضى الله عنه نه تپوس اوكړو چه په دې دعا كښې د ﴿وبرسولك الذى ارسلت﴾ الفاظ تاسو ته ياد دى؟ هغوى اوفرمائيل نه؛ بلكه ﴿وبنبيك الذى ارسلت﴾ الفاظ ماته ياد دى.

روايت بالمعنى اګر چه جائز دې او د رسول په ځائې د نبى وئيلو او لوستلو ګنجائش دې خو په ماثور دعاګانو كښې روايت باللفظ كيدل پكار دى. ځكه چه د اذكار او دعاګانو الفاظ توقيفى وى. پس حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.

﴿ان الفاظ الاذكار توقيفية، ولها خصائص واسرار لا يدخلها القياس، فتجب المحافظة على اللفظ الذى وردت به﴾[۲]

يعنى: د اذكار او دعاګانو الفاظ توقيفى وى او د دې خپل اسرار او خصوصيات وى. په قياس او عقل سره د دې ادراک نه شى كيدلې. لهذا په كومو الفاظو سره چه دا د اذكار او دعاګانې وارد دى د هغې رعايت ضرورى دې.

سيدنا براء بن عازب رضى الله عنه د رسول الله ﷺ مخكښې دا دعا مكرر كړې وه او ﴿وبرسولك الذى ارسلت﴾ ئې لوستلې وو نو رسول الله ﷺ ئې اصلاح اوفرمائيله او د ﴿برسولك﴾ په ځائې ئې

---

[۱] ارشاد السارى: ۳۱۵/۱۳

[۲] فتح البارى ۱۳۵/۱۱

﴿وبنبيك﴾ لوستلو حكم اوكړو

د اوده کیدو درې سنت امام نووی رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې درې سنن دی. یو: اوده کیدو په وخت اودس. که د مخکښې نه ئې اودس وی نو د نوی اودس ضرورت نشته ځکه چه مقصود نوم على الطهارت دې کوم چه د مخکښې نه حاصل دې. دویم په ښی طرف باندې سملاستل او دریم ختم بذکر الله. [۱]

د اوده کیدو یو بل ادب: د اوده کیدو په آدابو کښې یو ادب خو په ښی طرف باندې اودس او د طهارت په حالت کښې اوده کیدل دی او په وړاندې ابوابو کښې د هغه دعاګانو ذکر دې کومې چه د اوده کیدو په وخت د رسول الله ﷺ نه منقول دی. خو قبلې ته د مخ کولو سره د اوده کیدو ذکر نه دې کړې شوې. امام ابوداؤد رحمه الله په سنن کښې باب قائم کړې دې ﴿باب كيف يتوجه الرجل عند النوم﴾ او د هغې د لاندې ئې د سيدنا ابوقلابة رضي الله عنه روايت نقل کړې دې. چه د هغې الفاظ دا دی.

﴿كَانَ فِرَاشُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- نَحْوًا مِمَّا يُوضَعُ الإِنْسَانُ فِي قَبْرِهِ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ﴾ [۲]

یعنی د رسول الله ﷺ بستره به داسې وه ځنګه چه انسان د هغه په قبر کښې کیخودلې شی او مسجد په کوم کښې چه به رسول الله ﷺ مونځ کولو، به د هغوی د سر سره وو د دې حدیث نه د رسول الله ﷺ د اوده کیدو هیئت معلوم شو چه د هغوی مخ به د قبلې طرف ته وو ځکه چه په قبر کښې مړی لره د قبلې طرف ته مخ کولو سره سملولې شی.

④ باب مَا يَقُولُ إِذَا نَامَ

۵۹۵۳ [۳] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ «بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا». وَإِذَا قَامَ قَالَ «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ». [۵۹۵۵، ۵۹۲۵، ۶۹۵۹]

---

[۱] شرح صحيح مسلم للنووی، كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب الدعاء عند النوم ۳۴۸/۲

[۲] سنن ابی داؤد، كتاب الادب، ابواب النوم، باب كيف يتوجه: ۳۱۰/۴، رقم الحديث: ۵۰۴۴ (اسناده ضعيف)

[۳] (۵۹۵۳) : الحديث اخرجه البخارى ايضا فى كتاب الدعوات، باب وضع اليد اليمنى تحت الخد الايمن (رقم الحديث : ۶۳۱۴)، واخرجه ايضا فى باب ما يقول اذا صح (رقم الحديث : ۶۳۲۴)، واخرجه ايضا فى كتاب التوحيد، باب السوال باسماء الله تعالى والاستعاذة بها (رقم الحديث : ۷۳۹۴)، واخرجه ابوداؤد فى كتاب الادب، باب : ما يقال عند النوم ۳۱۱/۴ (رقم الحديث : ۵۰۴۹) واخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات، باب منه : ۴۸۱/۵، (رقم الحديث : ۳۴۱۷) واخرجه النسائى فى كتاب عمل اليوم والليلة، باب ما يقول من يفزع فى منامه : ۱۹۲/۶ (رقم الحديث : ۱۰۶۰۸)، واخرجه ابن ماجة فى كتاب الدعاء، باب ما يدعو به اذا انتبه من الليل ۱۲۷۷/۲ (رقم الحديث : ۳۸۸۰) واخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والاستغفار، باب : ما يقول عند النوم واخذ المضجع (رقم الحديث : ۲۷۱۱)

«ننشزها» البقرة: ۲۵۹: نخرجها

د اودهٔ کیدو دعا د اودهٔ کیدو په وخت ماثور دعا په دې باندې کښې امام بخاری رحمه الله بیان فرمائیلې ده. په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ به کله د بسترې طرف ته د آرام فرمائیلو دپاره تلو نو ﴿اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا﴾ به لوستل (یعنی اې الله! زه هم ستا په نوم باندې مرم او ژوندې کیږم) او چه کله به پاسیدو نو ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُور﴾ (یعنی ټول د کمال صفات د الله پاک دپاره دی چه هغه مونږ ته د مرګ راکولو نه پس دوباره ژوند راکړو او هم د هغه طرف ته د مرګ نه پس واپس کیدل دی).

د ﴿النشور﴾ معنی بعث بعد الموت او د مرګ نه پس د الله پاک طرف ته د واپس کیدو ده [1].

[۵۹۵۴] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ وَمُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالاَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَمَرَ رَجُلاً.

وَحَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَوْصَى رَجُلاً فَقَالَ «إِذَا أَرَدْتَ مَضْجَعَكَ فَقُلِ اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. فَإِنْ مُتَّ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ».

د سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ یو سړی ته حکم اوکړو او په بل سند کښې دی چه رسول الله ﷺ یو سړی ته وصیت اوکړو او وې فرمائیل چه کله ته بسترې ته د تلو اراده اوکړې نو دا دعا لوله

﴿اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ، وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ﴾ پس که ته د دې دعا د لوستلو نه پس مړ شې نو په فطرت به مړ شې

⑧ بَاب وَضْعِ الْيَدِ الْيُمْنَى تَحْتَ الْخَدِّ الأَيْمَنِ

[۵۹۵۵] حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ رِبْعِيٍّ عَنْ حُذَيْفَةَ - رضى الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ «اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا». وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ». [ر ۵۹۵۳]

د سیدنا حذیفه رضی الله عنه نه روایت دې هغوی بیان کوی چه رسول الله ﷺ به چه کله د شپې بسترې ته راتلو نو خپل لاس به ئې د خپل اننګی د لاندې کیخودلو. بیا به ئې فرمائیل

[1]) النهاية لابن الاثير، مادة: نشر: ۵/۵۴

﴿اللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا﴾ او چه كله به د خوب نه بيدار شو نو فرمائيل به ئې ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِى أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُور﴾.

رسول الله ﷺ به د اودهٔ كيدو په وخت ښي لاس د اننګى مبارک نه لاندې كيخودلو. په روايت الباب كښې لاس د اننګى نه د لاندې كيخودلو ذكر دې. د ښى رخسار تصريح پكښې نشته

امام ترمذى رحمه الله د سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې. په هغې كښې دا تصريح دد. په هغې كښې دى ﴿كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ يَتَوَسَّدُ يَمِينَهُ عِنْدَ الْمَنَامِ ثُمَّ يَقُولُ: رَبِّ قِنِى عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ﴾ [1]، يعنى: رسول الله ﷺ به د اودهٔ كيدو په وخت خپل ښي لاس د سر د لاندې د تكيه په شان كيخودلو بيا به ئې دا دعا لوستله. اې زما ربه: ته ما د خپل عذاب نه محفوظ اوساته چه په كومه ورځ به ته خپل بندګان اوچتوې

چونكه دا روايت د امام بخارى رحمه الله په شرط باندې نه وو. په دې وجه هغوى د خپل عادت مطابق په ترجمة الباب كښې ﴿ الخد اليمنى ﴾ ذكر كولو سره د دې روايت طرف ته اشاره اوفرمائيله

⑨ باب النَّوْمِ عَلَى الشِّقِّ الأَيْمَنِ

٥٩٥٦ | حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ حَدَّثَنَا الْعَلاَءُ بْنُ الْمُسَيَّبِ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ نَامَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ «اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِى إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِى إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِى إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِى إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِى أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِى أَرْسَلْتَ. وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ قَالَهُنَّ ثُمَّ مَاتَ تَحْتَ لَيْلَتِهِ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ».

د سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې هغوى بيان اوكړو چه رسول الله ﷺ به كله خپلې بسترې ته تلو نو په خپل ښى طرف به اودهٔ كيدو. بيا به ئې فرمائيل.

﴿ قُلِ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِى إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِى إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِى إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ، وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ اللّٰهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِى أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِى أَرْسَلْتَ ﴾

رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چا چه دا كلمات اووئيل. او بيا هم په دغه شپه باندې وفات شي نو هغه به په فطرت يعنى دين اسلام باندې وفات شي.

---

[1] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات. باب ما جاء فى فى الدعاء اذا اوى الى فراشه ٤٧١/٥. رقم الحديث : ٣٣٩٩. قال الترمذى : هذا حديث غريب من هذا الوجه. ورواه ابوداؤد فى ابواب النوم. باب ما يقال عند النوم : ٣١٠/٤، ٣١١. رقم الحديث : ٥٠٤٥

د ترجمة الباب مقصد د دې نه مخکښې د ﴿ ضجع على الشق الايمن ﴾ ذکر وو او په دې باب کښې د ﴿ نوم على الشق الايمن ﴾ ذکر دې. په ضجع او نوم دواړو کښې د عموم خصوص من وجه نسبت دې. ډير کرته انسان سملی خو خوب نه کيږی. او خوب ډير کرته د سملاستلو نه بغير په ناسته ناسته هم راشی (١)

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه سملاستل او اوده کيدل دواړه په نبی طرف باندې کول پکار دی. پس په روايت کښې د ﴿ نَامَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ ﴾ الفاظ دی.

(اسْتَرْهَبُوهُمْ) الاعراف: ١١٦: مِنَ الرَّهْبَةِ، مَلَكُوتٌ الانعام: ٧٥: مُلْكٌ مَثَلُ رَهَبُوتٌ خَيْرٌ مِنْ رَحَمُوتٍ، تَقُولُ تَرْهَبُ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَرْحَمَ.

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د سورة اعراف په آيت کريمه ﴿ فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴾ کښې ﴿ اسْتَرْهَبُوهُمْ ﴾ د ﴿ رهبة ﴾ نه مشتق دې. چونکه په حديث الباب کښې ﴿ رهبة ﴾ لفظ راغلې وو. په دې وجه امام بخاری رحمه الله د خپل عادت مطابق د معمولی مناسبت د وجې نه د ﴿ استرهبوهم ﴾ طرف ته لاړو. د ﴿ رهبة ﴾ نه يو لفظ ﴿ رهبوت ﴾ راځی. وئيلې شی ﴿ رهبوت خير من رحموت ﴾ يعنی چه ته اويرولې شې. دا د دې نه غوره ده چه په تا باندې رحم اوکړې شی. د ﴿ رهبوت ﴾ په وزن باندې يو لفظ ﴿ ملکوت ﴾ دې. کوم چه په سورة انعام آيت ٧٥ کښې واقع دې. ﴿ وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ په دې کښې ﴿ ملکوت ﴾ د ملک په معنی کښې دې. په بعض نسخو کښې دا کلمات نشته. علامه عينی رحمه الله فرمائی ﴿ هذا لم يقع فى بعض النسخ، وليس لذكره مناسبة هنا ﴾ (٢)

⑩ باب الدُّعَاءِ إِذَا انْتَبَهَ بِاللَّيْلِ

[٥٩٥٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سَلَمَةَ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ بِتُّ عِنْدَ مَيْمُونَةَ فَقَامَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَتَى حَاجَتَهُ، غَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ نَامَ، ثُمَّ قَامَ فَأَتَى الْقِرْبَةَ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا بَيْنَ وُضُوءَيْنِ لَمْ يُكْثِرْ، وَقَدْ أَبْلَغَ، فَصَلَّى، فَقُمْتُ فَتَمَطَّيْتُ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَرَى أَنِّي كُنْتُ أَتَّقِيهِ، فَتَوَضَّأْتُ، فَقَامَ يُصَلِّي، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، فَأَخَذَ بِأُذُنِي فَأَدَارَنِي عَنْ يَمِينِهِ، فَتَتَامَّتْ صَلاَتُهُ ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ - وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ - فَآذَنَهُ بِلاَلٌ بِالصَّلاَةِ، فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ، وَكَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ « اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا،

---

(١) الابواب والتراجم ١٢٧/٢

(٢) ارشاد السارى ٣٢٠/١٣، عمدة القارى : ٤٤٤/٢٢

وفِي سَمْعِي نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ يَسَارِي نُورًا، وَفَوْقِي نُورًا، وَتَحْتِي نُورًا، وَأَمَامِي نُورًا، وَخَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ لِي نُورًا».

قَالَ كُرَيْبٌ وَسَبْعٌ فِي التَّابُوتِ. فَلَقِيتُ رَجُلاً مِنْ وَلَدِ الْعَبَّاسِ فَحَدَّثَنِي بِهِنَّ، فَذَكَرَ عَصَبِي وَلَحْمِي وَدَمِي وَشَعَرِي وَبَشَرِي، وَذَكَرَ خَصْلَتَيْنِ. [ر ۱۱۷]

د شپې د پاسیدو دعا په دې باب کښې د شپې د پاسیدو سره د دعا لوستلو بیان دې. د باب په دې اول روایت کښې سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه زه یوه شپه د سیده میمونه رضی الله عنها سره اوم نو رسول الله ﷺ پاسیدو، د خپل ضرورت نه چه فارغ شو نو خپل مخ مبارک او لاسونه ئې وینځل. بیا اوده شو او بیا ئې پاسیدو سره د مشک طرف ته تشریف راوړلو. د هغې خوله ئې پرانستله بیا ئې د مینځنئ درجې اودس اوکړو. داسې چه زیاتې اوبه ئې استعمال نه کړې خو اوبه ئې خپلو ټولو اندامونو ته اورسولې. بیا رسول الله ﷺ مونځ اولوستلو.

د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما بیان دې چه زه اوس پاسیدم. خو ما په پاسیدو کښې ناوخته کړو. په دې وجه چه ما دا خبره ناخوښه ګڼړله چه رسول الله ﷺ دا اوګنړی چه زه هغوی ته ګورم. پس ما اودس اوکړو. رسول الله ﷺ اودریدلو او مونځ ئې شروع کړو نو زه د هغوی ګس طرف ته اودریدم. هغوی زما غوږ اونیولو او ښی طرف ته ئې راوستلم رسول الله ﷺ پوره دیارلس رکعته مونځ اوکړو. بیا سملاستلو او اوده شو. تردې چه د هغوی د اوده کیدو آوازونه راتلل. چه کله به رسول الله ﷺ اوده کیدو نو د خړاری آواز به راتلو. د دې نه پس سیدنا بلال رضی الله عنه هغوی ته د مانځه خبر ورکړو نو هغوی مونځ اوکړو خو اودس ئې اونکړو او په خپله دعا کښې به ئې دا فرمائیل:

﴿اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي بَصَرِي نُورًا وَفِي سَمْعِي نُورًا وَعَنْ يَمِينِي نُورًا وَعَنْ يَسَارِي نُورًا وَفَوْقِي نُورًا وَتَحْتِي نُورًا وَأَمَامِي نُورًا وَخَلْفِي نُورًا وَاجْعَلْ لِي نُورًا﴾

یعنی اې الله! زما په زړه کښې نور پیدا کړه. زما په سترګو کښې نور پیدا کړه. زما په غوږونو کښې نور پیدا کړه. زما ښی طرف ته نور پیدا کړه. زما ګس طرف ته نور پیدا کړه. زما دپاسه نور پیدا کړه. زما نه لاندې نور پیدا کړه. زما مخې ته نور پیدا کړه. زما نه شاته نور پیدا کړه. او ته ما ته د ټولو انوارو جامع عظیم نور راکړه.

قوله: فاطلق شناقها: ﴿شناق﴾ نه هغه رسئ مراد ده چه په هغې سره د مشک خوله تړلې شی

﴿وَقَدْ أَبْلَغَ ای اوصل الماء الی ما یجب ایصاله الیه﴾ یعنی چرته چه اوبه رسول ضروری وو. هلته ئې اوبه اورسولې.

﴿فَتَمَطَّيْتُ﴾: یعنی ما ناوخته کړو. تاخیر مې اوکړو

﴿انی کنت ارقبه﴾: ﴿ارقب﴾ معنی ئې د نګرانئ کولو ده. په یو رایت کښې د ﴿اتنقبه﴾ دې. د

تنقیب معنی د تفتیش دہ [۱]

قوله: ﴿فتتامت صلاته﴾: تتامت لازم استعمالیږی په معنی د ﴿تکاملت﴾ مکمل کیدل.

د جهات ستة او اندامونو دپاره د نور دعا غوښتلو وجه رسول الله ﷺ د خپل بدن د اندامونو دپاره اود خپل جهات ستة دپاره د نور دعا اوغوښتله. علامه قسطلانی رحمه الله د شیخ اکمل الدین په حوالې سره د دې تشریح لیکی :

﴿ اما النور الذی عن یمینه، فهو المؤید له والمعین علی ما یطلبه من النور الذی بین یدیه، والذی عن یساره، نور الوقایة، والذی خلفه فهو النور الذی یسعی بین یدی من یقتدی به ویتبعه، فهولهم من بین ایدیهم، وهو له صلی الله علیه وسلم من خلفه، فیتبعونه علی بصیرة، کما ان المتبع علی بصیرة، قال الله تعالی ﴿ قل هذه سبیلی ادعوالی الله علی بصیرة انا ومن اتبعن ﴾ واما النور الذی فوقه فهوتنزل نور الهی قدسی بعلم غریب لم یتقدمه خبر، ولا یعطیه نظر، وهو الذی یعطی من العلم بالله ماترده الادلة العقلیة، اذا لم یکن لها ایمان، فاذا کان لها ایمان نوراني قبلته بتاویل لتجمع بین الامرین، وقوله : واجعل لی نورا : یجوز انه ادا نورا عظیما جامعا للانوار کلها یعنی التی ذکرها هنا، والتی لم یذکرها کانوار السماء الالهیة، وانوار الارواح وغیره ذلک ﴾ [۲]

یعنی : هر چه هغه نور دې کوم چه د رسول الله ﷺ ښی طرف ته دې نو هغه د هغه نور په طلب کښې د رسول الله ﷺ موئد او مددګار دې کوم چه د رسول الله ﷺ مخې ته دې او هغه نور کوم چه د رسول الله ﷺ ګس طرف ته دې نو هغه حفاظتی نور دې او هغه نور کوم چه د رسول الله ﷺ نه شاته دې هغه داسې نور دې کوم چه د رسول الله ﷺ د منونکو او تابعدارو مخې ته روان وی. نو دا داسې نور دې کوم چه د رسول الله ﷺ د تابعدارو دپاره دې کوم چه د هغوی نه وړاندې وړاندې وی او هم دا نور د رسول الله ﷺ دپاره دې کوم چه د رسول الله ﷺ نه شاته شاته وی. چه د هغې د وجې نه صحابه کرام رضی الله عنهم په بصیرت او فهم سره د رسول الله ﷺ اتباع کوی پس د الله پاک فرمان دې : تاسو اوفرمايئ دا زما لاره ده چه زه د الله پاک طرف ته رابلل کوم په بصیرت باندې زه هم او زما تابعدار هم

او پاتې شو هغه نور کوم په رسول الله ﷺ دپاسه دې نو د هغې نه مراد هغه قدسی او الهی نور دې کوم چه د داسې عجیب او ناآشنا علم راوړلو سره راکوزیږی چه د هغې مخکښې نه څه خبر ورکړې شوې دې او نه چاته عقل او نظر هغه ورکوی دا هغه نور دې کوم چه د الله پاک سره متعلق داسې علم ورکوی چه د هغې ادلة عقلية تردید کوی کله چه هغه د نور ایمان نه خالی وی او که هغه ادلة عقلیه په نور ایمان باندې کامل وی نو هغه ئې قبلوی.

لهذا هغه عقل او نقل دواړو لره جامع وی. د ﴿واجعل لی نورا﴾ دا معنی کیدې شی چه رسول الله ﷺ هغه عظیم نور مراد کړې دې کوم چه دې ټولو انواراتو لره جامع دې. هغه انوراتو ته

---

[۱] النهاية لابن الاثير. مادة : نقب : ۱۰۱/۵

[۲] ارشاد الساري: ۳۲۱/۱۳

هم کوي چه په دعا کښې مذکور دی. او هغې ته هم د کومو ذکر چه رسول الله ﷺ نه دی کړې. مثلا اسماني. الهي انوارات. د ارواح انورات

قوله: ﴿قَالَ كُرَيْبٌ وَسَبْعٌ فِي التَّابُوتِ فَلَقِيتُ رَجُلاً مِنْ وَلَدِ الْعَبَّاسِ فَحَدَّثَنِي بِهِنَّ فَذَكَرَ عَصَبِي وَلَحْمِي وَدَمِي وَشَعْرِي وَبَشَرِي وَذَكَرَ خَصْلَتَيْنِ﴾:

د تابوت تشريح : کريب وائي چه اووه کلمات په تابوت کښې دی. دلته د تابوت په باره کښې درې اقوال مشهور دی:

① د تابوت نه سينه مراد ده. د کريب مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ چه د مختلفو څيزونو دپاره د نور کومه دعا غوښتلې ده. په هغې کښې د اووه نورو څيزونو دپاره هم دعا کړې شوې ده. هغه زما په سينه کښې خو دی خو ماته ياد نه دی پاتې. پس زه د دې نه پس د عباس رضي الله عنهما په اولاد کښې د يو سړی سره ملاؤ شوم نو هغوی هغه اووه څيزونه ماته بيان کړل. پس هغوی عصب. لحم. دم. شعر او بشر ذکر اوکړو (چه رسول الله ﷺ اللهم اجعل في عصبي نورا، وفي لحمي نورا، وفي دمي نورا، وفي شعري نورا وفي بشري نورا ﴾ هم فرمائيلي وو. او د دوه نورو خصلتونو ذکر ئې اوکړو [1] د دې خصلتونو يا عظم او مخ (هډوکي او مغز) مراد دې. يا شحم او عظم (وازګه او هډوکي) مراد دې دغه شان دا ټول اووه څيزونه جوړيږی [2].

② دويم قول د علامه ابن الجوزی رحمه الله دې. هغه دا چه د تابوت نه صندوق مراد دې او مطلب دا دې چه پاتې اووه ماته ياد نه دی. بلکه په صندوق کښې دننه ليکلې شوې محفوظ دی [3].

③ دريم قول دا دې چه د تابوت نه بدن مراد دې او د کريب مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ د خپلو جهات ستة دپاره د نور دعا غوښتلې ده او د اووه داسې څيزونو دپاره ئې هم دعا اوغوښتله چه د هغې تعلق د جهات او معانی سره نه دې بلکه د انسانی بدن سره دې. پس د سيدنا عباس رضي الله عنه په اولاد کښې يو سړی د هغې وضاحت په عصبي، لحمي ... وغيره زما په تپوس کولو باندې اوکړو [4]

قوله: ﴿فَلَقِيتُ رَجُلاً مِنْ وَلَدِ الْعَبَّاسِ﴾: شارحينو ليکلې دی چه د رجل نه مراد علی بن عبدالله بن عباس دې [5]

په بعض رواياتو کښې د ﴿اللَّهُمَّ أَعْظِمْ لِي نُورًا وَأَعْطِنِي نُورًا﴾ اضافه هم ده [6].

---

[1]) عمدة القارى ۲۸۷/۲۲. فتح البارى : ۱٤۱/۱۱. ارشاد السارى : ۳۲۲/۱۳
[2]) عمدة القارى ۲۸۷/۲۲. فتح البارى : ۱٤۲/۱۱. ارشاد السارى : ۳۲۲/۱۳
[3]) عمدة القارى ۲۸۷/۲۲. فتح البارى : ۱٤۱/۱۱. ارشاد السارى : ۳۲۲/۱۳
[4]) فتح البارى : ۱٤۲/۱۱. ارشاد السارى : ۳۲۲/۱۳
[5]) فتح البارى : ۱٤۲/۱۱. ارشاد السارى : ۳۲۲/۱۳
[6]) الحديث اخرجه الامام مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها. باب الدعاء ... [بقيه برصفحه آئنده...

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی

﴿ ويجتمع من اختلاف الروايات كما قال ابن العربي خمس وعشرون خصلة ﴾[۱] یعنی چه په مختلف روایاتو کښې دا ذکر شوې خصلتونه راجمع کړې شی نو تعداد ئې پنځویشتو ۲۵، ته رسیږی لکه چه ابن العربی رحمه الله فرمائیلې دی

علامه طیبی رحمه الله فرمایی:

﴿ معنى طلب النور للأعضاء عضواً عضواً أن يتحلى بأنوار المعرفة والطاعة ويتعرى عن الظلمة الجهالة والمعصية لأن الإنسان ذو سهو وطغيان رأى أنه قد أحاطت به خطيئة ظلمات الجبلة معتورة عليه من فرقه إلى قدمه والأدخنة الثائرة من ميزان الشهوات من جوانبه ورأى الشيطان يأتيه من الجهات الست بوساوسه وشبهاته ظلمات بعضها فوق بعض لم ير للتخليص منها مساغاً إلا بأنوار سادة لتلك الجهات.... وكل هذه الأنوار راجعة إلى هداية وبيان وضياء للحق وإلى مطالع هذه الأنوار قوله {الله نور السماوات والأرض - إلى قوله - نور على نور يهدى الله لنوره من يشاء} ﴾[۲]

یعنی: د یو اندام دپاره د نور د دعا غوښتلو مطلب دا دې چه دا اندامونه د الله پاک په معرفت او طاعت سره منور او روښانه شی او د جهالت او ګناهونو تیرې د هغوی نه ختمې شی ځکه چه انسان د سرکشئ او خطاء کالبوت دې. رسول الله ﷺ اوکتله چه د فطرت او جبلت تیرو انسان د تندی نه تر خپو پورې مسلسل ګیر کړې دې. د شهوات نفسانیه د اور نه اوچتیدونکو لوږو هغه د هر طرف نه راګیر کړې دې. رسول الله ﷺ اوکتل چه شیطان انسان ته د شپږو طرفونو نه د خپلو وسوسو او شبهاتو سره راځی. غرض دا چه انسان ښکته پورته په سختو تیرو کښې ډوب دې. نو رسول الله ﷺ د دې نه د خلاصی دپاره صرف یوه ذریعه اوموندله. یعنی دا عظیم انوارات کوم چه د شپږو واړو طرفونو دپاره محافظ او پرده ده. دا ټول انوارات د هدایت او حق د رڼا او بیان طرف ته راجع دی او د دې انواراتو د مطالع طرف ته دالله پاک دا فرمان رهنمائی کوی ﴿ الله نور السموات والارض ﴾ الله پاک نور دې د اسمانونو او د زمکو. ﴿ نور على نور ﴾ رڼا دپاسه رڼا. الله پاک چه په خپله رڼا سره چاته غواړی هدایت کوی

[۵۹۵۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبِي مُسْلِمٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ كَانَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ « اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ

.....بقيه ازحاشيه ګذشته] في صلاة الليل وقيامه : ۵۳۰/۱. رقم الحديث : ۱۸۹. ۱۹۰. والحاكم في مستدركه. كتاب معرفة الصحابة. ذكر عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب رضى الله تعالى عنهما : ۵۳۶/۳. ۵۳۵.

[۱]) فتح الباري : ۱۴۲/۱۱

[۲]) شرح الطيبي. كتاب الصلاة . باب الليل : ۹۸/۳

وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ، أَنْتَ الحَقُّ وَوَعْدُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ المُقَدِّمُ وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ - أَوْ - لاَ إِلَهَ غَيْرُكَ». [ر: ۱۰۶۹]

د سیدنا ابن عباس ﷠ نه روایت دې، هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ به کله د شپې پاسیدو نو تهجد به ئې کول او فرمائیل به ئې ﴿ اللهم لك الحمد ﴾ اې الله! ستا دپاره ټول تعریفونه دی. ته د آسمانونو او د زمکو. او کوم کائنات چه د دې دواړو ترمینځه دې. د هغې نور ئې، ټول تعریفونه ستا دپاره دی، ته د اسمانونو او د زمکې او څه چه د دې دواړو ترمینځه دی. د هغې نګران ئې، او ټول تعریفونه ستا دپاره دی، ستا ذات. ستا وعده. ستا قول او ستا ملاقات حق دې. جنت، جهنم، قیامت، انبیاء ﷩ او محمد رسول الله ﷺ حق دی. اې الله! ما ستا اطاعت اوکړو، په تا باندې مې ځان اوسپارلو. په تا باندې مې ایمان راولو. هم ستا طرف ته زما واپس کیدل دی او هم ستا په توفیق باندې ما جهګړا اوکړه. هم په تا باندې زما فیصله کول دی. د وړاندې، روستو. پټ او ښکاره ګناهونو راته بخښنه اوکړه. هم ته وړاندې کونکې او هم ته روستو کونکې ئې، او ستا نه سوا بل څوک د عبادت حقدار نشته

دا دویمه دعا ده کومه چه به رسول الله ﷺ د شپې د تهجد په وخت پاسیدلو سره کوله. د مختلف مواقع دپاره د رسول الله ﷺ نه دعاګانې منقول دی. په یو موقع باندې د یو نه زیاتې دعاګانې هم منقول دی. پس د شپې پاسیدو سره به رسول الله ﷺ دا دعاګانې هم کولې. او د دې نه په مخکښې روایت کښې مذکور دعا به ئې هم لوستله. دا حدیث د کتاب الصلاة په آخر کښې د تهجد په ابوابو کښې تیر شوې دې (۱)

⑪ باب التَّكْبِيرِ وَالتَّسْبِيحِ عِنْدَ المَنَامِ

۵۹۵۹ | حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الحَكَمِ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ فَاطِمَةَ - عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ - شَكَتْ مَا تَلْقَى فِي يَدِهَا مِنَ الرَّحَى، فَأَتَتِ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - تَسْأَلُهُ خَادِمًا، فَلَمْ تَجِدْهُ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ، فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ. قَالَ فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْتُ أَقُومُ فَقَالَ «مَكَانَكِ». فَجَلَسَ بَيْنَنَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى صَدْرِي فَقَالَ «أَلاَ أَدُلُّكُمَا عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ، إِذَا أَوَيْتُمَا إِلَى فِرَاشِكُمَا، أَوْ أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا، فَكَبِّرَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَسَبِّحَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَاحْمَدَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، فَهَذَا خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ».

---

(۱) اخرجه الامام البخاری فی کتاب الصلاة، باب التهجد باللیل : ۲۳۸، رقم الحدیث : ۱۱۲۰

وعَنْ شُعْبَةَ عَنْ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ التَّسْبِيحُ أَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ. [ر: ۲۹۲۵]

د اوده کيدو په وخت د تسبيح فضيلت د اوده کيدو نه مخکښې د ((سبحان الله، الحمد لله او الله اکبر)) فضيلت بيان کړې شوې دې. روايت الباب مشهور دې چه سيده فاطمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه خادم او غوښتلو ځکه چه خپله ميچن کولو کولو سره د هغوی لاسونه پولې شوې وو. رسول الله ﷺ د هغې د راتلو په وخت کور کښې نه وو. سيده عائشه رضي الله عنها خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ د هغې کور ته لاړو. هغوی ښځه خاوند اوده کيدل. د رسول الله ﷺ په ليدو باندې سيده فاطمه رضي الله عنها پاسيدله نو رسول الله ﷺ منع کړه او په بې تکلفئ سره د دواړو ښځه اوخاوند ترمينځه تشريف فرما شو او هغوی ته ئې اوفرمائيل چه تاسو دواړو ته د خادم نه زيات غوره څيز نه ښائم؟ چه کله تاسو اوده کيږئ نو درې ديرش کرته الله اکبر. درې ديرش کرته سبحان الله او درې ديرش کرته الحمد الله وايئ. دا ستاسو دپاره د خادم نه غوره دی.

د شعبه په روايت کښې ۳۴ کرته سبحان الله دې، په بعض رواياتو کښې الحمد لله ۳۴ کرته ده. او په اکثر رواياتو کښې الله اکبر ۳۴ کرته راغلې دې (۱)

په روايت کښې بيان کړې شوې دې ذکر ته تسبيحات فاطمه وئيلې شي. په ډيرو احاديثو کښې د هر فرض مانځه نه پس د تسبيحات فاطمه فضيلت راغلې دې. (۲) دلته د اوده کيدو په وخت د دې د لوستلو فضيلت راغلې دې.

رسول الله ﷺ دا د خادم نه غوره کړل. چونکه دې وخت کښې هغوی سره د ورکولو دپاره خادم موجود نه وو. په دې وجه رسول الله ﷺ د هغې په بدل کښې هغوی ته يو داسې ذکر بيان کړو کوم چه د هغوی دپاره اخروی اعتبار سره فائده مند وو. (۳)

د رسول الله ﷺ دې دواړو ته ورتلل او د هغوی ترمينځه داسې کيناستل بې تکلفی او د ډير محبت د وجې نه وو. حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی:

((وفيه جواز دخول الرجل على ابنته وزوجها وجلوسه بينهما فى فراشهما ومباشرة قدميه بعض جسدهما....

ودفع بعضهم الاستدلال المذكور لعصمته صلى الله عليه وسلم فلا يلحق به غيره ممن ليس بمعصوم)) (۴)

يعنی د دې حديث نه معلوميږی چه انسان خپلې لور او د هغې خاوند ته ورتلې شی. د هغوی ترمينځه کيناستلې شی او خپلې خپې د هغوی د بدن سره لګولې شی... بعض حضراتو دا مذکوره استدلال په دې وئيلو سره مسترد کړې دې چه رسول الله ﷺ معصوم

---

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب التسبيح اول النهار وعند النوم: ۲۰۹۱/۴، ۲۰۹۲، رقم الحديث ۲۷۲۷، ۲۷۲۸، والترمذى فى كتاب الدعوات، باب ما جاء فى التسبيح والتكبير والتحميد عند المنام: ۴۷۷/۵، ۴۷۹، رقم الحديث: ۳۴۱۲، ۳۴۱۳، ۳۴۰۸

(۲) سنن الترمذى، كتاب الدعوات، باب ما جاء فى التسبيح والتكبير والتحميد عند المنام: ۴۷۹/۵، رقم الحديث: ۲۴۱۲، ۲۴۱۳، ۲۴۱۳

(۳) فتح البارى ۱۴۹/۱۱

(۴) فتح البارى ۱۴۹/۱۱

دي. لهذا يو غير معصوم لره په رسول الله ﷺ باندې نه شي قياس کيدلي
د سيدنا علي ؓ نه منقول دى چه د رسول الله ﷺ د دې اذکار ښودلو نه پس دا وظيفه کله په ژوند کښې هم نه ده پاتې شوې. چه کله د هغوى نه تپوس اوکړې شو چه د جنګ صفين په موقع باندې هم نه دې پاتې شوې؟ نو هغوى اووې: او د صفين په شپه هم نه دى پاتې شوې (١)

⑫ باب التَّعَوُّذِ وَالْقِرَاءَةِ عِنْدَ الْمَنَامِ

٥٩٦٠| حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ نَفَثَ فِي يَدَيْهِ، وَقَرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ، وَمَسَحَ بِهِمَا جَسَدَهُ. [ر: ٤١٧٥]

د سيده عائشه ؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به کله خپلې بسترې ته تشريف يوړلو نو په خپلو دواړو لاسونو باندې به ئې پو کړل او معوذات (سورة اخلاص. سورة فلق. سورة ناس) لوستلو سره په خپل بدن باندې دواړه لاسونه راښکل.

د اودهٔ کيدو په وخت نور ذکرونه: رسول الله ﷺ به د اودهٔ کيدو په وخت سورة اخلاص. سورة فلق او سورة الناس لوستلو. په حديث کښې درې واړو ته تغليباً معوذات وئيلې شوې دى (٢)، رسول الله ﷺ نه د دې درې سورتونو نه علاوه د اودهٔ کيدو په وخت آية الکرسى. د سورة بقرة آخرى آيتونه. سورة کافرون. سورة ملک. سورة الم تنزيل لوستل هم ثابت دى (٣).

هم دغه شان د ﴿اعوذ بکلمات الله التامة من شر ما خلق﴾ وئيلې هم راغلى دى چه د هغې ترجمه دا ده زه د الله پاک د کامل کلماتو سره د هغه د مخلوق د شر نه پناه غواړم (٤)
امام ابو داؤد رحمه الله د سيدنا على ؓ په حوالې سره دا دعا هم نقل کړې ده:

﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِوَجْهِكَ الْكَرِيمِ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ﴾ (٥)، يعنى اې الله: زه ستا د کريم ذات او ستا د کامل کلماتو سره د هر هغه څيز د شر نه پناه نيسم، چه د هغه تندې ستا په قبضه کښې دې.

---

(١) صحيح مسلم، كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب التسبيح اول النهار وعند النوم. ٢٠٩١/٤، ٢٠٩٢، رقم الحديث : ٢٧٢٧

(٢) عمدة القارى ٢٨٩/٢٢، ارشاد السارى ٣٢٥/١٣

(٣) سنن الترمذى، كتاب الدعوات، باب ما جاء فيمن يقراء القرآن عند المنام. ٤٧٤/٥، ٤٧٥، (رقم الحديث: ٣٤٠٣، ٣٤٠٤، ٣٤٠٥)

(٤) فتح البارى ١٥١/١١، سنن ابى داؤد، ابواب النوم، باب ما يقال عند النوم : ٣١٢/٤

(٥) سنن ابى داؤد، ابواب النوم، باب ما يقال عند النوم ٣١٢/٤، رقم الحديث ٥٠٥٢ (وتمامه : اللَّهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ الْمَغْرَمَ وَالْمَأْثَمَ اللَّهُمَّ لاَ يُهْزَمُ جُنْدُكَ وَلاَ يُخْلَفُ وَعْدُكَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ. واسناده ضعيف)

باب:

[۵۹۶۱] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-
«إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ، فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ، ثُمَّ يَقُولُ بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ».
تَابَعَهُ أَبُو ضَمْرَةَ وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ. وَقَالَ يَحْيَى وَبِشْرٌ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. وَرَوَاهُ مَالِكٌ وَابْنُ عَجْلاَنَ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- [۲۹۵۸]

د اودهٔ کیدو د یو بل ادب بیان: دا باب بغیر د ترجمې نه دې. په بعض نسخو کښې دا باب نشته. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه باب دلته کیدل پکار دی. هم دا راجح ده (٢)

په دې باب کښې یو بل ادب د اودهٔ کیدو متعلق بیان کړې شوې دې او هغه دا چه د اودهٔ کیدو نه مخکښې بسترې لره څنډل پکار دی. پس په روایت کښې د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه کله په تاسو کښې څوک د خپلې بسترې طرف ته د اودهٔ کیدو دپاره راشی نو هغه دې د خپل لنګ په دننه حصه باندې بستره او څنډی ځکه چه هغه ته معلومه نه ده چه د هغه نه شاته په بستره کښې څه ورداخل شوې دې. او بیا دې دا دعا اولولی:

﴿ بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ الصَّالِحِينَ ﴾

یعنی اې زما ربه! ما ستا په نوم باندې خپل اړخ کیخودلو او هم ستا په نوم باندې به دا اوچتوم. که تا زما روح منع کړو (ماته دې مرګ راکړو)، نو ته په دې باندې رحم اوکړه او که تا راواپس کولو سره پریخودلو نو د دهٔ حفاظت اوکړه په هغه څیز سره چه په کوم سره ته د صالحینو حفاظت کوې.

---

(١) (۵۹۶۱): الحديث اخرجه البخاری ایضا فی کتاب التوحید. باب السؤال باسماء الله تعالى والاستعاذة بها (رقم الحديث ۷۳۹۴). واخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعا. باب: ما یقول عند النوم واخذ المضجع ۲۰۸۴/۴. (رقم الحديث: (۲۷۱٤). واخرجه ابوداؤد فی کتاب الادب. باب: ما یقال عند النوم: ۳۱۱/٤. (رقم الحديث: ۵۰۵۰). واخرجه النسائی فی کتاب عمل الیوم واللیلة. باب: ما یقول من یفزع من منامه: ۹۸/۶. (رقم الحديث: ۱۰۶۲۷). واخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات. باب منه (دعا: باسمک ربی وضعت جنبی) رقم الحديث: (۳٤۰۱). واخرجه ابن ماجة فی کتاب الدعاء. باب: ما یدعو به اذا اوی الی فراشه (رقم الحديث: ۳۸۷٤)

(٢) فتح الباری: ۱۵۱/۱۱

امام بخاری رحمه الله د روایت په آخر کښې متابعات ذکر کړې دي. د ابو ضمره انس بن عیاض متابعت امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې او امام مسلم رحمه الله په صحیح کښې موصولا نقل کړې دي (۱) د اسماعیل بن زکریا متابعت حارث بن ابی سلمة په خپل مسند کښې موصولا نقل کړې دي (۲) د یحیی بن سعید تعلیق امام نسائی رحمه الله او د بشیر بن المفضل تعلیق مسدد موصولا نقل کړې دي (۳)

قوله: ﴿وَرَوَاهُ مَالِكٌ، وَابْنُ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ﴾: امام مالک او محمد بن عجلان هم دا ذکر شوې حدیث د سعید مقبری نه نقل کړې دې. د امام مالک رحمه الله روایت وړاندې په کتاب التوحید کښې موصولا راروان دې (۴) او د ابن عجلان روایت امام احمد رحمه الله په مسند کښې موصولا نقل کړې دې (۵)

د لنګ په دننه حصه باندې د بسترې څنډلو حکمت : ﴿فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ﴾ خپله بستره د لنګ په دننه حصه باندې څنډل پکار دی. مطلب دا دې چه بسترې ته د تلونه مخکښې دې لنګ پرانیزی او د هغې په دننه غاړه باندې دې بستره او څنډی. د دننه غاړې نه هغه طرف مراد دې کوم چه د بدن سره لګیدلې وی. په دې حصې سره د څنډلو حکمت بیانولو سره علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

﴿وحکمة ذلك لعله لسر طبي يمنع من قرب بعض الحيوانات استأثر الشارع بعلمه﴾ (۶)

یعنی : د دې حکمت کیدې شی چه یو طبی راز وی. چه د دې د وجې نه بعض حیوانات بسترې ته نزدې نه شی راتلې. شارع د دې علم صرف خپل ځان پورې محدود ساتلې دې. او علامه کرمانی رحمه الله لیکی :

﴿ولينفض ويده مستورة بطرف ازاره لئلا يحصل في يده مكروه، ان كان شئ هناك﴾ (۷)

یعنی د څنډلو په وخت انسان له خپل لاس د لنګ په طرف باندې پټول پکار دی چه د هغه لاس ته څه تکلیف او نه رسیږی که په بستره کښې داسې څه څیز وی.

او علامه بیضاوی رحمه الله فرمائی: ﴿انما امر بالنفض بها، لان الذي يريد النوم يحل بيمينه خارج الازار وتبقى الداخلة معلقة، فينفض بها﴾ (۸)

---

(۱) فتح الباری ۱۵٤/۱۱. عمدة القاری ۲۹۰/۲۲. ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

(۲) فتح الباری ۱۵٤/۱۱. عمدة القاری ۲۹۰/۲۲. ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

(۳) فتح الباری ۱۵٤/۱۱. عمدة القاری ۲۹۰/۲۲. ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

(۴) صحیح البخاری، کتاب التوحید، باب السؤال باسماء الله تعالی والاستعاذة بها (رقم الحدیث ۷۳۹۳)

(۵) مسند احمد : ۲۹۵/۲. مرویات ابی هریرة رضی الله تعالی عنه

(۶) ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

(۷) شرح الکرمانی ۱۳۵/۲۲

(۸) فتح الباری ۱۵۲/۱۱. عمدة القاری ۲۸۹/۲۲. ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

یعنی د لنګ په دننه غاړه باندې د څنډلو حکم په دې وجه ورکړې شوې دې چه اوده کیدونکې انسان په خپل ښی لاس باندې چه کله د لنګ دننه حصه پرانیزی نو دننه غاړه به معلق پاتې شی. لهذا هغه به هم په دې غاړې سره بستره اوڅنډی

فائده : د روایت الباب په سند کښې درې راویان تابعی دی او درې واړه مدنی دی. عبید الله بن عمر. د هغوی شیخ سعید بن ابی سعید المقبری او د هغوی شیخ او والد ابوسعید کیسان درې واړه تابعین دی.[1]

د روایت الباب د دعا په شان. یوه دعا امام احمدرحمه الله د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل فرمائیلې ده چه رسول الله ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل چه هغه دې د اوده کیدو نه مخکښې دا دعا لولی:

﴿ اللّٰهُمَّ إِنَّكَ خَلَقْتَ نَفْسِي، وَأَنْتَ تَوَفَّاهَا، لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا، إِنْ أَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا، وَإِنْ أَمَتَّهَا فَاغْفِرْ لَهَا ﴾[2]

یعنی اې الله ! هم تا زما نفس پیدا کړې دې او هم ته به ئې وفات کوې. د ده مرګ او ژوند ستا دپاره دې. که تا دا ژوندې اوساتلو نو حفاظت ئې اوکړه او که مرګ دې پرې راوستلو نو بخښنه ورته اوکړه

⑬ باب الدُّعَاءِ نِصْفَ اللَّيْلِ

۵۹۲۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الأَغَرِّ وَأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « يَتَنَزَّلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ ». ار ۱۰۹۴)

د سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل زمونږ رب تبارک وتعالی هر شپه د دنیا آسمان ته راکوزیږی. چه کله د شپې آخری دریمه حصه باقی شی نو فرمائی څوک دې؟ چه زما نه دعا اوغواړی چه زه ورله دعا قبوله کړم. څوک دې؟ چه زما نه سوال اوکړی او زه ئې هغه ته ورکړم. او څوک دې چه زما نه بخښنه اوغواړی او زه ورته بخښنه اوکړم

د ترجمة الباب مقصد د الله پاک په دربار کښې د ښکته کیدو. د خپلو ګناهونو د معافئ غوښتلو او د خپلو مرادونو دپاره د دعاګانو غوښتلو دپاره د شپې د آخری حصې نه زیاته یو موقع هم موزون او اهم نه ده. په احادیث کښې د دې ډیر فضیلت راغلې دې، امام بخاری رحمه الله هم په دې باب کښې د دې وخت د دعا ذکر کړې دې، په روایت کښې د شپې د

---

[1]) فتح الباری ۱۵۱/۱۱. عمدة القاری ۲۸۹/۲۲. ارشاد الساری ۳۲۶/۱۳

[2]) مسند احمد ۷۹/۲. مرویات ابن عمر رضی الله عنهما (وتمامه : اللهم أسألک العافیه. ورواه مسلم والبزار وابن حبان وهو حدیث صحیح)

آخرى ثلث ذكر دي. امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې د ﴿ نصف الليل ﴾ ذكر كړې دې کیدې شي چه هغوی د هغه روايت طرف ته اشاره فرمائی کوم چه امام احمد رحمه الله په مسند كښې د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه نقل كړې دې.

قوله: ﴿يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا﴾: [۱] يعنى زمونږ رب هره شپه چه کله د شپې آخرى دريمه حصه باقى پاتې شى. د دنيا د اسمان طرف ته نزول فرمائى.

د دارقطنى په روايت كښې د ﴿ شطر الليل ﴾ الفاظ بغير د تردد نه دى [۲]

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى: ﴿ فان قلت: فى الترجمة نصف الليل، وفى الحديث الثلث، قلت: حين يبقى الثلاث، يكون قبل الثلث، وهو المقصود من النصف ﴾ [۳]

يعنى كه تاسو دا اعتراض اوكړئ چه په ترجمة الباب كښې د نصف الليل ذكر دې. او په حديث كښې ثلث راغلي دې. زه به په جواب كښې وايم چه د ثلث بقاء به د ثلث نه مخكښې وى او د نصف نه هم دا مقصود دې.

په روايت الباب كښې دى: ﴿يَتَنَزَّلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى﴾

د اسمان دنيا طرف ته د نزول مطلب. د آسمان دنيا طرف ته د الله پاک د نزول نه. د الله پاک رحمت. د الله پاک متوجه كيدل يا د الله پاک په حكم باندې د رحمت د فرښتو نزول مراد دې. يا دا په خپله حقيقى معنى باندې دې. الله پاک د جسم نه پاک دې. د نزول كيفيت او حقيقت د انسان د محدود عقل د دائرې نه وړاندې خيز دې [۴] د دې تفصيل به وړاندې په كتاب التوحيد كښې راځى ان شاء الله.

حديث الباب په كتاب الصلاة كښې د باب التهجد لاندې تير شوې دې [۵]

⑭ بَابُ الدُّعَاءِ عِنْدَ الْخَلَاءِ

[۵۹۲۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ -رضى الله عنه- قَالَ كَانَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ «اللَّهُمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ». [ر: ۱۴۲]

---

[۱] مسند احمد: ۲/۲۶۴، مرويات ابى هريرة رضى الله تعالى عنه.
[۲] فتح البارى ۱۱/۱۵۵، عمدة القارى ۲۲/۲۹۱، ارشاد السارى ۱۳/۳۲۷
[۳] شرح الكرمانى: ۲۲/۱۳۶
[۴] ارشاد السارى ۳۲۷، فتح البارى ۱۱/۱۵۵
[۵] الصحيح للبخارى، كتاب التهجد، باب الدعاء والصلاة من اخر الليل: ۲۲۵، رقم الحديث ۱۱۴۵

د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ به کله بیت الخلاء ته تشریف اوړولو نو فرمائیل به ئې ﴿ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ﴾ (اې الله! زه ستا پناه غواړم د خبث او خبائث نه)

د خبث او خبائث تشریح : ﴿ خبث ﴾ د خبیث جمع ده. د باء په ضمې سره دې. خو کله د تخفیف دپاره په باء باندې سکون لوستل هم جائز دی [۱] او ﴿ خبائث ﴾ جمع د خبیثة ده. د خبث نه نر شیاطین او د خبائث نه مؤنث شیاطین مراد دی [۲]

یو قول دا دې چه د خبث نه شیاطین او د خبائث نه بول وبراز او گنده څیزونه مراد دی [۳]، بهر حال دا ټول مراد کیدلې شی او مطلب دا دې چه هر هغه څیز چه په هغې کښې دغنه د انسان د دنیوی یا اخروی ژوند دپاره د خباثت اړخ موندلې شی. د هغې نه په دې مبارکه دعا کښې پناه غوښتلې شوې ده.

دا دعا بیت الخلاء ته د تلو نه مخکښې لوستل پکار دی [۴]

⑮ باب مَا يَقُولُ إِذَا أَصْبَحَ

[۵۹۶۴] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:

«سَيِّدُ الاِسْتِغْفَارِ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ. إِذَا قَالَ حِينَ يُمْسِي فَمَاتَ دَخَلَ الْجَنَّةَ -أَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ- وَإِذَا قَالَ حِينَ يُصْبِحُ فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ». مِثْلَهُ. [ر: ۵۹۴۷]

سیدنا شداد بن اوس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : سید الاستغفار یعنی د استغفار د ټولو صیغو سردار او په هغه ټولو کښې افضل دا لاندې کلمات دی :

﴿ اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ ﴾

(اې الله! ته زما رب ئې؛ ستا نه سوا بل څوک معبود نشته. هم تا زه پیدا کړې یم او زه صرف هم ستا بنده یم او زه د خپل استطاعت مطابق ستا په عهد او ستا په وعده قائم یم، تا چه

---

[۱] ارشاد الساری: ۱۳/۳۲۸

[۲] عمدة القاری : ۲۲/۲۹۱

[۳] ارشاد الساری : ۱۳/۳۲۸

[۴] فتح الباری ۱/۳۲۱، ارشاد الساری : ۱۳/۳۲۸

كوم نعمتونه ماته راكړې دى. د هغې اقرار او د خپلو گناهونو اعتراف كوم. ماته بخښنه اوكړه بيشكه ستا نه سوا هيڅ څوک د گناهونو بخښلو والا نشته. زه د خپلو بدعملونو د بدئ نه ستا پناه غوارم،
رسول اللهﷺ فرمائى : چه كله يو سړې دا دعا د ماښام په وخت اولولى او مړ شى نو جنت ته به داخليږى يا ،وې فرمائيل، د جنت والو نه به وى او كله چه ئې د سحر په وخت اولولى او هم په هغه ورځ باندې مړ شى نو هم دغه شان ،هغه به هم جنت ته داخليږى،

[۵۹۲۵] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ قَالَ «بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا» . وَإِذَا اسْتَيْقَظَ مِنْ مَنَامِهِ قَالَ «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا، وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».[ر ۵۹۵۳]

حذيفهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ به كله د اوده كيدو اراده اوفرمائيله نو فرمائيل به ئې ﴿ بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا ﴾ او چه كله به د خوب نه بيدار شو نو فرمائيل به ئې ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُور ﴾.

[۵۹۲۶] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِى حَمْزَةَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ عَنْ أَبِى ذَرٍّ -رضى الله عنه- قَالَ كَانَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ «اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا». فَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».[۲۹۲۰]

د سيدنا ابوذرؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ به كله بسترې ته تشريف راوړلو نو فرمائيل به ئې ﴿ اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا ﴾ او چه كله به بيدار نو بيا به ئې فرمائيل ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُور ﴾.
د سحر په وخت سيد الاستغفار لوستل پكار دى چه د هغې تفصيل تير شوې دې. د خوب نه د پاسيدو نه پس دعا والا حديث هم امام بخارىؒ ذكر كړو ځكه چه عموما انسان د شپې اوده كيدو سره سحرپاسى. په دې وجه هغه د سحر په دعاگانو كښې شمار كيدلې شى

⑯ بَابُ الدُّعَاءِ فِى الصَّلَاةِ

[۵۹۲۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِى يَزِيدُ عَنْ أَبِى الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِى بَكْرٍ الصِّدِّيقِ -رضى الله عنه- أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- عَلِّمْنِى دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِى صَلاَتِى . قَالَ «قُلِ اللَّهُمَّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِى مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِى، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ».

وَقَالَ عَمْرٌو عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ إِنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو قَالَ أَبُو بَكْرٍ -رضی الله عنه- لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- ار ١٧٩٩

: سیدنا ابوبکرصدیق ﷛ نه روایت دي چه هغوی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه ماته یو داسې دعا اوښایئ. چه زه ئې په خپل مونځ کښې لولم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا دعا لوله ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا ، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ (اي الله ! ما په خپل ځان باندې ډیر ظلم کړي دې. او هم ته ګناهونه معاف کوې. پس د خپل طرف نه ماته بخښنه اوکړه. او په ما باندې رحم اوکړه. بیشکه ته ډیر بخښنه کونکې او مهربان ئې.

په مانځه کښې دننه د دعا ذکر دې. د باب په دې اول روایت کښې چه کومه دعا نقل کړې شوې ده. په مانځه کښې د دې محل متعین نه کړې شو. بعض وئیلې دی چه دا دعا په سجده کښې کول پکار دی. ځکه چه په یو بل حدیث کښې دی ﴿ وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ ﴾ [1] ، بعض وئیلې دی چه د تشهد نه پس لوستل پکار دی [2].

د دعا دحسن ترتیب بیان: علامه قسطلانی ﷫ د دې دعا د حسن ترتیب په باره کښې لیکی.

﴿ وهذا الدعاء من احسن الادعية لا سيما ترتيبه، فان فيه تقديم نداء الرب واستغاثته بقوله : اللهم، ثم الاعتراف بالذنب في قوله : ظلمت نفسى، ثم الاعتراف بالتوحيد الى غير ذلك مما لا يخفى مع ما اشتمل عليه من التاكيد بقوله: انك انت الغفور الرحيم بلكمة: ان، وضمير الفصل، وتعريف الخبر باللام، وبصيغة المبالغة ﴾ [3] دا په غوره او عمده دعاګانو کښې یوه ده خصوصا د خپل ترتیب په لحاظ سره. ځکه چه په دې کښې د ټولو نه مخکښې ﴿ اللهم ﴾ وئیلو سره الله پاک ته آواز او د هغه نه مدد غوښتلې شوې دې. بیا ﴿ ظلمت نفسی ﴾ وئیلو سره د خپلو ګناهونو اعتراف او د دې نه پس د الله پاک د توحید اقرار کړې شوې دې. غرض دا حدیث په ډیرو بهترینو امورو باندې مشتمل دې. ددې نه علاوه ﴿ انك انت الغفور الرحيم ﴾ کښې لفظ د ﴿ ان ﴾، ضمیر فصل او خبر لره په لام تعریف سره معرفه کولو او د مبالغې د صیغې په استعمال سره تاکید کړې شوې دې.

٥٩٦٨ | حَدَّثَنَا عَلِي حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ سُعَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ (وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا) أُنْزِلَتْ فِي الدُّعَاءِ. [٤٣٤٢]

---

[1] صحيح مسلم. كتاب الصلاة. باب النهى عن قراءة القرآن فى الركوع والسجود : ٣٤٨/١. رقم الحديث : ٣٤٩

[2] فتح البارى : كتاب الآذان. باب الدعاء قبل السلام : ٤١٤/٢. عمدة القارى. كتاب الآذان باب الدعاء قبل السلام ١١٩/٦

[3] ارشاد السارى ٣٣١/١٣

په ايت كريمه كښې د دعا مصداق : د باب دا دويم روايت د قرآن كريم د آيت ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا ﴾ په باره كښې دې، سيده عائشه رضي الله عنها فرمائى چه دا دعا په باره كښې نازل شوې دې، د هغوى په نزد د صلاة نه مراد دعا ده او مطلب دا دې چه دعا نه په ډير زور غوښتل پكار دى او نه ډيره رو. خو د ډيرو مفسرينو په نزد دا آيت كريمه د دعا په باره كښې نه دې، بلكه په مانځه كښې دننه د قرآن كريم د تلاوت په باره كښې دې. ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ اى بقراءة صَلَاتِكَ ﴾ مضاف محذوف دې. (١)

[٥٩٢٩] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنه- قَالَ كُنَّا نَقُولُ فِي الصَّلَاةِ السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ. فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ «إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلَامُ، فَإِذَا قَعَدَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلِ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ إِلَى قَوْلِهِ الصَّالِحِينَ. فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ صَالِحٍ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الثَّنَاءِ مَا شَاءَ». [ر: ٧٩٧]

د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه مونږ به په مانځه كښې لوستل ﴿ السَّلَامُ عَلَى اللهِ السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ ﴾ نو مونږ ته يوه ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله پاک خو خپله سلام دې. نو څوک چه په تاسو كښې په مانځه كښې كيني نو هغه دې ﴿ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ .... الصَّالِحِينَ ﴾ پورې اوائى. چه كله هغه دا كلمات اوائى نو د آسمان او زمكې هر هغه بنده ته به دا اورسيږى چه صالح وى (بيا دې په دې الفاظو سره تشهد اوكړى) ﴿ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ﴾ او د دې نه پس چه كومه دعا كول غواړى هغه دې اوكړى.

د ترجمة الباب سره د احاديثو مناسبت: حافظ ابن حجر رحمه الله د ترجمة الباب سره د احاديثو مناسبت بيانولو سره ليكى :

﴿ وأخذ الترجمة من هذه الأحاديث الا ان الأول نص فى المطلوب والثانى يستفاد منه صفة من صفات الداعى وهى عدم الجهر والمخافتة فيسمع نفسه ولا يسمع غيره ﴾ (٢)

يعنى : ترجمه د دې احاديثو نه اخستلې شوې ده، خو اول حديث په مطلوب كښې نص دې او د دويم حديث نه د داعى يو صفت مستفاد كيږى او هغه دې زيات په زوره نه وئيل او په مزه وئيل. په داسې طريقه چه هغه ئې خپله واورى، بل څوک ئې وانورى.

---

(١) روح المعانى ١٩٤/١٥، سورة الاسراء، رقم الاية ١١٠، هم دغه شان اوګورئ الجامع لاحكام القرآن، سورة الاسراء ٣٤٤/١

(٢) فتح البارى : ١٥٨/١١

قوله: ﴿أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ صَالِحٍ﴾: په دې كښې د صالح عبد صفت دې، د باب دا اخرى حديث په كتاب الصلاة كښې تير شوې دې.[1]

⑰ بَابُ الدُّعَاءِ بَعْدَ الصَّلاَةِ

٥٩٧٠ | حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ أَخْبَرَنَا وَرْقَاءُ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ. قَالَ «كَيْفَ ذَاكَ». قَالَ صَلَّوْا كَمَا صَلَّيْنَا، وَجَاهَدُوا كَمَا جَاهَدْنَا، وَأَنْفَقُوا مِنْ فُضُولِ أَمْوَالِهِمْ، وَلَيْسَتْ لَنَا أَمْوَالٌ. قَالَ «أَفَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَمْرٍ تُدْرِكُونَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَتَسْبِقُونَ مَنْ جَاءَ بَعْدَكُمْ، وَلاَ يَأْتِي أَحَدٌ بِمِثْلِ مَا جِئْتُمْ، إِلاَّ مَنْ جَاءَ بِمِثْلِهِ، تُسَبِّحُونَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ عَشْرًا، وَتَحْمَدُونَ عَشْرًا، وَتُكَبِّرُونَ عَشْرًا».
تَابَعَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ عَنْ سُمَيٍّ.
وَرَوَاهُ ابْنُ عَجْلاَنَ عَنْ سُمَيٍّ وَرَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ.
وَرَوَاهُ جَرِيرٌ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ.
وَرَوَاهُ سُهَيْلٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- [ر:٨٠٧]

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه خلقو عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ! دولت مند خلق خو په درجات او نعمتونو كښې مخكښې شو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل (څنګه؟) هغوى اووې كوم خلق چه مونځ كوى، څنګه چه مونږ مونځ كوو او جهاد كوو، څنګه چه مونږ جهاد كوو او خپل بچ شوې مال هم خرچ كوو خو مونږ سره مال نشته، رسول الله ﷺ اوفرمائيل آيا زه تاسو ته داسې څيز او نه ښائم چه د هغې په ذريعه تاسو د هغوى برابر شئ. كوم چه ستاسو نه مخكښې تير شوې دى، او د هغوى نه مخكښې شئ كوم چه ستاسو نه پس راځى او يو سړې به هم ستاسو برابر نه وى مګر هغه سړې كوم چه دا اولولى. د هر مانځه نه پس سبحان الله لس كرته، او الحمد لله لس كرته او لس كرته الله اكبر وايئ.

٥٩٧١ | حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ عَنْ وَرَّادٍ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كَتَبَ الْمُغِيرَةُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ إِذَا سَلَّمَ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». وَقَالَ شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ قَالَ سَمِعْتُ الْمُسَيَّبَ. [ر:٨٠٨]

د سيدنا مغيره بن شعبه رضی الله عنه آزاد كړده غلام وراد نه روايت دې هغوى بيان كوى چه سيدنا مغيره رضی الله عنه سيدنا معاويه بن ابى سفيان رضی الله عنهما ته اوليكل چه رسول الله ﷺ به د هر مانځه نه

[1] الصحيح للبخاري: كتاب الاذان، باب التشهد فى الاخرة: ١٨٢، رقم الحديث: ٨٣١

پس چه کله سلام واړولو نو دا به ئې لوستل: ﴿ لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ ﴾، د الله پاک وحده لا شریک نه سوا څوک هم معبود برحق نشته. هم د هغه دپاره بادشاهت دې. او هم د هغه دپاره ټول تعریفونه دی. هغه په هر څیز باندې قادر دې. اې الله! هیڅ منع کونکې نشته د هغه څیز دپاره کوم چه تاسو ورکوئ. او هیڅ څوک ورکونکې نشته د هغه څیز کوم چه تاسو منع کړئ او د یو مالدار یو مالداری ستا نه بغیر فائده منده نه شی کیدې.

د فرض مانځه نه پس د دعا حکم: په دې ترجمة الباب سره د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د فرض مانځه نه پس دعا غوښتل د رسول الله ﷺ نه ثابت دی. امام صاحب په هغه خلقو باندې رد کول غواړی چه وائی د فرض مونځونو نه پس دعا مشروع نه ده.[1]

علامه ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد کښې د دې نفی کړې ده او وئیلې ئې دی چه دا د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دی.[2]

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د هغوی دا مطلقا نفی کول صحیح نه دی ځکه چه په سنن ابی داؤد کښې د سیدنا معاذ رضی الله عنه روایت دې چه رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل.

﴿ يَا مُعَاذُ إِنِّي وَاللهِ لَأُحِبُّكَ، فلا تدع دبر كل صلاة ان تقول: اللّٰهُمَّ أَعِنِّي عَلَىٰ ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ ﴾،[3]

هم دغه شان د زید بن ارقم روایت په سنن ابی داؤد او سنن نسائی کښې دې:

﴿ سمعت رسول الله ﷺ يدعو في دُبُرِ صَلَاتِهِ «اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ ﴾،[4]

---

[1]) فتح الباری ۱۱/ ۱۵۹

[2]) زاد المعاد. فصل فی هدیه صلی الله علیه وسلم فی الصلاة: ۲۵۷/۱ (قلت: هذا بعید من الانصاف لان ابن القیم رحمه الله قد ذکر الادعیة الماثورة فی فصل فقال: فصل: فیما کان رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یقوله بعد انصرافه من الصلاة، وجلوسه بعدَها، وسرعة الانتقال منها، وما شرعه لأمته من الأذکار والقراءة بعدها ۲۹۵/۱، وحذه الاذکار قد اوردَها البخاری ههنًا وقد رد ابن القیم الادعیة التی برفع الایدی بعد الفرائض او السنن الرواتب بهینة الاجتماع کهینة الدعاء فی هذا الزمان فتدبر! قال: وأما الدعاء بعد السلام من الصلاة مستقبل القبلة أو المأمومین، فلم یکن ذلک من هدیه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أصلاً، ولا روي عنه بإسناد صحیح، ولا حسن. وقال فی اخر البحث: استحبَّ له أن یُصلی علی النبیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد ذلک. (ای بعد الاذکار والادعیة الماثورة) ویدعو بما شاء، ویکون دعاؤه عقیبَ هذه العبادة الثانیّة، لا لکونه دبر الصلاة... ۲۵۸/۱. فابن القیم رحمه الله فی واد وهولاء فی واد. والله المستعان)

[3]) سنن ابی داؤد. کتاب الصلاة. باب فی الاستغفار: ۸٦/۲. رقم الحدیث: ۱۵۲۲. ورواه الامام احمد فی مسنده عن معاذ بن جبل ان النبی صلی الله علیه وسلم اخذ بیده یوما. ثم قال: یا معاذ انی لاحبک. فقال له معاذ: بابی وامی انت یا رسول الله! وانا احبک. قال یا معاذ: اوصیک یا معاذ لا تدعن فی دبر کل صلاة ان تقول: اللّٰهُمَّ أَعِنِّي عَلَىٰ ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ. حدیث معاذ بن جبل ۲٤۵/۵

[4]) سنن ابی داؤد. کتابَ الصلاة. بابَ ما یقول الرّجل اذا سلم: ۸۲/۲. رقم الحدیث: ۱۵۰۸. مسند احمد بن حنبل: حدیث زید بن ارقم: ۳٦۹/٤. رقم الحدیث: ۱۹۵۰۸)

یعنی ما د رسول اللهﷺ نه د هر مانځه نه پس دا دعا اوریدله ده. اې الله! اې ژمونږ او د هر یو څیز ربه!
امام احمد رحمه الله د ابوبکره رضي الله عنه یو روایت هم نقل فرمائیلي دي هغوی وائی چه رسول اللهﷺ به د هر مانځه نه پس دا دعا لوستله. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ، وَالْفَقْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ﴾ [1] یعنی اې الله! زه د کفر، فقر او عذاب قبر نه ستا پناه غواړم
په دي وجه د دي روایاتو په موجودګئ دا وئیل چه دعا بعد الصلاة ثابت نه ده. صحیح نه دی. پس علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی.
﴿لا ريبَ أن الأدعيةَ دُبُرَ الصلوات قد تواترت تواتراً لا يُنكَرُ. أمّا رفعُ الأيدی، فثبت بعد النافلة مرّةً، أو مرّتين، فألحق بها الفقهاءُ المكتوبةَ أيضاً. وذهب ابن تَيْمِيَة، وابن القيّم إلی كونه بدعةً. بقی أن المواظبةَ علی أمرٍ لم يَثْبُت عن النبیّ صلی الله عليه وسلّم إلا مرّةً، أو مرّتين، كيف هی؟ فتلك هی الشاكلةُ فی جميع المستحبّات، فإنها تَثْبُتُ طوراً فطوراً، ثم الأمةُ تواظبُ عليها. نعم نَحْكُمُ بكونها بدعةً إذا أفضی الأمرُ إلی النكير علی من تركَهَا﴾ [2]
یعنی بیشکه د مونځونو نه پس دعا په تواتر سره ثابت ده. چه د هغې انکار نه شی کیدې. او هر چه لاسونه اوچتول دی نو د نفلو نه پس یو کرت دوه کرته ثابت دی. بیا فقهاء کرامو په دې باندې قیاس کولو سره فرائض هم د دې سره ملحق کړي دی پاتې شوه دا خبره چه په داسې امر باندې مواظبت څنګه دې کوم چه د رسول اللهﷺ نه په ټول عمر کښې یو کرت یا دوه کرته ثابت وی نو په ټولو مستحباتو کښې هم دا طریقه پاتې شوې ده څکه چه د رسول اللهﷺ د هغوی ثبوت کله کله شته، بیا روستو امت په دې باندې مواظبت کوی. خو که څوک د دې په ترک کولو باندې چاته بدې ردې اوائی نو په دې باندې به د بدعت کیدو حکم لګولې شی.
په هیئت اجتماعی باندې د دعا بعد الفرائض حکم. په یو بل مقام باندې هم علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائیلي دی چه په موجوده اجتماعی هیئت سره د فرضو نه پس دعا ته سنت نه شی وئیلې کیدې یعنی دا نه شی وئیلې کیدې چه رسول اللهﷺ به په دې هیئت باندې دعا فرمائیله خو دې ته بدعت نه شی وئیلې کیدې چه په دین کښې د دې اصل او بنیاد نشته. [3] حاصل دا چه په دې هیئت سره نه دا سنت ده او نه بدعت ده.
د روایات الباب مناسبت د ترجمة الباب سره ښکاره دي

[1] مسند احمد بن حنبل، حدیث ابی بکرة ۳۷/۵، رقم الحدیث : ۲۱۶۵۲
[2] فیض الباری : ۴۱۷/۴
[3] فیض الباری ۴۱۷/۴

⑱ باب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى (وَصَلِّ عَلَيْهِمْ). وَمَنْ خَصَّ أَخَاهُ بِالدُّعَاءِ دُونَ نَفْسِهِ

د ترجمة الباب مقصد : په دې باب کښې امام بخاري رحمه الله د نورو دپاره د دعا غوښتلو ذکر کول غواړي، په قرآن کريم کښې الله پاک رسول الله ﷺ ته حکم اوفرمائيلو ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ﴾ يعنې د دوی دپاره دعا کوئ.

صرف د بل دپاره دعا غوښتل : ﴿وَمَنْ خَصَّ أَخَاهُ بِالدُّعَاءِ دُونَ نَفْسِهِ﴾ : يعنې چه انسان د بل دپاره دعا کوی او د خپل ځان ذکر په دعا کښې نه کوی، د دې ګنجائش دې. امام بخاري رحمه الله غالبا په هغه خلقو باندې رد کول غواړی چه د هغوی وينا ده چه د نورو دپاره د دعا کولو نه مخکښې د خپل ځان دپاره دعا کول پکار دی، د ابراهيم نخعي رحمه الله وغيره نه دا قول منقول دې.[1]

دا حضرات د ابی بن کعب رضی الله عنه د يو مرفوع حديث نه استدلال کوی کوم چه امام ترمذي رحمه الله موصولا نقل کړې دې. په دې کښې دی :

﴿أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صلی الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ﴾[2]

يعنې رسول الله ﷺ به چه د چا ذکر فرمائيلو سره د هغه دپاره د دعا کولو اراده کوله نو اول به ئې د خپل ځان دپاره دعا کوله.

خو د روايات الباب نه د دې ترديد کيږی، رسول الله ﷺ د مختلفو حضراتو دپاره دعا اوفرمائيله چه په هغې کښې ئې خپل ذکر نه دې کړې.

بهر حال د دې ګنجائش دې چه انسان د نورو دپاره دعا اوکړی او خپل ذکر نه کوی، خو غوره دا ده او په حصن حصين کښې دا د دعا ګانو په آداب کښې شمار کړې شوې دی چه انسان د ځان دپاره دعا اوکړی . بيا د نورو خلقو دپاره اوکړی.[3]

مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله په الکوکب الدري کښې ليکلې دی چه د نورو خلقو دپاره دعا کول او خپل ځان پريخودل ... په دې کښې يو قسم اعراض او د دعا نه د استغنا وهم راځی او هغه صحيح نه دې.[4]

او په دې کښې دا تفصيل هم کيدې شی چه که د اهتمام سره د دعا موقع وی نو په هغې کښې انسان له د خپل ځان دپاره دعا کول پکار دی، د هغې نه پس د نورو دپاره! خو که د چا تذکره راغله يا چا څه احسان اوکړو نو په داسې مواقع باندې د خپل ذکر کولو

[1] فتح الباری : ١١/١٦٤، عمدة القاری ٢٢/٢٩٥

[2] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات، باب مَا جَاءَ أَنَّ الدَّاعِيَ يَبْدَأُ بِنَفْسِهِ : ٥/٤٦٣، (رقم الحديث : ٣٣٨٥)

[3] حصن حصين : ٨٢

[4] الکوکب الدری ٣/٣٣٥

نه بغير د متعلقه سړی دپاره دعا کيدلې شی، په روايات الباب کښې اکثر هم دغه شان مواقع دی.
د باب د لاندې امام بخاري رحمه الله اووۀ احاديث ذکر فرمائيلي دی او هغه ټول مخکښې تير شوې دی، په دې ټولو احاديثو کښې رسول الله ﷺ د يو نه يو صحابی دپاره دعا کړې ده.
لاندې هغه احاديث د ترجمې سره ذکر کولې شی.

وَقَالَ أَبُومُوسَى قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِاللَّهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهُ».

[٥٩٧٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى سَلَمَةَ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ الأَكْوَعِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى خَيْبَرَ، قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَيَا عَامِرُ لَوْ أَسْمَعْتَنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ. فَنَزَلَ يَحْدُو بِهِمْ يُذَكِّرُ.
تَاللَّهِ لَوْلاَ اللَّهُ مَا اهْتَدَيْنَا . وَذَكَرَ شِعْرًا غَيْرَ هَذَا، وَلَكِنِّي لَمْ أَحْفَظْهُ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «مَنْ هَذَا السَّائِقُ». قَالُوا عَامِرُ بْنُ الأَكْوَعِ. قَالَ «يَرْحَمُهُ اللَّهُ». وَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْلاَ مَتَّعْتَنَا بِهِ، فَلَمَّا صَافَّ الْقَوْمَ قَاتَلُوهُمْ، فَأُصِيبَ عَامِرٌ بِقَائِمَةِ سَيْفِ نَفْسِهِ فَمَاتَ، فَلَمَّا أَمْسَوْا أَوْقَدُوا نَارًا كَثِيرَةً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «مَا هَذِهِ النَّارُ عَلَى أَىِّ شَىْءٍ تُوقِدُونَ». قَالُوا عَلَى حُمُرٍ إِنْسِيَّةٍ. فَقَالَ «أَهْرِيقُوا مَا فِيهَا، وَكَسِّرُوهَا». قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلاَ نُهَرِيقُ مَا فِيهَا وَنَغْسِلُهَا قَالَ «أَوْ ذَاكَ». [ر:٢٣٤٥]

د سيدنا سلمة بن الاكوع رضی الله عنه نه روايت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د خيبر طرف ته روان شونو په جماعت کښې يو سړی اووې اې عامر! ارمان چه تاسو خپل اشعار اورولې وې؟ هغوی د سورلئ نه راکوز شو، اوپه دې الفاظو سره ئې اشعار رئيل شروع کړل: ﴿تَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا﴾ (قسم په الله پاک! که الله پاک (هدايت کونکې نه وې) نو مونږ به چرې هم هدايت نه وې موندلې) او د دې نه علاوه ئې هم څو اشعار اولوستل خو هغه ماته ياد پاتې نه شو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل، دا راښکونکې څوک دې؟ خلقو اووې عامر بن اکوع رضی الله عنه (دې) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک دې په هغه باندې رحم اوکړی. يو سړی عرض اوکړو: يا رسول الله ﷺ ارمان چه د هغه (عامر) نه تاسو ته نوره هم فائده رسولې وې (يعنی هغه نور هم ژوندې پاتې شوې وې ځکه چه رسول الله ﷺ به کله د چا په باره کښې د ﴿يرحم الله﴾ يا ﴿رحمه الله﴾ الفاظ اوفرمائيل نو په دې کښې به د دې خبرې طرف ته اشاره وه چه هغه وفات کيدونکې دې) پس چه کله خلقو صفونه برابر کړل او جنګ ئې شروع کړو نو عامر پخپله توره باندې زخمی شو چه د هغې د وجې نه وفات شو، چه کله ماښام شو نو خلقو ډير زيات اوربل کړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا اور څنګه دې؟ کوم څيز باندې تاسو اوربل کړو؟ خلقو اووې د کورنو خرو په غوښې باندې (يعنی دهغوی غوښه پخوو) رسول الله ﷺ اوفرمائيل

اوغورځوئ هغه څيز كوم چه په دې كښې دې يعنى غوښې لره او لوښې مات كړئ. يو سړى عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ : آيا څه چه په لوښى كښې دى كه هغه مونږ اوغورځوو او لوښې وينځو ،نو غوره به نه وى؟، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څئ هم دغه شان اوكړئ.

۵۹۷۳] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى - رضى الله عنهما كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا أَتَاهُ رَجُلٌ بِصَدَقَةٍ قَالَ «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلاَنٍ». فَأَتَاهُ أَبِي فَقَالَ «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى». ر ۱۴۲۶]

د سيدنا ابن ابى اوفى رضی اللہ عنہ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ته به چه كله چا صدقه راوړه. نو هغوى به فرمائيل . ﴿اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلاَنٍ﴾، يعنى اې الله د فلانى په آل باندې رحمت نازل كړه. پس زما پلار هغوى ته څه راوړل نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اې الله ! په آل د ابى اوفى رضی اللہ عنہ باندې رحمت نازل كړه.

۵۹۷۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جَرِيرًا قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أَلاَ تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ». وَهْوَ نُصُبٌ كَانُوا يَعْبُدُونَهُ يُسَمَّى الْكَعْبَةَ الْيَمَانِيَةَ. قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي رَجُلٌ لاَ أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ ،فَصَكَّ فِي صَدْرِي فَقَالَ «اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا». قَالَ فَخَرَجْتُ فِي خَمْسِينَ مِنْ أَحْمَسَ مِنْ قَوْمِي -وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ فَانْطَلَقْتُ فِي عُصْبَةٍ مِنْ قَوْمِي - فَأَتَيْتُهَا فَأَحْرَقْتُهَا، ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَاللَّهِ مَا أَتَيْتُكَ حَتَّى تَرَكْتُهَا مِثْلَ الْجَمَلِ الأَجْرَبِ. فَدَعَا لأَحْمَسَ وَخَيْلِهَا. [ر: ۲۸۵۷]

د قيس رحمہ اللہ نه روايت دې چه ما د سيدنا جرير رضی اللہ عنہ نه واوريدل چه ماته رسول الله ﷺ اوفرمائيل : آيا ته به ماته د ذى الخلصة نه نجات رانكړې؟ دا يو بت وو چه د هغې به خلقو عبادت كولو او د دې نوم كعبه يمانيه وو. ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ! زه يو داسې سړې يم چه په اس باندې نيغ نه شم كيناستلې، هغوى زما په سينه باندې لاس راښكلو او وې فرمائيل : اې الله ! دې ثابت قدم كړه او هدايت كونكې او هدايت يافته ئې كړه. د سيدنا جرير رضی اللہ عنہ بيان دې چه زه د خپل قوم احمس د پنځوس كسانو سره اوتلم، او سفيان به كله په روايت كښې دا الفاظ وئيل ﴿فَانْطَلَقْتُ فِي عُصْبَةٍ مِنْ قَوْمِي﴾ زه د خپل قوم د يو جماعت سره اوتلم، ما هلته رسيدو سره هغه اوسيزلو. بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم او اومې وئيل يا رسول الله ﷺ! قسم په الله پاک ! زه تاسو ته تر هغه وخته پورې رانغلم چه ترڅو پورې مې هغه د خارختى اوښ په شان جوړ نه كړلو. نو رسول الله ﷺ د قبيله احمس و د هغې د شهسوارانو دپاره دعا اوفرمائيله.

[٥٩٧٥] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَسٌ خَادِمُكَ. قَالَ «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ». [ر: ١٨٨١]

د امام قتادة رحمه الله نه روايت دې چه ما د سيدنا انس رضي الله عنه نه واوريدل چه (زما مور) سيده ام سليم رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو : انس رضي الله عنه ستاسو خادم دې ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل . اې الله : هغه ته په کثرت سره مال او اولاد ورکړه، او څه چه دې ورته ورکړې دی په هغې کښې ورته برکت واچوه.

[٥٩٧٦] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- قَالَتْ سَمِعَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلاً يَقْرَأُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ «رَحِمَهُ اللَّهُ، لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً أَسْقَطْتُهَا فِي سُورَةِ كَذَا وَكَذَا». [ر: ٢٥١٢]

د سيده عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د يو سړى نه په مسجد کښې قرآن کريم واوريدلو نو وې فرمائيل : الله پاک دې په هغه باندې رحم اوکړی. هغه ماته فلانې فلانې آيت راياد کړو . کوم چه زما نه په فلانې فلانې سورة کښې هير شوې وو

[٥٩٧٧] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَسَمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- قَسْمًا فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّ هَذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللَّهِ. فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَغَضِبَ حَتَّى رَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ وَقَالَ «يَرْحَمُ اللَّهُ مُوسَى، لَقَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ» [ر: ٢٩٨١]

او د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ مال غنيمت تقسيم کړو . نو يو سړى اووې : په دې تقسيم سره د الله پاک رضا مقصود نه ده، ما چه رسول الله ﷺ ته دا خبره بيان کړه نو هغوى غصه شو ، تردې چه د غصې آثار ما د هغوى په مخ مبارک کښې اوليدل او وې فرمائيل : الله پاک دې په موسى (عليه السلام) باندې رحم اوفرمائی: چاته چه د دې نه زيات تکليفونه ورکړې شوې وو خو هغوى صبر اوکړو

⑲ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ السَّجْعِ فِي الدُّعَاءِ

[٥٩٧٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ السَّكَنِ حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلاَلٍ أَبُو حَبِيبٍ حَدَّثَنَا هَارُونُ الْمُقْرِئُ حَدَّثَنَا الزُّبَيْرُ بْنُ الْخِرِّيتِ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ أَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ، فَإِنْ أَكْثَرْتَ فَثَلاَثَ مِرَارٍ، وَلاَ تُمِلَّ النَّاسَ هَذَا الْقُرْآنَ، وَلاَ أُلْفِيَنَّكَ تَأْتِي الْقَوْمَ وَهُمْ فِي حَدِيثٍ مِنْ حَدِيثِهِمْ فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ، فَتَقْطَعُ عَلَيْهِمْ حَدِيثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ، وَلَكِنْ أَنْصِتْ، فَإِذَا أَمَرُوكَ فَحَدِّثْهُمْ وَهُمْ يَشْتَهُونَهُ، فَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ، فَإِنِّي عَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَصْحَابَهُ لاَ يَفْعَلُونَ إِلاَّ ذَلِكَ. يَعْنِي لاَ يَفْعَلُونَ إِلاَّ ذَلِكَ الاِجْتِنَابَ

په دعا کښې د قافيه لګولو حکم : په دعا کښې دننه سجع او تکلف اختيارولو سره مقفى عبارتونو جوړولو سره پيش کول مکروه دى. دعا چونکه د الله پاک نه غوښتل، طلب کول او د خپلې عاجزئ د اظهار نوم دې، په دې وجه په دې موقع باندې قافيه لګول او عقلي عبارتونه لګول مناسب نه دى، خو که بغير د قصد او تکلف نه په الفاظو کښې رواني، سلاست او قافيه بندى راشى نو په دې کښې هيڅ باک نشته، د رسول الله ﷺ نه چه کومې دعاګانې منقول دى، په هغې کښې ډير دعاګانې مسجع دى، خو هغه سجع د څه تکلف او تصنع والا نه ده، بلکه يو صاحب ذوق خپله اندازه لګولې شى چه دا بې ساخت الهامى دعاګانې دى او په دې کښې د څه صنع لړ شان دخل هم نشته. (۱)

د باب په اول روايت کښې د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما نصيحت نقل کړې شوې دې، هغوى فرمائى: په هفته کښې يو کرت يا دوه کرته او زيات نه زيات درې کرته وعظ کوئ، خلق د قرآن کريم نه مه ستړى کوئ او زه دې تاسو داسې بيا نه مومم چه تاسو يو جماعت ته راشئ او په خپلو خبرو کښې مشغول شئ او تاسو د هغه خبرې پرې کولو سره وعظ شروع کړئ او دغه شان هغوى تنګ کړئ، بلکه خاموش اوسيږئ چه کله هغوى تاسو ته پخپله د وعظ کولو اوائى او د هغې خواهش ظاهر کړى نو وعظ کوئ خو په دعا کښې د مقفى کلام نه ځان ساتئ، ځکه چه ما رسول الله ﷺ او د هغوى صحابه کرام رضي الله عنهم داسې ليدلې دى، يعنى هغوى به د دې نه ځان ساتلو.

قوله: ﴿فَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ﴾: يعنى په دعا کښې قافيه لګول موخر کړه، د هغې قصد او اراده مه کوه او خپل فکر او سوچ په هغې باندې مه مشغوله کوئ، ځکه چه په دعا کښې خشوع مطلوب ده، او په قافيه لګولو کښې تکلف دې، کوم چه د خشوع نه دې.

⑳ بابٌ لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ، فَإِنَّهُ لَا مُكْرِهَ لَهُ

[۵۹۷۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلْيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ، وَلَا يَقُولَنَّ اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ فَأَعْطِنِى. فَإِنَّهُ لَا مُسْتَكْرِهَ لَهُ». [۷۰۲۶]

د دعا د يو بل ادب بيان : امام بخارى رحمه الله په دې باب کښې يو بل ادب ذکر کړې دې او هغه دا چه دعا په کامل يقين سره کول پکار دى، ځکه چه په الله پاک باندې هيڅ څوک جبر کونکې نشته، پس د باب دا اول روايت د سيدنا انس رضي الله عنه نه دې، هغوى فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کله په تاسو کښې يو سړى دعا غواړى، نو دا دې نه وائى چه يا الله! که ته غواړې نو ماته راکړه، ځکه چه په الله پاک باندې هيڅ څوک جبر کونکې نشته.

(۱) فتح البارى ۱۶۷/۱۱، عمدة القارى ۲۹۸/۲۲، ارشاد السارى ۳۴۲/۱۳

[۵۹۸۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «لاَ يَقُولَنَّ أَحَدُكُمُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي، إِنْ شِئْتَ لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ، فَإِنَّهُ لاَ مُكْرِهَ لَهُ». [۷۰۳۹]

د باب دا دويم روايت د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه دې. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائى : چه په تاسو كښې دې يو سړې داسې نه وائى چه يا الله ! كه ته غواړې نو ماته بخښنه اوكړه او په ما باندې رحم اوكړه بلكه په يقين سره غوښتل پكار دى ځكه چه الله پاک باندې هيڅ څوک جبر كونكې نشته.

علامه توريشتى رحمه الله ليكى : ﴿ اراد ادعوه معتقدين وقوع الاجابة، لان الداعى اذا لم يكن متحققا فى الرجاء لم يكن رجاؤه صادقا، واذا لم يكن الرجاء خالصا، والداعى مخلصا، فان الرجاء هو الباعث على الطلب، ولا يتحقق الفرع لا بتحقيق الاصل ﴾[۱]

يعنى : د رسول الله صلی الله علیه وسلم مطلب دا دې چه د الله پاک نه په دې يقين او اعتقاد سره دعاګانې غواړئ چه الله پاک به دا ضرور قبلوى، ځكه چه دعا كونكى ته به د دعا د قبوليت اميد نه وى نو د هغه اميد به صادق نه وى او چه كله اميد صادق نه دې نو دعا به هم خالص نه وى او داعى به هم مخلص نه وى. ځكه اميد د دعا غوښتلو باعث دې. او فرع د اصل نه بغير نه متحقق كيږى.

قوله: ﴿لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ﴾: په دې كښې نهى د تحريم دپاره ده يا كه د كراهت تنزيهى دپاره، دواړه اقوال دى، د امام نووى رحمه الله نه كراهت تنزيهى باندې محمول دې. [۲]

خلاصه دا چه دعا كونكې دې پوره اميد ساتى چه الله پاک به د هغه دعا قبلوى او هغه به د څه استثناء او تعليق نه بغير مكمل په الحاح او زارئ سره د الله پاک په دربار كښې خپل مراد پيش كړى.

۲۱: بَابٌ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَعْجَلْ

[۵۹۸۱][۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يُسْتَجَابُ لأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ يَقُولُ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي».

[۱]) كتاب الميسر فى شرح مصابيح السنة، كتاب الدعوات، ۵۱۶/۲، (رقم الحديث : ۱۵۴۶)

[۲]) قال الحافظ ابن حجر : وحمل النووى النهى فى ذلک على كراهة التتنزيه، فتح البارى ۱۶۸/۱۱، تقول : لم يصرح النووى به، الا ان فحوى كلامه فى شرح هذا الحديث يدل على ذلک، (شرح مسلم للنووى، كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب العزم بالدعاء ولا يقل : ان شئت ۳۴۲/۲)

[۳]) (۵۹۸۱) الحديث اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء، باب بيان انه يستجاب للداعى مالم يعجل (رقم الحديث : ۲۷۳۵) واخرجه ابوداؤد فى كتاب الصلاة، باب الدعاء : ۷۸/۲، ...

[بقيه برصفحه آئنده...

د ترجمة الباب مقصد : په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د دعا یو بل ادب بیان کړې دې. او هغه دا دې چه دعا مسلسل کول پکار دی او په یو موقع باندې هم دا نه دی وئیل پکار چه زه دعا خو کوم خو قبلیږی نه. پس په روایت الباب کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه د هر سړی دعا قبلیږی په دې شرط چه هغه تندی اونکړی چه داسې او نه وائی چه ما دعا اوغوښتله خو قبوله نه شوه.

په دعا کښې ستړې والې د قبولیت نه مانع دې: په صحیح مسلم او سنن ترمذی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه روایت دې. د هغې الفاظ دی:

《 لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ. قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الِاسْتِعْجَالُ؟ قَالَ: يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ 》(۱)

یعنی د بنده دعا مسلسل قبلیږی چه ترڅو پورې هغه د ګناه یا د قطع رحمئ دعا اونکړی او ترڅو پورې چه هغه د جلد بازئ مظاهره اونکړی، چا تپوس اوکړو د تندئ نه د کار اخستلو څه مطلب دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه داسې اوائی چه ما بار بار دعا اوغوښتله. خو ماته نه ښکاری چه زما دعا به قبوله شی، نو هغه په دې وخت کښې د ستړی کیدو مظاهره کولو سره دعا پریږدی.

مطلب دا دې چه هغه دعا کولو کولو سره تنګ شو او هغه دا جمله اووئیله.

علامه قسطلانی رحمه الله د مظهری په حوالې سره لیکلې دی چه په کومه دعا کښې انسان تنګ شی هغه نه قبلیږی ځکه چه دعا عبادت دې او د مومن شان دا نه دې چه هغه د خپل رب په عبادت کښې د ستړی والی اظهار اوکړی. (۲) دعا که هغه وخت سره قبوله شی او که نه شی. خپله د څو رحمتونو او برکتونو ذریعه او باعث وی.

امام ترمذی رحمه الله د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما یو مرفوع حدیث نقل فرمائیلې دې، په هغې کښې دی

《 مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ 》(۳)

یعنی : په تاسو کښې چه د چا دپاره د دعا دروازه پرانستلې شوه. د هغه دپاره د رحمت دروازې پرانستلې شوې.

...بقیه ازحاشیه گذشته] (رقم الحديث : ۱۴۸۴)، واخرجه الترمذی فی کتاب الدعاء، باب ما جاء فیمن یستعجل فی دعائه : ۴۶۴/۵، (رقم الحديث : ۳۳۸۷) واخرجه ابن ماجة فی کتاب الدعاء، باب یستجاب لاحدکم ما لم یعقل (رقم الحديث : ۳۱۵۳)

(۱) صحیح مسلم، کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب بیان انه یستجاب للداعی مالم یعجل، فیقول : دعوت فلم یستجب لی : ۲۰۹۶/۴، رقم الحدیث : ۲۷۳۵، ورواه الترمذی ولفظه : عن أبی هریرة : عن النبی صلی الله علیه و سلم قال یستجاب لأحدکم مالم یعجل یقول دعوت فلم یستجب لی. کتاب الدعوات، باب ما جاء فیمن یستعجل فی دعائه : ۴۶۴/۵، رقم الحدیث : ۳۳۸۷

(۲) ارشاد الساری : ۴۳۳/۱۳

(۳) سنن الترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی صلی الله علیه وسلم: ۵۵۱/۵، رقم الحدیث : ۳۵۴۷

هم دغه شان په يو روايت كښې دى ﴿ مَنْ رُزِقَ الدُّعَاءَ لَمْ يُحْرَمِ الْإِجَابَةَ ﴾ [1]
يعنى چاته چه د دعا توفيق ملاؤ شو هغه د قبوليت نه نه محروم كيږى

۲۳: بَاب رَفْعِ الأَيْدِي فِي الدُّعَاءِ

وَقَالَ أَبُو مُوسَى الأَشْعَرِيُّ دَعَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ، وَرَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ. ار ۴۰۶۸ وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَفَعَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَدَيْهِ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ». [۴۰۸۴]

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ الأُوَيْسِيُّ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ وَشَرِيكٍ سَمِعَا أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ. ار ۹۸۴]

په دعا كښې د رفع اليدين ثبوت : د رسول الله ﷺ نه لاسونه اوچتول په ډيرو احاديثو كښې ثابت دى، پس په باب كښې چه امام بخارى رحمه الله كوم درې معلق روايتونه ذكر كړې دى. په هغې كښې د رفع اليدين ذكر دې، د سيدنا ابو موسى اشعرى رضي الله عنه تعليق په كتاب المغازى كښې، د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما تعليق هم په مغازى كښې موصولا ذكر شوې دې او د اويسى تعليق ابو نعيم موصولا نقل كړې دې [2] د اويسى نوم عبدالعزيز بن عبدالله دې. [3]

امام بخارى رحمه الله په دې احاديثو سره كيدې شى چه دهغه خلقو رد كول غواړى كوم چه د استسقاء نه علاوه په باقى خايونو كښې د لاس اوچتولو قائل نه دى، هغوى د سيدنا انس رضي الله عنه د حديث نه استدلال كوى چه په هغې كښې دى :

﴿ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الِاسْتِسْقَاءِ ﴾ [4]

يعنى رسول الله ﷺ د استسقاء نه علاوه كله هم په دعا كښې لاس نه دى اوچت كړې.

په حديث استسقاء او احاديث الباب كښې تطبيق : حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا حديث اګر چه صحيح دې خو په دې حديث او هغه احاديثو كښې په كوم كښې چه رفع اليدين ثابت

---

[1]) لم اجد بهذا اللفظ فى كتب الحديث المتوفرة لدى، ووجدت ما يقارب لذلک وهو ما ذكره ابن عساكر. ولفظه عن ابى هريرة، انه كان يقول : ما اخاف ان احرم الاجابة، ولكنى اخاف ان احرم الدعاء (التمهيد لابن عبدالبر : ۲۹۸/۱۰) (قلت : وجدت هذا الحديث فى شعب الايمان للبيهقى باسناد ضعيف عن ابن مسعود رضى الله تعالى عنه ۲۹۴/۶ (رقم الحديث : ۴۲۱۰) والاحاديث المختارة للضياء المقدسى عن انس بن مالک رضى الله تعالى عنه ۳۴۵/۲ (رقم الحديث : ۱۸۱۴) وفيه : مَنْ أُعْطِيَ الدُّعَاءَ لَمْ يُحْرَمِ الْإِجَابَةَ، وقال عبد الملک بن عبد الله بن دهيش : إسناده صحيح)

[2]) فتح البارى ۱۷۰/۱۱، ارشاد السارى ۳۴۵/۱۳

[3]) عمدة القارى ۳۰۰/۲۲، ارشاد السارى : ۲۴۵/۱۳، فتح البارى ۱۷۰/۱۱

[4]) صحيح البخارى، كتاب الاستسقاء، باب رفع الامام يده فى الاستسقاء ص : ۲۲۱، (رقم الحديث : ۱۰۴۱) وصحيح مسلم : كتاب الاستسقاء : باب رفع اليدين بالدعاء فى الاستسقاء ۶۱۶/۲، (رقم الحديث : ۷۹۵)

دى تطبيق داسې كيدې شى چه د سيدنا انس رضي الله عنه په حديث كښې په حقيقت كښې مطلقا د رفع اليدين نفى نه ده شوې. بلكه په مخصوص صفت سره د رفع اليدين نفى كړې شوې ده او مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ به چه څنګه د استسقاء په وخت لاسونه ډير اوچتول ترديې چه لاسونه مبارک به ئې د مخ مبارک برابر شو، په دې وصف سره به ئې داسې په عام دعا كښې لاسونه نه اوچتول، په عام دعاګانو كښې به ئې لاسونه د اوږو برابر اوچتول. پس هغوى ليكى :

﴿ لكن جمع بينه وبين احاديث الباب وما فى معناها بان المنفى صفة خاصة لا اصل الرفع..... وحاصله ان الرفع فى الاستسقاء يخالف غيره اما بالمبالغة إلى ان تصير اليدان فى حذو الوجه مثلا وفى الدعاء إلى حذو المنكبين...واما ان الكفين فى الاستسقاء يليان الأرض وفى الدعاء يليان السماء ﴾ (١)

يعنى په حديث استسقاء او احاديث الباب كښې داسې تطبيق وركړې شوې دې چه په حديث الاستسقاء كښې مطلقا د رفع اليدين نفى نه ده كړې شوې بلكه په يو خاص صفت سره د هغې نفى كړې شوې ده. د دې تطبيق حاصل دا دې چه په استسقاء كښې رفع اليدين په كوم صفت سره وى، په هغه صفت سره په دعا كښې نه وى يا خو په دې طريقه چه په استسقاء كښې لاس اوچتولو كښې دومره مبالغه كولې شى چه هغه مخ ته مخامخ راشى او حال دا چه په دعا كښې اوږو ته مخامخ اوچتولې شى. يا په داسې طريقه چه په استسقاء كښې د لاسونو رخ د زمكې طرف ته، او په دعا كښې د آسمان طرف ته وى.

امام منذرى رحمه الله فرمائى چه د جمع او تطبيق د متعذر كيدو په صورت كښې به د ترجيح طريقه اختيارولې شى او د اثبات روايات د صحت او كثرت په اعتبار سره راجح دى. (٢)

خپله امام بخارى رحمه الله د جزء رفع اليدين په نوم سره يو مستقل رسالة ليكلې ده چه په هغې كښې هغوى هغه احاديث راجمع كړې دى چه په هغې كښې د رسول الله ﷺ نه په دعا كښې رفع اليدين ثابت دى. د سيده عائشه، عبدالرحمن بن سمرة، ابوهريره، عبدالله بن عمرو بن العاص، عمر فاروق، اسامة بن زيد او د قيس بن سعد رضي الله عنهم روايات حافظ ابن حجر رحمه الله ذكر كړې دى چه په هغې كښې د دعا په وخت د لاس اوچتولو ذكر دې. (٣)

د سنن ابى داؤد او جامع ترمذى په يو مرفوع روايت كښې دى :

﴿ إِنَّ رَبَّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا ﴾ (٤)

يعنى ستاسو رب حيا كونكې او رحم كونكې دې بنده چه كله د دعا دپاره هغه ته لاسونه اوچت كړى نو هغه د هغې په خالى واپس كولو باندې حياء كوى.

---

(١) فتح البارى ١١/١٧٠، ١٧١

(٢) فتح البارى : ١١/ ١٧١

(٣) فتح البارى ١١/١٧١

(٤) سنن ابى داؤد، كتاب الصلاة، باب الدعاء: ٢/٧٨، (رقم الحديث : ١٤٧٨)

په دعا کښې د لاس اوچتولو حد : لاس د کوم ځائې پورې اوچتول پکار دی، په دې سلسله کښې روایات مختلف دی، د سینې برابر، د اوږو برابر، د مخ برابر او د سر برابر.[1] د سینې برابر اوچتولو ته ابن عباس رضی الله عنهما د دعا وصل وئیلې دی.[2]

۲۳: باب الدُّعَاءِ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةِ

[۵۹۸۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ بَيْنَا النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَسْقِيَنَا . فَتَغَيَّمَتِ السَّمَاءُ وَمُطِرْنَا، حَتَّى مَا كَادَ الرَّجُلُ يَصِلُ إِلَى مَنْزِلِهِ، فَلَمْ تَزَلْ تُمْطَرُ إِلَى الْجُمُعَةِ الْمُقْبِلَةِ، فَقَامَ ذَلِكَ الرَّجُلُ أَوْ غَيْرُهُ فَقَالَ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَصْرِفَهُ عَنَّا، فَقَدْ غَرِقْنَا. فَقَالَ « اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا » . فَجَعَلَ السَّحَابُ يَتَقَطَّعُ حَوْلَ الْمَدِينَةِ ، وَلاَ يُمْطِرُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ.[ر: ۸۹۰]

د سیدنا انس رضی الله عنه روایت دې چه یو کرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ باندې خطبه ورکوله، یو سړې اودریدلو اوعرض ئې اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا اوکړئ چه په مونږ خلقو باندې باران اوشی، آسمان باندې وریځ راغله او باران شروع شو، تردې چه خلق خپلو کورونو ته نه شی رسیدلې، د بلې جمعې پورې باران وریدلو، نو هم هغه سړې یا بل سړې اودریدلو او عرض ئې اوکړو چه الله پاک نه اوغواړئ چه زمونږ نه باران واړوی مونږ خو ډوب شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : اې الله ! زمونږ نه چاپیره ئې او ورروه او په مونږ ئې مه ورروه، پس وریځ د مدینې نه ګیر چاپیره خوره شوه (او باران کیدو) خو په مدینه کښې باران نه کیدلو.

د ترجمة الباب مقصد : د دې باب مقصد دا دې چه د دعا په آدابو کښې یو ادب اګر چه دا دې چه قبلې ته مخ کولو سره دې دعا اوکړې شی خو دا ضروری نه دې، بعض موقعو باندې انسان د قبلې نه مخ اړولو سره هم دعا کولې شی لکه چه په روایت الباب کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د باران دپاره د خطبې دوران کښې دعا اوفرمائیله، په مسجد کښې د خطبې په وخت د خطیب مخ د خلقو طرف ته وی، هغه قبلې ته نه وی مخ کړې. معلومه شوه چه داسې دعا غوښتل ثابت دی.[3]

---

[1] عمدة القاری ۳۰۱/۲۲، فتح الباری : ۱۷۲/۱۱

[2] عمدة القاری ۳۰۱/۲۲، فتح الباری : ۱۷۲/۱۱

[3] فتح الباری : ۱۷۲/۱۱، عمدة القاری : ۳۰۱/۲۲، ارشاد الساری: ۳۴۶/۳

٢٣: باب الدُّعَاءِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ

[٥٩٨٣] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - إِلَى هَذَا الْمُصَلَّى يَسْتَسْقِي، فَدَعَا وَاسْتَسْقَى ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَقَلَبَ رِدَاءَهُ. [ر: ٩٦٠]

د ترجمة الباب مقصد: په حديث كښې د دعا ذكر نشته. بلكه صرف دومره خبره ده چه رسول الله ﷺ د عيدګاه طرف ته اوتلو. د باران دپاره ئې دعا اوكړه. بيا ئې د قبلې طرف ته مخ كولو سره څادر التيه كړو.

اسماعيلى رحمه الله فرمائى چه د قبلې طرف ته مخ كولو په وخت څادر التيه كولو سره رسول الله ﷺ دعا كړې ده د دې صراحتاً اګر چه په روايت الباب كښې نشته. خو د دې حديث په نورو طرقو كښې د هغې ذكر شته. امام بخارى رحمه الله د خپل عادت مطابق په ترجمة الباب سره د هغې طرف ته اشاره كړې ده.[١]

د دې نه علاوه په نورو ډيرو احاديثو كښې هم دى. چه په هغې كښې قبلې ته مخ كولو سره د رسول الله ﷺ د دعا كولو تذكره ده.

په صحيح مسلم كښې د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې:

﴿ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ نَظَرَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى الْمُشْرِكِينَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ ثُمَّ مَدَّ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ ﴾[٢]

يعنى د غزوه بدر په ورځ رسول الله ﷺ د مشركينو طرف ته اوكتل بيا ئې قبلې طرف ته مخ كولو سره خپل دواړه لاسونه خوارهٔ كړل او خپل رب ئې راوبللو.

د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دې: ﴿ اسْتَقْبَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْكَعْبَةَ فَدَعَا عَلَى نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ ﴾[٣]

يعنى رسول الله ﷺ د خانه كعبې طرف ته مخ كړو. بيا ئې د قريشو يو جماعت ته بددعا اوكړه.

---

[١]) فتح البارى: ١٧٣/١١، عمدة القارى: ٣٠١/٢٢، ارشاد السارى: ٣٤٧/٣

[٢]) صحيح مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب الإمداد بالملائكة فى غزوة بدر وإباحة الغنائم: ١٣٧٣/٣، رقم الحديث (١٧٦٣)

[٣]) صحيح بخارى، كتاب المغازى، باب دعاء النبى صلى الله عليه وسلم على كفار قريش ص ٨٣٠ (رقم الحديث: ٣٩٦٠)

۲۵: باب دَعْوَةِ النَّبِی صلی الله علیه وسلم لِخَادِمِهِ بِطُولِ الْعُمُرِ وَبِكَثْرَةِ مَالِهِ

[۵۹۸۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا حَرَمِيٌّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضی الله عنه - قَالَ قَالَتْ أُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ خَادِمُكَ أَنَسٌ ادْعُ اللَّهَ لَهُ. قَالَ «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ». [ر: ۱۸۸۱]

رسول اللهﷺ د سیدنا انس رضی الله عنه دپاره د کثرت مال او اولاد او اوږد عمر دعا فرمائیلې وه، په روایت الباب کښې اګر چه د طول عمر ذکر نشته، خو د دې روایت په دویم طریق کښې د دې ذکر دې. د هغې الفاظ دا دی ﴿ اللّٰهُمَّ، أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ، وَأَطِلْ حَيَاتَهُ، وَاغْفِرْ لَهُ ﴾ اې الله ! ته هغه ته د مال او اولاد کثرت ورکړه، او د هغه ژوند اوږد کړه او د هغه مغفرت اوکړه. امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې د دې تخریج کړې دې. (۱)

پس الله پاک هغوی ته د رسول اللهﷺ د دعا په وجه باندې مال او دولت هم ورکړو او هغوی ډیر اوږد عمر هم بیا موندلو، د هغوی په ژوند باندې د هغوی د ځامنو او نمسو وغیره تعداد سلو ته رسیدلې وو. (۲)

په بصره کښې یو باغ وو چه هغې به په کال کښې دوه کرته میوه ورکوله. په هغې کښې یو ګل وو چه د هغې نه به د مشکو خوشبوئی راتله. (۳) د هغوی عمر هم یو سل او درې یا یو سل او اووه کلونه وو. (۴)

۲۶: باب الدُّعَاءِ عِنْدَ الْكَرْبِ

[۵۹۸۵، ۵۹۸۶] (۵) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - قَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلی الله علیه وسلم - يَدْعُو عِنْدَ الْكَرْبِ «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ».

---

(۱) الادب المفرد (مع فضل الله الصمد) باب من دعا بطول العمر : ۱۰۶/۲. (رقم الحديث : ۶۵۳) (قلت : اسناده صحيح)

(۲) فتح الباری : ۱۷۴/۱۱. عمدة القاری : ۳۰۲/۲۲. ارشاد الساری: ۳۴۷/۳

(۳) فتح الباری : ۱۸۴/۱۱. عمدة القاری : ۲۹۷/۲۲

(۴) فتح الباری : ۱۸۴/۱۱. عمدة القاری : ۲۹۷/۲۲

(۵) (۵۹۸۵/۵۹۸۶) الحديث اخرجه البخاری ايضا فی کتاب الدعوات. باب الدعاء عند الکرب (رقم الحديث : ۶۳۴۶) واخرجه ايضا فی کتاب التوحيد. باب قول الله تعالی (تعرج الملائکة والروح اليه) (المعارج : ۴) (رقم الحديث : ۷۴۳۱). واخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء باب الدعاء للکرب (رقم

[۵۹۸۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامِ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ، وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ» وَقَالَ وَهْبٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ مِثْلَهُ. [۲۹۹۰۱ ، ۲۹۹۴]

د مصيبت د وخت خاص دعاء : رسول اللهﷺ به د سخت غم او پریشانئ په وخت چه کومه دعا لوستله. امام بخاری رحمه الله هغه دلته ذکر فرمائیلي ده. د هغې الفاظ دا دی: ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ یعنی د الله پاک نه سوا بل معبود نشته. کوم چه د آسمانونو او زمکې رب دې (او) د عرش عظیم رب دې

د اول روایت الفاظ د مخکښې روایت نه مختلف دی.

قوله: ﴿حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ﴾: د ابوالعالیه نوم رفیع دې. د هغوی نه دا روایت قتادة نقل کړې دې خو په عنعنه سره دې. او قتادة مدلس دې. د مدلس عنعنه قبول نه وی.

پس امام ابوداؤد رحمه الله په سنن ابی داؤد کښې د کتاب الطهارت د لاندې د امام شعبه رحمه الله قول نقل کړې دې چه د ابوالعالیه نه قتادة صرف څلور احادیث اوریدلې دی [۱] او په هغه څلورو احادیثو کښې حدیث الباب شامل نه دې

ابن ابی حاتم په مراسیل کښې د څلورو په ځائې د دریو ذکر کړې دې. [۲]

خو د امام بخاری رحمه الله په نزد د څلورو او دریو دا حصه غیر معتبر ده. وجه د دې دا ده چه شعبه د مدلس راویانو عنعنه نه نقل کوی چه تر څو پورې د سماع تصریح نه وی او دا حدیث خپله شعبه هم د قتادة نه نقل کړې دې کوم چه د دې خبرې دلیل دې چه امام قتادة د سماع د تصریح سره هم دا روایت د ابوالعالیه نه نقل کړې دی. [۳]

کیدې شی چه هم په دې وجه باندې امام بخاری رحمه الله د باب په آخر کښې د وهب تعلیق ذکر فرمائیلې وی. وقال وهب: وَقَالَ وَهْبٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ مِثْلَهُ.

د مصیبت د دعاء فضیلت : ابن بطال رحمه الله لیکلې دی چه ابوبکر رازی په اصبهان کښې د علم

الحديث : ۲۷۳) واخرجه الترمذی فی كتاب الدعوات، باب ما جاء ما يقول عند الكرب (رقم الحديث : ۳٤۳۵) واخرجه ابن ماجة فی كتاب الدعاء باب الدعاء عند الكرب : (رقم الحديث : ۳۸۸۳).

[۱]) سنن ابی داؤد، كتاب الطهارة، باب فی الوضوء من النوم، تحت رقم الحديث : ۲۰۲، ولفظه : وَقَالَ شُعْبَةُ إِنَّمَا سَمِعَ قَتَادَةُ مِنْ أَبِي الْعَالِيَةِ أَرْبَعَةَ أَحَادِيثَ حَدِيثَ يُونُسَ بْنِ مَتَّى وَحَدِيثَ ابْنِ عُمَرَ فِي الصَّلَاةِ وَحَدِيثَ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ وَحَدِيثَ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَنِي رِجَالٌ مَرْضِيُّونَ مِنْهُمْ عُمَرُ وَأَرْضَاهُمْ عِنْدِي عُمَرُ. فتح البارى : ۱۷٤/۱۱، عمدة القارى : ۳۰۲/۲۲، ارشاد السارى: ۳٤۹/۳

[۲]) فتح البارى : ۱۷۵/۱۱

[۳]) فتح البارى : ۱۷۵/۱۱، عمدة القارى : ۳۰۲/۲۲

حدیث په سلسله کښې مقيم وو. هلته د ابوبکر بن على په نوم يو مفتي عالم دين وو. په څه وجه باندې د هغه خانې امير د هغوی نه خفه شو او هغوی ئې گرفتار کړل او جیل ته ئې اولیږل. ابوبکر رازی په خوب کښې رسول اللهﷺ اوليدو چه هغوی فرمانی ابوبکر بن علی ته لاړ شه اوو ايه چه په صحیح بخاری کښې ذکر شوې د مصیبت دعا اولوله. الله پاک به ستا دا مصيبت لرې کړی واپس هغوی لاړل او د دې خوب ذکر ئې هغوی ته اوکړو. هغوی چه څنګه دا دعا لوستل شروع کړل. د ښهر امير هغوی آزاد کړل (۱)

د پریشانئ او مصیبت په وخت نورې ماثور دعاګانې د پریشانئ او مصیبت په وخت په احادیثو کښې دا دعاګانې هم منقول دی:

① ﴿ اللهُ اللهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ﴾، په سنن ابی داؤد کښې د اسماء بنت عمیس رضي الله عنها نه منقول ده (۲)، چه د هغې ترجمه دا ده: الله! الله زما رب دې. زه د هغه سره هيڅ نه شريکوم

② ﴿ اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ﴾ په سنن ابی داؤد کښې د سيدنا ابوبکر رضي الله عنه نه منقول ده. (۳) د دې ترجمه دا ده: اې الله! زه ستاسو د رحمت اميدوار يم. پس ته ما سترګې د رپيدلو په قدر هم زما نفس ته مه حواله کوه او ته زما ټول امور برابر کړې. ستا نه سوا بل معبود نشته.

③ ﴿ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ په سنن ترمذی او مستدرک حاکم کښې دی ﴿ لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا اسْتُجِيبَ لَهُ ﴾ (۴) يعنى يو مسلمان چه په څه سلسله کښې هم په دې کلماتو سره دعا کړې ده الله پاک د هغه دعا قبول فرمائیلې ده.

۲۷: بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ

[۵۹۸۷] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي سُمَيٌّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَتَعَوَّذُ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، وَسُوءِ الْقَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ.

قَالَ سُفْيَانُ الْحَدِيثُ ثَلَاثٌ زِدْتُ أَنَا وَاحِدَةً، لَا أَدْرِي أَيَّتُهُنَّ هِيَ. [۶۹۴۲]

﴿جَهْد﴾ (د جيم په فتحې او د هاء په سکون سره) مشقت ته وئیلې شی او ﴿بلاء﴾ از ميښت ته وائی.

---

(۱) فتح البارى: ۱۷۵/۱۱ وشرح ابن بطال: ۱۱۳/۱۰

(۲) سنن ابى داؤد. كتاب الادب. باب فى الاستغفار. رقم الحديث ۱۵۲۵. وسنن ابن ماجة فى كتاب الدعوات. باب الدعاء عند الكرب. رقم الحديث: ۳۸۸۲. وفتح البارى: ۱۷۶/۱۱

(۳) سنن ابى داؤد. كتاب الادب. فى اخر باب ما يقول اذا اصبح. رقم الحديث: ۵۰۹۰. وفتح البارى: ۷۶/۱۱

(۴) سنن الترمذى فى كتاب الدعوات. باب. رقم الحديث: ۳۵۰۵. واخرجه الحاكم فى المستدرك فى كتاب الدعاء والتكبير والتهليل والتسبيح والذكر: ۵۰۵/۱. فتح البارى: ۱۷۶/۱۱. (قلت: لم اجده بلفظ صاحب كشف البارى فاخرجته من المستدرک باحدى ثلاثة طرق)

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ به د ازميښت د مشقت نه، د بدبختئ نه، د بدو فيصلو نه او د دشمنانو د خندا نه پناه غوښتله. د سفيان بيان دې، چه په حديث کښې درې خبرې وې په هغې باندې ما يوه زياته کړه ماته ياد نه دی چه هغه کومه خبره ده.

د جهد البلاء تشريح : د ﴿ جهد الهلاء ﴾ تشريح بعض شارحينو په دې الفاظو سره کړې ده.

﴿الحالة التي يمتحن بها الانسان وتشق عليه بحيث يتمنى فيها الموت ويختاره عليها ﴾ [۱] يعنى هغه حالت چه په هغې سره بنده ازميښتلې شي او په بنده باندې دومره ګران شي چه بنده په هغې کښې د مرګ غوښتنه کوی او په دې باندې مرګ ته ترجيح ورکوی.

د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه د ﴿جهد الهلاء﴾ تشريح د مال کم والي او د بال بچ ډيريدل نقل دی [۲].

علامه ابن بطال رحمه الله د ﴿ جهد البلاء ﴾ وضاحت داسې کړې دې!

﴿ كل ما اصاب المرء من شدة المشقة والجهد ومالا طاقة له بحمله ولا يقدر على دفعه من نفسه ﴾ [۳]

يعنى : د دې نه مراد انسان ته پيښيدونکې هغه سخت تکليف دې، چه د هغې د برداشت کولو هغه طاقت نه لری او نه د هغې په دفع کولو باندې قادر وی.

قوله: درك الشقاء: ﴿ دَرك ﴾ (د راء په فتحې او سکون سره) ﴿ دَرك ﴾ په معنى د ادراک او الحاق. د ﴿ شقاء ﴾ معنى هلاکت او بدبختی. ﴿ سوٓ القضاء ﴾ : داسې فيصله چه د انسان په حق کښې بده وی. ﴿ شماتة ﴾ د دشمن خندا او خوشحالئ ته وائی کومه چه د انسان په مصيبت کښې د اخته کيدو نه پس وی. [۴]

قوله: ﴿قَالَ سُفْيَانُ الْحَدِيثُ ثَلاَثٌ زِدْتُ أَنَا وَاحِدَةً﴾: سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائي چه په اصل حديث کښې د درې څيزونو ذکر وو. ما دلته څلور څيزونه، جهد بلاء، درک شقاء، سوء قضاء او شماتة اعداء ذکر کړی دی. په دې کښې د يو اضافه ما د خپل طرف نه کړې دد. خو اوس ماته معلومه نه ده چه هغه کومه يوه ده.

د اسماعيلی په روايت کښې د دې تصريح راغلې ده چه هغه ﴿ شماتة الاعداء ﴾ دې. [۵] سفيان ته اول ياد وو لکه چه د اسماعيلی په روايت کښې دی خو بيا ترې هير شو او هغوی ته ياد پاتې نه شو لکه چه دلته ذکر شوې دی. [۶]

---

[۱]) ارشاد الساری ۳۵۰/۱۳

[۲]) فتح الباری : ۱۷۸/۱۱، عمدة القاری : ۳۰۲/۲۲، ارشاد الساری: ۳۵۰/۳

[۳]) شرح ابن بطال : ۱۱۳/۱۰، فتح الباری : ۱۷۸/۱۱، عمدة القاری : ۳۰۲/۲۲

[۴]) فتح الباری : ۱۷۸/۱۱، عمدة القاری : ۳۰٤/۲۲، ارشاد الساری: ۳۵۰/۳

[۵]) فتح الباری : ۱۷۸/۱۱، ارشاد الساری ۳۵۰/۱۳

[۶]) فتح الباری : ۱۷۸/۱۱، عمدة القاری : ۳۰٤/۲۲، ارشاد الساری: ۳۵۰/۳

٢٨: باب دُعَاءِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى»

[٥٩٨٨] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ فِي رِجَالٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ «لَنْ يُقْبَضَ نَبِي قَطُّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ». فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي، غُشِيَ عَلَيْهِ سَاعَةً، ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى». قُلْتُ إِذًا لاَ يَخْتَارُنَا، وَعَلِمْتُ أَنَّهُ الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا، وَهُوَ صَحِيحٌ. قَالَتْ فَكَانَتْ تِلْكَ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى». [ر: ٤١٧١]

سیده عائشه ﷞ بیان کوی چه رسول الله ﷺ به د خپل صحت په حالت کښې فرمائیل چه هر نبی ته د وفات نه مخکښې د هغه مقام په جنت کښې ښودلې شی. بیا ورته اختیار ورکولې شی پس چه کله د رسول الله ﷺ وفات اوشو نو هغه وخت د هغوی سر مبارک زما په پتون باندې وو. لږ ساعت په هغوی باندې بیهوشی راغله، بیا بیدار شو نو خپلې سترګې مبارکې ئې د چهت طرف ته اوچتې کړې بیا ئې ﴿اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى﴾ اوفرمائیل ما اووې چه رسول الله ﷺ به د صحت په حالت کښې څه فرمائیل هغه رشتیا وو. د عائشې ﷞ بیان دې چه د رسول الله ﷺ د خولې مبارکې نه چه آخرى کوم الفاظ اووتل هغه هم دا وو ﴿اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى﴾.

د ماقبل سره مناسبت : د دې حدیث پوره تفصیل په کشف البارى، کتاب المغازى کښې تیر شوې دې (١) د مخکښې سره ئې مناسبت بیانولو باندې حافظ ابن حجر ﷫ لیکی:

﴿وتعلقه بما قبله من جهة ان فيه إشارة إلى حديث عائشة انه كان إذا اشتكى نفث على نفسه بالمعوذات وقضية سياقها هنا انه لم يتعوذ في مرض موته بذلك بل تقدم في الوفاة النبوية من طريق بن أبي مليكة عن عائشة فذهبت اعوذه فرفع رأسه إلى السماء وقال في الرفيق الأعلى﴾ (٢)

یعنی : ماقبل سره ئې مناسبت داسې دې چه په دې کښې د عائشې د حدیث طرف ته اشاره ده. چه په هغې کښې دی چه رسول الله ﷺ ته چه به څه تکلیف وو نو هغوی به معوذات لوستلو سره په هغې باندې ځان دم کولو. دلته د دې ترجمة الباب د راوړلو وجه دا ده چه رسول الله ﷺ په مرض الموت کښې معوذات نه دی لوستلی. بلکه عائشه ﷞ فرمائی چه زه رسول الله ﷺ ته لاړم او ما معوذات اولوستل نو رسول الله ﷺ د آسمان طرف ته سر اوچت کړو او د ﴿فى الرفيق الاعلى﴾ الفاظ ئې اوفرمائیل.

---

(١) اوګورئ : کشف البارى، کتاب المغازى صفحة : ٢٨٨، ایضا صفحة : ٦٧٨
(٢) فتح البارى : ١١/١٧٩

۲۹: باب الدُّعَاءِ بِالْمَوْتِ وَالْحَيَاةِ

[۵۹۸۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ أَتَيْتُ خَبَّابًا وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعًا قَالَ لَوْلَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَهَانَا أَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهِ.
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسٌ قَالَ أَتَيْتُ خَبَّابًا وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعًا فِي بَطْنِهِ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لَوْلَا أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَهَانَا أَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهِ. [ر: ۵۳۴۸]

د قيس رحمه الله نه روايت دي چه زه سيدنا خباب رضي الله عنه ته راغلم. هغوی (په خيټه) اووه داغونه لګولي وو. هغوی اووې چه که رسول الله ﷺ مونږ د مرګ د دعا کولو نه نهٔ وو منع کړې نو ما به ئې دعا کړې وې.

[۵۹۹۰] حَدَّثَنَا ابْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ، فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ مُتَمَنِّيًا لِلْمَوْتِ فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي». [ر: ۵۳۴۷]

د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په تاسو کښې دې يو سړې په راتلونکې تکليف باندې د مرګ دعا نه کوی. او که ضرور د مرګ غوښتنه کوی نو داسې دې اوائی چه اې الله ! ما ژوندې اوساته ترڅو پورې چه ژوند زما دپاره غوره وی او ما وفات کړه چه کله مرګ زما دپاره غوره وی

د ترجمة الباب مقصد په شارحينو کښې علامه عينی او قسطلانی د دې باب دا مقصد بيان کړې دې چه کله ژوند د چا دپاره د شر باعث وی نو د هغه د ژوند او مرګ دپاره دعا کول مکروه دی يعنی هغه دې د خپل ځان دپاره د ژوند دعا اوکړی چه د هغه ژوند د خير نه د شر دې او نه دې مرګ غواړی. ځکه چه د مرګ د دعا غوښتلو نه منع کړې شوې ده [۱] سړې د مرګ غوښتنه يا دعا کولې شی يا نه. د دې تفصيل هم د دې حديث د لاندې په کشف البارې کتاب المرضی کښې تير شوې دې [۲]

۳۰: باب الدُّعَاءِ لِلصِّبْيَانِ بِالْبَرَكَةِ وَمَسْحِ رُءُوسِهِمْ

وَقَالَ أَبُو مُوسَى وُلِدَ لِي غُلَامٌ، وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِالْبَرَكَةِ. [ر: ۵۱۵۰]

---

[۱] عمدة القاری : ۳۰۵/۲۲، ۳۰۶، ارشاد الساری: ۳۵۲/۳
[۲] کشف الباری، کتاب المرضی، باب : نهی تمنی المريض الموت، ص : ۵۱۱، ۵۱۹

د یتیم په سر باندې د لاس راښکلو فضیلت: د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه رسول الله ﷺ به د ماشومانو په سرباندې د مهربانئ لاس راښکلو او دهغوی دپاره به ئې د برکت دعا فرمائیله.
امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې د سیدنا ابو اسامة رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې چه په هغې کښې د یتیم ماشوم په سر باندې په شفقت سره د لاس راښکلو فضیلت بیان کړې شوې دې: ﴿مَنْ مَسَحَ رَأْسَ يَتِيمٍ أَوْ يَتِيمَةٍ لَمْ يَمْسَحْهُ إِلَّا لِلَّهِ كَانَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مَرَّتْ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ﴾ [1]
یعنې چاچه د یو یتیم په سر باندې خالص د الله پاک د رضا دپاره د شفقت لاس راښکلو. نو د سرپه څومره ویښتو چه ئې لاس راښکلو. د هرویښته په عوض به هغه ته یو نیکی ملاویږی. خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې روایت سند ضعیف دې [2]
امام احمد رحمه الله یو بل روایت په حسن سند سره نقل کړې دې. په هغې کښې دی چه یو سړی رسول الله ﷺ ته د خپل زړه د سخت والی او قسوة شکایت اوکړو. رسول الله ﷺ د علاج په طور هغه ته اوفرمائیل: ﴿فَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ، وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ﴾ [3] (په مسکین باندې ډوډئ خوره او د یتیم په سر باندې د شفقت لاس راکاږه)
د باطنی بیماریانو د علاج یو اوصول: د دې نه علماء کرامو دا اصول مستنبط کړې دې چه بعض باطنی بیماریانې. په ظاهر کښې غیر اختیاری وی. خو بعض اختیاری امور اختیارولو سره هغه بیماریانې ختمې شی مثلاً څه خلقوته د حسد بیماری وی او په ظاهره کښې هغوی ته په دې کښې اختیار او دخل نه وی. صوفیاء لیکلې دی چه د دې علاج دا دې چه حاسد دې د محسود تعریف کوی او دهغه دپاره دې دعا کوی نو حسد به ئې ختم شی. اګر چه حسد غیر اختیاری طریقې سره راځی خو تعریف او دعا اختیاری عمل دې او د دې په برکت سره دا بیماری ختمیږی هم دغه شان د زړه سخت والې او قسوة غیر اختیاری دې. خو د یتیم په سر باندې په شفقت سره د لاس راښکلو په اختیاری عمل سره دا بیماری ختمیږی [4]
قوله: ﴿وَقَالَ أَبُو مُوسَى وُلِدَ لِي غُلاَمٌ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِالْبَرَكَةِ﴾: دا تعلیق په کتاب العقیقة کښې موصولاً ذکر شوې دې. هلته دا الفاظ دی: ﴿وُلِدَ لِي غُلاَمٌ فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَسَمَّاهُ إِبْرَاهِيمَ فَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ﴾ [5]

---

[1] مسند احمد ۵/۲۵۰، ۲۶۵ (قال شعيب الارنؤوط : اسناده ضعيف جدا فيه علي بن يزيد الهاني الدمشقي)
[2] فتح الباري ۱۱/۱۵۱
[3] مسند احمد ۲/۲۶۳ (قلت: ضعفه شعيب الارنؤوط لجهالة الراوي عن ابي هريرة ولانقطاعه بين ابي عمران وبين ابي هريرة في سند اخر وحسنه الالباني في كتبه ولكن قوله مبني على التكلف. والله اعلم)
[4] اتحاف السادة، كتاب ذم الغضب والحقد والحسد : ۹/۵۲۶
[5] صحيح البخاري، كتاب العقيقة، باب تسمية المولود غداة يولد، لمن لم يعتق عنه، وتحنيكه : ۵/۲۰۸۱، رقم الحديث ۵۴۶۷

یعنی زما یو ماشوم پیدا شو نو ما هغه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر کړو. رسول اللهﷺ د هغه نوم ابراهیم کیخودلو او په کهجورې سره ئې د هغه تحنیک اوکړو او د برکت دعا ئې ورته اوکړه.

[۵۹۹۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنِ الْجَعْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ. فَمَسَحَ رَأْسِي، وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ، ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ، فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِهِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ. [ر: ۱۸۷]

د سیدنا سائب بن یزید رضی الله عنه نه روایت دې چه زما ترور زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر کړم او عرض ئې اوکړو یا رسول اللهﷺ! زما دا خورئې بیمار دې. رسول اللهﷺ زما په سر باندې لاس راښکلو او زما دپاره ئې د برکت دعا اوکړه. بیا ئې اودس اوفرمائیلو نو ما د هغوی د اودس نه باقی پاتې شوې اوبه اوڅکلې. بیا زه د هغوی نه شاته اودریدم نو ما د هغوی په دواړو اوږو کښې مهر نبوت اولیدو کوم چه د ناوې د ډولۍ د تنړې په شان وو.

د سیدنا سائب بن یزید رضی الله عنه په سر باندې رسول اللهﷺ د شفقت لاس راښکلو. دوی په حجة الوداع کښې شریک شوې دی. هغه وخت د هغوی عمر صرف اووۀ کاله وو او په مدینه منوره کښې د ټولو نه آخری وفات کیدونکې صحابی هم دا دې. د هغوی وفات په ۸۲ هجری کښې اوشو.(۱)

[۵۹۹۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ عَنْ أَبِي عَقِيلٍ أَنَّهُ كَانَ يَخْرُجُ بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ هِشَامٍ مِنَ السُّوقِ أَوْ إِلَى السُّوقِ فَيَشْتَرِي الطَّعَامَ، فَيَلْقَاهُ ابْنُ الزُّبَيْرِ وَابْنُ عُمَرَ فَيَقُولاَنِ أَشْرِكْنَا فَإِنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَدْ دَعَا لَكَ بِالْبَرَكَةِ. فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِيَ، فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ. [ر: ۲۳۲۸]

د ابو عقیل نه روایت دې چه زه به خپل نیکۀ عبدالله بن هشام رضی الله عنه د بازار نه یا بازار ته بوتلم. او د هغه ځائې نه به مو غله اخستله، هغوی سره به ابن زبیر او ابن عمر رضی الله عنهما ملاویدل نو هغوی به اووئیل چه مونږ هم شریک کړئ. ځکه چه رسول اللهﷺ ستا دپاره د برکت دعا فرمائیلې ده. «دوی به هغوی شریک کړل» اکثر به داسې کیدل چه په ګټه کښې به هغوی پوره یو اوښ واخستلو او هغه به ئې کور ته اولیږلو.

په سند کښې د ابن وهب نوم عبدالله دې او د ابو عقیل «د عین په زبر او د قاف په زیر سره» نوم زهره بن معبد بن عبدالله بن هشام دی. عبدالله بن هشام رضی الله عنه د هغوی نیکۀ دې د چا دپاره چه رسول اللهﷺ د برکت دعا فرمائیلې وه، دوی چه به کله بازار ته د اخستلو خرڅولو

(۱) قال ابو نعيم : مات سنة اثنين وثمانين. وقيل بعد التسعين. وقيل سنة احدى. وقيل سنة اربعة. وقال ابن ابي داؤد : هو اخر من مات بالمدينة من الصحابة. ووهم يعقوب بن سفيان فذكره فيمن قتل يوم الحرة. (الاصابة : ۲. الترجمة : ۳۰۷۷)

دپاره اوتل او هغوی سره به د عبدالله بن زبیر او سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهم ملاقات کیدلو نو هغوی ته به ئې درخواست کولو چه په سودا کښې مونږ هم خان سره شریک کړئ. ځکه چه رسول الله ﷺ ستاسو دپاره د برکت دعا فرمائیلې ده. هغه به دوی خان سره شریک کړل. فرمائی چه ډیر کرته به هغوی ته د پوره یو اوښ منافع حاصل شوه او هغه به ئې کور ته اولیږلو. دا به د رسول الله ﷺ د دعا ثمره وه.

قوله: ﴿مِنَ السُّوقِ، أَوْإِلَى السُّوقِ﴾: د راوی شک دې چه ﴿من﴾ ئې وئیلې دې او که ﴿الى﴾ لفظ ئې استعمال کړې دې. که من وی نو معنی به دا وی چه ﴿من جهة دخول السوق﴾ یعنی بازار ته په داخلې جهت سره ئې زه بازار ته بوتلم. خو په باب الشرکة کښې ﴿الى﴾ بغیر د شک نه په جزم سره راغلې دې. (١)

قوله: ﴿فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ بِتَمَامِهَا﴾: یعنی ډیر کرته به ابن هشام ته په ګټه کښې پوره یو اوښ ملاؤ شو. ﴿بتمامها﴾ یعنی ﴿بکمالها﴾ دا به د رسول الله ﷺ د دعا د برکت ثمرة وه

[۵۹۹۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ وَهُوَ الَّذِي مَجَّ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي وَجْهِهِ وَهُوَ غُلاَمٌ مِنْ بِئْرِهِمْ. [ر: ۷۷]

د ابن شهاب رحمه الله نه روایت دې چه ماته محمود بن ربیع رضی الله عنه بیان اوکړو دا هم هغه دې چه د هغوی د وړوکوالی په زمانه کښې د هغوی د کوهی نه اوبه اخستلو سره رسول الله ﷺ د هغوی په مخ باندې د خولې مبارکې نه اوبه اچولې وې.

دا روایت په کتاب العلم کښې تیر شوې دې. علامه قسطلانی رحمه الله لیکی

﴿وكان فعله لذلك - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - للتبريك على عادته الشريفة مع أولاد أصحابه والدعابة معهم لطفًا ورحمة وتشريفًا﴾ (٢)

یعنی: د رسول الله ﷺ په طور د تبرک د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د اولاد سره دا معمول وو. د ماشومانو سره به رسول الله ﷺ مزاخ کولو، دا د شفقت د وجې نه هم د هغوی عادت وو او شرعی تعلیم هم په دې کښې مقصد وو.

[۵۹۹۴] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيَدْعُو لَهُمْ، فَأُتِيَ بِصَبِيٍّ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَأَتْبَعَهُ إِيَّاهُ، وَلَمْ يَغْسِلْهُ. [ر: ۲۲۰]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ته به ماشومان راوستلې شو، اورسول الله ﷺ

---

(١) صحیح البخاری، کتاب الشرکة، باب الشرکة فی الطعام، وغیره، رقم الحدیث: ۲۵۰۲

(٢) ارشاد الساری ۳۵٤/۱۳

به د هغوى دپاره دعا فرمائيله. پس يو ماشوم راوستلې شو. نو هغه د رسول الله ﷺ په کپړه باندې متيازې اوکړې. رسول الله ﷺ اوبه راغوښتلو سره په هغې باندې اوبهيولې او هغه ئې او نه وينځلو
په سند کښې د عبدان نه عبدالله بن عثمان بن جبله او د عبدالله نه عبدالله بن المبارک رحمه الله مراد دې. په روايت کښې چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د کوم ماشوم د راوستلو ذکر دې. د هغه نه حسن يا حسين رضي الله عنهما مراد دى، کمافى الاوسط للطبرانى.(۱)

قوله: ﴿فَأَتْبَعَهُ إِيَّاهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ﴾: يعنى ماشوم چه د رسول الله ﷺ په جامو باندې کومې متيازې کړې وې. په هغې باندې رسول الله ﷺ اوبه چهرکاؤ کړې. اوبه ئې پرې اوبهيولې او هغه ئې باقاعده او نه وينځلې.

[۵۹۹۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ ثَعْلَبَةَ بْنِ صُعَيْرٍ - وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ مَسَحَ عَنْهُ - أَنَّهُ رَأَى سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يُوتِرُ بِرَكْعَةٍ.

امام زهرى رحمه الله بيان فرمائى چه ماته عبدالله بن ثعلبة رضي الله عنه د چا په سر چه رسول الله ﷺ لاس راښکلې وو. بيان اوکړو چه هغوى سيدنا سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه په يو رکعت وتر کولو باندې اوليدو
د امام بخارى رحمه الله د استاذ ابو اليمان نوم حکم بن نافع دې. دلته په روايت کښې دى چه رسول الله ﷺ د عبدالله بن ثعلبة بن صعير رضي الله عنه په سترګه باندنې لاس راښکلو. امام بخارى رحمه الله په کتاب المغازى کښې په باب غزوة الفتح کښې معلقاً دا روايت نقل کړې دې. په هغې کښې ﴿مسح عينه﴾ په ځائې ﴿مسح وجهه﴾ الفاظ دى.(۲)
د عبدالله بن ثعلبه رضي الله عنه پيدائش د هجرت نه څلور کاله مخکښې شوې دې او په ۸۹ هجرى کښې هغوى وفات شوې دى. هغه وخت د هغوى عمر ۹۳ کاله وو.
او په يو روايت کښې دى چه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت د هغوى عمر څلور کاله وو او د هغوى ولادت د هجرت نه پس شوې دې.(۳)
د هغوى والد صاحب ثعلبة بن صعير رضي الله عنه هم صحابى دې ويقال له ابن ابى صعير ايضا.(۴)

---

(۱) مجمع الزوائد ۶۳۱/۱، ۶۳۲، رقم الحديث : ۱۵۶۸، ۱۵۷۰، ۱۴۷۱، ۱۵۷۲، ۱۵۷۴، وورد اسم الحسن جزما فى الحديث رقم : ۱۵۷، واسم الحسين فى الحديث رقم : ۱۵۷۱، ۱۵۷۲، واما فى الحديث رقم ۱۵۶۸، ۱۵۷۴، ورد اسم الحسن والحسين بكلمة او يشعر بها التردد، والله اعلم.
(۲) صحيح البخارى، كتاب المغازى، رقم الباب : ۵۴، رقم الحديث : ۴۳۰۰
(۳) الاستيعاب على هامش الاصابة ۲۷۱/۲
(۴) لسان العرب ۴۶۴/۱۴، ۴۶۵

۳۱: باب الصّلاةِ عَلَی النَّبِی صلی الله علیه وسلم

د صلاة لغوی او اصطلاحی معنی: صلاة یعنی د درود شریف متعلق څو خبرې په ذهن کښې اوساتئ: ① صلاة په لغت کښې دعا. رحمت. استغفار. مغفرت او د مدح او ثناء په معنی کښې استعمالیږی. [۱] او د نسبتونو په فرق سره د دې معنی بدلیږی. چه د الله پاک طرف ته د دې نسبت وی نو د دې معنی د الله پاک طرف ته د خپل رحمت او نزول او افاضة وی. د ملائکو طرف ته چه نسبت وی نو د استغفار په معنی راځی. که د بندګانو طرف ته وی نو د دې معنی د رحمت دعا ده. [۲]

بعض د دې برعکس وئیلې دی چه د ملائکو طرف ته د نسبت په صورت کښې دعاء رحمت او د عباد طرف ته د نسبت په صورت کښې د دې معنی استغفار ده.

امام بخاری رحمه الله د سورة احزاب په تفسیر کښې د ابو العالیه قول نقل کړې دې

﴿صَلَاةُ اللهِ ثَنَاؤُهُ عَلَيْهِ عِنْدَ الْمَلَائِكَةِ وَصَلَاةُ الْمَلَائِكَةِ الدُّعَاءُ﴾ [۳]

یعنی: د الله پاک خپل نبی باندې د درود لیږلو معنی د الله پاک خپلو ملائکو سره د د خپل نبی ذکر خیر او تعریف کول دی او د ملائکو په هغوی باندې د درود لیږلو مطلب د هغوی د پاره دعا کول دی.

علامه زبیدی رحمه الله د احیاء العلوم په شرح اتحاف سادة المتقین کښې لیکی:

﴿معنی الصلاة العطف، وهو بالنسبة الی الله تعالی اما ثناؤه علی العبد عند الملائكة، وهذا هو الاليق فی تفسير صلاة الله علی انبيائه، واما كمال الرحمة، وبالنسبة الی غيره تعالی الدعاء بخير﴾ [۴]

یعنی: د صلاة اصل معنی خو عطف یعنی د میلان او مهربانئ دې. چه د الله پاک طرف ته نسبت وی نو د دې مطلب یا خو د الله پاک د خپلو ملائکو په نزد د خپل نبی تعریف او ثناء کول دی. د ﴿صلاة الله علی انبيائه﴾ هم دا تفسیر زیات مناسب دې او یا د دې معنی د کمال رحمت ده او که د غیر الله طرف ته د دې نسبت وی نو د دې معنی د دعا راځی

حقیقت دا دې چه د غیر الله طرف ته چه کله د دې نسبت وی نو د صلاة اصل معنی دعا راځی. د مغفرت دعا کول. د مخصوص رحمت دعا کول او د الله پاک طرف ته که منسوب وی نو مطلب به دا وی چه الله پاک د خپل نبی ذکر په تعظیم او اکرام سره د ملائکو مخکښې کوی او د خپلو نعمتونو او مهربانو په هغوی باندې باران کوی. [۵]

---

[۱] لسان العرب: ۱۴/۴۶۴-۴۶۵

[۲] الصواب ان الصلاة لغة بمعنی واحد وهو العطف. ثم هو بالنسبة اليه تعالی: الرحمة والی الملائكة عليهم السلام الاستغفار والی الادمين الدعاء. روح المعانی: ۱۲/۷۶، ۷۷

[۳] صحيح البخاری، كتاب التفسير، سورة الاحزاب، باب قوله: ﴿ان الله وملائكته يصلون علی النبی﴾

[۴] اتحاف السادة، كتاب الاذكار والدعوات، الباب الثانی: ۵/۲۶۹

[۵] فتح الباری: ۱۱/۱۵۵، ۱۵۶

په قرآن کریم کښې رسول الله ﷺ ته خطاب دې ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ ﴾ دلته صلاة په معنی د دعا ده. لکه چه وړاندې راغې [1]

د درود شریف حکم: ② دویمه خبره د درود شریف د حکم متعلق ده.

د جمهور علماء کرامو دا مسلک دې چه په ژوند کښې یو کرت په رسول الله ﷺ باندې درود لیږل فرض دی لکه چه کلمه توحید یو کرت نوستل فرض دی. علامه سخاوی په القول البدیع کښې او علامه ابن عبدالبر په الاستذکار کښې د دې تصریح فرمائیلې ده [2]، امام ابوبکر جصاص او ملا علی قاری رحمهما الله هم د دې صراحت فرمائیلې دې. [3] حاصل دا دې چه په پوره عمر کښې یو کرت درود لوستل فرض دی، ځکه چه قرآن کریم د ﴿ صلوا ﴾ په لفظ سره د درود وئیلو حکم کړې دې، دا حکم په شعبان ۲ هجری کښې نازل شو او د اصول فقه قاعده ده چه امر د تکرار تقاضه نه کوی. [4] خو د رسول الله ﷺ تذکره چه کله هم راشی نو په هغوی باندې درود وئیل واجب او مستحب دی. [5]

په دې کښې لږ شان اختلاف دې، د جمهور علماء کرامو په نزد چه د رسول الله ﷺ ذکر په مجلس کښې اول کرت راشی نو درود وئیل واجب دی او د هغې نه پس بیا مستحب دې. علامه شامی رحمه الله دې ته مفتی به وئیلې دی. [6]

خو امام طحاوی رحمه الله او د بعض شافعی علماء کرامو په نزد چه د رسول الله ﷺ ذکر په مجلس کښې هر څو کرته راشی درود وئیل واجب دی. [7] امام قرطبی رحمه الله او علامه زمخشری هم دې ته محتاط قول وئیلې دې [8]

د درود شریف فضائل او برکات: ③ دریمه خبره د درود شریف د فضیلت، اهمت او فوائدو په باره کښې ده:

امام بیهقی رحمه الله د عامر بن ربیعه روایت نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا ﴾ [9] یعنی: چا چه په ما باندې یو کرت درود اولوستلو نو الله پاک د هغې په بدل کښې په هغه باندې لس رحمتونه نازل اوفرمائی.

---

[1]) احکام القرآن للجصاص ۲۲۷/۳

[2]) الاستذکار، لابن عبدالبر: ۳۰۸/۲، کتاب قصر الصلاة فی السفر.

[3]) احکام القرآن للجصاص ۵۴٤/۳، ومرقاة لملا علی قاری، کتاب الصلاة ۳۲۷/۲

[4]) کشف الاسرار للبزدوی ۱۲۳/۱، باب موجب الامر.

[5]) احکام القرآن للقرطبی: ۲۳۳/۱٤

[6]) رد المختار ۳۸۱/۱، ۳۸۲، کتاب الصلاة، باب صفة الصلاة

[7]) فتح الباری، ۱۵۳/۱۱، هم دغه شان اوګورئ: جلاء الافهام فی الصلاة والسلام علی خیر الانام: ۲۱٤، (لابن القیم رحمه الله)

[8]) تفسیر القرطبی ۱۵۰/۱٤، کشاف للزمخشری ۵۵۸/۳

[9]) شعب الایمان، رقم الحدیث: ۱۵۵۷، ۱۵۵۸

امام ابوداؤد الطیالسی رحمه الله د عامر بن ربیعه رضی الله عنه او امام احمد رحمه الله د سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه روایت نقل کړې دې:

﴿مَامِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي عَلَيَّ إِلَّا صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ مَا دَامَ يُصَلِّي عَلَيَّ فَلْيُقِلَّ الْعَبْدُ، أَوْلِيُكْثِرْ﴾ (۱)

یعنی کوم سړي چه په ما باندې درود لیږی نو ملائک د هغه دپاره تر هغه وخته پورې استغفار کوی چه ترڅو پورې هغه په ما باندې درود لولی. پس د بنده مرضی ده که کم درود لولی او که زیات لولی.

د درود شریف ډیر برکتونه او فوائد دی. په کثرت درود سره د رسول الله ﷺ شفاعت نصیب کیږی. دا د جنت او نجات ذریعه ده. پس طبرانی په معجم کبیر کښې د سیدنا رویفع بن ثابت رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې:

﴿مَنْ قَالَ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي﴾ (۲)

یعنی: څوک چه دا درود اولولی: ﴿اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ (اې الله په محمد ﷺ باندې رحمت نازل کړه او د قیامت په ورځ هغه خپل مقرب مقام ته داخل کړه) نو د هغه دپاره زما شفاعت واجب شو.

په یو بل روایت کښې دی:

﴿من صلى علي في يوم ألف مرة لم يمت حتى يرى مقعده من الجنة﴾ (۳)

یعنی څوک په ورځ کښې په ما باندې زر کرته درود اولولی. نو په هغه باندې به تر هغه وخته پورې مرګ نه راځی ترڅو چه هغه په جنت کښې خپله استوګنه او نه وینی. یعنی د مرګ نه به مخکښې هغه په جنت کښې خپل مسکن وینی.

کثرت د درود. فقر او فاقه هم ختموی، ابونعیم د سیدنا جابر بن سمرة رضی الله عنه روایت نقل کړې دې: ﴿كثرة الذكر والصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم تنفي الفقر﴾ (۴)

یعنی: ذکر او په رسول الله ﷺ باندې د درود کثرت فقر او فاقه ختموی.

او د سیدنا جابر رضی الله عنه په یو روایت کښې دی:

---

(۱) رواه ابوداؤد الطيالسي عن عامر بن ربيعة في مسنده البدري : ۶۳۹/۱، رقم الحديث : ۱۲۳۸، ورواه احمد في مسنده نحوه ولفظه : من صلى على رسول الله صلى الله عليه و سلم صلاة صلى الله عليه وملائكته سبعين صلاة فليقل عبد من ذلک أو ليكثر : ۶۱۷/۲، رقم الحديث : ۶۶۰۵ (قلت هذا اسناد ضعيف واما اشار اليه صاحب الكشف فهو هكذا عند احمد : ما صلى على أحد صلاة إلا صلت عليه الملائكة ما دام يصلى على فليقل عبد من ذلک أو ليكثر. اسناده حسن ۴۴۶/۳)

(۲) المعجم الكبير، للطبراني، رقم الحديث : ۴۴۸۰ (قلت : إسناده ضعيف لضعف ابن لهيعة)

(۳) الترغيب والترهيب للمنذرى ۵۰۱/۲ (قلت : هذا حديث منكر)

(۴) اتحاف السادة، كتاب الاذكار والدعوات، الباب الثانى : ۲۷۵/۵ (اخرجه ابونعيم فى معرفة الصحابة ۱۴۱۳/۳ عن جابر بن سمرة عن ابيه السوائى)

﴿ من صلى على مائة صلاة حين يصلي الصبح قبل ان يتكلم، قضى الله له مائة حاجة، عجل منها ثلاثين حاجة، واخر له سبعين ﴾ (۱)

یعنی کوم سړی چه د سحر د مانځه په وخت د خبرو کولو نه مخکښې په ما باندې سل کرته درود اوائی نو الله پاک د هغه سل ضرورتونه پوره کوی. د هغې نه دیرش خو په دې دنیا کښې او اویا به په آخرت کښې پوره کوی.

علامه سخاوی رحمه الله د سیدنا انس رضی الله عنه روایت نقل کړې دې. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی ﴿ اذا نسيتم شيئا، فصلوا على، تذكروه انشاء الله ﴾ (۲) یعنی که ستاسو نه یو څیز هیر شینو په ما باندې درود اولولئ. تاسو ته به راياد شی انشاء الله.

او په یو روایت کښې دی:

﴿ من خاف على نفسه النسيان فليكثر الصلاة على النبي صلى الله تعالى عليه وسلم ﴾ (۳)

یعنی د چا چه په ځان باندې د هیرې ویره وی نو هغه دې په نبی علیه السلام باندې په کثرت سره درود لولی.

د درود شریف لیکلو فضیلت: د درود شریف لیکلو ډیر فضیلت دې. امام طبرانی رحمه الله د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:

﴿ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ فِي كِتَابٍ لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَسْتَغْفِرُ لَهُ مَا دَامَ اسْمِي فِي ذٰلِكَ الْكِتَابِ ﴾

یعنی څوک چه په څه کتاب کښې په ما باندې درود لیکی نو ملائک د هغه دپاره تر هغه وخته پورې دعا کوی. ترڅو پورې چه زما نوم په هغه کتاب کښې موجود وی (۴)

د جمعې په ورځ د درود فضیلت: د درود شریف په کثرت سره اهتمام خو هر مسلمان هر وخت کول پکار دی، خو د جمعې په ورځ په خاص طور سره د دې اهتمام وی. د سیدنا اسامة رضی الله عنه روایت دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: ﴿ أَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ فَإِنَّ صَلَاةَ أُمَّتِي تُعْرَضُ عَلَيَّ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ، فَمَنْ كَانَ أَكْثَرَهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً كَانَ أَقْرَبَهُمْ مِنِّي مَنْزِلَةً ﴾ (۵)

---

(۱) اتحاف السادة، كتاب الاذكار والدعوات، الباب الثانی : ۲۷۵/۵

(۲) القول البديع في الصلاة على الحبيب الشفيع، ص : ٤٢٧

(۳) قال السخاوی رحمه الله : اخرجه ابن بشكوال بسند منقطع، القول البديع فی الصلاة على الحبيب الشفيع، ص : ٤٢٧

(۴) اتحاف السادة، كتاب الاذكار والدعوات، الباب الثانی : ۲۷۲/۵، قال الزبيدی بعد نقل هذا الحديث من الاحياء : قال العراقی : رواه الطبرانی فی الاوسط، وابو الشيخ فی الثواب والمستغفری فی الدعوات من حديث ابی هريرة بسند ضعيف اهـ قلت : ورواه ايضا ابو القاسم التميمی فی الترغيب والترهيب والخطيب فی شرف اصحاب الحديث وابن بشكوال بسند ضعيف، اورده ابن الجوزی فی الموضوعات وقال ابن كثير : انه لا يصح انتهى.

(۵) السنن الكبرى للبيهقی : كتاب الجمعة : باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ وَيَوْمِهَا...[بقيه بر صفحه آئنده...

یعنی د هرې جمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ. ځکه چه زما د امت درود هره جمعه په ما باندې پیش کولې شي. پس کوم سړې چه په ما باندې زیات درود لوستونکې وی نو د مرتبې په لحاظ به هغه ماته هم هغه هومره نزدې وی.
هم دغه شان د حدیث طالبانو لره هم خاص طور سره د درود شریف کثرت کول پکار دی. ځکه چه داحادیثو تعلق براه راست د رسول الله ﷺ د ذات بابرکت سره دې نو په کثرت درود سره احادیث لوستلو باندې درسول الله ﷺ عقیدت، محبت، اوروحانیت محسوس کیږی.

د ترجمة الباب وضاحت امام بخاری رحمه الله چه کوم ترجمة الباب قائم کړې دې. **باب الصلاة علی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم**، حافظ ابن حجر رحمه الله د دې متعلق لیکی:

(هذا الإطلاق یحتمل حکمها وفضلها وصفتها ومحلها والاقتصار علی ما أورده فی الباب یدل علی إرادة الثالث وقد یؤخذ منه الثانی) (۱)

یعنی: ترجمة الباب مطلق دې او په دې کښې د څلورو امورو د بیان احتمال دې. د درود شریف حکم. د هغې فضیلت. طریقه او کیفیت او د هغې د لوستلو محل او مقام خو په باب کښې په مذکوره احادیثو باندې اکتفاء کول په دې خبره باندې دلالت کوی چه مقصود امر ثالث یعنی د درود شریف طریقې او کیفیت لره بیانول دی. او د امر ثانی یعنی د درود شریف د حکم بیان هم مقصود کیدلې شي.
خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د حدیث الباب د وجې نه ترجمة الباب مطلق پاتې نه شو، په دې سره کیفیت الصلاة بیانول مقصود دی پس هغوی لیکی:

(حدیثا الباب یفیدان هذا الإطلاق لأنهما ینبئان عن الکیفیة والمطابقة بین الترجمة والحدیث مطلوبة ولا تجیء المطابقة إلا بما قلنا هذا باب فی بیان کیفیة الصلاة)

یعنی: ترجمة الباب اګر چه په ظاهره کښې مطلق دې. خو په باب کښې ذکر شوې دواړه احادیثو نه معلومیږی چه دا مقید دی. ځکه چه دواړه احادیث د درود شریف کیفیت بیانوی. د ترجمة الباب او د حدیث ترمینځه مطابقت مطلوب وی او مطابقت زمونږ د دې قول نه کیدې شي چه **(هذا باب فی بیان کیفیة الصلاة)** (یعنی ترجمة الباب لره مقید منلو سره مطابقت کیدې شي)

[۵۹۹۶] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ فَقَالَ أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً، إِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - خَرَجَ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ «فَقُولُوا

...بقیه ازحاشیه گذشته] منْ كَثْرَةِ الصَّلَاةِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَقِرَاءَةِ سُورَةِ الْكَهْفِ وَغَيْرِهَا. ۳۵۳/۳، رقم الحدیث: ۵۹۹۵

(۱) فتح الباری: ۱۵۲/۱۱

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.[ر ۳۱۹۰]

د عبدالرحمن بن ابی لیلی رحمه الله نه روایت دي هغوی بیان کوی چه ما سره سیدنا کعب بن عجرة رضی الله عنه ملاؤ شو او وې فرمائیل چه آیا زه تاته یو هدیه پیش نه کړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته تشریف راوړلو. نو مونږ عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ څنګه تاسو ته سلام اوکړو؟ او څنګه په تاسو باندې درود اووایو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه تاسو داسې اووایئ

﴿اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ﴾

د آدم نه آدم بن ایاس او د حکم نه حکم بن عتیبه دي. عبدالرحمن بن ابی لیلی رحمه الله په جلیل القدر تابعینو کښې دي. د ابولیلی نوم یسار دي.[1]

قوله: ﴿أَلاَ أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً﴾: یعنی کعب بن عجره رضی الله عنه عبدالرحمن بن ابی لیلی رحمه الله ته اوفرمائیل چه زه تاته یو هدیه درنکړم؟ د شعبه په روایت کښې دی چه هغوی اووې ولې نه؟[2] د هدیه لفظ عموما د اجسام دپاره استعمالیږی. علامه قسطلانی رحمه الله لیکی

﴿وأكثر ما يستعمل في الأجسام.... وقد يستعمل في المعاني كالعلوم والأدعية مجازاً لما يشتركان فيه من قصد الموادة والتواصل في إيصال ذلك إليه﴾

یعنی د هدیه استعمال اکثر په اجسامو کښې کیږی....... خو کله کله مجازا په معانی کښې هم د هدیة لفظ استعمالیږی. لکه علوم او دعاګانې وغیره. وجه دا ده چه په دواړو کښې قدر مشترک دا امر دې چه په دواړو کښې دې لره نورو ته په رسولو کښې خپل مینځ کښې مینه او ملاویدل مقصود وی.

قوله: ﴿إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ عَلَيْنَا﴾: ﴿علينا﴾ ئې د جمع د ضمیر دپاره استعمال فرمائیلې دې. ځکه چه دې وخت کښې نور صحابه کرامو هم موجود وو.

قوله: ﴿قَدْ عَلِمْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ﴾: په دې کښې د سلام نه په تشهد او التحیات کښې سلام مراد دې.[3] کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته په دې الفاظو باندې ښودلې دې: ﴿السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته﴾ یعنی د سلام طریقه خو مونږ زده کړه. خو د قرآن کریم په آیت کریمه کښې د دوه څیزونو حکم ورکړې شوې وو: ﴿صلوا عليه وسلموا تسليما﴾ یو سلام او دویم صلاة، نو د درود لیږلو وصف او طریقه څه ده؟

---

[1] قال المزی فی تهذیب الکمال واسمه یسار، ویقال: بلال، ویقال: داؤد بن بلال بن بلیل.. ۱۷: الترجمة: ۳۹۴۳

[2] فتح الباری: ۱۵۳/۱۱

[3] قال البیهقی: فیه اشارة الی السلام الذی فی التشهد وهو قول: السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته، فیکون المراد بقولهم: فکیف نصلی علیک، ای بعد التشهد. فتح الباری: ۱۵۵/۱۱

رسول اللهﷺ په دې حدیث کښې چه کوم درود شریف ښودلې دې، هغې ته درود ابراهیمي وائی. دلته په روایت کښې ﴿ وعلی آل ابراهیم ﴾ الفاظ نه دی، خو د بخاری په دویم روایت کښې دا الفاظ دی [۱] حافظ لیکی:

﴿ والحق ان ذکر محمد وابراهیم وذکر ال محمد وآل إبراهیم ثابت فی أصل الخبر وإنما حفظ بعض الرواة ما لم یحفظ الاخر ﴾ [۲]

یعنی حق خبره دا ده چه د محمدرسول اللهﷺ ذکر او د سیدنا ابراهیمعلیه السلام ذکر او هم دغه شان د آل محمد او د آل ابراهیم ذکر په اصل حدیث کښې ثابت دې په اصل کښې بعض راویانو ته ټول الفاظ یاد پاتې شو او بعضو ته هغه یاد پاتې نه شو

د ﴿ اللهم صل علی محمد ﴾ ترجمه علامه حلیمیرحمه الله داسې کړې ده:

﴿ والمراد تعظیمه فی الدنیا بإعلاء ذکره وإظهار دینه وابقاء شریعته وفی الآخرة باجزال مثوبته وتشفیعه فی أمته وابداء فضیلته بالمقام المحمود ﴾ [۳]

یعنی ته هغوی ته عظمت ورکړه، په دنیا کښې د هغوی ذکر اوچتولو سره، د هغوی دین لره غلبه ورکلو سره. او د هغوی شریعت لره کامل کولو سره او په آخرت کښې هغوی ته بې حسابه ثواب ورکړه، د امت په حق کښې د هغوی شفاعت قبلولو سره او د مقام محمود په ذریعه د هغوی د فضیلت اظهار کولو سره

قوله: ﴿ انك حمید مجید ﴾: حمید په معنی د محمود دې ستائیلې شوې. مجید. د مجد بزرګئ او لویئ خاوند. دا دواړه د مبالغې صیغې دی

[۵۹۹۷] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ وَالدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ يَزِيدَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا السَّلَامُ عَلَيْكَ، فَكَيْفَ نُصَلِّي قَالَ «قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ». [ر: ۴۵۲۰]

د سیدنا ابوسعید خدریرضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! مونږ تاسو ته سلام خو کول غواړو، خو په تاسو باندې درود څنګه اولیږو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه داسې وایئ: ﴿ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ ﴾

---

[۱] صحیح البخاری، کتاب احادیث الانبیاء، رقم: ۱۰، رقم الحدیث: ۳۳۷
[۲] فتح الباری ۱۱/۱۵۶
[۳] فتح الباری ۱۱/۱۵۶

د ابن ابی حازم نوم عبدالعزیز دی او د ابوحازم نوم سلمة بن دینار دی. د دراوردی نوم هم عبدالعزیز بن محمد دی [1]

۳۲: باب هَلْ يُصَلَّى عَلَى غَيْرِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

وَقَوْلُ اللّٰهِ تَعَالَى ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ﴾ [التوبة: ۱۰۳]

[۵۹۹۸] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ إِذَا أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- بِصَدَقَتِهِ قَالَ «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ». فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى». [ر: ۱۴۲۶]

د سیدنا ابن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دی چه کله به یو سړی رسول الله ﷺ ته صدقه راوړه نو رسول الله ﷺ به اوفرمائیل: ﴿ اللهم صل علیه ﴾ پس زما والد صاحب چه کله هغوی ته راغلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ اللهم صل علی آل ابی اوفی ﴾ یعنی ای الله ! د ابی اوفی په آل باندی رحمت نازل کړه.

[۵۹۹۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ أَنَّهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ « قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ». [ر: ۳۱۸۹]

د سیدنا ابوحمید الساعدی رضی الله عنه نه روایت دی چه خلقو عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! مونږ څنګه په تاسو درود اولیږو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه داسی لیږئ:

﴿ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴾

د سیدنا ابوحمید الساعدی رضی الله عنه نه روایت دی چه خلقو عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! مونږ
څنګه په تاسو باندی درود اولیږو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه داسی وایئ:

﴿ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴾

په غیر نبی باندی د درود لیږلو حکم : د رسول الله ﷺ نه علاوه په انبیاء، ملائکه او عام مومنانو باندی درود لیږلی کیدی شی یا نه؟ په دی کښی اختلاف دی. ﴿ هل ﴾ کلمه د

[1]) ارشاد الساری ۱۳/۲۵۸

استفهام ذکر کولو سره امام بخاري رحمه الله هم د دې اختلاف طرف ته اشاره اوفرمائيله (۱) په دې کښې درې مذاهب مشهور دی:

① اول مذهب دا دې چه د رسول الله ﷺ نه علاوه په نورو انبياء او ملائکو او مومنانو باندې درود مطلقا ليږلې کيدې شی، مستقلا هم او جامعا هم. امام بخاري رحمه الله هم دا مسلک اختيار کړې دې ځکه چه هغوی کوم آيت کريمه او روايات الباب ذکر فرمائيلې دی. په هغې کښې په غير نبی باندې د صلاة حکم او ذکر دې. پس د قرآن کريم په آيت کريمه کښې الله پاک رسول الله ﷺ ته خطاب کولو سره فرمائی ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ ﴾ يعنی د مومنانو دپاره د رحمت دعا کوئ ځکه چه ستاسو دعا د هغوی دپاره د طمانيت او سکون باعث ده. په دې آيت کريمه کښې په مومنانو باندې د صلاة ليږلو حکم راغلې دې معلومه شوه چه په غير نبی باندې درود ليږلې کيدې شی.

په باب کښې چه امام بخاري رحمه الله کوم دوه روايتونه ذکر فرمائيلې دی. په هغې کښې په اول روايت کښې رسول الله ﷺ د ابی اوفی په باره کښې فرمائی اللهم صل علی آل ابی اوفی! چه د هغې نه په غير نبی باندې مستقلا د صلاة ليږلو جواز معلوميږی

او په دويم روايت کښې ﴿ صلاة علی النبی وعلی غير النبی ﴾ دواړو ذکر دې. چه په هغې کښې په غير نبی باندې تبعا د درود ليږلو جواز معلوميږی.

② دويم مسلک دا دې چه په غير نبی باندې مطلقا صلاة ليږل جائز نه دی او تبعا هم مطلقا جائز نه دی. صرف په کومو نصوصو کښې چه تبعا په غير نبی باندې صلاة ليږلې شوې دې. د هغه ماثور نصوص د حده پورې جائز دې. د امام احمد رحمه الله يو قول هم د دې مطابق دې (۲)

③ دريم مسلک د حضرات احنافو او جمهور علماء کرامو دې چه په غير نبی باندې مستقلا درود ليږل خو جائز نه دی. خو تبعا جائز دی (۳) ځکه د درود شريف په ډيرو روايتونو کښې تبعا صلاة علی غير النبی ﷺ راغلې دې.

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه مرفوع حديث دې ﴿ صلوا علی انبياء الله ﴾ (۴) يعنی د الله پاک په انبياء عليهم السلام باندې درود ليږئ، خو د جمهور په نزد دا حکم مستقلا نه دې بلکه تبعا دې ځکه چه ابن ابی شيبة په سند صحيح سره د ابن عباس رضی الله عنهما روايت نقل فرمائيلې دې ﴿ مَا أَعْلَمُ الصَّلَاةَ تَنْبَغِي مِنْ أَحَدٍ عَلَى أَحَدٍ إِلَّا عَلَى النَّبِيِّ صلی الله عليه وسلم ﴾ (۵) يعنی: که د چا په چا باندې درود

---

(۱) عمدة القاری ۳۰۸/۲۲، فتح الباری ۱۶۵/۱۱

(۲) فتح الباری ۱۷۰/۱۱

(۳) فتح الباری ۱۷۰/۱۱

(۴) عمدة القاری ۳۰۹/۲۲، وفتح الباری : ۱۷۰/۱۱

(۵) اخرجه ابن ابی شيبة : ۴۶/۶، رقم الحديث : ۸۸۰۸

نيرل جائز دى نو هغه صرف د رسول الله ﷺ ذات دې. په بل چا باندې د درود ليږلو د جواز ماته علم نشته
او امام بخارى رحمه الله چه كوم استدلال كړې دې، د هغې جواب دا وركړې شوې دې چه دا حكم د الله پاک د رسول ﷺ سره خاص وو چه هغوى د چا دپاره غواړى د هغه دپاره دې صلاة او دعا اوكړى، خو نورو خلقو ته دا اختيار نشته. هم دا وجه ده چه د سيدنا ابن ابى اوفى رضى الله عنه په حق كښې د رسول الله ﷺ نه علاوه بل چا د صلاة لفظ نه دې استعمال كړې. بلكه د صحابى كيدو د وجې نه د ﴿ رضى الله عنه ﴾ جمله د هغوى دپاره استعماليږي. [1]

۲۳: باب قَوْلِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم «مَنْ آذَيْتُهُ فَاجْعَلْهُ لَهُ زَكَاةً وَرَحْمَةً».

[۶۰۰۰] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «اللَّهُمَّ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

د سيدنا ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دې چه هغوى بيان كړې دې چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه كوم ايمان دار ته ما بدې ردې وئيلې وى، نو هغه د قيامت په ورځ د هغه دپاره د قربت ذريعه جوړه كړه.

قوله: ﴿فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ﴾: ﴿فايما﴾ كښې فاء جزائيه ده او شرط دلته محذوف دې، چه په هغې باندې د كلام سياق دلالت كوى، ﴿ان كنت سببت مؤمنا﴾

د رسول الله ﷺ د ارشاد مبارک حاصل دا دې چه په مومنانو كښې چه څوک ما رټلې وى او د طبعى غصې د وجې نه ورته څه بدې ردې وئيلې وى او هغه په حقيقت كښې د هغې مستحق نه وى نو اې الله! نو ته زما دا زورنه او رټنه د هغه دپاره په آخرت كښې باعث تزكيه او باعث اجرو ثواب اوګرځوه. دلته روايت اګر چه مطلق دې چه كوم سړې ته هم ما تكليف وركړې وى، خو مراد ترې نه هر سړې نه دې، بلكه هغه سړې دې كوم چه د رټنې او تنبيه مستحق نه وى. لكه د مسلم په روايت كښې د ﴿ليس لها باهل﴾ قيد راغلې دې.

په صحيح مسلم كښې د سيدنا انس رضى الله عنه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل:

﴿إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ أَرْضَى كَمَا يَرْضَى الْبَشَرُ وَأَغْضَبُ كَمَا يَغْضَبُ الْبَشَرُ فَأَيُّمَا أَحَدٍ دَعَوْتُ عَلَيْهِ مِنْ أُمَّتِي بِدَعْوَةٍ لَيْسَ لَهَا بِأَهْلٍ أَنْ تَجْعَلَهَا لَهُ طَهُورًا وَزَكَاةً وَقُرْبَةً يُقَرِّبُهُ بِهَا مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ [2]

---

[1]) تاريخ بغداد للخطيب البغدادى: ۱۰۵/۸

[2]) صحيح مسلم، كتاب البر والصلة والادب، باب من لعنة النبى صلى الله عليه وسلم او سبه امر دعا عليه، وليس له اهلا لذلک، كان له زكاة واجرا ورحمة، رقم: ۶۶۲۷

او په يو روايت کښې دی ﴿ اللهم انما محمد بشر يغضب كما يغضب البشر ﴾ (اې الله ! محمد ﷺ يو بشر دې او د بشر په شان هغه هم غصه کيږی).
حديث الباب، امام مسلم رحمه الله په کتاب البر والصلة کښې نقل فرمائيلې دې. (١)

په حديث کښې د ﴿ ليس لها باهل ﴾ مطلب دا دې چه په ظاهری حالت کښې خو هغه د تنبيه مستحق وو، خو په حقيقت کښې د هغې مستحق نه وو، د عدم استحقاق يو صورت دا کيدې شی چه هغه بالکليه مستحق نه وو، دويم صورت دا دې چه د استحقاق نه زيات سختی او کړې شوه. په دواړو صورتونو کښې رسول الله ﷺ د هغه د پاره دعا کړې ده. (٢) دا د رسول الله ﷺ په امت باندې د کمال درجې د شفقت کولو دليل دې

۳۴: باب التَّعَوُّذِ مِنَ الْفِتَنِ

[۲۰۰۱] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى أَحْفَوْهُ الْمَسْأَلَةَ فَغَضِبَ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ «لاَ تَسْأَلُونِى الْيَوْمَ عَنْ شَىْءٍ إِلاَّ بَيَّنْتُهُ لَكُمْ». فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ يَمِينًا وَشِمَالاً، فَإِذَا كُلُّ رَجُلٍ لاَفٌّ رَأْسَهُ فِى ثَوْبِهِ يَبْكِى، فَإِذَا رَجُلٌ كَانَ إِذَا لاَحَى الرِّجَالَ يُدْعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَبِى قَالَ «حُذَافَةُ»، ثُمَّ أَنْشَأَ عُمَرُ فَقَالَ رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - رَسُولاً، نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْفِتَنِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَا رَأَيْتُ فِى الْخَيْرِ وَالشَّرِّ كَالْيَوْمِ قَطُّ، إِنَّهُ صُوِّرَتْ لِى الْجَنَّةُ وَالنَّارُ حَتَّى رَأَيْتُهُمَا وَرَاءَ الْحَائِطِ».
وَكَانَ قَتَادَةُ يَذْكُرُ عِنْدَ الْحَدِيثِ هَذِهِ الآيَةَ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ). [۷۲۷۸، وانظر: ۴۳۴۵]

سيدنا انس رضي الله عنه روايت کوی چه خلقو د رسول الله ﷺ نه تپوس کول شروع کړل چه کله خلقو ډير زيات تپوس کول شروع کړل نو رسول الله ﷺ غصه شو او په منبر باندې ختلو سره ئې اوفرمائيل : نن چه تاسو زما نه څه تپوس کوئ زه به هغه ښکاره بيان کړم. د راوی بيان دې چه ما ښی او ګس طرف ته کتل شروع کړل، نو په نظر مې راغلل چه هر سړی په خپله کپړه کښې مخ پټ کړې دې او ژاړی، په هغوی کښې يو سړې داسې هم وو کوم چه به خلقو د جنګ په وخت د پلار نه علاوه بل طرف ته منسوب کولو. پس هغه تپوس اوکړو يا رسول الله ﷺ! زما پلار څوک دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل حذافة! بيا سيدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه : رضينا بالله ربا ... يعنی مونږ د الله پاک د رب کيدو او د اسلام د دين کيدو او د

---

(١) صحيح مسلم، كتاب البر والصلة، باب من لعنه النبى صلى الله عليه وسلم او سبه امر دعا عليه، رقم الحديث ۶۶۲۷

(٢) فتح البارى : ۱۱/۱۷۰

محمد ﷺ د رسول کیدو باندې راضي شو او مونږ د فتنو نه د الله پاک پناه غواړو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ما د نن په شان کله هم خير او شر نه دي ليدلي. زما مخکښې د جنت او جهنم صورت پيش کړې شو. تردې چه ما دواړه د دې ديوال نه شاته اوليدل او قتادة به د دې حديث د بيانولو په وخت دا آيت کريمه هم لوستلو

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾

فتن د فتنې جمع ده. فتنة، ازميښت او امتحان ته وائي.

۳۵: باب التَّعوّذِ مِنْ غَلَبَةِ الرِّجَالِ

[۲۰۰۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لأَبِي طَلْحَةَ «الْتَمِسْ لَنَا غُلاَمًا مِنْ غِلْمَانِكُمْ يَخْدُمُنِي». فَخَرَجَ بِي أَبُو طَلْحَةَ يُرْدِفُنِي وَرَاءَهُ، فَكُنْتُ أَخْدُمُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كُلَّمَا نَزَلَ، فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ». فَلَمْ أَزَلْ أَخْدُمُهُ حَتَّى أَقْبَلْنَا مِنْ خَيْبَرَ، وَأَقْبَلَ بِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَىٍّ قَدْ حَازَهَا، فَكُنْتُ أَرَاهُ يُحَوِّي وَرَاءَهُ بِعَبَاءَةٍ أَوْ كِسَاءٍ ثُمَّ يُرْدِفُهَا وَرَاءَهُ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَدَعَوْتُ رِجَالاً فَأَكَلُوا، وَكَانَ ذَلِكَ بِنَاءَهُ بِهَا، ثُمَّ أَقْبَلَ حَتَّى بَدَا لَهُ أُحُدٌ قَالَ «هَذَا جُبَيْلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ». فَلَمَّا أَشْرَفَ عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ جَبَلَيْهَا مِثْلَ مَا حَرَّمَ بِهِ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ وَصَاعِهِمْ.[ر: ۲۷۳۲]

د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ سيدنا ابوطلحه رضي الله عنه ته اوفرمائيل : د خپلو هلکانو نه يو هلک زما د خدمت دپاره راکړه. پس ابوطلحه رضي الله عنه زه په خان پسې سور کړم او هلته ئې بوتلم پس ما د رسول الله ﷺ خدمت کولو. چه کله به هم هغوی کوزيدل نو ما به اکثر د هغوی نه اوريدل : ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ ﴾ زه برابر د هغوی په خدمت کښې اوم تردې چه کله مونږ د خيبر نه واپس شو نو رسول الله ﷺ خان سره صفيه بنت حيي رضي الله عنها بوتله چه د هغوی منکوحه وه. ما هغوی ته کتل. چه د خپل څادر يا کمبل پرده کولو سره په خپل خان پسې هغه سوره کړه. تردې چه مونږ کله مقام صهبا ته اورسيدلو نو رسول الله ﷺ حيس يارولو سره هغه په دسترخوان باندې کيخودل، بيا ئې زه اوليږلم نو ما خلق راغوبنتل، خلقو خوراک اوکړو. دا د وليمې دعوت وو. بيا د هغه خائې نه مخکښې لاړل تردې چه کله د احد غر په نظر راغلو نو وې فرمائيل : دا هغه غر دې چه مونږ سره مينه کوی او مونږ هغه سره مينه کوو. چه کله مدينې منورې ته اورسيدلو نو وې فرمائيل : يا الله ! زه د دې د

دوارو غرونو ترمینځه زمکه حرم کوم. څنګه چه ابراهیم علیه السلام مکه حرام کړې وه اې الله ! د مدینې خلقو ته د هغوی په مد او د هغوی په صاع کښې برکت ورکړه

قوله: ﴿اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ﴾: رسول الله ﷺ په دې کښې د څو څیزونو نه پناه غوښتلې ده. یو د ﴿الْهَمّ﴾نه. ﴿الْهَمّ﴾غم ته وائی او بعضو وئیلې دی چه ﴿الْهَمّ﴾ داسې غم ته وائی چه د هغې وجه معلومه نه وی او په کوم کښې چه زړه مضطرب او پریشانه وی [1]

﴿الْحَزَن﴾، د حاء او زا په فتحې سره او د حاء په ضمې او د زاء په سکون سره، په معنی د غم دې. په هم او حزن کښې فرق دا دې چه د حزن تعلق د ماضی سره دې یعنی څه واقعه اوشوه. د هغې د وجې نه چه کوم غم لاحق وی. هغې ته حزن وئیلې شی او د هم تعلق د مستقبل سره دې چه د یو څیز د وقوع یا عدم وقوع ویره وی [2]

﴿ضَلَعَ الدَّیْن﴾ د قرض بوجهه. خاص کر چه کله قرض ورکونکې مطالبه کوی او مقروض سره د قرض د ادا کولو دپاره د قرض انتظام نه وی. د هغې د وجې نه چه کوم بوجهه او فکر وی. هغه مراد دې. که د قرض د ادا کولو بندوبست وی نو د داسې قرض نه پناه نه ده غوښتلې شوې. د بعض اسلاف نه منقول دی چه د قرض د ادا کولو انتظام نشته او قرض غوښتونکې مطالبه کوی نو د هغې د وجې نه انسان ته داسې فکر لګیدلې وی کوم عقل او شعور لره لاندې کوی [3]، الله پاک دې ترې زمونږ د ټولو حفاظت اوفرمائی. رسول الله ﷺ د دې نه پناه غوښتلې ده.

﴿غَلَبَة الرِّجَال﴾ د خلقو په غالب راتلو کښې هم پناه غوښتلې شوې ده چه انسان دومره کمزورې او بې وسه شی چه هر سړی ته پرې د غلبې موقع ملاویږی او د هرچا د ظلم د لاندې نه راځی

په دې دعا کښې یو لطیف اشاره دې طرف ته هم ده چه د قرض بوجهه په انسان باندې د کسل او سستئ د وجې نه راځی کوم انسان چه په دنیوی معاملاتو کښې په دیانت دارئ او چستئ سره کار کوی. هغه به د قرض د بوجهه لاندې نه راځی. هم دغه شان جبن یعنی بزدلی او قرض. غلبة الرجال یعنی په سړی باندې د خلقو د غلبې سبب جوړ شی او په داسې حالت کښې انسان د هر یو نه مغلوب اوسیږی.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی: ﴿ هذا الدعاء من جوامع الکلم لان انواع الرذائل ثلاثة : نفسانیة وبدنیة وخارجیة، فالاولی بحسب القوی التی للانسان، وهی ثلاثة : العقلیة والغضبیة والشهوانیة، فالهم والحزن

---

[1] وفی مجمع بحار الانوار ۱۷۰/۵ : الهم : حزن یذیب الانسان فهو اخص من الحزن. وقیل : هو بالآتی. والحزن بالماضی.

[2] ارشاد الساری ۳۶٤/۱۳

[3] فتح الباری : ۱۷٤/۱۱

يتعلق بالعقلية، والجبن بالغضبية، والبخل بالشهوانية، والعجز والكسل بالبدنية والثاني يكون عند سلامة الاعضاء وتمام الالات والعجز والكسل بالبدنية والثاني يكون عند سلامة الاعضاء وتمام الالات والقوى، والاول عند نقصان عضو ونحوه، والضلع والغلبة بالخارجية، فالاول مالي، والثاني جاهي، والدعاء مشتمل على جميع ذلك ﴾[1]

يعنى . دا دعا د رسول الله ﷺ په هغه مبارک کلماتو کښې يوه ده کومې ته چه ﴿ جوامع الكلم﴾ وئيلې شي. کومه چه د مختصر کيدو باوجود په خپل ځان کښې د معانى يو جهان لرى. په حقيقت کښې د رذائل درې قسمونه دى. نفسانيه. بدنيه او خارجيه. بيا نفسانى رذائل د انسانى طاقتونو په اعتبار سره هم په درې قسمونو باندې مشتمل دى، عقليه. غضبيه او شهوانيه. پس د هم او حزن تعلق د قوت عقليه سره دې. د جبن تعلق د قوت غضبيه سره دې او د بخل تعلق قوت شهوانيه دې او د عجز او کسل تعلق بدنيه دې. د عجز په صورت کښې په اندامونو کښې څه نقصان وى او د کسل په صورت کښې اندامونه سالم وى خو چستى ورکيږى او ضلع دين او غلبة الرجال تعلق د قوى خارجيه سره دې. اول د مالى او دويم د جاه او مرتبې سره متعلق دې او ذکر شوې دعا په دې ټولو باندې مشتمل ده.

۳۶: بَاب التَّعَوُّذِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

[۲۰۰۳] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ أُمَّ خَالِدٍ بِنْتَ خَالِدٍ - قَالَ وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا سَمِعَ مِنَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - غَيْرَهَا - قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - يَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. [ر: ۱۳۱۰]

د سيدنا خالد رضي الله عنه نه روايت ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغوى د قبر د عذاب نه پناه غوښتله. موسى بن عقبه وائى چه د ام خالد نه علاوه ما د چا متعلق هم نه دى اوريدلى چه هغه دا حديث د رسول الله ﷺ نه اوريدلى وى.

رسول الله ﷺ د عذاب قبر نه پناه غوښتلې ده، دا حديث په منکرين عذاب قبر باندې حجت دې.[2]

[۲۰۰۴] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ مُصْعَبٍ كَانَ سَعْدٌ يَأْمُرُ بِخَمْسٍ وَيَذْكُرُهُنَّ عَنِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ كَانَ يَأْمُرُ بِهِنَّ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا يَعْنِي فِتْنَةَ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ». [ر: ۲۶۶۷]

---

[1] شرح الكرمانى : ۱۵۹/۲۱

[2] فتح البارى : ۲۱۱/۳

د مصعب نه روایت دې چه سعد رضی الله عنه به د پنځو خبرو نه د پناه غوښتلو حکم کولو او د دې پنځو خبرو متعلق به ئې د رسول الله ﷺ نه روایت کولو چه رسول الله ﷺ به د دې پنځه خبرو نه پناه غوښتله (رسول الله ﷺ به فرمائيل چه)

(اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا يَعْنِي فِتْنَةَ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ).

[۲۰۰۵] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَتْ عَلَيَّ عَجُوزَانِ مِنْ عُجُزِ يَهُودِ الْمَدِينَةِ فَقَالَتَا لِي إِنَّ أَهْلَ الْقُبُورِ يُعَذَّبُونَ فِي قُبُورِهِمْ، فَكَذَّبْتُهُمَا، وَلَمْ أُنْعِمْ أَنْ أُصَدِّقَهُمَا، فَخَرَجَتَا وَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ عَجُوزَيْنِ وَذَكَرْتُ لَهُ، فَقَالَ «صَدَقَتَا، إِنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ الْبَهَائِمُ كُلُّهَا». فَمَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ فِي صَلَاةٍ إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. [ر ۱۲۹۷]

د سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه ماته د مدينې د يهودو دوه بوډۍ زنانه راغلې هغوی دواړو ماته اووې چه قبر والو ته په قبرونو کښې عذاب ورکولې شی نو ما د هغوی تکذيب اوکړو. او ښه مې او نه ګڼړله چه د هغوی تصديق اوکړم پس هغوی دواړه لاړې. بيا ماته رسول الله ﷺ راغلو ما هغوی ته عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! دوه بوډۍ زنانه راغلې وې، او هغوی ته مې ټوله واقعه بيان کړه. رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغوی دواړو صحيح وئيلې دی بيشکه (خلقوته) په قبرونو کښې عذاب ورکولې شی. کوم چه ټول حيوانات اوری پس د دې نه روستو ما هغوی په هر مانځه کښې د عذاب قبر نه په پناه غوښتلو باندې ليدلې دی.

صرف د مستملی په نسخه کښې دلته باب دې. حافظ ابن حجر رحمه الله هغې ته د دوه وجو نه غلط وئيلې دې. يو په دې وجه په اول حديث کښې اګر چه د بخل ذکر دې. خو د درې ابواب نه پس بعينه امام بخاری رحمه الله هم دا باب قائم کړې دې. دويم په دې وجه په دويم حديث کښې د سره د بخل ذکر نشته. بلکه په هغې کښې صرف د عذاب قبر ذکر دې. په دې وجه دا دواړه احاديث د باب التعوذ من عذاب القبر حصه ده [1]

۳۷ بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ

[۲۰۰۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رضى الله عنه - يَقُولُ كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ». [ر ۲۶۶۸]

د سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به فرمائيل: (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ

---

[1] فتح البارى ۱۷٤/۱۱

الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ ﴾ «زه ستا پناه غوارم د عجز، سستئ، بزدلئ او ډیر زیات بوډاتوب نه او زه ستا پناه غوارم د عذاب قبر نه او ستا پناه غوارم د ژوند او مرګ د فتنې نه».

د فتنة محيا وممات مطلب: ﴿ **محيا او ممات** ﴾ د مفعل په وزن باندې دواړه مصادر دی. د ژوند او مرګ په معنی دی د فتنة محيانه مراد هغه فتنې دی کومې چه انسان ته په ژوند باندې پيښيدلې شی. کومې چه د هغه د دين او دنيا دپاره مضر او د نقصان سبب جوړيدې شی او د فتنه ممات نه د قبر فتنه يعنی د قبر دننه ازميښت مراد کيدې شی او د دې نه مرګ ته نزدې انسان ته پيښيدونکې فتنه هم مراد کيدلې شی. مثلا بده خاتمه او په بد حالت باندې مرګ. (۱)

حديث الباب هم په دې سند او متن سره په کتاب الجهاد کښې تير شوې دې. (۲)

۳۸: بَابُ التَّعَوُّذِ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ

د ماثم معنی ګناه او د مغرم معنی قرض راخی.

[۶۰۰۷] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ، وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ عَنِّي خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا، كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ» [۶۰۱۴، ۶۰۱۲]

د سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به دعا فرمائيله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ... يعنی اې الله! زه ستا پناه غوارم د سست والی او بوډاتوب او د ګناه او د قرض او د قبر د ازميښت او د اور د ازميښت او د اور د عذاب نه او مالدارئ د فتنې د شر نه او ستا پناه غوارم د فقر د فتنې نه. او ستا پناه غوارم د مسيح دجال د فتنې نه. يا الله! ته زما نه زما ګناهونه د واورې او کلئ په اوبو سره اووينځه او زما زړه د ګناهونونه پاک کړه څنګه چه تا سپينه کپړه د ګندګئ نه پاکه کړې ده او زما او زما د ګناهونو ترمينځه هم هغه شان لرې

(۱) قال القسطلاني: فتنة المحيا هو ما يعرض للإنسان في مدة حياته من الافتتان بالدنيا وشهواتها وجهالاتها وأعظمها والعياذ بالله تعالى سوء الخاتمة عند الموت وفتنة الممات قيل: فتنة القبر كسؤال الملكين، والمراد من شر ذلک وإلاّ فأصل السؤال واقع لا محالة فلا يدعى برفعه فيكون عذاب القبر مسببًا عن ذلک، والسبب غير المسبب. وقيل: المراد الفتنة قبل الموت وأضيفت إليه لقربها منه. وحينئذ تكون فتنة المحيا قبل ذلک. وقيل: غير ذلک. والمحيا والممات مصدران بالاضافة على وزن مفعل. ارشاد الساري: ۳۶۷/۱۳

(۲) صحيح البخاري، كتاب الجهاد، باب ما يتعوذ من الجبن، رقم الحديث: ۲۸۳۳

والې راوله . څنګه چه تا د مشرق او مغرب ترمینځه راوستلې دي

په حدیث کښې د ﴿ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنٰى ﴾ او ﴿ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ ﴾ الفاظ دی. یعنی د غنی سره د شر لفظ راغلې دې او د فقر سره نه

بعض شارحینو وئیلې دی چه په غنی سره د شر لفظ ذکر کولو سره ئې د هغې د بدئ طرف ته اشاره کړې ده او دا ئې بیان کړې ده چه د مالدارئ د فتنې شر ډیر خطرناک او تباه کن دې (١)،

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د شر لفظ په دواړو ځایونو کښې دې. اګر چه په دې روایت کښې نشته. خو وراندې روایت راروان دې. په هغې کښې د ﴿ من شر فتنة الفقر ﴾ الفاظ دی. په دې وجه د دې نکتې حاجت نه پاتې کیږی. (٢)

قوله: ﴿اللَّهُمَّ اغْسِلْ عَنِّي خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ﴾: علامه توربشتی رحمه الله لیکی .

﴿ ذکر انواع المطهرات المنزلة من السماء التی لا یمکن حصول الطهارة الکاملة الا بها، تبیانا لانواع المغفرة التی لا تخلص من الذنوب الا بها، ای : طهرنی من الخطایا بانواع مغفرتك التی هی فی تمحیص الذنوب بمثابة هذه الانواع الثلاثة فی ازالة الارجاس والاوضار ورفع الجنابة والاحداث ﴾ (٣)

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې دعا کښې د تطهیر هغه ټول ذرائع ذکر فرمائیلې دی کوم چه د آسمان نه نازل شوې دی او د هغې نه بغیر د کاملې پاکې حصول ممکن نه دې. په دې سره د هغوی غرض د مغفرت هغه ټول انواع بیانول دی چه د هغې نه بغیر د ګناهونو نه پاکی او خلاصی ممکن نه ده. یعنی اې الله ! ته ما د خپل مغفرت د هغه ټولو انواع په ذریعه د ګناهونو نه پاک کړه کوم چه د ګناهونو په ختمولو کښې داسې دی څنګه د پاکئ دا ذرائع ګندګی. جنابت او ناپاکئ ختموی.

او علامه طیبی رحمه الله فرمائی : ﴿ ویمکن ان یقال : ان ذکر الثلج والبرد بعد الماء شمول أنواع الرحمة والمغفرة بعد العفو لإطفاء حرارة عذاب النار التی هی فی غایة الحرارة.... لان عذاب النار تقابله الرحمة ......ای : اغسل خطایای بالماء، ای : اغفرها وزد علی الغفران شمول الرحمة ﴾ (٤)

یعنی : دا هم وئیلې کیدې شی چه د اوبو نه پس د واورې او ګلئ په ذکر کولو سره مقصود د مغفرت نه پس د هر انواع د رحمت احاطه ده. بله دا چه د دواړو ذکر د اوبو نه پس په دې وجه هم کړې شوې دې چه د عذاب جهنم انتهائی درجې حرارت مړ او ختم کړې شی . نو مطلب دا شو چه اې الله ! ته په اوبو سره زما ګناهونه اوینځه یعنی ته دا ګناه معاف کړه او د معافئ سره سره ما په خپل رحمت سره پټ کړه.

---

(١) شرح الکرمانی ۲۲/۱۶۲، ۱۶۳

(٢) فتح الباری : ۱۱/۱۷۷

(٣) کتاب المیسر. کتاب الصلاة. باب ما یقرء بعد التکبیر ۱/۲۳۳

(٤) شرح الطیبی. کتاب الصلاة. باب ما یقرء بعد التکبیر ۲/۲۹۶

یو اشکال او د هغې جواب :

قوله: ﴿بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ﴾: په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې چه عموما چه کله په تطهیر او صفايئ او وينځلو کښې مبالغه مقصود وی نو ګرمې اوبه استعماليږی. يخې اوبه نه شی استعمالولې نو دلته ﴿مَاءُ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ﴾ د مبالغه فی التطهیر دپاره څنګه استعمال کړې شو؟

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه په اصل کښې د ثلج او برد يعنی د واورې او ګلئ اوبه ته لاس نه وی لګيدلې او هغه بالکل شفاف او غير مستعمل وی په دې وجه په هغې کښې تطهير زيات دې. [۱]

۳۹: باب الاِسْتِعَاذَةِ مِنَ الْجُبْنِ وَالْكَسَلِ

كُسَالَى «النساء: ۱۴۲ _ وَكَسَالَى واحدٌ

[۲۰۰۸] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ». [ر: ۲۷۲۸]

د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دعا کښې داسې وئیل ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ﴾ يعنی اې الله! زه ستا پناه غواړم د غم او حزن او د عجز او سستئ او بزدلئ او بخل او د قرض د درنيدو او د خلقو د غلبې نه.

قوله: ﴿کسالی وکسالی واحد﴾: دا د قرآن کريم په آيت کښې واقع دې ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ [۲]

فرمائی ﴿کُسالی﴾ د کاف په ضمې سره او ﴿کَسالی﴾ د کاف په فتحې سره دواړه يو دی.

۴۰: باب التَّعَوُّذِ مِنَ الْبُخْلِ

الْبُخْلُ وَالْبَخَلُ وَاحِدٌ، مِثْلُ الْحُزْنِ وَالْحَزَنِ.

[۲۰۰۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنِي غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رضي الله عنه - كَانَ يَأْمُرُ بِهَؤُلَاءِ الْخَمْسِ، وَيُحَدِّثُهُنَّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ

[۱] اعلام الحديث، كتاب الدعوات، باب التعوذ من المائم والمغرم: ٤/ ٢٢٤

[۲] سورة النساء ١٤٢

الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ». ار ۲۲۶۷]

د سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به د پنځو څیزونو (نه د پناه غوښتلو) حکم کولو. او هغه به ئې د رسول الله ﷺ نه روایت کول. (هغه دا دی) اې الله زه ستا پناه غواړم د بخل نه، او ستا پناه غواړم د بزدلئ نه، او ستا پناه غواړم د دې خبرې نه چه زه د ارذل العمر طرف ته راواپس کړې شم او ستا پناه غواړم د دنیا د فتنې نه او ستا پناه غواړم د عذاب قبر نه.

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه ﴿بُخل﴾ (د باء په ضمې او د خاء په سکون سره) او ﴿بَخَل﴾ (د باء او خا په فتحې سره) دا دواړه یوه معنی لری، څنګه چه د ﴿حَزَن﴾ ا ﴿حُزن﴾ دواړو یوه معنی ده.

۴۱: باب التَّعَوُّذِ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ

(أَرَاذِلُنَا) هود: ۲۷| أَسْقَاطُنَا.

[۲۰۱۰] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَتَعَوَّذُ يَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ».

[ر ۲۲۶۸]

د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به پناه غوښتله او داسې به ئې فرمائیل چه اې الله: زه ستا پناه غواړم د سستئ او بزدلئ. او ستا پناه غواړم د ډیر بوډاوالی او بخل نه.

قوله: ﴿ارذل العمر﴾: نه د عمر هغه ضعیف ترین او کمزورې حصه مراد ده چه په هغې کښې انسان خپل ذاتی او بدنی ضرورتونو لره پوره کولو دپاره د نورو محتاج شی او ټول زده کړې ترې نه هیر شی (۱) رسول الله ﷺ د دې نه پناه غوښتلې ده.

د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه د کوم سړی مشغله قرآن کریم وی هغه به د ارذل العمر نه محفوظ وی. (۲)

---

(۱) قال الزبيدي في اتحاف سادة المتقين : والارذل من كل شئ الردى منه، والمراد بارذل العمر حال الهرم والخوف، والعجز، والضعف، وذهاب العقل. (كتاب الاذكار والدعوات، الباب الرابع : ۵/۳۳۴)

قال العلامة الآلوسي : وارذل العمر اخسه واحقره وهو وقت الهرم الذى تنقص فيه القوى، وتفسد الحواس ويكون حال الشخص فيه كحاله وقت الطفولية من ضعف العقل والقوة.(روح المعاني: ۱۸۷/۸، سورة هود:۷)

(۲) قيل : إنه مخصوص بالكافر والمسلم لا يرد إلى أرذل العمر لقوله تعالى : ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سافلينَ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالحات [التين : ۵، ۶] وأخرج ابن المنذر، وغيره عن عكرمة أنه قال : من قرأ القرآن لم يرد إلى أرذل العمر، وَالمشاهدة تكذب كلا القولين فكم رأينا مسلما قارئ القرآن...[بقيه برصفحه آئنده...

قوله: ﴿اراذلنا: اسقاطنا﴾: دا د سورة هود په آیت کریمه کښې واقع دې ﴿وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا﴾ [۱] امام بخاری رحمه الله فرمائی چه په آیت کریمه کښې د ﴿اراذلنا﴾ نه غورځیدلی او بیکاره خلق مرا دی. د کشمیهنی او مستملی په نسخو کښې ﴿سقاطنا﴾ د سین په ضمې او د قاف په تشدید سره، دې کومه چه د ساقط جمع ده غورځیدلې. اللئیم فی حسبه ونسبه [۲]

امام بخاری رحمه الله چه په باب کښې کوم حدیث ذکر فرمائیلې دې. په دې کښې د ﴿ارذل العمر﴾ ذکر نشته. امام دخپل عادت مطابق په ترجمة الباب کښې دهغه روایت طرفته اشاره کړې ده په کوم کښې چه دا الفاظ راغلې دی. پس دسیدنا سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه روایت. ددې نه په مخکښې باب کښې تیرشوې دې په هغې کښې ﴿وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ﴾ الفاظ دی. [۳]

۴۳: باب الدُّعَاءِ بِرَفْعِ الْوَبَاءِ وَالْوَجَعِ

د وباء نه مرض مراد دې. بعض مرضونه او بیماریٔ د وبا په شکل کښې عام شی. رسول الله ﷺ د هغې د اوچتیدو او ختمیدو دپاره دعاګانې فرمائیلې دی. وباء یو عام لفظ دې. د هرې بیماریٔ دپاره استعمالیږی. مدینې منورې ته طاعون نه شی داخلیدې. خونورې بیماریٔ د وباء په صورت کښې راتلې شی. د دې څه تفصیل په کتاب الطب کښې تیر شوې دې. [۴]

﴿الوجع﴾: نه هر قسم مرض مراد دې. دا د عطف العام علی الخاص د قبیلې نه دې. [۵]

[۶۰۱۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها - قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم «اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ، كَمَا حَبَّبْتَ إِلَيْنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ، وَانْقُلْ حُمَّاهَا إِلَى الْجُحْفَةِ، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا وَصَاعِنَا». [ر ۱۷۹۰]

د سیده عائشه رضي الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې الله! مدینه زمونږ دپاره هم دغه شان محبوبه کړه لکه څنګه چه تا زمونږ دپاره مکه محبوبه کړې ده. بلکه د هغې نه هم زیاته. او د هغې تبه د جحفې طرف ته منتقل کړه. اې الله زمونږ په مد او صاع کښې برکت واچوه

قوله: ﴿وَانْقُلْ حُمَّاهَا إِلَى الْجُحْفَةِ﴾: جحفة: د جیم په ضمې او د حاء په سکون سره د

...بقیه ازحاشیه گذشته] قد رد إلی ذلک، والاستدلال بالآیة علی خلافه فیه نظر. روح المعانی ۱۸۸/۸.

[۱] سورة هود آیت ۲۷

[۲] فتح الباری: ۱۷۹/۱۱

[۳] صحیح البخاری، کتاب الدعوات، باب التعوذ من البخل رقم: ۶۰۰۹

[۴] کشف الباری، کتاب الطب ص ۵۵، ۵۶

[۵] عمدة القاری ۷/۲۳

يو ځاني نوم دې چرته چه يهود آباد وو او دا د اهل مصر ميقات هم دې [۱]

[۶۰۱۲] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ أَبَاهُ قَالَ عَادَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ شَكْوَى، أَشْفَيْتُ مِنْهَا عَلَى الْمَوْتِ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بَلَغَ بِي مَا تَرَى مِنَ الْوَجَعِ، وَأَنَا ذُو مَالٍ، وَلاَ يَرِثُنِي إِلاَّ ابْنَةٌ لِي وَاحِدَةٌ، أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي قَالَ «لاَ». قُلْتُ فَبِشَطْرِهِ قَالَ «الثُّلُثُ كَثِيرٌ، إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ، إِلاَّ أُجِرْتَ، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ». قُلْتُ أَأُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي. قَالَ «إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلاً تَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللَّهِ، إِلاَّ ازْدَدْتَ دَرَجَةً وَرِفْعَةً وَلَعَلَّكَ تُخَلَّفُ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ، وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ، اللَّهُمَّ أَمْضِ لأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلاَ تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ». قَالَ سَعْدٌ رَثَى لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ أَنْ تُوُفِّيَ بِمَكَّةَ. [ر: ۵۶]

د عامر بن سعيد رحمه الله نه روايت دې چه د هغوى والد (سعد رضي الله عنه) بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ زما په هغه بيمارئ کښې چه په هغې کښې زه مرګ ته نزدې اوم، د حجة الوداع په موقع باندې زما تپوس له تشريف راوړلو. ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ: ماته چه کوم تکليف دې. هغه تاسو وينئ او زه مالدار يم خو د يوې لور نه سوا زما څوک هم وارث نشته. نو آيا زه خپل دوه حصې مال صدقه کړم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: نه! نو ما تپوس اوکړو نيم مال (خيرات کړم)؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دريمه حصه مال ډير زيات دې، وارثانو لره مالدار پريخودل ستا دپاره د دې نه غوره دی چه ته هغوی محتاج پريږدې چه د خلقو نه سوالونه کوی او ته چه د الله پاک د رضا دپاره هر څه خرچ کوې الله پاک به تاته د هغې اجر درکوی، تردې چه د هغې نمرئ هم کومه چه ته د خپلې ښځې په خوله کښې ورکړې. ما اووې آيا زه به د خپلو ملګرو نه روستو پاتې شم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: که ته روستو پاتې کړې شې او بيا څه داسې عمل اوکړې چه په هغې باندې مقصود د الله پاک رضا وی نو ستا په درجه او اوچت والى کښې به اضافه کيږى، اميد دې چه ته به لا ژوندې اوسيږې، او څه قومونه يعنى مسلمانان به ستا نه فائدې اوچتوى او نورو يعنى کفارو ته به ستا نه نقصان رسيږى. اې الله! زما د صحابه کرامو رضي الله عنهم هجرت پوره کړې او هغوى په خپلو پوندو مه واپس کوه، خو افسوس دې په سعد بن خوله (چه هغوى خپل هجرت پوره نه کړې شو) سعد رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ د هغوى په مکه مکرمه کښې د وفات کيدو په سبب افسوس اوکړو (چه هغوى هجرت اونکړې شو).

قوله: (أَشْفَيْتُ مِنْهَا عَلَى الْمَوْتِ): (اشفيت) په معنى د (اشرفت) دې، يعنى د دې

---

[۱] وفي عمدة القاري: والجحفة بضم الجيم وسكون الحاء المهملة وبالفاء ميقات أهل مصر والشام في القديم والآن أهل الشام يحرمون من ميقات أهل المدينة وكان سكانها في ذلك الوقت يهود. ۸/۲۳

بیمارئ د وجې نه ما د مرګ نزدې والي محسوس کړو ، د امام زهری رحمه الله ټول شاګردان په دې باندې متفق دی چه دا واقعه د حجة الوداع ده، سوا د سفیان بن عیینة نه. هغوی فرمائی چه دا د فتح مکة واقعه ده

بعض محدثین فرمائی چه د سفیان بن عیینة نه وهم واقع شوې دې. او صحیح خبره د حجة الوداع والا ده. خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا په تعدد د واقعاتو باندې هم محمول کیدلې شی. دغه شان به په دواړو روایاتو کښې تطبیق پیدا شی.[1]

قوله: ﴿يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ﴾: یعنی ﴿ يسالون الناس باكفهم او يسالون ما يكف عنهم الجوع ﴾ ،یعنی هغوی د خلقو مخکښې خپل لاسونه خورولو سره سوال کوی یا د خلقو نه داسې څیز غواړی کوم چه د هغوی لوږه ختمه کړه.

د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت : حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د باب په دې دویم حدیث کښې سیدنا سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه دخپل درد او وجع ذکر کړې ده اوپه ترجمة الباب کښې د وجع ذکر دې. په دې طریقه د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت پیدا کیږی.[2]

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په ترجمة الباب کښې : ﴿ دعا برفع الوجع ﴾ دې. او په حدیث کښې ﴿ دعا برفع الوجع ﴾ نشته. خو په حدیث په آخر کښې ﴿ اللهم امض لاصحابى هجرتم ولا تردهم على اعقابهم ﴾ ،اې الله ! ته زما د صحابه کرامو رضی الله عنهم هجرت پوره کړه او هغوی واپس مه کړه، نه په حدیث او ترجمة کښې مناسبت کیدې شی! ﴿ فان فيه اشارة لسعد بالعافية ليرجع الى دار هجرة وهى المدينة ﴾[3] یعنی په دې کښې د سیدنا سعد رضی الله عنه عافیت طرف ته اشاره ده چه هغه د دار هجرت طرف ته واپس شی او دار هجرت مدینه منوره ده.

۴۳: باب الِاسْتِعَاذَةِ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَفِتْنَةِ النَّارِ

د ﴿تعوذ من ارذل العمر﴾ باب مخکښې هم تیر شوې دې، خو هلته صرف یو امر یعنی د ﴿ارذل العمر﴾ ذکر وو او دلته د فتنة الدنیا او فتنة النار هم اضافه ده، په دې وجه په ترجمة الباب کښې تکرار نشته. شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی :

﴿ مغايرة هذه الترجمة بالترجمة باعتبار زيادة الجزء الاخير ومن عادته انه ربما يذكر مجموع الامور التى اراد

[1] فتح الباری : ۳۶۶/۵، ۳۶۴ : وقال الحافظ : ویمکن الجمع بین الروایتین بأن یکون ذلک وقع له مرتین مرة عام الفتح ومرة عام حجة الوداع ففى الأولى لم یکن له وارث من الأولاد أصلا وفى الثانية کانت له ابنة فقط فالله أعلم. انتهى

[2] فتح الباری: ۳۶۶/۵

[3] عمدة القاری : ۸/۲۳

ذكرها في باب واحد، ثم يذكر واحدا منها في باب باب، فيعقد لكل منها بابا مستانفا، ليكون كل منهما مستقلا بالافادة ﴾ (١)

یعنی د ترجمة الباب تکرار نشته، بلکه دا ترجمه د سابقه ترجمې نه په دې طریقې مختلف ده چه په دې کښې آخری جزء د ﴿ من فتنة الدنيا ﴾ اضافه ده.

اصل کښې د امام بخاری رحمه الله عادت دې چه هغه کله کله په یو باب کښې ټول امور ذکر کړی. بیا ذهغې نه د هر یو امر دپاره هغه ځانله ځانله مستقل بابونه قائموی. چه دا واضحه شی چه د هر امر مستقل فائده ده.

[۲۰۱۳] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا الْحُسَيْنُ عَنْ زَائِدَةَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ مُصْعَبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ تَعَوَّذُوا بِكَلِمَاتٍ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْرِ». [ر: ۲۶۶۷]

مصعب د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی بیان اوکړو چه د دې کلماتو په ذریعه پناه غواړئ د کومو په ذریعه چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم پناه غوښتله ،هغه کلمات دا دی، ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِن فِتْنَةِ الدُّنْيَا يَعْنِي فِتْنَةَ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ﴾

په سند کښې د حسين نه حسین بن علی جعفی. د هغوی شیخ زائده بن قدامة دې او هغه د عبد الملك بن عمیر نه نقل کوی.

[۲۰۱۴] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَقُولُ « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَأْثَمِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا، كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ». [ر: ۲۰۰۷]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعا کوله:

﴿ اللهم انى اعوذبك من الكسل والهرم ... ﴾

مغرم او ماثم دواړه مصدر میمی دی، د مغرم نه د ګناهونو او مصیبتونو بوجه مراد دې او یا ترې دقرض بوج مراد دې د قرض بوج هم په حقیقت کښې د معصیت ذریعه جوړه شی.(٢) د

(١) الابواب والتراجم لصحيح البخارى : ١٢٩/٢

(٢) وفى فتح البارى: والمراد الاثم والغرامة. وهى ما يلزم الشخص اداءه كالدين، باب التعوذ من المأثم والمغرم.

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه نقل دی چه مقروض چه کله د قرض په ادا کولو باندې قادر نه وی نو هغه د خبرې کولو په وخت دروغ وائی او د وعدې کولو په وخت خلاف ورزی کوی.

۴۴: باب الاِسْتِعَاذَةِ مِنْ فِتْنَةِ الْغِنَى

[۶۰۱۵] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا سَلاَّمُ بْنُ أَبِي مُطِيعٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ خَالَتِهِ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَتَعَوَّذُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ». [ر: ۶۰۰۷]

سید د عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم به داسې پناه غوښتله: ﴿ اللهم انی اعوذبك من فتنة النار...... ﴾

د غنى او مالدارئ فتنه دا ده چه انسان خپل مال او دولت د الله پاک په نافرمانئ او سرکشئ کښې استعمال کړی.[1]

۴۵: باب التَّعَوُّذِ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ

[۶۰۱۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ قَلْبِي بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا، كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَاىَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ». [ر: ۶۰۰۷]

د سید د عائشه رضی اللہ عنہا نه روایت دې چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم به فرمائیل: اې الله زه ستا پناه نیسم، د اور د فتنې نه، او د اور د عذاب نه، او د قبر د فتنې او د قبر د عذاب نه، او د مالدارئ د فتنې د شر نه. او د فقر د فتنې د شر نه، اې الله! زه ستا پناه نیسم! د مسیح دجال د فتنې د شر نه، اې الله! زما زړه د واورې او ګلئ په اوبو وینځې او زما زړه د ګناهونو نه پاک کړې لکه تا چه سپین کپړه د ګندګئ نه صفا کړه، او زما او زما د ګناهونو ترمینځه هم دغه شان لرې والې راوله څنګه چه تا د مشرق او مغرب ترمینځه راوستلې دې، یا الله زه ستا پناه غواړم د سستئ نه او د ګناه او د قرض نه.

[1] کما فی عمدة القاری کتاب الدعوات، باب التعوذ من المأثم والمغرم ۵/۲۳، ما نصه: قوله ومن شر فتنة الغنی هی نحو الطغیان والبطر وعدم تأدیة الزکاة، وکذا فی فتح الباری، کتاب الدعوات، باب التعوذ من المأثم والمغرم ۱۷۷/۱۱ ما نصه: قال الغزالی فتنة الغنی الحرص علی جمع المال وحبه حتی یکسبه من غیر حله وبمنعه من واجبات انفاقه وحقوقه.

د فقر د فتنې مطلب : رسول اللهﷺ د فقر د فتنې هم پناه غوښتلې ده. د فقر فتنه دا ده چه د انسان دپاره د هغه فقر د ګناهونو او د الله پاک د نافرمانو ذریعه جوړه شي. د رسول اللهﷺ ارشاد دې ﴿ کاد الفقر ان یکون کفرا ﴾ (۱) یعنی نزدې ده چه فقر د کفر باعث جوړ شي. د فقر د وجې نه که په زړه کښې د مالدار حسد راشي. د الله پاک د طرف نه په زړه کښې د ګلې او شکایت جذبه پیدا کیږي، مال ګټلو او مالدار جوړیدو جائز او ناجائز طریقې په هوس پیدا کیږي. دغه ټولې خبرې د فقر په فتنه کښې داخل دي. (۲)

۴۶: بَابُ الدُّعَاءِ بِكَثْرَةِ الْمَالِ مَعَ الْبَرَكَةِ

[۲۰۱۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ ادْعُ اللَّهَ لَهُ قَالَ «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ». وَعَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ مِثْلَهُ. [ر ۱۸۸۱]

سیدنا انس رضی الله عنه د ام سلیم رضی الله عنها نه روایت کوی چه ام سلیم رضی الله عنها عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! انس رضی الله عنه ستاسو خادم دې؛ تاسو د الله پاک نه د هغه په حق کښې دعا اوکړئ. رسول اللهﷺ اوفرمائیل : اې الله! د هغه په مال او اولاد کښې زیادت اوکړه او څه چه تا هغه ورکړي دي په هغې کښې ورته برکت ورکړه! او د هشام به زید نه روایت دې : چه ما د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه هم دغه شان بیان اوریدلې دې

کثرت مال او اولاد بغیر د برکت نه فتنه ده : په دې باب کښې د مال د کثرت دعا غوښتلې شوې ده خو په برکت سره او په وړاندې باب کښې د کثر ولد مع البرکة دعا غوښتلې شوې ده. په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه د مال او اولاد کثرت که د برکت سره وی نو بیا خو خیر او نیکی ده خو که بغیر د برکت نه وی نو بیا فتنه ده. (۳)

د سیدنا انس رضی الله عنه رسول اللهﷺ د برکت دعا غوښتلې ده، پس الله پاک د هغوی په مال او دولت او اولاد کښې ډیر برکت کیخودلو، چه د هغې تفصیل تیر شوې دې (۴)

امام ابن قتیبة رحمه الله په معارف کښې لیکلې دی چه په بصره کښې دننه درې کسان داسې وو چه هغوی په خپل ژوند کښې د خپلو ځامنو او نمسو وغیره نه سلو پورې کسان اولیدل، یو سیدنا انس رضی الله عنه، دویم سیدنا ابوبکره رضی الله عنه، دریم خلیفه بن بدر رضی الله عنه او بعضو ورسره مهلب بن ابی صفره رضی الله عنه هم شامل کړې دې. (۵)

---

(۱) حلیة الاولیاء للحافظ ابی نعیم الاصفهانی:۶۲/۳، ۱۳۰،رقم الحدیث : ۳۱۶۹، ۳۴۳۱، واتحاف السادة ۴۸۱/۹

(۲) فتح الباری، کتاب الدعوات، باب التعوذ من المائم والمغرم ۷۸/۱۱، وعمدة القاری، کتاب الدعوات، باب التعوذ من المائم والمغرم : ۵/۲۳، واتحاف السادة، کتاب ذم الغضب والحقد والحسد: ۴۸۱/۹

(۳) الابواب والتراجم : ۱۲۹/۲

(۴) فتح الباری : ۱۴۵/۱۱

(۵) وزاد علی قول ابن قتیبة الحافظ فی فتح الباری: وزاد غیره –ای غیر ابن قتیبة...[بقیه برصفحه آئنده...

په سند کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ الشیخ غندر دې. د هغه نوم محمد بن جعفر دې.

۴۷: باب: الدعاء بكثرة الولد مع البركة

[۶۰۱۸] حَدَّثَنَا أَبُو زَيْدٍ سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا -رضی الله عنه- قَالَ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ أَنَسٌ خَادِمُكَ . قَالَ « اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ». [ر: ۱۸۸۱]

د سیدنا قتادة رضی الله عنه نه روایت دې چه ما د انس رضی الله عنه نه واوریدل چه ام سلیم رضی الله عنها عرض اوکړو انس رضی الله عنه ستاسو خادم دې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: یا الله! د هغه په مال او اولاد کښې زیادت اوکړه او څه چه تا هغه ته ورکړې دی په هغې کښې برکت واچوه.

۴۸: باب الدُّعَاءِ عِنْدَ الاِسْتِخَارَةِ

د استخاره لغوی او اصطلاحی معنی: په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د استخارې دعا کړې دد. د استخاره لغوی معنی ده خیر طلب کول، او د شرع په اصطلاح کښې معنی ده په دوه کارونو کښې د یو کار په سلسله کښې د الله پاک نه خیر طلب کول چه په دې کښې کوم د هغه د پاره غوره وی. هغه هم هغې لره اختیار کړی.(۱)

د استخارې اهمیت او فضیلت: دلته د بخاری په روایت کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ ته په ټولو کارونو کښې د استخارې تعلیم راکولو.

امام احمد رحمه الله د سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه روایت په حسن سند سره نقل کړې دې، په دې کښې دی ﴿من سعادة ابن ادم استخارته الله﴾(۲) یعنی د ابن ادم په سعادت کښې یوه خبره دا ده چه هغه د الله پاک نه استخاره اوکړی.

امام ترمذی رحمه الله د صدیق اکبر رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې چه: ﴿أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَمْرًا قَالَ: اللَّهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي﴾(۳) یعنی: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه کله د څه کار کولو اراده فرمائیله نو داسې دعا به ئې فرمائیله: ﴿اللَّهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي﴾ اې الله! ته زما د پاره د خیر والا کار انتخاب اوکړه.

هم دغه شان طبرانی د سیدنا انس رضی الله عنه روایت نقل کړې دې: ﴿ما خاب من استخار﴾(۴)

....بقیه ازحاشیه گذشته]- رابعا هو: المهلب بن ابی صفرة، کتاب الدعوات، باب دعوة النبی صلی الله علیه وسلم لخادمه بطول العمر وبکثرة ماله ۱۴۵/۱۱

(۱) فتح الباری: ۱۷۳/۱۱

(۲) نص الحدیث تماما: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ اسْتِخَارَتُهُ اللَّهَ . وَمِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ ، وَمِنْ شِقْوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللهِ ، وَمِنْ شِقْوَةِ ابْنِ آدَمَ سَخَطُهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ. (مسند احمد ۱/۴۵۹-۴۶۰) رقم الحدیث: ۱۴۴۴) (قلت: اسناده ضعیف)

(۳) سنن الترمذی، کتاب الدعوات، باب دعا: اللهم خر لی واخترلی، رقم الحدیث: ۳۵۱۶ (قلت: اسناده ضعیف)

(۴) فتح الباری: ۱۸۴/۱۱، (قلت: هذا حدیث ضعیف جدا بل موضوع)

یعنی هغه سړی چه استخاره اوکړی هغه نه دی نامراد شوی.
ددې دوارو احادیثو سند اګر چه ضعیف دی (۱) خو ددې نه د استخارة فضیلت معلومیږی

۲۰۱۹/ حَدَّثَنَا مُطَرِّفُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَبُو مُصْعَبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ رضی الله عنه - قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم - يُعَلِّمُنَا الاِسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كُلِّهَا كَالسُّورَةِ مِنَ الْقُرْآنِ «إِذَا هَمَّ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاقْدُرْهُ لِي، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ. وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ». [ر ۱۱۰۹]

د سیدنا جابر ﷺ نه روایت دی چه رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو کارونو کښې د استخارة تعلیم راکولو. څنګه چه به ئې د قرآن کریم سورة ښودلو. کله چه په تاسو کښې يو سړی د څه کار اراده اوکړی، نو دوه رکعته مونځ دې اوکړی. بیا اوائی: اې الله! زه ستا نه ستا د علم په په ذریعه خیر طلب کوم، او ستا د قدرت د وجې نه قدرت طلب کوم او ستا نه ستا د فضل سوال کوم ځکه چه هم ته قادر ئې. زه قادر نه یم. ته پوهیږې. زه نه پوهیږم. ته ټولو پټو څیزونو لره ښه پیژندونکې ئې، اې الله! که تاته معلومه وی چه دا کار زما دپاره. زما د دین. زما د معاش او د انجام په اعتبار سره غوره دې نو ته دا کار زما دپاره مقرر او مقدر کړه او که ته پوهیږې چه دا کار زما دپاره، زما د دین، زما د دنیا او زما د کار د انجام په اعتبار سره بد دې نو ته دا زما نه واړوه او ما د دې نه واړوه او ماته خیر مقدر کړه چرته چه هم وی او بیا ما په هغې باندې راضی او مطمئن کړه.

عبدالرحمن بن ابی الموال : عبدالرحمن بن ابی الموال : د مولی جمع ده. د ابوالموال نوم زید دې او بعضو وئیلی دی چه زید د عبدالرحمن نیکهٔ دې او د هغوی د پلار ابو الموال نوم معلوم نه شو. (۲) ائمه د جرح او تعدیل د هغوی توثیق کړې دې، پس امام نسائی، امام ترمذی، امام ابوداؤد او امام ابن معین ﷺ هغوی ته ثقة وئیلی دې (۳) ابن عدی چه په الکامل کښې د هغوی تذکره کړې ده کوم چه په ضعیف راویانو باندې مشتمل کتاب دې خو هغوی وائی: چه حدیث د استخاره د هغوی نه علاوه نورو راویانو هم نقل کړې دې او د دې

---

(۱) فتح الباری: ۱۱/ ۱۷۴ قال الحافظ: ومن حدیث أبی بکر الصدیق رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه و سلم کان إذا أراد أمرا قال اللهم خر لی واختر لی وأخرجه الترمذی وسنده ضعیف وفی حدیث أنس رفعه ما خاب من استخار والحدیث أخرجه الطبرانی فی الصغیر بسند واه جدا.

(۲) فتح الباری: ۱۱/۱۷۳

(۳) تهذیب الکمال: ۱۷/ الترجمة: ۱۱۳۴/۱۶۷

ډير شواهد دى [۱]، امام ترمذي رحمه الله هم دا حديث ذكر فرمائيلي دې او فرمائي : ﴿وفي الباب عن ابن مسعود وابي ايوب﴾ [۲]

استخاره په كومو امورو كښې جائز ده؟ رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو امورو كښې د استخارې تعليم راكولو څنګه چه به ئې د قرآن سورتونه ښودل. هم دغه شان به ئې د استخارې دعا ښودله. د ټولو امور نه مباح امور مراد دى، څكه چه په واجب او مستحب امورو كښې د استخارې ضرورت نشته او كوم امور چه شرعا ممنوع دى په هغې كښې هم استخاره نه شى كيدې څكه چه هغه شرعا متروک دى. خو دوه كارونه مباح دى او په هغې كښې يو لره اختيارول دى يا دوه مستحب كښې يو لره اختيارول دى نو په هغې كښې به استخاره كولې شى. [۳]

د استخاره طريقه :

قوله: ﴿فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ ثُمَّ لِيَقُلْ﴾: يعنى د استخارې طريقه دا ده چه دوه ركعتونه اولوستلې شى. ﴿من غير الفريضة﴾ قيد لګولو سره ئې دا بيان اوكړو چه دا دوه ركعتونه دې نفل وى، مثلا د سحر دوه ركعته فرض مونځ دې نه وى او بيا دې دعا اولوستلې شى كومه چه په روايت كښې مذكور ده، دا دعا به د مانځه نه پس لوستلې شى او كه په مانځه كښې دننه په سجدې نه پس اولوستلې شي او كه په مانځه كښې دننه په سجده كښې يا قعده د تشهد كښې اولولى نو هم كافى ده [۴] بهر حال دعا دې يا د مانځه نه پس وى يا د مانځه په آخر كښې. پس ابن ابى جمرة ليكى :

﴿حكمة في تقديم الصلاة على الدعاء ان المراد بالاستخارة حصول الجمع بين خيرى الدنيا والآخرة فيحتاج إلى قرع باب الملك ولا شيء لذلك انجع ولا انجح من الصلاة لما فيها من تعظيم الله والثناء عليه والافتقار إليه مآلا وحالا﴾ [۵]

يعنى : مانځه لره د استخارې په دعا باندې د مقدم كولو حكمت دا دې چه په استخارې سره مقصود د دنيا او د آخرت د خيرونو حصول دې نو د هغې دپاره به د الله پاک د رحمت د دروازې وهلو ته ضرورت راځى او د هغې دپاره د مانځه نه علاوه يو څيز هم مفيد نشته، څكه چه مونځ د الله پاک په تعظيم او د هغه په تحميد او ثناء باندې مشتمل دې، بله دا چه په هغې كښې د الله پاک مخكښې د عجز او انكسارئ اظهار دې، د نتيجې په لحاظ او هم او د حال په لحاظ هم

---

[۱] الكامل لابن عدى : ٥/ الترجمة : ١١٣٤/١٦٧

[۲] جامع الترمذى، كتاب الوتر، باب ما جاء فى صلاة الاستخارة، رقم الحديث : ٤٨٠

[۳] فتح البارى : ١٧٤/١١

[۴] فتح البارى : ١٧٥/١١-١٧٦

[۵] فتح البارى : ١٧٦/١١

یو بل اشکال او د هغې جواب.

قوله: ﴿اللهم ان کنت تعلم ...﴾: علامه کرمانی رحمه الله اشکال کړې دې چه ﴿ ان ﴾ حرف شک دې او د الله پاک په علم کښې شک کول جائز نه دی

د دې جواب کولو سره ئې فرمائیلې دی چه د الله پاک په علم کښې شک نشته بلکه په دې کښې شک دې چه د الله پاک علم په خیر او شرک کښې د څه سره متعلق دې. د خیر سره یا د شر سره. (۱)

قوله: ﴿فاقدره لی﴾: دا دال په زیر او د دال په پیش دواړو سره صحیح دې. په اول صورت کښې به د باب ضرب نه اوی او په دویم صورت کښې به د باب نصر نه وی. (۲)

د استخارې کولو نه پس چه د زړه میلان کوم طرف ته پیدا شی. هم هغه دې اختیار کړې شی او که میلان یو طرفته هم نه وی نو دوباره دې استخاره اختیار کړې شی. بلکه ابن السني د سیدنا انس رضی الله عنه یو روایت نقل کړې دې، په هغې کښې اووهٔ کرته د استخاره ذکر دې.(۳) اګر چه محدثینو د دې سند ته انتهائی ضعیف وئیلې دې (۴)

﴿ویسمی حاجته﴾: یعنی استخاره کونکې دې د خپل حاجت نوم واخلی. ﴿ اللهم ان کان هذا الامر﴾ په دې کښې دې د ﴿ هذا الامر﴾ په ځائې خپل حاجت ذکر کړې مثلا څوک د وادهٔ یا نکاح دپاره استخاره کوی نو وائی به ﴿ اللهم ان کان التزوج بفلانة ﴾...

۳۹: بَابُ الدُّعَاءِ عِنْدَ الْوُضُوءِ

د ترجمة الباب غرض: په اکثر نسخو کښې باب په دې الفاظو سره دې او مقصد د اودس په وخت د دعا ثبوت بیانول دی. خو په هندوستانی نسخو کښې ﴿ باب الوضوء عند الدعاء ﴾ دې. علامه عینی رحمه الله ﴿ باب الدعاء عند الوضوء ﴾ ته زیات مناسب وئیلې دې. (۵)

خو شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله هندوستانی نسخې ته راجح وئیلې ده، هغوی لیکی ﴿ والاوجه عندی ما فی النسخ الهندیة، ای : الوضوء عند الدعاء، والفرق بین اللفظین ظاهر، والدلیل علی مااخترته سیاق الحدیث، فقد تقدم الحدیث فی الباب المذکور بلفظ : قال (ای : ابو عامر) قام له (صلی الله علیه وسلم) : استغفرلی، فدعا بماء فتوضاء، ثم رفع یدیه .... فهذا یدل علی ان الوضوء انما کان لقصد الدعاء،

---

(۱) شرح الکرمانی : ۱۶۹/۲۲

(۲) فتح الباری : ۷۶/۱۱، ونصه : قال ابو الحسن القابسی : اهل بلدنا یکسرون الدال واهل المشرق یضمونها.

(۳) ونصه الحدیث : کما فی فتح الباری : ۱۷۷/۱۱: اذا هممت بامر فاستخر ربک سبعا ثم انظر الی الذی یسبق فی قلبک فان الخیر فیه. (ضعیف جدا)

(۴) فتح الباری : ۲۲۳/۱۱

(۵) عمدة القاری ۱۲/۲۳

فالغرض من الترجمة، بیان ادب من آداب الدعاء ﴾ (۱)

یعنی: زما په نزد په هندوستانی نسخو کښې مذکور باب الوضوء عند الدعاء زیات اوجه دې. د دواړو ترجمو ترمینځه فرق بالکل واضح دې. زما د رائې تائید د حدیث د سیاق نه هم کیږي. پس د دې باب حدیث مخکښې په دې الفاظو سره تیر شوې دې: ابو عامر وائی. تاسو رسول اللهﷺ ته درخواست اوکړئ چه هغوی زما دپاره استغفار اوکړی. پس رسول اللهﷺ اوبه راوغوښتلې او په هغې سره ئې اودس کولو نه پس د دعا دپاره لاس اوچت کړل.
نو دا حدیث په دې باندې دلالت کوی چه د رسول اللهﷺ اودس کول د دعا په ارادې سره وو. د دې نه معلومه شوه چه د ترجمة الباب غرض د دعا د آدابو نه یو ادب بیانول دی

[۲۰۲۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ دَعَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ». وَرَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ فَقَالَ «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ». [ر: ۲۷۲۸]

د سیدنا ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول اللهﷺ اوبه طلب کړې او اودس ئې اوکړو. بیا ئې دواړه لاسونه اوچت کړل او دعا ئې اوکړه چه اې الله! عبید ابی عامر ته بخښنه اوکړه او ما د هغوی د ترخونو سپین والې اولیدو. بیا ئې اوفرمائیل: اې الله! په قیامت کښې په خپل مخلوق کښې د ډیرو خلقو نه د هغه مرتبه اوچته کړه
په سند کښې د ابو اسامة نوم حماد بن سلمه. د ابو برده نوم عامر او د سیدنا ابوموسی اشعری رضی الله عنه نوم عبدالله بن قیس دې. (۲)
دا روایت په غزوه اوطاس کښې په تفصیل سره تیر شوې دې.د سیدنا ابوموسی رضی الله عنه ترهٔ سیدنا عبید رضی الله عنه په غشی باندې اولګیدو. هغوی په زخمی حالت کښې سیدنا ابو موسی رضی الله عنه ته اووې: ورارهٔ! رسول اللهﷺ ته زما سلام اوکړه او د هغوی نه زما دپاره د استغفار درخواست اوکړه. د هغې نه پس هغوی وفات شو. رسول اللهﷺ ته چه کله د هغوی پیغام ملاؤ شو نو رسول اللهﷺ اوبه راطلب کولو سره اودس اوکړو او بیا ئې د هغوی دپاره دعا اوفرمائیله

۵۰: بَابُ الدُّعَاءِ إِذَا عَلَا عَقَبَةً

﴿ عقبة ﴾ د عین او قاف په زبر سره، درې ته وائی. په دې باب کښې په دره او لوړه باندې ختلو سره د دعا کولو بیان دې

(۱) الابواب والتراجم: ۱۲۹/۲
(۲) عمدة القاری: ۱۲/۲۳

[٦٠٢١] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى -رضى الله عنه- قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي سَفَرٍ فَكُنَّا إِذَا عَلَوْنَا كَبَّرْنَا فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِبًا، وَلَكِنْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا». ثُمَّ أَتَى عَلَيَّ وَأَنَا أَقُولُ فِي نَفْسِي لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ. فَقَالَ «يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ فَإِنَّهَا كَنْزٌ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ». أَوْ قَالَ «أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ هِيَ كَنْزٌ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ». [ر: ٢٨٣٠]

د سیدنا ابوموسی رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ به لوړې باندې ختلو نو تکبیر به مو وئیلو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې خلقو په خپل ځان باندې نرمی کوئ ځکه چه تاسو يو کوڼ او غائب ذات نه رابلئ بلکه تاسو هغه ځوک رابلئ چه اوريدونکې او ليدونکې دې، بيا ئې ماته تشريف راوړلو (ما په خپل زړه کښې لاحول ولا قوة الا بالله وئيل) نو وې فرمائيل: اې عبدالله بن قيس: (لاحول ولاقوة الابالله) وايه ځکه چه هغه د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده يا (د راوى شک دې چه) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: زه تاته يو داسې کلمه او نۀ ښائم کومه چه د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده، (لاحول ولاقوة الا بالله) ده.

په حديث کښې د دعا ذکر نشته، بلکه د تکبير ذکر دې، خو په (فَإِنَّكُمْ لاَتَدْعُونَ أَصَمَّ، وَلاَغَائِبًا) کښې د دعا تذکره ده. او د ترجمة الباب سره د حديث د مناسبت دپاره د امام بخارى رحمه الله په نزد دومره خبره کافى ده. [1]

قوله: (ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ اى: ارفقوا بها، ولا تبالغوا فى الجهر...): يعنى په خپل ځان باندې رحم اوکړئ او په جهر کښې دومره مبالغه مه کوئ. (اربعوا) د باب سمع نه د امر حاضر جمع صيغه ده.

دا چرته د سفر واقعه ده، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى (لم اقف على تعينه) [2] يعنى ماته متعين طريقې سره د دې معلومات اونشو.

٥١: بَابُ الدُّعَاءِ إِذَا هَبَطَ وَادِيًا

فِيهِ حَدِيثُ جَابِرٍ. [ر: ٢٨٣١]

---

[1]) فتح البارى: ١١/١٨٨

[2]) فتح البارى: ١١/١٨٨

ځنګه چه په لوړه باندې ختلو سره دعا ثابت ده، هم دغه شان يوې کندې ته کوزيدو سره هم دعا او ذکر ثابت دې، امام بخاري رحمه الله فرمائی : فيه حديث جابر رضي الله تعالى عنه، د جابر رضي الله عنه حديث په کتاب الجهاد کښې تير شوې دې، هلته دا الفاظ دی ﴿ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا ﴾[1] (په لوړه باندې د ختلو په وخت به مونږ تکبير وئيلو او د کوزيدو په وخت به مو تسبيح وئيلو)

د مستملي او د کشميهني نه علاوه په باقی نسخو کښې دا باب نشته.[2]

۵۲: بابُ الدُّعَاءِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَوْ رَجَعَ

فِيهِ يحي بن ابي اسحق، عن انس۔ [ر: ۲۹۱۹]

د سفر نه د واپس کيدو په وخت هم دعا او ذکر ثابت دې، امام بخاري رحمه الله فرمائی :

﴿ فيه يحيى بن ابي اسحاق عن انس ﴾ د سيدنا انس رضي الله عنه روايت په کتاب الجهاد کښې موصولا تير شوې دې.[3]

[۶۰۲۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ -رضي الله عنهما- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الأَرْضِ ثَلاَثَ تَكْبِيرَاتٍ، ثُمَّ يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ، عَابِدُونَ لِرَبِّنَا، حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ ». [ر: ۱۷۰۳]

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله د جهاد يا عمرې نه واپس کيدلو نو په هره لوړه زمکه باندې به ئې درې کرته تکبير وئيلو بيا به ئې فرمائيل ﴿ لا اله الا الله وحده لا شريك له ﴾..... يعنی د الله پاک واحد نه سوا بل معبود نشته، د هغه هيڅ څوک شريک نشته هم د هغه دپاره بادشاهی ده او هم د هغه دپاره تعريف دې، او هغه په هر څيز باندې قادر دې، مونږ رجوع کونکی، توبه کونکی، عبادت کونکی، د خپل رب حمد بيانونکی يو، الله پاک خپله وعده رشتينې کړه، هغه د خپل بنده مدد اوکړو، او يواځې ئې ټولو لښکرو ته شکست ورکړو.

د حديث مناسبت د باب سره بالکل واضح دې

---

[1]) صحيح البخاري، كتاب الجهاد، باب التسبيح اذا هبط واديا، رقم الحديث : ۲۹۹۳

[2]) فتح الباري، ۱۱/۱۸۸

[3]) صحيح البخاري، كتاب الجهاد، باب ما يقول اذا رجع من الغزو، رقم الحديث : ۳۰۸۵، ۳۰۸۶

۵۳: باب الدّعاء للمتزوّج

[۲۰۲۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ فَقَالَ «مَهْيَمْ» أَوْ «مَهْ» قَالَ تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ «بَارَكَ اللَّهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ». [ر: ۱۹۴۴]

د سيدنا انس ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په سيدنا عبدالرحمن بن عوف ﷺ باندې زيړه نخښه اوليده نو وې فرمائيل: څه خبره ده. هغوى جواب ورکړو چه ما د يوې زنانه سره د کهجورې د هډوکى برابر سرو زرو په عوض نکاح کړې ده. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک دې تاته برکت درکړى، د وليمې دعوت اوکړه، اګر چه يو بيزه ولې نه وى

چه د چا نوې نوې وادهٔ شوې وى نو د هغه دپاره دعا کول د حديث نه ثابت ده. لکه چه د باب په اول روايت کښې رسول الله ﷺ د سيدنا عبدالرحمن بن عوف ﷺ دپاره دعا اوفرمائيله، د سيدنا ابوهريره ﷺ روايت په سنن ابى داؤد او سنن ترمذى کښې دې چه کله به چا وادهٔ اوکړو نو رسول الله ﷺ به د هغه دپاره په دې الفاظو باندې دعا فرمائيله: ﴿ بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ ﴾ [۱] ربعنى الله پاک دې ستا دپاره او په تا باندې برکت نازل کړى او تاسو دواړه دې په خير او عافيت سره يوځائې اوساتى)

[۲۰۲۴] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ - رضى الله عنه - قَالَ هَلَكَ أَبِي وَتَرَكَ سَبْعَ - أَوْ تِسْعَ - بَنَاتٍ، فَتَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « تَزَوَّجْتَ يَا جَابِرُ ». قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ « بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا ». قُلْتُ ثَيِّبًا. قَالَ « هَلاَّ جَارِيَةً تُلاَعِبُهَا وَتُلاَعِبُكَ، أَوْ تُضَاحِكُهَا وَتُضَاحِكُكَ ». قُلْتُ هَلَكَ أَبِي فَتَرَكَ سَبْعَ - أَوْ تِسْعَ - بَنَاتٍ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَجِيئَهُنَّ بِمِثْلِهِنَّ، فَتَزَوَّجْتُ امْرَأَةً تَقُومُ عَلَيْهِنَّ. قَالَ « فَبَارَكَ اللَّهُ عَلَيْكَ ». لَمْ يَقُلِ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَمُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ عَمْرٍو « بَارَكَ اللَّهُ عَلَيْكَ ». [ر: ۴۳۲]

د سيدنا جابر ﷺ نه روايت دې چه زما والد صاحب وفات شو، او اووهٔ يا نهه لونړه ئې پريخودلې، ما د يوې زنانه سره نکاح اوکړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا تا نکاح اوکړه؟ ما عرض اوکړو: او جى! رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د پيغلې سره که د کونډې سره؟ ما اووې د کونډې سره! رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د پيغلې سره دې نکاح ولې نه کوله چه هغې به تاسره لوبې کولې او تا به هغې سره لوبې کولې؟ يا ئې اوفرمائيل چه تا به هغه خندوله او ته به هغې خندولې؟ ما عرض اوکړو چه زما والد صاحب وفات شو، او هغوى اووهٔ يا نهه لونړه پريخودلې دى، په دې وجه ماته ښه ښکاره نه شوه چه هم د هغوى په شان جينئ راولم، پس

---

[۱] سنن ابى داؤد، كتاب النكاح، باب ما يقال للمتزوج، رقم الحديث: ۳۱۳، وانظر جامع الترمذى، ابواب النكاح، باب ما جاء فيما يقال للمتزوج، رقم الحديث: ۲۱۳۲

ما د يوې داسې زنانه سره نکاح اوکړه چه د هغوی خیال ساتی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله پاک دې تاته برکت درکړی، ابن عیینة او محمد بن مسلم د عمرو نه د ﴿ بَارَكَ اللهُ عَلَيْكَ ﴾ الفاظ نه دی نقل کړی.
یعنی حماد بن زید نه علاوه عمرو بن دینار دا روایت د دوه نورو راویانو نه هم نقل کړې دې. یو سفیان بن عیینة او دویم محمد بن مسلم طایفی. د هغوی دواړو روایتونه په کتاب المغازی کښې تیر شوې دی. په هغې کښې د ﴿ بَارَكَ اللهُ عَلَيْكَ ﴾ الفاظ نشته.[1]

۵۴: باب مَا يَقُولُ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ

[۶۰۲۵] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، فَإِنَّهُ إِنْ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذَلِكَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا». [ر: ۱۴۱]
د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که د هغوی نه یو سړې خپلې ښځې ته ورځی (یعنی د صحبت کولو) اراده کوی او اولولی : ﴿ بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا ﴾ (بیا) که د دې صحبت نه څه اولاد مقدر وی. نو هغه ته به شیطان کله هم ضرر او نه رسوی.
د مباشرت دعا : په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله ښځې سره د مباشرت دعا ذکر فرمائیلې ده. حاصل دا دې چه جنسی تقاضې په جائز طریقه سره پوره کولو کښې هم د الله پاک نه دعا کول پکار دی او غافل نه دی اوسیدل پکار، ګینې عموما دا حالت د د مستئ او بې خیالئ وی خو د یو مومن د ژوند په ټولو لمحاتو کښې یوه لمحه هم د الله پاک د ذکر او د خپل فکر نه خالی نه دی کیدل پکار. او په دې حالت کښې رسول الله ﷺ خپل امت ته د ډیرې ښکلې دعا تعلیم ورکړې دې، الله اکبر!

۵۵: باب قَوْلِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً»

[۶۰۲۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». [ر: ۴۲۵۰]
د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه د رسول الله ﷺ اکثریه دعا دا وه : ﴿ اللهم ربنا اتنا ... ﴾

[1]) صحیح البخاری، کتاب المغازی، باب اذا همت طائفتان منکم او تفشلا والله ولیهما، رقم الحدیث : ۴۰۵۲

يعنى اې الله ! مونږ ته په دنيا كښې خير راكړه (او په آخرت كښې هم خير راكړه) او مونږ د دوزخ د عذاب نه بچ كړه.

يو جامع قرانى دعا: په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله يو جامع قرآنى دعا ذكر فرمائيلې ده چه د هغې ورد به رسول الله ﷺ په كثرت سره كولو. په دې دعا كښې په دنيا او آخرت كښې د الله پاک نه حسنة طلب كړې شوې ده او د جهنم نه پناه طلب كړې شوې ده، په دنيا كښې دننه د حسنه نه مراد په ايمان او اسلام سره عافيت، نيكه ښځه او اولاد دې او د آخرت حسنة جنت او نجات ابدى دې.[1]

۵۶: بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا

[۶۰۲۷] حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ - رضى الله عنه - قَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُعَلِّمُنَا هَؤُلاَءِ الْكَلِمَاتِ كَمَا تُعَلَّمُ الْكِتَابَةُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ نُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْرِ». [ر: ۲۶۶۷]

حضرت مصعب بن سعد بن ابى وقاص د خپل پلار (سيدنا سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه) نه روايت كوى چه هغوى بيان اوكړو چه مونږ ته به رسول الله ﷺ دا كلمات داسې ښودل. څنګه چه ليكلې ښودلې شى. «اللهم انى اعوذبك ...» يعنى اې الله ! زه ستا پناه غواړم د بخل نه. او ستا پناه غواړم د بزدلئ نه، او ستا پناه غواړم د دې خبرې نه چه د عمر ذليل ترين مرحلې طرف ته واپس كړې شم او ستا پناه غواړم د دنيا د فتنې او د عذاب قبر نه.

۵۷: بَابُ تَكْرِيرِ الدُّعَاءِ

[۶۰۲۸] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُنْذِرٍ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - طُبَّ حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ قَدْ صَنَعَ الشَّىْءَ وَمَا صَنَعَهُ، وَإِنَّهُ دَعَا رَبَّهُ ثُمَّ قَالَ «أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «جَاءَنِي رَجُلاَنِ فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَىَّ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ. قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ. قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِي مُشُطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ. قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي ذَرْوَانَ، وَذَرْوَانُ بِئْرٌ فِي بَنِي زُرَيْقٍ». قَالَتْ فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ «وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ

[1] فتح البارى : ۱۹۲/۱۱

الشَّيَاطِينِ». قَالَتْ فَأَتَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَخْبَرَهَا عَنِ الْبِئْرِ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَهَلاَّ أَخْرَجْتَهُ قَالَ «أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي اللَّهُ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا».
زَادَ عِيسَى بْنُ يُونُسَ وَاللَّيْثُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُحِرَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَدَعَا وَدَعَا وَسَاقَ الْحَدِيثَ. [ر: ۳۰۰۴]

د سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه په رسول الله ﷺ باندې جادو اوکړې شو. تردئ چه د هغوی به خیال راغلو چه یو کار ئې کړې دې، حال دا چه هغه به ئې نه وو کړې. پس رسول الله ﷺ د خپل رب نه دعا اوکړه، بیا ئې اوفرمائیل (اې عائشه) آیا تاته پته شته چه الله پاک ماته هغه خبره بیان کړه کومه چه ترې ما تپوسله. عائشې رضی الله عنها تپوس اوکړو هغه څه خبره وه یا رسول الله ﷺ! هغوی اوفرمائیل: ماته دوه کسان راغلل. د هغوی نه یو زما د سر طرف ته او دویم زما د خپو طرف ته کیناستلو، د هغوی نه یو د خپل ملګری نه تپوس اوکړو، دې سړی ته څه تکلیف دې؟ دویم اووې: په دوی باندې جادو کړې شوې دې (اولنی) تپوس اوکړو چا جادو کړې دې؟ هغه اووې لبید بن اعصم (یهودی). تپوس ئې اوکړو په څه څیز کښې؟ جواب ئې ورکړو: په ګومنځ کښې او د ګومنځ نه په راختلې شوې ویښتو کښې او د کهجورې په غلاف کښې. (اولنی) تپوس اوکړو: هغه چرته دی (دویم اووې) په ذروان کښې، ذروان په بنو رزیق کښې یو کوهې دې، د عائشې رضی الله عنها بیان دې چه رسول الله ﷺ هغه کوهی ته تشریف یوړلو بیا عائشې رضی الله عنها ته واپس شو. نو وې فرمائیل قسم په الله د هغې اوبه د نچوړ شوې نکریزو په شان سرې دی، او د هغې په خوا کښې د کهجورو اونې ګویا د شیطانانو سرونه دی، د عائشې رضی الله عنها بیان دې چه رسول الله ﷺ واپس راغلو او د کوهی حالت ئې بیان کړو نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! تاسو هغه ولې او نه ویستلو؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله پاک ماته شفاء راکړه او ما بنه او نه ګڼړله چه په خلقو باندې شر رابیدار کړم، عیسی بن یونس او لیث د هشام نه په واسطه د عروه عن عائشه نقل کړې دې چه په رسول الله ﷺ باندې چا جادو اوکړو، نو رسول الله ﷺ دعا اوفرمائیله، بیا ئې حدیث بیان کړو.

بار بار دعا کول مستحب دی: رسول الله ﷺ به بار بار دعا فرمائیله، په دعا کښې تکرار رسول الله ﷺ ته خوښ وو، په سنن ابی داؤد او سنن نسائی کښې د سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دې چه د رسول الله ﷺ درې کرته دعا کول او درې کرته استعمال کول خوښ وو. (۱)

په باب کښې چه امام بخاری رحمه الله کوم روایت ذکر کړې دې هغه د دې نه مخکښې په کتاب الطب کښې تیر شوې دې، په روایت الباب کښې د دعا تکرار نشته. بلکه «دعا ربه» الفاظ دی، خو د کتاب الطب په روایت کښې «دعاالله ودعاه» مکرر راغلې دې. (۲)

(۱) سنن ابی داؤد، کتاب الوتر، باب الاستغفار، رقم الحدیث: ۱۵۲٤
(۲) فتح الباری، ۱۹۳/۱۱، هم دغه شان اوګورئ کشف الباری کتاب الطب: ۱۰٤

هم دغه شان د امام مسلم رحمه الله په روايت كښې دی ﴿ فدعاثم دعا ﴾... امام بخاری رحمه الله هم د دې روايت طرف ته اشاره فرمائيلې ده او د دې مناسبت د ترجمة الباب سره واضح دې.

۵۸: باب الدُّعَاءِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ

وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ». [ر: ۹۶۲]

وَقَالَ «اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِأَبِي جَهْلٍ». [ر: ۲۳۷] .

وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ دَعَا النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فِي الصَّلَاةِ « اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا » . حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ) ال عمران: ۱۲۸_ [ر: ۳۸۴۲]

رسول الله ﷺ د مشركانو او كفاردو دپاره بددعا فرمائيلې ده، په دې باب كښې امام بخاری رحمه الله هغه روايتونه جمع كړې دی چه په هغې كښې رسول الله ﷺ د يو كافر او مشرك دپاره بددعا كړې وی.

په ترجمة الباب كښې ئې درې تعليقات ذكر فرمائيلې دی، اول تعليق د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دی ﴿ اللهم اعنی عليهم ﴾ «اې الله ! ته د هغوی په مقابله كښې زما مدد اوكړه»، دا تعليق امام بخاری رحمه الله په استسقاء كښې موصولا ذكر كړې دې. (۱)

دويم تعليق هم د هغوی دې ﴿ اللهم عليك بابی جهل ﴾ «اې الله ! ته ابوجهل راونيسه»، امام بخاری رحمه الله په كتاب الطهارة كښې دا تعليق هم موصولا نقل كړې دې. (۲)

او دريم تعليق. د سيدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې، دا هم امام بخاری رحمه الله په كتاب التفسير كښې موصولا نقل كړې دی. (۳)

[۲۰۲۹] حَدَّثَنَا ابْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنِ ابْنِ أَبِي خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى - رضى الله عنهما - قَالَ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الْأَحْزَابِ فَقَالَ «اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، سَرِيعَ الْحِسَابِ، اهْزِمِ الْأَحْزَابَ، اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ». [ر: ۲۷۷۵]

د سيدنا ابن ابی اوفی رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د كفارو د مختلف جماعتونو او احزاب دپاره بددعا كړې ده او فرمائی چه اې الله! كوم چه كتاب لره نازلونكې ئې، او زر حساب اخستونكې ئې، لښكرو ته شكست وركړه، هغوی ته شكست وركړه، هغوی متزلزل

(۱) صحيح البخاری، كتاب الاستسقاء، باب دعاء النبی : اجعلها عليهم سنين كسنی يوسف، رقم الحديث : ۱۰۰۷

(۲) صحيح البخاری، كتاب الطهارة، باب القی علی ظهر المصلی قذر او جيفة لم تفسد عليه صلاته، رقم الحديث : ۲٤۰

(۳) صحيح البخاری، كتاب التفسير، باب ﴿ ليس لك من الامر شئ ﴾، رقم الحديث : ٤۵۵۹

کړه، (خپې ئې اوخويوه).
د امام بخاری رحمه الله د شيخ نوم محمد بن سلام (د لام په تخفيف سره) دې، د ابن ابی خالد نه اسماعيل بن ابی خالد مراد دې، د ابو خالد نوم سعيد يا هرمز دې، د ابن ابی اوفی نوم عبدالله دې، او د ابو اوفی نوم علقمه دې، يعنی عبدالله بن علقمة، دا دواړه صحابه دی (۱)

[۲۰۳۰] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا قَالَ «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ». فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنْ صَلاَةِ الْعِشَاءِ قَنَتَ «اللَّهُمَّ أَنْجِ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، اللَّهُمَّ أَنْجِ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، اللَّهُمَّ أَنْجِ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ». [ر: ۹۲۱]

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې هغوی بيان اوکړو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به چه کله د ماسخوتن په آخری رکعت کښې ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اووې نو قنوت به ئې لوستل. اې الله: عياش بن ربيعه ته نجات ورکړه، يا الله وليد بن وليد ته خلاصې ورکړه، اې الله: سلمه بن هشام ته نجات ورکړه، اې الله: کمزورو مسلمانانو ته خلاصې ورکړه، يا الله: قبيله مضر سخت راونيسه؛ اې الله: دا (کافران) د يوسف عليه السلام (قحط سالئ) په شان په قحط سالئ کښې اخته کړه.

[۲۰۳۱] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - سَرِيَّةً يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ فَأُصِيبُوا، فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَجَدَ عَلَى شَىْءٍ مَا وَجَدَ عَلَيْهِمْ، فَقَنَتَ شَهْرًا فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ وَيَقُولُ «إِنَّ عُصَيَّةَ عَصَوُا اللَّهَ وَرَسُولَهُ». [ر: ۹۵۷]

د سيدنا انس رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم يو وړوکې شان دسته اوليږله، هغه خلقو ته به قاريان وئيلې کيدل هغوی قتل کړې شو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دومره غمژن شو چه ما په يو واقعه باندې هم رسول الله صلی الله عليه وسلم دومره غمژن نه دې ليدلې، پس په مانځه کښې ئې تر يوې مياشتې پورې قنوت لوستلو اوې فرمائيل به ئې: قبيله عصيه د الله او د هغه د رسول نافرمانی اوکړه.

د ابو الاحوص نوم سلام (بتشديد اللام) بن سليم دې. او عاصم نه عاصم بن سليمان احول مراد دې. (۲)

﴿عصية﴾ دا د عصا تصغير دې او د عربو مشهوره قبيله ده. (۳)

۱) عمدة القاری، ۱۷/۲۳. وفتح الباری
۲) عمدة القاری: ۱۸/۲۳
۳) عمدة القاری: ۱۸/۲۲

[۲۰۳۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- قَالَتْ كَانَ الْيَهُودُ يُسَلِّمُونَ عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُونَ السَّامُ عَلَيْكَ. فَفَطِنَتْ عَائِشَةُ إِلَى قَوْلِهِمْ فَقَالَتْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ. فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «مَهْلاً يَا عَائِشَةُ، إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ». فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا يَقُولُونَ قَالَ «أَوَلَمْ تَسْمَعِي أَنِّي أَرُدُّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَأَقُولُ وَعَلَيْكُمْ». [ر: ۲۷۷۷]

د سيده عائشه ﷷ نه روايت دې چه يهودو به رسول الله ﷺ ته سلام كولو نو ونيل به ئې (السام عليك) سيده عائشه ﷷ د هغوى په خبره باندې پوهه شوه. نو هغې اوفرمائيل هم په تاسو باندې دې لعنت او هلاكت وى. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې عائشه پريږده: الله پاک په ټولو امورو كښې نرمى خوښوى. عائشې ﷷ عرض اوكړو: يا رسول الله ﷺ: تاسو واونريدل: كومه خبره چه دې خلقو اوكړه؛ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا تا واونريدل څه چه ما دې خلقو ته اووې. ما اووې: (وعليكم) يعنى هم په تاسو دې وى

دا حديث په كتاب الاستيذان كښې تير شوې دې. په سند كښې د هشام نه هشام بن يوسف مراد دې.

[۲۰۳۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ -رضي الله عنه- قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ الْخَنْدَقِ، فَقَالَ «مَلأَ اللَّهُ قُبُورَهُمْ وَبُيُوتَهُمْ نَارًا، كَمَا شَغَلُونَا عَنْ صَلاَةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ». وَهْىَ صَلاَةُ الْعَصْرِ. [ر: ۲۷۷۳]

د سيدنا على بن ابى طالب ﷺ نه روايت دې چه مونږ د غزوه خندق په ورځ د رسول الله ﷺ سره وو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه الله پاک دې د هغوى قبرونه او د هغوى كورونه د اور نه ډک كړى. څنګه چه دې خلقو مونږ د صلاة الوسطى نه د نمر پريوتلو پورې منع كړو. د مينځنى مونځ نه مراد صلاة عصر دې

په سند كښې د امام بخارى ﷫ شيخ الشيخ انصارى دې. د دې نه مراد محمد بن عبدالله دې. كوم چه د بصرې قاضى وو. دا د امام بخارى ﷫ د استاذانو نه وو. خو دا روايت امام بخارى ﷫ د هغوى نه بالواسطه نقل كړې دې او عبيده (د عين په زبر او د باء په زير سره) عبيده بن عمرو يا عبيده بن قيس مراد دې.[۱] دا حديث په غزوه خندق كښې تير شوې دې.

د احاديث الباب مناسبت د ترجمة الباب سره بالكل ظاهر دې چه رسول الله ﷺ په هر روايت كښې د يو مشرک. يا د مشركانو د يو جماعت دپاره بددعا فرمائيلې ده.

[۱]) عمدة القاري: ۱۹/۲۲

۵۹: باب الدّعاء للمشركين

[۲۰۳۴] حَدَّثَنَا عَلِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَدِمَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ دَوْسًا قَدْ عَصَتْ وَأَبَتْ، فَادْعُ اللَّهَ عَلَيْهَا. فَظَنَّ النَّاسُ أَنَّهُ يَدْعُو عَلَيْهِمْ، فَقَالَ «اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ». [ر: ۲۷۷۹]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه طفيل بن عمر الدوسي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو يا رسول الله ﷺ: دوس نافرمانى اوكړه او انكار ئې اوكړو په دې وجه تاسو د هغوى په حق كښې بد دعا اوكړئ. د خلقو خيال وو چه رسول الله ﷺ به د هغوى دپاره بددعا كوى (خو) رسول الله ﷺ اوفرمائيل يا الله: دوس ته هدايت وركړه او هغوى (ماته) راوله.

د ترجمة الباب غرض: د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه د مشركانو او كفارو دپاره كه د هدايت او ايمان سوال اوكړې شى نو جائز ده او د رسول الله ﷺ نه ثابت ده. په سند كښې د ابوالزناد نوم عبدالله بن ذكوان دې روايت الباب په كتاب المغازى كښې تير شوې دې (۱)

په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د رسول الله ﷺ يو دعا نقل فرمائيلې ده.

۶۰: باب قَوْلِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ»

چه په هغې كښې رسول الله ﷺ د الله پاک نه د ځان دپاره د مغفرت دعا كړې ده.

يو اشكال او د هغې جواب: په دې باندې اشكال كيدې شى چه رسول الله ﷺ خو د گناهونو نه معصوم دې. نو د هغوى په حق كښې د دعا څه معنى ده؟

① د دې يو جواب خو دا كړې شوې دې چه دا استغفار او دعا كول په طور د شكر او تواضع وه او د عبديت د اظهار په طور وه. يعنى اگر چه الله پاک د رسول الله ﷺ د ټولو گناهونو نه د حفاظت او مغفرت فيصله فرمائيلې ده خو د الله پاک هم د دې خصوصى كرم او فضل د تقاضې په بناء به رسول الله ﷺ د مغفرت دعا فرمائيله او الله پاک هم رسول الله ﷺ ته په سورة النصر كښې د استغفار كولو حكم وركړو: ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ﴾، بلكه دا چه دعا كول پخپله يو عبادت دې. بلكه په حديث كښې خو دې ته ﴿مخ العبادة﴾ وئيلې شوې ده. (۲)

② دويم جواب دا وركړې شوې دې چه رسول الله ﷺ اگر چه د گناهونو نه معصوم وو. خو

---

(۱) كشف البارى، كتاب المغازى: ۶۱۳

(۲) فتح البارى ۲۳۷/۱۱، وارشاد السارى ۳۹۴/۱۳، وقال العينى: هذا ارشاد لامته وتعليم لهم، وهو معصوم عن الذنوب جميعها قبل النبوة وبعدها. عمدة القارى: ۲۹/۲۳

ویر کړنه خلاف افضل او خلاف اولی امور به د رسول الله ﷺ نه اوشو. مثلا فاضل ته به نې په افضل باندې ترجیح ورکړه. او اګر چه داسې د یو امر صادریدل د معصیت په شمیر کښې نه راځي. خو د ﴿حسنات الابرار سیئات المقربين﴾ د قاعدې مطابق به نې دا په خپل حق کښې سیئه ګڼړله او استغفار به ئې کولو.[۱]

[۶۰۳۵، ۶۰۳۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ كَانَ يَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ «رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي كُلِّهِ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطَايَايَ وَعَمْدِي وَجَهْلِي وَهَزْلِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».
وَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ وَحَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-

ابو اسحاق بن موسی د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ به دا دعا لوستله ﴿رب اغفرلی...﴾

یعنی اې زما ربه: زما غلطی. ناپوهی. او په ټولو معاملاتو کښې د حد نه تجاوز کول او څه چه تاته زما متعلق معلوم دی. په هغې کښې زما مغفرت اوکړه. اې الله: زما مغفرت اوکړه. زما د غلطیانو. زما بالقصد او په ناپوهئ سره کیدونکې کوتاهیانې. زما د خندا. مزاح د کارونو چه دا ټول ما سره دی. یعنی زه په دې خطاګانو سره متصف یم. اې الله: زما مخکښې روستو او پټې او ښکاره ګناهونو مغفرت اوفرمایه. هم ته وړاندې کونکې او روستو کونکې ئې او ته په هر څیز باندې قادر ئې.

د عبدالملک بن صباح درجه ثقاهت: د عبدالملک بن صباح په صحیح بخاری کښې صرف یو روایت دی.[۲] امام ابوحاتم رازی د هغوی دپاره د صالح لفظ استعمال کړې دې. دا اګر چه د توثیق الفاظ دی خودا لفظ د آخری او بالکل سپکې درجې د توثیق دپاره استعمالیږی.[۳] خو د امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام مسلم رحمه الله هم د هغوی روایت ذکر کړې دې.[۴] او د شیخین د یو راوی روایت لره ذکر کول د دې خبرې دلیل دې چه په ثقاهت کښې د هغه درجه معمولی او آخری نه ده.

قوله: ﴿كَانَ يَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ﴾: دا دعا به رسول الله ﷺ کوم وخت کوله. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د روایت په هیڅ طریق کښې د دې محل متعین نه شو خو په بعض نورو

[۱]) روح المعانی: ۹۱/۱۶ (تفسیر سورة الفتح)
[۲]) فتح الباری: ۱۹۷/۱۱
[۳]) فتح الباری: ۱۹۷/۱۱
[۴]) فتح الباری: ۱۹۷/۱۱

روایاتو کښې دی چه دا دعا به رسول الله ﷺ د مانځه په آخر کښې لوستله، د سلام نه مخکښې او د تشهد نه پس یا د سلام او د مانځه نه د فارغ کیدو نه پس. دواړو طریقو سره ثابت ده.[۱]

قوله: ﴿وَقَالَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ﴾: عبیدالله بن معاذ د امام بخاری رحمه الله شیخ دې.؟ امام بخاری رحمه الله دا دلته تعلیقا ذکر کړې دې. امام مسلم رحمه الله دا موصولا د حدیث د تصریح سره ذکر کړې دې.[۲]

[۶۰۳۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُوسَى وَأَبِي بُرْدَةَ -أَحْسِبُهُ- عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ كَانَ يَدْعُو «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي هَزْلِي وَجِدِّي وَخَطَايَ وَعَمْدِي وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي»

سیدنا ابوموسی اشعری رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ به دا دعا فرمائیله اې الله: زما غلطی. زما ناپوهی. په معاملاتو کښې زما د حد نه تیریدل او کومه کوتاهی چه تاته زما متعلق معلومه ده. د هغې ټولو مغفرت اوکړه. اې الله : زما مزاح او بالقصد غلطی او بالقصد گناه مغفرت اوکړه چه زه د دې ټولو سره متصف یم

د حدیث الباب درې طریق : امام بخاری رحمه الله په حدیث الباب کښې درې طریق ذکر کړې دی:

① اول طریق محمد بن بشار دې. په دې کښې ابن ابی موسی دې.

② دویم طریق عبید الله بن معاذ دې. په دې کښې ابی بردة عن ابی موسی دې

③ دریم طریق د محمد بن المثنی دې. په دې کښې ابی بکر بن ابی موسی او ابی بردة عن ابی موسی دواړه دی. دریم طریق کښې د سیدنا ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه دا حدیث د هغوی دواړو ځامنو ابوبکر او ابو بردة نقل کوی.

٦١: بَابُ الدُّعَاءِ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ

د جمعې په ورځ د قبولیت ساعت : د جمعې په ورځ الله پاک یو ساعت داسې مقرر کړې دې چه په هغې کښې هره دعا اوکړې شی. هغه قبلیږی. هغې ته (ساعة اجابة) وئیلې شی. امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې هم هغه بیان کړې دې. اوس دا ساعت په کوم وخت کښې وی؟ په دې سلسله کښې د څلویښتو نه زیات اقوال دی.[۳] رسول الله ﷺ د دې په باره کښې فرمائی : ﴿إِنِّي كُنْتُ أَعْلَمُهَا ثُمَّ أُنْسِيتُهَا كَمَا أُنْسِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ﴾[۴]

---

[۱]) فتح الباری : ۱۱/۱۹۷

[۲]) فتح الباری : ۱۱/۱۹۷

[۳]) فتح الباری : ۱۱/۱۹۹

[۴]) فتح الباری : ۱۱/۱۹۹

يعنى ماته ددې علم وو. خو بيا مانه دا د ليلة القدر په شان هير كړې شو
سحر د مانخه نه مخكښې. د سحر مانخه نه پس. د زوال په وخت. د دواړو خطبو ترمينځه په وقفه كښې او د مازيګر د مانخه نه تر مابنام پورې اوقاتو كښې د قبوليت د دې ساعت امكانات زيات ښودلې شوې دی. (١)

د دې ساعت په پټ ساتلو كښې راز هم دا دې چه خلق تهوله ورځ اهم اوګڼرى او په اطاعت او عبادت كښې اخته وى. (٢)

[٦٠٣٧] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ - صلى الله عليه وسلم - «فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةٌ لاَ يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ خَيْرًا إِلاَّ أَعْطَاهُ». وَقَالَ بِيَدِهِ قُلْنَا يُقَلِّلُهَا يُزَهِّدُهَا. [ر: ۸۹۳]

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه ابوالقاسم ﷺ اوفرمائيل: د جمعې په ورځ يو داسې ساعت دې. كوم مسلمان چه هغه په داسې حال كښې بيا مومى چه هغه ولاړ مونځ كوى نو چه كوم خير هغه اوغواړى. الله پاک به ئې ورته وركړى او په خپل لاس سره ئې اشاره اوكړه او مونږ په دې اشارې سره دومره پوهه شو چه رسول الله ﷺ د دې ساعت مختصر والى ته اشاره فرمائى.

قوله: ﴿قُلْنَا يُقَلِّلُهَا يُزَهِّدُهَا﴾: يعنى مونږ په زړه كښې اووې چه رسول الله ﷺ د دې ساعت كم والى ته اشاره فرمائى. ﴿يُزَهِّدُهَا﴾ د ﴿يُقَلِّلُهَا﴾ تفسير دې.

٦٣: باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «يُسْتَجَابُ لَنَا فِي الْيَهُودِ، وَلاَ يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِينَا»

د يهود متعلق د دعا قبوليت: يعنى د يهودو په باره كښې چه مونږ كومه دعا كوو. هغه قبليږى ځكه چه هغه حق دعا وى. خو د يهودى دعا زمونږ په باره كښې نه قبليږى ځكه چه هغه دعا حق نه وى. په دې كښې ئې دې طرف ته اشاره اوكړه چه الله پاک دعاګانې قبلوى كومې چه صحيح او حق وى او كومه دعا چه شرعى لحاظ سره صحيح نه وى او د ظلم وى. هغه نه قبليږى.

[٦٠٣٨] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها أَنَّ الْيَهُودَ أَتَوُا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكَ. قَالَ «وَعَلَيْكُمْ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ السَّامُ عَلَيْكُمْ، وَلَعَنَكُمُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَهْلاً يَا عَائِشَةُ، عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ، وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ أَوِ الْفُحْشَ». قَالَتْ

---

(١) عمدة القاري ۲٤۳/٦

(٢) فتح الباري: ٤١٧/١١، وعمدة القاري: ۲٤۳/٦

أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ «أَوَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ، فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ، وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ» [ر: ۲۷۷۷]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه یهود د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او وې وئیل (السَّامُ عَلَيْكُمْ) رسول الله ﷺ اوفرمائیل (وعلیکم)، عائشې رضی الله عنها اوفرمائیل: (السَّامُ عَلَيْكُمْ وَلَعَنَكُمُ اللهُ وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ) (په تاسو دې هلاکت وی. او الله پاک دې په تاسو لعنت اوکړی او په تاسو دې خپل غضب نازل کړی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې عائشه! پریږده، نرمی اختیار کړه او د سختئ نه ځان ساته. یا ئې اوفرمائیل: د بدو خبرو نه بچ شه. عائشې رضی الله عنها عرض اوکړو: آیا تاسو وانوریدل چه دې یهودیانو څه اووې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: تا وانوریدل چه ما څه جواب ورکړو پس ما د هغوی خبره هم په هغوی باندې واپس کړه. زما دعا د هغوی په حق کښې قبلیږی. خو د هغوی دعا زما په حق کښې نه قبلیږی.

په سند کښې د ایوب سختیانی شیخ ابن ابی ملیکة دې. د هغوی نوم عبد الله بن عبد الرحمن بن ابی ملیکة دې.

۶۳: باب التَّأْمِين

[۲۰۳۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ حَدَّثَنَاهُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِذَا أَمَّنَ الْقَارِئُ فَأَمِّنُوا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تُؤَمِّنُ، فَمَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ». [ر: ۷۳۷]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه کله لوستونکې (یعنی امام) آمین اووائی نو تاسو هم آمین وایئ، ځکه چه ملائک هم امین وائی. نو د کوم سړی آمین وئیل چه د ملائکو د امین وئیلو سره موافق شی نو د هغه به مخکښې ټول ګناهونه معاف کړې شی.

د لفظ امین تحقیق: د آمین په باره کښې بعضو وئیلې دی چه دا غیر عربی، سریانی یا د عبرانئ ژبې کلمه ده، خو د اکثرو حضراتو رائې دا ده چه دا! غیر عربی لفظ دې او د دې معنی ده: (اللهم استجب) (اې الله! قبول کړه) د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه دا معنی منقول ده.[1] دا اسم فعل دې

بعض وئیلې دی چه دا د الله پاک د اسمی حسنی نه دې خو دا قول ضعیف دې. ځکه چه د الله پاک اسماء توقیفی دی او په هغې کښې د دې ذکر نشته.[2]

امام حاکم په مستدرک کښې د حبیب بن مسلمه نه روایت نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ

---

[1]) ارشاد الساری: ۳۹۵/۱۳

[2]) ارشاد الساری: ۳۹۵/۱۳

اوفرمائيل : ﴿ لَايَجْتَمِعُ مَلَأٌ فَيَدْعُو بَعْضُهُمْ، وَيُؤَمِّنُ الْبَعْضُ، إِلَّا أَجَابَهُمُ اللهُ تعالى ﴾ [۱] يعنى چه په كوم مجلس كښې يو سړې دعا اوكړى او نور پرې آمين وائى نو الله پاک هغه دعا قبلوى

او د يو بزرگ قول دې ﴿ آمين كنز من كنوز الجنة ﴾ [۲] يعنى آمين د جنت د خزانو نه يو خزانه ده

۶۴: باب فَضْلِ التَّهْلِيلِ

د تهليل فضيلت : د تهليل معنى ﴿ لا اله الا الله ﴾ وئيل. په دې باب كښې د ﴿ لا اله الا الله ﴾ فضيلت بيان كړې شوې دې. علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى :

﴿ وهى الكلمة العليا التى يدور عليها رحى الإسلام والقاعدة التى تبنى عليها أركان الدين وانظر إلى العارفين وأرباب القلوب كيف يستأثرونها على سائر الأذكار وما ذاك إلا لما رأوا فيها من الخواص التى لم يجدوها فى غيرها ﴾ [۳]

يعنى : ﴿ لا اله الا الله ﴾ داسې عاليشان كلمه ده. چه په هغې باندې د اسلام جرنده تاويږى. او دا د دين د اركانو بنياد دې. عارفين او ارباب قلوب اوګورئ خنګه دا حضرات دې ته په نورو اذكارو باندې ترجيح وركوى او د دې خبرې بله هيڅ وجه نشته مګر هم دا چه په دې كښې كوم خواص دى هغه په نورو اذكارو كښې هغوى ته ملاؤ نه شو

بعض حضراتو تسبيح ته د تهليل په مقابله كښې ترجيح وركړې ده. خو صحيح قول دا دې چه تهليل افضل دې. ځكه ﴿ لا اله الا الله ﴾ ته په حديث كښې افضل وئيلې شوې دې [۴]

۶۰۴۰ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ سُمَىٍّ عَنْ أَبِى صَالِحٍ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ. فِى يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ، حَتَّى يُمْسِىَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ» [۳۱۱۹. ۶۰۴۱]

د سيدنا ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چا چه ﴿ لَا إِلَـٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ په يوه ورځ كښې سل كرته اووې نو هغه ته به د لسو غلامانو (د آزادولو) ثواب ملاؤ شى او سل ګناهونه به ئې معاف كړې شى. او په هغه

---

[۱] المستدرک للحاكم : كتاب معرفة الصحابة، مناقب حبيب بن مسلمة الفهرى : ۳۴۷/۳ (اسناده صحيح فان ابن لهيعة ثقة فى رواية العبادلة عنه)

[۲] ارشاد السارى : ۳۹۶/۱۳

[۳] ارشاد السارى : ۳۹۷/۱۳

[۴] فتح البارى : ۱۴۸/۱۱

ورځ به تر ماښام پورې د شیطان نه محفوظ وی او د هغه نه به یو انسان هم افضل نه وی مګر هغه سړې چه د دې نه زیات ئې اولولی.

[۶۰۴۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ مَنْ قَالَ عَشْرًا كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ.

قَالَ عُمَرُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ رَبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ مِثْلَهُ. فَقُلْتُ لِلرَّبِيعِ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ فَقَالَ مِنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ. فَأَتَيْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ فَقُلْتُ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ فَقَالَ مِنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى. فَأَتَيْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى فَقُلْتُ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ فَقَالَ مِنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ يُحَدِّثُهُ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-

وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَوْلَهُ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-

وَقَالَ مُوسَى حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ دَاوُدَ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ أَبِي أَيُّوبَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. وَقَالَ إِسْمَاعِيلُ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ الرَّبِيعِ قَوْلَهُ.

وَقَالَ آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ سَمِعْتُ هِلاَلَ بْنَ يَسَافٍ عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ وَعَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَوْلَهُ.

وَقَالَ الأَعْمَشُ وَحُصَيْنٌ عَنْ هِلاَلٍ عَنِ الرَّبِيعِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَوْلَهُ.

وَرَوَاهُ أَبُو مُحَمَّدٍ الْحَضْرَمِيُّ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. [ر: ۶۰۴۰]

قوله: (مَنْ قَالَ عَشْرًا كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ): یعنی چا چه دا کلمه لس کرته اولوستله نو د هغه اجر دومره دې. څومره چه د اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې د غلام آزادولو دې

د حدیث د مختلف طرق وضاحت: امام بخاری رحمه الله د حدیث مختلف طرق موصولا او تعلیقا بیان کړل.

① اول طرق دا دي: عبدالله بن محمد، عبدالملك بن عمرو، عمر بن ابي زائدة، ابو اسحاق، عمرو بن ميمون،

(د عمر بن ابی زائده نوم خالد یا میسره دې او دا د مشهور محدث زکریا بن ابی زائده رور دې. او د ابو اسحاق نه عمرو بن عبدالله السبیعی مرا دې. دا په صغار تابعینو کښې دې او د هغوی شیخ عمرو بن میمون، په کبار تابعینو کښې دې.[1]

② دویم طریق دا دي (عبدالله بن محمد، عبدالملك بن عمرو، عمر بن ابي زائدة، عبدالله بن ابي السفر، شعبي، ربيع بن خثيم)

[1]) عمدة القاری ۳۴/۲۳، ۳۵

حاصل دا دې چه د عمر بن ابی زائده دوه شیوخ دی. یو ابو اسحاق. د هغوی نه اول طریق دې او هغه موقوف دې. دویم عبدالله بن ابی السفر. د هغوی دویم طریق دې او هغه مرفوع دې. چونکه په دې طریق کښې وړاندې دی. ﴿ فَقُلْتُ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ فَقَالَ مِنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ يُحَدِّثُهُ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَوْلَهُ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ﴾
په دې کښې د ربیع بن خثیم شاګرد شعبی عامر بن شراحیل د خپل استاذ نه حدیث اوریدلو نه پس تحقیق اوکړو چه تاسو دا حدیث د چا نه اوریدلې دې. نو هغوی د عمرو بن میمون حواله ورکړه. .... چه هغوی ته لاړو نو هغوی د عبدالرحمن بن ابی لیلی حواله ورکړه نو دوی هلته اورسیدل. پس هغوی د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه مرفوعا دا حدیث بیان کړو. دغه شان په تحقیق کولو باندې ئې دا حدیث د عبدالرحمن بن ابی لیلی په واسطه د ابوایوب انصاری رضی الله عنه نه مرفوعا حاصل کړو.

③ ﴿ وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَوْلَهُ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ﴾

دا دریم طریق دې او دا هم مرفوع دې. اول طریق موقوف وو. په هغې کښې ﴿ ابی اسحاق عن عمرو بن میمون ﴾ عنعنه وه او په دې دریم طریق کښې ﴿ حدثنی عمرو بن میمون ﴾ په الفاظو سره د تحدیث تصریح ده. [1]

④ ﴿ وَقَالَ مُوسَى، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ دَاوُدَ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ﴾

دا څلورم طریق هم مرفوع دې. موسی بن اسماعیل. د امام بخاری رحمه الله شیخ دې. د وهیب بن خالد شیخ داؤد بن ابی هند دې. او د هغوی شیخ عامر شعبی رحمه الله دې. دا امام بخاری رحمه الله په طور د تعلیق ذکر کړې دې. دا تعلیق ابوبکر بن ابی خیثمه په خپل تاریخ کښې ذکر کړې دې. [2] په دې طریق کښې د عامر شعبی او د عبدالرحمن بن ابی لیلی ترمینځه د باقی واسطو ذکر نشته. لکه چه په بل طریق کښې دی.

⑤ ﴿ وَقَالَ إِسْمَاعِيلُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ الرَّبِيعِ ﴾
دا پنځم طریق هم موقوف دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د ابن المبارک په زیادات الزهد کښې دا طریق موصولاً او مرفوعاً واقع دې، د امام بخاری رحمه الله مقصد هم دې طریق طرف ته اشاره کول دی. [3]

---

[1] فتح الباری : ۲۴۳/۱۱

[2] عمدة القاری : ۳۶/۲۳

[3] فتح الباری : ۲۴۳/۱۱، ۲۴۴

﴿٦﴾ ﴿ وَقَالَ آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَيْسَرَةَ سَمِعْتُ هِلاَلَ بْنَ يَسَافٍ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ وَعَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَوْلَهُ ﴾
دا شپږ طريق دې. آدم بن اياس، د امام بخاري رحمه الله شيخ دې. خو دلته ئې دا تعليقا ذکر کړې دې. په سنن دارقطني کښې دا موصولا واقع دې [1]. په دې طريق کښې دا حديث: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه موقوفا روايت شوې دې. او د ربيع او عمر دواړو شيخ سيدنا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دې.

﴿٧﴾ ﴿ وَقَالَ الأَعْمَشُ وَحُصَيْنٌ عَنْ هِلاَلٍ، عَنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ قَوْلَهُ ﴾
د اعمش نوم سليمان بن مهران دې. امام نسائي رحمه الله دا تعليق موصولا نقل کړې دې [2] او په دې طريق کښې دا حديث مرفوع نه دې. بلکه موقوف دې. يعنی د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د قول په طور دا پيش کړې شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته د دې نسبت اونکړې شو.

﴿٨﴾ ﴿ وَرَوَاهُ أَبُو مُحَمَّدٍ الْحَضْرَمِيُّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ ﴾
ابو محمد خضرمی. د سيدنا ابو ايوب انصاری رضي الله عنه خادم خاص وو. د هغوی نوم نه دې معلوم شوې. علامه مزی د هغوی نوم افلح ليکلې دې [3] په صحيح بخاری کښې د دې تعليق نه علاوه د هغوی بل روايت نشته [4].
امام احمد رحمه الله دا تعليق موصولا نقل کړې دې [5].

﴿ قال ابوعبد الله: والصحيح قول عمرو، قال الحافظ ابوذر الهروی: صوابه عمر، وهو ابن ابی زائدة، قلت: وعلی الصواب ذكره ابوعبد الله فی الاصل كما تراه، لا عمرو ﴾

امام بخاری رحمه الله فرمائی: ﴿ والصحيح قول عمرو ﴾ يعنی د عمرو قول او د هغوی روايت صحيح دې. حافظ ابوذر تصحيح کولو سره اوفرمائيل چه د عمرو په ځائې عمر لفظ صحيح دې او د هغه نه مراد عمر بن ابی زائده دې. پس امام بخاری رحمه الله په اصل نسخه کښې خپله روستو تصحيح کړې ده. پس: ﴿ والصحيح قول عمر ﴾ الفاظ کيدل پکار دی. د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د ابن ابی زائده روايت صحيح دې.
عمر بن ابی زائده. د ابو اسحاق السبيعی شاګرد دې. د ابو اسحاق نه نور هم ډير حضرات دا روايت نقل کوی او د هغوی نور هم ډير شاګردان دی. امام بخاری رحمه الله په هغوی کښې د عمر

---

[1] فتح الباری: ۲٤٤/۱۱
[2] ارشاد الساری: ٤٠٠/۱۳
[3] فتح الباری: ۲٤٥/۱۱
[4] فتح الباری: ۲٤٥/۱۱
[5] ارشاد الساری: ٤٠١/۱۳

بن ابي زائدة روايت ته ترجيح ورکول غواړي. کوم چه امام بخاري رحمه الله دلته په اول طريق کښې ذکر کړې دې.

۶۵: باب فَضْلِ التَّسْبِيحِ

[۶۰۴۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ. فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ».

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: کوم سړې چه (سبحان الله وبحمده) سل کرته اوائي نو د هغه ګناهونه معاف کولې شي. اګر چه هغه د سمندر د ځګ برابر وي.

د تسبيح معنی: د تسبيح معنی ده: د الله پاک پاکي بيانول. يعني کوم څيزونه چه د الله پاک شايان شان نه دی د هغې نه د الله پاک تنزيه او پاکي بيانولو ته تسبيح وائي.

تسبيح افضل دې يا تهليل؟: دلته د باب په اول روايت کښې دی چه (سبحان الله وبحمده) کوم انسان د ورځې سل کرت اوائي نو د هغه به ټول ګناهونه معاف کولې شي. اګر چه د سمندر د ځګ برابر وي، د دې نه معلوميږي چه د تهليل په مقابله کښې تسبيح افضل ده.

خو حقيقت دا دې چه تهليل يعني (لا اله الا الله) وئيل زيات افضل دی. يو خو په دې وجه چه په حديث کښې ورته (افضل الذکر) وئيلې شوې دې، دويم دا هغه په عقيده د توحيد کښې صريح دې. [۱] بله دا چه په تهليل کښې د (عتق رقاب) اجر دې او په حديث کښې راغلی چه چا رقبه ازاد کړو د هغه د هر اندام په عوض کښې به د آزادونکی هر اندام د جهنم نه آزادولې شي. نو دا د جهنم نه د مکمل خلاصئ او آزادئ ذريعه ده. نور فضائل او اجرئې د دې نه علاوه دی. [۲]

[۶۰۴۳] حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ عَنْ عُمَارَةَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ» [۶۴۰۴، ۷۱۲۴]

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کوی چه هغوی اوفرمائيل: دوه کلمې داسې دی چه په ژبه باندې سپکې دی خو په ميزان کښې وزنی دی. او الله پاک ته محبوبې دی. (هغه دا دی). (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم)

---

[۱] ارشاد الساري ۴۰۲/۱۳

[۲] فتح الباري: ۲۴۸/۱۱

امام بخاري رحمه الله دا متن په صحيح بخاري كښې درې ځايه ذكر كړې دې. يو دلته. بله ځايدې په كتاب الايمان والنذور كښې او دريم دريم د صحيح بخارى د ټولو نه د آخرى حديث په طور. هم هلته به د دې تفصيلي بحث راځي انشاء الله!

٦٦: باب فَضْلِ ذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

د ذكر فضيلت: په دې باب كښې امام بخاري رحمه الله د ذكر فضيلت بيان فرمائيلې دې. په ذكر كښې هغه ټولې دعاګانې او مناجات داخل دى كوم چه د الله پاك په مباركو نومونو باندې مشتمل دى. استغفار، تعوذ، علمي مذاكره او د قرآن كريم تلاوت په ذكر الله كښې داخل دى. بلكه د قرآن كريم تلاوت خو د عام اذكار او وظائف په مقابله كښې ډير اعلى او افضل دې. (١)

د ذكر غوره صورت: د ذكر د ټولو نه غوره او كامل صورت دا دې چه انسان د كومو دعاګانو او اذكارو الفاظ لولى. په زړه اودماغ كښې ئې دهغې د معانى استحضار وى. د استحضار قلبى نه بغيرپه ذكرلسانى باندې هم اجر اوثواب دې. خو غوره داده چه زړه ئې هم د ذكر سره مشغول وى.

علامه قرطبى رحمه الله فرمائى:

﴿ والصل الذكر التذكر بالقلب ..... ثم يطلق على الذكر اللسانى من باب تسمية الدال باسم المدلول، ثم كثراستعماله فيه، حتى صار هو السابق للفهم، واصله مع الحضور والمشاهدة ﴾ (٢)

يعنى: اصل ذكر خو په زړه سره يادولو ته وائى خو بيا د ژبې په ذكر باندې هم د دې اطلاق شروع شو. دا د تسمية الدال باسم المدلول د قبيلې نه دې او هم په دې دويمه معنى كښې د دې استعمال په كثرت سره شروع شو، تردې چه اوس د ذكر نه هم دا معنى فهم ته راځى، خو اصل ذكر د زړه په حضور او مشاهدې سره وى.

حافظ ابن حجر رحمه الله د بعض عارفينو په حوالې سره د ذكر اووۀ قسمونه ليكلې دى:

﴿ ذكر العينين بالبكاء وذكر الأذنين بالاصغاء وذكر اللسان بالثناء وذكر اليدين بالعطاء وذكر البدن بالوفاء وذكر القلب بالخوف والرجاء وذكر الروح بالتسليم والرضاء ﴾ (٣)

يعنى: د سترګو ذكر په ژړا سره. د غوږونو ذكر په توجه سره د حق خبرې اوريدل. د ژبې په حمد او ثناء سره. د لاسو د الله پاك په لاره كښې وركړې سره. د بدن د الله پاك د احكامو په پوره كولو سره، د زړه په خوف او رجاء سره او د روح په تسليم او رضاء سره.

---

(١) ارشاد السارى: ٤٠٣/١٣

(٢) شرح الابى على صحيح مسلم ١١١/٧

(٣) فتح البارى: ٢٥١/١١

[۲۰۴۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى -رضي الله عنه- قَالَ قَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ».

د سیدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړې چه خپل رب لره یادوی او کوم چه ئې نه یادوی د هغوی مثال د ژوندی او د مړی دې یعنی یادونکی ژوندې او نه یادونکې مړ دې.

په سند کښې د ابو اسامه نوم حماد بن سلمه دې. او د ابوبرده نوم عامر بن عبدالله بن قیس دې. په حدیث کښې ئې د ذاکر تشبیه د ژوندی سره او د محروم عن الذکر تشبیه د مړی سره ورکړې ده. علامه قسطلانی رحمه الله لیکی:

﴿ شبه الذاكر بالحي الذي يزين ظاهره بنور الحياة وإشراقها فيه وبالتصرف التام فيما يريده وباطنه بنور العلم والفهم والإدراك كذلك الذاكر مزين ظاهره بنور العلم والطاعة وباطنه بنور العلم والمعرفة فقلبه مستقر في حظيرة القدس وسره في مخدع الوصل وغير الذاكر عاطل ظاهره وباطل باطنه ﴾ [1]

یعنی: په حدیث کښې ذکر کونکی ته د ژوندی سره تشبیه ورکړې شوې ده. په داسې طریقه چه څنګه د ژوندی سړی ظاهر د ژوند په نور سره مزین وی او هغه د هغې په بنیاد باندې په خپله مرضئ سره هر قسم تصرف کولې شی. بلکه دا چه د هغه باطن هم علم. فهم او ادراک باندې ډولی وی. هم دغه د ذکر کونکی ظاهر هم د علم او اطاعت رب العالمین په جذبې باندې ډولی وی او د هغه باطن هم د علم او معرفت په نور سره روښانه او مزین وی. پس د هغه زړه د قس په چراګاه کښې څریږی او د وصال دپاره بې قراره وی. او د غیر ذاکر ظاهر بې کار او معطل او باطن ئې خراب او باطل وی

امام مسلم رحمه الله دا حدیث د امام بخاری رحمه الله د شیخ ابو کریب محمد بن العلاء نه. هم په دې سند سره نقل کړې دې. په هغې کښې دا الفاظ دی:

﴿ مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللّٰهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللّٰهُ فِيهِ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ ﴾ [2]

یعنی: په کوم کور کښې چه د الله پاک ذکر کولې شی د هغې مثال د ژوندی دې او په کوم کور کښې چه د الله پاک ذکر نه شی کولې د هغې مثال د مړی دې.

امام بخاری رحمه الله دا روایت غالبا بالمعنی ذکر کړې دې. ځکه چه د حی او میت اطلاق په بیت او مسکن باندې حقیقتا نه کیږی. بلکه په بیت کښې اوسیدونکی باندې کیدې شی. د بلاغت او معانی په اصطلاح کښې دې ته ذکر المحل او ارادة المحل وئیلې شی. [3]

---

[1]) ارشاد الساری: ۴۰۴/۱۳

[2]) الصحیح لمسلم، کتاب صلاة المسافرین، باب استحباب صلاة النافلة فی بیته، وجوازها فی المسجد، رقم الحدیث: ۲۱۱: ۵۳۹/۱

[3]) ارشاد الساری ۴۰۴/۱۳

[۶۰۴۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ لِلَّهِ مَلاَئِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ، يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ، فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَنَادَوْا هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ. قَالَ فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا. قَالَ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهْوَ أَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا يَقُولُ عِبَادِي قَالُوا يَقُولُونَ يُسَبِّحُونَكَ، وَيُكَبِّرُونَكَ، وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ.
قَالَ فَيَقُولُ هَلْ رَأَوْنِي قَالَ فَيَقُولُونَ لاَ وَاللَّهِ مَا رَأَوْكَ. قَالَ فَيَقُولُ وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً، وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيدًا، وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا. قَالَ يَقُولُ فَمَا يَسْأَلُونِي قَالَ يَسْأَلُونَكَ الْجَنَّةَ. قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لاَ وَاللَّهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا. قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا، وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا، وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً. قَالَ فَمِمَّ يَتَعَوَّذُونَ قَالَ يَقُولُونَ مِنَ النَّارِ. قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لاَ وَاللَّهِ مَا رَأَوْهَا. قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا، وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً. قَالَ فَيَقُولُ فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ. قَالَ يَقُولُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ فِيهِمْ فُلاَنٌ لَيْسَ مِنْهُمْ إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ. قَالَ هُمُ الْجُلَسَاءُ لاَ يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ». رَوَاهُ شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. وَرَوَاهُ سُهَيْلٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د الله پاک ځو فرشتې دی کومې چه په لارو کښې ګرځي او ذکر کونکی لټوی چه کله هغوی يو قوم په ذکر الهی کښې مشغول بيا مومی نو يو بل ته آوازونه کوی، د خپل ضرورت طرف ته راشئ. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هغه ملائک هغوی په خپلو وزرو سره ګير کړی او د دنيا آسمان طرف ته اوخيژی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل د هغوی نه دهغوی رب تپوس کوی چه زما بندګان څه کوی. حال دا چه هغه هغوی د فرشتو نه ښه پيژنی. فرشتې ورته جواب ورکوی چه هغوی ستا تسبيح، تکبير. حمد او لوئی بيانوی رسول الله ﷺ فرمائی چه الله پاک ورته فرمائی چه هغوی زه ليدلي يم؟ فرشتې وائی : قسم په الله ! هغوی ته نه ئې ليدلې؛ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله فرمائی : که هغوی زه ليدلې وې نو څه به ئې کول؟ فرشتې وائی چه که ته ئې ليدلې وې نو ستا به ئې ډير عبادت کولې او ډيره لوئې او پاکی به ئې بيانولې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله پاک ورته فرمائی : هغوی زما نه څه سوال کوی. فرشتې ورته وائی : هغوی ستاسو نه د جنت سوال کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله پاک د هغوی نه تپوس کوی : هغوی جنت ليدلې دې؟ فرشتې وائی : نه قسم په الله هغوی جنت نه دې ليدلې. الله پاک ورته فرمائی چه که هغوی جنت ليدلې وې نو څه به ئې کول. فرشتې وائی چه که هغوی هغه ليدلې وې نو ډير زيات به حريص وو او ډير زيات به طالبان وو او د هغې طرف ته به د هغوی رغبت نور هم زيات وې. الله پاک فرمائی چه د کوم څيز نه هغوی پناه غواړی. فرشتې

وائي د جهنم نه. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک فرمائي چه هغوی جهنم ليدلی دي؟ فرشتي جواب ورکوی نه؛ قسم په الله هغوی جهنم نه دي ليدلی. الله پاک فرمائي: که دوی جهنم ليدلی وي نو څه به ئې کول؟ فرشتې وائي: چه که دوی هغه ليدلی وي نو د هغې نه به ډير زيات لرې تختيدل او ډير زيات به ويريدل. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک فرمائي چه زه تاسو ګواه کوم چه ما هغوی اوبخښل. رسول الله ﷺ فرمائي چه په هغه فرشتو کښې يو فرشته وائي چه په هغوی کښې فلانی سړې د هغه ذکر کونکو نه، نه وو. بلکه د څه ضرورت دپاره راغلې وو. الله پاک فرمائي چه دا داسې خلق دی چه هغوی سره ناسته کونکې محروم نه پاتې کيږي.

په سند کښې د امام بخاری رحمه الله شيخ الشيخ جرير بن عبدالحميد دې. د هغوی شيخ سليمان اعمش دې او هغوی د ابوصالح ذکوان نه نقل کوی

قوله: ﴿قَالَ هُمُ الْجُلَسَاءُ لاَيَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ﴾: يعنی دا داسې خلق دی چه هغوی سره ناسته کونکې محروم نه پاتې کيږي. اګر چه هغه په هر مقصد او غرض سره ناسته کونکې وی. د دې نه د الله والو د صحبت د قدر وقيمت اندازه لګولې کيدې شی

قوله: ﴿رَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ﴾: يعنی هم په دې سند سره دا روايت د شعبه بن الحجاج د سليمان بن مهران اعمش نه نقل کړې دې. خو هغه روايت مرفوع نه دې. امام احمد رحمه الله هغه موقوف روايت موصولا نقل کړې دې (١)

قوله: ﴿وَرَوَاهُ سُهَيْلٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم﴾: سهيل هم دا روايت د خپل پلار ابو صالح سمان نه مرفوعا نقل کړې دې د هغوی روايت امام مسلم رحمه الله موصولا ذکر کړې دې (٢)

٦٧: باب قَوْلِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ

[٦٠٤٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ أَخَذَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي عَقَبَةٍ -أَوْ قَالَ فِي ثَنِيَّةٍ، قَالَ- فَلَمَّا عَلاَ عَلَيْهَا رَجُلٌ نَادَى فَرَفَعَ صَوْتَهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ. قَالَ وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى بَغْلَتِهِ قَالَ «فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِبًا». ثُمَّ قَالَ «يَا أَبَا مُوسَى -أَوْ يَا عَبْدَ اللَّهِ- أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ». قُلْتُ بَلَى. قَالَ «لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ» [ر: ٢٨٣٠]

د سيدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ يو غونډئ نه ختلو هغوی دې

---

(١) ارشاد الساری ١٣/٤٠٦

(٢) فتح الباری ١١/٢٥٣

وخت کښې په يو خچر باندې سور وو. چه کله يو سرې په دې غونډئ باندې اوختلو نو هغه په اوچت آواز باندې اووئيل ﴿لا اله الا الله الله اکبر﴾، رسول الله ﷺ اوفرمائيل تاسو يو کونړ او غائب لره نه رابلئ. بيا ئې اوفرمائيل : اې ابو موسى! يا ئې اوفرمائيل اې عبد الله: آيا زه تا ته يو داسې کلمه بيان نه کړم چه د جنت خزانه ده. نو ما اووې ولې نه! وې فرمائيل ﴿لا حول ولا قوة الا بالله﴾

د ﴿ لا حول ولا قوة الا بالله ﴾ فضيلت : د ﴿لاحول ولا قوة الا بالله﴾ ډير فضائل او برکتونه دي. دلته په دې روايت کښې دې ته د جنت د خزانې ورد وئيلې شوې دې.

په يو بل روايت کښې دي چه ﴿لاحول ولا قوة الا بالله﴾ کښې د يو کم سل بيماريانو شفاء ده. چه په هغې کښې د ټولو نه وړه بيماري هم دې.[1] هم او غم پريشانئ ته وائي. د ﴿لاحول ولا قوة الا بالله﴾ ترجمه داسې کړې شوې ده : ﴿لا حيلة في دفع شر، ولا قوة في تحصيل خير الا بالله﴾[2] يعنى د الله پاک د مدد نه بغير نه خو د شر په دفع کولو کښې څه حيله په کار راتلې شي او نه څوک د نيکئ په حصول باندې قادر کيدې شي.

٦٨: بَاب لِلَّهِ مِائَةُ اسْمٍ غَيْرَ وَاحِدٍ

[٦٠٤٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَفِظْنَاهُ مِنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِوَايَةً قَالَ «لِلَّهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ اسْمًا، مِائَةٌ إِلاَّ وَاحِدًا، لاَ يَحْفَظُهَا أَحَدٌ إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَهُوَ وَتْرٌ يُحِبُّ الْوَتْرَ». [ر: ٢٥٨٥]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه د الله يو کم سل نومونه دي. هغه چه کوم انسان په يادو باندې ياد کړي هغه به جنت ته داخليږي او الله پاک وتر (طاق) دې او وتر خوښوي.
سفيان بن عيينه وائي چه دا حديث مونږ د ابوالزناد (عبدالله بن ذکوان) نه حفظ کړو. هغوی د اعرج نه نقل کوي. د اعرج نوم عبدالرحمن بن هرمز دې. د الله پاک د اسماء حسنى په باره کښې څه خبرې ذهن کښې اوساتئ.

د اسماء حسنى متعلق څو خبرې

اسماء حسنى توقيفي دي : ① اوله خبره دا ده چه د الله پاک ډير ښه او عمده مبارک نومونه دي. د بعض حضراتو په نزد دا نومونه توقيفي نه دي خو د جمهور علماء کرامو په نزد اسماء حسنى توقيفي دي. د توقيفي معنى دا ده. د قرآن او حديث د نص صريح نه بغير يو لفظ او وصف ته د الله پاک نوم نه شي وئيلې کيدې. پس علامه قشيري رحمه الله په خپل کتاب

---

[1]) مشكاة المصابيح، كتاب الدعوات، باب ثواب التسبيح والتحميد، والتهليل والتكبير، (رقم الحديث : ٢٣٢٠) : ٤٣٤/١ كما اخرجه في كنزل العمال : ٤٥٤/١، رقم الحديث : ١٩٥٦ (اسناده ضعيف)
[2]) عمدة القارى ١٩/٢٣

معانیح الحج ومصابیح النرہج کښې لیکي

﴿ اسماء الله تعالیٰ تؤخذ توقیفا، ویراعیٰ فیها الکتاب والسنة والاجماع، فکل اسم ورد فی هذه الاصول، وجب اطلاقه فی وصفه تعالیٰ، ومالم یرد فیها، لایجوز اطلاقه فی وصفه، وان یصح معناه ﴾ [١]

یعنی د الله پاک نومونه منصوص او توقیفي دی. او په دې کښې به صرف د قرآن کریم. سنت نبوی او اجماع لحاظ ساتلې شي. پس که په دې درې اصولو باندې یو نوم راغلو نو په الله پاک باندې به د وصف په طور د هغې اطلاق صحیح وی. او کوم نوم او وصف چه په دې درې اوصولو باندې نه وی راغلې. نو د الله پاک په اوصاف کښې د هغې استعمال جائز نه دې اگر چه معنی ئې صحیح وی

پس په نصوص کښې چه کوم اوصاف د الله پاک د نوم په طور ثابت نه دی په هغې سره الله پاک لره رابلل مناسب نه دي پس یا رحیم وئیلې شو خو یا رفیق نه: یا قوی وئیلې شو خو یا جلید وئیل صحیح نه دی. [٢] علامه قرطبی رحمه الله په تفسیر قرطبی کښې لیکی

﴿ وهی بتوقیف لایصح وضع اسم الله بنظر، الا بتوقیف القرآن او الحدیث او الاجماع ﴾ [٣]

یعنی: د الله پاک نومونه توقیفي دی. قیاس او نظر او فکر کولو سره په الله پاک باندې د یو نوم اطلاق کول صحیح نه دی. سوا د هغه نومونو نه کوم چه په قرآن کریم او احادیث نبوی کښې راغلی دی. یا په هغې باندې د امت اجماع وی.

حاصل دا چه اسماء حسنی توقیفي دی. د خپل طرف نه د الله پاک په نومونو او اسماء کښې اضافه نه شی کیدلې [٤]

د اسماء حسنی تعداد: ② دویمه خبره دا ده چه اسماء حسنی څومره دی؟ په دې حدیث کښې دی چه د الله پاک یو کم سل نومونه دی. علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی دا عدد د حصر د پاره دې او د الله پاک صرف نهه نوی نومونه دی. د دې نه زیات نه دی. [٥]

خو جمهور علماء فرمائی چه د الله پاک نومونه د یو کم سل په عدد کښې منحصر نه دی. بلکه د دې نه زیات دی. چونکه په دې نومونو کښې اکثر د الله پاک اوصاف دی. او د الله پاک اوصاف بیشماره دی. په دې وجه د الله پاک مبارک نومونه په یو خاص عدد کښې نه شي منحصر کیدلې. پس بعض علماء کرامو زر او بعض څلور زره پورې اسماء حسنی د قرآن او حدیث د نصوص نه جمع کړې دی [٦]

---

[١]) ارشاد الساری ۱۳/۴۰۹
[٢]) ارشاد الساری ۱۳/۴۰۹
[٣]) تفسیر القرطبی: ۱۰/۳۴۳
[٤]) فتح الباری: ۱۱/۲۶٤
[٥]) فتح الباری: ۱۱/۲۶٤
[٦]) فتح الباری: ۱۱/۲۶٤

امام نووی رحمه الله په دې خبره باندې د علماء کرامو اتفاق نقل کړې دې [١]
د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د يو مرفوع روايت نه د دې تائيد کيږي. په هغې کښې د رسول الله ﷺ دعائيه الفاظ دي:
﴿أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ﴾ [٢].
يعنی زه ستا نه ستا د هر هغه نوم په وسيله باندې سوال کوم کوم چه تا د خان دپاره کيخودلې دې. يا دې په خپل کريم کتاب کښې نازل کړې دې. يا دې په خپل مخلوق کښې چاته ښودلې دې. يا صرف هم تا ته د هغې علم دې. او د نورو نه تا هغه پټ ساتلې دې.
هم دغه شان امام مالک رحمه الله د کعب احبار رحمه الله دعا په دې الفاظو سره نقل کړې ده:
﴿أَسْأَلُكَ بِأَسْمَائِكَ الْحُسْنَى كُلِّهَا مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ﴾ [٣].
يعنی زه ستا نه ستا د ښکلې نومونو په وسيله سوال کوم. که ما ته معلوم وی او که نه وی.
د دې روايتونو نه صراحة معلوميږی چه د الله پاک اسماء مبارکه په څه خاص عدد کښې منحصر نه دی.

د يو کم سلو د عدد حکمت ③ دريمه خبره. د حديث الباب سره متعلق ده چه په هغې کښې د الله پاک د يو کم سل نومونو ذکر دې. لکه چه بيان کړې شوې دی چه دا عدد د حصر دپاره نه دې. بلکه د فضيلت بيانولو دپاره دې چه کوم سړې دا نومونه ياد کړی. هغه به جنت ته داخليږی. د يو کم سلو دا تعداد او د دې دا فضيلت تعبدی او توقيفی دې. اجتهادی نه دې. لکه چه د مونځونو تعداد تعبدی دې [٤] بعض علماء کرامو په دې کښې حکمت بيانولو سره ليکلې دی:

﴿الحکمة فيه ان العدد زوج وفرد والفرد أفضل من الزوج ومنتهى الافراد من غير تکرار تسعة وتسعون لان مائة وواحد ايتکرر فيه الواحد﴾ [٥].
يعنی: د يو کم سلو په عدد کښې حکمت دا دې چه عدد جفت هم وی او طاق هم. او طاق د جفت په مقابله کښې افضل دې. او آخری عدد بغير د تکرار نه هغه نهه نوی دې (کوم چه طاق دې)، چونکه د هغې نه په روستو عددونو کښې تکرار دې مثلا په يو سل يو کښې يو مکرر دې

---
[١]) فتح الباری : ٢٦٣/١١
[٢]) المستدرک للحاکم. کتاب الدعاء. وعاء دفع الکرب المامور بتعلمه : ٥٠٩/١. واکمال اکمال المعلم المعروف بشرح الابی علی صحيح مسلم ١١٥/٧
[٣]) فتح الباری : ٢٦٤/١١
[٤]) فتح الباری : ٢٦٥/١١
[٥]) فتح الباری : ٢٦٥/١١

نهه نوی اسماء حسنی ③ اوس دا خبره پاتې کیږی چه د الله پاک د کومو یو کم سل نومونو چه په حدیث کښې ذکر دی. هغه کوم دی؟ عموما په درې روایتونو کښې د اسماء حسنی تعین کړې شوې دې

یو په سنن ترمذی کښې. د ولید بن مسلم روایت. دویم په سنن ابن ماجة کښې د زهیر بن محمد روایت او دریم په مستدرک حاکم کښې د عبدالعزیز بن الحصین روایت [1]

په دې درې روایاتو کښې چه د الله پاک کوم اسماء مبارکه ذکر کړې شوی دی. په هغې کښې څه مشترک، او بعض د یو بل نه مختلف دی [2]

اکثر علماء کرامو د سنن ترمذی روایت ته ترجیح ورکړې ده. خو په دې روایت کښې ډیر داسې اسماء مبارکه دی کوم چه په قرآن کریم کښې په طور د اسم نه دی او په قرآن کریم کښې د اسم په طور موندلې کیدونکی ډیر اسماء حسنی په دې روایت کښې نشته [3]

حافظ ابن حجر رحمه الله د سنن ترمذی د روایت نه هغه نومونه خارج کړې دی چه د هغې په قرآن کریم کښې په طور د اسم ذکر نشته او د هغه نومونو اضافه ئې کړې ده کوم چه په قرآن کریم کښې دی خو د سنن ترمذی په روایت کښې نشته او دغه شان هغوی لاندې ذکر شوې نهه نوی نومونه ذکر کړې دی:

﴿ الله الرحمن الرحيم الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن العزيز الجبار المتكبر الخالق البارىء المصور الغفار القهار التواب الوهاب الخلاق الرزاق الفتاح العليم الحليم العظيم الواسع الحكيم الحى القيوم السميع البصير اللطيف الخبير العلى الكبير المحيط القدير المولى النصير الكريم الرقيب القريب المجيب الوكيل الحسيب الحفيظ المقيت الودود المجيد الوارث الشهيد الولى الحميد الحق المبين القوى المتين الغنى المالك الشديد القادر المقتدر القاهر الكافى الشاكر المستعان الفاطر البديع الغافر الأول الاخر الظاهر الباطن الكفيل الغالب الحكم العالم الرفيع الحافظ المنتقم القائم المحيى الجامع المليك المتعالى النور الهادى الغفور الشكور العفو الرءوف الاكرم الأعلى البر الحفى الرب الإله الواحد الأحد الصمد ﴾ [4]

اسم اعظم: د الله پاک په نومونو کښې یو مبارک نوم داسې دې چه په هغې سره هره دعا اوکړې شی هغه قبلیږی. هغه ته اسم اعظم وائی. خو د هغه نوم تعین نه دې کړې شوې چه هغه کوم نوم دې. خو په احادیث او د علماء کرامو په اقوالو کښې اشارات ملاویږی چه د هغې نه د هغه نومونو څه پته لګیدلې شی. د هغې نه څو اوراد او اسماء حافظ ابن حجر او علامه قسطلانی رحمه الله لیکی:

---

[1]) الحديث اخرجه الامام الترمذى فى كتاب الدعوات : ٥/٥٣٠، رقم : ٢٥٠٧، واخرجه ابن ماجة فى سننه، كتاب الدعاء، باب اسماء الله عزوجل، رقم الحديث : ٣٨٦١

[2]) فتح البارى ٢٥٧/١١

[3]) فتح البارى ٢٦١/١١

[4]) فتح البارى ٢٦٢/١١، ٢٦٣

﴿ واختلفوا فيه فقيل: هو لفظة هو نقله الفخر الرازى عن بعض أهل الكشف، وقيل: الله، وقيل الله الرحمن الرحيم، وقيل الرحمن الرحيم الحى القيوم، وقيل الحى القيوم، وقيل الحنان المنان بديع السماوات، والأرض ذو الجلال والإكرام رآه رجل مكتوبًا فى الكواكب فى السماء، وقيل ذو الجلال والإكرام، وقيل الله لا إله إلا هو الأحد الصمد الذى لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوًا أحد، وقيل رب رب، وقيل دعوة ذى النون لا إله إلا أنت سبحانك إنى كنت من الظالمين، وقيل هو الله الله الذى لا إله إلا هو رب العرش العظيم ﴾[1]

ددې نه د يولسو كلماتو په باره كښې ونيلې شوې دى چه په هغې كښې اسم اعظم موندلې شى د دې يولسو نه علاوه لاندې ذكر شوې أسماء او دعاګانو ته هم اسم اعظم ونيلې شى

① ﴿ يا الهنا واله كل شئ الها واحدا لا اله الا انت ﴾[2]

② ﴿ والهكم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحيم ﴾[3]

③ ﴿ الم الله لا اله الا هو الحى القيوم ﴾[4]

④ د سورة حشر آخرى درې آيتونه. د سورة البقرة ايت الكرسى. د سورة آل عمران آيت ﴿ قل اللهم مالك الملك .... ﴾ د سورة طه آيت ﴿ وعنت الوجوه للحى القيوم ﴾ په باره كښې راغلې دى چه په هغې كښې اسم اعظم دې [5]

⑤ ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِاسْمِكَ الطَّاهِرِ الطَّيِّبِ الْمُبَارَكِ الأَحَبِّ إِلَيْكَ، الَّذِي إِذَا دُعِيتَ بِهِ أَجَبْتَ، وَإِذَا سُئِلْتَ بِهِ أَعْطَيْتَ، وَإِذَا اسْتُرْحِمْتَ بِهِ رَحِمْتَ، وَإِذَا اسْتُفْرِجْتَ بِهِ فَرَّجْتَ ﴾[6]

يعنى: اې الله! زه ستا نه ستا د هغه نوم په وسيله سوال كوم چه غوره. پاك او مبارك دې. كوم چه تاته زيات محبوب دې. چه د هغې په ذريعه چه كله ستا نه سوال اوكړې شى نو ته ئې قبلوې او د هغې په ذريعه چه كله ستا نه سوال اوكړې شى نو ته وركړه كوې او د كوم په ذريعه چه كله ستا نه د رحم درخواست اوكړې شى نو ته رحم كوې او كله چه د فراخئ درخواست اوكړې شى نو ته فراخى وركوې.

⑥ ﴿ اللهم انى اسالك باسمك الاعظم ورضوانك الاكبر ﴾[7] يعنى: اې الله! زه ستا نه ستا د اسم اعظم او ستا د لوئې رضا په وسيله سوال كوم.

---

[1]) ارشاد السارى: ۴۰۱/۱۳
[2]) الجامع لاحكام القرآن: ۱۳۲/۱۸، سورة النمل
[3]) سنن ابن ماجة، باب اسم الله الاعظم، كتاب الدعاء رقم (۳۸۵۵)
[4]) سنن ابن ماجة، باب اسم الله الاعظم، كتاب الدعاء رقم (۳۸۵۵)
[5]) اوګورئ. سنن ابن ماجة . كتاب الدعاء ۱۶۶۷/۲
[6]) سنن ابن ماجة، كتاب الدعاء، باب اسم الله الاعظم، رقم ۳۸۵۹
[7]) رواه الطبرانى فى المعجم الكبير. رقم الحديث: ۲۹۵۹

⑥ ﴿ اللّٰهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ، ابْنُ عَبْدِكَ ، ابْنُ أَمَتِكَ ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي ، وَنُورَ صَدْرِي ، وَجِلَاءَ حُزْنِي ، وَذَهَابَ غَمِّي وَهَمِّي ﴾ [1]

يعنى : اي الله ! زه ستا بنده يم. ستا د بنده او ستا د وينځي خوئي يم. زما تندي ستا په لاس كښې دې. ستا هر حكم زما دپاره فيصله كن دې. ستا هره فيصله په انصاف باندې بناء ده. زه ستا نه ستا د هر هغه نوم په واسطه باندې سوال كوم كوم چه تا خپله د خپل ځان دپاره كيخودلې دې. يا دې په خپل مخلوق كښې چاته ښودلې دې. يا دې په خپل كتاب كښې نازل كړې دې. يا دې د خپل علم غيب په خزانه كښې محفوظ كړې وى. چه ته قرآن كريم زما د زړه سپرلې. زما د سينې نور. او زما د غمونو او پريشانو د لرې كولو ذريعه جوړه كړه.

بهر حال دا مختلف قسم دعاګانې دى او په اسماء حسنى باندې مشتمل كلمات راغلې دى چه د هغې په باره كښې وئيلې شوې دى چه په هغې كښې اسم اعظم دې كه دا ټول اسماء او دعاګانې په دعاګانو كښې شامل كړې شى او د الله پاك نه اوغوښتلې شى نو انشاء الله ! الله پاك به ئې قبول اوفرمائى.

د مولانا محمد منظور نعمانى رحمه الله تحقيق

اسماء حسنى : په حقيقى معنى كښې د الله پاك نوم يعنى اسم ذات صرف يو دې او هغه دې الله. خو د هغه صفاتى نومونه په سوونو دى كوم چه په قرآن كريم او احاديثو كښې راغلې دى. هم هغې ته اسماء حسنى وئيلې شى. حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى شرح صحيح البخارى كښې د امام جعفر بن محمد صادق او سفيان بن عيينة او بعض نورو اكابرينو نه نقل كړې دى چه :

د الله پاك يو كم سل نومونه خو صرف په قرآن كريم كښې راغلې دى او بيا هم دې حضراتو د هغې تفصيل او تعين هم نقل كړې دې. د دې نه پس حافظ ممدوح رحمه الله د هغوى د بعض اسماء مباركه متعلق دا تبصره كولو سره چه دا په خپل خاص شكل كښې په قرآن كريم كښې مذكور نه دى. بلكه د استخراج او اشتقاق په طور وضع كړې شوې دى. د هغې په ځائې نور اسماء د قرآن كريم نه راوېستلو سره وئيلې دىٔ چه دا يو كم سل اسماء الهيه په قرآن كريم كښې په خپل اصلى شكل كښې مذكور دى او د هغې پوره شمير ئې وركړې دې كوم چه به انشاء الله نزدې نقل كړې شى.

هم زمونږ د زمانې بعض علماء كرامو چه د الله پاك د صفاتى نومونو تتبع د احاديثو نه اوكړه نو د دوه سوو نه زياتى هغوى ته ملاؤ شو. دا صفاتى اسماء حسنى د الله پاك د صفات كمال عنوانات او د هغه د معرفت دروازې دى. پس د الله پاك د ذكر يو لوئې جامع او تفصيلى شكل دا هم دې چه بنده په عظمت او محبت سره د دې نومونو په ذريعه الله پاك ياد كړى او د دې نه خپله وظيفه جوړه كړى.

---

[1]) مسند الامام احمد : ۳۹۱/۱

﴿إِنَّ لِلّٰهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِئَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾ د الله پاک يو کم سل نومونه دی چا چه هغه ياد کړل هغه به جنت ته ځي،

تشريح د صحيحين په روايت کښې صرف هم دومره دی. د دې يو کم سل نومونو تفصيل او تعين په دې روايت کښې نه دې کړې شوې. نزدې به انشاء الله د جامع ترمذی وغيره د روايت ذکر راځي چه په هغې کښې په تفصيل سره دا يو کم سل نومونه بيان کړې شوې دی.
د شارحين حديث او علماء کرامو قريب قريب اتفاق دې چه اسماء الهيه صرف په يو کم سلو کښې منحصر نه دی او دا د هغې پوره تعداد نه دې. ځکه چه د تتبع او تلاش نه پس په دې کښې نور هم ملاويږی په دې وجه د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د هغه حديث په باره کښې ونيلې شوې دی چه د دې مطلب او مدعا صرف دا ده چه کوم بنده د الله پاک يو کم سل نومونه ياد کړی او د دې خيال ساتی. هغه به جنت ته ځي. يعنی صرف د يو کم سل نومونو په احصاء کلو و باندې بنده د دې بشارت مستحق کيږی.

د حديث پاک په جمله ﴿ من احصاها دخل الجنة ﴾ په تشريح کښې علماء او شارحين مختلفې خبرې کړې دی يو مطلب د دې دا بيان کړې شوې دې چه کوم باندې د دې اسماء الهيه په مطالب باندې ځان پوهه کولو سره د هغې معرفت حاصلولو سره د الله پاک په هغه صفاتو باندې يقين اوکړی د کومو چه دا اسماء عنوانات دی. هغه به جنت ته ځي. يو مطلب بل دا بيان کړې شوې دې چه کوم بنده د دې اسماء حسنی په تقاضو باندې عمل کوی هغه به جنت ته ځي دريم يو مطلب دا بيان کړې شوې دې چه کوم بنده په دې يو کم سلو نومونو باندې الله پاک يادوی او د هغې په ذريعه ترې دعا کوی نو هغه به جنت ته ځي امام بخاری رحمه الله د ﴿من احصاها﴾ تشريح په ﴿ من حفظها ﴾ سره کړې د. بلکه د دې حديث په بعض رواياتو کښې د ﴿ من احصاها ﴾ په ځانې د ﴿ من حفظها ﴾ الفاظ هم راغلې دی. په دې وجه دې تشريح ته ترجيح ورکړې شوې ده او هم په دې وجه په ترجمه کښې عاجز هم دا معنی اختيار کړې ده. په دې بناء به د حديث مطلب داوی چه کوم بنده په ايمان او عقيدت سره د الله پاک د قرب او رضا حاصلولو دپاره د هغه يو کم سل نومونه محفوظ کړی او د هغې په ذريعه الله پاک ياد کړی. هغه به جنت ته ځي. والله اعلم.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً غَيْرَ وَاحِدَةٍ مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ هُوَ اللّٰهُ الَّذِى لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ الْغَفَّارُ الْقَهَّارُ الْوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ الْغَفُورُ الشَّكُورُ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ الْحَفِيظُ الْمُقِيتُ الْحَسِيبُ الْجَلِيلُ الْكَرِيمُ الرَّقِيبُ الْمُجِيبُ الْوَاسِعُ الْحَكِيمُ الْوَدُودُ الْمَجِيدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ الْحَقُّ الْوَكِيلُ الْقَوِيُّ الْمَتِينُ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ الْمُحْصِى الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ الْمُحْيِى الْمُمِيتُ الْحَيُّ الْقَيُّومُ الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ الْأَوَّلُ الْآخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ الْوَالِى الْمُتَعَالِى الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ الْعَفُوُّ

الرَّءُوفُ مَالِكُ الْمُلْكِ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ الضَّارُّ النَّافِعُ النُّورُ الْهَادِي الْبَدِيعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيدُ الصَّبُورُ﴾

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه د الله پاک نهه نوی (یو کم سل) نومونه دی چا چه دا محفوظ کړل. او د هغوی خیال ئې اوساتلو. هغه به جنت ته ځی (د هغه نومونو تفصیل دا دې):

هغه الله دې چه د هغه نه سوا څوک هم د بندګئ حقدار نشته. هغه دې الرَّحْمَنُ (ډیر د رحمت والا) الرَّحِيمُ (ډیر رحم والا) الْمَلِكُ (حقیقی بادشاه او حاکم) الْقُدُّوسُ (نهایت مقدس او پاک) السَّلَامُ (چه د هغه ذاتی صفت سلامتی ده) الْمُؤْمِنُ (امن و امان ورکونکې) الْمُهَيْمِنُ (پوره نګهبانی کونکې) الْعَزِيزُ (غلبه او عزت چه د چا ذاتی صفت دې او څوک چه په ټولو باندې غالب دې) الْجَبَّارُ (صاحب جبروت دې. ټول مخلوق د هغه د تصرف لاندې دې) الْمُتَكَبِّرُ (تکبر او لوئی د هغه حق دې) الْخَالِقُ (پیدا کونکې) الْبَارِئُ (برابرونکی) الْمُصَوِّرُ (صورتونه جوړونکې) الْغَفَّارُ (د ګناهونو ډیر زیات بخښونکې) الْقَهَّارُ (په ټولو باندې غالب او قابو لرونکې چه د هغه مخې ته ټول عاجز او مغلوب دی) الْوَهَّابُ (بغیر د څه عوض او منفعت نه ښه ورکونکې) الرَّزَّاقُ (ټولو ته روزئ ورکونکې) الْفَتَّاحُ (د ټولو دپاره د رحمت او رزق دروازې پرانستونکې) الْعَلِيمُ (په هر څه باندې عالم) الْقَابِضُ الْبَاسِطُ (تنګی راوستونکې. فراخی راوستونکې. یعنی د هغه شان دا دې چه د خپل مشیت او حکمت مطابق کله د چا په حالاتو کښې تنګی پیدا کوی. او کله فراخی پیدا کوی) الْخَافِضُ الرَّافِعُ (لاندې کونکې. پورته کونکې) الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ (چاته عزت ورکولو سره د هغه سر اوچتول او څوک د ذلت قصر ته غورځول د هغه په قبضه او اختیار کښې دی. او دا ټول هر څه د هغه د طرف نه وی) السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (هر څه لره اوریدونکې او هرڅه لره لیدونکې) الْحَكَمُ الْعَدْلُ (حاکم حقیقی. عدل او انصاف والا) اللَّطِيفُ (لطافت او لطف وکرم چه د چا ذاتی صفت دې) الْخَبِيرُ (د هرې خبرې نه باخبر) الْحَلِيمُ (نهایت بردبار) الْعَظِيمُ (ډیر د عظمت والا. د ټولو نه اوچت او برتر) الْغَفُورُ (ډیر بخښونکې) الشَّكُورُ (د حسن عمل قدر کونکې او د غورې نه غوره جزا ورکونکې) الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ (د ټولونه اوچت. د ټولو نه لوئې) الْحَفِيظُ (د ټولو نګهبان) الْمُقِيتُ (ټولو ته د ژوند سامان ورکونکې) الْحَسِيبُ (د ټولو دپاره کافی کیدونکې) الْجَلِيلُ (عظیم القدر) الْكَرِيمُ (صاحب کرم) الرَّقِيبُ (محافظ) الْمُجِيبُ (قبلونکې) الْوَاسِعُ (وسعت لرونکې) الْحَكِيمُ (ټول کارونه د حکمت کونې) الْوَدُودُ (مینه کونکې) الْمَجِيدُ (لوئئ والا) الْبَاعِثُ (اوچتونکی. د مرګ نه پس مړو لره ژوندې کونکې) الشَّهِيدُ (حاضر کوم چه هر څه وینی او په

هر څه پوهيږي، الْحَقُّ ،چه د هغه ذات او د چا وجود چه اصل او حق دي، الْوَكِيلُ ،حقيقي کارساز، الْقَوِيُّ الْمَتِينُ ،د قوت مالک. ډير مضبوط، الْوَلِيُّ ،سرپرست. مددګار، الْحَمِيدُ ،ستائيلې شوې. د ستائينې مستحق، الْمُحْصِي ،د ټولو مخلوقاتو په باره کښې پوره معلومات لرونکې، الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ ،اول وجود ورکونکې. دوباره ژوند ورکونکې، الْمُحْيِي الْمُمِيتُ ،ژوند ورکونکې. مرګ ورکونکې، الْحَيُّ ،هميشه ژوندې. ژوند چه د هغه ذاتي صفت دې، الْقَيُّومُ ،خپله قائم او ټول مخلوق ته د هغوی د حيثيت مطابق قيام ورکونکې، الْوَاجِدُ ،هر څه خان سره ساتونکې، الْمَاجِدُ ،د لوئي والي خاوند، الْوَاحِدُ ،يو په خپل ذات کښې يواځې په خپلو صفاتو کښې، الصَّمَدُ د ټولو نه بې نيازه او ټول د هغه محتاج، الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ ،قدرت والا. په ټولو باندې کامل اقتدار لرونکې، الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ ،چه څوک اوغواړي هغه لره مخکښې کونکې. او څوک چه اوغواړي هغه لره روستو کونکې، الْأَوَّلُ الْآخِرُ ،د ټولو نه اول او د ټولو نه شاته يعنې چه کله څوک هم نه وو هيڅ نه وو نو هم موجود وو. او چه کله هيڅ پاتې نه شي نو هغه وخت به هم موجود وي، الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ ،بالکل ښکاره. او بالکل مخفي، الْوَالِي ،مالک او کارساز، الْمُتَعَالِي ،ډير زيات اوچتيدونکې، الْبَرُّ ،ډير احسان کونکې، التَّوَّابُ ،د توبې توفيق ورکونکې. توبه قبلونکې، الْمُنْتَقِمُ ،مجرمانو ته سزا ورکونکې، الْعَفُوُّ ،ډير معافي کونکې، الرَّءُوفُ ،شفقت کونکې، مَالِكُ الْمُلْكِ ،د ټول جهان مالک، ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ،د جلال خاوند او ډير زيات کرم کونکې چه د هغه د جلال نه بنده هميشه په ويره کښې وي او د چا د کرم نه چه هميشه اميد ساتي، الْمُقْسِطُ ،د حقدار حق ادا کونکې عادل او منصف، الْجَامِعُ ،ټول مخلوق د قيامت په ورځ راجمع کونکې، الْغَنِيُّ الْمُغْنِي ،خپله بې نيازه چه د هغه چاته هيڅ حاجت نشته. او په خپلې ورکړې سره بندګانو لره بې نيازه کونکې، الْمَانِعُ ،منع کونکې هر هغه څيز لره چه منع کول ئې اغواړي، الضَّارُّ النَّافِعُ ،د خپل حکمت او رضا د لاندې ضرر رسونکې او فائده رسونکې، النُّورُ ،ټول په ټوله نور، الْهَادِي ،هدايت کونکې، الْبَدِيعُ ،بغير د مثال سابق نه مخلوق لره پيدا کونکې، الْبَاقِي ،هميشه باقي پاتې کيدونکې چه کله هم پرې فنا نه راځي، الْوَارِثُ ،د ټول مخلوق د فنا کيدو نه پس باقي پاتې کيدونکې، الرَّشِيدُ ،د رشد او حکمت خاوند چه د هغه هره فعل او فيصله صحيح ده، الصَّبُورُ ،ډير صبر کونکې چه د بندګانو لوئې لوئې نافرمانئ ګوري او فورا عذاب راليږلو سره هغوی نه تباه کوي، (جامع ترمذي، دعوات کبير للبيهقي)

تشريح : د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د دې حديث ابتدائي حصه بالکل هم هغه ده کوم چه د صحيح حوالې سره اوس پورته نقل کړې شوې ده. خو په دې کښې د نهه نوي نومونو تفصيل هم دې

کوم چه د صحیحین په روایت کښې نشته په دې بناء بعض محدثین او د شارحین حدیث دا رائې ده چه حدیث مرفوع یعنی د رسول الله ﷺ اصل ارشاد بس هم دومره دې. څومره چه د صحیحین په روایت کښې دې یعنی : ﴿إِنَّ لِلّٰهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِئَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾. د الله پاک یو کم سل نومونه دی چا چه د هغې احصاء اوکړه هغه به جنت ته ځي، او د ترمذی په دې ‌روایت کښې او هم دغه شان په ابن ماجة او حاکم وغیره په روایتونو کښې چه کوم یو کم سل نومونه په تفصیل سره ذکر شوې دی هغه د ارشاد نبوی جزء نه دې. بلکه هغه د سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه بالواسطه یا بغیر د واسطې نه یو شاګرد د حدیث د اجمال د تفصیل او د ابهام د تفسیر په طور په قرآن او حدیث کښې راغلې دا اسماء الهیه ذکر کړې دی. ګویا د محدثینو په اصطلاح کښې دا اسماء حسنی مدرج دی. د دې یوه قرینه دا هم ده چه د ترمذی او ابن ماجة او حاکم په روایاتو کښې چه د یو کم سل نومونو کوم تفصیل ذکر کړې شوې دې. په دې کښې ډیر لوئې فرق او اختلاف دې. که دا یو کم سل اسماء حسنی د رسول الله ﷺ تعلیم کړې شوې وې نو په دې کښې دومره اختلاف او فرق ناممکن وو.

بهر حال دا خو د فن حدیث او روایت یو بحث دې، خو دومره خبره د ټولو په نزد منلې شوې ده چه د ترمذی په پورته روایت کښې او هم دغه شان د ابن ماجة په روایاتو کښې چه کوم یو کم سل اسماء حسنی ذکر کړې شوې دی. هغه ټول په قرآن کریم او احادیث کښې راغلې دی. او رسول الله ﷺ د یو کم سل اسماء الهیه د احصاء (په محفوظ کولو) باندې چه کوم زیرې اورولې دې. د هغې هغه بنده یقینا مستحق دی کوم چه په اخلاص او عظمت سره دا اسماء حسنی محفوظ کړې او د هغې په ذریعه الله پاک یاد کړې.

امام الهند شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله د دې په وجه او سبب باندې رنړا اچولو سره فرمائی چه کما د کمال صفات. د الله پاک دپاره ثابتول پکار دی او د کومو څیزونو چه د الله پاک د ذات نه نفی کیدل پکار دی، په دې یو کم سل اسماء حسنی کښې هغه ټول هرڅه راځی. په دې بناء باندې دا د اسماء حسنی د معرفت تکمله او صالح نصاب دې. او هم په دې وجه د دې په مجموعه کښې غیر معمولی برکت دې او په عالم قدر کښې دې ته خاص قبولیت حاصل دې او چه کله د بنده په اعمال نامه کښې دا اسماء الهیه ثبت شی نو دا د هغه په حق کښې د رحمت الهی د فیصلې سبب کیږی والله أعلم

د ترمذی په پورته ذکر شوی روایت کښې چه کوم یو کم سل اسماء حسنی ذکر شوې دی په هغې کښې دوه دریمه حصه خو په قرآن کریم کښې مذکور دی. باقی په احادیثو کښې راغلې دی.

امام جعفر صادق رحمه الله کومو حضراتو چه دا دعوی کړې ده چه د الله پاک یو کم سل نومونه په قرآن کریم کښې موجود دی، د هغې ذکر اوس پورته کړې شوې دې. او په دې سلسله کښې د حافظ ابن حجر رحمه الله د آخری کوشش هم حواله ورکړې شوې ده چه هغوی صرف د قرآن کریم نه هغه یو کم سل اسماء الهیه راویستلې دی کوم چه په خپل اصل شکل کښې په قرآن کریم کښې موجود دی.

که د هغه محدثين او شارحين حديث خبره اومنلې شي د چا رائې چه دا ده چه د ترمذي پورته ذکر شوې روايت کښې چه کوم اسماء حسنی ذکر شوې دی. دا د حديث مرفوع حصه نه ده بلکه د راوی د طرف نه مدرج دی يعنی د حديث د اجمال د تفصيل په طور هغوی په قرآن او حديث کښې راغلی د هغه نومونو اضافه کړې ده نو بيا د حافظ ابن حجر رحمه الله پيش کړې شوې فهرست قابل ترجيح کيدل پکار دی چه د هغې ټول اسماء بغير د څه خاص تصرف نه د قرآن کريم نه اخستلې شوې دی. (۱)

يو کم سل اسماء حسنی کوم چه د ترمذی په روايت کښې مذکور دی. او هم دغه شان کوم چه حافظ ابن حجر رحمه الله د قرآن کريم نه راويستلې دی. بيشکه په دې کښې هر يو د معرفت الهی دروازه ده.

د علماء امت په مختلفو زمانو کښې د هغې په شرح کښې مستقل کتابونه ليکلې دی په مېماتو کښې د هغوی په ذريعه دعا کول د ډيرو اهل الله د خاص معمولات نه ده او د هغې قبوليت مجرب دې.

اسم اعظم : د احاديثو نه معلومېږی چه د الله پاک په اسماء حسنی کښې بعض هغه دی چه هغې ته په دې لحاظ سره خاص عظمت او امتياز حاصل دې چه کله د هغې په ذريعه دعا اوکړې شی نو د دعا د قبوليت زيات اميد کيدلې شی.

دې اسماء ته په حديث کښې ﴿ اسم اعظم ﴾ وئيلې شوې دې. خو په صفايئ او صراحت سره هغه نه شی متعين کيدلې. بلکه په څه درجه کښې هغه مبهم ساتلې شوې دې او دا هم داسې ده لکه چه ليلة القدر او د جمعې په ورځ باندې د قبوليت دعا خاص وخت مبهم ساتلې شوې دې د احاديثو نه دا هم پته لګی چه د الله پاک صرف يو نوم اسم اعظم نه دې. لکه چه ډير خلق داسې ګڼړی. بلکه ډيرو نومونو ته اسم اعظم وئيلې شوې دې. بله دا چه هم د دې احاديث مبارکه دا خبره صفا معلومه شی چه په عوامو کښې چه د دې اسم اعظم کوم تصور دې او د هغې په باره کښې چه کومې خبرې مشهور دی هغه بالکل بې اصله دی. اصل حقيقت هم هغه دې کوم چه پورته عرض کړې شو.

په احاديثو کښې د غور کولو نه صفا معلومېږی چه د الله پاک يو مخصوص نوم ته اسم اعظم نه دې وئيلې شوې. بلکه دا خبره زيات قياس ته نزدې معلومېږی چه په حديث کښې چه د کومو دوه آيتونو يو ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴾ او ﴿ الم اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ﴾ حواله ورکړې شوې ده. او د دې نه مخکښې په دواړو احاديثو کښې چه د کومو دوه کسانو دوه دعاګانې ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴾ او دويم ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ، لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ، بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾ نقل کړې شوې دی، په دې کښې هر يو د ډيرو اسماء الهيه په خاص ترکيب

---

۱) دحافظ ابن حجر رحمه الله داسماء حسنی په باره کښې پيش کړې شوې فهرست مخکښې تيرشوې دې.

سره الله پاک چه کوم مرکب او جامع وصف مفهوم کیږی. د هغې نه په اسم اعظم سره تعبیر فرمائیلي شوي دي.
امام شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله چاته چه الله پاک د دې قسم علومو او معارفو نه لویه برخه ورکړې وه هغوی د دې احادیثو نه هم دا خبره فهم کړې ده. والله اعلم (۱)

۶۹: باب الْمَوْعِظَةِ سَاعَةً بَعْدَ سَاعَةٍ.

[۶۰۴۸] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ قَالَ كُنَّا نَنْتَظِرُ عَبْدَ اللَّهِ إِذْ جَاءَ يَزِيدُ بْنُ مُعَاوِيَةَ فَقُلْنَا أَلاَ تَجْلِسُ قَالَ لاَ وَلَكِنْ أَدْخُلُ فَأُخْرِجُ إِلَيْكُمْ صَاحِبَكُمْ، وَإِلاَّ جِئْتُ أَنَا.
فَجَلَسَ فَخَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ وَهْوَ آخِذٌ بِيَدِهِ فَقَامَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَمَا إِنِّي أُخْبَرُ بِمَكَانِكُمْ، وَلَكِنَّهُ يَمْنَعُنِي مِنَ الْخُرُوجِ إِلَيْكُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الأَيَّامِ، كَرَاهِيَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا. [ر: ۶۸]

د شقیق رحمه الله نه روایت دې چه مونږ د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه انتظار کولو چه یزید بن معاویه رضی الله عنه راغلو. مونږ ورته اووې تشریف به نه ږدئ؟ هغوی اووې نه بلکه زه دننه ځم او تاسو ته ستاسو ملګرې (عبدالله بن مسعود رضی الله عنه) راولم. ګینې زه به راشم او تاسو سره به کینم. پس عبدالله بن مسعود رضی الله عنه راوتلو او هغوی د یزید بن معاویه لاس نیولې وو، زمونږ مخې ته اودریدلو سره ئې اووې چه زه ستاسو د دلته موجودګئ نه خبر اوم. خو زه چه کوم څیز د بهر راوتلو نه منع کړم هغه صرف دا خیال وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ ته په وعظ کولو کنبې د دې خبرې خیال ساتلو چه چرته هغه زمونږ د تنګیدو سبب نه شی. (اصل کنبې هلته موجود خلقو د هغوی نه روزانه د وعظ وئیلو درخواست اوکړو. چه د هغې په جواب کنبې هغوی دا خبره ارشاد اوفرمائیله)

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه وعظ او نصیحت په وقفې وقفې سره کیدل پکار دی او په دې کنبې وقفه ساتل پکار دی، بغیر د څه وقفې نه په تسلسل سره روزانه یا بغیر د چهتئ نه د وعظ او نصیحت سلسله ډیر کرته، د سترې والی او زړه مړیدو ذریعه جوړه شی، په دې وجه که د مناسب وقفې خیال ساتلو سره وعظ او نصیحت اوکړې شی نو دا صورت به زیات میوه دار او مفید ثابت شی.

د باب د کتاب سره مناسبت: د کتاب الدعوات سره، د دې باب بیان مناسبت بیانولو سره حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمهما الله لیکلې دی چه وعظ او نصیحت چونکه عموما په ذکر باندې مشتمل وی او ذکر هم د دعا نه شمارلې شی په دې وجه موعظة په کتاب الدعوات کنبې راوړله. (۲)

---

(۱) معارف الحدیث: ۵۹/۵
(۲) فتح الباری ۲۶۵/۱۱، وعمدة القاری ۴۵/۲۲

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله د دې باب د کتاب الدعوات سره د مناسبت يو نفيس توجيه بيان فرمائيلې دې. هغوی ليکلي دی چه امام بخاری رحمه الله په دې باب او حديث سره دې طرف ته اشاره فرمائيلې ده چه په دعا کښې د ستړی والی نه بچ کيدل پکار دی. وعظ او نصيحت او دعوت او تبليغ يو اهم فريضه ده، چه هر کله په هغې کښې د ستړی والی نه د بچ کيدو اهتمام کړې شوې دې نو په دعا کښې په طريق اولی د دې نه بچ کيدل پکار دی او دعا دومره اوږدول نه دی پکار چه انسان د ستړی والی ښکار شی.

پس حضرت ليکی: ﴿ وعندی ان الامام البخاری رحمه الله اشار بالترجمة وحديثها الی انه ينبغی الاحتراز عن الملال فی الدعاء فانه لما يحترز عنه فی التذکير وهو اهم ففی الدعاء بالاولی، فلا ينبغی التطويل فی الدعاء، حتی يؤدی الی الملال، وليس المراد کراهة الطول مطلقا، بل الطول المؤدی الی الملال ﴾ (۱)

قوله: ﴿ إِذْ جَاءَ يَزِيدُ بْنُ مُعَاوِيَةَ ﴾: يزيد بن معاويه رحمه الله تابعی دې او په صحيح بخاری کښې صرف په يو مقام باندې د هغوی ذکر ملاويږی. د سيدنا عثمان رضی الله عنه په خلافت کښې په فارس کښې جهاد کولو کښې شهيد شو. (۲)

قوله: ﴿ كَانَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ ﴾: ﴿ يتخول ﴾ د ﴿ تخول ﴾ نه مشتق دې. د دې معنی د اصلاح او خيال ساتلو ده. (۳) مقصد دا دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به په وعظ او نصيحت کښې زمونږ د حالت رعايت ساتلو.

قوله: ﴿ كَرَاهِيَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا ﴾: يعنی زمونږ د ستړی کيدو د ويرې د وجې نه به رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ناخوښه ګڼړله، په دې وجه به رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ رعايت ساتلو. دا په ترکيب کښې مفعول له واقع شوې دې.

دا حديث په کتاب العلم کښې د باب کان النبی صلی الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة لاندې تير شوې دې او هم هلته په دې باندې تفصيلی خبره هم شوې ده. (۴)

****

(۱) الابواب والتراجم : ۱۳۰/۲

(۲) تهذيب الكمال : ۲۴۶/۳۲، كتاب الثقات لابن حبان : ۵۴۵/۵

(۳) قال ابن الاثير فی النهاية ۸۸/۲، يتخولنا: يتعهدنا، من قولهم، فلان خائل مال، وهو الذی يصلحه ويقوم به، انظر غريب الحديث للخطابی : ۴۳۷/۲

(۴) اوګورئ : كتاب العلم : ص ۲۵۶، رقم الحديث : ۶۸

۸۴: كتاب الرقاق (الاحاديث: ۶۰۳۹_۶۲۲۰)

كتاب الرقاق په درې پنځوس ابوابو باندې مشتمل دې. چه په هغې کښې یو شلوېښتم باب بغیر د ترجمې نه دې. امام بخاري رحمه الله په دې کښې ۱۹۳ مرفوع احادیث ذکر فرمائیلي دی. د هغې نه درې دیرش احادیث د تعلیق په صورت کښې دی او باقي ۱۲۰ احادیث موصوله دی. چه د هغې نه ۱۳۴ احادیث مکرر دی او باقي ۵۹ احادیث خالص یعنې غیر مکرر دی. ۱۷ احادیث نه سوا د باقي احادیثو تخریج امام مسلم رحمه الله هم کړې دې... په کتاب الرقاق کښې امام بخاري رحمه الله د صحابه کرامو او تابعینو وغیره ۱۷ آثار هم نقل فرمائیلي دی.

د زهد او رقاق په کتابونو یو تعارفي نظر

د مرتب د قلم نه

حضرات محدثین د زهد او رقاق په عنوان سره د رسول الله ﷺ د هغه مبارک احادیثو او د امت د جلیل القدر اسلام هغه واقعات جمع کوی چه د هغې په لوستلو سره د زړه سخت والې په نرمئ کښې بدل شی او د قسوة ځائې سوز او نرمی اونیسی. د فاني دنیا حقیقت مخې ته راشی. د انساني ژوند بې وسي ښکاره شی. د آخرت فکر پیدا شی. او د دې ډکې پر دنیا د رنګینئ بې ثباتي واضح شی حقیقت دا دې چه د دې عنوان د لاندې. د دې رنګین جهان د ښکلا ګانو نه د اوښیار اوسیدو آواز لګولي شی کوم چه د ژوند د مسافر مخ د قبلې د طرف نه اړوی او په نافرمانو کښې ئې ګیروی. مولانا محمد منظور نعماني رحمه الله لیکی د حدیث په کتابونو کښې چه څنګه کتاب الایمان. کتاب الصلاة. کتاب الزکاة. کتاب النکاح. کتاب البیوع وغیره عنوانات وی. چه د هغې د لاندې د دې ابوابو احادیث لیکلي شی. هم دغه شان یو عنوان د کتاب الرقاق وی. چه د هغې د لاندې هغه احادیث ذکر کولې شی چه په هغې سره په زړه کښې رقت او نرمی پیدا کیږی. چه د دنیا سره ئې د زړه تړون کم وی او د آخرت فکر ئې زیات شی او انسان د الله پاک رضا او اخروی فلاح د خپل ژوند نصب العین اوګرځوی. د دې نه علاوه هم د دې عنوان د لاندې د رسول الله ﷺ مؤثر خطبات او نصائح او مواعظ هم لیکلي شی، دا حقیقت دې چه د احادیثو په ذخیره کښې د ټولو نه زیات موثر اود ژوند په رخ بدلولو کښې د ټولو نه زیات طاقت لرونکې حصه هم دا وی. کومه چه د حدیث په کتابونو کښې د کتاب الرقاق د عنوان د لاندې لیکلي شوی وی په دی

وجه د دې خاص اهمیت دې او ویٌلې شی چه د حقیقی اسلامی تصوف هم دا اساس او بنیاد دې.[١] هم د دې اهمیت په بناء حضرات محدثین د حدیث په کتابونو کښې د داسې احادیثو دپاره د کتاب الرقاق یا کتاب الزهد والرقاق مستقل عنوان قائموی او د امت ځو ائمه کرامو او علماء په دې باندې مستقل کتابونه لیکلې دی. دلته د هغې اجمالی تعارف پیش کولې شی.

په صحیح بخاری کښې کتاب الرقاق: امام بخاری رحمه الله په صحیح بخاری کښې د کتاب الرقاق د لاندې ۵۳ بابونه ذکر کړې دی، هغوی د قیامت، حشر، جنت، جهنم، پل صراط او حوض کوثر متعلق احادیث هم د رقاق د لاندې ذکر بیان فرمائیلې دی لکه چه عرض کړې شوې دی کتاب الرقاق په درې پنځوس ابوابو باندې مشتمل دې، چه په هغې کښې یو ځلویښتم باب بغیر د ترجمې نه دې. امام بخاری رحمه الله په دې کښې ۱۹۳ مرفوع احادیث ذکر فرمائیلې دی. د هغې نه درې دیرش احادیث د تعلیق په صورت کښې دی او باقی ۱۲۰ احادیث موصوله دی. چه د هغې نه ۱۳۴ احادیث مکرر دی او باقی ۵۹ احادیث خالص یعنی غیر مکرر دی. ۱۷ احادیث نه سوا د باقی احادیثو تخریج امام مسلم رحمه الله هم کړې دې په کتاب الرقاق کښې امام بخاری رحمه الله د صحابه کرامو او تابعینو وغیره ۱۷ آثار هم نقل فرمائیلې دی

په صحیح مسلم کښې کتاب الرقاق: امام مسلم رحمه الله په صحیح مسلم کښې د رقاق احادیث ذکر کړې دی، هغوی چونکه ابواب او عنوانات خپله نه دی لګولې بلکه په مطبوعه نسخو کښې د کتب او ابواب دا عنوانات روستو امام نووی رحمه الله لګولې دی [٢] هغوی د کتاب التفسیر نه مخکښې او د کتاب الجنة وصفة نعیمها نه پس کتاب الزهد والرقاق ذکر کړې دې او په ۱۷۵ احادیث باندې ئې شل ابواب قائم کړې دی.[٣]

د جنت او جهنم او د قیامت متعلق په احادیث باندې امام نووی رحمه الله د مستقل کتاب عنوان قائم کړې دې او هغه ئې د رقاق د لاندې نه دی کیخودلی. او په صحیح بخاری کښې دا حدیث د کتاب الرقاق د لاندې دی، په صحیح مسلم کښې کتاب صفة القیامة، په ۲۱ ابوابو باندې. کتاب صفة الجنة په ۲۰ ابوابو باندې، کتاب التوبة په دولسو ابوابو باندې مشتمل دې.

خو په بعض نسخو کښې د کتاب التوبة نه مخکښې د کتاب الرقاق عنوان دې او د هغې نه لاندې یو باب باب اکثر اهل الجنة الفقراء ذکر کړې شوې دې.[٤]

په دې نسخو کښې کتاب الرقاق دوه ځایه دې، یو د کتاب التوبة نه مخکښې او دویم د کتاب

---

[١] معارف الحدیث ۲/۲۵

[٢] مقدمة صحیح مسلم از مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله : ۱۰۰

[٣] اوګورئ صحیح مسلم کتاب الزهد والرقاق، الاحادیث : ۷۳٤۳-۷٤۳۸

[٤] اوګورئ صحیح مسلم ۵۵/۱۷، دار المعرفة بیروت.

التفسير نه مخكښې. خو په هندوستاني نسخو كښې دلته د كتاب الرقاق عنوان نشته.[١]

د سنن الترمذى كتاب الزهد: په صحاح ستة كښې امام ترمذى رحمه الله هم د كتاب الزهد د لاندې ٦۴ ابواب قائم كړې دى او د هغې د لاندې ئې يو سل يولس احاديث ذكر كړې دى.[٢] هغوى هم د جنت، جهنم او قيامت متعلق احاديث د دې نه پس په كتاب صفة القيامة والرقاق، كتاب صفة الجنة او كتاب صفة جهنم د عنوان سره ذكر كړې دى. دا ټول احاديث هم د رقاق په شمير كښې راځى. امام ترمذى رحمه الله په كتاب صفة القيامة والرقاق كښې ۶٠ ابواب ذكر كړې دى او د هغې د لاندې ئې يو سل اووۀ احاديث ذكر فرمائيلي د. په كتاب صفة الجنة كښې ١٢٧ ابواب او ديرش احاديث او په كتاب صفة جهنم كښې ١١٣ ابواب او تقريبا ٣١ احاديث ذكر فرمائيلي دى.[٣]

په سنن ابن ماجة كښې كتاب الزهد: امام ابن ماجة په سنن كښې د كتاب الزهد د لاندې ٣٩ ابواب قائم كړې دى او دهغې د لاندې ئې دوه سوه يو څلويښت احاديث نقل فرمائيلي دى.[۴]

په صحاح سته كښې امام ابوداؤد رحمه الله په سنن ابى داؤد كښې د كتاب الزهد يا كتاب الرقاق هيڅ عنوان نه دې قائم كړې، هم دغه شان په سنن نسائى صغرى كښې هم كتاب الرقاق نشته.

په صحاح ستة كښې د ټولو نه زيات د زهد او رقاق احاديث امام ترمذى رحمه الله نقل فرمائيلي دى. چه د هغې اردو تشريح د "دنيا كى حقيقت" په نوم باندې مولانا محمد يوسف لدهيانوى رحمه الله ليكلې دۀ. چه چهاپ شوې هم دۀ.[۵]

په زهد او رقاق باندې ليكلې شوې مستقل كتابونه: د زهد او رقاق په عنوان سره مستقل كتابونه هم حضرات علماء كرامو ليكلې دى. چه په هغې كښې د لاندې ليكلې شوې اهل علم كتابونه مشهور دى.

① امام عبدالله بن المبارك ...... متوفى : ١٨١ هجرى د هغوى كتاب الزهد مشهور دې، د هغې تعارف وړاندې راروان دې.

② امام معانى بن عمران موصلى.....متوفى ١٨۵ هجرى، دهغوى كتاب الزهد مطبوع دې.

③ امام وكيع بن جراح.... متوفى : ١٩٧ هجرى د هغوى كتاب الزهد هم مطبوع دې

④ امام اسد بن موسى .... متوفى : ٢١٢ هجرى، د هغوى كتاب الزهد هم مطبوع دې.

---

[١]) اوګورئ: صحيح مسلم ٣۵٢/٢، قديمى كتب خانه

[٢]) اوګورئ: سنن الترمذى، كتاب الزهد، الاحاديث : ٢٣٠٤-٢۴١۴

[٣]) اوګورئ : سنن الترمذى، كتاب صفة القيامة والرقاق، الاحاديث : ٢۴١۵-٢۵٢١ وكتاب صفة الجنة، الاحاديث : ٢۵٢٣-٢۵٧٢، وكتاب صفة جهنم الاحاديث ك: ٢۵٧٣-٢۶٠۵.

[۴]) اوګورئ: سنن ابن ماجة، كتاب الزهد، الاحاديث : ۴١٠٠-۴٣۴١

[۵]) دا كتاب د مكتبة بينات كراچۍ نه چهاپ شوې دې.

⑤ امام احمد بن حنبل متوفی ٢٤١ هجری. د هغوی کتاب الزهد هم مطبوع دې
⑥ امام هناد بن سری متوفی : ٢٤٣ هجری. د هغوی کتاب الزهد هم مطبوع دې
⑦ امام ابوداؤد سلیمان بن اشعث السجستانی ... متوفی ٢٧٥ هجری. د هغوی کتاب الزهد هم مطبوع دې
⑧ عبدالله بن محمد بن عبید. ابن ابی الدنیا .... متوفی : ٢٨١ هجری. د هغوی کتاب الزهد هم مطبوع دې
⑨ امام بیهقی (احمد بن الحسین صاحب السنن) ... متوفی : ٤٥٨ هجری. د هغوی کتاب. کتاب الزهد الکبیر په نوم سره مشهور دې او طبع شوې دې.
د هغوی نه علاوه محمد بن فضیل بن غزوان (متوفی : ١٩٥ هجری). قاضی محمد بن احمد عسال اصبهانی (متوفی : ٢٤٩ هجری)
حافظ عمر بن احمد : ابن شاهین (متوفی : ٣٨٨ هجری). امام ابو القاسم خلف بن القاسم (متوفی : ٣٩٣ هجری) او علامه عبدالحق بن عبدالرحمن اشبیلی (متوفی ٥٨١ هجری هم په کتاب الزهد والرقاق باندې مستقل کتابونه لیکلې دی. (١)
خو په دې مطبوعه او غیر مطبوعه کتابونو کښې د ټولو نه زیات مشهور د عبدالله بن مبارک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله کتاب الزهد دې

د عبدالله بن مبارک رحمه الله کتاب الزهد: د عبدالله بن مبارک رحمه الله د دویمې صدۍ هجری جلیل القدر محدث او ممتاز مجاهد بزرګ امام دې. د هغه یو کال حج ته تلل او یو کال د جهاد دپاره تلل مشهور دی. د امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرد دې او د ائمه جرح او تعدیل د هغوی په ثقاهت باندې اتفاق دې. د هغوی پیدائش په ١١٨ هجری او وفات په ١٨١ هجری کښې شوې دې (٢)
هغوی د کتاب الزهد په نم سره مستقل کتاب لیکلې دې. چه هغې ته په امت کښې ډیر مقبولیت او شهرت حاصل شو. د دې کتاب د یوې نسخې راوی حسین بن الحسن مروزی دې کوم چه د امام ترمذی او امام ابن ماجه رحمه الله شیخ دې. او د چا وفات چه په ٢٤٦ هجری کښې شوې دې (٣) او د دې دویمې نسخې راوی نعیم بن حماد دې کوم چه مشهور محدث دې او د هغوی وفات په ٢٢٨ هجری کښې شوې دې (٤)
د علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ممتاز شاګرد مولانا حبیب الرحمن اعظمی رحمه الله د عبدالله بن مبارک رحمه الله کتاب الزهد په خپل تحقیق سره شائع کړې دې. هغوی درې نسخو لره مخې ته ږدلو سره تحقیق کړې دې. د آیات کریمه او احادیثو تخریج ئې اوکړو او په هغې باندې ئې ارقام اولګول. د مشکل الفاظو وضاحت ئې اوکړو. او په آخر کښې د نعیم بن حماد په

(١) اوګورئ مقدمة مولانا حبیب الرحمن اعظمی : ١٢-١٣
(٢) اوګورئ حلیة الاولیاء: ١٦٢/٨، وسیر اعلام النبلاء ٣٧٨/٨، وبستان المحدثین: ١٤٧، وتهذیب الکمال: ٥/١٦
(٣) تهذیب الکمال : ٣٣٤/٣
(٤) تذکرة الحفاظ : ٦/٢

نسخه کښې د مروزی په نسخه باندې اضافه ده. هغه هم په کتاب کښې شامله کړې شوه پس مروزی عن ابن المبارك په نسخه کښې ۱۲۲۲ احادیث او آثار دی او د نعیم بن حماد په نسخه کښې ۱۴۳۲ احادیثو او آثارو اضافه ده. دغه شان ټول ۲۰۲۲ احادیث شو. دا ټول آثار او روایات په فقهي ابوابو باندې مرتب کړې شوې دي.

د کتاب په شروع کښې مولانا حبیب الرحمن اعظمي رحمه الله د څلویښتو نه په زیاتو صفحاتو باندې مشتمل یو وقیع مقدمه هم لیکلې ده. چه په هغې کښې د زهد تعریف. په شریعت کښې د زهد مقام او مرتبې او د کتاب الزهد تعارف او د خپل کار د نوعیت وضاحت ئې فرمائیلې دي

مونږ سره چه د هغې دې وخت کښې کومه نسخه ده هغه دار الکتب العلمیة بیروت په ۱۴۲۵ هجری کښې چهاپ کړې ده. کوم چه د هغې دویم ایډیشن او په ۵۳۵ صفحاتو باندې مشتمل دې.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله كتاب الزهد: د امام احمد بن حنبل رحمه الله د تعارف محتاج نه دې. د هغوی کتاب الزهد هم ډیر معروف او متداول دې. علامه ابن تیمیة رحمه الله فرمائی:

«ومن اجل ما صنف فيه كتاب الزهد لعبد الله بن المبارك، وفيه روايات واهية، واجود ما صنف فيه كتاب الزهد للامام احمد، لكنه مكتوب على الاسماء، وزهد ابن المبارك على الابواب» [1]

یعنی: په دې سلسله کښې د ټولو نه جلیل القدر تصنیف د عبدالله بن مبارک کتاب الزهد دې. خو په هغې کښې ضعیف روایات دی. په دې باب کښې د ټولو نه عمده تصنیف. د امام احمد کتاب الزهد دې. کوم چه د اسماء په اعتبار سره لیکلې شوې دې. او د ابن المبارک رحمه الله کتاب الزهد د ابواب فقهیه په ترتیب باندې لیکلې شوې دې

امام احمد بن حنبل رحمه الله تقریبا تقریبا د دولسو انبیاء علیهم السلام او د څلویښتو صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعینو رحمهم الله د زهد او ورع آثار او واقعات نقل کړې دی. د کتاب په شروع کښې د رسول الله ﷺ د احادیثو او سیرت نه د زهد او ورع یو نمونه پیش کړې ده. په کتاب کښې موجود د هغه احادیثو او آثار تعداد ۲۳۷۹ دې. زمونږ مخې ته چه دې وخت کښې کومه نسخه ده. دا دار الکتب العربی په ۱۴۱۴ هجری. ۱۹۹۴ء کښې چهاپ کړې دې او دویم ایډیشن دې. دا ایډیشن د محمد سعید بسیونی زغلول د تحقیق او حواشی سره په ۵۷۲ صفحاتو باندې طبع شوې دې

الترغیب والترهیب للمنذری رحمه الله د زهد او رقاق متعلق د اوومې هجری صدئ مشهور محدث حافظ منذری رحمه الله هم د الترغیب والترهیب په نوم باندې کتاب لیکلې دې. کوم چه ډیر حده پورې جامع دې. د هغوی نوم عبدالعظیم بن عبد القوی منذری دې. او د هغوی وفات په ۶۵۶ هجری کښې شوې دې [2]

---

[1] کشف الظنون: ۲/۲۷۹

[2] مقدمة الترغيب والترهيب لمصطفى عمارة: ٢٤

هغوی د زهد او رقاق متعلق د صحاح ستة او د پورته ذكر شوې اكثر كتابونو احاديث راجمع كړي دي. بلكه هغوى فرمائى چه د لاندې ليكلې شوې كتابونو نه هغوى د ترغيب او ترهيب متعلق د ټولو احاديثو د استيعاب كوشش كړې دې.

① موطاء امام مالک ② مسند احمد
③ صحيح البخارى ④ صحيح مسلم
⑤ سنن ابى داؤد ⑥ سنن الترمذى
⑦ سنن نسائى ⑧ سنن ابن ماجة
⑨ معاجم طبرانى ⑩ مسند ابى يعلى موصلى
⑪ مسند بزار ⑫ صحيح ابن حبان
⑬ مستدرک حاکم ⑭ صحيح ابن خزيمه
⑮ کتب ابن ابى الدنيا ⑯ شعب الايمان او كتاب الزهد للبيهقى
⑰ ابو القاسم اصبهانى كتاب الترغيب والترهيب

حافظ منذرىؒ الترغيب والترهيب په لاندې ليكلې شوې فقهى ابوابو باندې مرتب كړې دې: كتاب العلم. كتاب الطهارة. كتاب النوافل. كتاب الجمعة. كتاب الصدقات. كتاب الصوم. كتاب العيدين. كتاب الحج. كتاب الجهاد. كتاب قراءة القرآن. كتاب الذكر والدعاء. كتاب البيوع. كتاب النكاح. كتاب اللباس. كتاب الطعام. كتاب الحدود. كتاب البر والصلة. كتاب الادب. كتاب التوبة والزهد. كتاب الجنائز. كتاب البعث واحوال القيامة.

حافظ منذرىؒ د احاديثو نه سند حذف كړى دى او عموما ئې صرف د صحابى يا تابعى نوم باقى پريخودلې دې. د كوم كتاب نه چه ئې حديث اخستلې دې د هغې حواله ئې وركړې ده او د حديث حيثيت ئې واضح كړې دې او كه يو حديث متكلم فيه دې نو د محدثانه اصولو مطابق د ضعف د وجې هغوى وضاحت فرمائيلې دې.[1]

زمونږ مخې ته چه دې وخت كښې كومه نسخه ده هغه د مصطفى محمد عمارة په تحقيق باندې دار احياء التراث العربى بيروت په ۱۹۲۸ء كښې په څلورو جلدونو كښې شائع كړې ده او دريم ايډيشن دې. د كتاب په شروع كښې محقق تقريبا د ديرشو صفحاتو مقدمه ليكلې ده. چه په هغې كښې د اصول حديث اصطلاحات او د كتاب د مراجع د مصنفينو تعارف ئې كړې دې.

[1]) اوګورئ: الترغيب والترهيب: ۱/۳۷-۵۰

۸۳: کتاب الرقاق

رقاق د رقیق جمع دے. چه د هغې معنی ده: رقت والا، نرې، نرم د صحیح بخاری په بعض نسخو کښې او د حدیث شریف په بعض کتابونو کښې رقائق دې. کوم چه د رقیقة جمع دے. حضرات محدثینو د دې کتاب د لاندې هغه احادیث جمع کوی. چه په هغې سره په زړه کښې دننه رقت او نرمدی پیدا کیږی (۱)

① باب مَا جَاءَ فِي الرِّقَاقِ وَأَنْ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ

په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دوه خبرې بیان کړې دی یوه خبره ئې د جسمانی صحت او د وختونو د فراغت فضیلت او اهمیت بیان کړې ده او دویمه خبره دا ده چه اصل ژوند د آخرت ژوند دې.

[۶۰۴۹] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ - هُوَ ابْنُ أَبِي هِنْدٍ - عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ».

قَالَ عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ عَنْ أَبِيهِ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم: مثله

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. دوه نعمتونه داسې دی چه اکثر خلق د دې په باره کښې په دهوکه کښې دی. صحت او فراغت. عباس عنبری بیان اوکړو چه مونږ ته صفوان بن عیسی د عبدالله بن سعید نه او هغوی د خپل والد نه نقل کړې دی چه ما د ابن عباس رضی الله عنهما نه واوریدل. هغوی د رسول الله ﷺ نه هم دغه شان حدیث واوریدلو.

المکی نوم دې. نسبت نه دې. د امام بخاری رحمه الله په لویو استاذانو او شیوخو کښې دې.

عبدالله بن سعید د صغار تابعینو نه دې. هوابن ابی الهند په دې کښې ﴿هو﴾ ضمیر د سعید طرف ته راجع دې (۲)

د صحت او فراغت دې قدر اوکړې شی: رسول الله ﷺ په دې حدیث کښې ارشاد فرمائی چه انسان د دوه نعمتونو په باره کښې په غلط فهمئ کښې اخته وی. یو صحت او تندرستی او دویم د فراغت او فرصت وختونه.

په دنیا کښې د داسې خلقو کمې نشته کوم چه خلق صحت او تندرستئ لره غنیمت ګڼړلو سرد د دین او دنیا په فائدو کښې د خرچ کولو په ځائې هغه ضائع کوی. بیا چه ئې کله صحت خراب شی او د بدن طاقتونه او صلاحیتونه ئې کار نه کوی نو بیا محسوسیږی چه د دنیا او

(۱) عمدة القاری: ۴۶/۲۳، فتح الباری: ۲۸۶/۱۱، ارشاد الساری: ۴۱۱/۱۳

(۲) عمدة القاری: ۴۷/۲۳، فتح الباری: ۲۸۶/۱۱، ارشاد الساری: ۱۳/

اخرت د ځومره کارونو طرف ته. د صحت په زمانه کښې هغوی توجه ورکړې وه. هم دا حال د وختونو د فراغت دې، د فرصت وختونه ئې هم داسې ضائع لاړ شی. او روستو مختلف مشغولیات. مصروفیات او د کارونو چه کله هجوم راشی نو د فرصت د وختونو په ضائع کیدو باندې ډیر افسوس کوی.

﴿مغبون﴾: د اسم مفعول صیغه ده یا خو د غبن نه اخستلې شوې دې (د نون په سکون سره) چه د هغې معنی د خسارې ده او یا د غبَن (په فتحې د باء سره) چه د هغې معنی د رائې د کمزورئ راځی. مقصد دا دې چه کوم سړې د دې دواړو نعمتونو قدر اونکړو. هغه په خساره کښې پاتې شو یا په دهوکه کښې پاتې شو او په دې باره کښې د هغه سوچ او فکر کمزورې پاتې شو. څنګه چه سړې په اخستلو او خرڅولو کښې دهوکه خوړلو سره په مفتو کښې ګټه ورکه کړی او د خسارې ښکار شی. دغه شان د دې دوه نعمتونو ناقدری کونکی هم په خساره کښې وی.(۱)

[۶۰۵۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « اللَّهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلاَّ عَيْشُ الآخِرَهْ ، فَأَصْلِحِ الأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ». [۲۶۷۹]

د سیدنا انس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې الله ! اصل ژوند خو د آخرت ژوند دې. پس انصار او مهاجرین ته صالح او نیک ساته.

[۶۰۵۱] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ السَّاعِدِيُّ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي الْخَنْدَقِ وَهُوَ يَحْفِرُ وَنَحْنُ نَنْقُلُ التُّرَابَ وَيَمُرُّ بِنَا فَقَالَ «اللَّهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلاَّ عَيْشُ الآخِرَهْ، فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ». تَابَعَهُ سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - مِثْلَهُ. [ر ۳۵۸۶]

د سیدنا سهل بن سعد ﷺ روایت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د غزوه خندق په موقع باندې موجود وو. رسول الله ﷺ خندق کنستلو او مونږ خاوره منتقل کوله. او رسول الله ﷺ مونږ ته نزدې تیریدلو سره اوفرمائیل اې الله ! اصل ژوند خو د آخرت ژوند دې، پس ته د انصارو او مهاجرینو مغفرت اوکړه. د دې روایت متابعت سهل بن سعد ﷺ هم د رسول الله ﷺ په حوالې سره کړې دې.

۲ باب مَثَلِ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ

دنیا په مقابله د اخرت کښې. ﴿فی الاخرة﴾ د جار مجرور تعلق د محذوف سره دې. تقدیر د عبارت داسې دې: مثل الدنیا بالنسبة الی الاخرة ... فی حرف جر په معنی د الی دې. د قرآن کریم

(۱) عمدة القاري: ۴۷/۲۳، فتح الباري: ۲۸۶/۱۱

آیت کریمه ﴿ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ ﴾ کښې هم فی په معنی د الی ده [۱]، په ترکیب کښې دننه ﴿مثل الدنیا﴾ مبتدا، ده او خبر محذوف دې ﴿کمثل لاشئ﴾ [۲].

په صحیح مسلم کښې د مستورد بن شداد ﷛ روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

﴿ وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلاَّ مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ ﴾ [۳]، یعنی قسم په الله د آخرت په مقابله کښې د دنیا مثال داسې دې، لکه چه په تاسو کښې یو سړې خپله ګوته په سمندر کښې ډوبه کړی او بیا اوګوری چه هغه ګوته د څه څیز سره واپس شوې ده

مطلب دا دې چه یو سړې په سمندر کښې ګوته ډوبه کړی نو په هغې باندې صرف لوند والې یا قطره نیمه لګیدلې وی. د دې لوند والی او قطرې د سمندر د اوبو په مقابله کښې هیڅ حیثیت هم نه دې. هم دغه شان د دنیا زمانې او نعمتونو د آخرت په مقابله کښې هیڅ مناسبت نشته. دا تمثیل هم صرف د خلقو د پوهه کولو دپاره دې ګینې په حقیقت کښې د دنیا د نعمتونو د آخرت د نعمتونو سره مقابله هم نه شی کیدې. ځکه چه دنیا فانی او متناهی ده او آخرت باقی او غیر متناهی دې

﴿ وَقَوْلِهِ تَعَالَى : أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴾ (الحدید:۲۰)

تاسو ښه ځان پوهه کړئ چه د دنیا ژوند صرف لوبه او تماشه ده. او ستاسو ترمینځه په یو بل باندې فخر کول او په مالونو او اولاد کښې په یو بل باندې ستاسو زیادت بیانول دی. لکه باران چه د هغې پیدوار زمیندارو ته ښکلې معلومیږی. بیا هغه اوچ شی نو ته ئې زیړ وینې. بیا هغه ذره ذره شی. او په آخرت کښې سخت عذاب دې. او د الله پاک د طرف نه مغفرت او رضامندی ده او د دنیا ژوند صرف د دهوکې سامان دې

د دنیاوی ژوند عدم ثباتی په دې آیت کریمه کښې الله پاک د دنیاوی ژوند بې وقعتی بیانولو سره فرمائیلې دی چه د دنیا ژوند فانی. صرف د دهوکې او فریب سبب دې. هرګز قابل اشتغال مقصود نه دې ځکه چه هغه په ماشوم والی کښې په لوبو او تماشو. په ځوانئ کښې په ډول او زینت او قوت او جمال او په دنیوی هنر او کمال کښې خپل مینځ په یو بل باندې فخرکول او په بوډاتوب کښې دمال اودولت او د اولاد د فکر کولو نوم دې او دا ټول مقاصد ډیر زیات حقیر او زر ختمیدونکی دی. په سرعت زوال او اضمحلال کښې د هغې مثال د فصل په شان دې چه د هغې ښکلا او سپرلې څو ورځې وی. زمیندار هغې ته کتلو سره خوشحالیږی. څوځو ورځې پس هغه اوچیدوسره زیړشی.انسان او څاروی په هغې

[۱]) عمدة القاری : ۴۸/۲۳. ارشاد الساری : ۴۱۴/۱۳. روح المعانی ۲۴۲/۱۳

[۲]) عمدة القاری : ۴۸/۲۳. ارشاد الساری : ۴۱۴/۱۳

[۳]) صحیح مسلم. کتاب الجنة وصفة نعیمها. باب فناء الدنیاء وبیان الحشر یوم القیامة. ۱۷۹/۱۸. رقم الحدیث : ۷۱۲۶

بندي ختلو سره هغه ذره ذره کړي او د هغه سپړلي او بنکلا نوم هم پاتې نه شي. هم دا حال د دې دنيا د ژوند دې. او د هغې په مقابله کښې د آخرت ژوند لافاني او هميشه باقي پاتې کيدونکي دې. چه په هغې کښې د اهل ايمان دپاره د الله پاک دطرف نه د رضامندئ او د مغفرت انعام او اکرام دې او دکفارو دپاره سخت عذاب دې اودا دواړه نه ختميدونکي امور دی. لهذا د مسلمان په دنيا کښې د انهماک په ځائې د آخرت دپاره توښه تيارول پکار دی

﴿ لهو ﴾ تفريحی مشغله. سامان تفريح. فضول کارونه وغيره کوم چه انسان د آخرت نه غافل کړی ﴿ زينة ﴾ ډول او زينت. سنګهار او فيشن وغيره.

﴿ تفاخر ﴾: قوت او جمال او دنيوی هنر او کمال کښې په يو بل باندې فخر کول

﴿ تکاثر في الاولاد والاموال ﴾ په مالونو او اولاد کښې په يو بل باندې زيادت بيانول

﴿ غيث ﴾: باران ﴿ الکفار ﴾ زميندار مراد دی، کاشت کار ته کافر هم وئيلې شي. ځکه چه د کفر معنی ستر ده. پټول او زميندار هم په زمکه کښې تخم پټوی او د دې نه کافر هم مراد کيدې شي. ځکه چه د دنيا ډول او سنګار هغوی ډير زيات خوښوی. (۱)

﴿ يهيج: هاج النبت يهيج هيجا ﴾ معنی ده: د ګيا يا بوټی او چيدو سره زيړيدل. د فصل پخيدو ته نزدې کيدل. زورور کيدل.

﴿ مصفرا ﴾: د اصفرار نه دې. په معنی د زيړيدلو.

﴿ حطاما ﴾: د يو ځيز ميده کيدل او ذره ذره کيدل. (۲)

[۶۰۵۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا». [ر ۲۶۴۱]

د سيدنا سهل رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په جنت کښې د يو چابک په مقدار ځائې د دنيا او څه چه په دې کښې دی د دې نه غوره دی او د الله پاک په لاره کښې سحر يا مابنام تلل د دنيا وما فيها نه غوره دی.

دنيا د اخرت په مقابله کښې هيڅ هم نه ده: رسول الله ﷺ په دې حديث کښې دوه خبرې بيان فرمائيلې دی. يو دا چه په جنت کښې د يو چابک په مقدار ځائې د دنيا او د دې د ټولو خزانو نه غوره دې. د يو چابک ځائې ډير کم وی. مقصد دا دې چه د جنت لږه او مختصر حصه د دنيا او د هغې د ټولو نعمتونو او خزانو نه غوره ده. ځکه چه د دنيا نعمتونه فانی او زائل کيدونکی دی. او د آخرت هر نعمت ته دوام او بقا حاصله ده.

(۱) روح المعاني ۲۶۰/۲۷، هم دغه شان د لغاتو د تحقيق دپاره اوګورئ: الکشف والبيان فی تفسير القرآن ۱۱۶/۶

(۲) قال الراغب: الحطام: ما يتكسر من اليبس (المفردات: ۱۳۸)

د حديث دوه مطلبونه دويمه خبره ئې دا ارشاد اوفرمائيله چه د الله پاک په لاره کښې يو سحر او يو ماښام د دنيا او څه چه په دې کښې دى د ټولو نه غوره دى. حضرات محدثين د دې دوه مطلبونه بيان کړى دى

① يو دا چه د الله پاک په لاره کښې. د الله پاک د دين دپاره. د يو سحر او يو ماښام وخت خرچ کولو باندې په آخرت کښې چه کوم اجر او ثواب ملاويږى. هغه د دنيا او د هغې د ټولو خزانو نه غوره ده. ځکه چه د آخرت ثواب او اجر دائمى او د دنيا خوشحالئ فانى دى. [1]. د دې مطلب تائيد د حديث شريف په اوله جمله ﴿موضع سوط فى الجنة﴾ نه کيږى. ځنګه چه په اوله جمله کښې د دنيا مقابله د آخرت سره کړې شوې ده. هم دغه شان په دې دويمه جمله کښې هم د آخرت د اجر او ثواب تقابل د دنيا سره کړې شوې دې. او مطلب دا دې چه د آخرت اجر د دنيا نه غوره دې

② دويم مطلب دا بيان کړې شوې دې چه يو سړې د الله پاک په لاره کښې سحر او ماښام خرچه کوى. د هغه اجر او ثواب د هغه سړى د اجر او ثواب نه زيات غوره دې کوم چه د دنيا او د دې د ټولو خزانو د خرچ کولو نه حاصليږى. يعنى که يو سړې د دنيا او د هغې د ټولو خزانو مالک شى او هغه خرچ کړى، د هغې ثواب به هغه ته حاصل شى خو د دې ثواب په مقابله کښې د الله پاک په لاره کښې د الله پاک د دين د اوچت والى دپاره د سحر يا ماښام لګولو ثواب زيات غوره دې. [2]

په دې دويم مطلب کښې د ثواب تقابل د ثواب سره کړې شوې دې. يو د سحر او ماښام ثواب دې، دويم د دنيا د انفاق ثواب دې. اول ثواب ته ترجيح ورکړې شوې ده

د دې دويم مطلب تائيد. د عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د واقعې نه کيږى. رسول الله ﷺ په يو جهادى قافله کښې د هغوى تشکيل فرمائيلې وو. د جمعې په ورځ باندې قافله روانيدل وو. د سحر په وخت قافله روانه شوه او سيدنا عبدالله بن رواحه رضی الله عنه په دې سوچ باندې روستو پاتې شو چه د جمعې مونځ به د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کښې ادا کړى او بيا به په تيزئ سره سفر کولو باندې د قافلې سره ملاؤ شى. رسول الله ﷺ چه کله هغوى په مسجد کښې اوليدل. تپوس ئې اوکړو. هغوى ورته خپله اراده عرض کړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿لو انفقت ما فى الارض ما ادركت فضل غدوتهم﴾ يعنى که ته د دنيا ټول دولت هم اوس خرچ کړې نو د سحر تلونکو ثواب نه شې موندلې. [3]

د سيدنا عبدالله بن رواحه رضی الله عنه په دې حديث کښې هم د ثواب مقابله د ثواب سره کړې شوې ده. د دې نه د دويم مطلب تائيد کيږى او په ظاهره کښې په دواړو مطلبونو کښې هيڅ تضاد نشته. په دې وجه دواړه جمع کيدې شى.

---

[1] شرح ابن بطال: ۱۴/۵

[2] فتح البارى: ۱۴/۶، كتاب الجهاد، باب الغدوة والروحة فى سبيل الله.

[3] فتح البارى: ۱۴/۶

③ باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ»

[٦٠٥٣] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبُو الْمُنْذِرِ الطُّفَاوِيُّ عَنْ سُلَيْمَانَ الأَعْمَشِ قَالَ حَدَّثَنِي مُجَاهِدٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِمَنْكِبِي فَقَالَ «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ». وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ إِذَا أَمْسَيْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ، وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ، وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ، وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چه رسول الله ﷺ زما اوږه نيولو سره اوفرمائيل په دنيا کښې داسې شه لکه چه ته مسافر ئې يا په لاره باندې روان ئې. سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل چه سحر شی نو د ماښام مه په طمع کيږه. او چه کله سحر شی نو د ماښام انتظار مه کوه (بلکه چه کوم نيک عمل کول غواړې هم هغه وخت ئې کوه) خپل صحت لره د مرض نه مخکښې غنيمت اوګڼړه او خپل ژوند د مرګ نه مخکښې.

﴿ الطُّفَاوِيُّ ﴾ (د طاء په ضمې سره) دا نسبت دې د بنو طفاوه طرف ته. بعضو وئيلې دی چه دا په بصره کښې د يو ځائې نوم دې. (١) د هغوی نوم محمد بن عبدالرحمن دې او د امام بخاري رحمه الله شيخ الشيخ دې. د امام بخاري رحمه الله شيخ علی بن عبدالله دې. محمد بن عبدالرحمن د هغوی شيخ دې او دوی نقل کوی د سليمان بن معتمر نه کوم چه په اعمش سره مشهور دې.

په دنيا کښې دې د مسافر په شان ژوند تير کړی: ﴿ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ ﴾: د غريب معنی د پردی دد او د عابر سبيل نه مراد په لاره باندې تيريدونکې او وړاندې تلونکې مسافر مراد دې. کوم سړې چه په يو ښار کښې دننه پردې وی، د هغه کور، متعلقين او پيژندګلو نه وی نو د هغوی سره تعلقات هم کوی. د حديث مطلب دا دې چه په دنيا کښې، د يو پردی او ناپيژندګلو سړی په شان د دنيوی تعلقاتو نه يو طرف ته کيدلو سره ژوند تيرول پکار دی يا د هغه سړی په شان چه مسافر وی او د وړاندې تلو دپاره سور وی. هغه اودريږی نه، په هٔه منزل او مقام باندې وخت نه ضائع کوی بلکه د هغه وړاندې تلو ته فکر وی. هم دغه شان يو مومن له هم دنيا ته د لارې د يو منزل نه زيات حيثيت نه دی ورکول پکار. هغه لره د خپل آخرت او انجام فکر کښې مستقل او مسلسل لګيدل پکار دی. علامه قسطلانی رحمه الله ليکی:

﴿ قدم بلداً لا مسكن له فيها يؤويه ولا سكن يسليه خال عن الأهل والعيال والعلائق التي هي سبب الاشتغال عن الخالق ولما شبه الناسك السالك بالغريب الذي ليس له مسكن ترقى وأضرب عنه بقوله (أو عابر سبيل) لأن

(١) عمدة القاری: ٢٣/٥٠. ارشاد الساری: ١٣/٤١٦

الغريب قد يسكن في بلاد الغربة ويقيم فيها بخلاف عابر السبيل القاصد للبلد الشاسع وبينه وبينها أودية مردية ومفاوز مهلكة وهو بمرصد من قطاع الطريق فهل له أن يقيم لحظة أو يسكن لمحة »[1].

قوله: ﴿ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ ﴾: يعنی د خپلې تندرستئ او صحت نه د مرض او بيمارئ د وخت دپاره څه حاصل کړئ؛ مطلب دا دې چه د صحت په زمانه کښې محنت کول پکار دی او د اعمالو طرف ته پوره توجه کول پکار دی. چه ډير کرته انسان بيمار شی او د بيمارئ د وجې نه ډير زيات اعمال نه شی پوره کيدلې نو د صحت په زمانه کښې د حفظ ما تقدم په طور باندې د هغې د مخکښې نه تلافی کول پکار دی.

پنځه څيزونه غنيمت اوګڼرئ: امام حاکم رحمه الله د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت نقل فرمائيلې دې. په هغې کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل:

﴿ اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ : شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ ﴾[2]

رسول الله ﷺ يو سړی ته نصيحت کولو سره اوفرمائيل: پنځه څيزونه د پنځو څيزونو نه مخکښې غنيمت اوګڼړه. يعنی پنځه حالتونه داسې دی چه کله هغه موجود شی نو هغه د پنځه حالتونو نه مخکښې غنيمت اوګڼړه. کوم چه په روستو زمانه کښې پيښيدونکې دی:

① د بوډاتوب نه مخکښې ځوانی يعنی خپله دا زمانه غنيمت اوګڼړه او د دې نه پوره فائده اوچته کړه. چه په هغې کښې تاسو ته د عبادت او طاعت انجام ته رسول او د الله پاک دين لره د خورولو طاقت او همت پيدا شی، مخکښې د دې نه چه ستا د بدنی زوال زمانه راشی او ته د عبادت او طاعت وغيره په پوره کولو کښې ضعف او کمزوری محسوس کړې.

② د بيمارئ نه مخکښې صحت، يعنی د ايمان نه پس چه کوم څيز د ټولو نه لوئې نعمت دې، هغه صحت او تندرستی ده، لهذا د خپل صحت او تندرستئ په زمانه کښې اګر چه هغه د بوډا توب د دور نه ولې نه وی. يعنی د دينی او دنياوی خير او بهترئ دپاره چه څه کولې شئ اوکړئ.

③ د فقر او غريبئ نه مخکښې مالداری او خوشحالی، يعنی تاسو ته چه کوم مال او دولت نصيب شوې دې، د دې نه مخکښې چه هغه ستا د لاس نه اوځی چه د مرګ پنجه تا د هغه نه جدا کړی. ته هغه په عبادت ماليه يا صدقات او خيرات کښې خرچ کړه او دا دولت مندی او خوشحالی يو داسې غنيمت موقع اوګڼړه چه په هغې کښې ته خپل اخروی فلاح او سعادت دپاره ډير څه کولې شې.

④ په مشغولتيا او فکرونو کښې د مبتلا کيدو نه مخکښې د فراغت او اطمينان وخت.

⑤ د مرګ نه مخکښې ژوند.

[1] ارشاد الساری: ۴۱۶/۱۳
[2] المستدر للامام الحاکم. کتاب الرقاق: ۳۴۱/۴. رقم الحديث: ۷۸۴۷

﴿ اغتنم ﴾ د باب افتعال نه د امر حاضر صيغه ده چه د هغې معنی ده. د غنيمت مال اخستل او غنيمت په اصل كښې خو هغه مال ته وائي. كوم چه مسلمان جنګيدلو او حمله كولو سره د حربي كافرانو نه حاصل كړي. خو د دې لفظ اطلاق په هغه څيز باندې هم كيږي كوم چه د څه محنت او مشقت نه بغير انسان ته حاصل شي.
د حديث حاصل دا دې چه ځواني. صحت. دولت. د وخت فراغت او ژوند داسې څيزونه دي. كوم چه هميشه ملګرتيا نه كوي. د ځوانئ نه پس بوډاتوب. د صحت نه پس بيماري. د دولت نه پس محتاجي. د وخت د فراغت نه پس فكرونه او مشاغل او د ژوند نه پس د مرګ راتلل لازمي امر دي.
لهذا تر څو پورې چه دا څيزونه نه وي راپيښ شوي. د غنيمت موقع ئې اوګڼړئ او په دې كښې كه د خپلې دنياوي او اخروي غوره والي دپاره څه كولې شې. نو د هغې نه غفلت مه اختياروئ.

۲ باب فِي الأَمَلِ وَطُولِهِ

﴿ امل ﴾ اميد ته وائي. انسان په دنيا كښې اوږدې اوږده اميدونه كوي. په دې باب كښې امام بخاري رحمه الله د اوږدو اميدونو حقيقت واضح كړې دې. [1]
وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ)آل عمران: ۱۸۵ (ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ).الحجر: ۳
د ترجمة الباب د ايتونو تفسير:

قوله: ﴿ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴾: پس څوک چه هغه ورځ د جهنم د اور نه لرې كړې شو او جنت ته داخل كړې شو نو هغه كامياب شو او د دنيا ژوند صرف د دهوكې سودا ده.
﴿ زحزح ﴾: دا د باب فعلله نه د فعل ماضي مجهول صيغه ده. د دې مجرد ﴿ زح يزح ـ زحا ﴾ راځي. چه د هغې معنی ده: يو څيز لره د هغه د ځائې نه لرې كول. او د ﴿ زحزح ﴾ معنی ده:

---

[1]) قال القسطلاني رحمه الله : الامل : بفتح الهمزة والميم وهو الرجاء فيما تحبه النفس من طول عمر وزيادة غنى يقال أمل خيره يأمله أملاً، وكذلك التأميل ومعناه قريب من التمني، وقيل الفرق بينهما أن الأمل ما تقدم سببه والتمني بخلافه، وقيل الأمل إرادة الشخص تحصيل شيء يمكن حصوله فإذا فاته تمناه والرجاء تعليق القلب بمحبوب ليحصل في المستقبل.
والفرق بين الرجاء والتمني أن التمني يورث صاحبه الكسل ولا يسلك طريق الجهد والجد وبعكسه صاحب الرجاء فالرجاء محمود والتمني معلول كالأمل إلا للعالم في العلم فلولا طول أمله ما صنف ولا ألّف. وفي الأمل سر لطيف لأنه لولا الأمل ما تهنى أحد بعيش ولا طابت نفسه أن يشرع في عمل من أعمال الدنيا، وإنما المذموم منه الاسترسال فيه وعدم الاستعداد لأمر الآخرة. (ارشاد الساري، كتاب الرقاق : ۱۳/۴۱۷)

جذب بعجلة: په تندئ سره لرې كول. رابنكل. دلته د دې معنى ده لرې كول او بېځ كول
د دنيوى ژوند حقيقت: ﴿ متاعُ الغرور ﴾ غرور يا خو مصدر دې د ﴿ غرّ يغرّ ـ غرورا ﴾ نه. په معنى د دهوكې وركولو. يا د غار جمع ده، د متاع په معنى كښې دې. ﴿ مايتمتع به وينتفع به مما يباع ويشترى ﴾ [١] يعنى اخستلې كيدونكې او خرڅيدونكې قابل انتفاع څيز
الله پاک د دې دنيا سپک والې او د هغې خسامت باندې تنبيه او اشاره كولو سره د دې د سامان سره تشبيه وركړې ده چه د هغې مالک د هغې عيب لره پټولو سره مشترى ته د هغې خوبيانې شمارلو سره د هغې په اخستلو باندې تيار كړى. حكيم الامت مولانا اشرف على تهانوى رحمه الله فرمائى:
او دا چه ئې اوفرمائيل چه د دهوكې سودا ، د دې نه دې دا فهم نه كړې شى چه د دنيا ژوند د تولو دپاره ضررى دې. مطلب په تشبيه سره صرف دا دې چه دا د مقصود اصلى جوړولو قابله نه ده، بلكه كه يو كريم قصدا دا سودا په ښه قيمت باندې اخلى نو د دې سودا سره دې مينه نه كوى. بلكه غنيمت ګنړلو سره دې خرڅه كړى. پس اهل حق ددې ژوند او د دې د فائدو په عوض كښې د الله پاک نه اعمال صالحه او جنات عاليه اخلى. [٢]
دويم ايت كريمه:
قوله: ﴿ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾: تاسو هغوى د هغوى په حال باندې پريږدئ. چه هغوى خوراک اوكړى، مزې اوكړى او خيالى منصوبې هغوى په غفلت كښې واچوى، هغوى ته به نزدې حقيقت معلوم شى.
په دې آيت كريمه كښې الله پاک رسول الله ﷺ ته تسلى وركولو سره فرمائى چه هر كله دا خلق ستاسو په نصيحت باندې غور نه ګروى. په دې باندې عمل نه كوى او ستاسو خبره نه منى نو تاسو ولې د هغوى په غمونو كښې ويلې كيږئ. د هغوى په كفر باندې غم مه كوئ، هغوى د هغوى په حال باندې پريږدئ چه څو ورځې د څناورو په شان خوراک څکاک اوكړى او مزې اوكړى او د مستقبل متعلق ښه اوږدهٔ اوږدهٔ اميدونه او خيالى منصوبې جوړې كړى، ډير زر به ورته هر څه معلوم شى، حقيقت به براَنستلې شى. او وړاندې روستو خوړلې څكلې هر څه به ئې راوځى. پس څه خو په دنيا كښې د مجاهدينو په لاس باندې د قيد او قتل په ذريعه حقيقت ښكاره شواو پوره تكميل به ئې په آخرت كښې د دائمى عذاب په ذريعه اوشى.
﴿ ذرهم ﴾: ذر بمعنى اترك امر دې. د دې ماضى قليل الاستعمال ده.... ﴿ ياكلوا ﴾ د جواب امر كيدو د وجې نه مجزوم دې. ﴿ يتمتعوا ﴾ او ﴿ يُلْهِ ﴾ دا دواړه په ﴿ ياكلوا ﴾ باندې د معطوف كيدو د وجې نه مجزوم دى.

[١]) ارشاد السارى ١٨/١٣ ٤، هم دغه شان اوګورئ: المفردات للراغب: ٥١٥
[٢]) بيان القرآن: ٣٠٥/١، (سورة آل عمران)

﴿ يُلْهِ ﴾ : د الهى يلهى- الهاء نه د فعل مضارع معروف واحد مذكر غائب صيغه ده. په اصل كښې يلهى وو. ياء د جزم په وجه او غورځيده (١) د دې معنى ده غافل كول

وَقَالَ عَلِي ارْتَحَلَتِ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً، وَارْتَحَلَتِ الآخِرَةُ مُقْبِلَةً، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ، فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الآخِرَةِ، وَلاَ تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا، فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلاَ حِسَابَ، وَغَدًا حِسَابٌ وَلاَ عَمَلَ. (بِمُزَحْزِحِهِ: البقرة: ٩٦ / بِمُبَاعِدِهِ.

سيدنا على رضي الله عنه فرمائى دا دنيا د دې ځائې نه كوچ كولو سره مخ اړونكې روانه ده. او آخرت كوچ كولو سره زمونږ طرف ته مخ كولو سره راروان دې يعنى د دنيا زمونږ د طرف نه مخ اړولو سره د خپلې فنا طرف ته مخكښې كيدل او د آخرت د خپلې بقاء سره زمونږ طرف ته متوجه كيدل ظاهريږي او په دې دواړو يعنى دنيا او آخرت كښې د هر يو ځامن دى. پس تاسو نيک عمل اختيارولو سره او د آخرت طرف ته متوجه كيدو سره د آخرت ځامن شئ او د آخرت نه بې پرواه او د دنيا طرف ته رغبت او متوجه كيدلو سره د دنيا په ځامنو كښې مه كيږئ. ياد ساتئ! نن ورځ د عمل كولو ده. د حساب ورځ نه ده. يعنى دا دنيا دار العمل دې. دار الحساب نه دې (دلته بس زيات نه زيات نيک عمل كوئ) او صبا له به د قيامت په ورځ د حساب ورځ وى. د عمل كولو نه.

قوله: ﴿ بِمُزَحْزِحِهِ (البقرة: ٩٦) : بِمُبَاعِدِهِ ﴾ : ﴿ مزحزحه ﴾ دا د سورة بقرة په آيت نمبر ٩٦ كښې واقع دې ﴿ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ ﴾ په دې كښې د ﴿ مزحزحه ﴾ معنى ﴿ مباعده ﴾ يعنى د لرې كونكى ده.

د آيت كريمه مطلب دا دې چه هغه د دې جهنم د عذاب نه لرې كونكې نه دې. مقصد دا دې چه د جهنم د عذاب نه به بچ نه شى.

﴿ فَمَنْ زُحْزِحَ..... ﴾ د مناسبت د وجې نه امام بخارى رحمه الله د سورة بقرة دا لفظ دلته ذكر كړو. لكه چه په صحيح بخارى كښې د امام بخارى رحمه الله دا اسلوب دې

[٦٠٥٢] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ مُنْذِرٍ عَنْ رَبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - خَطًّا مُرَبَّعًا، وَخَطَّ خَطًّا فِي الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ، وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ، مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الْوَسَطِ وَقَالَ «هَذَا الإِنْسَانُ، وَهَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ - أَوْ قَدْ أَحَاطَ بِهِ - وَهَذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ، وَهَذِهِ الْخُطَطُ الصِّغَارُ الأَعْرَاضُ، فَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا، وَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا».

د سيدنا عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم څلوكور خط راښكلو، بيا ئې د هغې درمينځه يو خط راښكلو كوم چه د څلوكور خط نه وتلې وو. د هغې نه پس ئې د مينځ والا

(١) اوګورئ: اعراب القرآن للدرويش: ١٧٢/٤

خط په هغه حصه کښې کومه چه د چوکور ترمینځه وه. واړه واړه نور خطونه راښکل او وې فرمائیل چه دا انسان دې او دا د هغه مرګ دې کوم چه هغه لره ګیر کړې دې. او دا چه د مینځنی خط حصه، ده یا بهر وتلې ده. دا د هغه امید دې او واړۀ واړۀ خطوط مشکلات دی. پس انسان چه کله د یو (مشکل) نه بچ کیدو سره اوخی نو په بل کښې اونخلی او چه د دویم نه اوخی نو په دریم کښې اونخلی

د اوږدو امیدونو دهوکه : په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ د انسانی ژوند د اوږدو امیدونو دهوکه ورکول بیان فرمائیلې دی چه انسان په خپل ژوند باندې د اوږدو امیدونو دنیا قائموی. د ارزوګانو دنیا ډولی کوی. د منصوبو یوه اوږده سلسله جوړوی خو هغه ته خبر نه وی چه هغه ډیر زر د دنیا نه روان دې. د هغه ژوند په زرګونو افتونو او مصیبتونو کښې ګیره ده. چه د یو آفت نه خلاص شی او بچ هم شی نو دویم آفت پرې راشی او دغه شان د هغه ژوند ختم شی.

د نقشې په ذریعه د دنیا د حقیقت مثال : رسول الله ﷺ دا حقیقت د یوې نقشې په ذریعه بیان فرمائیلې دې. هغوی یو چوکور مربع خط راښکلو. د هغې نه ئې یو خط د بهر طرف ته راښکلو او د مینځنی خط په خوا کښې ئې وړې وړې کرښې راښکلې. او د چوکور ډبې په شان خط طرف ته ئې اشاره کولو سره اوفرمائیل چه دا د انسان مرګ او اجل دې. چا چه دا انسان ګیر کړې دې او د هغې نه وړاندې انسان نه شی تلې. د مینځ خط طرف ته اشاره کولو سره ئې اوفرمائیل چه دا انسان دې او د وړو کرښو طرف ته اشاره کولو سره ئې اوفرمائیل چه دا هغه آفتونه دې کوم چه د انسانی ژوند طرف ته متوجه دی. د یو نه یو آفت انسان ښکار شی او که په آفت کښې ګیر نه شې نو طبعی مرګ خو بهر حال راتلل دی. علامه عینی رحمه الله د دې نقشه داسې جوړه کړې ده.[1]

مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله دې مخکښې نقشې ته معتمد وئیلې ده چه سیاق حدیث هم په دې باندې دلالت کوی. پس هغوی لیکی:

[1]) عمدة القاری : ۵۳/۲۳. (قلت : لفظ المربع فی الحدیث المذکور یدل علی ان الخط مربعا لا مستطیلا فخط مرتب کشف الباری لا یوافق الحدیث)

﴿ والاول المعتمد، وسياق الحديث يتنزل عليه فالاشارة بقوله هذا الانسان الى النقطة الداخلة وبقوله : وهذا اجله محيط به، الى المربع وبقوله : وهذا الذى هو خارج امله، على الخط المستطيل المنفرد، وبقوله : وهذه : الى الخطوط وهم المذكورة على سبيل المثال، لان المراد انحصارها فى عدد معين يؤيده قوله فى حديث انس بعده : اذ جاءه الخط الاقرب ... فانه اشارة به الى الخط المحيط به ﴾ (١)

يعنى : اوله نقشه قابل اعتماد ده. او د حديث سياق هم په هغې نازليږي. په ﴿ هذا الانسان ﴾ سره اشاره ده دننه نقطې طرف ته او په ﴿ هذا اجله محيط به ﴾ سره اشاره ده د چوکور طرف ته او په ﴿ وهذا الذى هو خارج امله ﴾ سره اشاره ده د اوږد خط طرف ته کوم چه د بهر طرف ته وتلې دې او په ﴿ هذه ﴾ سره وړو خطونو طرف ته اشاره ده.

[۶۰۵۵] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - خُطُوطًا فَقَالَ « هَذَا الأَمَلُ وَهَذَا أَجَلُهُ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ الأَقْرَبُ ».

د سيدنا انس رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ څو خطونه راښکل او وې فرمائيل : دا اميد دې او دا مرګ دې. انسان هم په دې حالت کښې وی چه نزدې خط يعنى مرګ ته اورسيږي.

قوله : ﴿ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ الأَقْرَبُ ﴾ : د خط اقرب نه اجل مراد دې. علامه قسطلانی رحمه الله ليکی :

﴿ وهو الاجل المحيط به، اذ لا شك ان الخط المحيط هو اقرب من الخط الخارج عنه ﴾ (٢)

پس د بيهقی په روايت کښې د مرګ او د ترمذی په روايت کښې د اجل تصريح ده. (٣)

⑤ بَابُ مَنْ بَلَغَ سِتِّينَ سَنَةً فَقَدْ أَعْذَرَ اللَّهُ إِلَيْهِ فِي الْعُمُرِ

لِقَوْلِهِ ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ﴾ [فاطر: ٣٧] يعنى الشيب

اوږد عمر اتمام حجت دې : د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه يو سړې ته که الله پاک شپيتهٔ کاله ژوند ورکړو نو اوس هغه سره د آخرت د تيارئ په سلسله کښې هيڅ عذر باقى پاتې نه شو. اعذر د باب افعال نه دې او په دې کښې د سلب ماخذ خاصه ده. يعنى الله پاک د داسې سړى عذر زائل او ختم کړو، د دومره اوږد عمر موندلو باوجود که څوک د آخرت د فکر او تيارئ نه غافل شو نو داسې انسان سره به د دې غفلت او بې توجه کيدو هيڅ عذر نه وى چه پيش ئې کړې شی.

لِقَوْلِهِ ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ﴾ [فاطر: ٣٧] يعنى الشيب

(١) التعليق الصبيح شرح مشكاة المصابيح، باب الامل والحرص : ٦١/٦
(٢) ارشاد السارى : ٤٢٠/١٣
(٣) ارشاد السارى : ٤٢٠/١٣

ایا مونږ تاته دومره عمر نه وو درکړې چه په هغې کښې دې په ځه باندې ځان پوهه کول غوښتل په هغې دې ځان پوهه کړې وې او تاته ویرونکې هم راغلې وو.

په دوزخ کښې پراته کفار به چغې وهی چه اې زمونږ ربه! مونږ د دې ځائې نه اوباسه: مونږ به اوس ښه نیک نیک کارونه کوو. د الله پاک د طرف نه به هغوی ته جواب ورکړې شی چه آیا مونږ تاسو ته دومره عمر نه وو ورکړې چه په هغې کښې تا ځان پوهه کول غوښتلې نو پوهه کولې دې شواو صرف په عمر درکولو باندې مو اکتفاء اونکړه. بلکه تاسو ته زمونږ د طرف نه ویرونکې هم راغلې وو.

قوله: ﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ﴾: حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی:

د عمر نه مراد د بلوغ عمر دې چه په قدر د ضرورت په هغې کښې کمال فهم حاصل شی. په دې وجه د مکلف کیدو هم دا حد مقرر کړې شوې دې. د امام قتاده رحمه الله په در منثور کښې هم دا تفسیر منقول دې: **قال: اعلموا ان طول العمر حجة نزلت، وان فیهم لابن ثمان عشرة سنة.** او د دې نه مراد بلوغ دې لکه چه امام صاحب د اکثر بلوغ هم دا موده مقرر کړې ده او په بعض احادیثو کښې د دې په تفسیر کښې شپیتۀ کلونه راغلې دی. د دې نه مراد تخصیص نه دې بلکه مقصود دا دې چه په دې سره به نور هم زیات احتجاج وی.[1]

استفهام دپاره د انکار دې. واؤ دپاره د عطف دې او معطوف علیه مقدر دې او ما موصوله ده او تقدیری عبارت داسې دې: ﴿الم نهلکم ونعمرکم الذی، ای: العمر الذی یتذکر فیه من تذکر﴾ ما موصوفه هم کیدې شی. ﴿ما﴾ نافیه وئیل غلط او مصدریه ظرفیه وئیل ضعیف دی.

قوله: ﴿وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ﴾: ددې عطف د جمله استفهامیه په معنی او مدلول باندې دې. گویا داسې اووئیلې شو ﴿عمرناکم وجاءکم النذیر﴾ غرض دا دعطف الخبر علی الانشاء دقبیل نه نۀ دې.

په ایت کریمه کښې د نذیر مصداق: ﴿نذیر﴾ نه مراد یا خو رسول الله ﷺ دې، یا قرآن کریم دې. یا جنس نذیر یعنی انبیاء علیهم السلام دی. بعض وائی د دې نه مراد تبه ده. بعض وئیلې دی د دې نه مراد د خپلو خپلوانو مرگ دې. بعض ترې کمال عقل مراد کړې دې.[2] او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه د دې نه د ویښتو سپین والې مراد دې. لکه چه امام بخاری رحمه الله دلته ذکر فرمائیلې دی.

[۶۰۵۶] حَدَّثَنِي عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ مَعْنِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- فَقَالَ «أَعْذَرَ اللَّهُ إِلَى امْرِئٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً».
تَابَعَهُ أَبُو حَازِمٍ وَابْنُ عَجْلَانَ عَنِ الْمَقْبُرِيِّ.

---

[1]) بیان القرآن ۲۲۵/۳

[2]) روح المعانی : ۵۱۲/۲۲

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. الله پاک د هغه سړى عذر ختم کړي دې د چا مرګ چه هغه دومره موخر کړو تردې چه شپيتو کالو ته ئې اورسولو. د دې روايت متابعت ابو حازم او ابن عجلان هم د مقبرى په واسطې سره کړې دې.

فائده . په سند کښې د امام بخارى رحمه الله شيخ الشيخ عمر بن علي دې. هغوى د معن بن محمد نه روايت کوى. عمر بن علي مدلس دې او دلته هغوى د معن نه په عن سره روايت کوى د مدلس عنعنه قبول نه وى. خو دا روايت احمد بن عبدالرزاق نقل کړې دې. په دې کښې عمر بن علي د سماع تصريح کړې ده. خو په هغه روايت کښې د معن نوم نشته بلکه د ﴿ رجل من بني غفار ﴾ الفاظ دى. د رجل نه معن غفارى مراد دې. (١)

قوله: ﴿ تَابَعَهُ أَبُو حَازِمٍ ﴾ :يعني د معن بن محمد غفارى رحمه الله متابعت ابو حازم سلمه بن دينار او محمد بن عجلان دواړو کړې دې، د ابو حازم دا متابعت امام نسائى رحمه الله او د ابن عجلان متابعت امام محمد رحمه الله موصولا نقل فرمائيلې دې. (٢)

[٦٠٥٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « لاَ يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيرِ شَابًّا فِي اثْنَتَيْنِ فِي حُبِّ الدُّنْيَا ، وَطُولِ الأَمَلِ » . قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ وَابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدٌ وَأَبُو سَلَمَةَ.

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د بوډا سړى زړه د دوه څيزونو په باره کښې هميشه ځوان وى. د دنيا محبت او اوږد اميد.

قوله: ﴿ قَالَ اللَّيْثُ ﴾ :د ليث بن سعد رحمه الله دا تعليق اسماعيلى موصولا نقل کړې دې. په دې کښې د محمد بن شهاب دوه شيوخ دى. سعيد بن المسيب او ابو سلمة بن عبدالرحمن بن عوف. د سعيد د روايت الفاظ بعينه د روايت الباب الفاظ دى. خو په دې کښې د ﴿ فى حب الدنيا ﴾ په ځائې ﴿ فى حب المال ﴾ دې او د ابو سلمة د روايت الفاظ دى:

﴿ قلب الشيخ شاب على حب اثنتين : طول الحياة وحب المال ﴾ (٣)

يعني د بوډا سړى زړه د دوه څيزونو په محبت سره ځوان وى، يو اوږد عمر او دويم د مال محبت.

(١) ارشاد السارى ٤٢١/١٣، فتح البارى ٢٨٨/١١

(٢) فتح البارى: ٢٨٨/١١

(٣) عمدة القارى : ٥٦/٢٣، ارشاد السارى : ٤٢٣/١٣

[۶۰۵۸] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « يَكْبَرُ ابْنُ آدَمَ وَيَكْبَرُ مَعَهُ اثْنَانِ حُبُّ الْمَالِ، وَطُولُ الْعُمُرِ » . رَوَاهُ شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ.

د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د انسان عمر چه څومره څومره زياتيږي. هغه سره دوه څيزونه هم په هغه كښې دننه زياتيږي. د مال محبت او د عمر ډيروالې

د امام شعبة رحمه الله خصوصيت ﴿ رَوَاهُ شُعْبَةُ ﴾ د شعبه روايت امام مسلم رحمه الله موصولا نقل كړې دې [۱]

د شعبه دا تعليق امام بخارى رحمه الله ذكر كولو سره د سند د انقطاع وهم لره د لرې كولو كوشش كړې دې. ځكه چه د روايت الباب په سند كښې امام قتادة رحمه الله په ﴿ عن ﴾ سره روايت نقل كوى او قتاده مدلس دې. او د شعبه معامله مختلف ده ځكه چه هغه د مدلس راويانو صرف هم هغه روايات نقل كوى چه د هغې په باره كښې د سماع د تصريح هغوى ته علم وى نو د شعبه د قتادة نه دا روايت نقل كول د تصريح سماع دليل دې. په دې وجه امام بخارى رحمه الله ﴿ رواه شعبة عن قتادة ﴾ ذكر اوفرمائيل. [۲]

⑥ بَابُ الْعَمَلِ الَّذِي يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ.

فِيهِ سَعْدٌ.

د الله پاک د رضا والا عمل فضيلت كوم عمل چه خالص د الله پاک د رضا دپاره كولې شى. د هغه په شريعت كښې ډير اهميت او فضيلت دې. امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د الله پاک د رضا دپاره د كيدونكو اعمالو فضيلت بيان كړې دې

﴿ فيه سعد ﴾ يعنى په دې باره كښې د سيدنا سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه روايت دې كوم چه په كتاب الجنائز باب رثاء النبى صلى الله عليه وسلم سعد بن خولة د لاندې تير شوې دې په هغې كښې دى چه كوم عمل د الله پاک د رضا دپاره اوكړې شى. په هغې سره به درجه او مرتبه اوچتيږي. د حديث الفاظ دى ﴿ فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ، أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي ؟ قَالَ : إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلاً صَالِحًا ، إِلاَّ ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً ﴾ [۳]

[۶۰۵۹] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ وَزَعَمَ مَحْمُودٌ أَنَّهُ عَقَلَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَالَ وَعَقَلَ مَجَّةً مَجَّهَا مِنْ دَلْوٍ كَانَتْ فِي دَارِهِمْ.

---

[۱] عمدة القارى : ۵۶/۲۳. ارشاد السارى : ۴۲۳/۱۳

[۲] فتح البارى : ۲۹۰/۱۱. وعمدة القارى ۵۶/۲۳

[۳] فتح البارى ۲۹۱/۱۱. عمدة القارى : ۵۶/۲۳

قَالَ سَمِعْتُ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ الأَنْصَارِيَّ ثُمَّ أَحَدَ بَنِي سَالِمٍ قَالَ غَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ فَقَالَ «لَنْ يُوَافِيَ عَبْدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللَّهِ، إِلاَّ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ النَّارَ». [ر ٤١٤]

سیدنا محمود بن ربیع رضي الله عنه به د دې حقیقت اظهار کولو چه رسول الله ﷺ د هغوی په ذهن کښې ښه محفوظ دې. هغوی فرمائی چه هغوی ته یاد دی چه رسول الله ﷺ د هغوی د کور د یوې بوقې نه اوبه اخستلو سره خوله مبارکه کنګال کړې وه. هغوی فرمائی: ما د عتبان بن مالک انصاری رضي الله عنه نه او بیا د بنو سالم د یو بلی صاحب نه واوریدل هغوی بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ مونږ ته تشریف راوړلو او وې فرمائیل. کوم بنده هم چه د قیامت په ورځ په داسې حال کښې راشی چه هغه د کلمې ﴿لا اله الا الله﴾ اقرار کړې وی او په هغې سره د هغوی مقصد د الله پاک رضا حاصلول وی نو الله پاک به د دوزخ اور په هغه باندې حرام کړی.

قوله: ﴿قَالَ: سَمِعْتُ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ الأَنْصَارِيَّ ثُمَّ أَحَدَ بَنِي سَالِمٍ﴾: سیدنا محمود بن الربیع رضي الله عنه فرمائی چه ما د سیدنا عتبان بن مالک انصاری او د بنو سالم د یو سړی نه واوریدل. په ﴿احد بنی سالم﴾ کښې دوه احتمالات دی.

① دا مرفوع دې او د دې عطف په محمود باندې دې. ای: اخبرنی محمود بن الربیع ثم احد بنی سالم ..... امام زهری رحمه الله فرمائی چه ماته محمود بن الربیع او د بنو سالم یو سړی حدیث واورولو. ددې سړی نه حصین بن محمد انصاری مراد دې کوم چه د قبیله بنو سالم د سردارانو نه دې. امام زهری رحمه الله په یو بل روایت کښې د دې تصریح کړې ده.

② دویم احتمال دا دې چه د دې عطف په ﴿الانصاری﴾ باندې دې او دا منصوب دې یعنی ﴿سمعت عتبان الانصاری، واحد بنی سالم﴾ اوس په دې صورت کښې دوه مطلبونه کیدې شی.

الف محمود بن الربیع رحمه الله فرمائی چه ما د عتبان او بنو سالم د یو سړی نه حدیث واوریدلو. ګویا د هغوی دوه شیوخ دی یو عتبان، دویم احد بنی سالم او د ﴿احد بنی سالم﴾ نه حصین بن محمد مراد دې کوم چه تابعی دې او حال دا چه محمود بن الربیع رضي الله عنه صحابی دې. صحابی د تابعی نه روایت کوی.

ب: او ﴿ثم احد بنی سالم﴾ دپاره ﴿الانصاری﴾ عطف تفسیری هم جوړولې شو، یعنی دا حدیث ما د عتبان نه اوریدلې دې، کوم چه انصاری دې او د قبیله بنو سالم یو سړې دې، د عتبان بن مالک رضي الله عنه تعلق هم د قبیله بنو سالم سره دې. [1]

[1]) عمدة القاری: ٥٧/٢٣

[۲۰۲۰] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَمْرٍو عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ، إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا، ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلاَّ الْجَنَّةُ».

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله پاک فرمائي چه زما د دې مومن بنده چه څوک خپلوان او محبوب زه د دنيا نه اوچت کړم او هغه په دې باندې د ثواب نيت کولو سره صبر اوکړي نو د هغې بدله زما په نزد د جنت نه سوا هيڅ نه دده

﴿صَفِي﴾ د صاد په فتحې او د فاء په کسرې او د ياء په تشديد سره، هغه سړې کوم چه انسان ته محبوب وی لکه څوئې. رور. مخلص دوست.[1]

﴿احْتَسَبَهُ﴾ احتساب وائي. د ثواب او اجر نيت کول. ﴿الا الجنة﴾ د دې تعلق د ﴿مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ﴾ سره دې.[2] هر يو کار که د آخرت د اجر او ثواب په نيت او ارادې سره اوکړې شى نو هغې ته د حديث په اصطلاح کښې احتساب وائى

پس د رسول الله ﷺ يو مشهور حديث دې ﴿من صام رمضان ايمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه وما تاخر﴾ يعنى کوم سړې هم چه د رمضان روژې د ايمان او د آخرت د اجر په نيت اونيسى. نو د هغه به وړاندې روستو گناهونه معاف کړې شى په دې حديث کښې د احتساب معنى د اجر او ثواب په نيت سره روژې نيول دی.

۷: بَابُ مَا يُحْذَرُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَالتَّنَافُسِ فِيهَا

د امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره مقصد دا دې چه د دنيا د چمک دمک، کشش اود دنيا د حرص او هوس او په دې کښې د مقابلې نه ځان ساتل پکار دی.

[۲۰۲۱] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُقْبَةَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَوْفٍ وَهُوَ حَلِيفٌ لِبَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ كَانَ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ إِلَى الْبَحْرَيْنِ يَأْتِي بِجِزْيَتِهَا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - هُوَ صَالَحَ أَهْلَ الْبَحْرَيْنِ، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمُ الْعَلاَءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ، فَقَدِمَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ، فَسَمِعَتِ الأَنْصَارُ بِقُدُومِهِ فَوَافَتْهُ صَلاَةَ الصُّبْحِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَلَمَّا انْصَرَفَ تَعَرَّضُوا لَهُ فَتَبَسَّمَ حِينَ رَآهُمْ وَقَالَ «أَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ بِقُدُومِ أَبِي عُبَيْدَةَ، وَأَنَّهُ جَاءَ بِشَيْءٍ». قَالُوا أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ.

---

[1] عمدة القارى : ۵۷/۲۳

[2] عمدة القارى : ۵۷/۲۳، وفتح البارى ۲۹۲/۱۱

قَالَ «فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ، فَوَاللّٰهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا، كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُلْهِيَكُمْ كَمَا أَلْهَتْهُمْ». ار ۲۹۸۸۱

سیدنا مسور بن مخرمه رضی الله عنه خبر ورکړو چه سیدنا عمرو بن عوف رضی الله عنه کوم چه د بنو عامر بن لوئی حلیف وو او د بدر په جنګ کښې د رسول الله ﷺ سره شریک وو. هغوی بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ سیدنا ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه د بحرین په جزیه راوړلو پسې اولیږلو. رسول الله ﷺ د بحرین والو سره صلح کړې وه. او په هغوی باندې ئې علاء بن حضرمی امیر مقرر کړې وو. چه کله ابو عبیده رضی الله عنه د بحرین د جزیې مال راوړلو نو انصارو د هغوی د راتلو واوریدل او د سحر مونځ ئې د رسول الله ﷺ سره اوکړو. او چه کله رسول الله ﷺ روان شو نو دا ټول خلق د هغوی مخې ته راغلل. رسول الله ﷺ د هغوی په لیدو باندې مسکې شو او وې فرمائیل زما خیال دې د ابوعبیده د راتلو متعلق تاسو اوریدلې دی او دا هم چه هغه څه راوړې دی؟ انصارو عرض اوکړو جی یا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیا دې تاسو ته زیرې وی تاسو د هغې امید ساتئ کوم چه به تاسو خوشحاله کړی، الله پاک ګواه دې: فقر او محتاجی هغه څیز نه دې چه د هغې نه زه ستاسو متعلق ویریږم. بلکه زه خو د دې نه ویریږم چه دنیا به په تاسو فراخه کړې شی څنګه چه په هغه خلقو باندې فراخه کړې شوې وه کوم چه ستاسو نه مخکښې وو او تاسو به هم د دې دپاره د یو بل نه د مخکښې کیدو داسې کوشش اوکړئ څنګه چه به هغوی کولو او تاسو به هم دغه شان غافل کړی څنګه چه ئې هغوی غافل کړې وو.

په سند کښې درې تابعین دی، موسی بن عقبة، ابن شهاب او عروة بن زبیر، دوه صحابه دی. سیدنا مسور بن مخرمه او سیدنا عمرو بن عوف رضی الله عنهما دا ټول مدنی دی. [1]

د علاء بن الحضرمی نوم عبدالله بن مالک بن ربیعه دې.

قوله: ﴿مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ﴾: ﴿الفقر﴾ منصوب دې. ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر د قبیل نه دې. او د دې لره مبتداء جوړولو سره مرفوع هم لوستلې شو. په دواړو صورتونو کښې د ﴿اخشی﴾ مفعول به به حذف وی. په دې صورت کښې به هغه د وجې د اشتغال نه په ﴿الفقر﴾ کښې عمل نه شی کولې. لهذا د الفقر فعل به ناصب مقدر وی، کوم چه ﴿اخشی﴾ دې او په دویم صورت کښې به ﴿الفقر﴾ د ما اسم کیدو د وجې نه مرفوع وی، او خبر چه کله جمله وی نو په هغې کښې چونکه د عائد کیدل ضروری وی په دې وجه د ﴿اخشی﴾ مفعول به به مقدر منلې شی، کوم چه ضمیر غائب دې او د ﴿الفقر﴾ طرف ته راجع دې، تقدیری عبارت داسې دې : ﴿ما الفقر اخشاه علیکم﴾ [2]

[1]) فتح الباری ۲۹٤/۱۱، عمدة القاری : ۵۹/۲۳
[2]) فتح الباری ۲۹۵/۱۱، عمدة القاری : ۶۰/۲۳

[۲۰۷۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ «إِنِّي فَرَطُكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي قَدْ أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ - أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ - وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا».

د سیدنا عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړلو نو د جنګ احد په شهیدانو باندې ئې داسې مونځ اوکړو څنګه چه د مړی جنازه لوستلې شی. بیا رسول الله ﷺ منبر ته تشریف راوړلو او وې فرمائیل: زه به ستاسو نه مخکښې ځم او زه به په تاسو باندې ګواه یم. والله! زه خپل حوض دې وخت کښې داسې وینم او ما ته د زمکې د خزانو کنجیانې راکړې شوې دی یا ئې اوفرمائیل، د زمکې کنجیانې راکړې شوې دی او والله! زه ستاسو متعلق د دې نه نه ویرېږم چه تاسو به زما نه روستو شرک اوکړئ بلکه زما ستاسو متعلق د دې ویره ده چه تاسو به په دنیا کښې د دې د حصول دپاره د یو بل نه د مخکښې کیدو کوشش کوئ.

د ابو الخیر نوم مرثد بن عبد الله دې

[۲۰۷۳] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ أَكْثَرَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مَا يُخْرِجُ اللَّهُ لَكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الأَرْضِ». قِيلَ وَمَا بَرَكَاتُ الأَرْضِ قَالَ «زَهْرَةُ الدُّنْيَا». فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ هَلْ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَصَمَتَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ، ثُمَّ جَعَلَ يَمْسَحُ عَنْ جَبِينِهِ فَقَالَ «أَيْنَ السَّائِلُ». قَالَ أَنَا. قَالَ أَبُو سَعِيدٍ لَقَدْ حَمِدْنَاهُ حِينَ طَلَعَ ذَلِكَ. قَالَ «لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ إِلاَّ بِالْخَيْرِ، إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، وَإِنَّ كُلَّ مَا أَنْبَتَ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْ يُلِمُّ، إِلاَّ آكِلَةَ الْخَضِرَةِ، أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتِ الشَّمْسَ، فَاجْتَرَّتْ وَثَلَطَتْ وَبَالَتْ، ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ، وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ حُلْوَةٌ، مَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ، فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ، وَمَنْ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ، كَانَ الَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ». [ر: ۸۷۹]

د سیدنا ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زه ستاسو متعلق د ټولو نه زیاته ویره د دې لرم. چه الله پاک به د زمکې برکتونه ستاسو دپاره راوباسی. تپوس اوکړې شو. د زمکې برکتونه څه دی؟ وې فرمائیل: د دنیا فراخی. په دې باندې یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو آیا خیر به شر راوړی؟ رسول الله ﷺ خاموش شو او مونږ خیال اوکړو چه کیدې شی په هغوی باندې وحی نازلیږی. د دې نه پس رسول الله ﷺ تندې صفا کړو او تپوس ئې اوفرمائیلو هغه تپوس کونکې سړې چرته دې؟ تپوس کونکی اووې. زه یم!

سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی چه کله د دې سوال حل زمونږ مخې ته راغلو نو مونږ د هغه صاحب تعریف اوکړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل خیر خو صرف خیر راوړی. خو دا مال د شین او ښکلې ګیا په شان دې او کوم څیزونه هم چه سپرلې راټوکوئ هغه په حرص زیات خوراک کونکو له هلک یا هلاکت ته نزدې کړی. سوا د هغه څاروی نه چا چه په ډکه خیټه خوراک کړې وی، تردې چه کله د هغه تشی ډک شی نو هغه نمر ته مخ کولو سره شخوند اوهلو. او بیا ئې واړۀ او لوئې بول اوکړل او بیا د هغې نه پس ئې بیا واپس کیدو سره خوراک اوکړو

او دا مال هم ډیر خوږ دې، چا چه دا په حق سره واخستلو او په حق کښې ئې خرچ کړو نو هغه بهترینه ذریعه ده او چا چه دا په ناجائز طریقې سره حاصل کړو نو د هغه سړی په شان دې چه خوراک کوی خو مړیږی نه.

قوله: ﴿لَقَدْ حَمِدْنَاهُ حِينَ طَلَعَ ذَلِكَ﴾: یعنی په شروع کښې خو د هغه سوال په مونږ ښه او نه لګیدو ځکه چه د هغه په سوال کولو باندې رسول الله ﷺ خاموش شو (مونږ اوګڼړله چه هغوی خفه شو) خو چه کله خبره واضحه شوه نو مونږ د هغه تعریف اوکړو، ﴿ طلع بمعنی ظهر﴾ دې.

﴿خَضِرَةٌ﴾: د خاء په فتحې او د ضاد په کسرې سره دې په معنی د شین او سرسبز

﴿يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْيُلِمُّ﴾: ﴿حبط﴾ د زیات خوراک د وجې نه د خیټې پړسیدو ته وائی.

﴿حبطت الدابة﴾: څاروی دومره خوراک اوکړو چه خیټې ئې اوپړسیده او مړ شو. [1]

﴿یلم﴾ یعنی موسمی سپرلې چه کومه ګیا راټوکوی او د زیات خوراک کولو د وجې نه وژل کوی یا ئې وژلو ته نزدې کړی.

﴿ آكِلَةَ الْخَضِرَةِ ﴾: اکلة: د اسم فاعل مونث صیغه ده، خوراک کونکې څاروې.

﴿ امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا ﴾: یعنی د هغه دواړه تشی ډک شو او ښه نیغ شو.

﴿فَاجْتَرَّتْ﴾ شخوند وهل، خوړلې شوې ګیا راویستلو سره دوباره میده کول.

﴿ثلطت﴾: سوټه کول. [2]

قوله: ﴿إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ﴾: ﴿ خضرة ﴾ او ﴿حلوة﴾ مؤنث دې او مال مذکر دې او په اسم ﴿ ان ﴾ او دهغې په خبر کښې د تذکیر او تانیث په اعتبار سره مطابقت ضروری دې. په دې وجه په عبارت کښې مختلف تاویلات کړې شوې دی؛

---

[1] حبطت الدابة حبطا : اذا اصابت مرعى طيبا، فافرطت فى الاكل حتى تنفخ، فتموت. (النهاية في غريب الحديث : ١/٣٢٤)

[2] د لغاتو د تشریح دپاره اوګورئ : عمدة القارى ٦٢/٢٣، وفتح البارى : ٢٩٧/١١

① یو دا چه د مال نه مراد ﴿الحیاة بالمال﴾ دې او ﴿خضرة﴾ د دې خبر دې
② دویم دا چه د مال نه دنیا مراد ده او هغه مونث ده
③ دریم دا چه په دې سره تشبیه مقصود ده، ای: المال کالبقلة الخضرة الحلوة.[1]

قوله: ﴿فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ هَلْ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟﴾: یو سړی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ! ایا خیر به د ځان سره شر هم راوړي؟ یعني د ملکی فتوحاتو او اقتدار د وجې نه به چه مونږ مسلمانانو ته کوم مال غنیمت او سازوسامان حاصلیږي، هغه خو به زمونږ دپاره د الله پاک نعمت وي، او هسې هم په جائز وسائلو او ذرائع سره حاصلیدونکې دولت او د رزق وغیره وسعت او فراخي یو ښه څیز دې، نو دا څنګه ممکن ده چه د الله پاک ورکړې شوې نعمت او یو ښه څیز زمونږ دپاره د بدئ او فتنې او ترک طاعات سبب او ذریعه جوړه شي.

قوله: ﴿فَقَالَ إِنَّهُ لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ، أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضْرَاءِ﴾: رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه حقیقت دا دې چه خیر کله هم د ځان سره شر نه راوړي، یعني په جائز ذرائع سره د مال او دولت حاصلیدل او په رزق کښې د وسعت او فراخئ او خوشحالئ نصیب کیدل، په خیرونو کښې یو خیر دې او د دې په وجه هیڅ بدی نه راځي، بلکه اصل کښې د شر راتلل د هغه عوارضو د وجې نه دی کوم چه د دولت مندئ او خوشحالئ په وخت لاحق کیږي. لکه بخل او اسراف او د حد اعتدال نه تجاوز.
او د دې مثال سپرلي دې کوم چه د زمکې د خیټې نه ګیا وغیره راوباسي او د خپل ذات په اعتبار سره خو ښه او فائده مند وي، خو د هغې نه نقصان هغه وخت رسیږي چه کله یو ښاروې د خپل ضرورت نه زیاتي خوراک اوکړي او د ډیر خوراک د وجې نه په هلاکت کښې اخته شي.
پس خپله رسول الله ﷺ د دې مثال داسې بیان اوفرمائیلو چه د سپرلي موسم کومه ګیا راوباسي، هغه په حقیقت کښې خو د خیر او فائدې څیز وي چه هغه د خپل ځان سره هیڅ نقصان او بدی راوړلو سره د زمکې د خیټې نه نۀ راوځي. خو هغه ښاروی لره د هغه خیټه پړسولو سره وژني، او که هغه مړ نه شي نو مرګ ته نزدې شي. یعني کوم ښاروې چه په دې ګیا کښې د حد نه واوړي، هغه د دې ګیا د وجې نه نۀ بلکه د خپل فعل یعني زیات خوراک د وجې نه ضرور په هلاکت کښې واقع شي. هغه داسې چه هغه خوراک کونکی ښاروی دا ګیا داسې اوخوړله چه کله د ډیر خوراک د وجې نه د هغه دواړه تشې اوپړسیدل نو هغه د نمر مخې ته کیناستلو. لکه چه د ښاروی عادت وي چه کله د بدهضمئ د وجې نه د هغه خیټه اوپړسیږي نو هغه په نمر کینی او د هغه وجود ګرمی موندلو سره نرم شي او په هغه کښې چه څه وي هغه بهر راشي، بیا چه کله نرمه سوټه او متیازې کولو سره هغه خپله خیټه سپکه کړي نو د سریدو دپاره د چراګاه طرف ته روان شي.

[1]) ارشاد الساری: ۱۳/۴۲۸، فتح الباری: ۱۱/۲۹۷

د دولت ډیر والی کله نعمت دی؟ ﴿ وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ ﴾ د مذکوره مثال او د هغې د مطابقت بیانولو نه پس رسول الله ﷺ دا مال او زر ډیر شین او نرم او مزیدار دي وئیلو سره د دي حقیقت طرف ته اشاره اوفرمائیله چه د دنیا مال او زر. د هغه د محبت او مصارف د تعلق نه د انسانانو حالات او خیالات مختلف وی. چه څه خلق خو هغه وی کوم چه صرف د حاجت او ضرورت په قدر د مال او اسباب په حصول باندې اکتفاء کوی او د هغې د حصول دپاره هم جائز او صحیح وسائل او ذرائع اختیاروی هم دغه شان هغوی سره چه کوم مال او اسباب او پیسې وی. هغوی هغې لره په ښه مصارفو کښې خرچ کوی.

خو څه خلق داسې وی کوم چه مال او دولت لره هرڅه ګنړی. د هغوی حرص او طمع په هیڅ حد باندې قناعت نه کوی. هغوی نه صرف دا چه د ضرورت او حاجت نه د زائد مال او زر حاصلولو سعی او کوشش کوی. او د هغې په راجمع کولو کښې لګیدلې وی. بلکه د هغې په حصول کښې د جائز او ناجائز ترمینځه هیڅ تمیز نه کوی. د سختو نه سختې بدئ ارتکاب کولو سره او حرام ذرائع لره اختیارولو سره دولت راټولوی.

د دې نه علاوه هغوی سره چه کوم مال دولت او روپئ پیسې وی. هغه په حقدارانو باندې او په هغه مصارفو کښې نه خرچ کوی. کوم چه د الله پاک د رضا باعث وی. او د مال او دولت متعلق د هغوی دا حرص او طمع هغوی لره د هغه سړی په شان کړی چه خوراک کوی. خو د حرص د غلبې د وجې نه نه مړیږی. یا د هغوی حالت د هغه سړې په شان شی کوم چه د استسقاء مریض وی چه هیڅ وخت هم نه مړیږی او څومره چه اوبه څکی. هم دومره ئې تنده زیاتیږی او خیټه ئې پړسیږی

[۶۰۶۴] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا جَمْرَةَ قَالَ حَدَّثَنِي زَهْدَمُ بْنُ مُضَرِّبٍ قَالَ سَمِعْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ - رضي الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «خَيْرُكُمْ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ». قَالَ عِمْرَانُ فَمَا أَدْرِي قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بَعْدَ قَوْلِهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا «ثُمَّ يَكُونُ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَشْهَدُونَ وَلاَ يُسْتَشْهَدُونَ، وَيَخُونُونَ وَلاَ يُؤْتَمَنُونَ، وَيَنْذِرُونَ وَلاَ يَفُونَ، وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ». [ر ۲۵۰۸]

د سیدنا عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل په تاسو کښې د ټولو نه غوره زمانه ده، بیا د هغه خلقو زمانه ده کوم چه به د دې نه روستو وی، سیدنا عمران رضی الله عنه فرمائی ماته معلومه نه ده چه رسول الله ﷺ دا ارشاد دوه کرته بیان کړو یا درې کرته. بیا به د دې نه روستو هغه خلق وی کوم چه به ګواهی ورکوی خو د هغوی ګواهی به نه وی طلب کړې شوې. هغوی به خیانت کوی او د هغوی نه به اعتماد او چت کړې شی. هغوی به منخته کوی خو پوره کوی به ئې نه او په هغوی کښې به څورب والې خور شی.

قوله: ﴿ وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ ﴾: (سمن) څورب والی ته وائی. د سنن ترمذی په روایت

کښې دی. ﴿ ثم يجئ قوم يتسمنون ويحبون السمن ﴾ (۱) يعنى د دې نه پس به داسې خلق راشى چه څورب به وى او څورب والې به خوښوى.

په يو بل حديث کښې رآځى ﴿ ان الله يبغض الحبر السمين ﴾ (۲) يعنى الله پاک د څورب ملا سره بغض کوى علماء کرامو ليکلي دى چه د دې نه مراد صرف د بدن څورب والې نه دې مراد. بلکه مقصد ئې په تعيش او عيش و عشرت کښې اخته کيدل دى يعنى داسې خلق به راشى چه هغوى به عيش و عشرت او لوفرى خوښوى چونکه عموما څورب والې هم د لا پرواهئ او عيش وعشرت په نتيجه کښې وى. په دې وجه حديث کښې د دې ذکر راغلې دې.

[۲۰۶۵] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَجِيءُ مِنْ بَعْدِهِمْ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَتُهُمْ أَيْمَانَهُمْ وَأَيْمَانُهُمْ شَهَادَتَهُمْ». [ر: ۲۵۰۹]

د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: د ټولو نه غوره زمانه زما ده. د هغې نه پس د هغه خلقو کوم چه به د دوى نه پس وى او د هغې نه پس به داسې خلق پيدا شى چه د هغوى ګواهئ به د هغوى د قسمونو نه مخکښې کيږى او قسمونه به ئې د ګواهو نه (يعنى په دروغه د ګواهئ ورکولو شوقيان به وى)

﴿عبدان﴾ عبدالله بن عثمان مروزى لقب دې. د ابو حمزه نوم محمد بن ميمون دې

﴿عَبِيده﴾ (د په فتحې او د باء په کسرې سره دې) د هغوى د پلاره نوم قيس دې.

قوله: ﴿ثُمَّ يَجِيءُ مِنْ بَعْدِهِمْ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَتُهُمْ﴾: مطلب دا دې چه د هغوى نه په روستو راتلونکو خلقو کښې به تقوى نه وى. هغوى به د الله پاک د ويرې نه خالى وى او د دروغژنې ګواهئ او په دروغه قسم خوړلو دپاره به هر سړې تيار وى

[۲۰۶۶ ، ۲۰۶۷] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ خَبَّابًا وَقَدِ اكْتَوَى يَوْمَئِذٍ سَبْعًا فِي بَطْنِهِ وَقَالَ لَوْلاَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَهَانَا أَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِالْمَوْتِ، إِنَّ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - مَضَوْا وَلَمْ تَنْقُصْهُمُ الدُّنْيَا بِشَيْءٍ، وَإِنَّا أَصَبْنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا لاَ نَجِدُ لَهُ مَوْضِعًا إِلاَّ التُّرَابَ.

قيس بن ابى حازم فرمائى چه ما د سيدنا خباب رضی الله عنه نه واوريدل او هغه ورځ د هغوى په خېټه کښې اووه داغونه لګيدلې وو که رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ د مرګ د دعا نه منع کړې نه وې

---

(۱) سنن الترمذى، ابواب الفتن، باب ما جاء فى القرن الثالث، رقم الحديث: ۲۲۲۱

(۲) الكاف الشاف فى تخريج احاديث الكشاف على حاشيته ۲/ ٤٤، والجامع لاحكام القرآن: ۷/ ۳۷ (سورة النجم) (قلت: ضعفه عبد العزيز بن محمد بن عبد المحسن فى محض الصواب فى فضائل عمر بن الخطاب وقال: إسناده ضعيف لانقطاعه، وفيه معلى الجعفى اتفق النقاد على تكذيبه. (التقريب رقم: ۶۸۰۷).

نو ما به د خپل خان دپاره د مرګ دعا کوله، د رسول الله ﷺ خوصحابه تیر شواو دنیا د هغوی د خیر د اعمالو نه هیڅ نه ووکم کړې، او مونږ د دنیا نه دومره څه حاصل کړل چه د خاورو نه سوا د هغې هیڅ ځائې نشته.

[۲۰۷۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسٌ قَالَ أَتَيْتُ خَبَّابًا وَهُوَ يَبْنِي حَائِطًا لَهُ فَقَالَ إِنَّ أَصْحَابَنَا الَّذِينَ مَضَوْا لَمْ تَنْقُصْهُمُ الدُّنْيَا شَيْئًا، وَإِنَّا أَصَبْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ شَيْئًا، لاَ نَجِدُ لَهُ مَوْضِعًا إِلاَّ التُّرَابَ. [ر: ۵۳۴۸]

قیس بن ابی حازم رحمه الله فرمائی چه زه د سیدنا خباب رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شوم هغوی د خپل باغ چار دیواری جوړوله، هغوی اوفرمائیل چه زمونږ ملګری کوم چه وفات شو دنیا د هغوی په اعمالو کښې هیڅ کمې اونکړو، خو مونږ د هغې نه روستو دومره حاصله کړه چه د خاورې نه سوا د هغې د ایخودلو هیڅ ځائې نه ملاویږی

[۲۰۷۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ خَبَّابٍ رضى الله عنه - قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -. [ر: ۱۲۱۷]

د سیدنا خباب رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره هجرت اوکړو.

د هجرت واقعه ئې دلته بیان نه کړه، هغه په باب الهجرة الى المدينة کښې تیره شوې ده په هغې کښې دی: ﴿فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى اللهِ فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْخُذْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ﴾ (۱).

⑧ باب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ .....

فَلاَ تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلاَ يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ * إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ). [فاطر: ۵، ۶] جَمْعُهُ سُعُرٌ، قَالَ مُجَاهِدٌ الْغَرُورُ الشَّيْطَانُ.

اې خلقو! بیشکه د الله پاک وعده حق ده، پس تاسو د دنیا ژوند په دهوکه کښې وانچوی او د الله پاک په باره کښې تاسو ته شیطان دهوکه درنکړی، بیشکه شیطان ستاسو دشمن دې او هغه تاسو په دشمنئ باندې اونیسئ، یقینا هغه خپل جماعت ته دعوت ورکوی چه هغوی جهنمیان شی.

قوله: ﴿قَالَ مُجَاهِدٌ الْغَرُورُ الشَّيْطَانُ﴾ :مجاهد په آیت کریمه کښې د ﴿الغرور﴾ تفسیر په شیطان سره کړې دې، فریابی دا تعلیق موصولا نقل کړې دې. (۲)

غرور په حقیقت کښې هر هغه څیز ته وئیلې کیدې شی کوم چه انسان په دهوکه کښې واچوی، مال، د جاه شهوت او شیطان، په ټولو باندې د غرور اطلاق کیدې شی او شیطان

---

(۱) ارشاد الساری ۴۳۳/۱۳، وفتح الباری ۳۰۰/۱۱

(۲) ارشاد الساری: ۴۲۳/۱۲

چونکه په دې باب کښې د ټولو نه وړاندې دې، په دې وجه هغه ته د غرور مصداق وئيلې شوې دې.[1]

[۲۰۶۹] حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ الْقُرَشِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُعَاذُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ ابْنَ أَبَانَ أَخْبَرَهُ قَالَ أَتَيْتُ عُثْمَانَ بِطَهُورٍ وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى الْمَقَاعِدِ، فَتَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - تَوَضَّأَ وَهُوَ فِي هَذَا الْمَجْلِسِ، فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ مِثْلَ هَذَا الْوُضُوءِ، ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ». قَالَ وَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ تَغْتَرُّوا». [ر: ۱۵۸]

ابن ابان فرمائی چه ما سيدنا عثمان ﷺ دپاره د اودس اوبه راوړلې. هغوی په يو دالانګی کښې ناست وو بيا هغوی په ښه طريقه اودس اوکړو، د هغې نه پس ئې اوفرمائيل چه ما رسول الله ﷺ هم په دې ځائې باندې په اودس کولو باندې ليدلې دې، رسول الله ﷺ په ښه طريقه باندې اودس اوکړو بيا ئې اوفرمائيل: چه چا داسې اودس اوکړو او مسجد ته راتلو سره ئې دوه رکعته مونځ اوکړو، بيا د جماعت په انتظار کښې ناست وونو د هغه مخکښې ګناهونه معاف کيږی، هغوی اووې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په دهوکه کښې مه راځئ.

﴿لاَ تَغْتَرُّوا﴾: يعنې په دهوکه کښې واقع نه شئ چه الله پاک په مانځه سره ټول ګناهونه معاف کوی نو د ګناهونو نه احتياط نه دې پکار، ځکه چه په مونځونو سره صرف واړۀ ګناهونه معاف کيږی او که لوئې ګناهونه هم الله پاک په خپل فضل او کرم سره معاف کړی نو هغه به په قبول شوی مانځه سره معاف کيږی او د قبوليت صلاة علم چاته هم نه شی کيدې.

⑨ باب ذَهَابِ الصَّالِحِينَ

﴿يقال: الذهاب: المطر﴾

[۲۰۷۰][2] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ بَيَانٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ مِرْدَاسٍ الأَسْلَمِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ

---

[1]) ارشاد السارى: ۴۲۳/۱۲

[2]) قال ابن بطال: ذهاب الصالحين من أشراط الساعة، إلا إنه إذا بقى الناس فى حفالة كحفالة الشعير أو التمر؛ فذلك إنذار بقيام الساعة وفناء الدنيا. وهذا الحديث معناه الترغيب فى الاقتداء بالصالحين والتحذير من مخالفة طريقهم خشية أن يكون من خالفهم ممن لا يباليه الله ولا يعبأ به. وبَالة: مصدر باليت محذوف منه الياء التى هى لام الفعل. وكان أصله (بالية) فكرهوا ياءً قبلها كسرة. لكثرة استعمال هذه اللفظة فى نفى كل ما لا يحفل به. وتقول العرب أيضًا فى مصدر باليت مبالاةً كما تقول بالة. والحفالة: سفلة الناس وأصلها فى اللغة ما تساقط من قشور التمر والشعير وغيرهما. والحثالة والحشافة مثله. (انظر شرح ابن بطال للبخارى ۱۶۱/۱۰)

الأَوَّلُ فَالأَوَّلُ، وَيَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ، لاَ يُبَالِيهِمُ اللَّهُ بَالَةً». قَالَ أَبُوعَبْدِاللَّهِ يُقَالُ حُفَالَةٌ وَحُثَالَةٌ. [ر: ۳۹۲۵]

د سیدنا مرداس اسلمی رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : نیکان بندګان به پرلپسې لاړ شي. او د اوربشو د بسو په شان ناکاره قسم خلق به پاتې شي. الله پاک به د هغوی لږه پرواه هم نه کوي.

امام بخاری رحمه الله فرمائي : حُفَالَةٌ او حُثَالَة په یو معنی کښې استعمالولې شي.

﴿يقال : الذهاب : المطر﴾ : امام بخاری رحمه الله فرمائي چه د ذهاب معنی د باران راځي. دا لفظ د ذهاب الصالحین په مناسبت سره امام بخاری رحمه الله ذکر کړې دې.

⑩ باب مَا يُتَّقَى مِنْ فِتْنَةِ الْمَالِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ)

د ترجمة الباب مقصد : په دې باب کښې د مال د فتنې نه د بچ کیدلو تاکید کړې شوې دې [۱] مال که په جائز طریقې سره حاصل کړې شي او په جائز مصارف کښې استعمال کړې شي نو د الله پاک نعمت دې خو که په ناجائز طریقې سره مال راشي یا مال په غلطو مصارفو کښې استعمالیږي یا هغه د انسان د ګناهونو ذریعه جوړیږي. نو فتنه او لوئې ازمینت دې.

[۲۰۷۱] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ وَالْقَطِيفَةِ وَالْخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِىَ رَضِىَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ». [ر: ۲۷۳۰]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د دینار او درهم غلام، د غوره ریښمي جامو او څادر غلام دې تباه شي، که هغه ته ورکړې شي نو خوشحالیږي او که ورنکړې شي نو خفه کیږي.

د ابو حصین نوم عثمان بن عاصم دې. حصین (د حاء په فتحې او د صاد په کسرې سره) دې.

﴿القطيفة﴾ کمبل، کپړا. ﴿الخميصة﴾ تور څادر. د حدیث مطلب دا دې کوم انسان د دنیا دومره عاشق او غلام وي چه په دنیا کښې د هغه د خوشحالئ او خفګان اول او آخر سبب وي، که د دنیا یو څیز ورته ملاؤ شي نو خوشحاله، که ملاؤ نه شي نو خفه کیږي، د دنیا داسې عاشق غلام دپاره رسول الله ﷺ بد دعا اوفرمائیله.

---

[۱] قال ابن بطال : معنى الفتنة فى كلام العرب : الاختبار والابتلاء . ومنه قوله تعالى : (وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا) (طه : ٤٠) أى اختبرناك . والفتنة : الإمالة عن القصد . ومنه قوله تعالى : (وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ) (الإسراء : ٧٣) أى ليميلونك . والفتنة أيضًا : الإحراق من قوله تعالى : (يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُونَ) (الذاريات : ١٣) أى يحرقون . هذا قول ابن الأنبارى . والاختبار والابتلاء يجمع ذلك كله . وقد أخبر الله تعالى عن الأموال والأولاد أنها فتنة. (شرح ابن بطال ١٦٢/١٠)

حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «لَوْ كَانَ لاِبْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لاَبْتَغَى ثَالِثًا، وَلاَ يَمْلأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ».

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل : که انسان سره د مال دوه وادیانې وی نو هغه به د دریمې خواهش مند وی او د انسان خیټه د خاورو نه سوا یو څیز هم نه شي ډکولې او الله پاک د هغه چا توبه قبلوی چه توبه کوی.

قوله: ﴿وَلاَ يَمْلأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ﴾ : د ابن آدم خیټه صرف خاوره ډکولې شی. خاوره د مرګ نه کنایه ده یعنی ترڅو پورې چه هغه ژوندې وی د مال خواهش به د هغه وی. تردې چه د هغه مرګ راشی، علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

﴿كناية عن الموت، لاستلزامه الامتلاء، كأنه قال: لا يشبع من الدنيا حتى يموت﴾ [1]

[۶۰۷۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا مَخْلَدٌ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً يَقُولُ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «لَوْ أَنَّ لاِبْنِ آدَمَ مِثْلَ وَادٍ مَالاً لأَحَبَّ أَنَّ لَهُ إِلَيْهِ مِثْلَهُ، وَلاَ يَمْلأُ عَيْنَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ». قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلاَ أَدْرِي مِنَ الْقُرْآنِ هُوَ أَمْ لاَ. قَالَ وَسَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ ذَلِكَ عَلَى الْمِنْبَرِ.

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، هغوی اوفرمائیل چه که انسان سره د مال (ګډو بیزو وغیره) یو پوره میدان وی نو هغه به غواړی چه هغه ته یو هم دغه شان وادی بله ملاؤ شی او د انسان سترګې د خاورو نه علاوه یو څیز هم نه شی ډکولې او څوک چه الله پاک ته توبه اوباسی هغه د هغه توبه قبلوی. سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ماته معلومه نه ده دا د قرآن نه دې یا نه؟

قوله: ﴿قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلاَ أَدْرِي مِنَ الْقُرْآنِ هُوَ أَمْ لاَ﴾: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ماته معلومه نه ده چه دا حدیث د قرآن کریم حصه ده (چه د هغې تلاوت منسوخ شوې دې) یا نه؟

قوله: ﴿قَالَ وَسَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ ذَلِكَ عَلَى الْمِنْبَرِ﴾ : د قال فاعل امام عطاء دې او دا د ماقبل سند سره متصل دې، امام عطاء بن ابی رباح رحمه الله فرمائی چه ما د عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما نه دا حدیث په منبر باندې بیانولو سره واوریدلو، چونکه په وړاندې روایت کښې دی : ﴿سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى الْمِنْبَرِ بِمَكَّةَ فِي خُطْبَتِهِ﴾

[۶۰۷۴] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ الْغَسِيلِ عَنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى الْمِنْبَرِ بِمَكَّةَ فِي خُطْبَتِهِ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ

[1]) ارشاد الساری : ۱۳/۴۳۶

إِنَّ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ «لَوْأَنَّ ابْنَ آدَمَ أُعْطِيَ وَادِيًا مَلأً مِنْ ذَهَبٍ أَحَبَّ إِلَيْهِ ثَانِيًا، وَلَوْ أُعْطِيَ ثَانِيًا أَحَبَّ إِلَيْهِ ثَالِثًا، وَلاَ يَسُدُّ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ».

د سيدنا عبدالله بن زبير رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه که انسان ته يو وادی د سرو زرو ډکه ورکړې شي نو د بلې خواهش به کوی، که دويمه ورکړې شي نو د دريمې خواهش به کوی او د انسان خيټه د خاورې نه سوا يو څيز هم نه شی ډکولې او الله پاک د هغه چا توبه قبلوی چه توبه کوی.

د ابو نعيم نامه فضل بن دکين ده

[٦٠٧٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لَوْأَنَّ لاِبْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ ذَهَبٍ أَحَبَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَادِيَانِ، وَلَنْ يَمْلأَ فَاهُ إِلاَّ التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ». وَقَالَ لَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أُبَيٍّ قَالَ كُنَّا نَرَى هَذَا مِنَ الْقُرْآنِ حَتَّى نَزَلَتْ (أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ).

د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. که د انسان سره د سرو زرو يو وادی وی نو هغه به غواړی چه هغه دوه شی او د هغه خوله سوا د خاورو نه بل يو څيز هم نه شی ډکولې او الله پاک د هغه چا توبه قبلوی څوک چه توبه کوی.

په دې حديث کښې د ﴿ فاه ﴾ يعنی فم (خولې) ذکر دې. په اول روايت کښې د بطن. او عين ذکر راغلې دې، علامه عينی او قسطلانی رحمهما الله فرمائی :

﴿ ليس المراد الحقيقة فى عضو بعينه بقرينة عدم الانحصار فى التراب إذ غيره يملؤه أيضا بل هو كناية عن الموت لأنه مستلزم للامتلاء فكأنه قال: لا يشبع من الدنيا حتى يموت فالغرض من العبارات كلها واحد وليس فيها إلا التفنن من الكلام ﴾ [1]

يعنی : دلته متعين طور د بدن يو اندام مراد نه دې بلکه دا د مرګ نه کناية ده. د حديث حاصل دا دې چه دنيا نه انسان هغې پورې نه مړيږی. ترڅو پورې چه د هغه مرګ رانشی، د ټولو عبارتونو مقصد يو دې سوا د کلام د تنوع نه بل هيڅ مقصد نه دې

او حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی : ﴿ وهذا يحسن فيما إذا اختلفت مخارج الحديث وأما إذا اتحدت فهو من تصرف الرواة ثم نسبة الامتلاء للجوف واضحة والبطن بمعناه وأما النفس فعبر بها عن الذات وأطلق الذات وأراد البطن من إطلاق الكل وإرادة البعض وأما النسبة إلى الفم فلكونه الطريق إلى الوصول للجوف ويحتمل أن يكون المراد بالنفس العين وأما العين فلأنها الأصل فى الطلب لأنه يرى ما يعجبه فيطلبه ليحوزه إليه وخص

[1] عمدة القارى ٦٩/٢٣، وارشاد السارى ٤٣٨/١٣

البطن فى أكثر الروايات لان أكثر ما يطلب المال لتحصيل المستلذات وأكثرها يكون للاكل والشراب ﴾ (١)
دا وضاحت هغه وخت صحيح دې چه كله د حديث الفاظ مختلف واقع شوې وى، بيا د امتلاء يعنى ډكيدلو نسبت د خيټې طرف ته كول واضح دى. د بطن معنى هم دا ده او نفس وئيلو سره شخص او ذات مراد كولې شى. ذات وئيلو سره بطن يعنى خيټه مراد كول دا ﴿اطلاق الكل وارادة البعض﴾ د قبيل نه دې. يعنى كل وئيلو سره جزء مراد كول او فم يعنى د خولې طرف ته د دې نسبت په دې بناء دې چه د خولې په ذريعه خيټې ته څيز رسيږى او د سترګو ذكر په دې وجه دې چه په طلب او لټون كښې سترګه اصل ده او په اكثر رواياتو كښې د بطن يعنى خيټې ذكر دې، په دې وجه اكثر چه كوم مال طلب كولې شى، هغه د خوند حاصلولو دپاره كولې شي او د خوند ډير صورتونه د خوراک څکاک نه حاصليږى.

قوله: ﴿ وَقَالَ لَنَا أَبُو الْوَلِيدِ ﴾ : ابو الوليد هشام بن عبدالملک طيالسى د امام بخارى رحمه الله شيخ دې. هغوى د سيدنا ابى بن كعب رضي الله عنه نه نقل كوى چه دا حديث ﴿ لوكان لابن ادم واديان من مال ﴾ به مونږ د قرآن حصه ګڼړله، تردې چه سورة تكاثر نازل شو، نو بيا مونږ ته معلومه شوه چه دا قرآن نه دې بلكه د رسول الله ﷺ حديث دې، ځكه چه په سورة التكاثر كښې د حديث دا مفهوم په ډير بليغ طريقې سره بيان كړې شوې دې.

بعض حضرات وائى چه دا د قرآن كريم آيت وو، چه كله سورة التكاثر نازل شو نو د دې تلاوت منسوخ شو خو د دې حكم لا باقى دې. (٢)

فائده : د تعليقاتو په سلسله كښې د امام بخارى رحمه الله يو منهج : امام بخارى رحمه الله تعليقات په ﴿قال فلان﴾ سره ذكر فرمائى خو چرته چرته چه ئې ﴿ قال لنا ﴾ وئيلې دې ظاهره ده چه هغه تعليق نه دې. بلكه موصول دې. دلته ئې ﴿ قال لنا ابوالوليد ﴾ فرمائيلې دې. دا هم موصول دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا اسلوب هلته اختياروى چرته چه د حديث متن د هغوى د شرط مطابق نه وى، يا د سند څوک راوى د هغوى د شرط مطابق نه وى، پس حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى :

﴿ قوله قال لنا ظاهر فى الوصل وان كان بعضهم قال انها للاجازة أو للمناولة أو للمذاكرة فكل ذلك فى حكم الموصول وان كان التصريح بالتحديث أشد اتصالا والذى ظهر لى بالاستقراء من صنيع البخارى أنه لا يأتى بهذه الصيغة الا إذا كان المتن ليس على شرطه فى أصل موضوع كتابه كأن يكون ظاهره الوقف أو فى السند من ليس على شرطه فى الاحتجاج ﴾ (٣)

---

١) فتح البارى ٣٠٨/١١، وارشاد السارى ٤٣٩/١٣
٢) ارشاد السارى : ٤٣٩/١٣
٣) فتح البارى : ٣٠٩/١١

(۱۱) باب قول النبى صلى الله عليه وسلم «هَذَا الْمَالُ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ»

وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى (زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا).
قَالَ عُمَرُ اللَّهُمَّ إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ إِلَّا أَنْ نَفْرَحَ بِمَا زَيَّنْتَهُ لَنَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ أُنْفِقَهُ فِي حَقِّهِ.

ډولې كړې شوې دى (اكثر) خلقو دپاره مينه د مرغوب څيزونو (مثلا) زنانه شوې. خامن شو. د سرو او سپينو لګيدلى ډهيرى، هغه اسونه چه په هغوى باندې نخښې وى. (يا نور) څاروى شو او فصل شو (خو) دا ټول استعماليدونكى څيزونه دى د دنيا د ژوند او الله پاک سره ده غوره بدله (چه كله مرګ راشى)

مفتى اعظم پاكستان مولانا محمد شفيع رحمه الله په معارف القرآن كښې د دې آيت كريمه په تفسير كښې ليكى:

د دې آيت كريمه نه معلومه شوه چه د دنيا د دې مرغوب څيزونو د انسان دپاره ډولى كول هم د الله پاک يو فعل دې، كوم چه په ډيرو حكمتونو باندې بناء دې. او بعض آيتونه چه په هغې كښې داسې قسم تزئين د شيطان طرف ته منسوب كړې شوې دې لكه ﴿ زين لهم الشيطان اعمالهم ﴾ په هغې كښې د داسې څيزونو تزئين مراد دې كوم چه عقلا او شرعا بد دې. يا د تزئين هغه درجه مراد ده كومه چه د حد نه د تيريدو د وجې نه بده ده. ګينې مباحاتو لره ډولى كول مطلقا بد نه دى، بلكه په هغې كښې ډير فوائد هم دى، هم په دې وجه په بعض آيتونو كښې دا تزئين صراحتا د الله پاک طرف ته منسوب كړې شوې دې. لكه چه اوس بيان كړې شو.

خلاصه د كلام دا ده چه د دنيا خوندور او مرغوب څيزونه الله پاک په خپل فضل او حكمت سره د انسان دپاره مزئين فرمائيلو سره د هغې محبت د هغه په زړه كښې واچولو. چه په هغې كښې د ډيرو حكمتونو نه يو دا هم دې چه د انسان امتحان واخستلې شى چه دا سرسرى او ظاهرى مرغوبات او د هغې په څو ورځې لذت كښې اخته كيدو سره د دې ټولو څيزونو رب او خالق او مالک ياد اوساتى او دې څيزونو لره د هغه د معرفت او محبت ذريعه جوړوى يا هم د هغه څيزونو په محبت كښې اينختلو سره اصلى مالک او خالق او په آخرت كښې د هغه مخې ته پيشى او حساب او كتاب لره هير كړى، اول سړې هغه دې چه هغه د دنيا نه هم فائده اوچته كړه او په آخرت كښې هم كامياب پاتې شو، د دنيا مرغوبات د هغه دپاره د لارې خنډ جوړيدو په ځائې د لارې معلومات وركونكې د اخرت د كاميابئ ذريعه جوړ شو او دويم سړې هغه دې كوم دپاره چه هم دا څيزونه د آخرت د بربادئ او د دائمى عذاب سبب شو او كه په ژور نظر سره اوكتلې شى نو دا څيزونه د هغه دپاره په دنيا كښې عذاب جوړيږى په قرآن كريم كښې د هم داسې خلقو متعلق ارشاد دې ﴿ فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ يعنى تاسو د دې كفارو د مال او اولاد

نه په تعجب کښې نه شئ ځکه چه دې نافرمانو ته د مال او اولاد ورکولو سره د هغوی هيڅ فائده اونشود. بلکه دا اموال او اولاد به د هغوی دپاره په آخرت کښې خو د هغوی دپاره عذاب جوړيږی. په دنيا کښې هم شپه او ورځ د فکرونو او مشاغلو د وجې نه د هغوی دپاره د عذاب باعث جوړ شی.

الغرض د دنيا کوم څيزونه چه الله پاک د انسان دپاره مزين او مرغوب جوړ کړې دی. د شريعت مطابق په اعتدال سره د هغې د طلب او ضرورت موافق د هغې جمع کول د دنيا او آخرت فلاح ده او په ناجائز طريقو باندې د هغې استعمال يا په جائز طريقو کښې دومره غلو او رغبت چه د هغې په سبب د آخرت نه غافل شی. د حکمت باعث دې. مولانا رومی رحمه الله د دې څه ښه مثال بيان فرمائيلې دې!

آب اندر زیر کشتی پشتی است آب در کشتی هلاک کشتی است

يعنی د دنيا سازوسامان د اوبو په شان دې او په دې کښې د انسان زړه د يوې کشتئ په شان دې. اوبو چه ترڅو پورې د کشتئ نه لاندې او يو خوا بل خوا وی نو د کشتئ دپاره مفيد او معين او د هغې مقصد وجود لره پوره کونکې وی او که اوبه په کشتئ کښې دننه داخلې شی نو هم دا د کشتئ د غرقيدو او هلاکت سامان شی. هم دغه شان د دنيا مال او متاع چه ترڅو پورې د انسان په زړه کښې غلبه بيا نه مومی. د هغه دپاره په دين او دنيا کښې معين او مددګار دی. او کوم وخت چه غواړی د هغه په زړه باندې خواره شی نو د زړه هلاکت دې. (۱)

قوله: ﴿قَالَ عُمَرُ اللَّهُمَّ إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ إِلَّا أَنْ نَفْرَحَ بِمَا زَيَّنْتَهُ لَنَا﴾: د سورة آل عمران په آيت کريمه کښې الله پاک د مختلف دنيوی څيزونو په باره کښې فرمائيلې دی چه الله پاک هغه د خلقو دپاره مزين کړې دی، سيدنا فاروق اعظم رضي الله عنه فرمائی: اې الله! کوم څيزونه چه تا زمونږ دپاره ښولی کړې دی هغې ته کتلو او موندلو سره د خوشحاليدو نه سوا مونږ سره بله لاره نشته. اې الله! زه ستانه ددې په خپل صحيح مصرف کښې د خرچ کولو دعا کوم.

دا تعليق دارقطنی موصولا نقل کړې دې او په هغې کښې دا تفصيل دې چه کله فتوحات شروع شو نو سيدنا عمر رضي الله عنه ته د مشرق نه مال راغلو. سيدنا عمر رضي الله عنه پرانستلو سره اوکتلو نو په هغې کښې کالی. جواهر او نور سازوسامان وو. سيدنا عمر رضي الله عنه په ژړا شو، خلقو تپوس اوکړو، اې امير المؤمنين! تاسو ولې ژاړئ؟ دا خو مال غنيمت دې. وې فرمائيل: د کوم قوم نه چه دا مال حاصل شو. دا مال د هغوی د قتل کولو او د هغوی د بې عزته کولو نه پس حاصل شوې دې، مقصد دا وو چه که هغوی بغير د جنګ او قتال نه اسلام قبول کړې وې نو دې ته به ضرورت نه راتلو. بيا چه ئې کله هغه مال تقسيمولو نو د قرآن کريم دا آيت ﴿زين للناس﴾ تلاوت اوفرمائيلو! او وې فرمائيل: دا دنياوی څيزونه مونږ ته محبوب دی. اې الله! د دوی د شر نه مونږ بچ کړه او ماته توفيق راکړه چه دا په صحيح

(۱) معارف القران، سورة آل عمران: ۲۹/۲، ۳۰

مصرف كښې خرچ كړي شم (۱)

[۲۰۷۲] حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِي يَقُولُ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ «هَذَا الْمَالُ - وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ قَالَ لِي يَا حَكِيمُ - إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَمَنْ أَخَذَهُ بِطِيبِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ، وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى». [ر: ۱۳۲۱]

د سيدنا حكيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه (څه) اوغوښتل نو ماته ئې راكړل. ما بيا اوغوښتل نو ماته ئې راكړل. ما بيا اوغوښتل او رسول الله ﷺ راكړل. بيا ئې اوفرمائيل اې حكيم! دا مال شين او خوشګوار دې. پس كوم سړې چه دا په صحيح نيت سره اخلى نو د هغه په مال كښې بركت وى او څوك چه ئې په لالچ سره اخلى نو د هغه په مال كښې بركت نه وى. بلكه هغه سړې د هغه چا په شان وى چه خوراک كوى خو د هغه خيټه نه ډكيږى او پورته لاس د لاندې لاس نه غوره دې.

قوله: ﴿ثُمَّ قَالَ هَذَا الْمَالُ، وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ: قَالَ لِي يَا حَكِيمُ - إِنَّ هَذَا الْمَالَ﴾: (۲) يعنى سفيان راوى ته شک دې چه رسول الله ﷺ ﴿ان هذا المال خضرة حلوة﴾ اوفرمائيلو يا ﴿يا حكيم ان هذا المال خضرة حلوة﴾ اوفرمائيلو. ﴿قال لى: يا حكيم﴾ يعنى رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل: اې حكيم....

⑫ باب مَا قَدَّمَ مِنْ مَالِهِ فَهُوَ لَهُ

انسان چه كوم مال د الله پاک په لاره كښې او د خير په كارونو كښې خرچ كوى د خپل ځان دپاره ئې د آخرت ذخيره كړى، هم هغه د هغه دې او د هغه په كار به راځى. امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې هم د دې حقيقت طرف ته اشاره فرمائيلې ده.

[۲۰۷۷] حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِي عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلاَّ مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ. قَالَ:

---

۱) ارشاد السارى: ۴۴۱/۱۳

۲) وظاهر السياق أن حكيما قال لسفيان وليس كذلک لأنه لم يدركه لان بين وفاة حكيم ومولد سفيان نحو الخمسين سنة ولهذا لا يقرأ حكيم بالتنوين وانما المراد أن سفيان رواه مرة بلفظ ثم قال أى النبى صلى الله عليه و سلم ان هذا المال ومرة بلفظ ثم قال لى يا حكيم (فتح البارى: ۳۱۳/۱۱، وارشاد السارى. ۴۴۲/۱۲)

«فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ، وَمَالُ وَارِثِهِ مَا أَخَّرَ».

د سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په تاسو کښې کوم یو دې چاته چه د خپل مال نه زیات د خپل وارث مال عزیز وی؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو یارسول الله ﷺ! په مونږ کښې یو هم داسې نه دې چاته چه خپل مال عزیزنه وی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیا د هغه مال هغه دې کوم چه هغه (د مرګ نه) مخکښې (د الله پاک په لاره کښې خرچ) کړو. اودهغه دوارث مال هغه دې کوم چه دهغه نه پاتې شو او مړ شو. (١)

⑬ باب الْمُكْثِرُونَ هُمُ الْمُقِلُّونَ

وَقَوْلُهُ تَعَالَى : مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لاَ يُبْخَسُونَ * أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ إِلاَّ النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (هود: ١٥. ١٦)

د ﴿ مکثرون ﴾ نه مالدار خلق مراد دی چه هغوی سره د دولت کثرت وی. وې فرمائیل چه هغوی به په اجر او ثواب کښې کم تر وی. امام بخاری رحمه الله په باب کښې د سورة هود دوه آیتونه ذکر اوفرمائیل. چه د هغې ترجمه دا ده :

کوم سړې چه (په خپل اعمال خیر سره) صرف د دنیاوی ژوند (منفعت) او د هغې ړول (حاصلول) غواړی (لکه شهرت. نیک نامی او جاه ومرتبه او د آخرت د ثواب نیت د هغه نه وی)، نو مونږ به د هغه خلقو د اعمالو جزاء هغوی ته په دنیا کښې ورپوره کړو او د هغوی دپاره په دنیا کښې هیڅ کمې نه وی. (یعنی په دنیا کښې د هغوی د اعمالو په عوض کښې هغوی ته نیک نامی او صحت و فراغ او عیش او کثرت مال و اولاد ورکولې شی چه کله د هغه اعمالو اثر په خپلو اضداد باندې غالب شی او که په اضداد باندې غالب نه شی نو بیا

---

(١) قال ابن بطال في شرحه : فإن قيل : هذا الحديث يدل على أن إنفاق المال في وجوه البر أفضل من تركه لوارثه . وهذا يعارض قوله (صلى الله عليه وسلم) لسعد : (إنك إن تترك ورثتك أغنياء خير من أن تتركهم عالةً يتكففون الناس).

قيل : لا تعارض بينهما . وإنما خص النبى (صلى الله عليه وسلم) سعداً على أن يترك مالاً لورثته : لأن سعداً أراد أن يتصدق بماله كله في مرضه . وكان وارثه ابنته والابنة لا طاقة لها على الكسب . فأمره (صلى الله عليه وسلم) بأن يتصدق منه بثلثه ويكون باقيه لابنته ولبيت مال المسلمين . وله أجر فى كل من يصل إليه من ماله شيء بعد موته . وحديث ابن مسعود إنما خاطب به (صلى الله عليه وسلم) أصحابه فى صحتهم ونبّه به من شحّ على ماله . ولم تسمح نفسه بإنفاقه فى وجوه البر أن ينفق منه فى ذلك : لئلا يحصل وارثه عليه كاملاً موفراً . ويخيب هو من أجره . وليس فيه الأمر بصدقة المال كله فيكون معارضاً لحديث سعد . بل حديث عبد الله مجمل يفسره حديث سعد . ويدل على صحة هذا التأويل ما ذكره أهل السير . عن ابن شهاب أن أبا لبابة قال : (يا رسول . إن من توبتى أن أهجر دار قومى التى أصبت فيها الذنب . وأنخلع من مالى صدقة إلى الله ورسوله . قال : يجزئك الثلث) فلم يأمره بصدقة ماله كله. (شرح ابن بطال : ١٠/١٦٤. ١٦٥

دا اثر نه مرتب کيږي. دا خو په دنيا کښې شوه او پاتې شو آخرت نو، دا داسې خلق دي چه د هغوی دپاره په آخرت کښې سوا د دوزخ نه نور هيڅ (ثواب وغيره) نشته او هغوی چه څه کړي وو هغه په آخرت کښې ټول (په ټوله) بيکاره (ثابت) شو.
د آيت کريمه مناسبت. د باب سره ظاهر دې چه کوم خلق دنيا غواړي. دنيا به هغوی ته ملاؤ شي. خو د آخرت د اجر نه به محروم وي.

[۲۰۷۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ -رضي الله عنه- قَالَ خَرَجْتُ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَمْشِي وَحْدَهُ، وَلَيْسَ مَعَهُ إِنْسَانٌ - قَالَ - فَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَكْرَهُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَهُ أَحَدٌ - قَالَ - فَجَعَلْتُ أَمْشِي فِي ظِلِّ الْقَمَرِ فَالْتَفَتَ فَرَآنِي فَقَالَ «مَنْ هَذَا». قُلْتُ أَبُو ذَرٍّ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ. قَالَ «يَا أَبَا ذَرٍّ تَعَالَهْ». قَالَ فَمَشَيْتُ مَعَهُ سَاعَةً فَقَالَ «إِنَّ الْمُكْثِرِينَ هُمُ الْمُقِلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِلاَّ مَنْ أَعْطَاهُ اللَّهُ خَيْرًا، فَنَفَحَ فِيهِ يَمِينَهُ وَشِمَالَهُ وَبَيْنَ يَدَيْهِ وَوَرَاءَهُ، وَعَمِلَ فِيهِ خَيْرًا». قَالَ فَمَشَيْتُ مَعَهُ سَاعَةً فَقَالَ لِي «اجْلِسْ هَا هُنَا». قَالَ فَأَجْلَسَنِي فِي قَاعٍ حَوْلَهُ حِجَارَةٌ فَقَالَ لِي «اجْلِسْ هَا هُنَا حَتَّى أَرْجِعَ إِلَيْكَ». قَالَ فَانْطَلَقَ فِي الْحَرَّةِ حَتَّى لاَ أَرَاهُ فَلَبِثَ عَنِّي فَأَطَالَ اللُّبْثَ، ثُمَّ إِنِّي سَمِعْتُهُ وَهُوَ مُقْبِلٌ وَهُوَ يَقُولُ «وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى». قَالَ فَلَمَّا جَاءَ لَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ مَنْ تُكَلِّمُ فِي جَانِبِ الْحَرَّةِ مَا سَمِعْتُ أَحَدًا يَرْجِعُ إِلَيْكَ شَيْئًا. قَالَ «ذَلِكَ جِبْرِيلُ - عَلَيْهِ السَّلاَمُ - عَرَضَ لِي فِي جَانِبِ الْحَرَّةِ، قَالَ بَشِّرْ أُمَّتَكَ أَنَّهُ مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، قُلْتُ يَا جِبْرِيلُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ. قَالَ قُلْتُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ، وَإِنْ شَرِبَ الْخَمْرَ».
قَالَ النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ وَحَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ وَالأَعْمَشُ وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ رُفَيْعٍ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ بِهَذَا.
قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثُ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ مُرْسَلٌ، لاَ يَصِحُّ، إِنَّمَا أَرَدْنَا لِلْمَعْرِفَةِ، وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ.
قِيلَ لأَبِي عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثُ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ مُرْسَلٌ أَيْضًا لاَ يَصِحُّ، وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ. وَقَالَ اضْرِبُوا عَلَى حَدِيثِ أَبِي الدَّرْدَاءِ هَذَا. إِذَا مَاتَ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. عِنْدَ الْمَوْتِ. [ر: ۲۲۵۸]

د سيدنا ابوذر غفاري ﷛ نه روايت دې چه يوه ورځ زه بهر اوتلم نو اومې کتل چه رسول الله ﷺ يو اخې روان ووم او هغوی سره څوک هم نه وو. سيدنا ابوذر ﷛ فرمائي چه ما دا اوګنړله چه رسول الله ﷺ به دا خبره خوښه نه کړي چه هغوی سره دې څوک وي، پس زه د سپوږمۍ په رڼړا کښې په رسول الله ﷺ پسې شاته روان شوم، په دې کښې رسول الله ﷺ راستون شو او ماته کتلو سره ئې اوفرمائيل: څوک ئې؟ ما عرض اوکړو: ابوذر! الله پاک

دي ما په رسول الله ﷺ باندې قربان کړی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ابوذر: دلته راشه ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه زه د لږ وخته پورې هغوی سره روان اوم د دې نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کوم خلق (په دنيا کښې) زيات مال او دولت جمع کړې دې. د قيامت په ورځ به هم هغوی غريبانان وی سوا د هغوی نه چاته چه الله پاک مال ورکړې وی او هغوی هغه ښی او ګس. وړاندې روستو خرچ کړې وی او هغه ئې په نيکو کارونو کښې صرف کړې وی سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه زه بيا د لږ ساعته پورې د رسول الله ﷺ سره روان اوم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل، دلته کينه. رسول الله ﷺ زه په يو هواره زمکه باندې کينولم چه د هغې نه چاپيره کانړی وو او وې فرمائيل : دلته تر هغه وخته پورې کينه چه ترڅو پورې زه تاته واپس رانشم.

سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائي رسول الله ﷺ د کانړيزې زمکې طرف ته لاړو او د سترګو نه غيب شو. هغوی هلته وو او د ډير وخته پورې وو. بيا ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغوی په دې وئيلو سره تشريف راوړلو ﴿وان سرق وان زنى﴾ که غلا ئې کړې وی او که زنا ئې کړې وی. سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه کله رسول الله ﷺ تشريف راوړلو نو زما نه صبر اونشو او ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! الله پاک دې ما په تاسو باندې قربان کړی! د دې کانړيزې زمکې په غاړه تاسو د چا سره خبرې کولې. ما خو بل چا لره تاسو سره په خبرو کولو باندې نه وو ليدلې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : جبرائيل عليه السلام وو. د کانړيزې زمکه (حرة) په غاړه باندې ما سره ملاؤ شو او وې فرمائيل چه خپل امت ته دې زيرې واوروه چه کوم انسان هم په دې حال کښې مړ شو چه هغه د الله پاک سره څوک نه وی شريک کړې هغه به جنت ته ځی. ما عرض اوکړو اې جبريل! اګر چه هغه غلا کړې وی او زنا ئې کړې وی؟ وې فرمائيل : او اګر چه هغه شراب هم څکلې وی.

د سند وضاحت : امام بخاري رحمه الله چه کوم روايت ذکر فرمائيلې دې د دې په سند کښې ﴿عبدالعزيز بن رفيع عن زيد بن وهب﴾ عبدالعزيز د زيد بن وهب نه په عن سره نقل کوی. د نضر به شميل په دې روايت کښې د شعبه درې شيوخ دی اول حبيب بن ابی ثابت. دويم سليمان اعمش او دريم عبدالعزيز بن رفيع او دا درې واړه د ﴿عن﴾ په ځائې ﴿حدثنا زيد بن وهب بهذا﴾ يعنی په تصريح د تحديث سره نقل کوی. بهذا سره حديث مذکور مراد دې.

د امام بخاري رحمه الله مقصد دا دې چه د قتيبه بن سعيد په طريق کښې اګر چه عنعنه ده. عبدالعزيز بن رفيع په عن سره ذکر کوی خو د شعبه په روايت کښې د تحديث تصريح ده.

يو اعتراض او د هغې جواب : اسماعيلی په امام بخاري رحمه الله باندې اعتراض کړې دې چه د شعبه په طريق کښې د مکثرين او مقلين والا حصه نشته، صرف ﴿مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا﴾ والا حصه ده. په داسې صورت کښې د قتيبة بن سعيد او شعبه دواړو رواياتو ته يو ځنګه وئيلې کيدې شی.

شارحينو د دې جواب دا ورکړې دې چه په حقيقت کښې د سيدنا ابوذر رضي الله عنه دا حديث په

دري خبرو باندې مشتمل دي
① يو مكثرين او مقلين والا خبره
② دويم ﴿ مايسرني ان عندي مثل احد ذهبا ﴾ لكه چه د وړاندې په باب په روايت كښې راروان دى. ③ دريم ﴿ مَاتَ لَايُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا ﴾.
رسول الله ﷺ دا درې واړه خبرې سيدنا ابوذر غفارى رضی الله عنه ته ارشاد اوفرمائيلې
د دې نه په هره يوه خبره باندې د حديث اطلاق كيدلې شى. اګر چه پوره حديث په دريو بيلو بيلو خبرو باندې مشتمل دي [۱]

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ حَدِيثُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ مُرْسَلٌ لَا يَصِحُّ إِنَّمَا أَرَدْنَا لِلْمَعْرِفَةِ وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ ﴾: امام بخارى رحمه الله فرمائى : ﴿ ابوصالح عن ابى الدرداء ﴾ والا حديث دې او صحيح نه دې. صحيح حديث د سيدنا ابوذر رضی الله عنه دې. د دې تذكره مونږ په دې وجه باندې اوكړه چه صحيح صورت حال او حقيقت واضح او معلوم شى.
﴿ انما اردناه للمعرفة اى : انما اردنا ان نذكره للمعرفة بحاله ﴾
د سيدنا ابوذر رضی الله عنه د روايت تفصيل ستاسو مخې ته راغلو. په وړاندې باب كښې دا روايت راروان دې. په هغې كښې رسول الله ﷺ ته سيدنا جبريل علیه السلام زيرې اورولې دې چه ﴿ مَنْ مَاتَ لَايُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ .... وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَىٰ ﴾
بالكل هم دغه شان يو روايت د سيدنا ابوالدرداء رضی الله عنه نه ذكوان ابو صالح نقل فرمائيلې دې
د سيدنا ابوذر رضی الله عنه نه دا روايت زيد بن وهب نقل فرمائى. سليمان اعمش د خپل شيخ زيد بن وهب نه تپوس اوكړو چه ماته دا خبره رارسيدلې ده چه دا حديث رسول الله ﷺ سيدنا ابوالدرداء رضی الله عنه ته اورولې وو او هغوى د دې راوى دې، نو زيد بن وهب اووې چه ماته صرف سيدنا ابوذر رضی الله عنه دا حديث په مقام ربذه كښې اورولې وو (ابوالدرداء رضی الله عنه نه)، نو سليمان اعمش اوفرمائيل چه ابوصالح ماته د سيدنا ابوالدرداء رضی الله عنه هم دغه شان حديث نقل فرمائيلې دې [۲]
امام بيهقى رحمه الله فرمائى چه دا دواړه بيل بيل احاديث دى. اګر چه معنوى لحاظ سره د دواړو مفهوم يو دې. خو په دوه بيلو بيلو موقعو باندې رسول الله ﷺ دا ارشاد اوفرمائيلو. [۳]
امام بخارى رحمه الله د دواړو احاديثو ترمينځه محاكمه كولو سره اوفرمائيل چه صحيح حديث د ابى ذر رضی الله عنه دې او ابو صالح ذكوان چه د سيدنا ابوالدرداء رضی الله عنه نه هم دغه شان كوم روايت نقل كړې دې هغه مرسل دې صحيح نه دې.

---
[۱]) ارشاد السارى ۴۴۵/۱۳، وفتح البارى : ۳۱۷/۱۱، وعمدة القارى : ۷۹/۲۳
[۲]) وفتح البارى : ۳۲۲/۱۱، وعمدة القارى : ۷۸/۲۳
[۳]) وفتح البارى : ۳۲۳/۱۱، ارشاد السارى ۴۴۵/۱۳

خو صاحب تلويح د امام بخارى رحمه الله په محاكمه باندې تنقيد كړې دې او فرمائى چه امام نسائى رحمه الله دا حديث د امام مسلم په شرط باندې په صحيح سند سره نقل كړې دې (١)

﴿ قِيلَ لِأَبِي عَبْدِ اللهِ حَدِيثُ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ مُرْسَلٌ أَيْضًا لَا يَصِحُّ وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ وَقَالَ اضْرِبُوا عَلَى حَدِيثِ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﴾

د امام بخارى رحمه الله نه د عطاء بن يسار رحمه الله د هغه روايت په باره كښې تپوس اوكړې شو. كوم چه هغوى د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه نه نقل فرمائيلې دې. چه د هغې تخريج امام نسايى رحمه الله كړې دې، د هغې الفاظ دا دى:

﴿ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ الْبَقَرَةِ يَقُولُ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} الْبَقَرَةِ فَقُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّانِيَةَ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} الْبَقَرَةِ فَقُلْتُ الثَّانِيَةَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الثَّالِثَةِ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} الْبَقَرَةِ فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﴾(٢)

يعنى: سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه فرمائى چه هغوى د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په منبر باندې واوريدل ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾ يعنى څوک چه د خپل رب مخې ته د اودريدلو نه اويريدو. د هغه دپاره دوه جنتونه دى. نو ما اووې اګر چه هغه زنا او غلا كړې وى يا رسول الله صلى الله عليه وسلم رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اګر چه هغه غلا او زنا كړې وى. ما دوباره اووې. رسول الله صلى الله عليه وسلم دوباره ارشاد اوفرمائيلو. دريم كرت رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: اګر چه د ابو الدرداء پوزه په خاورو باندې ككړه شى.

امام بخارى رحمه الله د دې حديث په باره كښې هم اوفرمائيل چه دا هم مرسل دې. صحيح نه دې. صحيح حديث د ابوذر رضي الله عنه دې، وې فرمائيل: د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه په حديث كرښه راكاږئ. يعنى هغه پريږدئ ﴿إِذَا مَاتَ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عِنْدَ الْمَوْتِ﴾، ځكه چه هغه مرسل دې.

د نسخو فرق: دلته دوه نسخې دى: ① په اوله نسخه كښې ﴿إِذَا مَاتَ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عِنْدَ الْمَوْتِ﴾ الفاظ دى، مونږ چه كومه نسخه د متن په طور اختيار كړې ده. په هغې كښې د ﴿اذا مات﴾ الفاظ دى. په دې صورت كښې ﴿ اضْرِبُوا عَلَى حَدِيثِ أَبِي الدَّرْدَاءِ هَذَا ﴾ سره د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه د حديث طرف ته اشاره ده، د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه د حديث دا الفاظ نقل كولو سره امام بخارى رحمه الله فرمائى چه د ابو الدرداء رضي الله عنه د حديث ﴿ اذا مات قال: لا اله الا الله عند الموت ﴾ باندې خط راكاږئ او هغه پريږدئ ځكه چه هغه مرسل دې.

---

(١) ارشاد السارى ٤٤٥/١٣، وعمدة القارى: ٧٩/٢٣

(٢) السنن الكبرى للنسائى، كتاب التفسير، سورة الرحمن: ٤٤٨/٦. (رقم الحديث: ١١٥٦)

② دویم نسخه دا ده ﴿ هذا، اذ تاب قال : لا اله الا الله عند الموت ﴾ په هندوستانی نسخه کښې د ﴿اذا تاب﴾ الفاظ دی. د دې نسخې مطابق په ﴿ اضربوا علی حدیث ابی الدرداء ﴾ باندې خبره ختمه شوې ده او ﴿ هذا اذا تاب، قال : لا اله الا الله عند الموت ﴾ دا د امام بخاری رحمه الله د طرف نه په حدیث الباب باندې تبصره ده. په حدیث الباب کښې دی چه چا ﴿ لا اله الا الله ﴾ اووې. هغه به جنت ته داخلیږی. اګرچه هغه زنا او غلا کړې وی. امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دا حکم په هغه صورت کښې دې چه کله هغه د ګناهونو نه توبه کړې وی او د مرګ په وخت ئې کلمه طیبه وئیلې وی. ظاهره ده چه په توبې سره دا ګناهونه معاف کیږی نو داسې انسان به جنت ته ځی.
دا د امام بخاری رحمه الله تاویل دې. نور حضرات فرمائی چه که توبه ئې نه وی کړې نو هم د خپلو ګناهونو سزا خوړلو نه پس جنت ته داخلیږی ﴿ دخل الجنة ﴾ نه مراد دا کیدې شی چه بالآخر به جنت ته داخلیږی. پس شاه انور شاه کشمیری رحمه الله لیکی :

﴿ قوله : (قال أبو عبد الله : هذا إذا مات، وقال : لا إله إلا الله عند الموت) لمّا استشكلَ المصنِّفُ النجاةَ مع ارتكاب الزنا، والسرقة، حمله على أن المرادَ من الزنا والسرقةِ الذی قد تاب منه، فإذا تابَ منه قبل الموت، وقال الكلمة، فذلك يَدْخُلُ الجنةَ. والذی تبيَّن لی أن الحديثَ سِيقَ لبيان أن المؤمنَ العاصی يَدْخُلُ الجنة آخراً، وإنما عبَّر كذلك فی اللفظ، لأنَّ الكافرَ لا يَدْخُلُها أبداً حتى يَلِجَ الجملُ فی سَمّ الخياط. وإذا كان المؤمنُ العاصی دَاخِلَها، ولو بعد التعذيب يسيراً، صحَّ الإطلاقُ فی التعبير. فالدخولُ فی الجنة، أو تحريمُ النار عليه، كلُّه بالنظر إلى حال الكافر. ولمّا تعلَّم الناسُ المسألةَ فی المؤمن المُسْرِفِ، وتقرَّرت فی أذهانهم، صارت عندهم كالبديهی، فزَعَمُوا أنَّها لا تحتاج إلى تنبيه، مع أنه لولم يُعَلِّمنا لمَا عَلِمْنَا : {وما كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لولا أن هَدَانا الله} (الأعراف : ٤٣). فهذا هو المرادُ عندی، والله تعالى أعلم بالصواب ﴾ (١)
بهر حال د عطاء بن یسار رحمه الله نه هم امام بخاری رحمه الله غیر صحیح او مرسل وئیلې دې.
خو حافظ ابن حجر رحمه الله د امام بخاری رحمه الله خبرې ته قابل اشکال وئیلې ده. هغوی فرمائی چه د عطاء روایت مرسل نه دې، ځکه چه د عطاء بن یسار رحمه الله سماعت د ابو الدرداء رضی الله عنه نه ثابت دې. لکه چه ابن ابی حاتم او طبرانی او د بیهقی په روایت کښې دی. پس هغهوی لیکی :
﴿ وقد وقع التصريح بسماع عطاء بن يسار له من أبی الدرداء فی رواية بن أبی حاتم فی التفسير والطبرانی فی المعجم والبيهقی فی شعبه ﴾ (٢)

---

١) فیض الباری ٤/٤٢٥
٢) فتح الباری ١١/٣٢٣

⑭ باب قَوْلِ النَّبِی صلی اللہ علیہ وسلم «مَا أُحِبُّ أَنَّ لِي مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا».

[۶۰۷۹] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ أَبُو ذَرٍّ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ - صلی اللہ علیہ وسلم - فِي حَرَّةِ الْمَدِينَةِ فَاسْتَقْبَلَنَا أُحُدٌ فَقَالَ «يَا أَبَا ذَرٍّ».
قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «مَا يَسُرُّنِي أَنَّ عِنْدِي مِثْلَ أُحُدٍ هَذَا ذَهَبًا، تَمْضِي عَلَيَّ ثَالِثَةٌ وَعِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ، إِلاَّ شَيْئًا أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ، إِلاَّ أَنْ أَقُولَ بِهِ فِي عِبَادِ اللَّهِ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا». عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَمِنْ خَلْفِهِ. ثُمَّ مَشَى فَقَالَ «إِنَّ الأَكْثَرِينَ هُمُ الأَقَلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا - عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَمِنْ خَلْفِهِ - وَقَلِيلٌ مَا هُمْ». ثُمَّ قَالَ لِي «مَكَانَكَ لاَ تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ». ثُمَّ انْطَلَقَ فِي سَوَادِ اللَّيْلِ حَتَّى تَوَارَى فَسَمِعْتُ صَوْتًا قَدِ ارْتَفَعَ، فَتَخَوَّفْتُ أَنْ يَكُونَ قَدْ عَرَضَ لِلنَّبِيِّ - صلی اللہ علیہ وسلم - فَأَرَدْتُ أَنْ آتِيَهُ فَذَكَرْتُ قَوْلَهُ لِي «لاَ تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ» فَلَمْ أَبْرَحْ حَتَّى أَتَانِي، قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتًا تَخَوَّفْتُ، فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ «وَهَلْ سَمِعْتَهُ». قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ «ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَانِي فَقَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ». قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ «وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ». [ر: ۲۲۵۸]

د سیدنا ابو الدرداء رضی اللہ عنہ نه روایت دې چه زه د رسول الله ﷺ سره د مدینې په کانړیزې علاقه کښې روان اوم. هم په دې دوران کښې د احد غر زمونږ مخې ته راغلو، رسول الله ﷺ تپوس اوفرمائيلو : ابوذر! ما عرض اوکړو حاضر یم یا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زه به په دې کله هم خوشحاله نه شم چه ما سره ددې احد د غر برابر سرهٔ زر وی او په هغې باندې درې ورځې تیرې شی چه د هغې نه یو دینار هم باقی پاتې شی، سوا د هغه لږ مال نه چه کوم زه د قرض د ادا کولو دپاره پریږدم، بلکه هغه به زه د الله پاک په بندګانو کښې داسې خرچ کړم. خپل ښی ګس او شاته (یعنی هر طرف ته ئې خرچ کړم) بیا رسول الله ﷺ روان وو، د دې نه پس ئې اوفرمائیل. زیات مال ساتونکی به د قیامت په ورځ باندې غریبانان وی سوا د هغه سړی نه کوم چه خپل مال ښی، ګس او شاته خرچ کړی او داسې خلق کم دی.
بیا ئې ماته اوفرمائیل : هم دلته اودریږه، د دې ځائې نه تر هغه وخته پورې مه ځه ترڅو چه زه واپس نه یم راغلې. بیا رسول الله ﷺ د شپې په تیارهٔ کښې لاړو او د سترګو نه غائب شو. د دې نه پس ما آواز واوریدلو چه اوچت وو. زه اویریدم چه رسول الله ﷺ ته څه تکلیف نه وی رسیدلې، ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د رسیدلو اراده اوفرمائیله خو د هغوی ارشاد رایاد شو چه د خپل ځائې نه مه خوزه، ترڅو چه زه واپس نه یم راغلې، پس

ترخو پورې چه رسول الله ﷺ تشريف نه وو راوړې زه د هغه ځائې نه بيرته نه شوم ما عرض اوکړو . يا رسول الله ﷺ ما يو آواز اوريدلې وو ، ماته خطره هم محسوس شوه. خو بيا ستاسو ارشاد راياد شو. رسول الله ﷺ تپوس اوفرمائيلو چه تا اوريدلې وو؟ ما عرض اوکړو اوجی ! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هغه جبرائيل عليه السلام وو. او هغه اووې چه ستاسو د امت چه کوم سړې په داسې حال کښې مړ شی چه هغه د الله پاک سره څوک شريک کړې نه وی نو هغه به جنت ته ځی ما تپوس اوکړو اګر چه هغه زنا يا غلا کړې وی. هغه اوفرمائيل . او اګر چه زنا او غلې ئې ولې نه وی کړې. [۱]

قوله: ﴿تَمْضِي عَلَيَّ ثَالِثَةٌ﴾: په دې کښې د ﴿ثالثة﴾ نه ﴿ليلة ثالثة﴾ مراد ده. د باب په وړاندې روايت کښې دی، ﴿أَنْ لَا تَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ﴾ يعنی هغه چه ما د قرض لرې کولو دپاره کيخودلې دې. ﴿الا ان اقول به عباد الله﴾ : مګر هغه چه زه ئې د الله پاک په بندګانو باندې خرچ کړم، ﴿اقول به﴾ نه انفاق مراد دې، ﴿الا من قال : هكذا وهكذا وهكذا﴾ مګر چه دې طرف ته. هغه طرف ته خرچ کوی، من قال يعنی صرف المال فی حقه.

[۲۰۸۰] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ شَبِيبٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ يُونُسَ . وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا لَسَرَّنِي أَنْ لَا تَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ، إِلَّا شَيْئًا أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ». [ر: ۲۲۵۹]

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : که ما سره د احد د غر په مقدار سره زر وی نو زه به په دې باندې خوشحاله يم چه په هغې درې ورځې هم تيرې نه شی چه ماته پکښې څه هم پاتې شی، سوا د هغه معمولی رقم نه کوم چه زه د قرض د ادا کولو دپاره کيږدم. علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی :

﴿وفيه الحث على الإنفاق فى وجوه الخيرات، وأنه -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كان فى أعلى درجات الزهد فى الدنيا بحيث إنه لا يحب أن يبقى فى يده شیء من الدنيا إلا لإنفاقه فيمن يستحقه وإما لإرصاده لمن له حق﴾ [۲]

---

[۱]) قال ابن بطال : فى هذا الحديث أن المؤمن لا ينبغى له أن يتمنّى كثرة المال إلا بشريطة أن يسلطه الله على إنفاقه فى طاعته اقتداءً بالنبى (صلى الله عليه وسلم) فى ذلك.
وفيه : أن المبادرة إلى الطاعة أفضل من التوانى فيها . ألا ترى أن النبى (صلى الله عليه وسلم) لم يحب أن يبقى عنده من مقدار جبل أحد ذهبًا . لو كان له . بعد ثلاث إلا دينار يرصده لدين.
وفيه : أن النبى (صلى الله عليه وسلم) كان يكون عليه الدين لكثرة مواساته بقوته وقوت عياله . وإيثاره على نفسه أهل الحاجة . والرضا بالتقلل والصبر على خشونة العيش . وهذه سيرة الأنبياء والصالحين . وهذا كله يدل على أن فضل المال فى إنفاقه فى سبيل الله لا فى إمساكه وادّخاره. (شرح ابن بطال ۱۰/۱۶۶)
[۲]) ارشاد السارى ۱۳/٤٤۸، هم دغه شان اوګورئ : فتح البارى : ۱۱/۳۲۶

یعنی پہ دې کښې د نیکۍ پہ لارو کښې د خرچ کولو ترغیب ورکړې شوې دې. او پہ دې امر باندې ترغیب ورکړې شوې دې چہ انسان پہ دنیا کښې د زهد اعلی درجه اختیار کړی. پہ دې طریقه چہ هغه دا خواهش اوساتی چہ د هغه پہ لاس کښې چہ څومره مال او دولت دې هغه هغې لره پہ مستحق خلقو باندې خرچ کړی یا د صاحب حق د حق د ادا کولو دپاره ئې تیار اوساتی.

⑮ باب الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ

وَقَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰی (أَيَحْسَبُونَ أَنَّ مَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ) إِلٰى قَوْلِهِ تَعَالٰی (مِنْ دُونِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ). قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ لَمْ يَعْمَلُوهَا لَابُدَّ مِنْ أَنْ يَعْمَلُوهَا.

لکہ چہ د ترجمة الباب نہ واضح ده. امام بخاری رحمه الله پہ ترجمة الباب کښې د حدیث الفاظ ذکر کړې دی. چہ د هغې حاصل دا دې چہ اصل مالداری د زړه مالداری ده. د دې نہ پس امام بخاری رحمه الله د سورة المومنون آیت نمبر ۵۵ نہ واخلہ تر آیت نمبر ۲۳ پورې یعنی اتهٔ آیتونه پہ ترجمة الباب کښې ذکر فرمائیلې دی، هغه آیتونه دا دی:

﴿أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ ۝ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَلْ لَا يَشْعُرُونَ ۝ إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ۝ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ۝ وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ۝ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلٰى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ۝ أُولٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ۝ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِنْ هٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِنْ دُونِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ۝﴾

ترجمه: آیا دا خلق پہ دې خیال کښې دی چہ مونږ دوی تہ کوم مال او دولت ورکوو. نو آیا هغوی تہ د خیر پہ رسولو کښې تندی کوو؟ (دا خبره هرگز نہ ده، بلکه هغوی (د دې مهلت) پہ حقیقت پوهیږی نہ. (یعنی دا مهلت خو هغوی تہ پہ طور د استدراج ورکړې شوې دې. کوم چہ بہ پہ آخره کښې د هغوی دپاره د نور عذاب سبب هم جوړیږی. ځکه چہ زمونږ پہ مهلت ورکولو سره بہ دوی نور هم مغرور کیدو سره پہ سرکشۍ او گناهونو کښې زیادت شروع کړی او عذاب بہ پرې زیات شی. حقیقت دا دې چہ کوم خلق د خپل رب د هیبت نہ ویریږی. او کوم خلق چہ د خپل رب پہ آیتونو باندې ایمان راوړی، او څوک چہ د خپل رب سره هیڅ څوک شریک نہ جوړوی او کوم خلق چہ (د الله پاک پہ لاره کښې) ورکړه کوی چہ څه ورکوی او (سره د الله پاک لاره کښې د خرچې کولو) د هغوی زړونه د دې نہ پہ ویره کښې وی چہ هغوی خپل رب سره ملاویدونکی دی. (گوره چہ هلته تلو سره د دې صدقاتو څه ثمره ظاهر شی. چرته داسې اونشی چہ دا دنیا د حکم موافق نہ شی مثلا مال حلال نہ وی یا نیت د الله پاک دپاره خالص نہ وی او پہ نیت کښې اخلاص کامل نہ کیدل او د مال حرامیدل مونږ تہ معلوم نہ وی نو التہ بہ پہ دې باندې مواخذه شروع شی نو پہ کومو خلقو کښې چہ دا صفات وی) دا خلق خپلې فائدې زر زر حاصلوی او د هغوی طرف تہ منډې وهی او (دا اعمال مذکوره څه سخت هم نہ دی چہ د هغې کول گران وی ځکه چہ) مونږ چاتہ د هغه د وس نہ بهر کار کولو نہ وایو (پہ دې وجه دا ټول کارونه آسان دی او هغه سره د هغوی انجام او ثمره

يقيني ده ځکه چه، مونږ سره يو کتاب (اعمال نامه محفوظ) ده کوم چه صحيح صحيح (د ټولو حال) بيان کړي. او په خلقو باندې به ظلم نه وي. (دا خو مې پورته د مومنانو حالت واوريدلو خو کفار داسې نه دي) بلکه (برعکس) د هغې کفارو زړونه د دې دين د طرف نه (چه د هغې ذکر بايات ربهم کښې دی) جهالت (او شک) کښې (ډوب شوې) دی. (چه د هغې حل پورته هم معلوم شوې دې فذرهم في غمرتهم) او د دې (جهالت او انکار) نه علاوه د دې خلقو نور هم (بدبد) اعمال دی کوم چه دوی (مسلسل) کوی.

قوله: ﴿قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ لَمْ يَعْمَلُوهَا لَابُدَّ مِنْ أَنْ يَعْمَلُوهَا﴾: د قرآن کريم د آيت کريمه ﴿مِنْ دُونِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ﴾ په باره امام سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائی چه ډير هغه بد اعمال کوم چه هغوی اوسه پورې نه دی کړی هغه به هم ضرور کوی او دغه شان به د الله پاک د عذاب مستحق شی.

[۶۰۸۱] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ، وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ».

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: غنا او مالداری دا نه ده چه سامان زيات وی. بلکه اصل غناء دا ده چه زړه غنی وی.

په ايت کريمه او حديث کښې مناسبت: امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د سورة المومنون چه کوم آيتونه ذکر فرمائيلې دی، د حديث الباب سره د هغې مناسبت بيانولو باندې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د آيت کريمه نه دا حقيقت معلوميږی چه مال فی نفسه د څه خير او نفع څيز نه دې، بلکه د هغې نافعيت. د هغې د متعلق په اعتبار سره دې. هغه که دې لره په صحيح مصرف کښې استعمال کړی نو د صحيح او غوره مصرف د وجې نه به د هغې نافعيت او غوره والې واضح او ظاهر وی. هم دغه شان د زيات مال د وجې نه انسان غني کيږی نه ترڅو پورې چه هغه د زړه نه غني نه وی. که د زړه نه غني وو هغې لره به په صحيح او ضروری مصرف کښې خرچ کوی، او که د زړه فقير وی نو هغه به د مال خرچ کولو نه روستو کيږی او دغه شان به هغه مال د هغه په دين او دنيا کښې په کار نه راځی.[1]

⑯ بَابُ فَضْلِ الْفَقْرِ

[۶۰۸۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٍ «مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا». فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِ النَّاسِ، هَذَا وَاللَّهِ حَرِيٌّ إِنْ

[1] فتح الباری ۳۲۸/۱۱، ارشاد الساری: ۴۵۰/۱۳

خطب أن ينكح، وإن شفع أن يشفع. قال: فسكت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ثم مر رجل فقال له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - «ما رأيك في هذا». فقال: يا رسول الله هذا رجل من فقراء المسلمين، هذا حري إن خطب أن لا ينكح، وإن شفع أن لا يشفع، وإن قال أن لا يسمع لقوله. فقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم - « هذا خير من ملء الأرض مثل هذا». [ر: ۴۸۰۳]

د سيدنا سهل بن ساعدی رضی الله عنه نه روايت دي چه يو سړي د رسول الله ﷺ په خوا کښې تير شو، نو رسول الله ﷺ د يو بل سړی چه د هغوی په خوا کښې ناست وو. تپوس اوکړو (چه د تيريدونکی) صاحب ستا متعلق ستاسو څه خيال دې؟ هغوی اووې چه دې د معزز خلقو نه دې. او قسم په الله د دې قابل دې چه که دې د نکاح پيغام اوليږی نو د هغه سره نکاح اوکړې شی، که دې سفارش اوکړی نو د هغوی سفارش قبول کړې شی.

سيدنا سهل رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ په دې باندې خاموش شو د دې نه پس يو بل سړې تير شو. رسول الله ﷺ تپوس اوفرمائيلو چه د دې سړی په باره کښې ستاسو څه رائې ده؟ هغوی اووې چه يا رسول الله ﷺ! دا صاحب د مسلمانانو د غريبې طبقې نه دې او د دې قابل دې چه که د نکاح پيغام اوليږی نو هغه سره به نکاح اونکړې شی. که سفارش اوکړی نو د هغوی سفارش به قبول نه کړې شی او که څه اوائی نو د هغوی خبره وانوريدلې شی.
رسول الله ﷺ د دې نه پس اوفرمائيل: دا (غريب) سړې د هغه (امير) په شان د ټولې دنيا د انسانانو نه غوره دې
دا حديث، کتاب النکاح کښې تير شوې دې.

[۶۰۸۳] حدثنا الحميدي حدثنا سفيان حدثنا الأعمش قال سمعت أبا وائل قال عدنا خبابا فقال هاجرنا مع النبي - صلى الله عليه وسلم - نريد وجه الله، فوقع أجرنا على الله، فمنا من مضى لم يأخذ من أجره، منهم مصعب بن عمير قتل يوم أحد، وترك نمرة فإذا غطينا رأسه بدت رجلاه، وإذا غطينا رجليه بدا رأسه، فأمرنا النبي - صلى الله عليه وسلم - أن نغطي رأسه، ونجعل على رجليه من الإذخر، ومنا من أينعت له ثمرته فهو يهدبها. [ر: ۱۲۱۷]

د سيدنا خباب رضی الله عنه نه روايت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د الله پاک د رضا حاصلولو دپاره هجرت اوکړو، پس زمونږ اجر د الله پاک په ذمه وو، په مونږ کښې څوک خو وفات شو او خپل اجر ئې په دې دنيا کښې وانخستلو. سيدنا مصعب بن عمير رضی الله عنه هم د هغوی نه وو، هغوی د جنګ احد په موقع باندې شهيد شوې وو. او يو څادر ئې پريخودلې وو (په هغه څادر کښې هغوی ته کفن ورکړې شوې وو) په هغه څادر سره به که مونږ د هغوی سر پټ کړو نو د هغوی خپې به ښکاره کيدلې. پس رسول الله ﷺ مونږ ته حکم راکړو چه مونږ د هغه سر پټ کړو او په خپو باندې ورله سرګړې واچوو او په مونږ کښې ډير داسې دی چه د هغوی د محنت ميوه په دنيا کښې راډيره شوه او هغه راشوکوی.

ابو وائل د شقیق بن سلمة رحمه الله کنیت دی (یهذبها: یقطعها، هذب) معنی دمیوی شوکولو راځی

[۶۰۸۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ زَرِيرٍ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رضی الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - قَالَ «اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ، وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ». تَابَعَهُ أَيُّوبُ وَعَوْفٌ، وَقَالَ صَخْرٌ وَحَمَّادُ بْنُ نَجِيحٍ عَنْ أَبِي رَجَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. ار: ۳۰۶۹]

د سیدنا عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل . ما په جنت کښې اوکتل نو په هغې کښې اکثر اوسیدونکی غریبانان وو او ما په دوزخ کښې اوکتل نو په هغې کښې اکثر اوسیدونکی زنانه وې.

ابو الولید . هشام بن عبد الملک طیالسی او ابو رجاء عمران بن تمیم عطار ددوی کنیت دې.

قوله: (تَابَعَهُ أَيُّوبُ وَعَوْفٌ): د ابو رجاء متابعت ایوب سختیانی رحمه الله او عوف کړې دې. د ایوب متابعت امام نسائی رحمه الله او د عوف متابعت امام بخاری رحمه الله موصولا کړې دې (۱)

قوله: (وَقَالَ صَخْرٌ وَحَمَّادُ بْنُ نَجِيحٍ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ): د صخر بن جویرہ او حماد بن نجیح تعلیق امام نسائی رحمه الله موصولا نقل کړې دې. (۲) دې دواړو دا روایت د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړې دې.

[۶۰۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضی الله عنه - قَالَ لَمْ يَأْكُلِ النَّبِيُّ - صلی الله علیه وسلم - عَلَى خِوَانٍ حَتَّى مَاتَ، وَمَا أَكَلَ خُبْزًا مُرَقَّقًا حَتَّى مَاتَ.

د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ کله هم په خوان یعنی د میز په شان تخت باندې خوراک نه دې فرمائیلې. تردې چه د هغوی وفات اوشو.

(خوان) د میز په شان تخت ته وائی، چه په هغې باندې به مالدارو خوراک کولو.

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی: (هو ما یؤکل علیه الطعام وهو من دأب المترفین وصنع الجبابرة المنعمین لئلا یفتقروا إلى التطاطؤ عند أکل) (۳)

یعنی: خوان هغه د میز په شان تخت ته وائی، په کوم باندې چه ډوډئ خوړلې شی، دا عموما متکبر قسم مالدار خلق استعمالوی، چه د خوراک کولو په وخت هغوی سرښکته نه کړی.

(۱) عمدة القاری ۸۶/۲۳، ارشاد الساری: ۴۵۲/۱۳، فتح الباری: ۳۳۷/۱۱

(۲) عمدة القاری ۸۶/۲۳، ارشاد الساری: ۴۵۲/۱۳، فتح الباری: ۳۳۷/۱۱

(۳) ارشاد الساری ۴۵۳/۱۳

۶۰۸۶ | حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ لَقَدْ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم وَمَا فِي رَفِّي مِنْ شَيْءٍ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ، إِلَّا شَطْرُ شَعِيرٍ فِي رَفٍّ لِي، فَأَكَلْتُ مِنْهُ حَتَّى طَالَ عَلَيَّ، فَكِلْتُهُ، فَفَنِيَ. [ر: ۲۹۳۰]

د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ وفات شو نو زمونږ په كندو كښې يو هم داسې څيز نه وو چه هغه د يو جاندار د خوراک قابل وی سوا د لږ شان جوارو کوم چه زما په کندو کښې وو، ما به د هغې نه خوراک کولو، ډيرې ورځې اوشوې نو ما هغه اوتللې، آخر هغه هم ختمې شوې.

﴿رف﴾ کندو ته وائی. ﴿ذوکبد﴾ د اينې والا، مراد دې نه جانداردې.

د معاش په اعتبار سره د مومن درې حالتونه: د معاش په لحاظ سره د يو مومن درې حالتونه كيدې شى:

① اول حالت فقر دې، امام بخاری رحمه الله دا باب د فقر په فضيلت باندې قائم فرمائيلې دې، او په دې باب کښې چه څومره روايات ذکر کړې شوې دی، په دې ټولو رواياتو كښې د فقر فضيلت بيان کړې شوې دې. خپله د رسول الله ﷺ ژوند. فقر او غربت والا وو، لکه چه د روايات الباب نه واضح دې، د رسول الله ﷺ دا فقر اختياری وو او د اکثر حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم ژوند هم فقيرانه او درويشانه وو.

② دويم حالت د مالدارئ او د دولت د ډير والی او معاش وو. اول حالت چه کوم چه د صبر دی. دا دويم حالت د يو مومن دپاره د الله پاک په نعمتونو باندې د شکر او حمد موقع ورکوی، په ډير احاديثو کښې د مالدارئ فضيلت راغلې دې:

* ..... په کتاب الوصايا کښې د سيدنا سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه روايت تير شوې دې چه په هغې کښې دی:

﴿إِنَّكَ أَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ فِي أَيْدِيهِمْ﴾ [1] يعنى: چه ته خپل وارثان مالدار پريږدې چه د دې دنيا نه رخصت شو دا د دې نه غوره ده چه هغوی محتاج او فقيران پريږدې.

* ..... سيدنا کعب رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره مشوره اوکړه چه هغه خپل ټول مال د الله پاک په لاره کښې خرچ کړی؟ رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائيل:

﴿أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ﴾ [2] يعنى: څه مال بچت اوساته، په دې کښې ستاسو دپاره خير دې.

* .. هم دغه شان په کتاب الدعوات کښې ﴿ذهب اهل الدثور بالاجور﴾ والا روايت تير شوې

---

[1]) صحيح البخاري، كتاب الوصايا، باب ان يترک ورثته اغنياء خير من ان يتكففها الناس، رقم الحديث: ۲۷۴۲
[2]) صحيح البخاري، كتاب الوصايا، باب اذا تصدق، او اوقف بعض ماله او بعض رقيقه، او داوته فهو جائز (رقم الحديث: ۲۷۵۷)

دي. چه د هغې په آخر کښې دی ﴿ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ﴾.

★ ...د سیدنا عمرو بن العاص رضي الله عنه امام احمد رحمه الله نقل فرمائيلې دی. ﴿ نعم المال الصالح للمرء الصالح ﴾ [۱] یعنی: هغه حلال مال څه ښه دې، کوم چه د نیک سړی سره وی.

د دې ټولو روایاتو نه معلومیږی چه مومن سره د مال او دولت ډیروالی. د هغه په حق کښې یو مفید څیز دې، ځکه چه د مال او دولت ډیر والی، د هغه دپاره د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو ډیرې زیاتې موقعې ورکوی او د دین ډیر کارونه به د هغې په ذریعه اوکړی.

③ یو دریم حالت د د مینځ حالت دې چه انسان نه مالدار دې، نه فقیر او محتاج دې، بلکه د هغه ضرورتونه پوره کیږی او په قدر د ضرورت هغه سره مال او دولت موجود دې، دې حالت ته ﴿ کفاف ﴾ وائی. علامه قرطبی رحمه الله په شرح د مسلم کښې او علامه ابن بطال په شرح د بخاری کښې دې حالت ته د ټولو نه غوره وئیلې دې، ځکه چه په دې کښې د فقر او مالدارئ دواړو حالتونو د فتنې نه سلامتی ده او رسول الله ﷺ د مالدارئ او فقر دواړو د فتنې نه پناه غوښتلې ده. [۲]

امام مسلم رحمه الله په صحیح مسلم د سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه مرفوع روایت نقل کړې دې، د هغې الفاظ دا دی:

﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ ﴾ [۳] یعنی: هغه سړې کامیاب دې چا چه اسلام قبول کړو، هغه ته په قدر د ضرورت روزی ورکړې شوه او هغه قناعت اختیار کړو.

هم دغه شان په وړاندې باب کښې روایت راروان دې، رسول الله ﷺ فرمائی:

﴿ اللهم ارزق آل محمد قوتا ﴾ یعنی اې الله! ته آل محمد ﷺ ته په قدر د ضرورت روزی ورکړه.

امام ابن ماجة په خپل سنن کښې یو مرفوع روایت د سیدنا انس رضي الله عنه نه نقل کړې دې، په هغې کښې دی:

﴿ مَا مِنْ غَنِيٍّ، وَلَا فَقِيرٍ، إِلَّا وَدَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّهُ أُتِيَ مِنَ الدُّنْيَا قُوتًا ﴾ [۴] یعنی د قیامت په ورځ به هر مالدار او فقیر سړې دا تمناکوی، چه ارمان: هغه ته په قدر د ضرورت دنیا ورکړې شوې وې.

د دې روایاتو نه د معاش دریم حالت کوم چه د فقر او غنا ترمینځه او بین بین دې، غوره والی او افضلیت معلوم شو.

فقر افضل دې او که مالدرای؟ په دې باندې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې چه داسې فقر او

---

[۱] مسند احمد: ۹۵/۶، رقم الحدیث: ۱۷۹۱۵

[۲] فتح الباری ۳۳۱/۱۱، شرح ابن بطال: ۱۷۰/۱۰، ۱۷٤

[۳] صحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب فی الکفاف والقناعة: ۷۳۰/۲، رقم الحدیث: ۱۰٤۵، وسنن ابن ماجة، کتاب الزهد، باب القناعة: ۱۳۸۶/۲، رقم الحدیث: ٤۱۳۸، ولفظه: قد افلح من هُدی الی الاسلام، ورزق الکفاف، وقنع به، وفتح الباری: ۳۳۱/۱۱.

[۴] سنن ابن ماجة، کتاب الزهد، باب القناعة: ۱۳۸۷/۲، رقم الحدیث: ٤۱٤۰

احتياج چه په هغې باندې انسان صبر اونکړې شي او کوم چه د انسان د دين او ايمان دپاره د خطرې باعث وى او کوم چه د الله پاک طاعت د انسان نه هير کړى، د هغې نه هغه مالدارى او غنا افضل دې، کوم چه د الله پاک د شکر او طاعت سره وى.
هم دغه شان دا خبره متفق عليه ده چه هغه مالدارى او د دولت ډير والې کوم چه انسان د الله پاک په نافرمانئ او عجب کښې اخته کړى، د انسان دپاره فتنه ده، د هغې په مقابله کښې هغه فقر او غريبى په زر چنده غوره ده کوم چه د الله پاک د صبر او طاعت سره وى. [۱]
خو فقر که د صبر او تقوى سره وى او مالدارى د شکر او تقوى سره وى نو بيا په دې دواړو کښې کوم يو افضل او راجح دې، په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې:
علامه ابن تيميه رحمه الله فرمايى چه دا دواړه برابر دى، يعنى يو ته هم په بل باندې فوقيت نه دې حاصل. [۲]
د ابو القاسم قشيرى او امام طبرى رحمهما الله خيال دې چه د فقر په مقابله کښې غناء او مالدارى افضل ده، د مطرف بن عبدالله قول دې:
«لان اعافى فاشكر احب الى من ابتلى فاصبر» [۳] يعنى: په عافيت سره مالدارى او شكر ماته د دې نه زيات خوښ دې چه زه د فقر په ازميښت کښې واچولې شم او صبر اوکړم.
اووجه ددې ښکاره ده چه د انسان دپاره شکرکول زيات اسان دى، په نسبت د صبر کولو کښې. علامه ابن الجوزى او جمهور صوفياء د غناء او مالدارئ په مقابلې کښې فقر ته ترجيح ورکوى چه په دې کښې د نفس مجاهده ده کومه چه د منازلو د ترقئ دپاره مفيد ده، علامه ابن الجوزى رحمه الله فرمائى، د مالدارئ فتنه د فقر د فتنې نه زياته ده. [۴]

---

[۱]) فتح البارى: ۳۳۱/۱۱
[۲]) ارشاد السارى: ۴۵۳/۱۳، فتح البارى ۳۳۲/۱۱، قال ابن بطال: فأى الرجلين أفضل: المبتلى بالفقر، أو المبتلى بالغنى إذا صلحت حال كل واحد منهما؟ قيل: السؤال عن هذا لا يستقيم؛ إذ قد يكون لهذا أعمال سوى تلك المحنة يفضل بها صاحبه والآخر كذلك، وقد يكون هذا الذى صلح حاله على الفقر لا يصلح حاله على الغنى، ويصلح حال الآخر على الفقر والغنى. فإن قيل: فإن كان كل واحد منهما يصلح حاله فى الأمرين، وهما فى غير ذلك من الأعمال متساويان قد أدّى الفقير ما يجب عليه فى فقره من الصبر والعفاف والرضا، وأدّى الغنى ما يجب عليه من الإنفاق والبذل والشكر والتواضع، فأى الرجلين أفضل؟ قيل: علم هذا عند الله. (وانظر شرح ابن بطال: ۱۷۳/۱۰)
[۳]) فتح البارى: ۳۳۳/۱۱
[۴]) فتح البارى ۳۳۲/۱۱، ارشاد السارى ۴۵۴/۱۳

⑰ باب كَيْفَ كَانَ عَيْشُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَأَصْحَابِهِ، وَتَخَلِّيهِمْ مِنَ الدُّنْيَا.

په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د رسول الله ﷺ او د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د فقیرانه او درویشانه ژوند یو جهلک ښودلې دې او هغه احادیث ئې ذکر کړې دی چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ اهل بیت یا د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د غریبئ او فقیرئ پته لګی.

[٦٠٨٧] حَدَّثَنِي أَبُو نُعَيْمٍ بِنَحْوٍ مِنْ نِصْفِ هَذَا الْحَدِيثِ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ حَدَّثَنَا مُجَاهِدٌ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يَقُولُ آللَّهِ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ إِنْ كُنْتُ لأَعْتَمِدُ بِكَبِدِي عَلَى الأَرْضِ مِنَ الْجُوعِ ، وَإِنْ كُنْتُ لأَشُدُّ الْحَجَرَ عَلَى بَطْنِي مِنَ الْجُوعِ، وَلَقَدْ قَعَدْتُ يَوْمًا عَلَى طَرِيقِهِمُ الَّذِي يَخْرُجُونَ مِنْهُ، فَمَرَّ أَبُو بَكْرٍ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، مَا سَأَلْتُهُ إِلاَّ لِيُشْبِعَنِي ، فَمَرَّ وَلَمْ يَفْعَلْ، ثُمَّ مَرَّ بِي عُمَرُ فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، مَا سَأَلْتُهُ إِلاَّ لِيُشْبِعَنِي ، فَمَرَّ فَلَمْ يَفْعَلْ، ثُمَّ مَرَّ بِي أَبُو الْقَاسِمِ - صلى الله عليه وسلم - فَتَبَسَّمَ حِينَ رَآنِي وَعَرَفَ، مَا فِي نَفْسِي وَمَا فِي وَجْهِي ثُمَّ قَالَ « أَبَا هِرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « الْحَقْ ». وَمَضَى فَتَبِعْتُهُ، فَدَخَلَ فَاسْتَأْذَنَ، فَأَذِنَ لِي ، فَدَخَلَ فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ فَقَالَ « مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ » . قَالُوا أَهْدَاهُ لَكَ فُلاَنٌ أَوْ فُلاَنَةُ. قَالَ « أَبَا هِرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « الْحَقْ إِلَى أَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ لِي » . قَالَ وَأَهْلُ الصُّفَّةِ أَضْيَافُ الإِسْلاَمِ، لاَ يَأْوُونَ إِلَى أَهْلٍ وَلاَ مَالٍ، وَلاَ عَلَى أَحَدٍ، إِذَا أَتَتْهُ صَدَقَةٌ بَعَثَ بِهَا إِلَيْهِمْ، وَلَمْ يَتَنَاوَلْ مِنْهَا شَيْئًا، وَإِذَا أَتَتْهُ هَدِيَّةٌ أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ، وَأَصَابَ مِنْهَا وَأَشْرَكَهُمْ فِيهَا، فَسَاءَنِي ذَلِكَ فَقُلْتُ وَمَا هَذَا اللَّبَنُ فِي أَهْلِ الصُّفَّةِ كُنْتُ أَحَقُّ أَنَا أَنْ أُصِيبَ مِنْ هَذَا اللَّبَنِ شَرْبَةً أَتَقَوَّى بِهَا، فَإِذَا جَاءَ أَمَرَنِي فَكُنْتُ أَنَا أُعْطِيهِمْ، وَمَا عَسَى أَنْ يَبْلُغَنِي مِنْ هَذَا اللَّبَنِ، وَلَمْ يَكُنْ مِنْ طَاعَةِ اللَّهِ وَطَاعَةِ رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم - بُدٌّ، فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوا، فَاسْتَأْذَنُوا فَأَذِنَ لَهُمْ، وَأَخَذُوا مَجَالِسَهُمْ مِنَ الْبَيْتِ قَالَ « يَا أَبَا هِرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « خُذْ فَأَعْطِهِمْ » . قَالَ فَأَخَذْتُ الْقَدَحَ فَجَعَلْتُ أُعْطِيهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَى الْقَدَحَ، فَأُعْطِيهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَى الْقَدَحَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَى الْقَدَحَ، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ رَوِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ، فَأَخَذَ الْقَدَحَ فَوَضَعَهُ عَلَى يَدِهِ فَنَظَرَ إِلَىَّ فَتَبَسَّمَ فَقَالَ « أَبَا هِرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « بَقِيتُ أَنَا وَأَنْتَ » . قُلْتُ صَدَقْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « اقْعُدْ فَاشْرَبْ » . فَقَعَدْتُ فَشَرِبْتُ. فَقَالَ « اشْرَبْ ». فَشَرِبْتُ، فَمَا زَالَ يَقُولُ « اشْرَبْ » . حَتَّى قُلْتُ لاَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، مَا أَجِدُ لَهُ مَسْلَكًا . قَالَ « فَأَرِنِي » . فَأَعْطَيْتُهُ الْقَدَحَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَسَمَّى ، وَشَرِبَ الْفَضْلَةَ.

[ر: ٥٨٩٢]

د سيدنا ابوهريره رضی اللہ عنہ نه روايت دي چه قسم په الله ! چه د هغه نه سوا بل معبود نشته، زه به د لوږي د وجې نه په زمكه باندې الته سملاستم، ما به د لوږې د وجې نه په خپله خيټه باندې كاڼړي تړل، يوه ورځ زه په لاره كښې كيناستلم چه په هغې باندې به صحابه كرام رضی اللہ عنہم وتل، سيدنا ابوبكر رضی اللہ عنہ تير شو او ما د هغوى نه د كتاب الله د يو آيت په باره كښې تپوس اوكړو، زما د تپوس كولو مقصد صرف دا وو چه په ما باندې څه اوخوري. هغوى لاړل او هيڅ ئې اونكړل، بيا سيدنا عمر رضی اللہ عنہ زما په خوا تير شو، ما د هغوى نه هم د قرآن كريم يو آيت اوتپوسلو او د تپوس كولو مقصد مې صرف دا وو چه هغوى په ما باندې څه اوخوري، هغوى هم لاړل او هيڅ ئې اونكړل.

د دې نه پس رسول الله ﷺ راغلو، هغوى چه كله زه اوليدم نو مسكې شو او رسول الله ﷺ زما د زړه په خبره پوهه شو او زما د مخ نه هغوى هر څه معلوم كړل، بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ابا هريره! ما عرض اوكړو : لبيک يا رسول الله ﷺ! وې فرمائيل : ما سره راشه او رسول الله ﷺ روان شو، زه په رسول الله ﷺ پسې شوم، بيا رسول الله ﷺ دننه تشريف يوړلو. اجازت مې اوغوښتلو نو ماته اجازت ملاؤ شو، بيا چه داخل شو نو په يو پياله كښې راته پئ ملاؤ شو، تپوس ئې اوكړو چه دا پئ د چرته نه راغلې دي، اووئيلې شو چه فلانى فلانى د رسول الله ﷺ دپاره هديه راليږلې ده.

رسول الله ﷺ اوفرمائيل، ابا هريره! ما عرض اوكړو، لبيک يا رسول الله ﷺ! وې فرمائيل : اهل صفه ته لاړشه اوهغوى ټول ماته راوله،سيدنا ابوهريره رضی اللہ عنہ فرمائى چه اهل صفه د اسلام ميلمانۀ وو ،هغوى به نه د چا په كور كښې پناه اخستله نه د چا په مال كښې او نه د چا سره چه كله به رسول الله ﷺ ته صدقه راتله نو هغوى به هغه صدقه هغوى ته ورليږله او خپله به ئې د هغې نه هيڅ نه ساتل، خو چه كله به رسول الله ﷺ ته هديه راغله نو هغوى به ئې راطلب كړل نو خپله به ئې هم خوړله او هغوى به ئې هم پكښې شريک كړل.

پس په ما باندې دا خبره ښه او نه لګيده او ما سوچ اوكړو چه دا پئ دى څومره! چه په ټول صفه والو كښې تقسيم كړې شى، د دې حق دار خو زه اوم، د دې په څكلو به مې څه طاقت حاصل كړې وې، چه اهل صفه راشى نو رسول الله ﷺ به ماته اوفرمائى او زه به هغوى ته دا پئ وركوم. ماته خو كيدې شى چه په دې كښې هيڅ ملاؤ نه شى، خو د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د اطاعت نه علاوه هم څه چاره نه وه.

پس زه هغوى ته راغلم او د رسول الله ﷺ دعوت مې ورته راورسولو، اهل صفه راغلل او اجازت ئې طلب كړو. هغوى ته اجازت ملاؤ شو، بيا هغوى په كور كښې په خپل خپل ځائې باندې كيناستل، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اباهر! ما عرض اوكړو، لبيک يا رسول الله ﷺ! وې فرمائيل : واخله او دې ټولو حضراتو ته وركړه.

سيدنا ابوهريره رضی اللہ عنہ فرمائى ما يو پياله اونيوله او يو يو ته به مې وركوله، يو سړى به چه كله د پيو څكلو سره موړ شو نو ماته به ئې واپس كړه او هم دغه شان به دويم څكلو سره پياله ماته راواپس كړه، دغه شان زه رسول الله ﷺ ته راورسيدم، ټول خلق څكلو سره سيراب شوې وو، رسول الله ﷺ پياله اونيوله او په خپل لاس مبارک باندې نيولو سره ئې

زما طرف ته اوکتل او مسکي کیدو سره ئي اوفرمائیل. اباهر! ما عرض اوکړو. لبیک یا رسول اللهﷺ! وې فرمائیل : اوس زه او ته باقي پاتي شو ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ : تاسو رشتیا اوفرمائیل. رسول اللهﷺ اوفرمائیل : کینه او اوڅکه! او پئ څکل مې شروع کړل او رسول اللهﷺ راته برابر فرمائیل چه څکه. آخر چه ما اووې بس! قسم په هغه ذات چه تاسو ئي په حقه رالیږلي یئ اوس نور گنجائش نشته رسول اللهﷺ اوفرمائیل : بیا ئي ماته راکړه. ما پیاله رسول اللهﷺ ته ورکړه. رسول اللهﷺ د الله پاک حمد بیان کړو او بسم الله لوستلو سره ئي بچ شوې پئ اوڅکل.

قوله: ﴿حَدَّثَنِي أَبُونُعَيْمٍ بِنَحْوٍمِنْ نِصْفِ هَذَاالْحَدِيثِ﴾: امام بخاریؒ فرمائی چه ابو نعیم (فضل بن دکین) ماته دا حدیث نیم بیان کړې دې. د دې مطلب دا دې چه باقي نیمه حصه متصل نه ده. بلکه بغیر د سند نه ده. امام د نیمې حصې تعین هم نه دې کړې چه د حدیث کومه نیمه حصه مراد ده. اول نیمه یا آخر؟

په کتاب الاستئذان کښې ئي ﴿بَابٌ إِذَا دُعِيَ الرَّجُلُ فَجَاءَ هَلْ يَسْتَأْذِنُ﴾ د لاندې د ابونعیم نه د دې حدیث صرف دومره جزء نقل کړې دې.

﴿دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ فَقَالَ أَبَا هِرٍّ الْحَقْ أَهْلَ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ قَالَ فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوا فَاسْتَأْذَنُوا فَأُذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا﴾

یعنی : زه د رسول اللهﷺ سره کور ته داخل شوم، نو رسول اللهﷺ ته په پیاله کښې پئ پراتهٔ ملاؤ شو. رسول اللهﷺ اوفرمائیل : ابوهریره! لاړ شه اهل صفه راوغواړه. ما اهل صفه راوغوښتل. هغوی د رسول اللهﷺ نه د دننه تلو اجازت طلب کړو. په اجازت ملاویدو باندې هغوی دننه راغلل.

خو دا د دې اوږد حدیث صرف یو جزء دې. نیمه حصه نه ده.

شارحینو لیکلي دی چه کیدې شی امام په طریق د وجادة یا په طریق د اجازة د باقي حصې روایت کړې وی او دا هم ممکن ده چه باقي نیمه حصه ئې خپله د براه راست اوریدلو په ځائې د یو داسې سړی نه اوریدلې وی. چا چه د ابونعیم نه براه راست اوریدلې وی. (۱)

قوله: ﴿کان یقول : اللهَ الذی لا اله الا هو﴾: په دې کښې لفظ ﴿ الله ﴾ منصوب بنزع الخافض دې. او د دې نه مخکښې واؤ قسمیه محذوف دې. (۲)

[۶۰۸۸] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا قَيْسٌ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا يَقُولُ إِنِّي لأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَرَأَيْتُنَا نَغْزُو، وَمَا لَنَا طَعَامٌ إِلاَّ وَرَقُ الْحُبْلَةِ وَهَذَا

---

(۱) ارشاد الساری ۴۵۷/۱۳، فتح الباری : ۳۴۲/۱۱

(۲) فتح الباری ۳۴۳/۱۱، ارشاد الساری ۴۵۵/۱۳، عمدة القاری ۸۹/۲۳

النَّمْرُ، وَإِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ، مَا لَهُ خِلْطٌ، ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الإِسْلاَمِ، خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ سَعْيِي. [ر: ۳۵۲۲]

د سيدنا سعد رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ بيان اوکړو چه زه د ټولو نه ړومبي عرب يم چا چه د الله پاک په لاره کښې غشى ويشتل. او وخت په دا سې حال کښې تير کړې دې چه په جنګ به اخته وو او مونږ سره به د خوراک څه څيز سوا د کيکر د پاڼو نه هيڅ نه وو. او د چيلو د پچو شان به مو پچې کولې. اوس دې د بنو اسد خلقو زما په اسلام باندې شک شروع کړو (که د دوی خبره صحيح وی) بيا خو زه بالکل نامراد پاتې شوم او زما ټول کوشش ضائع شو.

[۶۰۹۰] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ مِنْ طَعَامِ بُرٍّ ثَلاَثَ لَيَالٍ تِبَاعًا حَتَّى قُبِضَ.

د سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دي چه د رسول الله ﷺ د کور خلقو ته مدينې ته د راتلو نه پس کله هم تر درې ورځو پورې متواتر اوربشې د خوراک دپاره نه دی ملاؤ شوې. تردې چه رسول الله ﷺ وفات شو.

﴿تباعا﴾ دا د فعال په وزن باندې د باب مفاعله مصدر دې په معنی پرلپسې. مسلسل

[۶۰۹۱] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ - هُوَ الأَزْرَقُ - عَنْ مِسْعَرِ بْنِ كِدَامٍ عَنْ هِلاَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ مَا أَكَلَ آلُ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - أَكْلَتَيْنِ فِي يَوْمٍ إِلاَّ إِحْدَاهُمَا تَمْرٌ.

د سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دي چه آل د محمد ﷺ که په يو ورځ کښې دوه کرته ډوډۍ خوړلې دہ. نو لازما په هغې کښې يو وخت کهجورې وې.

[۶۰۹۲] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا النَّضْرُ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ أَدَمٍ، وَحَشْوُهُ مِنْ لِيفٍ. [ر: ۵۰۷۰]

د سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دي چه د رسول الله ﷺ بستره د څرمنې وه او هغه د کهجورو د پوستکو نه ډکه کړې شوې وه.

[۶۰۹۳، ۶۰۹۴] حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ كُنَّا نَأْتِي أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَخَبَّازُهُ قَائِمٌ وَقَالَ كُلُوا فَمَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - رَأَى رَغِيفًا مُرَقَّقًا، حَتَّى لَحِقَ بِاللَّهِ، وَلاَ رَأَى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِهِ قَطُّ. [ر: ۵۰۷۰]

د قتاده رحمه الله نه روايت دې چه مونږ د سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو، د هغوی خانسامه هم هلته موجود وو. هغوی به وئيل خورئ، ما رسول الله ﷺ کله هم په غوړه ډوډۍ خوړلو باندې نه دې ليدلې. تردې چه هغوی دالله پاک سره ملاؤ شو او نه رسول الله ﷺ

کله په خپلو سترګو باندې ورته کړې شوې ثابته ببیزه لیدلې ده.

[۶۰۹۳، ۶۰۹۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها - قَالَتْ كَانَ يَأْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرُ مَا نُوقِدُ فِيهِ نَارًا، إِنَّمَا هُوَ التَّمْرُ وَالْمَاءُ، إِلاَّ أَنْ نُؤْتَى بِاللُّحَيْمِ.

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه په مونږ باندې به داسې میاشت هم تیره شوه چه نغری کښې به اورنه بلیدو. صرف کهجورې او اوبه به وې، اوکه چرته غوښه به راغله (نو اور به بل شو).

[۶۰۹۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأُوَيْسِيُّ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لِعُرْوَةَ ابْنَ أُخْتِي إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى الْهِلاَلِ ثَلاَثَةَ أَهِلَّةٍ فِي شَهْرَيْنِ، وَمَا أُوقِدَتْ فِي أَبْيَاتِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَارٌ. فَقُلْتُ مَا كَانَ يُعِيشُكُمْ قَالَتِ الأَسْوَدَانِ التَّمْرُ وَالْمَاءُ إِلاَّ أَنَّهُ قَدْ كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - جِيرَانٌ مِنَ الأَنْصَارِ كَانَ لَهُمْ مَنَائِحُ، وَكَانُوا يَمْنَحُونَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ أَبْيَاتِهِمْ، فَيَسْقِينَاهُ. [ر: ۲۴۲۸]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه هغوی عروه ته اوفرمائیل : اې خوریه! مونږ به په دوه میاشتو کښې درې میاشتې اولیدې او د رسول الله ﷺ (د بیبیانو) په کورنو کښې به اور نه بلیدو، ما تپوس اوکړو چه نو بیا به تاسو خلق ژوندئ په څه باندې اوسیدئ؟ وې فرمائیل : صرف په دوه تورو څیزونو باندې. په کهجورو باندې او په اوبو باندې. د رسول الله ﷺ څه انصاریان ګاونډیان وو. هغوی سره به د پیو والا خاروی وو. هغوی به د رسول الله ﷺ دپاره د خپلو کورونو نه پئ رالیږل نو رسول الله ﷺ به مونږ باندې اوڅکل

قوله: ﴿إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى الْهِلاَلِ ثَلاَثَةَ أَهِلَّةٍ فِي شَهْرَيْنِ﴾: په دوه میاشتو کښې به مونږ درې میاشتې (سپوږمۍ) لیدلې، دریمه سپوږمۍ به د دریمې میاشتې وه، کومه چه به نې د دویمې میاشتې په ختمیدو باندې لیده. ([1])

﴿إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ﴾ دا ﴿ ان ﴾ مخفف من المثقل دې.([2]) او ﴿ لننظر ﴾ کښې لام فارقه دې. دا ﴿ ان ﴾ په نافیه سره فرق کولو او جدا کولو په غرض باندې په خبر داخلیږی.

[1]) ارشاد الساری ۱۳/۴۶۰، عمدة القاری ۹۵/۲۳

[2]) قال ابن بطال فی شرحه : (اللهم ارزق آل محمد قوتًا) . فيه دليل على فضل الكفاف وأخذ البلغة من الدنيا . والزهد فيما فوق ذلك رغبة فى توفير نعيم الآخرة . وإيثارًا لما يبقى على ما يفنى لتقتدى بذلك أمته . ويرغبوا فيما رغب فيه نبيهم (صلى الله عليه وسلم) . وروى الطبرى بإسناده عن ابن مسعود قال : حبذا المكروهان الموت والفقر . والله ما هو إلا الغنى والفقر وما أبالى بأيهما ابتليت . إن حق الله فى كل واحد منها واجب . إن كان الغنى ففيه التعطف . وإن كان الفقر ففيه الصبر . قال الطبرى : فمحنة الصابر أشد من محنة الشاكر . وإن كانا شريفى المنزلة . غير أنى أقول كما قال مطرف بن عبد الله: ...

[بقيه برصفحه آئنده...

(كَانَتْ لَهُمْ مَنَائِحُ) (منائح)، د (منيحة) جمع ده. او د پيو والا اوښې ته وائي.

[۶۰۹۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَارَةَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «اللَّهُمَّ ارْزُقْ آلَ مُحَمَّدٍ قُوتًا».

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دعا اوکړه، اې الله: آل محمد ﷺ ته دومره روزی ورکړه چه هغوی پرې بس ژوندی پاتې شی.[۱]

د ابوزرعه نوم هرام بن عمرو بن جرير دې.

⑱ باب الْقَصْدِ وَالْمُدَاوَمَةِ عَلَى الْعَمَلِ

د ترجمة الباب وضاحت: امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې دوه خبرې بيان فرمائيلې دی. يو قصد او ميانه روی او دويم مداومت. په طاعاتو او عباداتو کښې دننه، دا دواړه اوصاف په شريعت کښې مطلوب او محمود دی او په هغې کښې هم قصد او ميانه روی چونکه د مداومت او استقامت ذريعه او سبب دې، په دې وجه ئې دواړه يوځائې ذکر کړې. که د حد نه تجاوز او مبالغه کولو سره نيک عمل اختيار کړې شی نو عموما انسان آخر ستړې شی. خو خپل طاقت ته کتلو سره که په ميانه روئ سره اعمال اوکړې شی نو ذوق او شوق هم باقی وی او دوام او استقامت هم حاصل وی.

[۶۰۹۶، ۶۰۹۷] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَشْعَثَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ مَسْرُوقًا قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتِ الدَّائِمُ. قَالَ قُلْتُ فَأَيَّ حِينٍ كَانَ يَقُومُ قَالَتْ كَانَ يَقُومُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ.

امام مسروق رحمه الله فرمائی چه ما د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوکړو، کوم عمل رسول الله ﷺ ته زيات خوښ وو؟ وې فرمائيل: داسې عمل کوم چه هميشه اوکړې شی، مسروق فرمائی چه ما تپوس اوکړو، رسول الله ﷺ به د شپې کومې پورې مونځ کولو؟ وې فرمائيل چه کله به ئې د چرګ آذان واوريدلو، تر هغه وخته پورې به ئې مونځ (تهجد) کول.

عبدان، د عبدالله بن عثمان بن حيله لقب دې، اشعث نه ابن ابی الشعثاء مراد دې، د ابوالشعثاء نوم سليم بن الاسود محاربی دې.

...بقيه ازحاشيه گذشته] لأن أعافى فأشكر أحب إليّ من أن أبتلى فأصبر . ومن فضل قلة الأكل ما روى يحيى بن أبي كثير ، عن أبي سلمة ، عن أبي هريرة قال : قال رسول الله : (إن أهل البيت ليقل طعمهم فتستنير بيوتهم) (شرح ابن بطال : ۱/۱۷۹)

[۱]) عمدة القاری: ۹۵/۲۳

[٦٠٩٧] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ أَحَبُّ الْعَمَلِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الَّذِي يَدُومُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ. [ر: ١٠٨٠]

د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زيات خوښ عمل هغه وو چه په هغې باندې صاحب عمل هميش والې اختيار کړي.

[٦٠٩٨] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لَنْ يُنَجِّيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ». قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «وَلاَ أَنَا، إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللَّهُ بِرَحْمَةٍ، سَدِّدُوا وَقَارِبُوا، وَاغْدُوا وَرُوحُوا، وَشَىْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ. وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوا». [ر: ٥٣٤٩]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. په تاسو کښې چاته هم د هغه عمل خلاصې ورنکړي، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو او تاسو ته هم يا رسول الله ﷺ! وې فرمائيل : او ماته هم نه؛ سوا د دې نه چه الله پاک ما د خپل رحمت په سورى کښې پټ کړي. په صحيح لاره باندې ځئ او ميانه راوى اختيار کړئ او سحر او ماښام او د شپې په څه حصه کښې د الله پاک عبادت کوئ، ميانه روى اختيار کړئ، ميانه روى، نو منزل مقصود ته به اورسئ. د ابن ابى الذئب نوم محمد بن عبد الرحمن دې.

﴿ سددوا ﴾ : صحيح لاره اختيار کړئ. علامه عينى رحمه الله فرمائى : معناه : اقصدوا السداد اى الصواب.[1]

﴿ قاربوا ﴾ : په ميانه روئ سره ځئ. وئيلې شى : ﴿ قارب فلان فى اموره ﴾ هغه په خپلو معاملاتو کښې ميانه راوى اختيار کړه. علامه ابن اثير رحمه الله ليکى : ﴿ اى اقتصدوا فى الامور کلها، واترکوا الغلو فيها والتقصير ﴾[2] علامه کرمانى رحمه الله فرمائى : اى : لاتبلغوا الغاية، بل تقربوا منها.

﴿ اغدوا ﴾ : سحر روان شئ. ﴿ روحوا ﴾ : ماښام روان شئ.

﴿ وشئ من الدلجة ﴾ : او د شپې په څه حصه کښې روان شئ. په بعض نسخو کښې ﴿ شيئا ﴾ منصوب دې، ﴿ دلجة ﴾ (د دال په ضمې او فتحې سره) د شپې په وخت تلو ته وائى.[3]

﴿ القصد القصد ﴾ : دا منصوب على الاغراء دې، د هغه فعل ﴿ الزم ﴾ وجوبا محذوف دې، يعنى: ﴿ الزم القصد القصد ﴾ ميانه روى لازم اونيسئ. علامه قسطلانى رحمه الله ليکى :

﴿ وقد شبه التعبدين بالمسافرين لأن العابد کالمسافر الى محل اقامته وهو الجنة وکأنه قال: لا تستوعبوا

---

[1]) عمدة القارى : ٩٧/٢٣

[2]) النهاية لابن الاثير : ٤٣١/٢

[3]) النهاية لابن الاثير : ٥٧٨/١

الأوقات كلها بالسير بل اغتنموا أوقات نشاطكم وهو أول النهار وآخره وبعض الليل وارحموا أنفسكم فيما بينهما لئلا ينقطع بكم ﴾(۱)

يعنې دلته عبادت گزارو ته د مسافرو سره تشبيه ورکړې شوې ده. ځکه چه عابد د مسافر په شان دې. د دې منزل جنت دې، گويا رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ټول وخت په عبادت کښې مه لگوئ، بلکه د خپلې خوشحالئ اوقات غنيمت اوګنړئ او د خوشحالئ وختونه د ورځې اول او آخر حصه او د شپې څه حصه ده. د هغې په مينځنی وخت کښې په خپلو ځانونو باندې رحم اوکړئ، چه منع نه شئ او څه عمل ستاسو نه پاتې نه شی

[۶۰۹۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «سَدِّدُوا وَقَارِبُوا، وَاعْلَمُوا أَنْ لَنْ يُدْخِلَ أَحَدَكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ، وَأَنَّ أَحَبَّ الأَعْمَالِ أَدْوَمُهَا إِلَى اللَّهِ، وَإِنْ قَلَّ» [۶۱۰۲]

د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: برابره لار او ميانه راوی اختيار کړئ او پوهه شئ چه په تاسو کښې به د چا عمل هم هغه جنت ته داخل نه کړې شی. زما په نزد د ټولو نه غوره عمل هغه دې چه په هغې باندې هميشوالې اختيار کړې شی. اګر که هغه کم ولې نه وی.

[۶۱۰۰] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها - أَنَّهَا قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَىُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ قَالَ «أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ». وَقَالَ «اكْلَفُوا مِنَ الأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ».

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو. کوم عمل د الله پاک په نزد زيات خوښ دې. وې فرمائيل چه په هغې باندې هميش والې اختيارکړې شی. اګرچه هغه کم وی او وې فرمائيل، هغه کارونه په خپل سر واخلئ د کومو چه په تاسو کښې طاقت وی.

قوله: ﴿ ما تطيقون ﴾: په دې کښې ما مصدريه هم کيدې شی ای: قدر طاقتکم او ما موصوله هم کيدې شی: ای الذی تطيقونه.

[۶۱۰۱] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ كَيْفَ كَانَ عَمَلُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - هَلْ كَانَ يَخُصُّ شَيْئًا مِنَ الأَيَّامِ قَالَتْ لاَ، كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً، وَأَيُّكُمْ يَسْتَطِيعُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - يَسْتَطِيعُ. [ر ۱۸۸۶]

د امام علقمه رحمه الله نه روايت دې چه ما د ام المومنين سيده عائشه صديقه رضي الله عنها نه تپوس

---

(۱) ارشاد الساری ۱۳/۴۶۳

اوکړو. ما تپوس اوکړو : اې ام المومنين! د رسول اللهﷺ عمل څنګه وو؟ آيا هغوی د عمل دپاره څه ورځې خاص کړې وې؟ وې فرمائيل نه ! د رسول اللهﷺ په عمل کښې هميش والې وو او په تاسو کښې څوک دې کوم چه د هغه اعمالو طاقت لرې، کوم چه به رسول اللهﷺ کول.

قوله: ﴿كان عمله ديمة﴾: يعنې د رسول اللهﷺ عمل دائمي وو. ديمة په اصل کښې مسلسل وريدونکي باران ته وائی د حديث شريف مقصد دا دې چه د رسول اللهﷺ عمل داسې نه وو چه د څو ورځو پورې به عمل رسول اللهﷺ کولو او د هغې نه پس به ئې هغه مستقلا پريخودلې وی بلکه د هغوی په معمولاتو کښې به استقامت او هميش والې وو. اګر چه بعض مخصوص وختونه او مخصوص ورځو کښې به هغوی مختلف اعمال پوره کول او هغه د دې منافی نه دی، دلته صرف د رسول اللهﷺ د دوام او په معمولاتو کښې د هغوی استقامت بيانول مقصود دی. (١)

[٦١٠٢] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الزِّبْرِقَانِ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « سَدِّدُوا وَقَارِبُوا، وَأَبْشِرُوا، فَإِنَّهُ لاَ يُدْخِلُ أَحَدًا الْجَنَّةَ عَمَلُهُ ». قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ « وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللَّهُ بِمَغْفِرَةٍ وَرَحْمَةٍ ». قَالَ أَظُنُّهُ عَنْ أَبِي النَّضْرِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ.
وَقَالَ عَفَّانُ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - « سَدِّدُوا وَأَبْشِرُوا ». [ر: ٦٠٩٩]
وَقَالَ مُجَاهِدٌ (قَوْلاً سَدِيدًا) النساء: ٩ / وَسَدَادًا صِدْقًا.

د سيده عائشهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل : برابره لار او ميانه روی اختيار کړئ او تاسو ته زيرې دې، ځکه چه څوک به هم د خپل عمل د وجې نه جنت ته نه

---

(١) قال ابن بطال : إن قول عائشة : إن النبى لم يكن يخص شيئًا من الأيام بالعمل : يعارضه قولها : ما رأيت رسول الله أكثر صيامًا منه فى شعبان . قيل : لا تعارض بين شىء من ذلک . وذلک أنه كان كثير الأسفار فى الجهاد . فلا يجد سبيلا إلى صيام الثلاثة الأيام من كل شهر . فيجمعها فى شعبان . ألا ترى قول عائشة : كان يصوم حتى نقول لا يفطر . ويفطر حتى نقول لا يصوم فهذا يبين أنه كان لا يخصّ شيئًا من الزمان ؛ بل كان يوقع العبادة على قدر نشاطه . وفراغه لذلک من جهاده وأسفاره . فيقل مرةً ويكثر أخرى . هذا قول المهلب . وقد قيل فى معنى كثرة : صيامه فى شعبان وجوه آخر قد ذكرتها فى باب صوم شعبان فى كتاب الصيام.
فإن قيل : فما معنى ذكر حديث أنس في هذا الباب ؟ قيل : معناه أن يوجب ملازمة العمل وإدمانه ما مثل له من الجنة للرغبة . ومن النار للرهبة . فكان فى ذلک فائدتان : إحداهما : تنبيه للناس أن يتمثلوا الجنة والنار بين أعينهم إذا وقفوا بين يدى الله . كما مثلها الله لنبيه . وشغله بالفكرة فيهما عن سائر الأفكار الحادثة عن تذكير الشيطان بما يسهيه حتى لا يدرى كم صلّى . والثانية : أن يكون الخوف من النار الممثلة والرغبة فى الجنة نصب عينى المصلى فيكونا باعثين له على الصبر . والمداومة على العمل المبلغ إلى رحمة الله والنجاة من النار برحمته. (شرح ابن بطال : ١٨٢/١، ١٨٣)

ځی. صحابه کراموﷺ عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! او تاسو به هم نه ځئ (یعني د خپل عمل د وجې نه) وې فرمائیل : او زه هم نه شم تلې. مګر دا چه الله پاک د خپل مغفرت او رحمت په سوری کښې پټ کړي.

محمد بن زبرقان : محمد بن زِبْرِقان (د زاء په کسرې. باء په سکون او راء په کسرې سره) په بخاری کښې صرف یو روایت دې. په ائمه جرح او تعدیل کښې ابو حاتم. ابو زرعه. نسائی. دارقطنی او ابن المدینی د هغوی توثیق کړې دې. ابن حبان په کتاب الثقات کښې هغوی اخستلې دی او وئیلې ئې دی : ﴿ ربما اخطاء ﴾، امام بخاریرحمه الله په تاریخ کبیر کښې هغوی ته ﴿ معروف الحدیث ﴾ وئیلې دې. (۱)

قوله: ﴿ قال : اظنه عن ابی النضر عن ابی سلمة عن عائشة ﴾ : د امام بخاریرحمه الله شیخ علی بن عبدالله مدینی فرمائی چه زما خیال دې موسی بن عقبة د ابوسلمه نه براه راست نقل نه کوی بلکه د ابوالنضر سالم بن امیه په مینځ کښې واسطه ده. ابو النضر. د ابو سلمه نه نقل کوی. پورته د متن په سند کښې ﴿ موسی بن عقبة عن ابی سلمة ﴾ دې. علی بن عبدالله ته شک دې چه موسی دا روایت د ابو سلمه نه براه راست اوریدلې دې. بلکه د ابو النضر په واسطه ئې اوریدلې دې.

خو امام بخاریرحمه الله د عفان بن مسلم تعلیق، د هغې نه متصل پس ذکر کولو سره د علی مدینی دا وهم دفع کړې دې، ځکه چه د عفان په روایت کښې موسی بن عقبه د سماع تصریح کړې ده، په هغې کښې دی، ﴿ سمعت اباسلمة، عن عائشة ﴾.

امام احمد بن حنبلرحمه الله د عفان تعلیق په خپل مسند کښې موصولا نقل کړې دې. (۲)

یو اشکال او د هغې جوابات : په دې روایت او مخکښې روایت کښې رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه د یو سړی نیک عمل هم هغه لره جنت ته نه شی داخلولې. بلکه جنت ته چه څوک هم داخلیږی، د الله پاک په فضل او کرم سره به ټول داخلیږی. ګویا اعمال صالحه جنت ته د داخلیدو سبب نه دی، بلکه چه د الله پاک فضل شامل حال وی نو هله به جنت ته داخلیږی، او د قرآن کریم د ایتونو نه. د دخول سبب، عمل صالح معلومیږی

سورة زخرف کښې دی : ﴿ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾

په سورة النحل کښې دی : ﴿ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾

① د دې تعارض حل دا راویستلې شوې دې چه جنت ته نفس دخول خو به د الله پاک فضل او کرم باندې کیږی. لکه چه په احادیث نبویﷺ کښې دی، خو د جنت مختلف منازل او درجات کښې به د اعمالو په لحاظ سره داخله وی، د درجاتو تقسیم به د اعمال صالحه په

(۱) فتح الباری : ۳۶۲/۱۱، ارشاد الساری : ۴۶۵/۱۳، عمدة القاری ۹۹/۲۳
(۲) فتح الباری : ۳۶۲/۱۱

اعتبار سره وی، حاصل دا دې چه اعمال صالحه د جنت منازلو ته د داخلې سبب خو دې او آیت کریمه ﴿ ادخلوا الجنة ﴾ کښې مضاف منازل محذوف دې. ای: ادخلوا منازل الجنة [1]

② بعض حضراتو وئیلې دی چه په دنیا کښې دننه د اعمال صالحه توفیق. د الله پاک په فضل او کرم سره ملاویږی. په دې وجه د دخول جنت سبب اګر چه عمل صالح دې لکه په آیت کریمه کښې دی، خو د عمل صالح سبب د الله پاک فضل او کرم او توفیق دې. که د الله پاک توفیق شامل حال نه وی نو عمل صالح به نه وې. او که عمل صالح نه وې نو جنت کښې به داخله هم نه وې. [2]

قوله: ﴿وقال مجاهد: سدادا سديدا. صدقا﴾: امام مجاهد رحمه الله فرمائی چه د ﴿ سداد او سدید ﴾ معنی د صدق او برابر خبرې کولو ده. د سورة النساء په آیت کریمه کښې ﴿ قولا سدیدا ﴾ راغلې دې. طبرانی دا تعلیق موصولا نقل کړې دې. [3]

[٦١٠٣] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ، ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ «قَدْ أُرِيتُ الْآنَ - مُنْذُ صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ - الْجَنَّةَ وَالنَّارَ مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قُبُلِ هَذَا الْجِدَارِ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ». [ر: ٤٠٩]

د هلال بن علی رحمه الله نه روایت دې چه ما د سیدنا انس رضی الله عنه نه واوریدل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یوه ورځ مونځ راکړو، بیا منبر ته اوختل او په خپل لاس باندې ئې د مسجد د قبلې طرف ته اشاره اوفرمائیله او وې فرمائیل چه دې وخت چه ما تاسو ته مونځ درکړو نو ماته جنت او دوزخ اوښودلې شو، د هغې شکلونه د دې دیوال نه وړاندې جوړ کړې شوې وو، د نن ورځې په شان خیر او شر ما کله هم نه دې لیدلې.

د باب سره د حدیث مناسبت: د باب سره د حدیث مناسبت بیانولو سره علامه قسطلانی رحمه الله لیکی: ﴿ وفي هذا الحديث تنبيه المصلي على أن يمثل الجنة والنار بين عينيه ليكونا شاغلين له عن الأفكار الحادثة عن تذكر الشيطان ومن مثلهما بين يديه بعثه ذلك على المواظبة على الطاعة والكف عن المعصية، وبهذا تحصل المطابقة بين الحديث والترجمة ﴾ [4]

یعنی: په دې حدیث کښې مونځ کونکی ته په دې خبره باندې تنبیه کړې شوې ده چه جنت او دوزخ دې خپلې مخې ته ساتی، چه دا دواړه هغه لره د شیطان د رایادونکې فکرونو نه لرې

---

[1] ارشاد الساری: ۱۳/، وفتح الباری: ۳۵۷/۱۱، وعمدة القاری: ۹۷/۲٤
[2] فتح الباری: ۳۵۷/۱۱
[3] فتح الباری: ۳٦۳/۱۱
[4] ارشاد الساری: ٤٦٦/۱۱ هم دغه شان اوګورئ: فتح الباری: ۳٦۳/۱۱

ساتی. کوم انسان چه جنت او دزوخ د خپلو سترګو مخې ته ساتی دا به د هغه دپاره د الله پاک په طاعت باندې د دوام او د الله پاک د نافرمانئ نه د بچ کیدو باعث جوړیږی. په دې حدیث سره به حدیث او ترجمة الباب کښې مطابقت حاصل شی

یعنی په حدیث کښې اګر چه د مداومت فی العمل او میانه روئ ذکر نشته. په کوم باندې چه امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب قائم کړې دې. خو چونکه جهنم او جنت مخې ته سال د مداومت او میانه روئ باعث او ذریعه جوړیدې شی په دې وجه امام بخاري رحمه الله دا حدیث د دې باب د لاندې ذکر فرمائیلې دې.

حدیث الباب. په کتاب الصلاة کښې باب رفع البصر الی الامام د لاندې تیر شوې دې.

⑲ باب الرَّجَاءِ مَعَ الْخَوْفِ

﴿رجاء﴾ امید ته وائی. د امام بخاري رحمه الله مقصد دا دې چه د الله پاک د رحمت او فضل او کرم د امید سره سره. د الله پاک ویره هم ساتل پکار دی. چه صرف امید انسان ساتی نو انسان د بې عملئ او مکر او دهوکې ښکار کیږی. او صرف ویره بغیر د امید نه انسان مایوسئ ته رسوی. [1]

بعض علماء کرام فرمائی چه خوف او رجاء د یو مومن دپاره د مرغئ د دوه وزرو په شان دی چه دواړه وزرې ئې برابر وی نو الوتل کیدې شی او که په یو کښې څه خرابی یا کوتاهی نو پروازه نه شی کیدې. [2]

په دې وجه په علماء کرامو او اسلافو کښې دا جمله مشهوره ده ﴿الایمان من الخوف والرجاء﴾ [3]

بعض علماء کرامو لیکلې دی چه د ځوانئ او د صحت په زمانه کښې د ویرې غلبه کیدل او په بوډاتوب او ضعف او کمزورئ کښې د رجاء او امید غلبه کیدل ضروری دی. [4]

د حضرت مدنی رحمه الله رائې: شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدنی رحمه الله د خوف او رجاء متعلق په یو مکتوب کښې لیکی:

په مسئله مذکوره کښې څه غلطی ده، اګر که ستاسو په یادداشت یا د استاذ په بیان کښې متحقق شوې نه وی. ایمان لره همیشه ﴿بین الخوف والرجاء﴾ کیدل پکار دی. ﴿وادعوه خوفا وطمعا﴾ نص قرآنی دې. او په دې معنی باندې مختلف آیات صریحه موجود دی، خو د ژوند په حالت کښې غلبه د ویرې کیدل پکار دی او مرګ ته نزدې غلبه د رجاء کیدل پکار دی...

﴿لقوله علیه السلام فی الحدیث القدسی: انا عند ظن عبدی بی، وقال سبحانه وتعالی: ﴿أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ﴾ • ﴿أَوَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ﴾ • ﴿أَفَأَمِنُوا مَكْرَ

---

[1] فتح الباري ۳۶۳/۱۱. عمدة القاری ۱۰۱/۲۳. ارشاد الساری ۴۹۷/۱۳

[2] ارشاد الساری: ۴۶۷/۱۳

[3] بعض حضراتو دې ته حدیث وئیلې دې خو دا حدیث نه دې.

[4] فتح الباري ۳۶۴/۱۱

اللهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ ● وقال ﴿ وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللهِ ﴾ [1]
شيخ الاسلام رحمه الله چه د دې خپل خط په شروع کښې د کومو درې آيتونو ذکر کړې دې، په هغې کښې د الله پاک د عذاب نه د ويرې بيان دې او په آخرى آيت کښې د نه مايوس کيدو حکم ورکړې شوې دې. نو معلومه شوه چه ايمان د خوف او رجاء دواړو نوم دې.
وَقَالَ سُفْيَانُ مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَشَدُّ عَلَيَّ مِنْ (لَسْتُمْ عَلَى شَيْءٍ حَتَّى تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ). المائده: ۶۸
امام سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائى چه په دې آيت ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَى شَيْءٍ ﴾ نه زيات درونډ په ما باندې هيڅ آيت نه دې، ځکه چه په دې آيت کريمه کښې د قرآن کريم د ټولو احکاماتو د مکلف کولو حکم دې، په آيت کريمه کښې اهل کتاب ته خطاب دې يعنى اې اهل کتاب! چه تر څو پورې تاسو په تورات، انجيل او ستاسو د رب د طرف نه په نازل کړې شوې قرآن باندې عمل قائم نه کړئ تاسو به په هيڅ لاره نه يئ.
د ترجمة الباب سره د ايت کريمه مناسبت : د ترجمة الباب د آيت کريمه سره مناسبت بيانولو باندې علامه قسطلانى رحمه الله ليکى :

﴿ ووجه المناسبة للترجمة أن الآية تدل على أن من لم يعمل بما تضمنه الكتاب الذى أنزل عليه لم تحصل له النجاة ولاينفعه رجاؤه من غيرعمل ما أمربه ﴾ [2]

يعنى : د ترجمة الباب سره د دې آيت کريمه مناسبت په دې طريقه دې چه دا آيت کريمه په دې خبره باندې دلالت کوى چه کوم سړى په رسول الله ﷺ باندې د نازليدونکى کتاب په مقتضى باندې عمل اونکړو نو هغه ته به خلاصې نه ملاويږى او نه به د عمل نه بغير صرف اميد او رجاء د هغه په کار راشى.

[۶۱۰۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الرَّحْمَةَ يَوْمَ خَلَقَهَا مِائَةَ رَحْمَةٍ، فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً، وَأَرْسَلَ فِي خَلْقِهِ كُلِّهِمْ رَحْمَةً وَاحِدَةً، فَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ بِكُلِّ الَّذِي عِنْدَ اللَّهِ مِنَ الرَّحْمَةِ لَمْ يَيْأَسْ مِنَ الْجَنَّةِ، وَلَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ بِكُلِّ الَّذِي عِنْدَ اللَّهِ مِنَ الْعَذَابِ لَمْ يَأْمَنْ مِنَ النَّارِ ». [ر: ۵۶۵۴]
سيدنا ابوهريره رضى الله عنه فرمائى چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل، هغوى اوفرمائيل : چه الله پاک چه رحمت د کومې ورځې نه پيدا کړې دې نو د هغې ئې سل حصې کړې او خپل ځان سره ئې د هغې نه نهه نوى کيخودلې، د هغې نه پس ئې د رحمت صرف يوه حصه راوليږله،

[1]) معارف مدنى، ص ۱۹۷.
[2]) ارشاد السارى : ۱۳/۴۶۸

پس که کافر ته هغه ټول رحمتونه معلوم شی، کوم چه د الله پاک سره دی نو هغوی به د جنت نه مایوس نه شی او که مومن ته هغه ټول عذابونه معلوم شی، کوم چه د الله پاک سره دی نو هغه به د دوزخ نه بې ویرې نه شی. (۱)

د ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: دا حدیث په وعد او وعید دواړو باندې مشتمل دې، رجاء د وعد تقاضه کوی او د خوف تعلق د وعید سره دې یعنی الله پاک چه د کومو نعمتونو وعده فرمائیلې ده، د هغې امید کول او کوم عذاب چه ئې ذکر کړې دې د هغې نه ویریدل پکار دی. دغه شان د حدیث مناسبت د ترجمة الباب سره واضح کیږی.

پس حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی: ﴿ ومطابقة الحديث للترجمة أنه اشتمل على الوعد والوعيد المقتضيين للرجاء والخوف فمن علم أن من صفات الله تعالى الرحمة لمن أراد أن يرحمه والانتقام ممن أراد أن ينتقم منه لا يأمن انتقامه من يرجو رحمته ولا ييأس من رحمته من يخاف انتقامه وذلك باعث على مجانبة السيئة ولو كانت صغيرة وملازمة الطاعة ولو كانت قليلة ﴾ (۲)

۲۰: باب الصَّبْرِ عَنْ مَحَارِمِ اللّٰهِ

وقوله عزّوجل: (إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ). وَقَالَ عُمَرُ وَجَدْنَا خَيْرَ عَيْشِنَا بِالصَّبْرِ

د صبر درې معنې مشهور دی.

① یو ﴿صبر على الاطاعة﴾ یعنی د الله پاک په طاعت او بندګئ باندې استقامت اختیارول.

②: دویم ﴿صبر فى المصيبت﴾ یعنی د مصیبت په وخت ګله او شکایت نه کول او راضی بالقضاء اوسیدل.

③ دریم ﴿ صبر عن المعصية ﴾ یعنی د ګناهونو نه بچ کیدل. (۳) دلته په ترجمة الباب کښې صبر عن محارم الله نه دا درې معنې مراد دی چه الله پاک کوم څیزونه حرام کړې دی، د هغې نه بچ کیدل او ځان ساتل.

قوله: ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾: یعنی صبر کونکو ته به د هغوی اجر بغیر د حساب نه پوره پوره ورکولې شی.

---

(۱) قال الحافظ ابن حجر : والمقصود من الحديث أن المكلف ينبغى له أن يكون بين الخوف والرجاء حتى لا يكون مفرطا فى الرجاء بحيث يصير من المرجئة القائلين لا يضر مع الإيمان شيء ولا فى الخوف بحيث لا يكون من الخوارج والمعتزلة القائلين بتخليد صاحب الكبيرة إذا مات عن غير توبة فى النار بل يكون وسطا بينهما كما قال الله تعالى يرجون رحمته ويخافون عذابه ومن تتبع دين الإسلام وجد قواعده أصولا وفروعا كلها فى جانب الوسط. (فتح البارى : ۱۱/۳۶۶)

(۲) فتح البارى : ۱۱/۳۶۵، ۳۶۶

(۳) ارشاد السارى : ۱۳/۴۷۰

قوله: ﴿وَقَالَ عُمَرُ وَجَدْنَا خَيْرَ عَيْشِنَا بِالصَّبْرِ﴾: يعنى مونږ د صبر په سبب بهترين ژوند بيا موندلو. د سيدنا عمر رضی الله عنه دا تعليق امام احمد رحمه الله په كتاب الزهد كښې موصولا ذكر كړې دې. (١)

[٦١٠٥] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أُنَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلاَّ أَعْطَاهُ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُمْ حِينَ نَفِدَ كُلُّ شَىْءٍ أَنْفَقَ بِيَدَيْهِ «مَا يَكُنْ عِنْدِى مِنْ خَيْرٍ لاَ أَدَّخِرْهُ عَنْكُمْ، وَإِنَّهُ مَنْ يَسْتَعِفَّ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ». [ر: ١٤٠٠]

د سيدنا ابوسعيد خدرى رضی الله عنه نه روايت دې چه څو انصارى صحابه كرامو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څه غوښتنه اوكړه، او چا چه هم غوښتنه اوكړه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوى ته هغه څيز وركړو. تردې چه كوم مال د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو هغه ختم شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم هر څه صحابه كرامو رضی الله عنهم ته په خپل لاس باندې وركولو سره ختم كړل او بيا ئې اوفرمائيل چه كوم ښه څيز هم ما سره وى زه تاسو د هغې نه بچ نه شم ساتلې. څوک چه په تاسو كښې د سوال نه بچ كيږى الله پاک به هم هغه لره محفوظ ساتى او څوک چه صبر كوى الله پاک به هم هغه ته صبر وركوى او څوک چه ځان بې نيازه كړى الله پاک به هم هغه بې نيازه كړى، تاسو ته د صبر نه زيات او د هغې نه وسيع خير نه دې دركړې شوې.

دا حديث په كتاب الزكاة كښې تير شوې دې.

[٦١٠٦] حَدَّثَنَا خَلاَّدُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عِلاَقَةَ قَالَ سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ يَقُولُ كَانَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يُصَلِّى حَتَّى تَرِمَ - أَوْ تَنْتَفِخَ - قَدَمَاهُ فَيُقَالُ لَهُ، فَيَقُولُ «أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا». [ر: ١٠٧٨]

د سيدنا مغيره بن شعبة رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دومره مونځ لوستلو چه خپو كښې به ئې پړسوب راغلو او يا ئې اووې چه خپې مباركې به ئې اوپړسيدلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به عرض اوكړې شو (چه ستاسو خطاګانې خو معاف دى؟) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به اوفرمائيل: آيا زه د الله پاک شكر ګزار بنده جوړ نه شم؟

قوله: ﴿حتى ترم او تنتفخ قدماه﴾: ترم: وَرِمَ يَرِمُ (على وزن وَرِثَ يَرِثُ) معنى ده: پړسيدل، پړسوب راتلل، د راوى شک دې چه ﴿ترم قدماه﴾ ئې وئيلې دې او كه ﴿تنتفخ قدماه﴾ ئې وئيلې دې.

د ترجمة الباب د حديث سره مطابقت: د باب د حديث سره مطابقت بيانولو باندې علامه قسطلانى رحمه الله ليكى:

---

(١) ارشاد السارى: ١٣/٤٦٩

(ومطابقة الحديث للترجمة من حيث إنه -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صبر على الطاعة حتى تورمت قدماه) [۱]
یعنی : د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت داسې دې چه رسول الله ﷺ د الله پاک په طاعت باندې د دومره صبر او استقامت مظاهر اوکړه چه د هغوی خپې مبارکې اوپړسیدلې
د صبر په باره کښې د بزرګانو څو اقوال سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی : د الله پاک د عظمت او معرفت تقاضه دا ده چه انسان د خپل څه تکلیف یا مصیبت ذکر د الله پاک نه سوا چاته هم اونکړی [۲]
د یو مشهور بزرګ احنف نظر ختم شو هغوی تر څلویښتو کالو پورې چاته دهغې ذکر اونکړو. [۳]
شقیق بلخی فرمائی چه د غیر الله مخکښې د خپل څه مصیبت شکایت کونکې د الله پاک په عبادت او حلوت کښې کله هم خوند نه مومی. [۴] په قرآن کریم کښې د صبر لفظ په کثرت سره استعمال شوې دې.
لاندې مونږ د صبر متعلق تفصیل نقل کوو چه په هغې په قرآن کریم کښې چه هر ځائې کښې د صبر مختلف مفاهیم استعمال شوې دی. د هغې وضاحت کړې شوې دې
د قران کریم په ایتونو کښې راغلې د صبر معانی: ﴿ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ ﴾ [۵]
د صبر په حقیقت باندې د عوامو غلط فهمیٔ خو پردې اچولې دی چه هغه د هغوی په نزد د بې وسئ او بې اسرې کیدو تصویر دې. او د هغې معنی د خپل دشمن نه د انتقام نه اخستلو ده. خو آیا په حقیقت کښې هم دغه شان ده؟
د صبر لغوی معنی د بندولو. او اسرې ده. یعنی خپل نفس لره د اضطراب او ویرې نه منع کول. او هغه لره په خپل ځائې باندې ثابت قدم ساتل او هم دا د صبر لغوی حقیقت هم دې. یعنی د دې معنی د بې اختیاریٔ خاموشی او د انتقام نه اخستلو مجبوری نه ده. بلکه بهادری، د زړه مضبوطوالې، اخلاقی جراءت او ثبات قدر دې.
د سیدنا موسی او سیدنا خضر علیهما السلام په قصه کښې په یو آیت کښې درې ځایه دا لفظ راغلې دې. او هر ځائې کښې هم دا معنی مراد ده. سیدنا خضر علیه السلام فرمائی
﴿ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ● وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا ﴾ [۶]
یعنی : ته به ما سره صبر اونکړې شې. او څنګه به په دې خبره باندې صبر اوکړې، چه د هغې تاته علم نه وی.

---

[۱]) ارشاد الساری : ۴۷۰/۱۳
[۲]) ارشاد الساری : ۴۷۱/۱۳
[۳]) ارشاد الساری : ۴۷۱/۱۳
[۴]) ارشاد الساری : ۴۷۱/۱۳
[۵]) سورة احقاف : ۴
[۶]) سورة الکهف : ۶۷، ۶۸

سیدنا موسیٰ علیه السلام په جواب کښې فرمائی: ﴿ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا ﴾[1] یعنی که الله پاک اوغوښتله نو تاسو به ما صبر کونکی بیا مومئ.

په دې صبر سره مقصود د لا علمئ په حالت کښې د غیر معمولی واقعاتو د وجې نه په زړه کښې اضطراب او د بې صبرئ نه پیدا کیدل. کفارو د خپلو پیغمبرانو د پوهه کولو باوجود ښه په سختئ او پابندئ سره په خپله بت پرستئ باندې قائم اوسیږی. نو د هغوی حکایت د هغوی په ژبه باندې قرآن کریم داسې بیانوی:

﴿ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ﴾[2]

یعنی: دې سړی (د پیغمبرئ مدعی) خو مونږ د خپلو خدایانو (بتانو) نه لرې کول غوښتلو. که مونږ په دې باندې صابر (ثابت) نه وو پاتې شوې.

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا۟ حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾[3]

یعنی: که هغوی لږ شان صبر کړې وې (یعنی ایسار شوې وې) تردې چه ته (اې رسول ﷺ) هغوی ته ور اوتلې وې نو د هغوی دپاره به غوره وه.

په قرآن کریم کښې د صبر لفظ په یوه معنی کښې استعمال شوې دې اګر چه د حالاتو په تغیر سره د هغې په مفهوم کښې بعض بعض ځایونو کښې لږ لږ فرق پیدا شوې دې. هم په دې وجه د دې ټولو مرجع یو دې. یعنی ثابت قدمی او استقامت، د صبر دا مختلف مفهوم په کوم چه قرآن کریم دا لفظ استعمال کړې دې، لاندې لیکلې شی.

د مناسب وخت انتظار کول: اول دا دې چه هر قسم تکلیف اوچتولو سره په خپل مقصد باندې کلکیدلو سره د کامیابئ د وخت انتظار کول. رسول الله ﷺ چه کله په شروع کښې مخامخ د توحید دعوت او د اسلام تبلیغ شروع کړو. نو د عربو یوه یوه ذره د هغوی په مخالفت کښې راپاسیده. د هر طرف نه د دشمنئ او عداوت مظاهرې شروع شوې او د هر طرف نه په قدم قدم باندې مخالفین او رکاوټونه پیش کیدل شروع شو. نو په دې وخت کښې د بشریت په اقتضاء سره د هغوی اضطراب پیدا شو او د کامیابئ منزل ورته لرې په نظر راغلو. هغه وخت د تسلئ دا پیغام راغلو چه د اضطراب او ویرې ضرورت نشته. تاسو ښه په کلکه خپل کار کوئ. الله پاک ستاسو مل دې، د الله پاک فیصله به په خپل وخت باندې راځی:

﴿ وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾[4] یعنی اې نبی ﷺ! ته د خپل رب په فیصله باندې ثابت قدم اوسیدو سره منتظر اوسیږه. ځکه چه ته زمونږ په سترګو کښې ئې.

---

[1]) سورة الكهف : ۶۹

[2]) سورة فرقان : ۴۲

[3]) سورة الحجرات : ۵

[4]) سورة الطور : ۴۸

﴿ فَاصْبِرُوا حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَنَا ﴾ (۱) يعنی: نه ثابت قدم اوسيدو سره منتظر اوسيږه. تردې چه الله پاک زمونږ ترمينځه فيصله اوکړی
﴿ وَاصْبِرْ حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴾ (۲) يعنی: او ثابت قدم اوسيدو سره انتظار کوه. تردې چه الله پاک فيصله اوکړی. هغه دټولو فيصله کونکو نه غوره دې. ﴿ فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ (۳) يعنی ثابت قدم اوسيدو سره دوخت منتظر اوسيږه. بيشکه انجام د متقيانو غوره دې.
د انتظار د دې کشمکش په حالت کښې چه کله د يو طريق حق بې وسې. بې اسرې کيدل خپې خويوی. او بل طرف ته د باطل عارضی شور او هنګامی غلبه زړه کمزورې کوی. په حق باندې قائم اوسيدو سره د هغې د کاميابئ پوره توقع نه شی کيدې ﴿ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ ﴾ (۴) يعنی: ثابت قدمئ سره منتظر اوسيږه بيشکه د الله پاک وعده رشتيني ده.
چرته داسې اونشی چه د الله پاک د وعدې په ظاهريدلو کښې که لږ شان ناوخته شی نو د مشکلاتو نه ويريدلو سره د حق ملګرتيا پريږدئ، او د باطل په ډله کښې ملاؤ شئ
﴿ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴾ (۵) يعنی: د خپل رب په فيصله باندې په ثابت قدمئ سره منتظر اوسيږه. او په دوی (مخالفينو کښې) د يو ګنهګار يا کافر وينا مۀ منه.
نه بې قراره کيدل: د صبر دويم مفهوم دا دې چه په مصيبتونو کښې اضطراب او بې قراری نه وی. بلکه هغه د الله پاک حکم او مصلحت ګڼړلو سره په خوشحالئ باندې اوزغملې شی او دا يقين اوساتلې شی چه کله وخت راشی نو الله پاک به په خپل رحمت سره خپله هغه لرې کړی. الله پاک د داسې خلقو مدح فرمائيلې ده: ﴿وَالصَّابِرِينَ عَلَى مَا أَصَابَهُمْ﴾ (۶) يعنی: او کوم خلق چه په مصيبت کښې صبر کوی.
سيدنا يعقوب عليه السلام د خامنو نه دروغژن خبر اوريدلو سره چه ليوۀ سيدنا يوسف عليه السلام اوخوړلو. فرمائی: ﴿ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ ﴾ (۷) يعنی: بلکه ستاسو زړونو يوه خبره جوړه کړې ده، نو صبر غوره دې او د الله پاک نه په هغه څيز باندې مدد غوښتلې شی کوم چه تاسو بيانوئ
بيا د خپل دويم ځوی (بنيامين) په مصر کښې د ايساريدلو خبر اوريدلو سره فرمائی:

---
(۱) سورة الاعراف: ۸۷
(۲) سورة يونس: ۱۰۹
(۳) سورة هود: ٤۹
(٤) سورة الروم: ٦۰، سورة مومن: ۵۵
(۵) سورة الانسان: ۲٤
(٦) سورة الحج: ۳۵
(۷) سورة يوسف: ۱۸

﴿ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ عَسَى اللهُ أَنْ يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ﴾ [1] يعنى : بلکه ستاسو زړونو يوه خبره جوړه کړې ده. پس صبر غوره دې. نزدې ده چه الله پاک ما ته هغوی ټول راولی.

سيدنا ايوب عليه السلام چه بدنی او مالی مصيبتونه په تسليم او رضا سره برداشت کړل، د هغې مدح خپله الله پاک فرمائيلې ده ﴿ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴾ [2] يعنى : مونږ بيشکه ايوب عليه السلام لره صبر کونکې بيا موندلو. ډير ښه بنده وو، هغه د الله پاک طرف ته رجوع کونکې وو

سيدنا اسماعيل عليه السلام د خپل شفيق او مهربان پلار د چړې لاندې خپل ستې کيخودلو سره فرمائی. ﴿ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴾ [3]

يعنى : اې پلاره څه چه تاسو ته وئيلې شی هغه اوکړئ، که الله پاک اوغوښتله نو تاسو به ما د صبر کونکو نه بيا مومئ.

مشکلات په خاطر کښې نه راوستل : د صبر دريم مفهوم دا دې چه د منزل مقصود په لاره کښې چه کوم مشکلات او خطرې پيښې شی. دشمنان چه کوم تکليفونه رسوی او مخالفين چه کوم طعن او طنز کوی. د هغې نه يو څيز هم په خاطر کښې راونوستلې شی او په هغې سره د خفه کيدو او همت بائيللو په ځائې نور هم زيات استقلال او کلک والې پيدا شی. د لوئې لوئې کار کونکو په لارو کښې اکثر د خنډان راوچت کړې شوې دی خو هغوی په استقلال او مضبوطيا سره د هغې مقابله اوکړه او کامياب شو.

د دې قسم مواقع اکثر انبياء عليهم السلام ته راپيښ شو. پس خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د دې اعلى مثال تابعدارئ حکم اوکړې شو ﴿ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَهُمْ ﴾ [4] يعنى : (اې محمد صلى الله عليه وسلم) ته هم دغه شان صبر کود څنګه چه اولوالعزم رسولانو کړې وو. او د دې (مخالفينو) دپاره تندی مه کوئ.

د سيدنا لقمان عليه السلام په ژبه باندې ځوئی ته دا نصيحت واورولې شو چه د حق دعوت او تبليغ، د امر بالمعروف او نهی المنکر فرض پوره طريقې سره ادا کوه او په دې لاره کښې چه کوم مصيبتونه راپيښ شی د هغې په نره مقابله کوه!

﴿ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴾ [5]

يعنى : د نيکئ حکم کوه او د بدئ نه منع کوه او کوم مصيبت چه درته راپيښ شی هغه برداشت کوه، دا د کلکو ارادو والا کار دې.

---

[1]) سورة يوسف : ۸۳

[2]) سورة ص : ٤٤

[3]) سورة صافات : ۱۰۲

[4]) سورة احقاف : ۳۵

[5]) سورة لقمان : ۱۷

کفار د عذاب الهي زر نه راتلو يا د حق ظاهري بې وسئ او بې اسرې کيدو په سبب سره رسول الله ﷺ ته په خپلو زړۀ سوزونکو طعنو سره تکليفونه ورکړل. حکم اوشو چه د دې پيغور پرواه مه کوه. او مه په دې باندې زړه خفه کوه. بلکه په خپل کار کښې لګيدلې اوسه او اوګوره چه ستاسو نه مخکښې انبياء ﷺ څه اوکړل ﴿ اصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ﴾[1] يعنې: د هغوی په وينا باندې صبر کوه او زمونږ بنده داؤد عليه السلام ياد کړه.
د دې قوت صبر د حصول طريقه دا ده چه د الله پاک سره تعلق جوړ کړې شي او د هغه په طاقت باندې اعتماد اوکړې شي. ﴿ فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ ﴾[2]
يعنې: ته د هغوی په وينا صبر اوکړه او سحر او مابنام د خپل رب د حمد سره پاکی بيانوه نه صرف دا چه د مخالفينو د دې طعن او طنز دې خيال او نه کړې شي بلکه د دې په جواب کښې دې هغوی سره نرمي اوکړې شي. ﴿ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴾[3] يعنې: د هغوی په وينا صبر کوه، اود هغوی نه په ښکلې طريقه بيل شه.
معافي کول: د صبر څلورم مفهوم دا دې چه د بدی کونکو بدی نظر انداز او کومه بد خواهی چه راپيښه شي او تکليفونه ورکوی. د هغه قصور معاف کړې شي. يعنې تحمل او برداشت کښې اخلاقی مضبوط والې اوښودلې شي. د قرآن کريم په څو آيتونو کښې صبر په دې مفهوم کښې استعمال شوې دې، د الله پاک ارشاد دې:
﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ - وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ ﴾[4] يعنې او که ته سزا ورکوې نو هم هغه هومره ورکوه څومره چه تا ته تکليف درکړې شوې دې، او که صبر (برداشت) اوکړې نو دا د صبر کونکو دپاره غوره دې او ته صبر کوه. او ستا صبر کول نه دی مګر د الله پاک په مدد باندې. او د دوی غم مه کوه او نه دې د دوی د سازشونو نه زړه تنګ شي.
دا د صبر هغه قسم دې کوم چه اخلاقی حيثيت سره ډير لويه بهادري ده. مسلمانو ته د دې بهادرئ تعليم بار بار ورکړې شوې دې. او وئيلې شوې دی چه دا صبر او برداشت د کمزورئ يا د دشمن د ويرې يا د بل سبب د وجې نه نهٔ وی بلکه صرف د الله پاک د ويرې وی:
﴿ وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴾[5] يعنې: او چا چه د خپل رب د ذات دپاره صبر اوکړو او مونځ ئې قائم

---

[1] سورة ص: ۱۷
[2] سورة ق: ۳۹
[3] سورة مزمل: ۱۰
[4] سورة نحل: ۱۲۶-۱۲۷
[5] سورة رعد: ۲۲

کړو. او کومه چه مونږ هغوی ته روزی ورکړه د هغې نه پټ او ښکاره (د الله پاک په لاره) خرچ کوی او بدی په نیکئ سره دفع کوی. د هغوی دپاره د آخرت انجام دې.

فرشتې به هغوی ته مبارکی ورکوی او وائی به ﴿ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ (۱)

یعنی: په تاسو باندې دې سلامتی وی ځکه چه تاسو صبر اوکړو، نو د آخرت انجام څه ښه شو یو خاص خبره په دې آیت کریمه کښې د خیال ساتلو لائق ده، چه د دې په شروع کښې د څو نیکو ذکر دې، صبر، مونځ، خیرات، د بدئ په ځائې نیکی خو فرشتو هغه مومن چه د هغه په خاص وصف باندې هغه ته د سلامتئ دعا اوکړه. هغه صرف صبر یعنی د برداشت صفت دې ځکه چه هم دا اصل دې ځکه چه هم دا صل دې چه په چا کښې دا جوهر وی هغه به د عبادت تکلیف هم اوچتوی. مصیبتونه به هم هیروی او د دشمنانو د بدئ جواب به په نیکئ سره ورکوی. پس په یو بل روایت کښې د دې تشریح هم کړې شوې ده چه د معافئ او بدئ په بدله کښې د نیکئ صفت په هغه کښې وی، چه په هغې کښې به صبر وی.

﴿ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾ (۲)

یعنی: نیکی او بدی برابر نه دی، د بدئ جواب په نیکئ سره ورکوئ. نو ناڅاپه چه د چا او ستا ترمینځه دشمنی ده، هغه به د نزدې ملګرې په شان شی او دا خصلت هم هغه چا ته ملاویږی چه صبر کوی، او دا هم هغه چاته ملاویږی چه ډیر د قسمت والا دې.

څوک چه په خلقو باندې ظلم کوی او په ملک کښې ناحقه فساد کوی په هغوی باندې به د الله پاک عذاب وی. په دې وجه د یو صاحب عزم مسلمان دا فرض دی چه نور په هغه باندې ظلم اوکړی نو په بهادرئ سره هغه برداشت کړی او معاف کړی، فرمائی:

﴿ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ أُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴾ (۳) یعنی: لاره په هم هغه چا ده چه په خلقو باندې ظلم کوی، او په ملک کښې ناحق فساد کوی. هم دا هغه خلق دی چه د هغه دپاره دردونکې عذاب دې، او یقینا چا چه برداشت اوکړو. او معافی ئې اوکړه. بیشکه دا ډیر د همت کارونه دی.

ثابت قدمی: د صبر پنځم اهم مفهوم د جنګ پیښیدو په صورت کښې په میدان جنګ کښې بهادرانه استقامت او ثابت قدمی ده. قرآن پاک دا لفظ په دې مفهوم کښې ډیر کرته استعمال کړې دې او داسې خلق کوم چه په دې وصف سره متصف شوې دی، صادق القول او رشتینی وئیلې دی، چه هغوی چه د الله پاک سره کومه وعده کړې وه، هغه ئې پوره کړه، فرمائی: ﴿ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ (۴)

---

(۱) سورة رعد : ۲۳
(۲) سورة حم سجده : ۳۴-۳۵
(۳) سورة شوری : ٤
(٤) سورة بقرة : ۲۲

يعنى او صبر كونكي (ثابت قدمي ښودونكي) په مصيبت كښې او نقصان كښې او د جنګ په وخت. هم دا دي چه رشتيا وائي او هم دوى پرهيزګار دى.
كه جنګ راشي نو د دې كاميابۍ څلور شرطونه دي. د الله پاک ياد، د وخت د امام اطاعت، خپل مينځ كښې اتحاد او موافقت او په ميدان جنګ كښې بهادرانه صبر او استقامت
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ـ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [1]
يعنى اې ايمان والو! چه كله تاسو د يوې دستې سره مقابل شئ. نو ثابت قدم اوسيږئ. او الله پاک ډير يادوئ. چه كاميابى بيا مومئ. او د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ اطاعت كوئ او خپل مينځ كښې جهګړې مه كوئ ګينې تاسو به سست شئ او ستاسو هوا به اوځى. او صبر كوئ. بيشكه الله پاک د صبر كونكو سره دې.
د حق د مدد كونكو د ظاهرا كم تعداد كمي د هغوى د صبر او ثبات په روحانى طاقت سره كيږى. د تاريخ په نظر سره دا مشاهدې اكثر تيرې شوې دى چه څو مستقل مزاج او ثابت قدم بهادرانو لويو فوجونو ته شكست وركړې دې. اسلام دا نكته هم هغه وخت خپلو جانثارانو ته ښودلې وه، چه كله د هغوى تعداد لږ او د دشمنانو زيات وو.
﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ ـ الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [2]
يعنى : اې پيغمبره ! ايمان والا د (دشمنانو) جنګ ته تيار كړه، كه دوى شل صبر كونكى (ثابت قدم) وى نو په دوه سوه كسانو باندې به غالب وى، ځكه هغه خلق پوهيږى نه. اوس الله پاک ستاسو نه تخفيف اوكړو او هغه ته معلومه ده چه په تاسو كښې كمزورى ده. پس كه سل كسان صبر كونكى (ثابت قدم) وى نو په دوه سوه كسانو باندې به غالب وى او كه زر كسان (صبر) كونكى وى نو په دوه زره كسانو باندې به د الله پاک په حكم باندې غالب وى، او الله پاک د صبر كونكو (ثابت قدمو) سره دې.
په ميدان جنګ كښې مسلمانانو ته حكم كړې شوې دې چه هغوى دې د خپل عددى قلت پرواه نه كوى. او په صبر او ثبات سره دې د ځان نه د دوچند كسانو مقابله كوى، او تسلى ورته وركړې شوې ده چه د الله پاک مدد هم د هغه خلقو سره وى كوم چه د صبر او ثبات نه كار اخلى. د سيدنا طالوت او د جالوت په قصه كښې هم دا نكته هم په دې الفاظو سره ادا كړې شوې ده.

[1]) سورة انفال : ۴۵، ۴۶
[2]) سورة انفال : ۶۵، ۶۶

﴿ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾ (۱)

یعنی: د طالوت ملګرو اووې چه نن په مونږ کښې د جالوت او د هغه د فوج سره د مقابلې طاقت نشته، هغه خلقو اووې چه هغوی یقین کولو چه هغوی الله پاک سره ملاویدونکی دی. دا ئې اووې چه ډیر کرته د لږ تعداد خلق د الله پاک په حکم سره د لوئې تعداد خلقو باندې غالب شوې دی. او الله پاک د صبر او ثبات والو سره دې. او کله چه هغوی د جالوت او د هغه د فوج په مقابله کښې راغلل، نو وې وئیل: اې الله: په مونږ د صبر دروازې پرانیزه او مونږ ته ثابت قدمی راکړه، او د دې کافرانو په مقابله کښې مونږ ته نصرت راکړه
الله پاک د کمزورو او قلیل التعداد مسلمانانو د کامیابۍ هم دا شرط کیخودلې دې. او بیان کړې ئې دی چه الله پاک هم د هغوی دې کوم چه د صبر نه کار اخلی. او په الله پاک باندې اعتماد کولو سره د مشکلاتو کلکه مقابله کوی، پس ارشاد دې:

﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا ﴾ (۲) یعنی: بیا ستا رب د هغوی دپاره دې چا چه د تکلیف موندلو نه پس خپل کور پریخودلو. بیا ئې جنګ کولو او په صبر وثبات سره ولاړ وو.

د دنیا د حکومت او بادشاهۍ ملاویدو دپاره هم د دې صبر او استقامت د جوهر پیدا کولو ضرورت دې. د بنی اسرائیلو چه کله د فرعون د هلاکت نه پس د ملک په اطرافو کښې د کفارو سره مقابله راغله. نو سیدنا موسی علیه السلام هغوی ته اولنې سبق دا اوښودلو

﴿ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ (۳)

یعنی: موسی علیه السلام خپلو خلقو ته اووې، چه د الله پاک نه اویریږئ او د هغه نه مدد اوغواړئ او د صبر او استقامت نه کار واخلئ. بیشکه زمکه د الله پاک ده. هغه چه چالره اوغواړی په خپلو بندګانو کښې ئې ددې مالک جوړوی او نیک انجام د پرهیزګارو دپاره دې.

پس بنی اسرائیل د مصر او شام او کنعان په خوا کښې د اوسیدونکو بت پرست قومونو نه په تعداد کښې کم وو. خو چه کله هغوی همت اوښودلو. او د بهادرۍ په استقامت او صبر او ثابت قدمۍ سره ئې مقابلې اوکړې نو د هغوی ټول مشکلات حل شو. او د کثیر التعداد دشمنانو په نرغه کښې د ګیریدلو باوجود تر یوې مودې پورې په خود مختار سلطنت باندې قابض او په نورو قومونو باندې ئې حکومت کولو. الله پاک د بنی اسرائیلو د دې کامیابۍ راز په دې یو لفظ کښې ظاهر کړو. وې فرمائیل:

---

(۱) سورة ببقرة: ۲۴۹-۲۵۰
(۲) سورة نحل: ۱۱۰
(۳) سورة اعراف: ۱۲۸

﴿ وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴾ (١)

يعنی: او هغه خلق کوم چه کمزوري ګنړلي شو. هغوی ته مو د زمکې وراثت ورکړو په کومې کښې چه مونږ برکت نازل کړې دې. او ستا د رب ښکلې وينا (فيصله) د بنی اسرائيلو په حق کښې د هغوی د صبر او ثبات د وجې نه پوره شوه او مونږ د فرعون او د هغه د قوم (منصوبې) تعميرات او چتونه برباد کړل.

د دې نه ظاهره شوه چه د بنی اسرائيل په شان کمزوري قوم د فرعون په شان طاقت مخې ته څکه کامياب شو چه هغوی د صبر او ثابت قدمئ نه کار واخستلو. او هم د دې د نتيجې په طور الله پاک هغوی ته د شام د برکتی زمکې حکومت ورکړو. پس هم د دې تصريح الله پاک په يو بله موقع باندې داسې اوفرمائيله:

﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴾ (٢)

يعنی: او د بنی اسرائيلو نه مونږ داسې امامان جوړ کړل چه زمونږ په حکم سره به ئې لاره ښودله. چه کله هغوی صبر اوکړو او زمونږ په حکمونو باندې به ئې يقين ساتلو.

پورته آيت د بنی اسرائيلو د مخکښې امامت دوه اسباب بيان کړل يو په احکام الهی باندې يقين او دويم په هغه احکامو باندې عمل کولو کښې صبر او ثابت قدمی. هم دا دواړه خبرې د دنيا د هر قوم د ترقئ سنګ بنياد دې. اول د خپلو اصولو د صحيح کيدو يقين او بيا د هغه اصولو په تعميل کښې هر قسم تکليفونه او مصيبتونه په خوشحالئ باندې زغمل.

په غزوه احد کښې مسلمانانو ته فتح نه وه شوې بلکه اويا مسلمانان په خاورو او وينو کښې ليت پيت کيدو سره د الله پاک په لاره کښې سرونه ورکړل. بعض مسلمانان په هغې باندې خفه وو. الله پاک د هغوی د غم د زائل کولو دپاره د مخکښې انبياء ﷺ د ژوند قصص اوروی:

﴿ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ـ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾

يعنی: او څومره انبياء ﷺ دی چه د هغوی په ملګرتيا کښې ډير الله والا جنګيدلي دی. بيا د الله پاک په لاره کښې تکليف اوچتولو سره هغوی نه خو همت اوبائيلو. او نه د هغوی زړونه ستړی شو. او الله پاک ثابت قدم اوسيدونکی (صابرين) خوښوی. او هغوی به هم دا وئيل چه اې زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه او په کار کښې زمونږ زيادت معاف کړه. او زمونږ قدمونه کلک اوساته او د کفارو په مقابله کښې زمونږ امداد اوکړه.

---

(١) سورة اعراف: ١٣٧

(٢) سورة سجده: ٢٤

دې آيت كريمه د غلط فهمئ هغه د يو بل دپاسه راغلې پردې څيرې كړې، كوم چه د صبر د اصل حقيقت په مخ باندې پرتې وې، او بيان ئې اوكړو چه صبر د زړه كمزورئ، د بې وسئ خاموشئ او د بې آسرې كېدو د مجبورئ نه ډكه معافى نه ده، بلكه د زړه انتهائى طاقت او د همت سربلندى، د عزم برابريدل او مشكلات او مصائب د الله پاک په اسره باندې په خواه خاطر كنبې د نهٔ راوستلو نوم دې.

د يو صبر كونكى كار دا دې چه د مخالف حادثو په پيښيدو باندې هم هغه زړه او نه بائيلى. بلكه ښه په همت په خپل مقصد باندې كلک ولاړ وى او د الله پاک نه غواړى چه د هغه د تيرې ناكامئ قصور كوم چه د هغه د كمى (گناه) يا زيادت (اسراف) سره شوې وو. معاف كړى او هغه ته نوره هم ثابت قدمى ورنصيب كولو سره د حق په دشمنانو باندې كاميابى ورکړى. هم په دې وجه الله پاک د كاميابئ د حصول دپاره مسلمانانو ته د دوه خبرو تاكيد اوفرمائيلو. يو خو د الله پاک طرف ته د زړه لگول او دويم په مشكلاتو باندې صبر او استقامت سره قابو موندل.

د دنيا د فتح موندلو سره سره د آخرت عيش هم چه د هغې نوم جنت دې، هم د هغې په حصه كنبې دې. چاته چه دا صبر، د زړه مضبوطوالې او په حق باندې د ثابت قدمئ دولت ملاؤ شوې دې. د حق په لاره كنبې د مشكلاتو د پيښيدو يو مصلحت دا هم دې چه په دې سره د كره او كوټه تميز پيدا شى. او دواړه بيل بيل معلوميږى. پس فرمائى :

﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴾ [1]

يعنى : آيا ستاسو دا خيال دې چه تاسو به جنت ته لاړ شئ او حال دا چه لا تر اوسه پورې الله پاک (په ازميښت كولو سره) هغه خلق بيل كړې نه دى، كوم چه جنگ كونكى دى او ثابت قدم او سيدونكى (صبر كونكى) دى.

ضبط نفس : د اشخاص او قومونو په ژوند كنبې د ټولو نه نازكه موقع هغه راځى چه كله هغوى ته څه لويه كاميابى يا ناكامى ملاؤ شى، په دې وخت كنبې په نفس باندې قابو موندل اوضبط نه كار اخستل گران وى، خوهم دا ضبط نفس اصلى موقع وى. او هم په دې سره په اشخاصو او قومونو كنبې سنجيدگى، متانت، وقار او د كردار مضبوطيا پيدا كيږى.

په دنيا كنبې غم او مسرت او تكليف او آرام خو عام دى، په دې دواړو موقعو باندې انسان له د ضبط نفس او په خپل ځان باندې د قابو ضرورت دې، يعنى چه په نفس باندې ئې دومره قابو وى چه د خوشحالئ په موقع كنبې په هغې كنبې فخر او غرور پيدا نه شى. او په غم او تكليف كنبې هغه غمژن او خفه نه شى، په زړه كنبې دننه د دواړو عيبونو علاج صبرو ثبات او ضبط نفس دې، د انسانى فطرت د خالق وينا ده :

﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ - وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ - إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ [2]

---

[1]) سورة آل عمران : ١٤

[2]) سورة هود : ١٠-١١

يعنى : او كه مونږ انسان ته د خپل طرف نه څه رحمت ورکړو او بيا ئې ترې لرې كړو نو هغه نااميده او ناشكره شى، او كه مونږ انسان ته د خپل طرف نه د څه تكليف نه كوم چه هغه ته رسيدلې وو پس نعمت ورکړو نو وائى چه ټولې پريشانئ رانه ختمې شوې. بيشكه هغه خوشحاليدونكې او فخر كونكې دې، مگر هغه خلق چه هغوى صبر اوكړو (يعنى په خپل نفس باندې ئې قابو بيا موندلو) او ښه كارونه ئې اوكړل هم دا خلق دى چه د هغوى دپاره معافى او لوئې انعام دې.

هر قسم تكليف اوچتولو سره فرض هميشه ادا كول : په هنگامى واقعاتو او وقتى مشكلاتو باندې صبر او ثبات نه په يو معنى كښې زيات هغه صبر دې. څوک چه يو فرض ټول عمر پوره په استقلال او مضبوطوالى سره په ادا كولو كښې ظاهريږى. هم په دې وجه مذهبى فرائض او احكامات بهر حال په نفس باندې سخت تيريږى. ټول عمر په مضبوطيا سره ادا كول هم صبر دې، په هر حال او هر كار كښې د الله پاک د حكم فرمانبردارى او په عبوديت باندې ثبات د نفس انسانى د ټولو نه لوئې امتحان دې، هم په دې وجه حكم اوشو.

﴿ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ﴾ [1]

يعنى : د اسمانونو او د زمكې او څه چه د دې ترمينځه دى د ټولو ، پس د هغه بندگى كوه او د هغه په بندگئ باندې ولاړ اوسه او (صبر كوه).

په يو بل آيت كريمه كښې د مونځ كولو او په خپل اهل و عيال باندې هم د دې د تاكيد كولو په سلسله كښې دې :

﴿ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ﴾ [2] يعنى : د خپل كور خلقو ته د مانځه حكم كوه او خپله هم په دې باندې قائم اوسيږه. يعنى ټول عمر دې دا فريضه په پابندئ سره ادا كړې شى

په دې لاندې آيتونو كښې غالبا صبر هم په دې مفهوم كښې دې هغه خلق چه د الله پاک مخې ته د حاضريدو نه په ويريدل الله پاک هغوى ته زيرې وركوى :

﴿ فَوَقٰهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ـ وَجَزٰهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴾ [3] يعنى : نو الله پاک هغوى لره د هغه ورځې د بدئ نه محفوظ كړل او هغوى ئې د تازگئ او خوشحالئ سره يوځائې كړل او د هغوى په صبر كولو (يعنى په احكام الهى باندې د كلكيدو) په سبب باغ او ريښمى جامه په بدله كښې ورکړه

كوم خلق چه د الله پاک په دربار كښې توبه كوى، ايمان راوړى. نيک كارونه كوى. د دهوكې په كارونو كښې نه شريكيږى، بې ځايه او لغو كارونو باندې چه ورتير شى نو هغوى پرې ورتيريږى نو د بزرگئ په خيال ساتلو سره تيريږى او د الله پاک خبرو اوريدلو سره هغه په اطاعت سره قبولې كړى. او د خپل ځان او د خپل اولاد دپاره دبهترئ او د امامت (فى الدين)

---

[1]) سورة مريم : ۶۵

[2]) سورة طه : ۱۳۲

[3]) سورة دهر : ۱۱-۱۲

دعاګانې غواړي. د هغوی دپاره الله پاک د خپل فضل او کرم دا زیرې اوروی.
﴿ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا ﴾ (١) یعنی: هغوی ته به د جنت بالا خانه په بدل کښې ملاویږی د هغوی د صبر کولو د وجې نه.
په دې دوه آیتونو کښې د صبر مفهوم هم دا دې چه نیک کارونه د بار خاطر او د تکلیف ورکونکی مشقت باوجود په خوشحالئ سره ټول عمر کوی او د بدو خبرو نه سره د دې چه په هغې کښې ظاهری خوشحالی او آرام دې، ځان بچ کوی. د شپې د نرمو بسترو نه پاسیدو سره د الله پاک مخکښې سجدې کول. سحر د سحر د خوب د خوند نه پاسیدلو سره دوه رکعته کولو. د مختلفو نعمتونو نه محروم کیدلو سره روژې نیول. د تکلیف او مشقت باوجود په خطرناکو موقعو باندې هم رشتیا نه پریخودل. د قبول حق په لاره کښې سختې د آرام او راحت په شان زغمل. د سود د دولت نه لاس اوچتول. د حسن او جمال د بې قیده لذت نه نهٔ متمتع کیدل. غرض د شریعت د احکاماتو پوره کول او بیا په هغې باندې ټول عمر برابر پاتې کیدل د صبر ډیر سخت منزل دې، او هم په دې وجه د داسې صبر کونکو جزا هم د الله پاک په نزد درنه ده. د دې ایات پاک په دې تشریح کښې هغه حدیث رایادیږی. چه په هغې کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل:
﴿ حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ ﴾ (٢) یعنی: دوزخ په شهواتو پټ کړې شوې دې او جنت (د نفس) په ناخوښه کارونو باندې پټ کړې شوې دې.
یعنی د نیکئ هغه کارونه کول چه د هغې معاوضه جنت دې. هغه په دنیا کښې په نفس باندې سخت تیزیږی او د ګناهونو هغه کارونه چه د هغې سزا دوزخ دې وخت کښې په دنیا کښې ډیر پر لطف او خوندور معلومیږی. د دې عارضی او هنګامی خوشحالئ یا خفګان د پرواه کولو نه بغیر د احکام الهی تابعداری کول ډیر د صبر او برداشت کار دې. د چا قارون خزانه د مال او دولت ډیر والې او د اسباب عیش ډیریدلو ته کتلو سره که د چا په خوله کښې اوبه رانشی هغه وخت هم د حرام مال د کثرت د لالچ کولو په ځائې. د مال حلال قلت دې صبر کولو سره په خوشحالئ باندې برداشت کړی، نو دا ډیر د طاقت کار دې. کوم چه صرف صبر کونکو ته ملاؤ شوې دې.
د سیدنا موسی علیه السلام په زمانه کښې چه کوم قارون وو. د هغه مال او دولت ته کتلو سره ډیر ظاهر پرست په لالچ کښې پریوتل، چه په چا کښې د صبرو ثبات او برداشت جوهر وو، د هغوی سترګې هغه وخت غړیدلې وې، او هغوی ته په نظر راتلل چه دا فانی او د تلو راتلو والا څیز د څومره ورځو دې. د الله پاک هغه دولت کوم چه به نیکی کونکو ته په جنت کښې ملاویږی. هغه لا زوال. غیر فانی او همیشه دې.

(١) سورة الفرقان: ٧٥
(٢) صحیح البخاری، کتاب الرقاق، با ب حجبت النار بالشهوات، رقم الحدیث: ٦٤٨٧. وصحیح مسلم. کتاب الجنة. وصفة نعیمها واهلها ٤/٢١٧٤. رقم الحدیث: ٢٨٢٢

﴿ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ - وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ ﴾ (١)

يعني : كوم خلق چه د دنياوي ژوند د ډول غوښتونكي وو. هغوي اووي : اې كاش: چه مونږ سره هم هغه څيز وې كوم چه قارون ته وركړې شوي دي. هغه ډير خوش قسمته دې او چاته چه علم ملاؤ شوي وو هغوي اووې هلاک شئ: د الله پاک جزاء. د هغه چا دپاره چه ايمان راوړي او عمل صالح اوكړي د ټولو نه غوره څيز دې او د هغې حقيقت ته صرف هغه څوک رسيدلې شي چه صبر كونكي دي.

دا اجر او جزاء به د غورو نه غوره وي. ځكه چه دا به د هغه خزانې نه ملاويږي. كومه لازوال او باقي ده :

﴿ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللهِ بَاقٍ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ (٢) يعني : څه چه تاسو سره دي هغه به ختم شي. او څه چه الله پاک سره دي هغه باقي پاتې كيدونكي دي. او يقينا مونږ هغوي ته چا چه صبر اوكړو د هغوي اجر په ښكلې طريقه وركونكي يو.

په يو پل ځائې كښې فرمائي چه مونځ ادا كوئ نيكئ ګناهونو لره ختموي. په دې پيغام كښې د نصيحت قبلونكو دپاره ياد داشت دې. د دې نه پس دي :

﴿ وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴾ (٣)

يعني . او صبر كوه بيشكه الله پاک د نيک عمل كونكو اجر نه ضائع كوي.

د صبر فضائل او انعامات : دا اجر به څه وي. دا به د حد او شمير نه بهر وي په هغې كښې د صبر او برداشت هم شمير دې :

﴿ إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴾ (٤)

يعني : بيشكه مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې او ايمان دار سړي او ايمان دارې ښځې. او بندګي كونكي سړي او بندګي كونكې زنانه. او رشتيني سړي او رشتينې ښځې. او مشقت برداشت كونكي سړي (صابرين) او مشقت برداشت كونكې زنانه (صابرات) او (د الله پاک مخكښې) عاجزي كونكي سړي او عاجزي كونكې زنانه او خيرات كونكي سړي او خيرات كونكې زنانه او روژه نيونكي سړي او روژه نيونكې ښځې او د خپلو عورتونو حفاظت كونكي سړي او حفاظت كونكې زنانه. او الله پاک لره ډير يادونكي سړي او يادونكې ښځې.

---

١) سورة قصص : ٧٩-٨٠

٢) سورة النحل : ٩٦

٣) سورة هود : ١١٥

٤) سورة الاحزاب : ٣٥

الله پاک د هغوی دپاره بخښنه او لوئې اجر تیار کړې دې
د دې آیت کریمه نه معلومه شوه چه د صبر مرتبه د لوئې لوئې نیکو برابر ده. په دې سره د انسان مخکښې گناهونو د حرف غلط په شان ختمیږی او د دین د لوئې نه لوئې اجر د هغې په معاوضه کښې ملاویږی. هم دا زیرې په یو بل آیت کریمه کښې هم دې :

﴿ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ـ الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنْفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ ﴾ (۱)

یعنی : (جنت او د الله پاک رضا به هغوی ته حاصلیږی) چه وائی اې زمونږ ربه ! مونږ ایمان راوړې دې. زمونږ گناهونه معاف کړه او مونږ د دوزخ د عذاب نه بچ کړه. او صبر کونکی (یعنی د مشکلاتو تکلیف اوچتونکی دی) او رشتیا ویونکی او په بندگئ کښې لگیدونکی او (د الله پاک لاره کښې مال) خرچ کونکی او د شپې په آخری حصه کښې (د الله پاک نه) بخښنه غوښتونکی

په دې آیت کریمه کښې یو عجیب نکته ده. د دې خوش قسمته جماعت د اوصافو شروع ئې هم په دعا سره او خاتمه هم په دعا ده، او د دې دواړو په مینځ کښې د هغوی څلور اوصاف شمیرلې شوې دی. چه په هغې کښې اوله درجه صبر، یعنی مشقت برداشت کول. تکلیف زغمل او د صبر کولو ده، دویمه د په عمل او قول کښې د صدق ښکاره کولو، دریم مرتبه د الله پاک د عبودیت. څلورمه د الله پاک لاره کښې د خرچ کولو.

د مشکلاتو د پرانستلو کنجی صبر او دعا ده : په بعض آیتونو کښې دا ټول اوصاف صرف په دوه الفاظو کښې راجمع کړې شوې دی، دعا او صبر، او فرمائیلې شوې دی چه هم دا دوه څیزونه د مشکلاتو د جادو کنجی ده، یهود چه د رسول الله ﷺ پیغام حق به ئې نه قبلولو. د هغې دوه اسباب وو. یو دا چه د هغوی په زړونو کښې نرمی او تاثر نه وو. او دویم دا چه د پیغام حق قبلولو سره چه هغوی ته کوم جانی او مالی مشکلات راپیښ شو. دا د عیش و عشرت عادت هغوی نه شو برداشت کولې، هم په دې وجه د محمد رسول الله ﷺ طب روحانی د هغوی د بیمارئ دپاره دا نسخه تجویز کړه :

﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ﴾ (۲) یعنی : او صبر او دعا سره مدد حاصل کړه.

په دعا سره به د هغوی په زړه کښې اثر او په طبیعت کښې به ئې نرمی پیدا کیږی او د صبر په عادت سره د قبول حق د لارې مشکلاتو نه به لرې وی. د هجرت نه پس چه کله قریشو د مسلمانانو خلاف تورې اوچتې کړې او د مسلمانانو د ایمان دپاره د اخلاص په تله کښې د تللو وخت راغلو نو دا آیتونه نازل شو

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ـ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ

---

(۱) سورة آل عمران : ۱۶-۱۷
(۲) سورة البقرة : ۱۵۳

بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِن لَّا تَشْعُرُونَ وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴾

یعنی اې ایمان والو! صبر (ثابت قدمي) او دعا سره مدد حاصل کړئ بیشکه الله پاک د صبر کونکو (ثابت قدم اوسیدونکو) سره دې. او څوک چه د الله پاک په لاره کښې وژلې شي هغوی ته مړی مه وایئ. بلکه هغوی ژوندی دی. خو تاسو ته خبر نشته. او مونږ به تاسو د ویرې او لوږې او مال او نفس او پیدوار په څه نه څه نقصان سره ازمیښت کوو. او صبر کونکو (یعنی ثابت قدم اوسیدونکو) ته زیرې ورکړه چه په هغوی باندې کله هم څه مصیبت راشي نو اوائی چه مونږ د الله پاک یو. او مونږ به الله پاک ته واپس کیږو. دا خلق دی. په دوی باندې د هغوی د رب د طرف نه رحمتونه دی او هم دوی هدایت یافته دی.

دې آیتونو بیان اوکړو چه مسلمانانو له څنګه ژوند تیرول پکار دی، چه په نفس او مال باندې څه مصیبت راشي هغه په صبر، ضبط نفس او ثابت قدمئ سره برداشت کړي، او دا اوګڼړي چه مونږ د الله پاک محکوم یو، آخری آواز به هم د هغه د طرف نه وی، په دې وجه د حق په لاره کښې مړه کیدل او د مال او دولت په لګولو کښې هیڅ قسم دریغ نه دی کول پکار. که په دې لاره کښې مرګ هم راشي نو هغه د همیش والی د ژوند زیرې دې. [1]

۲۱: باب (وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ)

)قَالَ الرَّبِيعُ بْنُ خُثَيْمٍ مِنْ كُلِّ مَا ضَاقَ عَلَى النَّاسِ.

د توکل او لغوی او اصطلاحی معنی: د توکل لغوی معنی د اعتماد کولو راځی، د شریعت په اصطلاح کښې د توکل معنی ده: اسباب اختیارولو سره د نتیجې په سلسله کښې په الله پاک باندې اعتماد کول. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

﴿ وأصل التوکل الوکول یقال وکلت أمری إلی فلان أی الجأته إلیه واعتمدت فیه علیه ووکل فلان فلانا استکفاه امره ثقة بکفایته والمراد بالتوکل اعتقاد ما دلت علیه هذه الآیة وما من دابة فی الأرض الا علی الله رزقها ﴾ [2]

یعنی: ﴿ توکل ﴾، وکول نه دې. پس وئیلې شي: ﴿ وکلت امری الی فلان ﴾ یعنی ما خپله معامله فلانی سړی ته اوسپارله او په دې معامله کښې ما په هغه باندې اعتماد اوکړو، د توکل نه مراد د دې آیت کریمه مدلول اعتقاد ساتل دی. ﴿ وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا ﴾ یاد ساتئ چه توکل د اسبابو د ترک کولو او جدوجهد او د کوشش پریخودلو نوم نه دې.

مولانا سید سلیمان ندوی رحمه الله لیکی: د توکل لفظی معنی اعتماد کول دی او په اصطلاح کښې په الله پاک باندې اعتماد کولو ته وائی خو په یو خبره کښې اعتماد کول. د چا په کار

[1]) سیرت النبی: ۲۴۶/۵

[2]) فتح الباری: ۲۷۰/۱۱

کولو یا نه کولو کښې؟ دروغژن صوفیانو ترک عمل، د اسباب او تدابیر نه بې پروائی او خپله نه کار نه کولو د نورو په اسره باندې ژوند تیرولو نوم توکل کیخودلې دې. حال دا چه توکل خونوم دې یو کار پوره کول اراده او عزم په تدبیر او کوشش سره ادا کول او دې یقین ساتلو چهکه په دې کار کښې خیر.دې نو الله پاک به مو ضرورت په دې کامیاب کړی که تدبیر او جدوجهد او کوشش لره ترک کول توکل وې. نو په دنیا کښې به د خلقو د پوهه کولو دپاره الله پاک پیغمبران نه رالیږل او نه به ئې هغوی ته د خپل تبلیغ. رسالت دپاره د کوشش او جدوجهد تاکید فرمائیلو او نه به په دې لاره کښې د نفس او مال د قربانئ حکم ورکولو. نه به بدر او احد او خندق او حنین کښې د سورو. غشو ویشتونکو. او زغرې اغوستونکی او نیزې ویشتونکو ته ضرورت راتلو او نه به رسول ﷺ یوې یوې قبیلې ته د حق د دعوت پیش کولو حاجت راتلو.

توکل د مسلمانانو د کامیابئ اهم راز دې. چه حکم اوشی چه کله هم جنګ یا ګران کار راپیښ شی. نو د ټولو نه مخکښې د هغې متعلق د خلقو نه مشوره واخلئ. د مشورې نه پس چه مو رائې په یو نقطه باندې اودریږی نو د هغې د پوره کولو عزم اوکړئ او د دې عزم نه پس کار ښه په بیدارئ او طریقې سره شروع کړئ، او په الله پاک باندې توکل او اعتماد ساتئ چه هغه به ستاسو په کار کښې د خواهش مطابق نتیجة پیدا کړی، که داسې نتیجه رانشی نو هغه د الله پاک حکمت مصلحت او خوښه اوګنړئ. او په هغې کښې مایوس او خفه کیږئ مه. او چه کله نتیجه ښکلې راوخی نو دا غرور دې نه وی چه دا ستاسو د تدبیر او جدوجهد نتیجه او اثر دې، بلکه دا اوګنړئ چه د الله پاک په تاسو باندې فضل او کرم دې او هم هغه تاسو کامیاب او بامراد کړئ. په آل عمران کښې دی:

﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ - إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴾

او کار (یا جنګ) کښې د هغوی نه مشوره اخله. بیا چه کله کلکه اراده اوکړې نو په الله پاک باندې اعتماد ساته. بیشکه الله پاک (الله باندې) اعتماد کونکی خوښوی. که الله پاک ستاسو مددګار وی نو په تاسو به څوک هم غالب نه شی، او که تاسو پریږدی نو بیا څوک دې چه د هغه نه روستو ستاسو امداد اوکړی، او خاص په الله پاک باندې ایمان والو له اعتماد کول پکار دی.

دې آیتونو د توکل پوره اهمیت او حقیقت ظاهر کړو. چه توکل د دوه لاسه او دوه خپې کیناستلو او ترک عمل نوم نه دې. بلکه د دې نوم دې چه پوره په عزم او ارادې او مستعد کیدو سره کار لره انجام ته رسولو سره اثر او نتیجه په الله پاک باندې پریخودلې شی. او دا اوګنړلې شی چه الله پاک مدد ګار دې نو څوک هم مونږ نه شی ناکام کولې. او که هم هغه نه غواړی نو د چا کوشش او مدد په کار نه شی راتلې. په دې وجه د هر مومن فرض دې چه هغه په خپل کار کښې په الله پاک باندې اعتماد اوکړی.[1]

[1] سیرة النبي صلی الله علیه وسلم ۵/۲۲۷، ۲۲۸

قوله: ﴿قَالَ الرَّبِيعُ بْنُ خُثَيْمٍ مِنْ كُلِّ مَا ضَاقَ عَلَى النَّاسِ﴾: ربيع بن خثيم جليل القدر تابعى او مشهور بزرگ دې، د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په صحبت كښې پاتې شوې دې او ابن مسعود رضی الله عنه به هغوى ته فرمائيل: ﴿لو راك رسول الله ﷺ لاحبك﴾ يعنى: كه رسول الله ﷺ ته ليدلې وې نو تا سره به ئې محبت كولې (۱)

دوى فرمائى چه د قرآن كريم آيت ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا﴾ او څوک چه د الله پاک نه اويريږى. الله پاک به د هغه دپاره د وتلو لاره جوړه كړى، كښې د مخرج نه مراد د وتلو لاره ده. يعنى د خلقو د تنګوالى نه به دهغه دپاره لاره پيداشى او د هر تنګ والى نه به هغه اوځى.

علامه عينى رحمه الله د ربيع بن خثيم دا تعليق ﴿ومن يتق الله﴾ سره نه دې متعلق كړې. بلكه د ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ متعلق منلې دې. هغوى ليكى:

﴿من كل ما ضاق أراد من يتوكل على الله فهو حسبه من كل ما ضاق على الناس وقال الكرمانى من كل ما ضاق يعنى التوكل على الله عام من كل أمر مضيق على الناس يعنى لا خصوصية فى التوكل فى أمر بل هو جار فى جميع الأمور التى تضيق على الناس﴾ (۲)

يعنى: ﴿من كل ما ضاق﴾ نه د هغوى مراد دا دې چه كوم سړې په الله پاک باندې كامل اعتماد اوكړى. نو الله پاک به د هغه د هرې تنګئ نه د هغه دپاره كافى شى. علامه كرمانى فرمائى چه د ﴿من كل ما ضاق﴾ نه مراد دا دې چه په الله پاک باندې توكل په څه خاص امر كښې مقصود نه دې. بلكه په ټولو امورو كښې په الله پاک باندې توكل كيدې شى. كوم چه په خلقو باندې د تنګسيا باعث جوړيږى.

[۶۱۰۷] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ حُصَيْنَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ كُنْتُ قَاعِدًا عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَقَالَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ، هُمُ الَّذِينَ لاَ يَسْتَرْقُونَ، وَلاَ يَتَطَيَّرُونَ، وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ». [ر: ۳۲۲۹]

د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: زما د امت اويا زره كسان به بې حساب جنت ته ځى، دا هغه خلق دى چه دم نه طلب كوى. بدفالى نه كوى او په خپل رب باندې توكل كوى

د حديث مناسبت د ترجمة الباب سره واضح دې.

۱) فتح البارى: ۳۷۰/۱۱، وعمدة القارى ۱۰۵/۲۳

۲) عمدة القارى: ۱۰۵/۲۳

۲۲: باب مَا يُكرَهُ مِنْ قِيلَ وَقَالَ

په قيل او قال کښې دوه احتمالات دي
① دا دواړه افعال دي، قيل ماضي مجهول او قال ماضي معروف ده. د دواړو آخري حرف چه لام دې د مبني بر فتحه کېدو د وجې نه به مفتوح لوستلې شي. مقصد دا دې چه په کثرت سره د خلقو خبرې رانقل کول. ﴿ قال كذا وكذا، قيل كذا وكذا ﴾ فلاني دا خبره اوکړه، هغه خبره ئې اوکړه. دا أووئيلې شو. هغه اووئيلې شو، دا يو مکروه او ناخوښه شغل دې ډيرې داسې خبرې غلطې نقل شي. څو خبرې بذات خود غلطې وي
② دويم احتمال دا دې چه دا دواړه اسماء دي. قيل او قال دواړه په طور د مصدر استعماليږي. ﴿ قال يقول قولا وقيلا وقالا ﴾ ... په دې صورت کښې به ﴿ من قيل وقال ﴾ معرب او مجرور وي او په آخري حرف لام باندې به تنوين لوستلې شي او مقصد ئې په دې صورت کښې هم واضح دې چه زياتې خبرې کول او بې فائدې بحثونه کول غوره نه دي [۱]

[۶۱۰۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْهُمْ مُغِيرَةُ وَفُلاَنٌ وَرَجُلٌ ثَالِثٌ أَيْضًا عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ وَرَّادٍ كَاتِبِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ مُعَاوِيَةَ كَتَبَ إِلَى الْمُغِيرَةِ أَنِ اكْتُبْ إِلَيَّ بِحَدِيثٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ الْمُغِيرَةُ أَنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ عِنْدَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلاَةِ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» . ثَلاَثَ مَرَّاتٍ قَالَ وَكَانَ يَنْهَى عَنْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ، وَمَنْعٍ وَهَاتِ، وَعُقُوقِ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدِ الْبَنَاتِ.
وَعَنْ هُشَيْمٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ وَرَّادًا يُحَدِّثُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. [ر: ۸۰۸]

سيدنا معاويه رضي الله عنه سيدنا مغيره بن شعبة رضي الله عنه ته خط اوليکلو چه ماته يو داسې حديث راوليږئ کوم چه تاسو خپله د رسول الله ﷺ نه اوريدلې وي، سيدنا مغيره رضي الله عنه هغوی ته اوليکل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دي. رسول الله ﷺ به چه د مانځه نه فارغ شو نو دا به ئې لوستل: ﴿ لا اله الا الله ﴾ ... د الله پاک نه سوا هيڅوک معبود نشته. يواځې دې. د هغه څوک هم شريک نشته. بادشاهي هم د هغه ده او ټول تعريفونه هم د هغه دپاره دي او هغه په هر څيز باندې قادر دې. رسول الله ﷺ دا کلمات درې کرته اولوستل.
سيدنا مغيره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ به قيل وقال (حجت بازی. او زيات سوالونه کول، د مال ضائع کولو، د خپل څيز محفوظ ساتلو او د بل چانه څيز په سوال غوښتلو. د مياندو نافرماني کولو او د جينکو ژوندو ښخولو نه منع کوله.

---
[۱] فتح الباري: ۳۷۱/۱۱، عمدة القاري: ۱۰۶/۲۳، ارشاد الساري ۴۷۳/۱۳

قوله: أَخْبَرَنَا غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْهُمْ مُغِيرَةُ وَفُلَانٌ وَرَجُلٌ ثَالِثٌ أَيْضًا: هشيم فرمائي چه ماته د يو نه زياتو شيوخو حديث اوروليې دې، په هغې كښې يو مغير بن مقسم او يو فلانې. د فلانى نه مجالد بن سعيد مراد دې، لكه چه په صحيح ابن خزيمة كښې دى.[1]
او يو دريم سړى هم ..... د رجل ثالث نه مراد داؤد بن ابى هند دې، لكه چه په صحيح ابن حبان كښې دى، يا زكريا بن ابى زائدة يا اسماعيل بن ابى خالد مراد دې لكه چه د طبرانى په روايت كښې دى.[2]
﴿وَعَنْ هُشَيْمٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ﴾ ..... دا د ماقبل سند سره متصل دې.

۲۳: باب حِفظِ اللِّسَان

وقول النبي صلى الله عليه وسلم «وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا، أَوْ لِيَصْمُتْ». وَقَوْلِهِ تَعَالَى (مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ/ ق: ۱۸/

امام بخاري رحمه الله په دې باب كښې د ژبې د حفاظت اهميت بيان فرمائيلې دې. امام بيهقى رحمه الله په شعب الايمان كښې د سيدنا ابوجحيفه رضي الله عنه يو مرفوع حديث نقل فرمائيلې دې. د هغې الفاظ دا دى:
﴿قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟» قَالَ: فَسَكَتُوا، فَلَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ، قَالَ: «هُوَ حِفْظُ اللِّسَانِ»﴾ يعنى د ژبې حفاظت كول د الله پاک په نزد محبوب عمل دې.[3]

قوله: ﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾: انسان چه هره خبره كوى. يو نګهبان تيار فرشته هغه سره موجود وى، هغه هغې له ضبط كوى. د رقيب معنى نګهبان او حافظ دہ، او د عتيد معنى تيار او حاضر دہ،
امام حسن بصرى او د قتادة په نزد دافرشته دانسان دخولې نه وتلې هره كلمه ضبط كوى.[4]
او د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما نه يو روايت دې چه صرف هغه كلمات ضبط او محفوظ كولې شى كوم چه باعث ثواب يا باعث عتاب وى.
په يو بل روايت كښې د دې تفصيل دې چه ضبط او محفوظ خو ټول كلمات كولې شى، د ژبې نه وتونكې هره كلمه ليكلې شى. خو د خير او شر متعلق كلمات باقى ساتلې شې او باقى ختمولې شى. د سورة رعد آيت كريمه ﴿يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ﴾ كښې هم دې طرف ته اشاره دہ.[5]

[1]) فتح البارى: ۳۷۳/۱۱، ارشاد السارى ۴۷۲/۱۳
[2]) فتح البارى: ۳۷۲/۱۱، ارشاد السارى ۴۷۲/۱۳
[3]) شعب الايمان للبيهقى، باب الرابع والثلاثون، باب فى حفظ اللسان، ۲۴۵/۴، رقم الحديث: ۴۹۵
[4]) فتح البارى: ۳۷۴/۱۱، ارشاد السارى ۴۷۳/۱۳، عمدة القارى ۱۰۸/۲۳
[5]) فتح البارى: ۳۷۴/۱۱، ارشاد السارى ۴۷۴/۱۳، عمدة القارى ۱۰۸/۲۳

[۶۱۰۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِي حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِي سَمِعَ أَبَا حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ». [۶۴۲۲]

د سيدنا سهل به سعد ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ماته چه څوک د دوه جامو ترمينځه څيز (ژبې او غابښونو) او د دوارو خپو ترمينځه د څيز (شرمګاه) (د حفاظت) ذمه دارى راکړى. زه به د هغه دپاره د جنت ذمه دارى ورکوم.

قوله: ﴿مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ﴾:د دوه جامو ترمينځه دوه څيزونه دى. يو ژبه او دويم غابښونه. مقصد دا دې چه څوک ماته د دې خبرې ضمانت راکړى چه هغه به خپله ژبه د حرامو خبرو نه بچ كوى او خپله خوله او غابښونه به د حرامو څكلو نه بچ كوى. نو زه هغه ته د جنت ضمانت وركوم.

قوله: ﴿وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ﴾:د دې نه شرمګاه مراد ده يعنى څوک چه د خپلې شرمګاه حفاظت كوى. په شهوت باندې قابو بيا مومى. او هغه د حرامو نه بچ كوى نو د هغه دپاره د جنت ضمانت رسول الله ﷺ اخستلې دې.

[۶۱۱۰] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا، أَوْلِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ». [ر ۳۱۵۳]

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوک چه په الله پاک او آخرت باندې ايمان لرى. هغه له پكار دى چه ښه خبره كوى ګينې خاموش دې اوسيږى او څوک چه په الله پاک او آخرت باندې ايمان لرى هغه دې خپل ګاونډى د تكليف نه بچ كوى او څوک چه الله پاک او آخرت باندې ايمان لرى نو د خپل ميلمه اكرام دې كوى.

[۶۱۱۱] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا لَيْثٌ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْمَقْبُرِي عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِي قَالَ سَمِعَ أُذُنَاىَ وَوَعَاهُ قَلْبِي النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «الضِّيَافَةُ ثَلاَثَةُ أَيَّامٍ جَائِزَتُهُ». قِيلَ مَا جَائِزَتُهُ قَالَ «يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا، أَوْلِيَسْكُتْ». [ر ۵۶۷۳]

سيدنا ابو شريح خزاعى ﷺ فرمائى چه زما دوارو غوږونو واوريدله او زما زړه محفوظ كړه چه رسول الله ﷺ فرمائيلې وو. ميلمستيا تر درې ورځو پورې ده او هم په دې كښې د ميلمه جائزه (انعام) هم دې. تپوس اوكړې شو. چه د هغه جائزه څه ده؟ وې فرمائيل : يوه ورځ او يوه شپه (خاص ميلمستيا) او څوک چه په الله پاک او آخرت باندې ايمان لرى نو هغه له د خپل ميلمه عزت كول پكار دى او څوک چه په الله او آخرت باندې ايمان لرى. هغه له پكار

دي چه ښه خبره کوي کنې خاموش اوسیږي د ابوالولید نوم هشام بن عبدالملک دې. د ابو شریح نوم خویلد دې

قوله: ﴿الضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ جَائِزَتُه﴾: جائزته: مرفوع دې. مبتدا دې. خبر محذوف دې. ﴿اى منها جائزته﴾ او دا منصوب هم لوستلې شي. په دې صورت کښې به د هغه فعل ناصب محذوف وي. ﴿اى اعطوا جائزته﴾ [۱]

[۲] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ يَزِيدَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ فِيهَا، يَزِلُّ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ». [۶۱۱۲، ۶۱۱۳]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی د رسول الله ﷺ نه واوریدل. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بنده یو خبره کوي او د هغې متعلق سوچ نه کوي (چه څومره ورانه خبره ده) چه د هغې د وجې نه هغه خوئیدو سره په دوزخ کښې د مشرق او مغرب د فاصلې نه هم زیات لرې لاړ شي

د ابن ابی حازم نوم عبدالعزیز بن سلمه بن دینار دې. د یزید د پلار نوم عبدالله دې او هغه په ابن الهاد سره مشهور دې. د سند ټول راویان مدنی دی او په دې کښې یزید. محمد بن ابراهیم او عیسی بن طلحه درې واړه تابعین دی. [۳]

قوله: ﴿أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ﴾: د صحیح بخاری په نسخو کښې هم دغه شان واقع دې لفظ ﴿بین﴾ په ډیرو خیزونو باندې د دخول تقاضه کوي او دلته صرف د مشرق ذکر دې کوم چه یو دې متعدد نه دی.

د دې جواب دا دې چه مشرق معنوی لحاظ سره متعدد کیدې شی. مثلاً د ګرمئ په زمانه کښې مشرق. د یخنئ په زمانه کښې د مشرق نه مختلف وي.

او دا هم وئیلې کیدې شی چه دلته په دوه متقابلین کښې د یو په ذکر کولو باندې اکتفاء اوکړې شوه.

---

[۱] فتح الباری: ۳۷۷/۱۱، عمدة القاری ۱۰۹/۲۳، وقال: لو صحت الروایة بالرفع کان تقدیره: المتوجه علیکم جائزته.

[۲] اخرجه مسلم فی الزهد والرقاق، باب: التکلم بالکلمة یهوی بها فی النار (حفظ اللسان)، رقم: ۲۹۸۸. (ما یتبین فیها) لا یتدبرها ولا یتفکر فی قبحها وما یترتب علیها. (یزل بها) ینزلق بسببها ویقرب من دخول النار. (ابعد مما ..) وفی بعض النسخ (ابعد ما) کنایة عن عظمها ووسعها، کذا فی جمیع نسخ البخاری (ابعد مما بین المشرق) وفی مسلم (ابعد ما بین المشرق والمغرب).

[۳] فتح الباری: ۳۸۶/۱۱، ارشاد الساری ۴۷۷/۱۳، عمدة القاری ۱۰۹/۲۳

د صحيح مسلم په روايت كښې د ﴿ ابعد ما بين المشرق والمغرب ﴾ مشرق او مغرب دواړو ذكر دې پس حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله ليكى :

﴿ كذا في جميع النسخ التي وقعت لنا في البخاري وكذا في رواية إسماعيل القاضي عن إبراهيم بن حمزة شيخ البخاري فيه عند أبي نعيم وأخرجه مسلم والإسماعيلي من رواية بكر بن مضر عن يزيد بن الهاد بلفظ أبعد ما بين المشرق والمغرب وكذا وقع عند ابن بطال وشرحه الكرماني على ما وقع عند البخاري فقال قوله ما بين المشرق لفظ بين يقتضي دخوله على المتعدد والمشرق متعدد معنى إذ مشرق الصيف غير مشرق الشتاء وبينهما بعد كبير ويحتمل أن يكون اكتفى بأحد المتقابلين عن الآخر مثل سرابيل تقيكم الحر قال وقد ثبت في بعضها بلفظ بين المشرق والمغرب ﴾ (١)

[٦١١٣] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ - يَعْنِي ابْنَ دِينَارٍ - عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً، يَرْفَعُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ ».

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل بنده د الله پاک د رضا دپاره يو خبره د ژبې نه راوباسى. هغې ته هيڅ اهميت نه وركوى. خو هم د هغې د وجې نه الله پاک د هغه درجې اوچتوى او بل بنده يو داسې كلمه د ژبې نه راوباسى كومه چه د الله پاک د ناراضتيا سبب وى، هغه هغې ته څه اهميت نه وركوى خو د هغې د وجې نه هغه سړې جهنم ته لاړ شى.

ذ ابو النضر نوم هاشم بن ابى القاسم دې. او ابو صالح. د ذكوان بن سمان كنيت دې.

قوله: ﴿ يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ ﴾ يعنى د هغې كلمې په ذريعه هغه جهنم ته اوغورځيږى.

﴿ هوى، يهوى ﴾ معنى ده: د پورته نه لاندې راغورځيدل. په قرآن كريم كښې دى ﴿ وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى ﴾ قاضى عياض رحمه الله د دې ترجمه كړې ده ﴿ ينزل فيها ساقطا ﴾ يعنى هغه جهنم ته اوغورزيږى او په يو روايت كښې دى ﴿ ينزل بها في النار ﴾ ځكه چه د جهنم لاندې پورې مختلف طبقات او مقامات دى بعض خلقو په ﴿ اهوى ﴾ او ﴿ طوى ﴾ كښې فرق كړې دې او وئيلې ئې دى چه د ﴿اهوى﴾ معنى ده : نزدې نه راغورځيدل، او د هوى معنى ده د لرې نه راغورځيدل.

امام ترمذى رحمه الله دا حديث نقل كړې دې، د دې الفاظ دا دى : ﴿ لايرى به باسا يهوى في النار سبعين خريفا ﴾ (٢)

---

(١) فتح البارى : ٣٧٦/١٠

(٢) الحديث اخرجه الترمذى فى كتاب الزهد، باب فيمن يتكلم بكلمة يضحك بها الناس : ٥٥٧/٤، رقم الحديث : ٢٣١٣، د تفصيل دپاره اوګورئ : فتح البارى : ٣٧٧/١١، وعمدة القارى ١١٠/٢٣

ابن عبد البر رحمه الله فرمائی : ﴿هی کلمة السوء عند السلطان الجائر﴾ یعنی د ظالم بادشاه د خوشحالولو د خاطره د گناه خبره کول مراد دی.

او عزالدین ابن عبد السلام فرمائی : ﴿هی الکلمة التی یعرف حسنها من قبحها، فیحرم علی الانسان ان یتکلم بما لا یعرف حسنه من قبحه﴾ [1].

یعنی : د دې نه هغه کلمه مراد ده چه د هغې د ښه او بد کیدو تمیز نه شی کیدې. لهذا د انسان دپاره داسې خبره کول حرام دی چه د هغې د خوبئ او تمیز نه شی کیدې.

د حدیث الباب مطلب : د حدیث شریف مقصد دا دې چه ډیر کرته انسان د ژبې نه یو جمله اوباسی او هغه د الله پاک د رضا او خوشحالولو جمله وی. د دې جملې اهمیت او د هغې د عظمت ویونکی ته احساس هم نه وی، خو الله پاک د هغې په وجه باندې درجات اوچتوی.

د دې برعکس. ډیر کرته انسان د ژبې نه یو کلمه اوائی. د هغې د شناعت او قباحت انسان ته احساس نه کیږی خو هغه د الله پاک په ناراضتیا باندې مشتمل یو سخته جمله وی. انسان ته پته هم نه لگی، او د هغې د وجې نه جهنم ته لاړ شی.

په دې وجه ضرورت د دې خبرې دې چه د ژبې نه وتونکې هره کلمه. د هرې جملې د ادا کولو نه مخکښې غور اوکړې شی او د سوچ کولو نه پس ژبه پرانستلې شی چه د ژبې د دې وړې شان د غوښې د ټکړې معامله ډیره حساس وی. ﴿جرمه صغیر وجرمه کبیر﴾ د دې وجود ورکوټې خو جوثه ئې لویه وی.

سیدنا سفیان بن عبد الله الثقفی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : یا رسول الله ﷺ زما په حق کښې د ټولو نه خطرناک څیز څه دې؟ رسول الله ﷺ خپله ژبه مبارکه اونیوله او وې فرمائیل : دا ؛ هم دغه شان د سیدنا عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : یا رسول الله! د خلاصی څه صورت دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : خپله ژبه په قابو کښې ساتئ. [2]

---

[1]) فتح الباری : ۱۱/۳۷۶،۳۷۷، ارشاد الساری ۱۳/٤۷۷

قال ابن بطال : قال أهل العلم : هی الکلمة عند السلطان بالبغی والسعی علی المسلم ، فربما کانت سببًا لهلاکه ، وإن لم یرد ذلک الباغی ، لکنها آلت إلی هلاکه ، فکتب علیه إثم ذلک . والکلمة التی یکتب الله له بها رضوانه الکلمة یرید بها وجه الله بین أهل الباطل ، أو الکلمة یدفع بها مظلمة عن أخیه المسلم ، ویفرج عنه بها کربةً من کرب الدنیا ، فإن الله تعالی یفرج عنه کربةً من کرب الآخرة ، ویرفعه بها درجات یوم القیامة. (شرح ابن بطال : ۱۱/۱۸۹)

[2]) قال الحافظ ابن حجر رحمه الله :

وورد فی فضل الصمت عدة أحادیث منها حدیث سفیان بن عبد الله الثقفی قلت یا رسول الله ما أخوف ما تخاف علی قال هذا وأخذ بلسانه أخرجه الترمذی وقال حسن صحیح.

وتقدم فی الإیمان حدیث المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده.

ولأحمد وصححه بن حبان من حدیث البراء وکف لسانک الا من خیر. ...[بقیه برصفحه آئنده...

٢٤: باب البُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ

[٦١١٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ، رَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ». [ر ٦٢٩]

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. اووهٔ قسم خلق دي چاته چه به الله پاک په خپل سورى کښې ځائې ورکوى. (په هغوى کښې يو) هغه سړې چا چه الله پاک ياد کړو او د هغه د سترګو نه اوښکې اوبهيدلې.

د الله پاک په ياد کښې د ژړا فضيلت : امام بخارى ﷺ په دې باب کښې د الله پاک د ويرې او خشيت د وجې نه د ژړلو فضيلت بيان فرمائيلې دې. حديث الباب واضح دې.

امام احمد ﷺ د سيدنا ابوريحانة ﷺ نه يو مرفوع روايت نقل فرمائيلې دې. په هغې کښې دى : ﴿حُرِّمَتِ النَّارُ عَلَى عَيْنٍ دَمَعَتْ أَوْ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ﴾ (١)

يعنى : په هغه سترګه باندې د جهنم اور حرام دې کوم چه د الله پاک د ويرې نه لونده شى

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿لَا يَلِجُ النَّارَ أَحَدٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ﴾ يعنى : کوم سړې چه د الله پاک د ويرې نه ژړلى وى هغه به جهنم ته نه داخليږى (ترڅو چه پئ غلانزې ته واپس نه شي). (٢)

الله پاک لره د يادولو صورتونه : ابن ابى جمرة الأزدى اندلسى ﷺ د بخارى اختصار ليکلې دې او د هغه مختصر ئې بيا شرح ليکلې ده. چه د هغې نوم هغوى بهجة النفوس کيخودلې دې. په دې کتاب کښې هغوى د احاديثو نه د تصوف د مسائلو استنباط فرمائيلې دې.

...بقيه ازحاشيه گذشته] وعن عقبة بن عامر قلت يا رسول الله ما النجاة قال أمسک عليک لسانک الحديث أخرجه الترمذي وحسنه.

وفى حديث معاذ مرفوعا ألا أخبرک بملاک الأمر کله کف هذا وأشار إلى لسانه قلت يا رسول الله وانا لمؤاخذون بما نتکلم به قال وهل يکب الناس فى النار على وجوههم الا حصائد ألسنتهم أخرجه أحمد والترمذي وصححه والنسائى وبن ماجة کلهم من طريق أبى وائل عن معاذ مطولا وأخرجه احمد أيضا من وجه أخر عن معاذ.

وزاد الطبرانى فى رواية مختصرة ثم انک لن تزال سالما ما سکت فإذا تکلمت کتب عليک أو لک وفى حديث أبى ذر مرفوعا عليک بطول الصمت فإنه مطردة للشيطان أخرجه احمد والطبرانى وبن حبان والحاکم وصححاه.

وعن بن عمر رفعه من صمت نجا أخرجه الترمذي ورواته ثقات. وعن أبى هريرة رفعه من حسن إسلام المرء ترکه ما لا يعنيه أخرجه الترمذى وحسنه.(فتح البارى:١٠/٣٧٤)

(١) مسند الامام احمد بن حنبل : ٨٦١/٥، رقم الحديث : ١٧٣٤٥ (حسن لغيره)

(٢) مستدرک الامام الحاکم، کتاب التوبة والانابة : ٢٨٩/٤، رقم الحديث : ٧٦٦٧

مولانا ظفر احمد عثمانی صاحب رحمه الله د بهجة النفوس ترجمه د رحمة القدوس په نوم باندې کړې دہ. د دې حدیث د لاندې لیکی:

دلته یو سوال بل دې چه الله پاک لره د یادولو نه مراد ظاهری یواځې والې دې یا که باطنی یا که د دواړو مجموعه؟ د ظاهری یواځې والی مطلب خو دا دې چه په یو ځائې کښې یواځې شی. هغه سره بل هیڅ څوک نه وی او د باطنی یواځې والی معنی دا ده چه د هغه د زړا سبب صرف د الله پاک ویره وی بل ئې هیڅ سبب نه وی او د مجموعه صورت دا دې چه هغه سره بل څوک هم نه وی او د ژړا سبب ئې هم د الله پاک نه سوا هیڅ نه وی.

که دا دواړه خبرې یوځائې ته راجمع شی نو په دې کښې شک نشته چه دا حالت زیات کامل دې او که یواځې والې پوره وی. ورسره څوک هم نه وی خو (الله پاک لره یادولو سره) په بل څه خیال باندې په ژړا شو. د الله پاک (د ویرې) د وجې نه ئې نه وی ژړلې. نه ئې د الله پاک د یاد د وجې نه (په محبت کښې) ژړلی دی نو بالاتفاق دا حالت هغه نه دې چه د هغې طرف ته اشاره کړې شوې ده. بلکه دا حالت مذموم دې. ځکه چه دا دهوکه (باندې مشتمل) ده.ظاهروی خو دا چه د الله پاک د ویرې د وجې نه ئې ژړلی دی (ځکه په یاد الهی سره پرې ژړا راغلې ده) خو په حقیقت کښې داسې نه ده بلکه اوښکې ئې الله پاک لره یادولو سره په ظاهر کښې راوځی. (خو چه هر کله په یواځې والی کښې ژړیدل فرض کړې شوې دی نو د دهوکې څه معنی؟ د دهوکې صورت خو هغه دې چه کله په مجمع کښې ذکر وی او د الله پاک د یاد د وجې نه ئې ژړلې وی او کوم صورت چه شارح بیان کړې دې په هغې کښې نه دهوکه ده او نه ثواب.

پاتې شو دریم صورت چه په جمع کښې الله پاک لره یادوی. او زړه ئې د الله پاک نه علاوه د نورو ځیزونو نه خالی وی. د ذکر الله په اثر سره ئې اوښکې وتلې وی نو امید دې چه دا سړې هم په هغه بابرکت خلقو کښې داخل دې (د چا چه په حدیث کښې ذکر دې، ځکه چه په هغه باندې هم باطنا دا خبره صادق ده چه هغه په خلوت کښې الله پاک یاد کړې دې (ځکه چه د هغه باطن د ما سوا الله نه خالی وو اګر چه ظاهرا په مجمع کښې وو) او کوم صورت چه په طور د احتمال د حدیث د لاندې وی هلته امید خو (ضرور) وی اګر چه یقینی صورت هم هغه دې کوم ځائې کښې چه د حدیث مضمون پوره موندلې شی او هغه هم هغه صورت دې چرته چه دواړه خبرې جمع وی (یعنی خلوت ظاهر هم. خلوت باطن هم).

د ذکر الله نه څه مراد دې؟ دلته یو بل سوال دې. هغه دا چه د ذکر الله نه مراد هغه ذکر دې کوم چه په ژبه او شونډو سره وی یا هغه چه په زړه سره وی. اګر چه ژبې له حرکت نه ورکوی یا چه په هر صورت کښې وی (ایا هغې ته به په هر حال کښې) ذکر وئیلې شی؟

جواب دا دې چه په دې صورتونو کښې په هر یو باندې ذکر الله صادقیږی چه د هغې دلیل د رسول الله ﷺ ارشاد دې. کوم چه په صحیح حدیث قدسی کښې راغلې دې:

﴿من ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي ومن ذكرني في ملاء من الناس ذكرته في ملاء اكثر منهم واطيب﴾ (۱)

---

(۱) مسند الامام احمد بن حنبل: ۳۳۳/۳، رقم الحديث: ۸۶۳۵

يعنى : چا چه زه په خپل زړه كښې ياد كړم. زه به هغه په خپل نفس كښې ياد كړم او څوک چه ما په جماعت كښې يادوى. زه به هغه د هغې نه په غوره جماعت كښې ياد كړم
نو رسول اللهﷺ دواړو ته د ذاكر لقب وركړې دې او طفيلي خو د دې نه هم په كمه بهانه باندې اميد ترى. بيا د صوفياء كرامو په مذهب خو ذكر قلبي افضل دې
فائده : د ذكر افضل صورت : مولانا ظفر احمد تهانوى صاحبؒ ليكى
د حكيم الامتؒ هم دا تحقيق دې چه د ټولو نه افضل ذكر هغه ذكر دې چه په هغې كښې د ذكر لسانى سره ذكر قلبى راجمع وى. يواځې ذكر قلبى اګر چه افضل دې خو مختلف فيه دې. دويمه تجربه دا ده چه صرف ذكر قلبى د ډير وخته پورې نه وى. لږ ساعت پس زړه يوخوا بل خوا متوجه شى او دا سړې په دهوكه كښې وى چه زه ذكر قلبى كوم. خو كه د هغه زړه په ذكر قلبى كښې د غير حق طرف ته نه متوجه كيږى نو هغه ته د ذكر لسانى ضرورت نشته. كه په دې سره ئې ويره پيدا كيږى، بنه ځان پوهه كړه. (١)

٢٥: بَابُ الْخَوْفِ مِنَ اللهِ

[٦١١٥] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ رِبْعِيٍّ عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «كَانَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ يُسِيءُ الظَّنَّ بِعَمَلِهِ، فَقَالَ لأَهْلِهِ إِذَا أَنَا مُتُّ فَخُذُونِي فَذَرُّونِي، فِي الْبَحْرِ فِي يَوْمٍ صَائِفٍ، فَفَعَلُوا بِهِ، فَجَمَعَهُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ مَا حَمَلَكَ عَلَى الَّذِي صَنَعْتَ قَالَ مَا حَمَلَنِي إِلاَّ مَخَافَتُكَ. فَغَفَرَ لَهُ». [ر ٣٢٩٢]

د سيدنا حذيفهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل : د مخكښې امتونو د يو سړى ګمان د خپلو اعمالو متعلق خراب وو. هغه د خپل كور خلقو ته اووې چه كله زه مړ شم نو ما په ګرمه ورځ كښې اوچتولو سره په درياب كښې اوشيندئ، د هغه د كور خلقو هغه سره هم دغه شان اوكړل. بيا الله پاک هغه راجمع كړو او د هغه نه ئې تپوس اوكړو چه تا داسې ولې اوكړل د دې څه وجه ده؟ هغه سړى اووې چه زه په دې باندې صرف ستا ويرې تيار كړې اوم. پس الله پاک د هغه مغفرت اوكړو

(رِبْعِيّ) د راء په كسرې او د باء په سكون سره او د عين په كسرې سره، د هغوى د پلار نوم خراش دې (بكسر الخاء).

قوله (يُسِيءُ الظَّنَّ بِعَمَلِهِ) : د خپل عمل په باره كښې هغه سړې بدګمانه وو. په صحيح ابن حبان كښې دى چه دا سړې كفن پټونكې وو. (٢)

(ذَرُّونِي) : دا د باب تفعيل نه د امر حاضر معروف جمع مذكر صيغه ده. (تذرية) په هوا كښې الوځول، متفرق كول. (يوم صائف) ګرمه ورځ.

---

(١) رحمة القدوس ترجمة بهجة النفوس. ص : ٣٠
(٢) ارشاد السارى ٤٧٩/١٣، وفتح البارى : ٣٨٠/١١

د هغه په خيال کښې دا وو چه کله د هغه د بدن ذرات په سمندر کښې خوارهٔ شي نو هغه به د عذاب نه بچ شي.

په وړاندې روايت کښې د دې نور هم تفصيل دې:

[۶۱۱۶] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ سَمِعْتُ أَبِي حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَبْدِ الْغَافِرِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رضي الله عنه-عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- ذَكَرَ رَجُلاً فِيمَنْ كَانَ سَلَفَ أَوْ قَبْلَكُمْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً وَوَلَدًا - يَعْنِي أَعْطَاهُ قَالَ - فَلَمَّا حُضِرَ قَالَ لِبَنِيهِ أَيَّ أَبٍ كُنْتُ قَالُوا خَيْرَ أَبٍ. قَالَ فَإِنَّهُ لَمْ يَبْتَئِرْ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرًا - فَسَّرَهَا قَتَادَةُ لَمْ يَدَّخِرْ - وَإِنْ يَقْدَمْ عَلَى اللَّهِ يُعَذِّبْهُ فَانْظُرُوا، فَإِذَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي، حَتَّى إِذَا صِرْتُ فَحْمًا فَاسْحَقُونِي - أَوْ قَالَ فَاسْهَكُونِي - ثُمَّ إِذَا كَانَ رِيحٌ عَاصِفٌ فَأَذْرُونِي فِيهَا. فَأَخَذَ مَوَاثِيقَهُمْ عَلَى ذَلِكَ وَرَبِّي فَفَعَلُوا فَقَالَ اللَّهُ كُنْ. فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ، ثُمَّ قَالَ أَيْ عَبْدِي مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ قَالَ مَخَافَتُكَ - أَوْ فَرَقٌ مِنْكَ - فَمَا تَلاَفَاهُ أَنْ رَحِمَهُ اللَّهُ». فَحَدَّثْتُ أَبَا عُثْمَانَ فَقَالَ سَمِعْتُ سَلْمَانَ غَيْرَ أَنَّهُ زَادَ فَأَذْرُونِي فِي الْبَحْرِ. أَوْ كَمَا حَدَّثَ. وَقَالَ مُعَاذٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ عُقْبَةَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم-. [ر: ۳۲۹۱]

د سيدنا ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم (د تيرو امتونو) د يو سړي ذکر اوفرمائيلو چه الله پاک هغه ته مال او اولاد ورکړې وو. وې فرمائيل چه کله د هغه د مرګ وخت رانژدې شو نو هغه د خپلو ځامنو نه تپوس اوکړو: د پلار په حيثيت سره زهٔ ستاسو دپاره څنګه اوم؟ ځامنو ئې اووې: ته ډير غوره پلار ئې. بيا هغه سړي اووې چه هغه الله پاک سره هيڅ نيکی نه ده جمع کړې (قتاده د ﴿لم يبتئر﴾ تفسير ﴿لم يدخر﴾ سره کړې دې) چه که هغه الله پاک ته پيش کړې شو نو الله پاک به هغه ته عذاب ورکوی. (هغه خپلو ځامنو ته اووې چه) ګورئ! چه کله زهٔ مړ شم نو زما بدن اوسيزئ او چه کله زهٔ سکارهٔ شم نو ما اوړهٔ کړئ او د يوې تيزې هوا په ورځ باندې ما په هغې کښې والوځوئ. هغه د خپلو ځامنو نه په دې لوظ واخستلو، پس ځامنو هغه سره هم دغه شان معامله اوکړه. بيا الله پاک اوفرمائيل: چه اوشه! پس سړې ولاړ په نظر راغلو. الله پاک ترې تپوس اوکړو اې زما بنده! تا چه دا کوم حرکت کړې دې دې ته کوم څيز تيار کړې؟ هغه اووې: ستا ويرې! الله پاک رحم کولو سره د (هغه ګناهونه معاف کولو سره هغه) کمې پوره کړو.

قوله: ﴿فَاسْحَقُونِي، أَوْ قَالَ فَاسْهَكُونِي﴾: د ﴿سحق﴾ او ﴿سهق﴾ دواړو معنی د ميده کولو ده.

﴿فَأَذْرُونِي﴾ د باب نصر نه ذرا- ذروا، او د باب ضرب نه ذری- ذريا او د باب افعال نه اذری- اذراء او د تفعيل نه ذری-تذرية. د ټولو يوه معنی ده. ذره ذره کول. ذره ذره کولو سره د هوا

په رخ پریخودل [۱]

قوله: ﴿فَمَا تَلَافَاهُ أَنْ رَحِمَهُ اللَّهُ﴾: علامه عینی رحمه الله لیکی:

﴿کلمة ما موصولة وکلمة أن مصدرية أی الذی تلافاه أی تدارکه بأن رحمه أی بالرحمة والضمیر المنصوب فی تلافاه یرجع إلی عمل الرجل ویجوز أن یکون ما نافية وکلمة الاستثناء محذوفة علی مذهب من یجوز حذفها أی ماتلافاه إلا أن رحمه﴾ [۲]

یعنی: دلته ما موصوله او ان مصدریه دي. معنی داسې شوه ﴿الذی تلافاه وتدارکه بالرحمة﴾ او ﴿تلافاه﴾ ضمیر منصوب مرجع عمل رجل دي. مطلب دا شو چه الله پاک په خپل رحمت سره د هغه سړي کمي پوره کړو، دا هم کیدې شی چه ﴿ما﴾ نافیه وی او حرف استثناء محذوف وی، دا د هغه حضراتو په مسلک باندې دې کوم چه د حرف استثناء حذف جائز گڼړی، په دې صورت کښې به ئې معنی دا وی: ﴿ماتلافاه الا ان رحمه﴾ یعنی: الله پاک د هغه د بدعملئ کمې پوره کړو، په هغې باندې رحم فرمائیلو سره.

قوله: ﴿فَأَخَذَ مَوَاثِيقَهُمْ عَلَى ذَلِكَ وَرَبِّي﴾: ﴿مواثیق﴾ د میثاق جمع ده. عهد ته وائی. یعنی هغه سړي د ټولو نه عهد واخستلو او هغوی ته ئې اووې چه په تاسو کښې دې هر یو ﴿وربی لافعلن کذا﴾ اوائی.

او دا هم احتمال دې چه دا خبر ورکونکی قسم خوړلې دې چه قسم په الله! هغه د ټولو نه عهد واخستلو. خبر ورکونکې قسم خوړلو سره دا بیانول غواړی چه هغه په خپله خبره کښې رشتینې دې. [۳]

قوله: ﴿وقال معاذ﴾: د معاذ بن معاذ دا تعلیق امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړې دې. [۴] په حدیث الباب کښې عقبه بن عبدالغافر، د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه نه په ﴿عن﴾ سره نقل کوی. په دې تعلیق کښې د سماع حدیث تصریح ده.

قوله: ﴿قَالُوا خَيْرَ أَبٍ﴾: ﴿خیراب﴾ منصوب هم لوستلې شی، په دې صورت کښې به د دې عامل ناصب ﴿کنت﴾ مقدر وی. ﴿ای کنت خیراب﴾ او مرفوع ئې هم لوستلې شی. په دې صورت کښې به دا د مبتدا محذوف ﴿انت خیر﴾ وی، ﴿ای انت: خیراب﴾ [۵]

---

[۱] ارشاد الساری ۴۷۹/۱۳، وفتح الباری: ۳۸۰/۱۱، وعمدة القاری: ۱۱۱/۲۲، ۱۱۲

[۲] عمدة القاری: ۱۱۴/۲۳

[۳] ارشاد الساری ۴۸۰/۱۳، وعمدة القاری: ۱۱۴/۲۳

[۴] ارشاد الساری ۴۸۰/۱۳، وعمدة القاری: ۱۱۴/۲۳

[۵] ارشاد الساری ۴۸۰/۱۳، وعمدة القاری: ۱۱۴/۲۳

قوله: ﴿ مَخَافَتُكَ، أَوْفَرَقٌ مِنْكَ ﴾:د راوی شک دې چه ﴿ مَخَافَتُكَ ﴾ یا ﴿ فَرَقٌ مِنْكَ ﴾ ئې اووې. ﴿ فرق ﴾ (د فاء او راء په فتحې سره) په معنی د خوف راځی.

يو اشكال او د هغې جوابات: دې سړی خپل اولاد ته وصيت اوکړو چه د مرګ نه پس دې د هغه بدن د سيزلو نه پس ذره ذره کولو سره په سمندر کښې ګزار کړې شی چه د آخرت حساب د هغه سره او نه شی. ګويا د الله پاک مخکښې د حساب نه د بچ کيدلو هغه سړی دا تدبير سوچ کړو. په بعض روايتونو کښې د هغه دا قول هم دې چه ﴿ فوالله لئن قدر الله علی ليعذبنی ﴾ يعنی که الله پاک په ما باندې د مرګ نه پس قدرت حاصل کړو نو ماته به زما د ګناهونو د وجې نه عذاب راکړی. د دې نه معلوميږی چه دا سړې د الله پاک د قدرت نه جاهل وو. هغه ته دا معلومه نه وه چه الله پاک د انسان په دوباره ژوندی کولو باندې قادر دې، اګر که د هغه بدن ذره ذره کولو سره د هواګانو په رخ اوشيندلې شی نو د الله پاک د قدرت کامله نه د ناخبره انسان ته څنګه بخښنه اوکړې شوه.

① د دې يو جواب خو دا ورکړې شوې دې چه دا سړې د مرګ نه مخکښې په خپلو کړو ګناهونو باندې پښيمانه شوې وو ﴿ والندمة التوبة ﴾ او پښيمانه کيدل توبه ده. د دې ندامت او توبې د وجې نه هغه ته بخښنه اوکړې شوه. هر چه د ﴿ فوالله، لئن قدر الله علی ليعذبنی ﴾ والا روايت تعلق دې، په هغې کښې د قدر معنی د تنګولو ده، د قدر معنی د قادر کيدو هم راځی او د تنګولو هم راځی. په سورة طلاق آيت ۷ کښې دی ﴿ ومن قدر عليه رزقه ﴾ او د سورة فجر په آيت ۱۲ کښې دی ﴿ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴾ په دې کښې د قدر معنی د تنګولو ده، نو د دې روايت مطلب دا دې چه که د مرګ نه پس الله پاک په ما باندې تنګسيا راوستله او د فراخئ معامله ئې او نه فرمائيله نو ماته به عذاب راکړی. د دې تفسير مطابق د الله پاک د قدرت نه د جهالت سوال نه پيدا کيږی.

② او که ﴿ فوالله، لئن قدر الله علی ﴾ د قدرت په معنی کښې هم واخستلې شی نو زيات نه زيات به دا وئيلې شی چه هغه دا جمله د خپل جهالت په بناء په غلطئ سره وئيلې ده او د جهالت په بناء داسې غلطی د معاف کيدو قابل کيدې شی.

③ او دا هم وئيلې شو چه د زياتې ويرې د وجې نه، د هغه د ژبې نه دا جمله اُزوتله. او پوهه پرې نه شو. د زياتې ويرې د وجې نه هغه په ناپوهئ کښې دا جمله اووې، کومه چه د معافئ قابله ده. په حديث کښې راځی د جهنم نه وتلو سره چه کوم سړې د ټولو نه آخر کښې جنت ته داخليږی او الله پاک هغه ته اوائی : ﴿ إِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا ﴾ ستا دپاره د دنيا او د هغې لس چنده جنت دې نو هغه به د زياتې خوشحالئ نه دوه کرته اوائی ﴿ رب انت عبدی وانا ربك ﴾ (يعنی اې زما ربه! ته زما بنده ئې او زه دې رب يم) دا کلمه د کفر ده خو د خوشحالئ نه مغلوب کيدو سره د هغه د ژبې نه دا جمله په ناپوهئ کښې اووتله. په دې وجه به دې ته کفر

نه شی وئیلې. او هغه به د مواخذې قابل نه وی.
هم دغه شان د هغه سړی ﴿ لئن قدر الله علی لیعذبنی ﴾ وئیل هم د زیاتې ویرې په حالت کښې وو. او په ناپوهئ سره د هغه د ژبې نه اووتل نو په عام حالاتو کښې اګر چه دا د کفر کلمه ده خو د الله پاک د ویرې نه مغلوب کیدو سره چونکه د هغه د ژبې نه دا خبره وتلې ده. په دې وجه به دې خبرې ته د هغه سړی په حق کښې کفر نه شی وئیلې. (۱)

۲۶: باب الانتهاء عن المعاصی

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د ګناهونو او معاصی نه د بندیدلو وجوب بیان فرمائیلې دې
[۶۱۱۷] (۲): حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «مَثَلِي وَمَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَتَى قَوْمًا فَقَالَ رَأَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنَيَّ، وَإِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ. فَأَطَاعَتْهُ طَائِفَةٌ فَأَدْلَجُوا عَلَى مَهْلِهِمْ فَنَجَوْا، وَكَذَّبَتْهُ طَائِفَةٌ فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَاجْتَاحَهُمْ». [۶۸۵۴]

د سیدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: زما او څه چه ما سره الله پاک رالیږلې دی د هغې مثال د یو داسې سړی دې چه یو قوم ته راشی او اوائی چه ما (ستاسو د دشمنانو) لښکر په خپلو سترګو باندې لیدلې دې او زه ښکاره ویرونکې یم. پس په تیزئ سره اوځئ. په دې باندې یو جماعت خبره اومنله او هغوی په اطمینان سره یو محفوظ ځائې ته اووتل او خلاصې ئې اوموندلو او دویم جماعت تکذیب اوکړو او لښکر په هغوی باندې د صبا په وخت ناڅاپه راغلو او هغوی ئې ختم کړل.
ابو اسامة د حماد بن سلمة کنیت دې.

قوله: ﴿إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ﴾: (عریان) د دې لغوی معنی ده: بربنډ. بې جامو. دلته خو هم دا معنی مراد ده. یو سړې د دشمنانو نیولو سره بربنډ کړې وو. هغه خپل قوم ته هم په دې حالت کښې راتلو سره خبر ورکولو او په ثبوت کښې ئې خپل بې جامې کیدل په طور د قرینې او علامت پیش کړل. خلق هغه په خرق عادت او خلاف معمول حالت کښې لیدلو سره د هغه په خبره باندې یقین اوکړو

(۱) اوګورئ: شرح ابن بطال: ۱۰/۱۹۲، ۱۹۳
(۲) اخرجه مسلم فی الفضائل، باب شفقته علی امته، رقم: ۲۲۸۳
(الجیش) عسکر العدو مغیرا. (العریان) الذی تجرد من ثوبه ورفعه بیده اعلاما لقومه بالغبارة علیهم ضرب به النبی صلی الله علیه وسلم المثل لامته لانه تجرد لاندارهم. (فالنجاة النجاة) انجوا بانفسکم واسرعوا بالهرب. (فادلجوا) من الادلاج، وهو السیر فی اللیل او اوله. (مهلهم) تانیهم وسکینتهم. (فصبحهم) اتاهم صباحا، ای بغتة. (فاجتاحهم) استاصلهم واهلکهم.

رسول الله ﷺ خپل مثال د هغه سړی سره ورکړو . رسول الله ﷺ ته د ورکړې شوې معجزات او خرق عادات نخښو تقاضه هم دا ده چه په هغوی باندې ایمان راوړلې شی.[1]

بعضو وئیلې دی چه د ﴿عریان﴾ معنی فصیح راځی. ﴿نذیرعریان﴾ په وضاحت او فصاحت سره ویرونکې[2]

﴿النَّجَاءَ النَّجَاءَ﴾ نجاء په معنی د سرعت او تندئ سره د تلو ده. دا منصوب علی الاغراء دې او فعل محذوف ﴿اطلبوا﴾ یا ﴿الزموا﴾ دې: ای الزموا النجاء النجاء[3]

﴿فَأَدْلَجُوا﴾: دا د باب افعال ﴿ادلاج﴾ نه دې. چه د هغې معنی د شپې په ابتدائی حصه یا د شپې د تلو راځی[4]

﴿عَلَى مَهْلِهِمْ﴾ مهل: وقار او اطمینان ته وائی، یعنی هغه خلق په اطمینان او وقار سره د شپې اوتل.

﴿فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ﴾: ﴿صبح﴾ معنی په سحر کښې د راتلو ده. ﴿ای اتاهم صباحا﴾، خو دا بیا د ناخاپه راتلو دپاره استعمالیدل شروع شو.

﴿اجْتَاحَهُمْ﴾: اجتاح: د جرړې نه ویستل او ختمول.

[۶۱۱۸] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ-رضی الله عنه-أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ-صلی الله علیه وسلم-يَقُولُ «إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ النَّاسِ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا، فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهَذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِي تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيهَا، فَجَعَلَ يَنْزِعُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَقْتَحِمْنَ فِيهَا، فَأَنَا آخُذُ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ، وَأَنْتُمْ تَقْتَحِمُونَ فِيهَا». [ر: ۳۲۴۴]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زما او د خلقو مثال د داسې سړی دې چا چه اور بل کړو، چه کله دهغې نه چاپیره رڼا شوه نو پتنګان او حشرات کوم چه په اور باندې راغورځیږی په هغې باندې راغورځیدل شروع شو او اور بلونکې هغوی د دې نه ویستل، خو هغه د هغه په قابو کښې رانغلل او په اور کښې برېرتل. هم دغه شان زه تاسو د لنګ نه نیولو سره د اورنه راوباسم او تاسو یئ چه په هغې کښې خن غورځوئ.

د ابو الیمان نوم حکم بن نافع دې او د ابو الزناد نوم عبدالله بن ذکوان دې

﴿جَعَلَ الْفَرَاشُ﴾ دا د ﴿فراشة﴾ جمع ده، پتنګ ته وائی.

---

[1] ارشاد الساری ۳۸۱/۱۳، وفتح الباری : ۴۸۴/۱۱، عمدة القاری : ۱۰۵/۲۳

[2] وفتح الباری : ۴۸۴/۱۱، وعمدة القاری : ۱۱۶/۲۳

[3] ارشاد الساری ۳۸۱/۱۳، وفتح الباری : ۴۸۴/۱۱، وعمدة القاری : ۱۱۶/۲۳

[4] ارشاد الساری ۳۸۱/۱۳، وفتح الباری : ۴۸۵/۱۱، وعمدة القاری : ۱۱۶/۲۳

﴿ فَيَقْتَحِمْنَ ﴾ دا د باب افتعال نه دي، د اقتحام معنى د داخليدو راځى.
﴿ بِحُجَزِكُمْ ﴾ ﴿حجز﴾ (د حاء په ضمې او د جيم په فتحې سره) دا د ﴿حجزة﴾ جمع ده. معقد ازار يعنى د ازار تړلو ځائي ته وائى. په ﴿حجزكم﴾ كښې د غائب نه د خطاب طرف ته التفات دې (١).
علامه طيبى رحمه الله په شرح مشكاة كښې ليكى:
﴿ تحقيق التشبيه الواقع في هذا الحديث يتوقف على معرفة معنى قوله {ومن يتعد حدود الله فأولئك هم الظالمون} [البقرة: ٢٢٩] وذلك أن حدود الله هي محارمه ونواهيه كما في الصحيح (ألا أن حمى الله محارمه ورأس المحارم حب الدنيا وزينتها واستيفاء لذتها وشهواتها فشبه - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إظهار تلك الحدود من الكتاب والسنة باستنقاذ الرجال من النار وشبه فشو ذلك في مشارق الأرض ومغاربها بإضاءة تلك النار ما حول المستوقد وشبه الناس وعدم مبالاتهم بذلك البيان وتعديهم حدود الله وحرصهم على استيفاء تلك اللذات والشهوات ومنعه إياهم عن ذلك بأخذ حجزهم بالفراش التي يقتحمن في النار ويغلبن المستوقد على دفعهن عن الاقتحام كما أن المستوقد كان غرضه من فعله انتفاع الخلق به من الاستضاءة والاستدفاء وغير ذلك والفراش لجهلها جعلته سببا لهلاكها، فكذلك القصد بتلك البيانات اهتداء الأمة واجتنابها ما هو سبب هلاكهم وهم مع ذلك لجهلهم جعلوها مقتضية لترديهم وفي قوله: آخذ بحجزكم استعارة مثل حالة منعه الأمة عن الهلاك بحالة رجل أخذ بحجزة صاحبه الذي كان يهوي في مهواة مهلكة اهـ ﴾ (٢).
يعنى: په حديث مبارک كښې د مذكوره تشبيه تحقيق د دې آيت كريمه په معنى باندې پوهيدو باندې موقوف دې: ﴿ ومن يتعد حدود الله فأولئك هم الظالمون ﴾ د دې تفصيل دا دې چه د حدود الله نه مراد د الله پاک حرام كړې شوې كارونه دى او څيزونه دى. ﴿حمى الله﴾ نه هم ﴿ محارم الله ﴾ مراد دى. د ناجائز او حرام كارونو جرړې، دنيا او د هغې ډول سره محبت او د دنيا د لذتونو حصول دې، نو رسول الله ﷺ د كتاب او سنت نه د حدود او محارم اظهار او بيان ته خلقو لره د جهنم نه د بچ كولو سره تشبيه وركړه.
بيا ئې په مشرق او مغرب كښې د هغې خوريدو ته د اور د وچې نه د ګيرچاپيره څيزونو روښانه كيدو سره تشبيه وركړه او د خلقو د دې بياناتو پرواه نه كول او د دنيا د لذتونو په حصول كښې لګيدل. د الله پاک حدود د خپو لاندې كول او د حرام كارونو ارتكاب كول او د رسول الله ﷺ د هغه محارم نه منع كول. د دې تشبيه رسول الله ﷺ د پتنګانو د اور طرف ته راتلو او د انسان هغوى لره د هغه اور نه د منع كولو سره وركړه.
پس څنګه چه د اور د روښانه كونكى غرض صرف دا وى چه خلق د دې د رڼا او حرارت

(١) ارشاد السارى ٣٨٢/١٣، هم دغه شان او ګورئ: النهاية: ٣٣٧/١
(٢) شرح الطيبى: كتاب الايمان، باب الاعتصام بالكتاب والسنة، ٣٠٧/١، ٣٠٨، وارشاد السارى: ٤٨٣/١٣

فائده حاصل کړي، خو پتنګان هغې لره د خپلې ناپوهئ د وجې نه هم هغه اور د خپل هلاکت سبب جوړ کړي.
هم دغه شان د قرآن او سنت نه د محارم الله او حدود الله بياناتو مقصد د امت رهنمائي، د هغوی خير خواهي او د جهنم د دخول او هلاکت اسباب نه هغه بچ کول دي، خو خلق د خپلې ناپوهئ په وجه باندې هم په هغه څيزونو کښې اخته دي کوم چه د هغوی د هلاکت او دخول في النار سبب دي.

د حديث په دې جمله ﴿ اخذ بحجزكم ﴾ کښې استعاره تمثيليه ده، رسول الله ﷺ امت لره د هلاکت او د جهنم په کنده کښې د غورځيدو نه د بچ کولو حالت ته د هغه سړي د حالت سره تشبيه ورکړې ده، کوم چه ژورې کندې ته غورځيدونکې خپل دوست د هغه د لنګ د ترلو ځائې نه نيولو سره منع کوي.
د علامه طيبي رحمه الله د کلام حاصل: د علامه طيبي رحمه الله ددې کلام حاصل دا دې چه په حديث کښې د درې امورو تشبيه د درې څيزونو سره ورکړې شوې ده.
① د قرآن او سنت د حدودو بيان ته، د اور نه د بچ کولو او راويستلو سره تشبه ورکړې شوه، يعنې څنګه چه اور بلونکې سړې هغه پتنګانو لره د اور نه د بچ کولو کوشش کوي، هم دغه شان په قرآن او سنت کښې د حدود الله بيان هم خلقو لره د هلاکت نه د بچ کولو او د نجاة په لاره باندې د راوستلو کوشش کوي.
② د قرآن او نبوي حدود عام کيدو ته ئې د اور په روښانه کيدو سره تشبيه ورکړه، يعنې څنګه هغه سړي اور بل کړو، په هغې سره رڼا خوره شوه، د حدود الله عام کيدل، د اور د هغه رڼا په شان دې کومه چه په اور بلولو سره د هغه سړي نه چاپيره خور شوې دې.
③ د خلقو د الله پاک حدود لره د خپو لاندې کولو سره په خوند اخستلو کښې اخته کيدل او د رسول الله ﷺ د هغوی منع کولو ته تشبيه ورکړې شوې ده د پتنګانو سره کوم چه اور لره روښانه ليدلو سره په هغې کښې غورځيږي، او اور بلونکې هغه سړې هغوی لره د اور نه د منع کولو کوشش کوي.

[۶۱۱۹] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ». [ر: ۱۰]
د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : صحيح مسلمان هغه دې چه د هغه د لاس او ژبې (د شر) نه نور مسلمانان محفوظ وي او حقيقة هجرت کونکې سړې هغه دې، کوم چه هغه څيزونو نه هجرت اوکړي (او هغه پريږدي) د کومو نه چه الله پاک منع کړې ده (يعنې ګناهونو لره ترک کونکې اصلي مهاجر دې او د هجرت اصل ثواب او فائده به هم هغه ته ملاويږي).

قوله: ﴿ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ﴾: مسلمان هغه دې چه د هغه د

ژبې او د لاس نه نور مسلمانان محفوظ وی.
﴿ المسلم ﴾ كښې الف لام عهد خارجی دې او د دې نه كامل مسلمان مراد دې يعنى كامل مسلمان هغه دې چه بل مسلمان د هغه د ژبې او د لاس د شر نه محفوظ وی. [1]
علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه د علمى تحقيق د حده پورې خو صحيح ده چه ته وئيلې شې چه الف لام د عهد دپاره دې او ﴿ المسلم الكامل ﴾ يا ﴿ المسلم الممدوح ﴾ په معنى كښې دې. خو په دې صورت كښې په كلام كښې زور باقى نه پاتې كيږى، كه الف لام د جنس دپاره واخستلې شى نو مطلب به دا وى چه د مسلم د لقب هغه سړې حقدار او مستحق دې چه د هغه د لاس او ژبې د شر نه نور محفوظ وى كه څوك نورو ته تكليف او ضرر وركوى نو هغه ته به موذى او ضار وئيلې شى، مسلم به ورته نه شى وئيلې. په دې صورت كښې تنبيه او زجر زيات دې.
دا بالكل هم داسې ده لكه چه اهل عرب په ﴿ ابل ﴾ باندې د ﴿ مال ﴾ او په ﴿ عرب ﴾ باندې د ﴿ناس ﴾ اطلاق كوى، ﴿ المال الابل ﴾، ﴿ الناس العرب ﴾، حال دا چه د ابل نه علاوه د مال او عرب نه علاوه انسانان نور هم دى. خو د ابل د اهميت بيانولو دپاره د جنس مال او د عرب د اهميت بيانولو دپاره د جنس ناس اطلاق په ابل او عرب باندې كړې شوې دې
هم دغه شان قاعده ده چه په خانه كعبه باندې د بيت اظهار د هغې د عظمت د اظهار كولو دپاره كړې شوې دې. هم دغه شان د سيبويه په كتاب باندې د ﴿ الكتاب ﴾ اطلاق دا هم د عظمت د اظهار دپاره دې، دلته دې هم الف لام د جنس دپاره واخستلې شى او مطلب دې دا وى چه د كوم سړى د لاس او ژبې نه نور خلق محفوظ نه وى هغه د مسلمان بللو مستحق نه دې. ګويا دا د تنزيل الناقص بمنزلة المعدوم د قبيل نه دې، چه مسلمان صرف هغه چاته وئيلې كيدې شى چه نور خلق د هغه د شر نه محفوظ وى، دا عنوان كه اختيار كړې شى نو په دې سره به خلقو ته تنبيه وى او هغوى به د تكليف نه د بچ كيدو اهتمام كوى چه مونږ نور ته تكليف يا ضرر اورسولو نو مونږ به د مسلمان بللو هم حقدار نه يو، لهذا مونږ له د دې نه بچ كيدل پكار دى. [2]
خلاف د اول صورت چه كه هلته تاسو د ﴿ المسلم الكامل ﴾ ترجمه اوكړئ نو انسان دا سوچ كولې شى چه په ما كښې نور هم نقصانات دى كه دا يو كوتاهى بله هم اوشوه نو څه چل به اوشى، په دې كښې دومره زجر او تنبيه نه وى، څومره تنبيه چه د الف لام جنسى په اخستلو كښې كيږى.
بعض حضراتو فرمائيلې دى چه په اصل كښې دلته دا بيانول مقصود دى چه مسلم د اسلام نه ماخوذ دې لهذا دلته د مسلم علامت دا كيدل پكار دى، چه هغه نه نورو ته ضرر او نه

---

[1] عمدة القارى : ١٣٢/١
[2] فيض البارى، ٨٠/١ وايضاح البخارى : ١٧٩/٢

رسيږي. دلته هغه علامت لره بيانول مقصود دي، چه د هغې نه د انسان په اسلام باندې استدلال كيدلې شي او د كوم علامت نه چه هغه مسلمان ګڼړلې كيدې شي او هغه دا دې چه نور د هغه د شر نه محفوظ وي، چاته د هغه نه تكليف او نه رسيږي. (١)

يوه شبه او د هغې جواب: دلته د حديث الفاظ ﴿ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ﴾ نه معلوميږي چه كه يو سړې نورو ته تكليف نه رسوي نو هغه مسلمان دې كه مونځ كوي او كه نه كوي، كه روژه نيسي او كه نهٔ نيسي، هم دغه شان كه نور فرائض ادا كوي او كه نه ادا كوي، ځكه چه د هغې نه د يو څيز تذكره نشته.

د دې جواب دا دې چه دلته د ﴿ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ﴾ سره د ﴿ مع مراعاة باقي الاركان ﴾ قيد هم ملحوظ دې. (٢) يعنى دا نه ده چه دومره خبره د مسلمانيدو دپاره كافي ده بلكه د نور اركان اسلام د ادا كولو سره د دې اهتمام ضروري دې.

دويم جواب دا وركړې شوې دې چه دلته صرف دومره خبره بيان كړې شوې ده چه په مسلمان كښې دا د سلامتئ وصف كيدل پكار دى، د يو څيز د اهميت د وجې نه د دې تذكره شوې ده، د دې نه به دا ښكاره معلوميږي چه د نورو اركان اسلام او ايمان څه اهميت نشته او مسلمان د هغې د ادا كولو مكلف نه دې، د هغې خو دلته هيڅ ذكر نشته. (٣)

غير مسلمو ته د تكليف رسولو حكم: بيا دلته ﴿ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ﴾ كښې د مسلمون په قيد سره اشكال پيدا كيږي چه د شر نه حفاظت د اهل اسلام دپاره خاص نه دې، نورو انسانانو لره هم د خپل شر نه بچ كول پكار دى، بلكه د تكليف نه خو د حيواناتو حفاظت هم ضروري دې، پس په بخاري كښې روايت دې:

﴿ عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ حَبَسَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ - قَالَ فَقَالَ وَاللهُ أَعْلَمُ - لاَ أَنْتِ أَطْعَمْتِهَا ، وَلاَ سَقَيْتِهَا حِينَ حَبَسْتِيهَا ، وَلاَ أَنْتِ أَرْسَلْتِيهَا فَأَكَلَتْ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ ﴾ (٤)

يعنى يوې زنانه ته صرف په دې وجه باندې عذاب وركړې شو چه هغې يوه پيشو په قيد كښې اوساتله تردې چه هغه د لوږې نه مړه شوه، چه د هغې د وجې نه هغه زنانه جهنم ته لاړه. هغې ته اووئيلې شو: تا د قيد دوران كښې په هغې نه خوراک اوكړو او نه ځكاک او نه دې هغه پريخودله چه د زمكې د حشراتو نه ئې خوراک كړې وې.

د دې نه معلومه شوه چه د ځناورو ته د تكليف رسولو نه منع كړې شوې ده، بيا د ﴿المسلمون﴾

---

١) فضل البارى : ٣٢٥/١

٢) فتح البارى : ٥٣/١

٣) امداد البارى : ٣٢٤/٥٤٠

٤) صحيح البخارى، كتاب المساقاة، باب فضل سقى الماء، رقم ٢٣٦٥، وكتاب بدء الخلق، باب اذا وقع الذباب فى شراب احدكم فليغمسه، الخ رقم ٣٣١٨، وكتاب احاديث الانبياء، باب (بلا ترجمة، بعد باب حديث الغار) رقم : ٣٤٨٢

قید ولې دې؟

د دې جواب دا دې چه د مسلمان واسطه زیات تر د مسلمانانو سره وی، شپه او ورځ د هغه اختلاط او ملاویدل د مسلمانانو سره وی، په دې وجه باندې د ﴿المسلمون﴾ قید ذکر کړې شو.[1]

حاصل دا دې چه قید، قید احترازی نه دې، بلکه قید واقعی دې، چونکه د یو مسلمان استوګنه، د هغه اوسیدل او د هغه معاشرت د مسلمانانو سره دې، په دې وجه د هغه ذکر اوکړې شو؛ کفارو ته د تکلیف رسولو او نه رسولو متعلق په دې حدیث کښې هیڅ حکم نشته او دا حدیث د دې نه خاموش دې، د هغې ځانله تفصیل دې چه د کفارو دوه قسمونه دی ذمی او حربی، که هغه ذمی وی نو ﴿ دماؤهم کدمائنا واموالهم کاموالنا واعراضهم کاعراضنا ﴾ د اصول په وجه باندې هغوی په ﴿ المسلمون ﴾ کښې داخل دی.، اګر که هغه حقیقتا مسلمان نه وی، خو هغه حکما په اهل اسلام کښې داخل کړې شو، ځکه چه د هغوی د دماء، اموال او اعراض د حرمت هم هغه حکم دې، کوم چه د مسلمانانو د دماء اموال او اعراض حکم دې.

د کفار اهل حرب دوه قسمونه دی: یو مصالحین د چا سره چه صلح شوې ده، دویم محاربین د چا سره چه صلح نه ده شوې، د چا سره چه صلح شوې ده هغوی سره د تعرض اجازت نشته، او د صلح مطابق به د هغوی د مالونو، دماء او د اعراضو حفاظت ذمه داری وی، لهذا هغوی به هم حکما د ﴿ المسلمون ﴾ په قید کښې داخل وی.

پاتې شو کفار محاربین کوم چه اهل حرب دی او د هغوی سره صلح نشته نو بیشکه هغوی داسې دی چه هغوی ته به ضرر رسولې شی او هغه هم په دې وجه چه هغوی د اسلام مقابله کول او د اسلام لاره بندول پریږدی، پس هم دا به مستثنی وی او باقی نور مستثنی نه دی، هغوی به حکما په ﴿ المسلمون ﴾ کښې شامل وی.[2] پس په بل روایت کښې راځی ﴿ والمؤمن من امنه الناس علی دمائهم واموالهم ﴾[3] دلته د ﴿ الناس ﴾ لفظ عام دې، او په دې کښې مسلمان، ذمی او حربی مصالح ټول داخل دی.

بهر حال د حدیث شریف مقصد دا دې چه یو مسلمان په خپل ژوند کښې، د خپل یو قول، خپل یو عمل، په خپل څه بل څه حرکت سره، په معاشره کښې دننه د نورو خلقو دپاره د تکلیف باعث نه دی کیدل پکار چه هم دا ده د هغه د اسلام تعلیم او د هغه د امن او سلامتۍ والا پغمبر د تربیت حکم دې.

قوله: ﴿ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ﴾ :د لسان د شر نه کنځلې، بدې ردې، لعن طعن، بهتان او غیبت وغیره مراد دی، د هر یو نه بچ کیدل واجب او ضروری دی. ﴿ من لسانه ﴾ئې فرمائیلې

---

[1]) فتح الباری ۵۳/۱

[2]) راجع للاستزادة : فضل الباری ۳۲۵/۱، عمدة القاری ۱۳۳/۱

[3]) سنن النسائی ۲۶۶/۲، کتاب الایمان وشرائعه، باب صفة المؤمن، وجامع الترمذی، کتاب الایمان، باب ما جاء ان المسلمون من سلم المسلمون من لسانه ویده، رقم : ۲۶۲۷

دې، ﴿من قوله﴾ ئې نه دې فرمائيلې، ځکه چه د لسان نه تکليف رسول بغير د تلفظ او تکلم نه هم کيږي، لکه چه انسان خپله ژبه راويستلو سره خولهٔ ورانه کړه په دې سره هم تکليف رسيږي، نو د لسان لفظ ئې په دې وجه استعمال اوفرمائيلو چه په دې کښې تلفظ او قول ته هم شامل شي او د ژبې د تکليف او اذيت رسولو نور صورتونه هم پکښې داخل شي.

﴿ويده﴾ ئې ذکر اوفرمائيلو، د لاس په شر کښې ضرب او قتل هم داخل دې، دفع او هدم هم، هم دغه شان په دې کښې کتابة بالباطل هم داخل دې.

بعض حضراتو وئيلې دی چه تکليف خو په نورو اندامونو سره هم رسولې شي، بيا د يد تخصيص ولې اوکړې شو؟

د دې وجه دا ده چه د افعالو سلطنت په لاسونو سره ظاهريږي، اخذ و بطش، وصل، قطع، منع، اعطاء دا ټول په لاس سره کيږي، يعنی اکثر او ډير افعال چونکه په لاس سره کولې شي په دې وجه ئې د هغه ذکر اوفرمائيلو، د نورو اندامونو نه احتراز مقصود نه دې.

يا داسې اووايئ چه د قبض علی مال الغير نه چونکه په يد سره تعبير کولې شي نو د قتل او ضرب وغيره سره دا نقصان کوم چه د قبض علی المال په صورت کښې کيږي. د شاملولو دپاره دلته د ﴿يد﴾ عنوان اختيار کړې شوې دې. (1)

د تقديم لسان وجه: دلته دا سوال کړې شوې دې چه لسان په يد باندې ولې مقدم کړې شو، پس د دې وجه دا ده چه په ژبه باندې کوم تکليف رسولې شي هغه عام هم دې او تام هم دې. ځکه چه په لاس سره خو هغه چاته نقصان رسولې شي، کوم چه ستا مخې ته وی او عموما هم داسې کيږي، او په ژبې سره هغه انسان ته هم نقصان رسولې شي، کوم چه غير حاضر وی، دلته موجود نه وی، يا غريب فوت شوې وی، يا بالکل پيدا شوې هم نه وی چونکه د ژبې شر عام او تام دې په دې وجه وئيلې شي:

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

په ژبې سره چه کوم زخم لګولې شي هغه کله هم نه جوړيږي بلکه تازه وی، او د لاسونو زخمونه د څه مودې نه پس صحيح کيږي، باقی نه پاتې کيږي. (2)

قوله: ﴿وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ﴾: دلته هم هغه صورت دې چه يا خو به الف لام د عهد دپاره اخلو او د مهاجر نه به مهاجر کامل مراد اخلو.

يا تاسو الف لام د جنس دپاره اومنئ او مطلب به دا وی چه هجرت هم هغه معتبر دې چه په هغې کښې ګناه نه وی او د مهاجر بللو مستحق هم هغه دې چه ګناه پريږدی، ځکه چه د وطن پريخودل پخپله څه مطلوب څيز نه دې، د يو وطن نه د بل وطن طرف ته هجرت کول خو هم په دې وجه باندې وی چه په مخکښې وطن کښې دننه د الله پاک په احکاماتو باندې عمل

(1) د تفصيل دپاره اوګورئ: فتح الباری: ۵۴/۱، عمدة القاری: ۱۳۲/۱، ۱۳۳

(2) عمدة القاری ۱۳۲/۱

کول ګران شوي وو، په دې وجه هغې لره پريخودلو سره بل وطن طرف ته هجرت کولې شي نو د هجرت اصل مقصد ګناه لره ترک کول دي، پس که يو سړې وطن ترک کولو سره د دار الاسلام طرف ته راغلې وي خو د ګناهونو ارتکاب هم کوي نو هغه د مهاجر بللو لائق نه دې.

بيا د ﴿ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ ﴾ يو وجه دا هم بيان کړې شوې ده چه په اصل کښې مهاجرين د مکې مکرمې نه هجرت کولو سره مدينې منورې ته اورسيدل نو د انصارو د طرف نه د هغوی دپاره به د ايثار مظاهره کيدله، هغوی به خپل مالونه هم هغوی ته پيش کول او که بعض وخت به د يو انصاري څو کونډې ښځې وې نو هغه به ئې هم ورته پيش کولې او ورته به ئې وئيل چه کومه ته خوښوې، زه به ورته طلاق ورکړم. ته ورسره نکاح اوکړه. نو په دې وجه رسول الله ﷺ د خبرداری کولو دپاره چه په هجرت کښې دا څيزونه مطلوب او مقصود نه جوړول، ګينې د هجرت عمل به ضائع شي، وې فرمائيل د ګناهونو نه بچ کيدو اهتمام کوئ. په دې سره به د هجرت مقصد به هم پوره کيږي او هجرت حقيقيه به هم شامل وي.

يو خبره دا هم وه چه کله رسول الله ﷺ مکه مکرمه فتح کړه نو د مکې د فتح کولو نه پس مسلمانيدونکو ارمان او افسوس کولو چه که مونږ مخکښې اسلام قبول کړې وې نو مونږ ته به هم د هجرت فضيلت حاصل وې، کوم چه ډير اهم فضيلت وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل:

﴿ لولا الهجرة لكنت امراء من الانصار ﴾ (۱)

که د هجرت فضيلت نه وې نو زما خواهش او ارمان به دا وو چه زه هم يو انصاري اوم خو د هجرت د فضيلت د وجې نه زه دا ارمان نه کوم. نو هغه حضرات کوم چه د فتح مکه نه پس مسلمانان شو اود هجرت شرف هغوی ته حاصل نه شو، هغوی افسوس کولو. د هغوی د تسلئ او اطمينان دپاره ئې اوفرمائيل چه حقيقي هجرت خو دا دې چه د ګناهونو نه هجرت اختيار کړې شي او د کومو څيزونو نه چه الله پاک منع کړې ده د هغې نه ځان بچ کړې شي او دا فضيلت تاسو هم حاصلولې شئ، د دې حضراتو د تسلئ او اطمينان دپاره ګويا رسول الله ﷺ دا حديث ارشاد اوفرمائيلو. (۲)

د هجرت حکم: د هجرت يو قسم ظاهري دی او يو باطني (۳).

د ظاهري هجرت حکم دا دې چه انسان په يو دارالکفر کښې اوسيږي او هلته د اسلام حکم ادا کولو د هغه دپاره ګنجائش نشته نو د هغې دپاره هجرت کول فرض دی او که هلته د احکام اسلام په ادا کولو کښې څه خلل اندازی نه راځی نو د هغه دپاره هجرت کول فرض

---

(۱) راجع صحيح البخاري، كتاب مناقب الانصار، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم : لولا الهجرة لكنت امراء من الانصار، رقم ۳۷۷۹، وكتاب التمني، باب ما يجوز من اللؤ، رقم ۷۲۴۴، ۷۲۴۵، وجامع الترمذي، كتاب المناقب، باب فضل الانصار وقريش، رقم : ۳۷۹۹

(۲) فتح الباري : ۱/۵۴، وارشاد الساري ۱/۹۴

(۳) فتح الباري : ۱/۵۴

خونه دی خو غوره اومستحب بیا هم دی، ځکه چه د مسلمانانو چه په یو ځائي باندې ځومره لویه اجتماع وی، هم هغه هومره به د اسلام او اهل اسلام په حق کښې زیات مفید وی.

د هجرت دویم قسم کوم چه هجرت باطنه دې، هغې ته هجرت حقیقیه هم وائی یعنی د ګناهونو نه هجرت کول، ځکه چه د دار الکفر نه چه دار الاسلام ته کوم هجرت کولې شی. دا بذات خود مقصود نه دې، دا خو د دې دپاره دې چه د ګناهونو او د احکام اسلام د ترک نه انسان بچ وی. په دې وجه هجرت من الذنوب والمعاصی، هجرت حقیقیه او هجرت باطنه دې. ظاهره ده چه دا هجرت په ټولو باندې لازم او ضروری دې. (۱)

۲۷: باب قَوْلِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم «لَوْتَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا»

[۶۱۲۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- كَانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لَوْتَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا». [۶۲۶۱]

د سیدنا ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: که تاسو ته معلوم شی هغه څیز کوم چه ماته معلوم دې نو تاسو به ژړل ډیر او خندل به مو کم: (یعنی د الله پاک د عذابونو کوم سخت والې چه زما په مشاهده او علم کښې دی که هغه تاسو ته معلوم شی نو تاسو له به خندا نه درتلې او په کثرت سره به مو ژړل)

عُقَیل (د عین په ضمې او د قاف په فتحې سره) د هغوی د پلار نوم خالد دې.

[۶۱۲۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «لَوْتَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا». [ر: ۴۳۴۵]

د سیدنا انس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: که تاسو ته هغه څیز معلوم شی کوم چه ماته معلوم دې نو تاسو به خندل کم او ژړل به مو زیات. (۲)

---

(۱) د نور تفصیل دپاره اوګورئ: کشف الباری: کتاب الایمان ۶۷۷/۲

(۲) قال ابن بطال: روى سنيد، عن هشيم، عن كوثر بن حكيم، عن نافع، عن ابن عمر قال: (خرج رسول الله (صلى الله عليه وسلم) إلى المسجد، فإذا قوم يتحدثون ويضحكون، قال: أكثروا ذكر الموت، أما والذى نفسى بيده لو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلاً ولبكيتم كثيراً). وخشية الله إنما تكون على مقدار العلم به، كما قال تعالى: (إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ) [فاطر: ۲۸]. ولما لم يعلم أحد كعلم النبى (صلى الله عليه وسلم) لم يخش كخشيته، فمن نور الله قلبه وكشف الغطاء عن بصيرته، وعلم ما حباه الله من النعم وما يجب عليه من الطاعة والشكر، وأفكر فيما يستقبل من أهوال يوم القيامة وما يلقى العباد فى تلك المواقف من الشدائد، وما يعاينوه من مساءلة الله عباده عن مثاقيل الذر، ... [بقيه برصفحه آئنده...

ددې حدیث شان ورود دا دې چه رسول الله ﷺ یوه ورځ د مسجد نبوی طرف ته او وتلو نو وې کتل چه څه خلق ناست دی او خبرې کوی او خاندی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل مرګ په کثرت سره یادوئ قسم دې په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما نفس دې! که تاسو ته هغه تکلیفونه معلوم شی کوم چه ماته معلوم دی نو تاسو به خاندئ کم او ژاړئ به ډیر.

۲۸: باب حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

[۶۱۲۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- قَالَ «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ».

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دوزخ په نفسانی خواهشاتو سره پټ کړې شوې دې او جنت په مشکلاتو سره پټ کړې شوې دې.

جهنم او خواهشات نفسانی : جهنم په خواهشاتو او لذتونو سره پټ کړې شوې دې، شراب، زنا او نور ناجائز لذت پرستئ جهنم ته رسونکی دی، د هغې په مقابله کښې چه جنت په کومو کارونو سره حاصلیږی په هغې کښې د نفس مجاهده او مشقت وی، د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په یو روایت کښې تفصیل راغلې دې، کوم چه امام ابوداؤد او امام ترمذی مرفوعا نقل کړې دې!

(لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ أَرْسَلَ جِبْرِيلَ إِلَى الْجَنَّةِ فَقَالَ انْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لأَهْلِهَا فِيهَا قَالَ فَجَاءَهَا وَنَظَرَ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعَدَّ اللهُ لأَهْلِهَا فِيهَا قَالَ فَرَجَعَ إِلَيْهِ قَالَ فَوَعِزَّتِكَ لاَ يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلاَّ دَخَلَهَا. فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَيْهَا فَانْظُرْ إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لأَهْلِهَا فِيهَا قَالَ فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَإِذَا هِيَ قَدْ حُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خِفْتُ أَنْ لاَ يَدْخُلَهَا أَحَدٌ. قَالَ اذْهَبْ إِلَى النَّارِ فَانْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لأَهْلِهَا فِيهَا. فَإِذَا هِيَ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ وَعِزَّتِكَ لاَ يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا. فَأَمَرَ بِهَا فَحُفَّتْ بِالشَّهَوَاتِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَيْهَا. فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَقَالَ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لاَ يَنْجُوَ مِنْهَا أَحَدٌ إِلاَّ دَخَلَهَا)[۱]

یعنی : الله پاک چه کله جنت او جهنم پیدا اوفرمائیل نو سیدنا جبرائیل علیه السلام ئې د جنت طرف ته اولیږلو او وې فرمائیل چه هغه اووینه! هغه کتلو سره واپس راغلو او عرض ئې اوکړو :

...بقیه ازحاشیه گذشته] وعن الفتيل والقطمير كان حقيقًا بكثرة الحزن وطول البكاء ، ولهذا قال أبو ذر: لو تعلمون العلم ما ساغ لكم طعام ولا شراب ، ولا نمتم على الفرش ، ولاجتنبتم النساء ، ولخرجتم إلى الصعدات تجأرون وتبكون.

وقال عبد الله بن عمرو : ابكوا ، فإن لم تجدوا بكاءً فتباكوا ، فلو تعلمون العلم لصلى أحدكم حتى ينكسر ظهره ، ولبكى حتى ينقطع صوته . وقال الفضيل : بلغنى عن طلحة أنه ضحک يومًا فوثب على نفسه ، وقال : فيم تضحک ، إنما يضحک من قطع الصراط . ثم قال : آليت على نفسى ألا أكون ضاحكًا حتى أعلم متى تقع الواقعة ، فلم ير ضاحكًا حتى صار إلى الله. (وانظر شرح ابن بطال : ۱۰/۱۹۵)

[۱]) فتح البارى : ۳۷۹/۱۱، سنن الترمذى ۶۹۳/۴ (اسناده صحيح)

ستا په عزت مې دې قسم وی چه د دې متعلق څو چه څوک هم اوری هغه به دې ته داخليږی، د دې نه پس الله پاک اوفرمائيل چه دا په مجاهدات او د مشقت په کارونو باندې پټ کړې شی، الله پاک هغه ته دوباره د هغې د کتلو حکم اوفرمائيلو، دې کرت چه کله هغه کتلو سره راواپس شو نو عرض ئې اوکړو ستا په عزت مې دې قسم وی زما ويره دې چه دې ته به څوک هم داخل نه شی، د دې نه پس ورته الله پاک د جهنم د کتلو حکم اوکړو. جهنم کتلو سره چه کله هغوی واپس راغلل نو عرض ئې اوکړو: ستا په عزت مې دې قسم وی! د دې متعلق چه څوک هم اوری دې ته به نه داخليږی، الله پاک جهنم لره په شهواتو او خوندونو سره د پټولو حکم اوکړو، بيا ئې هغوی ته دوباره د هغې د کتلو حکم اوفرمائيلو، اوس چه کله هغه کتلو سره راغلو نو عرض ئې اوکړو، ستا په عزت مې دې قسم وی چه ما سره ويره ده چه څوک به هم د دې نه بچ نه شی.

٢٩: باب «الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ»

[٦١٢٣] حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ مَسْعُودٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ وَالأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ».

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : جنت ستاسو د پيزار د تسمې نه هم زيات نزدې دې او هم دغه شان دوزخ هم.

جنت د يو قدم په فاصله باندې : مقصد دا دې چه د الله پاک اطاعت اوکړې شی نو جنت نزدې دې او که د هغه نافرمانی اوکړې شی نو جهنم نزدې دې، علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چه د حديث معنی دا ده چه د نيت تصحيح کولو سره که طاعت اختيار کړی نو د جنت ملاويدل اسان دی، او د نفسانی خواهش موافقت کولو سره که نافرمانی اختيار کړې شی نو په جهنم کنبې غورځيدل اسان دی. (١)

[٦١٢٤] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «أَصْدَقُ بَيْتٍ قَالَهُ الشَّاعِرُ أَلاَ كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلاَ اللَّهَ بَاطِلُ». [ر: ٣٦٢٨]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د ټولو نه رشتينې شعر کوم چه شاعر وئيلې دې دا دې : ﴿الا كل شئ ما خلا الله باطل﴾ خبردار! د الله پاک نه سوا ټول څيزونه بې بنياد دی.

د غندر نوم محمد بن جعفر دې.

د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت : په روايت کنبې وئيلې شوې دی چه د الله پاک نه سوا

---

١) فتح الباری ٣٩٠/١١

هر یو څیز باطل دي، علامه عیني رحمه الله فرمائی چه د دنیا هر هغه کار کوم چه د الله پاک د طاعت او قرب ذریعه جوړه نه شي هغه باطل دې او په هغې کښې مشغول اوسیدل. خپل ځان لره د جنت نه لرې کول دی، حال دا چه جنت د پیزار د تسمې نه هم زیات نزدې دي او د الله پاک د طاعت په کارونو باندې مشغولیدل، د جهنم نه د لرې والی ذریعه ده. هغه جهنم چه د پیزار د تسمې نه هم انسان ته زیات نزدې دې.... علامه عیني رحمه الله د دې مناسبت بیانولو نه پس لیکلي دی : ﴿ انه من الفیض الالٰهی وقع فی خاطری ﴾ یعنې دا مناسبت الهامی دې. کوم چه د الله پاک په فضل او عنایت سره زما په زړه کښې راغلو. (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې دویم حدیث مناسبت ښکاره نه دې. بیا ئې مناسبت بیانولو سره فرمائیلې دی چه په ترجمة الباب او اول حدیث کښې د دې خبرې ترغیب ورکړې شوې دې چه طاعت اختیار کړې شی او د معصیت نه ځان بچ کړې شی. په دې کښې دا خبره په فهم کښې راځی چه کوم سړې طاعت نه اختیاروی هغه به د څه دنیاوی کار د وجې نه وی او د دنیا هر کار فاني او باطل دې لکه چه په دې حدیث کښې دی. لهٰذا د عقل تقاضا دا ده چه فاني ته په باقي باندې ترجیح ورکړې شی، پس حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

﴿ مناسبة هذا الحديث الثاني للترجمة خفية وكأن الترجمة لما تضمنت ما في الحديث الأول من التحريض على الطاعة ولو قلت والزجر عن المعصية ولو قلت فيفهم أن من خالف ذلك انما يخالفه لرغبة في أمر من أمور الدنيا وكل ما في الدنيا باطل كما صرح به الحديث الثاني فلا ينبغي للعاقل أن يؤثر الفاني على الباقي ﴾ (۲)

۳۰: باب لِيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ وَلَا يَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ.

[۶۱۲۵] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ : «إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ».

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه کله په تاسو کښې څوک یو داسې سړې اووینی کوم چه په مال او شکل او صورت کښې د هغه نه زیات دې نو هغه ورله دیوداسې انسان په خیال کښې راوستل پکاردی کوم چه د هغه نه د کمې درجې وی. د اعرج نوم عبدالرحمن بن هرمز دې، او د ابو الزناد نوم عبدالله بن ذکوان دې.

یو ایمان روښانه کونکې اصول : په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د ژوند یو مومنانه اصول بیان کړې دې چه د مال او دولت په سلسله کښې انسان لره د خپل ځان نه کم تر ته کتل پکار دی. د خپل ځان نه اوچت ته نظر نه دی کول پکار ځکه چه دنیوی اعتبار سره د خپل ځان نه کم تر ته ګوری نو په خپل حال باندې به ئې د شکر جذبه پیدا کیږی او که د برتر طرف ته

---

۱) عمدة القاری ۱۲۰/۲۳، وارشاد الساری ۴۸۶/۱۲، ۴۸۷

۲) فتح الباری ۳۹۱/۱۱، هم دغه شان اوګورئ : ارشاد الساری : ۴۸۷/۱۳

گوری نو په دنیاوی حرص او هوس کښې به ئې اضافه کیږی او د شکر طرف ته به ئې توجه نه وی، دا دنیا د بې وسئ او غریبئ د واقعاتو نه ډکه ده او ډیر غریبانان به هم د ځان نه زیات غریبانان لټوی، نو هغه ته به ملاؤ شی.
خو دین او د الله پاک د اطاعت په سلسله کښې معامله د دې برعکس کیدل پکار دی چه انسان د خپل ځان نه د برتر طرف ته نظر اوکړی نو د هغه په ورع او تقوی او شوق عبادت کښې به د اضافې ذریعه جوړیږی، او خپل دینی حالت ئې که غوره دې نو په هغې باندې به ئې عجب نه پیدا کیږی.
پس د عمرو بن شعیب نه یو مرفوع حدیث منقول دې، په هغې کښې دی!
(خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللهُ شَاكِرًا صَابِرًا مَنْ نَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ فَحَمِدَ اللهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ بِهِ عَلَيْهِ، وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَاقْتَدَى بِهِ) (۱)
یعنی: دوه خصلتونه چه په کوم سړی کښې وی، هغه به الله پاک شاکر او صابر اولیکی، یو دا چه سړی په دنیا کښې د ځان نه کم تر ته گوری او د الله پاک شکر کوی چه الله پاک هغه ته په هغه کم تر باندې فوقیت ورکړو، دویم دا چه انسان په خپل دین کښې د خپل ځان نه اوچت ته اوگوری نو د هغه اتباع به کوی.
علامه ابن بطال رحمه الله د بخاری شریف د حدیث الباب په شرح کښې لیکی:
(وهذا حديث جامع لمعاني الخير، وذلك أن العبد لا يكون بحال من عبادة ربه مجتهدًا فيها؛ إلا وجد من هو فوقه في ذلك، فمتى طلب نفسه باللحاق بمن هو فوقه استقصر حاله التي هو عليها، فهو أبدًا في زيادة تقربه من ربه، ولا يكون على حالة خسيسة من دنياه إلا وجد من أهلها من هو أخس منه حالا، فإذا تأمل ذلك وتفكره وتبين نعم الله عليه؛ علم أنها وصلت إليه ولم تصل إلى كثير من خلقه، فضله الله بها من غير أمر أوجب ذلك له على خالقه، ألزم نفسه من الشكر عليها أن وفق لها ما يعظم به اغتباطه في معاده) (۲)

۳۱: باب مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ أَوْ بِسَيِّئَةٍ

[۶۱۲۶] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا جَعْدٌ أَبُو عُثْمَانَ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ قَالَ «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ، ثُمَّ بَيَّنَ ذَلِكَ فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللَّهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللَّهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ

---

۱) ارشاد الساری ۴۸۷/۱۳، سنن الترمذی، کتاب صفة القيامة، باب: ۶۶۵/۴، رقم الحديث ۲۵۱۲، ولفظه : خصلتان من كانتا فيه كتبه الله شاكرا صابرا ومن لم تكونا فيه لم يكتبه الله شاكرا ولا صابرا من نظر في دينه إلى من هو فوقه فاقتدى به ونظرفي دنياه إلى من هودونه فحمدالله على ما فضله به عليه كتبه الله شاكرا صابرا
۲) شرح ابن بطال: ۱۹۹/۱۰

حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللَّهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللَّهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً». [ر: ٧٠٦٢]

د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په يو حديث قدسى كښې اوفرمائيل الله پاک نيکئ او ګناهونه مقدر کړې دى او بيا ئې هغه واضح کړې دى، پس چا چه د نيکئ اراده اوکړه خو په هغې باندې ئې عمل اونکړې شو نو الله پاک د هغه دپاره د يو مکمل نيکئ بدله اوليکله، او که هغه د ارادې نه پس په هغې باندې عمل هم اوکړى نو الله پاک خان سره د هغه دپاره د لس چندو نه تر اووه سوه چندو پورې نيکئ ليکى او د دې نه هم زياتولو سره او چا چه د بدئ اراده اوکړه بيا ئې په هغې باندې عمل اونکړو نو الله پاک د هغه دپاره د خان سره يو نيکى ليکلې ده او که هغه د ارادې نه پس په هغې باندې عمل هم اوکړو نو د هغه دپاره ئې خان سره يو بدى اوليکله.

د قصد او ارادې پنځه مراحل: په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د نيکئ او د ګناه قصه او د ارادې حکم بيان فرمائيلې دې، حضرات علماء کرامو د قصد او ارادې پنځه مراتب بيان کړې دى، د هغې نه صرف آخرى مرتبه د جمهور علماء کرامو په نزد قابل مواخذه ده، په باقى صورتونو باندې مواخذه نشته.

① هاجس: دا د قصد او ارادې اوله درجه ده، چه د يوې ګناه او د الله پاک د معصيت خيال ئې بې اختياره په زړه او دماغ كښې راشى، دې ته هاجس وائى، او د هوا د چپې په شان د راتلونکو داسې خيالاتو باندې مواخذه نشته.

② خاطر: چه د يوې بدئ خيال ئې په زړه كښې ځائې اونيسى او قرار حاصل کړى چه د هغې د وجې نه ئې خلجانى کيفيت پيدا شى، خو په دې خيال باندې عمل کولو، او د نه کولو متعلق څۀ اراده پيدا نه شى، په دې باندې هم څه مواخذه نشته.

③ حديث النفس: دا د قصد او ارادې دريمه درجه ده، چه په زړه كښې خيال ځائې اونيسى او د عمل کولو او نه کولو طرف ته هم توجه پيدا شى خو د تردد د وجې نه د عمل يا ترک طرف ته ميلان پيدا نه شو او هغه خيال ختم شو.

④ هم: دا د قصد او ارادې څلورمه درجه ده چه په زړه كښې خيال راتلو سره قرار اونيسى او په هغې باندې د عمل دپاره ميلان هم پيدا شى، خو په دې ميلان كښې لا کلک والې نه وى. دا مرحله هم قابل مواخذه نه ده.

⑤ عزم: دا پنځمه مرحله ده، په دې كښې په زړه كښې راتلونکې خيال صرف قرار نه نيسى بلکه په هغې باندې د عمل کولو کلک عزم او اراده موندلې شى. دا صورت د جمهور علماء کرامو په نزد قابل مواخذه دې. (١)

چا دا پنځه مراتب په دې شعر كښې بيان کړې دى.

---

(١) فتح البارى: ٣٩٨/١١، وفتح الملهم، كتاب الايمان، باب اذا هم العبد بحسنه كتبت واذا هم بسيئة لم تكتب: ٩٤/٢، والتعليق الصبيح، كتاب الايمان: ٥٩/١

مراتب القصد خمس: هاجس ذكروا فخاطر، فحديث النفس فاستمعا
يليه هم، فعزم، كلها رفعت سوى الأخير ففيه الاخذ قد وقعا [1]

د قصد او ارادې چه کوم صورت قابل مواخذه دی، هغه د عزم والا صورت دی، چه په هغې کښې په څه بد خیال او معصیت باندې د تیاریدلو دومره کلکه اراده اوکړې شی چه که څه خارجی مانع نه وی او اسباب او ذرائع برابر شی نو هغه یقینی طور عملی صورت اختیار کړی او په هغې باندې عمل اوکړی.

دا صورت قابل مواخذه دې، خو د دې مواخذې نوعیت به عملی طور د کیدونکې گناه نه کم وی، دا گناه د ارادې ده د عمل نه ده. دا د جمهور علماء کرامو مسلک دې، قاضی عیاض رحمه الله دې ته د فقهاء، محدثین او جمهور سلف مسلک وئیلې دی. [2]

په دې د صحیح بخاری د یو حدیث نه اشکال کیدې شی چه د هغې الفاظ دا دی:

﴿إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ، أَوْ تَتَكَلَّمْ بِهِ﴾ [3]

یعنی: الله پاک زما د امت په زړونو کښې پیدا کیدونکې وسوسې معاف کړې دی مگر دا چه هغوی په دې باندې عمل اوکړی یا هغه په ژبه باندې راولی.

هم دغه شان په صحیح مسلم کښې د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ يَتَكَلَّمُوا أَوْ يَعْمَلُوا بِهِ﴾ [4]

یعنی: الله پاک په زړونو کښې پیدا کیدونکی خیالات او وساوس معاف کړی دی، مگر دا چه هغه په ژبه باندې راوستلې شی یا په هغې باندې عمل اوکړې شی.

په صحیح مسلم کښې یو بل روایت دې، په هغې کښې دی:

﴿إِذَا هَمَّ عَبْدِي بِسَيِّئَةٍ فَلَا تَكْتُبُوهَا عَلَيْهِ فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا سَيِّئَةً﴾ [5].

یعنی: صرف د گناه په اراده باندې زما د بنده گناه مه لیکئ، که هغه اراده ئې په عمل کښې راغله نو بیا یو گناه لیکئ.

د دې احادیثو د ظاهر نه استدلال کولو سره ډیر زیات علماء کرام فرمائی چه ترڅو پورې فعل صادر نه شی نو صرف د خیال او عزم د وجې نه مواخذه نه وی، امام مارزی رحمه الله دې ته د اکثر فقهاء کرامو رحمهم الله مسلک وئیلې دی. [6]

کوم حضرات چه په عزم سیئة باندې د مواخذې قائل دی هغوی دا احادیث په هغه صورتونو

---

[1] وفتح الملهم، كتاب الايمان، باب اذا هم العبد بحسنه كتبت، واذ هم بسيئة لم تكتب، ۹۵/۲
[2] شرح مسلم للنووی، کتاب الایمان ۳۳۰/۱
[3] صحيح البخاری، کتاب العتق، باب الخطاء والنسيان فی العتاقة والطلاق ۳٤۳/۱
[4] صحيح مسلم، کتاب الایمان، باب تجاوز الله من حدیث النفس، ۳۲۷/۱، رقم ۳۲۷
[5] صحيح مسلم، کتاب الایمان، باب اذا هم العبد بحسنه ... ۳۲۹/۱، رقم ۲۳۰
[6] اوگورئ شرح صحيح مسلم للنووی، کتاب الایمان ۳۳۰/۱

باندې محمول کوی چه کله عزم نه وی، صرف په زړه کښې خيال راشي. امام ابوبکر باقلانی هم دا مسلک اختيار کړې دې
امام نووی رحمه الله هم دې مسلک ته حسن وئيلې دې. هغوی فرمائی چه د زړه په عزم باندې د مواخذې کيدل د نصوص شرعيه نه ثابت دی مثلا په آيت کريمه کښې دی ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾[1]، هم دغه شان په يو بل آيت کريمه کښې دی ﴿اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ﴾[2]، بدګمانی، حسد، تکبر، د يو مومن د زړه نه سپکاوې هغه ټولې روحانی بيمارئ دې چه د هغې تعلق د زړه سره دې او د هغې په مواخذې باندې د علماء کرامو اجماع دد[3].
د بعض احاديثو نه هم صراحتا معلوميږی چه د ګناه که چا عزم اوکړو نو په هغې باندې مواخذه دد.

تعارض روايات او د هغې حل: امام احمد رحمه الله د ابوکبشه انماری رضی الله عنه نه يو مرفوع روايت نقل کړې دې چه په هغې کښې دی. دنيا د څلورو کسانو دپاره دد. په هغې کښې دی:

﴿وَعَبْدٌ رَزَقَهُ اللهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا، فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ، وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، وَلَا يَعْلَمُ لِلهِ فِيهِ حَقَّهُ، فَهَذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ قَالَ: وَعَبْدٌ لَمْ يَرْزُقْهُ اللهُ مَالًا، وَلَا عِلْمًا فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ كَانَ لِي مَالٌ لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ، قَالَ: هِيَ نِيَّتُهُ، فَوِزْرُهُمَا فِيهِ سَوَاءٌ﴾[4]
يعنی: کوم بنده ته چه الله پاک مال ورکړو، خو علم ئې ورنکړو. او هغه په خپل مال کښې بغير د علم نه داسې تصرف کوی چه د هغې په باره کښې د الله پاک نه نۀ ويريږی. نه هغه په صله رحمئ کښې خرچ کوی او نه په هغې کښې د الله پاک څه حق ګڼړی نو دې په بدترين درجه کښې دې او هغه سړې چه هغه ته الله پاک نه مال ورکړو او نه علم. خو د هغه خواهش وی چه که د هغه سره مال وې نو هغه به هم د هغه نه مخکښې سړی په شان په هغه مال کښې تصرف کولې نو د دواړو ګناهونه برابر دی.
په دې حديث او حديث الباب کښې په ظاهره تعارض دې، حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حل هم دا راويستلې دې چه د مسند احمد داحديث دې په عزم باندې محمول کړې شی. پس هغه ليکی: ﴿الجمع بين الحديثين بالتنزيل على حالتين فتحمل الحالة الأولى على من هم بالمعصية هما مجردا من غير تصميم والحالة الثانية على من صمم على ذلك وأصر عليه وهو موافق لما ذهب إليه الباقلاني﴾[5]
يعنی: په دې دواړو احاديثو کښې د تطبيق صورت دا دې چه دا دې په دوه حالتونو باندې

---

[1] سورة النور: ١٩
[2] سورة الحجرات: ١٢
[3] د ذکر شوې تفصيل دپاره اوګورئ: شرح مسلم للنووی، کتاب الايمان ٣٤٠/١
[4] مسند الامام احمد: ٢٣١/٤
[5] فتح الباری: ٣٢٥/١١

محمول کړې شی، اول حالت دې په هغه چا باندې محمول کړې شی کوم چه د ګناه اراده کوی خو هغه اراده مصمم او کلکه نه وی او دویم حالت دې په هغه سړی باندې محمول کړې شی چه د ګناه عزم مصمم اوکړی، لکه چه د باقلانی رحمه الله مذهب دې.

هم دغه شان یو مشهور حدیث دې: «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ»[1]

یعنی: چه کله دوه مسلمانان تورې اخستلو سره د یو بل مخې ته راشی (او یو قتل شی) نو قاتل او مقتول به دواړه جهنمیان وی، چا عرض اوکړو: دا خو قاتل دې، خو د مقتول څه قصور؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه هم د دې قاتل د قتل کولو سخت خواهش مند وو.

د دې حدیث نه هم د ګناه په عزم کولو باندې د مواخذې صراحت معلومیږی.

د علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله تحقیق: خو علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله د ابو کبشه انماری رضی الله عنه او د نورو نصوصو په باره کښې فرمائی چه په دې کښې د عزم او مراتب قصد ذکر نشته، بلکه دا په حقیقت کښې اخلاقی بیمارئ دی او دا بیل څیز دې. حضرت لیکی:

«قلت: حديث ابي كبشة الانماري ليس من باب العزم في شئ حتى يستدل به من يقول بالمواخذة بالعزم، فان مدلول حديث ابي كبشة، انما هو التحسر على فوات معصية الله، وفقدان اسبابها، وهذا من الكيفيات النفسانية التي تلحق بالملكات، كالحسد، والعجب، والنفاق، والكبر، وغيرها وكذلك حب شيوع الفاحشة، واساءة الظن بالله، وبالمؤمنين ليس من مراتب القصد، بل هما من جنس الاخلاق الذميمة والملكات الرديئة التي يؤاخذ بها العبد بالاتفاق، فيظهر على هذا ركاكة الاحتجاج بقوله عزوجل: إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ وقوله: اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ ...على المواخذة بالعزم»[2]

یعنی: زما خیال دې چه د ابو کبشه انماری رضی الله عنه د حدیث تعلق د عزم سره نه دې چه په هغې سره په عزم باندې په مواخذه کولو باندې استدلال اوکړې شی، بلکه د دې حدیث مدلول او مفهوم دا دې چه هغه سړې کوم چه د الله پاک په نافرمانئ نه کیدو او د معصیت په وسائلو او اسباب نه موجود کیدو باندې افسوس او حسرت کوی او دا د کیفیات نفسانیه سره تعلق ساتی، کوم چه بد اخلاق مثلاً: حسد، عجب، نفاق او تکبر وغیره په حکم کښې دې، هم دغه شان د بې حیایئ د خورولو خواهش او د الله پاک او د مومنانو متعلق بدګمانی هم د قصد د مراتبو نه نهٔ دی، بلکه دا د اخلاق ذمیمه او د بدو ملکاتو د جنس نه دی، چه په هغې باندې بالاتفاق د انسان مواخذه کولې شی، ددې تفصیل نه دا خبره واضح او ظاهر شوه چه په عزم باندې د مواخذې په سلسله کښې په آیت کریمه «إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ» او آیت کریمه «اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ» باندې استدلال کول خومره ضعیف او بې ځایه دې.

---

[1] فتح الملهم: ۹٤/۲

[2] فتح الملهم: کتاب الایمان: ۹٤/۲

د عزم دوه قسمونه : فائده : بعض حضراتو د عزم دوه قسمونه بیان کړی دی :

① یو هغه چه د هغې تعلق صرف د زړه سره دې او د اندامونو او جوارح نه د هغې ظهور نه کیږی، لکه شک، حسد او بغض وغیره.

② دویم هغه چه د هغې تعلق د جوارح سره دې، مثلا زنا، غلا وغیره..... د علماء کرامو ذکر شوې اختلاف په دې دویم قسم کښې دې، یعنی یو سړی د داسې بدئ د زړه نه اراده اوکړه چه د هغې تعلق د اندامونو سره دې مثلاً غلا، زنا وغیره نو د هغه به مواخذه کولې شی یا نه؟ د بعض علماء کرامو په نزد چه ترڅو پورې عملی شکل اختیار نه کړی، مواخذه به نه وی. اګر چه هغه د هغه بدئ د ارتکاب عزم او کلکه اراده ولې نه وې کړې. او اکثر علماء کرام فرمائی چه د کلکې ارادې کولو په صورت کښې به مواخذه وی. (۱)

۳۲: بَاب مَا يُتَّقَى مِنْ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ

ګناه معمولی نه دی ګنړل پکار: ګناهونه واړهٔ او معمولی نه دی ګنړل پکار، امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د دې خبرې طرف ته توجه پیدا کړې ده چه ګناهونه واړهٔ نه دی ګنړل پکار، دغه شان د انسان په زړه کښې د ګناهونو سخت والې او بدی ختمه شی او انسان د لوئې لوئې ګناهونو سره عادت شی، رسول الله ﷺ سیده عائشه رضی الله عنها ته فرمائیلې وو ﴿يَا عَائِشَةُ، إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ، فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ طَالِبًا﴾ (۲) یعنی اې عائشه! کوم ګناهونه چه واړهٔ ګنړلې شی د هغې نه هم ځان بچ کوه، ځکه چه د الله پاک د طرف نه به د دې تپوس کیږی.

[۶۱۲۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا مَهْدِيٌّ عَنْ غَيْلَانَ عَنْ أَنَسٍ -رضی الله عنه- قَالَ إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالاً هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعَرِ، إِنْ كُنَّا نَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- الْمُوبِقَاتِ، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ يَعْنِي بِذَلِكَ الْمُهْلِكَاتِ.

د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه تاسو ډیر اعمال کوئ او هغه ستاسو په نظر کښې د ویښتهٔ نه هم زیات معمولی وی، حال دا چه مونږ به هغه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې موبقات ګنړل.

ابو عبدالله یعنی امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د موبقات نه مراد دې : هلاکونکې ګناهونه.

د مهدی نه مهدی بن میمون مراد دې، د غیلان نه غیلان بن جریر مراد دې، علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه حافظ ابن حجر په هدی الساری مقدمة د فتح الباری کښې د دې وضاحت کړې دې (۳) اګر چه په فتح الباری کښې هغوی غیلان بن جامع لیکلې دې خو د مقدمې والا قول صحیح دې. (۴)

---

(۱) فتح الملهم کتاب الایمان : ۹۵/۲

(۲) فتح الباری : ۴۰۰/۱۱

(۳) هدی الساری، الفصل السابع : ۴۹۰

(۴) ارشاد الساری ۴۹۰/۱۳

خو حافظ ابن جریرؒ په فتح الباری کښې غیلان بن جریر لیکلي دي (۱) ممکنه ده چه قسطلانی سره کومه نسخه وی په هغې کښې ابن جامع لیکلي شوي وی!

علامه عینیؒ لیکی : «وكانت الصحابة يعدون الصغائر من الموبقات لشدة خشيتهم لله ولم تكن لهم كبائر والمحقرات إذا كثرت صارت كبائر للإصرار عليها» (۲)

یعنی : حضرات صحابهؓ به د الله پاک د ویرې د وجې نه واړهٔ ګناهونه هم مهلک ګڼړل، لوئې ګناهونه خو د هغوی وو هم نه، د وړو ګناهونو هم چه کله کثرت شی نو هغه لوئې ګناهونه جوړیږی.

۳۳: بَابُ الأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ وَمَا يُخَافُ مِنْهَا

د اعمال دارومدار په خاتمه باندې دې : د اعمال دارو مدار په خاتمه باندې دې، د انسان د خاتمې په وخت د هغه عمل څنګه وو؟ د هغې مطابق به فیصله کولې شی یو سړې ټول عمر په ګناهونو او د الله پاک په نافرمانئ کښې اخته وو، خو په آخر عمر کښې ورته الله پاک د توبې او د خیر توفیق ورکړو او د هغه خاتمه بالخیر اوشوه، نو هغه یو کامیاب او بامراده انسان دې، د هغې برعکس یو بل سړې ټول عمر د الله پاک په اطاعت کښې مصروف پاتې شو، خو په آخر کښې هغه د څه وجې نه په ګناهونو کښې اخته شو او د هغه خاتمه په خیر سره اونشوه نو دا ناکام او نامراد شو، په دې وجه انسان له د خپلې خاتمې په باره کښې ډیر فکرمند اوسیدل پکار دی او د بدې خاتمې نه ویریدل پکار دی ځکه چه اصل اعتبار د خاتمې دې، امام بخاریؒ په دې باب سره، د دې حقیقت طرف ته توجه پیدا کړې ده.

کوم سړی سره چه د خپلې خاتمې او عاقبت فکر وی، هغه به د خپلو اعمالو په باره کښې په عجب او خود پسندئ کښې نه اخته کیږی.

[۶۱۲۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ نَظَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - إِلَى رَجُلٍ يُقَاتِلُ الْمُشْرِكِينَ، وَكَانَ مِنْ أَعْظَمِ الْمُسْلِمِينَ غَنَاءً عَنْهُمْ فَقَالَ «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا». فَتَبِعَهُ رَجُلٌ فَلَمْ يَزَلْ عَلَى ذَلِكَ حَتَّى جُرِحَ، فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ. فَقَالَ بِذُبَابَةِ سَيْفِهِ، فَوَضَعَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ، فَتَحَامَلَ عَلَيْهِ، حَتَّى خَرَجَ مِنْ بَيْنِ كَتِفَيْهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ فِيمَا يَرَى النَّاسُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّهُ لَمِنْ أَهْلِ النَّارِ وَيَعْمَلُ فِيمَا يَرَى النَّاسُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِخَوَاتِيمِهَا» [ر: ۲۷۴۲]

د سیدنا سهل بن سعد الساعدیؓ نه روایت دې چه رسول اللهﷺ یو سړې اولیدو کوم

---

۱) اوګورئ : فتح الباری ۱۱/۴۰۰

۲) عمدة القاری : ۲۳/۱۲۳

چه د مشرکانو سره په جنګ کښې مصروف وو. دا سړې د مسلمانانو په صاحب مال و دولت خلقو کښې وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که څوک غواړی چه یو جهنمي ویني نو دا سړې دې ویني. په دې باندې یو سړې شاته شو هغه سړې مسلسل جنګیدلو او آخر زخمي شو. بیا هغه اوغوښتل چه زر مړ شي پس د خپلې تورې په سوکه باندې ئې خپله سینه کیخودله او په هغې باندې ئې ځان ور واچولو او توره د هغه اوګو لره شلولو سره بهر اوتله. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ډیر کرته بنده د خلقو په نظر کښې د اهل جنت کار کوی حال دا چه هغه د اهل جهنم نه وی. یو بل بنده د خلقو په نظر کښې د اهل جهنم کار کوی حال دا چه هغه جنتي وی (ځکه چه د ژوند په آخری حصه کښې صالح شی). او د اعمالو اعتبار خو په خاتمه باندې دې

د ابوغستان نوم محمد بن مطرف دې.

﴿ ذبابة ﴾ د تورې سوکه. دا حدیث په کتاب الجهاد ﴿ باب لا یقال فلان شهید ﴾ د لاندې تیر شوې دې په حدیث شریف کښې چه د کوم سړی ذکر دې د هغه نوم قزمان (بضم القاف) وو.

۳۴: بَابُ الْعُزْلَةُ رَاحَةٌ مِنْ خُلَّاطِ السُّوءِ

﴿ عزلة ﴾ (بضم العین وسکون الزاء) خلوت او یو اخې والی ته وائی.

﴿ خلاط ﴾ د خلیط جمع دہ. د خلیط جمع خلطاء هم راځی. علامه عیني رحمه الله فرمائی چه دا مصدر هم کیدې شي. د خلیط نه مراد دوست او ملګرې دې. ﴿ سوء ﴾ (د سین په فتحې سره) بد.[1]

د امام بخاري رحمه الله مقصد دا دې چه په خلوت او یو اخې والی کښې د بدو ملګرو او غلط قسم خلقو د صحبت نه محفوظ وی

امام حاکم رحمه الله د ابوذر رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې ﴿ الْوَحْدَةُ خَيْرٌ مِنْ جَلِيسِ السُّوءِ ﴾[2] یعنی یو اخې والې د بد ملګری نه غوره دې.

د ترجمة الباب چه کوم الفاظ دی: دا د سیدنا عمر رضی الله عنه نه منقول دی، کوم چه ابن ابی شیبة موصولا ذکر کړې دی.[3]

د خلوت فوائد: د خلوت اختیارولو ډیر فائدې دی، انسان د بد صحبت نه او د خلقو د غیبت نه محفوظ وی. خلوت اختیارونکې د خلقو د شر نه او خلق د هغه د تکلیف نه محفوظ وی. د عبادت دپاره په اطمینان سره وخت ملاؤ شي او د لغو او فضول خبرو نه بچ وی. د جنید بغدادي رحمه الله قول مشهور دې:

---

[1]) فتح الباری: ۴۰۲/۱۱، وعمدة القاری: ۱۲۵/۲۲

[2]) فتح الباری: ۴۰۲/۱۱، مستدرک الامام الحاکم، کتاب معرفة الصحابة: ۳۸۷/۳، رقم الحدیث: ۵۴۶۶

[3]) فتح الباری: ۴۰۲/۱۱

﴿ مكابدة العزلة ايسر من مدارة الخلطة ﴾ (۱) يعنې د خلوت اختيارولو مشقت. د خلقو د اختلاط د مدارات په مقابله كښې آسان دې
پس په حديث الباب كښې د مجاهد نه پس د ټولو نه افضل هغه سړی ته ونيلې شوې دې كوم چه د خلقو نه بيل اوسيدو سره د الله پاک په عبادت او بندګئ كښې مشغول وی
خلوت افضل دې كه اختلاط؟ خلوت اختيارول غوره دی كه د خلقو سره اختلاط او يوځائې اوسيدل... په دې سلسله كښې تفصيل دا دې چه كه خلقو سره اوسيدو باندې د هغوی په تكليفونو باندې صبر نه شی كولې او د خپل تكليف نه نور مسلمانان نه شی بچ كولې نو د هغه دپاره عزلت او خلوت اختيارول غوره دی.
خو كه يو سړې په خلقو كښې اوسيدو سره د خپل دين حفاظت كولې شی. نو په داسې صورت كښې اختلاط افضل دې، ځكه چه د رسول الله ﷺ او اكثر صحابه كرامو ﷺ ژوند د خلوت اختيارولو نه وو بلكه په خلقو كښې اوسيدلو سره به ئې د خپل او هغوی د دين حفاظت فرمائيلو. دعوت او تبليغ او درس تدريس او د دين د څو شعبو خدمت ځانله اوسيدو سره نه شی كيدې.
اصل كښې د انسانانو د مزاج فرق وی بعض خلق زر خفه كيدونكې وی. د بعض خلقو په مزاج كښې انفعاليت ډير زيات وی اوهغوی دهرې واقعې او معمولې خبرې نه د حد نه زيات متاثر كيږی. د دې برعكس د څه خلقو په مزاج كښې صبر او تحمل ډير زيات وی. او د واقعاتو او حوادثو نه د حد نه زيات اثر نه قبلوی خلوت اختيارول او د اختلاط افضليت به هم د هرسړی د مزاج په اعتبارسره وی. بنيادی څيزدخپل دين حفاظت دې. د كوم سړی دين چه په كوم حالت كښې محفوظ كيدې شی، د هغه دپاره هم هغه حالت افضل او غوره دې
په حديث باب كښې چه د خلوت اختيارولو كوم فضيلت دې دا على الاطلاق نه دې. بلكه د هغه سړی دپاره دې چه د هغه د دين حفاظت په خلوت اختيارولو سره ممكن وی (۲) په عام حالاتو كښې اختلاط افضل دې، په يو روايت كښې دی!
﴿ الْمُسْلِمُ إِذَا كَانَ يُخَالِطُ النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ خَيْرٌ مِنَ الْمُسْلِمِ الَّذِي لَا يُخَالِطُ النَّاسَ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ ﴾ (۳)
يعنې: هغه مسلمان كوم چه د خلقو سره يوځائې اوسيږی او د هغوی په تكليف باندې صبر كوی هغه غوره دې. د هغه مسلمان په مقابله كښې چه د خلقو سره نه اوسيږی او نه د خلقو په تكليف وركولو باندې صبر كوی.
[۶۱۲۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ حَدَّثَهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله

---

(۱) فتح البارى ۴۰۲/۱۱. ارشاد السارى : ۴۹۴/۱۳
(۲) راجع للتفصيل : فتح البارى : ۴۰۴/۱۱
(۳) عمدة القارى : ۱۲۵/۲۳

عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ قَالَ «رَجُلٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، وَرَجُلٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ رَبَّهُ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ».

تَابَعَهُ الزُّبَيْدِيُّ وَسُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ وَالنُّعْمَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

وَقَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَطَاءٍ أَوْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - . وَقَالَ يُونُسُ وَابْنُ مُسَافِرٍ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - . [ر: ۲۶۳۴]

د سیدنا ابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې چه یو بانډچی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او تپوس ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ! کوم سړې د ټولو نه غوره دې؟ وې فرمائیل: هغه سړې چا چه د خپل نفس او مال په ذریعه جهاد اوکړو او هغه سړې کوم چه په یوه دره کښې د خپل رب بندګی کوی او خلق د خپل شر نه محفوظ ساتی.

د سند وضاحت: په سند کښې تحویل دې، د تحویل نه په وړاندې روایت کښې د ﴿ قیل یا رسول الله ﴾ الفاظ دی، د سوال کونکی ذکر نشته او د تحویل نه پس د محمد بن یوسف فریابی په روایت کښې ﴿ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله ﴾ الفاظ دی. په دې کښې د سوال کونکی ذکر نشته، چه یو بانډچی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د هغه نوم معلوم نه شو. (۱)

قوله: ﴿ وَرَجُلٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ ﴾: ﴿ شعب ﴾ (د شین په کسرې سره او د عین په سکون سره) درې او کندې ته وائی، شعب د هغې جمع ده.

قوله: ﴿ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ ﴾: خلق د خپل شر د وجې نه پرېږدی، یعنی د خپل اذیت د وجې نه د خلقو نه بیل اوسیږی. او هغوی د خپل شر نه محفوظ کړی، د ﴿ ودع یدع ﴾ معنی د پرېخودلو راځی. علامه ابن اثیر رحمه الله لیکلې دی چه د دې ماضی او مصدر نه استعمالیږی. (۲)

قوله: ﴿ تَابَعَهُ الزُّبَيْدِيُّ وَسُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ وَالنُّعْمَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ ﴾: یعنی د شعیب بن ابی جمرة متابعت دې درې واړو راویانو کړې دې، د محمد بن الولید زبیدی متابعت امام مسلم، د سلیمان بن کثیر روایت امام ابوداؤد، د نعمان بن راشد متابعت امام احمد موصولاً نقل کړې دی. (۳)

(۱) فتح الباري : ۴۰۳/۱۱

(۲) النهاية : ۸۳٤/۲

(۳) ارشاد الساري ۴۹۳/۱۳

قوله: ﴿وَقَالَ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، أَوْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم﴾: د معمر بن راشد هغه تعليق امام احمد رحمه الله موصولا نقل کړې دې، په دې کښې د امام احمد رحمه الله شک پيدا شو چه زهری د عطاء بن يزيد نه نقل کړې دې که د عبيدالله بن عبدالله بن عقبة نه. (۱)

قوله: ﴿وَقَالَ يُونُسُ، وَابْنُ مُسَافِرٍ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءٍ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم﴾: د يونس بن يزيد تعليق امام ذهلی رحمه الله په زهريات کښې د ابوعبدالرحمن بن خالد بن مسافر تعليق هم امام ذهلی په زهريات کښې او د يحيى بن سعيد تعليق هم امام ذهلی رحمه الله موصولا نقل کړې دې. (۲)

خو دې درې واړو د صحابی نوم نه دې اخستلې بلکه ﴿ من بعض اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم﴾ ئې وئيلې دی.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه کيدې شی د بعض اصحاب نه مراد هم دا سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه مراد دې. (۳)

[۶۱۳۰] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا الْمَاجِشُونُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ خَيْرُ مَالِ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ الْغَنَمُ، يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ، يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ». [ر: ۱۹]

سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه فرمايی چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه واوريدل چه په خلقو باندې به يو داسې دور راشی چه د يو مسلمان به غوره مال ګډې بيزې وی، هغه به هغې سره د غرونو څوکو او د بارانونو وريدو ځايونو ته لاړ شی، هغه به د خپل دين د حفاظت دپاره د فتنو نه تيخته اختياروی.

قوله: ﴿يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ﴾: په دې کښې ئې اشاره اوکړه چه خلوت اختيارول او د خلقو نه د بيلتون دا فضيلت به په آخری زمانه کښې وی، ځکه چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې خو جهاد مطلوب وو او جهاد د خلوت اختيارولو سره نه شی کيدې. (۴)

(۱) ارشاد الساری ۱۳/۴۹۳
(۲) ارشاد الساری ۱۳/۴۹۳
(۳) راجع: شرح الکرمانی للبخاری: ۲۳/۱۶
(۴) ارشاد الساری ۱۳/۴۹۳

قوله: ﴿شَعَفُ الْجِبَالِ﴾: د غرونو سوکې، دا د شعفة جمع ده
قوله: ﴿مواقع القطر﴾: د باران مواقع، مراد د دې نه میدانی علاقې دی. ﴿يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ﴾ يعنی هغه به د خپل دین د حفاظت دپاره د خلقو نه د تیختې لاره اختیاروی علامه عینی رحمه الله لیکی.

﴿ وفيه أن اعتزال الناس عند ظهور الفتن والهرب عنهم أسلم للدين من مخالطتهم ﴾ (١)
يعنی د فتنو د ظاهریدلو په زمانه کښې د خلقو نه بیل اوسیدل د دین دپاره ډیر د سلامتۍ باعث دی. هغوی سره د یو ځائې اوسیدو په مقابله کښې
ابن بطال د سیدنا حسن رضي الله عنه یو مرفوع روایت نقل کړې دې هغوی لیکی.

﴿ وذكر علي بن معبد عن عبد الله بن المبارك عن مبارك بن فضالة، عن الحسن يرفعه إلى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قال: (يأتي على الناس زمان لا يسلم لذي دين دينه، إلا من فر بدينه من شاهق إلى شاهق وحجر إلى حجر، فإذا كان كذلك لم تنل المعيشة إلا بمعصية الله، فإذا كان كذلك حلت العزلة، قالوا: يا رسول الله، كيف تحل العزلة وأنت تأمرنا بالتزويج؟ قال: إذا كان كذلك كان هلاك الرجل على يدي أبويه، فإن لم يكن له أبوان كان هلاكه على يدي زوجته، فإن لم تكن له زوجة كان هلاكه على يدي ولده، فإن لم يكن له ولد كان هلاكه على يدي القرابات والجيران. قالوا: وكيف ذلك يا رسول الله؟ قال: يعيرونه بضيق المعيشة ويكلفونه ما لا يطيق، فعند ذلك يورد نفسه الموارد التي يهلك فيها ﴾ (٢)
يعنی: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل چه په خلقو باندې به یو داسې زمانه راشی چه دین دار به د غرونو څوکو ته تختیدلو سره د خپل دین حفاظت کوی. په داسې صورت کښې به خلوت اختیارول جائز وی. خلقو تپوس اوکړو یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! خلوت اختیارول څنګه جائز دی، تاسو خو مونږ ته د ودونو حکم راکوئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل چه کله داسې صورت حال وی نو انسان به د خپل مور پلار د لاسه هلاکیږی. که د هغه مور او پلار نه وی نو د خپلې ښځې د لاسه به تباه کیږی، که ښځه ئې نه وی نو د خپل ځوئی په لاس به هلاکیږی. او که ځوئې ئې نه وی نو د خپلو رشته دارو او ګاونډیانو د لاسه به بربادیږی
خلقو تپوس اوکړو. هغه څنګه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل چه خلق به هغه ته پیغور ورکوی. په غریبئ او بې وسئ باندې به ئې شرموی او هغه به د داسې څیزونو مکلف کوی کوم چه به د هغه د طاقت نه بهر وی نو هغه به د هغوی مطالبات او خواهشات پوره کولو دپاره خپل ځان په هلاکت کښې واچوی
مطلب دا دې چه د هغه دا رشته دار به هغه ته د غریبئ او بې وسئ پیغور ورکوی او هغه به مجبوروی چه هغه مال او دولت او سامان د عیش او عشرت په هره طریقې سره برابر کړی او

---
(١) عمدة القاري: ٢٣/١٢٧، ٢٠/٢٠٤
(٢) شرح ابن بطال: ١٠/٢٠٤

هغه به د هغوی د مطالباتو پوره کولو دپاره په ناجائز طریقو سره د مال او دولت په گټلو کښې اولگی او دغه شان به د خپل دین د بربادئ ذریعه جوړه شی

۳۵: باب رَفْعِ الأَمَانَةِ

د ترجمة الباب مقصد څنگه څنگه قیامت رانزدې شی او د خیر القرون نه لرې والې پیدا شی. ډیر فتنې به پیدا شی او دیانت او امانت به د خلقو نه ختم شی. امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د رفع امانت یعنی د امانت د اوچتیدلو تذکره کړې ده

[۶۱۳۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا ضُيِّعَتِ الأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ». قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «إِذَا أُسْنِدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ، فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ». [ر: ۵۹]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه کله (د خلقو نه) امانت ضائع شی نو دقیامت انتظار کوه. تپوس اوشو : یارسول الله ﷺ! امانت به څنگه ضائع کیږی؟ وې فرمائیل : چه کله معامله نااهل خلقو ته اوسپارلې شی نو بیا د قیامت انتظار کوئ.

دا حدیث د کتاب العلم په شروع کښې تیر شوې دې، په دې حدیث کښې د ذکر کړې شوې امانت نه یا خو د امانت عام مفهوم مراد دې کوم چه د خیانت ضد دې او یا د دې نه د امانت هغه مفهوم مراد دې چه د هغې ذکر د قرآن کریم په آیت کریمه ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ [۱] کښې دی، د دې تفصیل د وړاندې حدیث نه لاندې راروان دې

قوله: ﴿إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ﴾: په دې کښې د امر نه مراد خلافت. امارة. قضاء وغیره دی، کوم چه د دین متعلق امور دی [۲] مقصد دا دې چه معاملات به نااهله خلقو ته حواله کړې شی او منصبونه به هغوی ته راشی نو هغوی به د خپلې نااهلئ د وجې نه په هغې کښې خیانت کوی، ایمانی تقاضې به د خپو لاندې کوی. نو دا به د قرب قیامت علامت وی. پس د بخاری شارح، ابن بطال رحمه الله یو روایت نقل فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل

﴿ سيأتى على الناس سنوات خداعات يصدق فيها الكاذب، ويكذب فيها الصادق، ويؤتمن فيها الخائن، ويخون فيها الأمين، وينطق الرويبضة. قيل: وما الرويبضة ؟ قال: الرجل التافه فى أمر العامة ﴾

یعنی په خلقو باندې به یو داسې زمانه راشی چه په هغې کښې به دهوکه ورکول ډیر عام شی، په هغې کښې به د دروغژن تصدیق کولې شی او د رشتینی انسان به تکذیب کولې شی، خیانت کونکی سره به امانت کیخودلې شی او چا سره چه امانت کیخودلې شی هغه به خیانت کوی او رویبضه به خبرې کوی. تپوس اوکړې شو: رویبضه څوک دې؟ رسول الله ﷺ

---

[۱]) الاحزاب : ۷۲
[۲]) ارشاد الساری ۴۹۴/۱۳

اوفرمائیل سپک انسان یعنی د عام خلقو په معاملاتو کښې به یو معمولی سړې هم د خپلې رائې اظهار کوی
علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په دې کښې اکثر علامات مونږ اولیدل او کوم چه ښکاره شوې نه دی هغه هم زیات لرې نه دی. (۱)

[۶۱۳۲] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ حَدَّثَنَا حُذَيْفَةُ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَدِيثَيْنِ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الآخَرَ، حَدَّثَنَا «أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ، ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ» . وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ «يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ، فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ، ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ فَيَبْقَى أَثَرُهَا مِثْلَ الْمَجْلِ، كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ، فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا، وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ، فَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ فَلاَ يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الأَمَانَةَ، فَيُقَالُ إِنَّ فِي بَنِي فُلاَنٍ رَجُلاً أَمِينًا . وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ مَا أَعْقَلَهُ وَمَا أَظْرَفَهُ وَمَا أَجْلَدَهُ. وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ،
وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ وَمَا أُبَالِي أَيَّكُمْ بَايَعْتُ لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا رَدَّهُ الإِسْلاَمُ، وَإِنْ كَانَ نَصْرَانِيًّا رَدَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ، فَأَمَّا الْيَوْمَ فَمَا كُنْتُ أُبَايِعُ إِلاَّ فُلاَنًا وَفُلاَنًا».
قَالَ الْفِرَبْرِيُّ قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ حَدَّثْتُ أَبَا عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ عَاصِمٍ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا عُبَيْدٍ يَقُولُ قَالَ الأَصْمَعِيُّ وَأَبُو عَمْرٍو وَغَيْرُهُمَا جَذْرُ قُلُوبِ الرِّجَالِ الْجَذْرُ الأَصْلُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ، وَالْوَكْتُ أَثَرُ الشَّيْءِ الْيَسِيرُ مِنْهُ، وَالْمَجْلُ أَثَرُ الْعَمَلِ فِي الْكَفِّ إِذَا غَلُظَ. [۶۶۷۵، ۶۸۴۸]

د سیدنا حذیفه بن الیمان رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه احادیث بیان اوفرمائیل یو خو مې لیدلې دې او د دویم منتظر یم. رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته اوفرمائیل: امانت د خلقو د زړونو ژور والی ته کوز کړې شو، بیا هغوی هغې لره د قرآن کریم نه اوپیژندلو. بیا نې د سنت نه اوپیژندلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې د اوچتیدلو متعلق ارشاد اوفرمائیلو. چه انسان به یو کرت اودهٔ شی او (هم په دې کښې به) امانت به د هغه د زړه نه ختم شی، او د هغې اثر به د پولئ په شان باقی پاتې شی، لکه چه د اور سکروټه ستاسو په خپه راشی او د هغې د وجې نه خپه پولئ شی، تاسو به هغه پړسیدلې وینئ حال دا چه دننه

---

۱) شرح ابن بطال: ۲۰۵/۱۰

۲) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق، باب رفع الامامة (الحدیث ۶۴۹۷)، واخرجه ایضا فی کتاب الفتن، باب: اذا بقی فی حثالة من الناس (الحدیث: ۷۰۸۶)، واخرجه ایضا فی کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة، باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم (الحدیث ۷۰۸۶) مختصرا، واخرجه الترمذی فی کتاب الفتن، باب ما جاء فی رفع الامانة (الحدیث: ۲۱۷۹) وقال: هذا حدیث حسن صحیح، واخرجه ابن ماجة فی کتاب الفتن، باب ذهاب الامانة، (الحدیث: ۴۰۵۳)

هيڅ څيز نه وي، حال به دا شي چه سحر به خلق پاسيدو سره اخستل خرڅول كوي او يو سړې به هم امانت دار نه وي، او به وئيلې شي چه په فلانى خيلو كښې يو امانت دار سړې دې، د يو سړي متعلق به اووئيلې شي چه څومره عقل مند دې، څومره اوچتې حوصلې والا دې او څومره بهادر دې!! ... حال دا چه د هغه په زړه كښې به د اورى د دانې برابر هم ايمان (امانت) نه وى. ما يو داسې وخت هم تير كړې دې چه د هغې پرواه نه كوم چه د چا سره اخستل خرڅول كوم، كه هغه به مسلمان وو نو هغه به اسلام (د بې انصافئ نه) منع كولو، او كه هغه به نصرانى وو، نو د هغه مددګار به هغه منع كولو، خو اوس زه د فلانى او فلانى نه سوا چا سره هم اخستل او خرڅول نه كوم.

قوله: ﴿حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَدِيثَيْنِ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الآخَرَ﴾: سيدنا حذيفه رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ ماته دوه احاديث بيان كړل، يو خو ما اوليدو او د دويم انتظار كوم، اول حديث دې ﴿أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ﴾ او دويم حديث دې ﴿ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ﴾

قوله: ﴿أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ﴾: امانت د خلقو د زړونو تل ته كوز شو، بيا خلقو هغه د قرآن كريم نه زده كړو، بيا ئې د سنت نه زده كړو، د جذر معنى د جرړې ده.

د امانت نه څه مراد دې؟: په دې كښې د امانت نه يا خو د هغې مشهور معنى مراد ده، يعنى د چا په حق او ملكيت كښې خيانت نه كول او يا د دې نه مراد هغه امانت دې كوم چه د سورة احزاب په آيت كريمه ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ﴾ كښې راغلې دې، يعنى هغه ټولې شرعى ذمه دارئ كومې چه په هر مكلف باندې عائد كړې شوې دى، او كوم عهد او ميثاق چه د هغه نه اخستلې شوې دې. [1]

علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله د دې آيت كريمه د لاندې ليكى!

اصل دا ده چه الله پاك خپل يو خاص امانت د مخلوق په يو نوع كښې د كيخودلو اراده چه څوک دې امانت له كه غواړى نو په خپل سعى او كسب او طاقت سره دې محفوظ كړى او ترقى دې وركړى. چه په دې سلسله كښې د الله پاک د هر قسم شئون او صفاتو ظهور اوشى. مثلا د دې نوع كوم افراد چه امانت پوره طريقې سره محفوظ كړى او د دين په ترقئ كښې په هغوى باندې انعام او اكرام اوكړې شى. كوم چه په غفلت او شرارت سره ضائع كړى، هغوى ته دې سزا وركړې شى او كوم خلق چه دې باره كښې لږه كوتاهى كوى، هغوى سره دې د عفو او بخښنې كولو معامله اوكړې شى.

زما د خيال مطابق دا د ايمان او امانت يو تخم دې كوم چه د بنى ادم په زړونو كښې شيندلې

---

[1] فتح الملهم، كتاب الايمان، باب رفع الامانة من بعض القلوب، ۱۰۹/۲، ومرقاة المفاتيح، كتاب الفتن، ۶/۱۰

شوي دي. کوم ته چه ﴿ مابه التکلیف ﴾ وئیلي شي. ﴿ لا ایمان لمن لا امانة له ﴾ یعني «په کوم سړی کښې چه د امانت صفت نه وی، د هغه ایمان کامل نه دی» هم د هغې په خیال ساتلو سره د ایمان اونه راخیژی. ګویا د بنی ادم زړونه د الله پاک زمکې دی، تخم ئې هم په هغې کښې اچولي دې، د باران کولو دپاره د رحمت اوریځې هم هغه رالیږلې دی چه د هوی د سینو نه د الله پاک د وحی باران اوشو. [۱]

په انسان فرض دی چه د ایمان دا تخم کوم چه د الله پاک امانت دې ضائع نه کړی. بلکه پوره په سعی او کوشش سره دې د هغې ساتنه کوی. چرته داسې اونشي چه چرته د غلطئ یا غفلت په ځائې د اونې راختلو تخم هم ختم شي هم د دې طرف ته اشاره ده. د سیدنا حذیفه رضی الله عنه په دې حدیث کښې ﴿ أَنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ دا امانت هم د هدایت تخم دې کوم چه د الله پاک د طرف نه د خلقو په زړونو کښې اچولي شوي دې. بیا د قرآن او سنت د علومو باران اوشو چه د هغې نه که صحیح طریقې سره انتفاع اوکړې شي نو د ایمان بوټې رالوئې شي، او انسان ته د هغې د خوږې میوې نه د خوند اخستلو موقع ملاؤ شي. که په انتفاع کښې کوتاهی اوکړې شي نو هم د دې اونې په رالوئیدو کښې به نقصان راشي یا بالکل غفلت اوکړې شي نو د سره به ټول تخم برباد شي. دا امانت وو کوم چه الله پاک زمکې اسمان او غرونو ته اوښودلو. خو په چا کښې استعداد وو چه د دې عظیم امانت د اوچتولو حوصله ئې کړې وې، هر یو په خپل حال یا خپل قول سره د ناقابل برداشت ذمه داریانو نه ویریدلو سره انکار اوکړو چه مونږ دا بار نه شو اوچتولي. خپله سوچ اوکړه چه سوا د انسان نه کوم مخلوق دې کوم چه په خپل کسب او محنت سره د دې ایمان د تخم حفاظت او پالنه کولو سره د ایمان میوه داره اونه حاصله کړې شي. په حقیقت کښې د عظیم الشان امانت حق ادا کول او یو افت وهلې زمکه چه په هغې کښې مالک تخم کرلې وو. سخت محنت کولو سره باغ او بهار جوړول هم د دې ظلوم او جهول انسان حصه کیدې شي، چاسره چه قابله زمکه موجود ده او محنت کولو سره د یو څیز د لویولو قدرت الله پاک هغه ته ورکړې دې.

ظلوم او جهول د ظالم او جاهل مبالغه ده. ظالم او جاهل هغه چاته وائی چه بالفعل د عدل او علم نه خالي وی خو د دې صفاتو د حصول استعداد او صلاحیت لری. پس کوم مخلوق چه د فطرت د ابتداء نه په عدل او انصاف سره متصف دی او د یوې لمحې دپاره هم د دې اوصافو نه نۀ دی جدا شوي، مثلا ملائکة الله یا هغه مخلوق کوم چه د دې څیزونو د حصول بالکل صلاحیت نه لری «لکه زمکه، آسمان، غرونه وغیره» ظاهره ده چه دواړه د امانت الهیه حمل کونکی نه شي جوړیدې.

بیشکه د انسان نه سوا پیریان یو نوع ده چه په هغې کښې فی الجملة استعداد د دې تحمل موندلي شي هم په دې وجه ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې دواړه جمع کړې شوي

---

[۱] فتح الملهم، کتاب الایمان، باب رفع الامانة من بعض القلوب، ۱۰۹/۲

دى. خو د انصاف خبره دا ده چه د امانت د حق ادا كولو استعداد په هغوى كښې دومره ضعيف وو چه د امانت د حمل كولو په مقام باندې بالكل قابل ذكر او د التفات قابل او نه ګڼړلې شو. ګويا هغوى په دې معامله كښې د انسان تابع اوګڼړلې شو د جن (پيريانو) نوم مستقل طور اخستلو ته ضرورت نشته. والله تعالىٰ اعلم بالصواب.[1]

بعضو وئيلې دى چه د دې نه ايمان مراد دې.[2] ځكه چه د حديث په آخر كښې دا الفاظ دى ﴿وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ﴾

د امانت د زړه جرړو ته د كوزيدو مطلب دا دې چه الله پاك د هر سړى زړهٔ كښې د ايمان د قبلولو صلاحيت پيدا فرمائيلې دې. او يو نور ايمان و هدايت ئې هغه ته وركړې دې. چه د هغې ذكر د قرآن كريم په آيت ﴿فِطْرَتَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾[3] كښې دى او په حديث كښې دى ﴿كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ﴾[4]

مطلب دا دې چه الله پاك د مومنانو په زړونو كښې اولا د هدايت نور او د حق د قبلولو او پيژندلو صلاحيت پيدا فرمائيلې دې، بيا د قرآن او حديث په ذريعه هغوى هغه احكامات اوپيژندل او اوئې منل.

قوله: ﴿يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ﴾: دا دويم حديث دې. چه د هغې په باره كښې سيدنا حذيفه رضي الله عنه فرمائى چه د هغې ماته انتظار دې. په اول حديث كښې هغوى په عهد نبوى كښې د صحابه كرامو رضي الله عنهم په صورت كښې مشاهده كړې وه... يو سړې به اوده شى. نو امانت به د هغه د زړه نه اوچت كړې شى. د دې نه يا خو حقيقى اوده كيدل مراد دى يا د غفلت نه كناية ده چه د قرآن او حديث او د الله پاك د احكاماتو نه به لا پرواه شى. چه د هغې په نتيجه كښې به ترې امانت اوچت كړې شى

كه حقيقتا اوده كيدل مراد وى نو مطلب به دا وى چه انسان به اوده كيدو سره راپاسى نو خپله به هغه ته د زړه نه د امانت او د ايمان دارئ كيفيت ختم شوې وى او په زړه باندې به ئې تور والې او خړه راغلې وى، ګويا چه د دين يو اضطرارى كيفيت به د هغه په زړه باندې طارى شوې وى.

او كه د اوده كيدو نه مراد حقيقة اوده كيدل نه وى، بلكه د دين نه غفلت مراد دې نو مطلب به دا وى چه د قرآن او سنت نه به بې رخى اختيار كړى. په ګناهونو كښې به اخته شى، چه د هغې نتيجه به دا وى چه امانت او ايمان به اوچت كړې شى.[5]

---

[1]) تفسير عثمانى ص: ۵۶۹، ۵۷۰

[2]) مرقاة المفاتيح، كتاب الفتن، ۶/۱۰

[3]) سورة الروم: ۳۰

[4]) سنن ابى داؤد، كتاب السنة، باب فى ذرارى المشركين: ۳۲۹/۴، رقم الحديث: ۴۷۱۴

[5]) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ۶/۱۰

دا دويمه معنى زياته مناسب معلوميږي

قوله: ﴿فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ﴾: ﴿وكت﴾ يعنى د نقطې د نخښې په شان به د هغه نخښه باقي پاتې شي. ﴿وكت﴾ په واؤ باندې فتحه او د كاف په سكون سره، هغه نقطې ته وائى كومه چه په يو څيز كښې د مختلف رنګ وى. مثلا په تور كښې دننه سپينه يا په سپين څيز كښې توره نقطه. علامه قسطلانى رحمه الله ليكى:

﴿الوكت: النقطة في الشيء من غير لونه أوهو السواد اليسير أو اللون المحدث المخالف للون الذى كان قبله﴾[1]

قوله: ﴿ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ فَيَبْقَى فِيهَا أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ﴾: بيا به دوباره اوده شى نو امانت به اوچت كړې شى او دهغې نخښه به دپولۍ په شان باقى پاتې شى

﴿المجل﴾ د ميم په فتحې سره او د جيم په سكون سره، معنى ئې ده: پولۍ. د كار كولو دوران كښې چه د لاس كومه څرمن سخته شى چه هغې ته پولۍ وائى او په هغې باندې د مجل اطلاق كيږى

مطلب دا دې چه كله د دين نور هم غفلت زيات شى نو د امانت هغه لږه ډيره حصه كومه چه پاتې شوې وه، هغه به هم اوچته كړې شى او صرف د رابرسيره شوې پولۍ په شان نخښه به پكښې پاتې شى. كومه چه رابرسيره ښكاره كيږى خو د دننه نه خالى وى.

قوله: ﴿كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ﴾: يعنى لكه چه تاسو د اور سكروټه په خپله باندې راكاږئ او په هغې سره پولۍ راوخى نو هغه تاسو ته ډكه ښكارى او په هغې كښې هيڅ هم نه وى.

﴿نَفِطَ﴾ د باب سمع نه دې او د دې معنى ده: پولۍ راختل، د كار د وجې نه په لاس كښې پولۍ راوتل.

﴿منتبرا﴾: اى مرتفعا: دا د باب افتعال نه د اسم فاعل صيغه ده، د انتبار معنى ارتفاع او اوچت والې راځى.[2]

په ﴿نفط﴾ او ﴿فتراه﴾ ضمير د رجل طرف ته راجع دې او رجل مونث سماعى دې. او ضمير د مذكر دې. په ضمير او مرجع كښې د تذكر او تانيث په لحاظ سره مطابقت نشته.

د دې جواب دا دې چه د ضمير مرجع عضو. يا موضع رجل دې په كوم چه سكروټه اچولې شوې ده. په دې اعتبار سره دا مذكر ذكر كړې شوې دې.[3]

د حديث د تمثيل وضاحت: په دې حديث كښې چه كوم مثال پيش كړې شوې دې، حضرات

---

[1]) ارشاد السارى: ۴۹۶/۱۳

[2]) عمدة القارى: ۱۲۹/۲۳، وارشاد السارى: ۴۹۶/۱۳

[3]) عمدة القارى: ۱۲۹/۲۳، وارشاد السارى: ۴۹۶/۱۳، ومرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، كتاب الفتن: ۷/۱۰

محدثينو د هغې مختلف وضاحتې مطلب بيان كړي دى

① چه كله انسان د شريعت نه غافل شى او په گناهونو كنبې اخته شى نو په زړه كنبې دننه به ئې د ايمان نور كم شى او كله چه هغه خپله جائزه واخلى نو په خپل زړهٔ كنبې دننه به ﴿وكت﴾ يعنى د يوې نقطې د مقدار نه سوا د ايمان او امانت د نور نه هيڅ او نه وينى. بيا چه كله دوباره اودهٔ شى يعنى د دين د احكاماتو نه نور هم غافل شى او په معاصى او گناهونو كنبې اخته شى نو د نور امانت باقى پاتې حصه به هم غائبه شى او صرف د يوې ماتې پولئ په شان نخښه به پاتې شى كوم چه برسيره ښكاره كيږى خو د دننه نه د صالح مواد نه خالى او سوا د گنده اوبو نه پكښې هيڅ هم نه وى، هم دغه شان به دا سړې اگر چه په ظاهره كنبې صالح او نيک ولې نه ښكارى خو د دننه به د ايمان او امانت د آخرت د مفيد اعمالو نه به پكښې هيڅ هم نه وى.

خلاصه دا چه د ايمان نور به تدريجا او په مزه مزه ختم شى. د غفلت په اوله مرحله كنبې به د امانت نور ختم شى او صرف د يوې نقطې په اندازه به هغه نور باقى پاتې شى او د غفلت په دويمه مرحله كنبې به هغه هم ختم شى او صرف د هغې د محل په شان يوه نخښه به پاتې شى.... په دې كنبې دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چه د ايمان او امانت حقيقى اگر چه ختم شى خو بهر حال د هغې يو نخښه، يو علامت او يو اثر به باقى وى، اگر چه هغه د ﴿وكت﴾ د يوې نقطې په اندازه يا د محل د نخښې په شان ولې نه وى!

پس علامه عينى رحمه الله ليكى: ﴿وحاصله أن القلب يخلوعن الأمانة بأن تزول عنه شيئا فشيئا فإذا زال جزء منها زال نورها وخلفته ظلمة كالوكت وإذا زال شيء آخر منه صار كالمجل وهو أثر محكم لا يكاد يزول إلا بعد مدة ثم شبه زوال ذلك النور بعد ثبوته في القلب وخروجه منه واعتقابه إياه بجمر تدحرجه على رجلك حتى يؤثر فيها ثم يزول الجمر ويبقى التنفط﴾ [1]

مطلب دا چه: د كوم اهل ايمان د فكر او عمل په قوة باندې غفلت او بې حسى خوره شى او د گناهونو د ارتكاب په صورت كنبې د دين او شريعت سره د هغوى تعلق انتهائى كمزورې شى، د هغوى د زړونو نه امانت لاړ شى، پس چه كله د هغې يو حصه زائل شى نو د هغوى د زړونو نه به نور هم زائل شى او د هغې په ځائې به د ﴿وكت﴾ په شان ظلمت او تيارهٔ پيدا شى او د هغې مثال داسې دې لكه په يو څيز كنبې د هغه مخالف رنګ ښكاره شى (مثلا تور څيز كنبې د سپين رنګ ښكاره كيدل) او چه كله د دين او شريعت متعلق غفلت او كوتاهى نوره هم زياته شى او د گناهونو ارتكاب د مخكښې نه هم زيات شى نو د نور امانت چه كومه حصه باقى پاتې شوې وه، د هغې نه به څه زائله شى او د هغې مثال داسې دې لكه د بدن په يوه حصه باندې پولئ كومه چه دومره ژوره او سخته وى چه زر نه ختميږى. پس په دويم كرت چه كومه تيارهٔ پيدا شى هغه به د اول كرت پيدا كيدونكې تيرې نه زياته خوره او

---

[1]) عمدة القارى: ۲۳/۱۲۹، ۱۳۰

ژوره وی ذکر شوې صورت حال لره د دې مثال د بیان فرمائیلو نه پس نبي اوفرمائیل چه د انسان په زړه کښې به د ایمان او امانت نور پیدا کیدل او بیا وتل یا په زړونو کښې د دې نور ځائې نیول او بیا د هغې د زائل کیدو نه پس د تیرې راتلل داسې تشبیه لری لکه د اور سکروټه اخستلو سره هغه په خپله خپه باندې واچوی او هغه سکروټه د خپې نه زائل شی او بیا په سوزیدلی ځائې باندې پولۍ راوخیژی.

۲ دویم مطلب دا بیان کړې شوې دې چه انسان د کوم دین نه غافل او په گناهونو او معاصی کښې اخته وی نو د هغې په وجه باندې به ایمان د هغه د زړه نه تدریجا اوچت کړې شی. چه کله د ایمان پاک جزء زائل شی نو د هغې نور به هم ختم شی او د هغې ځائې به تیارۀ اونیسی. کوم چه به په اوله مرحله کښې د «وکت» په اندازه وی. بیا چه کله د ایمان باقی حصه ختمه شی نو هغه به د ظلمت مجل (پولۍ په شان) وی. پس ملا علی قاری رحمه الله لیکی:

«وقال شارح من علمائنا: یرد ان الامانة ترفع عن القلوب عقوبة لاصحابها علی ما اجترحوا من الذنوب، حتی اذا استیقظوا من منامهم، لم یجدوا قلوبهم علی ما کانت علیه، ویبقی فیه اثر تارة مثال الوکت وتارة مثل المجل»[1]

صاحب د مظاهر حق د دې مطلب وضاحت داسې کړې دې!

د دې ارشاد نه مراد دا دې چه الله پاک د خلقو په زړونو کښې د امانت نور پیدا کړو. چه هغوی د هغې په رڼا کښې د کامیابۍ په لاره باندې روان شی او د دین او شریعت تابعدار جوړ شی. خو چه کله هغوی د دې نعمت نه بې پرواه شی. د دین او شریعت په باره کښې غفلت او کوتاهی کوی او د گناهونو ارتکاب کوی نو الله پاک به د سزا په طور د هغوی نه دا نعمت واخلی. په داسې طریقه چه د هغوی د زړونو نه به امانت اوځی. تردې چه کله هغوی د غفلت د خوب نه رابیدار شی نو محسوس به کړی چه د هغوی د زړه هغه حالت نه دې کوم چه د امانت په موجودگۍ کښې وو. خو د هغوی په زړونو کښې به د دې امانت نخښه باقی وی کومه چه به کله د «وکت» په شان وی او کله د مجل په شان. پس «مجل» اگر چه مصدر دې خو دلته د دې نه مراد پولۍ ده او دا (یعنی مجل) اول کرت (یعنی وکت) نه کمتر درجه ده. ځکه چه د «وکت» په ذریعه دې طرف ته اشاره مقصود ده چه اگر چه امانت به د زړه نه اوځی خو د نخښې په صورت کښې به د هغې څه نه څه حصه باقی وی.[2]

قوله: «وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ مَا أَعْقَلَهُ وَمَا أَظْرَفَهُ وَمَا أَجْلَدَهُ وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ»: د یو سړی په باره کښې به وئیلې شی چه څومره عقل مند، ظریف (خوش طبع) او چالاک او اوښیار دې. خو د هغه په زړه کښې به د اوری د دانې برابر

[1] مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، کتاب الفتن ۸/۱۰

[2] مظاهر حق جدید: ۸۲۸/٤

ایمان هم نه وی

یعنی داسې زمانه به راشی چه په خلقو کښې به د مدح او تعریف پیمانې بدلې شی. د چا تعریف به په عمل صالح. ایمان او نیکئ باندې نه شی کولې بلکه عقل ظرافت او چالاکی به د خلقو د مدح تعریف ذریعه جوړیږی. پس ملا علی قاری رحمه الله لیکی:

﴿ وحاصله انهم يمدحونه بكثرة العقل والظرافة، والجلادة، ويتعجبون منه، ولا يمدحون احدا بكثرة العلم النافع، وصلاح العمل الصالح ﴾ [۱]

قوله: ﴿ ما اعقله، ما اظرفه ﴾: تعجب صیغې دی. ﴿ اجلد ﴾ د جلادة نه دې چه د هغې معنی چستی او چالاکی ده.

قوله: ﴿ وما في قلبه ﴾: یعنی د هغه په زړه کښې به د رتې برابر ایمان هم نه وی، په دې کښې یا خو د اصل ایمان نفی ده یا د کمال ایمان نفی کړې شوې ده. [۲] په اول صورت کښې به کافر وی او په دویم صورت کښې به فاسق وی.

قوله: ﴿ وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ وَمَا أُبَالِي أَيَّكُمْ بَايَعْتُ ﴾: یعنی یوه داسې زمانه هم تیره شوه چه په هغې کښې به زما دا پرواه نه وه چه د کوم سړی سره معامله او اخستل خرخول کول دی ځکه چه په خلقو کښې امانت او دیانت داری عام وه، نو دا فکر به نه وو چه یو سړې به څه معامله کولو سره منکر شی او زما حق به نه راکوی.

﴿ بايعت ﴾ د بیع شراء یعنی اخستلو او خرخولو معاملات مراد دی. [۳]

قوله: لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا رَدَّهُ الإِسْلَامُ وَإِنْ كَانَ نَصْرَانِيًّا رَدَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ: یعنی که هغه مسلمان وی (د چا سره چه ما معامله اوکړه) نو د هغه اسلام به ماته زما حق واپس کړی یعنی د هغه اسلام به هغه مجبوره کوی چه هغه ماته زما حق واپس کړی. د سیدنا ابوذر رضی الله عنه په نسخه کښې ﴿ بالاسلام ﴾ دې. [۴] یعنی هغه به د اسلام د وجې نه ماته زما حق واپس کړی او که نصرانی وی نو د اسلام ساعی او عامل به په ما باندې زما حق واپس کړی. حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:

﴿ رده على ساعيه أي واليه الذي أقيم عليه لينصف منه وأكثر ما يستعمل الساعي في ولاة الصدقة ويحتمل أن يراد به هنا الذي يتولى قبض الجزية ﴾ [۵]

یعنی د ساعی نه مراد هغه والی او حاکم دې کوم چه د حصول انصاف دپاره مقرر کړې شوې

---

[۱] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح. كتاب الفتن: ۸/۱۰

[۲] مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، كتاب الفتن: ۸/۱۰

[۳] فتح البارى ۱۱/۴۰۶. عمدة القارى ۲۳/۱۳۰. ارشاد السارى ۱۳/۴۹۶

[۴] فتح البارى ۱۱/۴۰۶. عمدة القارى ۲۳/۱۳۰. ارشاد السارى ۱۳/۴۹۶

[۵] فتح البارى ۱۱/۵۰۶

دي، د ساعي لفظ اكثر د صدقه وصول كونكو او عاملانو دپاره استعماليږي، دلته د دې نه هغه سړي مراد كيدې شي كوم چه په جزيه وصول كولو باندې مقرر كيدې شي.

قوله: ﴿ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَمَا كُنْتُ أُبَايِعُ إِلاَّ فُلاَنًا وَفُلاَنًا ﴾: خو نن زه د فلانى فلانى سړى سره معامله كوم (چه د هغه په ما باندې اعتماد دې او هغه ديانت دار دې، كيدې شي چه د دوه سړو نوم ئې اخستلې وي خو راوى هغه نوم نه دې ذكر كړې، بلكه فلانې فلانې ئې اووې).

قوله: ﴿ قَالَ الْفَرَبْرِيُّ قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ حَدَّثْتُ أَبَا عَبْدِ اللهِ ﴾: د فربرى نوم محمد بن يوسف دې او د ابوجعفر نوم محمد بن حاتم دې، دا د امام بخارى رحمه الله وراق او كاتب وو. ابو عبدالله، د امام بخارى رحمه الله كنيت دې.

امام بخارى رحمه الله فرمائى چه ما د ابو احمد بن عاصم بلخى نه او هغوى د ابوعبيده بن سلام نه واوريدل چه امام اصمعى او ابو عمر د لفظ ﴿ جذر ﴾ تشريح اوكړه چه د هر يو څيز اصل ته جذر وائى، د امام اصمعى نوم عبدالملك بن قريب دې او ابو عمرو مشهور قارى دې.

﴿ وغيرهما ﴾ نه سفيان ثورى مراد دې، خو د ابو عمرو په نزد ﴿ جِذر ﴾ د جيم په كسرې سره دې او د امام اصمعى په نزد ﴿ جَذر ﴾ د جيم په فتحې سره دې.

او ﴿ وكت ﴾ د يو څيز معمولى شان نخښې ته وائى او ﴿ مجل ﴾ په تلى باندې د كار كولو د وجې نه راختلې پولۍ ته وائى.

﴿ قال الفربرى ﴾ دا عبارت د ابوذر عن مستملى په نسخه كښې دې، په باقى نسخو كښې نشته.[1]

[٦١٣٣] (٢) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ -رضى الله عنهما- قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّمَا النَّاسُ كَالإِبِلِ الْمِائَةُ لاَ تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً ».

سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چه هغوى اوفرمائيل: د خلقو مثال د اوښ په شان دې، په سلو كښې هم يو په مشكله د سورلۍ قابل ملاويږى.

[1]) د ذكر شوې تفصيل دپاره اوګورئ: فتح البارى ٤٠٦/١١، عمدة القارى ١٣٠/٢٣، ارشاد السارى ٤٩٦/١٣.

[2]) اخرجه الترمذى فى كتاب الامثال، باب ما جاء فى مثل ادم واجله وامله (رقم الحديث: ٢٨٧٢). واخرجه مسلم فى فضائل الصحابة، باب قوله صلى الله عليه وسلم الناس كابل مائة، رقم ٢٥٤٧.

(راحلة) الجمل النجيب الذى يصلح لسير الاسفار ولحمل الاثقال. معنى الحديث: ياتى زمان يكون الناس فيه كثيرين، ولكن المرضى منهم والذى يلتزم شرع الله عزوجل قليل. شان الابل الكثيرة التى تبلغ المائة، ولا تكاد يوجدمنها واحدة تصلح للركوب والانتفاع بها.او المراد: ان الناس دائما شانهم هكذا، الصالح فيهم قليل.

قوله: (كالابل المائة): (ابل) د ابل لفظ په عربو د سلو اوښانو دپاره استعمالولو.
وئيل به ئې (لفلان ابل) يعنې د فلانى سل اوښان دى، ولفلان اېلان: يعنى د هغه دوه سوه اوښان دى، خو چونکه لفظ د ابل د سلو په معنى کښې زيات مشهور نه دې، په دې وجه ئې په حديث کښې د (الابل) نه پس د (المائة) اضافه اوفرمائيله (المائة) د (الابل) د تفسير او توضيح په طور دې.[1]

(راحلة) کښې تا د تانيث نه ده بلکه دا تا د مبالغې ده هغه اوښې ته وئيلې شى چه په هغې باندې سورلى کيدې شى، (راحلة) د اسم فاعل صيغه ده او د اسم مفعول په معنى کښې ده.[2]

د حديث شريف دوه مطلبونه: علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه د دې حديث دوه مطلبونه حضرات محدثينو بيان فرمائيلي دى:

① يو دا چه ټول خلق، د دين د احکاماتو په سلسله کښې برابر دى او په هغې کښې يو ته هم په بل باندې فضيلت يا ترجيح نه ده حاصل، لکه چه سل اوښان برابر وى او ټول تقريبا د بار اوړولو قابل وى، خو د سورلئ قابل نه وى. حاصل دا چه په دين کښې د خلقو برابرى او مساوات په دې حديث کښې بيان کړې شوې دې.[3]

② دويم مطلب دا دې چه په خلقو کښې قابل، با صلاحيت او صاحب فضل او تقوى ډير کم وى. د ناکاره خلقو کثرت وى څنګه چه په اوښانو کښې، د سورلئ او د کار قابل په مشکله يو ه اوښه ملاويږى، هم دغه شان د کار خلق ډير کم وى.[4]

علامه قرطبى رحمه الله دا دويم مطلب په دې انداز سره بيان کړې دې چه داسې سړى کوم چه د خلقو بار اوچتوى. دهغوى تکليفونه برداشت کوى اودهغوى خدمت کوى، ډير کم ملاويږى.[5]

---

[1]) فتح البارى ۴۰۷/۱۱، عمدة القارى ۱۳۱/۲۳، ارشاد السارى ۴۹۷/۱۳
[2]) فتح البارى ۴۰۷/۱۱، عمدة القارى ۱۳۱/۲۳، ارشاد السارى ۴۹۷/۱۳
[3]) وفى شرح مسلم للنووى، كتاب فضائل الصحابة : ۳۱۷/۱۶ :
قال بن قتيبة الراحلة النجيبة المختارة من الابل للركوب وغيره فهى كاملة الاوصاف فاذا كانت فى ابل عرفت قال ومعنى الحديث أن الناس متساوون ليس لاحد منهم فضل فى النسب بل هم أشباه كالابل المائة وقال الازهرى الراحلة عند العرب الجمل النجيب والناقة النجيبة قال والهاء فيها للمبالغة كما يقال رجل فهامة ونسابة قال والمعنى الذى ذكره بن قتيبة غلط بل معنى الحديث أن الزاهد فى الدنيا الكامل فى الزهد فيها والرغبة فى الآخرة قليل جدا كقلة الراحلة فى الابل هذا كلام الازهرى وهو أجود من كلام بن قتيبة وأجود منهما قول آخرين أن معناه المرضى الاحوال من الناس الكامل الاوصاف الحسن المنظر القوى على الاحمال والاسفار سميت راحلة لانها ترحل اى يجعل عليها الرحل فهى فاعلة بمعنى مفعولة كعيشة راضية أى مرضية ونظائره.
[4]) فتح البارى ۴۰۷/۱۱، عمدة القارى ۱۳۰/۲۳، ۱۳۱، ارشاد السارى ۴۹۷/۱۳
[5]) فتح البارى ۴۰۷/۱۱

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه خلق خو ډیر دی خو ښه خلق کم دی. هغوی فرمائی چه د خلقو نه مراد د خیر القرون خلق نه دی مراد ځکه چه د هغوی د افضلیت خو رسول الله ﷺ په خپله ګواهی ورکړې ده. بلکه روستو راتلونکی خلق مراد دی. چه کله قحط الرجال راشی. هغوی لیکی

﴿ وهذا الحديث إنما يراد به القرون المذمومة فى آخر الزمان، ولذلك ذكره البخارى فى رفع الأمانة، ولم يرد به (صلى الله عليه وسلم) زمن أصحابه وتابعيهم؛ لأنه قد شهد لهم بالفضل ﴾ (١)

د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث مناسبت بيانولو سره علامه قسطلانی رحمه الله لیکی

﴿ ومناسبة الحديث للترجمة من حيث إن الناس كثيرون والمرضى منهم قليل كالراحلة فى المائة من الإبل وغير المرضى هو من ضيع الفرائض وقد فسر ابن عباس الأمانة بالفرائض ﴾ (٢)

یعنی: د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت داسې دې چه د خلقو کثرت دې خو د ښه خلقو کمې دې لکه چه په حديث کښې دی او چه ډیر دی هغوی فرائض او واجبات ضائع کړل. سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د امانت تفسیر په فرائض سره کړې دې

حاصل دا دې چه په دې حديث کښې وئیلې شوې دی چه د بدو خلقو به کثرت وی او ظاهره ده چه د بدو خلقو امانت او دیانت نه وی او په ترجمة الباب کښې د رفع امانت ذکر دې.

٣٦: باب الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ

په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د ریاء او شهرت مذمت بیان کړې دې.

د ریا تعریف د ریا تعریف دا دې: ﴿ اظهار العبودية للناس ليحمدوه ﴾ یعنی د خلقو مخکښې د خپل عبادت او بندګی اظهار کول چه خلق د هغه تعریف اوکړی. دې ته ریاء وائی.

او ﴿ سمعة ﴾ (د سین په ضمې او د میم په سکون سره) خلقو ته د اورولو او وینا په غرض سره یو کار کول. د ریاء تعلق د حاسه بصر سره او د سمعة تعلق د حاسه سمع سره ده. (٣)

---

(١) شرح ابن بطال: ١٠/ ٢٠٦

(٢) ارشاد الساری: ١٣/ ٤٩٧

(٣) فتح البارى ١١/ ٤٠٨. عمدة القارى ٢٣/ ١٣١. قال الامام الغزالى رحمه الله: اعلم أن الرياء مشتق من الرؤية والسمعة مشتقة من السماع وإنما الرياء أصله طلب المنزلة فى قلوب الناس بإيرائهم خصال الخير إلا أن الجاه والمنزلة تطلب فى القلب بأعمال سوى العبادات وتطلب بالعبادات. واسم الرياء مخصوص بحكم العادة بطلب المنزلة فى القلوب بالعبادة وإظهارها فحد الرياء هو إرادة العباد بطاعة الله فالمرائى هو العابد والمراءى هو الناس المطلوب رؤيتهم بطلب المنزلة فى قلوبهم والمراءى به هو الخصال التى قصد المرائى إظهارها والرياء هو قصده إظهار ذلك والمراءى به كثير وتجمعه خمسة أقسام وهى مجامع ما يتزين به العبد للناس وهو البدن والزى والقول والعمل والأتباع والأشياء الخارجة. وكذلك أهل الدنيا يراءون بهذه الأسباب الخمسة إلا أن طلب الجاه وقصد الرياء بأعمال ليست من جملة الطاعات... [بقيه په صفحه آئنده...

بهر حال ریاء د رؤیت نه مشتق ده چه د هغې معنی ده خپل خان د خلقو په نظر کښې نیک او ښه کولو سره پېش کول. د خپل عبادت او نیکئ په ذریعه د خلقو په نظر کښې خپل قدر او منزلت غوښتل د دې نه معلومه شوه چه د ریاء تعلق د عباداتو سره دې او کوم څیزونه چه د عبادت سره متعلق نه وی لکه د مال و متاع کثرت. د علم او ذهانت ډیر والې. د اشعارو وغیره یادول او د نخښې ویشتلو مهارت وغیره نو په دې کښې د ښودنې دپاره کړې شوې کارونو ته ریاء نه شی وئیلې کیدې بلکه هغې ته د فخر تکبر او غرور یو قسم وئیلې شی.

هم دغه شان د نیکئ او عبادت، ظاهرئ اعمالو کښې هم که څو کارونه په دې صورت کښې د خلقو د ښودنې دپاره اوکړې شی چه د هغې مقصد د عزت او جاه طلب نه وی. لکه چه بعض مشائخ خپلو مریدانو ته تلقین او تعلیم. د خلقو زړونو لره د نیک اعمالو طرف ته مائلو کولو او د هغوی د اتباع او د تابعدارئ طرف ته راغب کولو دپاره بعض اعمال داسې کوی چه خلق هغوی لره وینی نو دې ته هم د حقیقت په اعتبار سره ریاء نه شی وئیلې کیدې اګر چه په ظاهر کښې د هغوی دا عمل ریاکاری معلوم شی هم په دې وجه وئیلې شوې دی چه ﴿ رياء الصديقين خير من اخلاص المريدين ﴾ یعنی د اوچتې درجې والا مشائخو بزرګانو ریاء د مریدانو د اخلاص (یعنی عدم ریاکارئ) نه غوره ده

د دې خبرې دې لحاظ اوساتلې شی چه ریاء په اصل کښې د دې نوم دې چه د یو سړی په ذات کښې واقعة یو صفت او کمال وی اوهغه دا خپل واقعی وصف او کمال د خلقو مخکښې ښکاره کړی او دا خواهش ساتی چه خلق د هغه وصف او کمال اوپیژنی چه د هغوی په نظر کښې ئې قدر و منزلت او عزت او وقعت حاصل شی خو کوم سړې چه یو داسې وصف او کمال خپل طرف ته منسوب کولو سره په خلقو باندې دا ظاهره کړی چه هغه واقعة د هغه په ذات کښې نشته نو دې ته ریاء نه بلکه خالص کذب او منافقت وئیلې شی.

د ریاء د مختلفو صورتونو حکم : د ریاء مختلف اقسام او صورتونه دی!

① د ریاء اول قسم دا دې چه د الله پاک د بندګئ په قصد او د حصول ثواب اراده قطعا نه وی. بلکه مقصد خلقو ته ښودل او د هغوی په نظر کښې قدر او منزلت حاصلول وی. لکه چه د خالص ریاکارو خلقو عادت وی چه کله هغوی د خلقو ترمینځه وی نو مونځ کوی او په مختلف قسم اوراد او وظائفو کښې مشغول وی. خو چه کله یواځې شی نو نه د مانځه سره کار ساتی او نه د اوراد او وظائف سره. د ریاکارئ دا قسم د ټولو نه خطرناک دې اود الله پاک د سخت غضب او قبر عذاب د نازلیدلو باعث دې په دې صورت کښې کړې شوې عمل قطعا باطل وی

② دویم صورت دا دې چه د یو نیک عمل په کولو کښې دواړه څیزونه وی یعنی د ثواب اراده هم وی او ریاکاری او ښودنه هم. خو د ریاء طرف غالب او د ثواب د ارادې اړخ کمزورې او ضعیف وی. چه عمل کونکې یواځې وی نو هغه دې عمل د سره کوی نه او که

...بقيه از حاشيه گذشته] أهون من الرياء بالطاعات. (احياء علوم الدين ۳ ۲۹۰)

بالفرض په دې عمل باندې د څه قسم ثواب او اجر ذکر نه وې نو هم صرف د رياکارۍ جذبه به د دې عمل د اختيارولو باعث جوړه شوې وه، په دې صورت کښې هم هغه حکم دې کوم چه د اول صورت دې.

③ دريم قسم دا دې چه د نيک عمل جذبه يعنی د ثواب ازاده او خلقو ته ښودنه دواړه وی، هغه داسې چه دې تولو څيزونو يوځائې کيدو سره هغه عبادت او نيکۍ ته تيار کړو خو که د هغې نه يو څيز هم نه وی نو د هغه عمل ته تياريدل به ختم شی، حاصل دا دې چه که د نيک عمل په اختيارولو کښې که په دواړو کښې يو هم وې نو د هغه به د اختيارولو داعيه نه پيدا کيده بلکه د دې عمل طرف ته به رغبت په دې صورت کښې وې چه کله دواړه څيزونه يوځائې موندلې شوې وې.

د دې صورت په باره کښې په ظاهره کښې خو دا معلوميږی چه په دې کښې نفع او نقصان دواړه برابر دی، خو د احاديث او آثارو نه معلوميږی چه دا قسم هم مذموم او په دې صورت کښې کړې شوې عم لهم ناقابل قبول وی؛ ځکه چه په قرآن کريم کښې د سورة کهف په آخری آيت کريمه ﴿ وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾ يعنی په دې کښې د شرک نه مراد د مفسرينو په نزد ريا ده ځکه چه په حديث کښې رياء ته شرک خفی وئيلې شوې دې.[1]

④ څلورم قسم دا دې چه د نيک عمل جذبه، د ثواب اراده او رياء دواړه راجمع شی خو د ثواب نيت او د الله پاک د رضا حاصلولو اراده راجح او غالب وی.

دې صورت ته بالکليه باطل نه شی وئيلې کيدې، زيات نه زيات داسې وئيلې کيدې شی چه په دې صورت کښې اختيارونکې عمل د نيت او ارادې په اعتبار سره د ثواب او عتاب دواړو يو شان باعث کيدلې شی چه په ارادې او نيت کښې چه څومره اخلاص او يا عدم اخلاص وی، هم د هغې مطابق به ثواب او عتاب وی، په دې صورت کښې دا هم کتلې کيدې شی چه په قصد او عمل کښې چه د رياکارۍ کوم ګډون دې کوم چه اګر که د ثواب ارادې او نيت په اعتبار سره کمتر او ضعيف دې هغه کله پيدا شوې دې؟ که د رياکارۍ ګډون د عمل په ابتداء کښې شوې دې نو دې صورت ته به زيات بد وئيلې شی او که د عمل ترمينځه پيدا شوې وی نو دا صورت به د اول صورت نه کم د بدۍ حامل وی او که دا د عمل کولو نه پس راغلې دې نو دا صورت به د دويم صورت نه هم کم بد منلې شی او د دې په وجه باندې به اختيار کړې شوی عمل ته باطل نه شی وئيلې کيدې.

هم دغه شان د دې فرق هم لحاظ اوساتلې شی چه د رياکارۍ جذبه که د کلک قصد او عزم په صورت کښې ده نو په هغې کښې به زياته بدی وی او که صرف د يو خيال په صورت کښې وی او هم د هغه خيال د حده پورې محدود وو، وړاندې هيڅ نه وی نو دا صورت حال به نقصان ورکونکې نه شی ګنړلې.

بهر حال حقيقت دا دې چه رياء يو داسې جذبه ده چه د هغې نه پوره طريقې سره خلاصيدل

[1]) روح المعانی، سورة الکهف: ۴۹۷/۱۶

ډير ګران دی او په هر حالت کښې د حقيقی اخلاص موندلې کيدل ډير ګران، په دې وجه علماء کرامو ترډې پورې ليکلې دی چه دچا دخولې نه خپل تعريف اوريدلو سره خوشحاليدل د ريا د موندلې کيدو نخښه ده، هم دغه شان په ېواځې والی کښې د څه عمل کولو په وخت هم په زړه کښې د رياء خيال راشی نو هغې ته به هم رياء وائی. الله پاک دې ترې موتږ په خپله پناه کښې اوساتی او په هر صورت دې راته اخلاص رانصيب کړی چه د هغه د مدد او توفيق نه بغير د دې دولت ملاويدل ممکن هم نه دی.

دا صورت د رياکارئ نه دې: علماء کرامو يو خاص صورت او حالت بل بيان کړې دې او هغه دا چه که يو سړې نيک کار کوی او په څه عبادت او طاعت کښې مصروف وی او خلق هغه لره په هغه نيک کار او عبادت او طاعت کولو باندې وينی نو هغه له پکار دی چه په دې وخت کښې په دې خبرې باندې د خوشحالئ او مسرت جذبات پيدا کړی چه الله پاک په خپل فضل او کرم او لطف او عنايت سره د نيک عمل توفيق ورکړو او د خلقو په نظر کښې د باعزته کيدو ئې دا سبب پيدا اوفرمائيلو چه د ګناهونو او عيبونو خو ئې پرده اوفرمائيله او نيک اعمال او اخلاق ئې رابنکاره کړل او د خوشحالئ د دې جذباتو سره دا نيت او قصد ساتی چه زما د نيک عمل په اظهار سره د دين او طاعاتو چرچه کيږی نو خلق به د دين طرف ته راغب کيږی او په هغوی کښې به هم د نيکو اعمالو اختيارولو داعيه پيدا کيږی، دا څيز به نه صرف دا چه د رياء په حکم کښې داخل نه وی، بلکه دې ته به محمود او مستحسن هم وئيلې شی. پس علامه قسطلانی رحمه الله ليکی:

﴿ وحكم الرياء بغير العبادات حكم طالب المال والجاه، وحكم محض الرياء بالعبادة إبطالها وإن اجتمع قصد الرياء وقصد العبادة أعطى الحكم للأقوى، فيحتمل الوجهين فى إسقاط الفرض به والمصر على إطلاع الغير على عبادته إن كان لغرض دنيوى كإفضائه إلى الاحترام أو شبهه فهو مذموم وإن كان لغرض أخروى كالفرح بإظهار الله جميله وستره قبيحه أو لرجاء الاقتداء به فممدوح وعليه يحمل ما يحدث به الأكابر من الطاعات، وليس من الرياء ستر المعصية بل ممدوح وإن عرض له الرياء فى أثناء العبادة ثم زال قبل فراغها لم يضر، ومتى علم من نفسه القوة أظهر القربة، وقد قيل: العمل ولو خفت عجبا مستغفرا منه ﴾ (١)

د امام غزالی رحمه الله په نزد د رياء قسمونه: امام غزالی رحمه الله د رياء حقيقت او دهغې اقسام ډير په تفصيل سره بيان فرمائيلې دی چه رياکار په پنځه قسمه څيزونو کښې اظهار او ښودنه کوی.

① اول قسم: په بدن کښې رياکاری، په بدن کښې رياکاری د دين په باره خو داسې ده چه په بدن باندې کمزوری او زيړوالې ظاهر کړی چه خلقو ته دا خيال پيدا شی چه داسړې د دين په باره کښې ډير محنت کوی، د دين ويره په هغه باندې غالب دې او هغه سره د آخرت ډيره ويره ده يا دا چه د نری کيدو نه معلوم شی چه خوراک ډير کم کوی. (يعنی روژې نيسی) او د زيړ رنګ نه ئې وهم پيدا شی چه شپې رونړوی.

(١) ارشاد الساری: ۳۹۹/۱۱

② دويم قسم په هيئت او جامه كښې رياكارى. په هيئت او جامه كښې رياكارى دا ده چه مثلا د سر ويښته ني ببر پريخودلي وى. د بريتو خرئيل. په لاره كښې ستږ زوږندولو سره تلل. په مزه مزه حركت كول. د سجدې نخښه په تندى باندې باقى پريخودل. پيړې جامې اغوستل. د كمبل څادر اغوستل. د هغې لمنې د پنډو پورې پورته ساتل. د جامو شليدلې كيدل. دا ټولې خبرې رياكارى ده چه معلومه شى چه دا سړې تابع سنت او د الله پاک نيک بنده دې

کوم خلق چه په جامو سره نمود کوى د هغوى څو طبقات دى. بعض خلق داسې دى چه كپړې شليدلې. خيرنې او پيړې اچوى چه دا معلومه شى چه هغوى سره د دنيا هيڅ پرواه نشته. او بعض خلق داسې دى چه هغوى په اهل اصلاح او دنيادارو دواړو ډلو كښې مقبول كيدل غواړى په دې وجه ډير نرې كن او څادرې او رنګين پيوند كار وغيره لتوى چه نه نې درويش اوګنړى او نه ئې دنيادار

③ دريم قسم : په قول كښې رياكارى : په دې كښې د اهل دين رياكارى داسې ده چه د ريا دپاره د وعظ او نصيحت او د حكمت او پوهې خبره يا د اخبار او آثارو د هغې دپاره يادول چه په روزانه محاورو كښې په كار راشى. د ټولو خلقو مخكښې په رياكارئ سره شونډې خوزول

④ څلورم قسم : په عمل كښې رياكارى. مثلا په مانځه كښې د رياء دپاره تر ډير وخته پورې قيام. اوږده ركوع او سجده كول. ستږ ښكته كول.

⑤ پنځم قسم : په ملاويدونكو كښې رياكارى : مثلا يو سړې د دې خبرې په تكلف سره غوښتونكې وى چه فلانې عالم يا عابد زما د ملاقات دپاره راشى چه خلقو ته معلومه شى چه دا سړې ډير دين دار او صاحب حيثيت دې چه ډير علماء او بزرګان هغه سره تړ راتړ ساتى او بركت حاصلوى يا د رياكارئ دپاره په كثرت سره د شيوخ او مرشدينو تذكره كوى چه معلومه شى چه د ډيرو اكابرينو نه ئې استفاده كړې ده.[1]

[٦١٣٤] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ. وَحَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَلَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - غَيْرَهُ فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ، وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللَّهُ بِهِ». [٦٧٣٣]

سلمه بن كهيل رحمه الله فرمائى چه ما د سيدنا جندب رضي الله عنه نه واوريدل چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : او ما د سيدنا جندب رضي الله عنه نه غلاوه د چا نه هم دا نه دى اوريدلى چه هغه ﴿قال النبى صلى الله عليه وسلم﴾ وئيلې وى، پس زه سيدنا جندب رضي الله عنه ته نزدې شوم نو ما د هغوى نه واوريدل چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوک چه د شهرت خواهش مند وى، الله پاک به هغه

[1]) د ذكر شوې قسمونو د نور تفصيل دپاره اوګورئ: احياء علوم الدين ٢٩٠/٣

مشهور کړي او څوک چه د ښودنې دپاره کار کوي الله پاک به هم د هغه ښودنه اوکړي.
د حدیث مختلف مطلبونه : د دې حدیث مختلف مطلبونه بیان کړې شوې دی:
① یو مطلب خو دا دې چه کوم سړې د شهرت د حاصلولو دپاره. د عزت او مرتبې د حصول دپاره او د خلقو د ښودنې دپاره څه نیک عمل کوي نو الله پاک به په دنیا کښې دننه د هغه بد نیت د خلقو مخکښې ښکاره کړي کوم چه هغه د خلقو نه پټوی او دغه شان به د هغه د رسوایئ او ذلت سبب شي یا د داسې سړي بد نیت او غرض به الله پاک په دنیا او آخرت کښې د خلقو مخکښې ښکاره کړي او دغه شان به خلقو ته معلومه شي چه دا سړې په دې خپل نیک عمل کښې مخلص نه دې. ګویا چه د کوم مقصد او غرض دپاره هغه دا نیک عمل اختیار کړې وو. هغه ورته حاصل نه شو بلکه د هغې برعکس به د هغه فاسد نیت د خلقو مخکښې ښکاره شي. (۱)
خو په دې مطلب باندې دا شبه کیدې شي چه ډیر خلق د ریاکارئ د وجې نه ډیر نیک کارونه کوي او دنیوی لحاظ سره هغوی په هغې کښې کامیاب وی او د هغوی ریاکاری او بد نیت د خلقو مخکښې نه راځي.
② یو مطلب دا بیان کړې شوې دې چه کوم سړې خپل یو نیک عمل د خلقو مخکښې د اورولو یا ښودنې دپاره اوکړي، الله پاک به د قیامت په ورځ باندې د هغه نیک عمل ثواب هغه ته واوروی او اوښائی. خو ورکوی به ئې نه. (۲)
③ یو مطلب دا بیان کړې شوې دې چه کوم سړې یو نیک عمل په خلقو کښې د مشهور کیدو او ښودنې دپاره کوی، الله پاک به د هغه د مقصد مطابق د هغې بدله هغه ته ورکړي او په خلقو کښې به د هغه د عمل شهرت پیدا شي. خو د هغه عمل به په آخرت کښې د حقیقي او لافاني اجر نه محروم وی. (۳) په قرآن کریم کښې په سورة هود کښې دی ﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴾ یعنی کوم انسان چه صرف د دنیوی ژوند او د هغې د ول غواړي نو مونږ به هغوی ته د هغوی د نیکو اعمالو بدله په دنیا کښې پوره پوره ورکړو او په دنیا کښې به د هغوی په بدله کښې هیڅ کمې نه کوو (خو په آخرت کښې به د هغوی هیڅ حصه نه وی).
④ او یو معنی دا بیان کړې شوې ده چه کوم سړې په دنیا کښې دننه د خلقو د ښودنې دپاره او د خپل شهرت دپاره څه نیک عمل کوی الله پاک به په آخرت کښې، د هغه فاسد نیت په ټولو خلقو باندې ښکاره کړي، پس حافظ منذری رحمه الله فرمائی :
﴿ أی : من أظهر عمله للناس رياء أظهر الله نيته الفاسدة في عمله يوم القيامة وفضحه على رؤوس الأشهاد ﴾ (۴)

---

(۱) فتح الباری ۱۱/۴۰۹. عمدة القاری ۲۳/ ۱۳۳. ارشاد الساری ۱۳/۴۹۸
(۲) فتح الباری ۱۱/۴۰۹. عمدة القاری ۲۳/ ۱۳۳. ارشاد الساری ۱۳/۴۹۸
(۳) فتح الباری ۱۱/۴۰۹. عمدة القاری ۲۳/ ۱۳۳. ارشاد الساری ۱۳/۴۹۸
(۴) ارشاد الساری ۱۳/۴۹۸

حافظ ابن حجر رحمه الله دې مطلب ته معتمد وئيلي دې.[۱] ځکه چه د آخرت تصريح په بعض احاديثو کښې راغلې ده، پس په مسند احمد او مسند دارمی کښې د سيدنا ابو هند داری رضي الله عنه مرفوع حديث دې، د هغې الفاظ دا دی:

﴿مَنْ قَامَ مَقَامَ رِيَاءٍ وَسُمْعَةٍ رَاءَى اللهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَسَمَّعَ﴾[۲]

يعنی: څوک چه د ښودنې او خلقو ته د اورولو دپاره څه کار کوی. الله پاک به هم د قيامت په ورځ، هغه ته اوښائی او مشهور به ئې کړی (چه هغه د ښودنې دپاره دا عمل کړې وو)

او په طبرانی کښې د سيدنا معاذ رضي الله عنه مرفوع حديث دې، د هغې الفاظ دی:

﴿مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُومُ فِي الدُّنْيَا مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ إِلَّا سَمَّعَ اللهُ بِهِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾[۳]

يعنی: په دنيا کښې چه څوک هم د رياکارئ او د شهرت خوښولو په مقام باندې وی. د قيامت په ورځ باندې به الله پاک د ټولو مخلوق مخکښې د هغه د بدئ شهرت او کړی.

قوله: ﴿عَنْ سَلَمَةَ قَالَ: سَمِعْتُ جُنْدَبًا، وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم غَيْرَهُ﴾: دا د سلمة بن کهيل قول دې، هغوی فرمائی چه ما دا حديث د جندب رضي الله عنه نه اوريدلې دې او د هغوی نه علاوه د بل چا نه ما ﴿قال النبی صلی الله عليه وسلم﴾ وئيلو سره نه دې اوريدلې، د هغوی مطلب دا دې چه هغوی د سيدنا جندب رضي الله عنه نه علاوه د بل صحابی نه دا حديث نه دې اوريدلې، د جندب نه سيدنا جندب بن عبد الله بجلی رضي الله عنه مراد دې. کوم چه په صغار صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې وو.

د شارحين بخاری مباحثه: علامه کرمانی فرمائی چه د هغوی مطلب دا دې چه هغه وخت هلته د سيدنا جندب رضي الله عنه نه علاوه بل صحابی موجود نه وو، پس هغوی ليکی:

﴿مراده لم يبق من أصحاب النبی صلی الله عليه وسلم حينئذ غيره فی ذلك المكان﴾[۴]

حافظ ابن حجر رحمه الله په علامه کرمانی باندې اعتراض کړې دې او وئيلي ئې دی چه سيدنا جندب رضي الله عنه په کوفه کښې وو او د هغوی په ژوند کښې سيدنا ابوجحيفه او سيدنا عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنهما موجود وو، ځکه چه سيدنا ابوجحيفه د سيدنا جندب رضي الله عنهما نه شپږ کاله روستو وفات موندلې دې او د سيدنا عبدالله بن ابی اوفی وفات د هغوی نه لس کاله پس شوې دې او امام سلمه بن کهيل د دې دواړو نه احاديث نقل کړی دی، په دې وجه د دې مطلب دا نه دې چه هغه وخت هلته څوک صحابی موجود نه وو، لکه چه علامه کرمانی رحمه الله داسې ګڼړلې ده، بلکه مطلب دا دې چه د سيدنا جندب رضي الله عنه نه د دې حديث د اوريدلو نه

---

[۱]) فتح الباری ۱۱/٤۰۹

[۲]) فتح الباری ۱۱/٤۰۹ (قلت: اسناده صحيح)

[۳]) فتح الباری ۱۱/٤۰۹ (قلت: اسناده حسن)

[٤]) شرح البخاری للكرمانی: ۲۳/۲۰

پس، هغوی د بل يو صحابی نه هم دا حديث نه وو اوريدلی. (۱)
علامه عينیرحمه الله د حافظ ابن حجررحمه الله اعتراض رد کړې دې او وئيلې ئې دی چه د کرمانی په کلام کښې د ﴿ذلك المكان﴾ نه د کوفې مراد کولو په ځائې دا هم احتمال دې چه کوم ځائې کښې هغوی د سيدنا جندب رضی الله عنه نه حديث اوريدلې وو، هغه ځائې مراد وی او مطلب دا وی چه د سماع حديث په موقع باندې بل څوک صحابی موجود نه وو، علامه عينیرحمه الله فرمائی:
﴿والعجب من هذا القائل يفسر كلام الكرماني بحسب ما يفهمه ثم يرد عليه﴾ (۲) يعنی تعجب دې په دې قائل باندې چه د خپل فهم مطابق د کرمانی د کلام تفسير کوی او بيا پرې رد کوی.
فائده : د جندب په نامه پنځه صحابه کرام رضی الله عنهم : د جندب د نوم پنځه صحابه کرام رضی الله عنهم دی، جندب بن جنادة يعنی ابوذر غفاری رضی الله عنه دا جليل القدر او مشهور صحابی دې. جندب بن مکين جهنی، جندب بن ضمره جندعی، جندب بن کعب او جندب بن عبدالله البجلی، هم د دوی نه سلمة بن کهيلرحمه الله روايت کړې دې. (۳)
علامه عينیرحمه الله د حافظ دا قول هم رد کړې دې چه د سيدنا ابوجحيفه رضی الله عنه وفات د هغوی نه شپږ کاله پس او د سيدنا عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنهما وفات د هغوی نه لس کاله پس شوې دې، ځکه چه د سيدنا جندب بن عبدالله سن وفات په مورخين او ائمه جرح و تعديل کښې چا هم نه دې ليکلې، د هغوی د وفات سن نه دې معلوم نو دا د شپږو او لسو کالو تعين د چرته نه اوکړې شو. (۴)
علامه مزیرحمه الله په تهذيب الكمال کښې د هغوی تذکره ليکلې ده او د هغوی سن وفات ئې نه دې ليکلې. (۵) علامه ذهبیرحمه الله په سير اعلام النبلاء کښې ليکلې دی چه د هغوی وفات د ۷۰ هجری په حدود کښې شوې دې. (۶) والله اعلم.

۳۷: بَابُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللّٰهِ

د الله پاک په طاعت او عبادت کښې د مشقت اوچتولو او مجاهده کولو فضيلت په دې باب کښې بيان کړې شوې دې، د اخلاق ذميمه نه خپله تزکية او اخلاق حسنة خپلول، د گناهونو نه بچ کيدل او خواهشات د خپلو لاندې کول دا ټول په مجاهده فی الطاعات کښې داخله ده. (۷) د ابو علی دقاق قول دې:

---

(۱) فتح الباری : ۴۰۸/۱۱
(۲) عمدة القاری : ۱۳۲/۲۳
(۳) عمدة القاری : ۱۳۲/۲۳
(۴) عمدة القاری : ۱۳۲/۲۳
(۵) تهذيب الكمال: ۱۳۷/۵، رقم الترجمة : ۹۷۳
(۶) سير اعلام النبلاء ۱۷۵/۳
(۷) ارشاد الساری ۵۰۰/۱۳

﴿من زين ظاهره بالمجاهدة، حسن الله سرائره بالمشاهدة﴾ [۱]
يعنی کوم سړي چه خپل ظاهر په مجاهده ، والا وصفونو، ډولی کړی. الله پاک به د هغه باطن د حق په مشاهده باندې ډولی کړی.

په آيت کريمه کښې دی : ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى ﴾ (النازعات : ۴۰) يعنی څوک چه د خپل رب مخکښې د اودريدو نه اويريږی او خپل نفسانی خواهشات منع کړی نو د هغه ځائې جنت دې او په يو بل آيت کريمه کښې دی :

﴿ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾ (العنکبوت : ۶۹) او کوم خلق چه زمونږ په لاره کښې مجاهده کوی مونږ هغوی ته خپلې لارې ښايو.

د اهل مجاهده لس خصلتونه : امام عبدالقادر جيلانی رحمه الله په غنية الطالبين کښې د اهل مجاهده لس خصلتونه بيان فرمائيلي دی :

① قسم نه خوړل (که په دروغه وی او که رشتينې وی. که قصدا وی او که په هيره)
② دروغ نه وئيل.
③ وعده پوره کول.
④ د الله پاک په مخلوق کښې چا سره د بدئ کولو او د تکليف رسولو نه ځان ساتل.
⑤ چاته بد دعا نه کول. اګر که څوک ظالم ولې نه وی.
⑥ د چا په حق کښې د شرک او کفر او منافقت ګواهی نه ورکول.
⑦ د ګناه د څيزونو طرف ته نه په ظاهر کښې نظر کول او نه په باطن کښې.
⑧ په چا باندې خپل بوج نه اچول او د مخلوق بار په خپل سر اوړل.
⑨ د چا طرف ته د طمع لاس نه اوږدول.
⑩ تواضع اختيارول. [۲]

[۶۱۳۵] حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رضی الله عنه - قَالَ بَيْنَمَا أَنَا رَدِيفُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلاَّ آخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ « يَا مُعَاذُ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ « يَا مُعَاذُ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ « يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ » . قُلْتُ « لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ . قَالَ « هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ » . قُلْتُ اللَّهُ

---

[۱] ارشاد الساری ۵۰۰/۱۳

[۲] قال الشيخ عبدالقادر الجيلانی رحمه الله احد ائمة الصوفية والاعلام : والاصل فی المجاهدة مخالفة الهوى فيفطم نفسه عن المالوفات والشهوات واللذات، ويحملها على خلاف ما تهوى فی عموم الاوقات. فان انهمک فی الشهوات الجمها بلجام التقوى والخوف من الله. فاذاحرنت ووقفت عند القيام بالطاعات والموافقات ساقها بسياط الخوف وخلاف الهوى ومنع الحظوظ. (وانظر غنية الطالبين (المترجم) مع فتوح الغيبب، ص ۱۰۲٤)

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ «حَقُّ اللّٰهِ عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَعْبُدُوهُ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا». ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ «يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ». قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ. قَالَ «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ إِذَا فَعَلُوهُ». قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ «حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ». [ر ۲۷۰۱]

د سيدنا معاذ بن جبل ﷛ نه روايت دي چه زه په سورلئ باندې په رسول الله ﷺ پسې شاته ناست اوم. سوا د كيجاوې د لرګی نه زما او د رسول الله ﷺ ترمينځه بل يو څيز هم حائل نه وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل اې معاذ: ما عرض اوکړو لبيك وسعديك يا رسول الله ﷺ! يا رسول الله ﷺ: زه حاضر يم او تيار يم) بيا لږ ساعت پورې رسول الله ﷺ روان وو. د هغې نه روستو ئې اوفرمائيل: اې معاذ: ما عرض اوکړو لبيك وسعديك يا رسول الله! وې فرمائيل تاته معلومه ده چه د الله پاک په خپلو بندګانو باندې څه حق دې؟ ما اووې الله پاک او هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي، وې فرمائيل: د الله پاک په بندګانو باندې دا حق دې چه هغوی د الله پاک عبادت اوکړی او د هغه سره څوک هم شريک نه کړی. بيا رسول الله ﷺ لږ ساعت روان وو، او وې فرمائيل: اې معاذ: ما عرض اوکړو. لبيك وسعديك يا رسول الله! وې فرمائيل. تاته معلومه ده چه کله بندګان دا کار اوکړی نو د هغوی په الله پاک څه حق دې؟ ما عرض اوکړو. الله پاک او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي، وې فرمائيل: د الله پاک په بندګانو باندې دا حق دې چه هغوی ته عذاب ورنکړی.

د حديث الباب خصوصيت: تنبيه: حافظ ابن حجر ﷬ د دې حديث په باره کښې ليکی:

﴿هذا من الأحاديث التي أخرجها البخاري في ثلاثة مواضع عن شيخ واحد بسند واحد وهي قليلة في كتابه جدا ولكنه أضاف إليه في الاستئذان موسى بن إسماعيل وقد تتبع بعض من لقيناه ما أخرجه في موضعين بسند فبلغ عدتها زيادة على العشرين وفي بعضها يتصرف في المتن بالاختصار منه﴾ (۱)

يعنی دا د هغه احاديثو نه دې چه د هغې تخريج. په يو سند او متن سره امام بخاری ﷬ په درې مقاماتو باندې کړې دې او داسې احاديث په صحيح بخاری کښې ډير کم دی. په يو سند او يو متن سره په دوه مقاماتو باندې تخريج کړې شوې احاديثو بعض علماء کرامو تحقيق اوکړو نو د هغې تعداد د شلو نه پورته وو. بيا د هغې نه په متن کښې لږ شان اختصار هم دې.

د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: د ترجمة الباب سره حديث مناسبت ظاهر دې چه په دې کښې د الله پاک د بندګانو په ذمه حق بيان کړې دې چه هغوی د الله پاک سره څوک نه شريکوی او د هغه د عبادت او طاعت مجاهده اوکړی. کوم ته چه جهاد اکبر وئيلې شی. (۲)

---

(۱) فتح البارى: ۴۱۳/۱۱

(۲) عمدة القارى ۱۳۳/۲۳، ارشاد السارى: ۵۰۰/۱۳

قوله: ﴿لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلاَّ أَخِرَةُ الرَّحْلِ﴾: ﴿اخرة الرحل﴾ د كيجاوې پالان ته وائى او ﴿آخرة﴾ د خاء په كسرې او الف سره... هغه لرګى ته وائى چه په هغې باندې سور انسان تكيه لګوى. يعنى زما او د رسول اللهﷺ ترمينځه يو لرګې حائل وو او زه په رسول اللهﷺ پسې بالكل متصل نزدې ناست اوم، مقصد ترې نه مبالغه ده چه ما د هغوى نه څه واوريدل. هغه مې ډير د نزدې نه واوريدل. حافظ ابن حجرﷺ ليكى:

﴿وفائدة ذكره المبالغة فى شدة قربه ليكون اوقع فى نفس سامعه أنه ضبط ما رواه﴾ (۱)

قوله: ﴿لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ﴾: ﴿لبيك﴾ مفعول مطلق دې. د دې فعل وجوبا محذوف دې. تقديرى عبارت داسې دې، ﴿الب لك الباًبين﴾ فعل لره حذف كولو سره مصدر د هغې قائم مقام كړې شو، بيا مصدر مزيد فيه لره د زائد د حذف كولو نه پس د ثلاثى مجرد طرف ته واپس كړې شو، پس د دې نه لام جاره لره حذف كولو سره مصدر ثلاثى د كاف ضمير طرف ته مضاف كړې شو نو ﴿لبيك﴾ شو. په دې صورت كښې به دا د ﴿الب بالمكان الباًبا﴾ نه ماخوذ وى، چه د هغې معنى ده په يو ځائې كښې مقيم كيدل نو د ﴿لبيك﴾ مطلب شو: زه ستاسو په فرمانبردارئ باندې مقيم او ثابت يم.

د امام خليل نحوىﷺ په نزد دا د ﴿لب يلب﴾ نه ماخوذ دې. وئيلې شى چه ﴿دار فلان تلب دارى﴾ يعنى د فلانى كور زما كور ته بالكل بالمقابل دې. لهذا د ﴿لبيكَ﴾ مطلب دا دې:

﴿انا مواجهكَ بما تحب اجابة لكَ﴾ يعنى تاسو چه د كوم څيز زما نه مطالبه كوئ زه ستاسو د مرضئ مطابق هغې ته د مخامخ كيدو دپاره تيار يم.

﴿سعديكَ﴾، د سعد متعدى دې، دا د اسعاد معنى كښې دې يعنى د چا مدد كول، دا هم مفعول مطلق دې، د دې فعل هم وجوبا محذوف دې، تقديرى عبارت داسې دې: ﴿اسعدكَ اسعادا بعد اسعاد﴾ يعنى زه ستاسو د مدد دپاره تيار يم، ﴿لبيكَ﴾ او ﴿سعديكَ﴾ اګر چه د تثنيه صيغې دى خو په تثنيه باندې د دلالت كولو دپاره نه دى بلكه په كثرت او تكرار باندې د دلالت كولو دپاره دى. (۲)

---

(۱) فتح البارى: ۴۱۱/۱۱

(۲) د تفصيل دپاره اوګورئ: شرح الجامى ۸۷-۸۸، مخار الصحاح ص: ۵۸۹، والمعجم المفصل فى الاعراب: ۳۸۲/۳

۳۸: باب التَّوَاضُعِ

د تواضع څو معنې بيان کړې شوې دی: ﴿اظهار التنزل عن المرتبة لمن يراد تعظيمه﴾ يعني د چا د تعظيم چه اراده وی د هغه مخکښې د خپلې مرتبې نه ښکته والې او نزول ښکاره کول. (۱)

بعضو وئيلې دی: ﴿هو تعظيم من فوقه لفضله﴾ (۲) يعنی: د خپل ځان نه د اوچت ذات احترام کول د هغه د فضل او فوقيت د وجې نه.

جنيد بغدادی رحمه الله فرمائی: ﴿التواضع: خفض الجناح ولين الجانب﴾ يعنی د نرم خوئی نوم دې. فضيل بن عياض رحمه الله فرمائی: د حق مخکښې ښکته کيدل، حق اوريدل او د هغې قبلول تواضع ده. (۳)

د سيدنا ابو سعيد خدری رضی الله عنه مرفوع حديث په مسند احمد کښې دې ﴿مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ دَرَجَةً رَفَعَهُ اللّٰهُ دَرَجَةً، حَتّٰى يَجْعَلَهُ فِي عِلِّيِّيْنَ﴾ (۴) يعنی څوک چه د الله پاک دپاره يو درجه تواضع اختيار کړی، الله پاک به هغه ته يو درجه رفعت ورکړی او هغه ته به په اعلی عليين کښې ځائې ورکړی.

امام ترمذی رحمه الله د سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه مرفوع حديث نقل کړې دې:

﴿وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ﴾ (۵) يعنی د الله پاک دپاره چه څوک هم تواضع اختياروی الله پاک هغه ته رفعت او اوچت والې ورکوی.

امام ابوداؤد رحمه الله د عياض بن حمار نه يو بل روايت نقل کړې دې، د هغې الفاظ دا دی:

﴿إِنَّ اللّٰهَ أَوْحٰى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتّٰى لَا يَبْغِيَ أَحَدٌ عَلٰى أَحَدٍ وَلَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلٰى أَحَدٍ﴾ (۶) يعنی الله پاک ماته وحی کړې ده چه تاسو تواضع او عاجزی اختيار کړئ او څوک دې هم په بل ظلم نه کوی او نه دې څوک په بل چا فخر کوی.

[۶۱۳۶] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - كَانَ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - نَاقَةٌ. قَالَ وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ وَأَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ نَاقَةٌ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم -

---

۱) فتح الباری: ۱۱/۱۴، ارشاد الساری ۱۳/۵۰۰، عمدة القاری ۲۳/۱۳۴

۲) فتح الباری: ۱۱/۱۴، ارشاد الساری ۱۳/۵۰۰، عمدة القاری ۲۳/۱۳۴

۳) اوګورئ: عوارف المعارف للسهروردی، الباب الثلاثون فی تفاصيل الاخلاق الصوفية: ۱/۴۲۱

۴) الحديث اخرجه الامام احمد فی مسنده، مسندابی سعيد الخدری: ۴/۱۹۱، رقم ۱۱۷۴۷، (اسناده ضعيف)

۵) اخرجه الامام الترمذی فی سننه، کتاب الزهد، باب التواضع: ۴/۲۸، رقم الحديث: ۲۰۲۹ (واخرجه مسلم ايضا)

۶) الحديث اخرجه ابوداؤد فی کتاب الادب، باب التواضع ۴/۲۷۴، رقم الحديث: ۴۸۹۵ (اسناده صحيح)

تَسْمَى الْعَضْبَاءَ، وَكَانَتْ لاَ تُسْبَقُ، فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ لَهُ فَسَبَقَهَا، فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ وَقَالُوا سُبِقَتِ الْعَضْبَاءُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ لاَ يَرْفَعَ شَيْئًا مِنَ الدُّنْيَا إِلاَّ وَضَعَهُ». ار: ۲۷۱۶]

د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه د رسول الله ﷺ یوه اوښه وه. چه د هغې نوم عضباء وه یو څاروي به هم په منډه کښې، د هغې نه مخکښې کیدې نه شو. بیا یو بانډچی په خپله سورلئ باندې سور راغلو او د رسول الله ﷺ نه مخکښې لاړو. په مسلمانانو باندې دا خبره بده اولګیده او وې وئیل چه عضباء شاته پاتې شوه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د الله پاک دا عادت دې چه هغه په دنیا کښې یو څیز نه اوچتوی مګر هغه پست کوی هم

د حدیث الباب دوه طرق دا حدیث امام بخاری رحمه الله په دوه طرق سره نقل کړې دې.

① یو طریق د هغوی د شیخ مالک بن اسماعیل. د هغوی د شیخ زهیر بن معاویه ده او هغوی د حمید طویل نه نقل کوی.

② دویم طریق کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ محمد بن سلام دې او د هغوی دوه شیوخ دی. مروان بن معاویه فزاری او ابو خالد احمد. دا دواړه د حمید طویل نه نقل کوی. په حمید باندې دواړه طرق جمع کیږی د ابو خالد نوم سلیمان بن حیان دې

حدیث الباب. په کتاب الجهاد کښې د باب ناقة النبی ﷺ د لاندې تیر شوې دې.

د ترجمة الباب سره مناسبت: د ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت. د دې روایت په دویم طرق کښې د واقع دې جملې سره دې ﴿إِنَّ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ لاَ يَرْفَعَ شَيْئًا مِنَ الدُّنْيَا إِلاَّ وَضَعَهُ﴾ یعنی هر یو داسې څیز چه په دنیا کښې ځان اوچت کړی. الله پاک به هغه راښکته کړی.

د دې حدیث نه د رفع او تکبر مذمت او د تواضع ترغیب معلومیږی (۱)

[۶۱۳۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلاَلٍ حَدَّثَنِي شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطُشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لأُعِيذَنَّهُ، وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ، يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ».

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله پاک فرمائی چه چا زما ولی سره دشمنی اوکړه زما د طرف نه هغه ته اعلان جنګ دې او زما بنده چه زما د طرف نه په هغه باندې فرض کړې شوې څیزونو باندې عمل کولو سره ماته نزدې کیدې شی. په بل

---

۱) عمدة القاری ۲۳/۱۳۵. ارشاد الساری: ۱۳/۵۰۱

خيز باندې نه شي کيدې. او زما بنده د نوافل په ذريعه ماته قرب حاصلوي. تردې چه زه هغه سره محبت کوم. چه کله زه د هغه سره محبت کوم نو زه د هغه غوږ جوړ شم چه په هغې باندې هغه اوري. او د هغه سترګه جوړه شم چه په هغې باندې هغه ګوري. او د هغه لاس جوړ شم چه په هغې باندې هغه نيول کوي. او د هغه خپه جوړه شم چه په هغې باندې هغه تلل کوي او که هغه زما نه غواړي نو زه هغه ته ورکوم او که هغه زما د پناه طالب وي نو زه هغه ته پناه ورکوم. (کوم کار چه زه کول غواړم) په هغې کښې زه په تردد کښې نه واقع کيږم. لکه چه د هغه مومن د نفس په باره کښې ماته تردد وي کوم چه مرګ نه خوښوي او زه د هغه دا (مرګ لره) ناخوښه ګڼل نه خوښوم.

قوله: ﴿مَنْ عَادَىٰ لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ﴾: يعنى څوک چه زما د دوست او ولى سره دشمنى کوى. زه هغه سره د جنګ اعلان کوم

﴿ولى﴾: د فعيل په وزن باندې دې او دا يا خو د اسم مفعول په معنى کښې دې د فعيل وزن د مفعول په معنى کښې استعماليږى. د ولى نه مراد هغه سړې دې د چا امور او معاملاتو ته چه د الله پاک ولايت او نصرت حاصل وى.

په سورة اعراف آيت ۱۹۶ کښې الله پاک فرمائى ﴿وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ﴾ يعنى الله پاک د صالحين ولايت او نصرت کوى او د هغوى حفاظت کوى.

او يا دا د اسم فاعل په معنى کښې دې يعنى چاته چه د الله پاک په عبادت او طاعت باندې قدرت او ولايت حاصل وى او د هغه عبادات مسلسل جارى وى. علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى ﴿أو هو فعيل مبالغة من الفاعل وهو الذى يتولى عبادة الله وطاعته فعباداته تجرى على التوالى من غير أن يتخللها عصيان﴾[1]

څنګه چه د انبياء ﷺ دپاره معصوم کيدل ضرورى دى هم دغه شان د ولى دپاره هم د الله پاک د نافرمانئ نه محفوظ کيدل ضرورى دى[2]

علامه عينى رحمه الله د ولى په تعريف کښې ليکى

﴿هو العالم بالله المواظب على طاعته المخلص فى عبادته﴾[3]

﴿من عاد وليا لى﴾ ئې او نه فرمائيل بلکه ﴿لى﴾ ئې مقدم کړو. اصل کښې ﴿لى﴾ د ﴿وليا﴾ صفت دې. هغه ئې مقدم کولو سره حال جوړ کړې دې[4] په دې کښې يو لطيف نکتې طرف ته اشاره کولو سره علامه انور شاه کشميرى رحمه الله ليکى

﴿وإنما قال: «من عادى لى»، ولم يقل: «وليا لى»، تفخيما لشأن العداوة، لأن فى الأول إيذانا بأن عداوة ولى

---

[1]) ارشاد السارى : ۱۳/۵۰۲

[2]) ارشاد السارى : ۱۳/۵۰۲

[3]) عمدة القارى : ۲۳/۳۷

[4]) فتح البارى : ۱۱/۴۱۶، عمدة القارى ۲۳/۱۳۶، ارشاد السارى : ۱۳/۵۰۲

كأنّها عداوةُ الله تعالى، بخلاف الثاني ﴾ [١] يعنى ﴿ من عادى وليا ﴾ ئې او فرمائيل، او ﴿ من عاد وليا لى ﴾ ئې او نه فرمائيل، د عداوت او دشمنۍ د معاملې د سخت والى د وجې نه. ځكه چه په اول صورت كښې د دې خبرې طرف ته اشاره ده چه د يو الله والا سره دشمنى كول الله پاک سره د دشمنۍ كولو مترادف ده په بل صورت كښې دا نكته نه حاصليده.
د حديث شريف مطلب دا دې چه كوم انسان چه زما ولي ته تكليف رسوى، هغه ته اذيت وركوى نو زه هغه سره اعلان جنګ كوم، علامه قسطلانى رحمه الله ليكى:
﴿ وإذا ثبت هذا فى جانب المعاداة، ثبت ضده فى جانب الموالاة، فمن والى اولياء الله، اكرمه ﴾ [٢]
قوله: ﴿ وَمَا تَقَرَّبَ إِلَىَّ عَبْدِى بِشَىْءٍ أَحَبَّ إِلَىَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ ﴾: يعنى بنده چه زما قربت د كومو څيزونو په ذريعه حاصلوى، په هغې كښې د فرائضو نه زيات محبوب څيز زما په نزد نشته. مطلب دا دې چه په فرائضو باندې عمل كولو سره د الله پاک قرب حاصليدلې شى، د بل څه څيز په ذريعه، د دې نه زيات قرب نه شى حاصليدې، د نوافل په ذريعه هم د الله پاک قرب هم هغه وخت حاصليدې شى، چه كله د فرائضو اهتمام وى، فرائض پريخودلو سره د نوافلو اهتمام كونكې دالله پاک محبوب كله هم نه شى جوړيدې، علامه انور شاه كشميرى رحمه الله په فيض البارى كښې د دې وضاحت فرمائيلې دې. [٣]
قوله: ﴿ وَمَا يَزَالُ عَبْدِى يَتَقَرَّبُ إِلَىَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ ﴾: لكه چه وئيلې شوې دى چه د نوافل نه مراد نوافل مع الفرائض دى، يعنى يو سړې د فرائضو خو اهتمام كوى خو دهغې سره سره هغه د نوافلو كثرت هم اختياروى، نو د الله پاک د محبوبيت درجه بيا مومى.

---

[١] فيض البارى: ٤/٤٢٧
[٢] ارشاد السارى: ١٣/٥٠٢
[٣] قوله: (وما يَزَالُ عَبْدى يَتَقَرَّبُ إلىَّ بالنَّوافل)... إلخ. وههنا بحثٌ للصوفية فى فضل القُرْب بالنوافل، والقُرْب بالفرائض. فقالوا: إن العبدَ فى القُرْبِ الأوّل يصيرُ جارحةً جلّ مجده، والله سبحانه نفسه يكون جارحةً لعبده فى القُرْب الثانى. وذلك لأنّ الفرائضَ مفروضةٌ من الله تعالى على عباده، وليس لهم بُدٌّ من الإتيان بها، فكانوا فيها كالجارحة للرجل. وأمَّا النوافلُ، فالعبدُ يأتى بها بطوعها، من دون عزم عليه. فإذا تقرّب بها إلى الله تعالى كان اللهُ له كالجارحة. قلتُ: أمَّا كونُ الله تعالى جارحةً للعبد فى القربِ بالنوافل، فذلك نصُّ الحديث. وأمَّا ما ذكروه فى القرب بالفرائض، فلا لفظَ له فى الحديث. إلاّ أنّهم أخذوه بالمقابلة. والذى تبيَّن لى أن القربَ فى الفرائض أزْيَدُ وأكملُ، فإنه يَجْلبُ المحبوبيةَ له تعالى من أوّل الأمر. بخلاف القُرْب فى النوافل، فإنها تَجْلبُ المحبوبيةَ تدريجاً، وإن كانت ثمرتُها فى الانتهاء أيضاً هى المحبوبيةُ. ولكن ما يَحْصُلُ من النوافل آخراً يَحْصُلُ من الفرائض أوّلاً. فأنّى يستويان وإليه تُرْشدُ ألفاظُ الحديث. فإنّه قال فى الفرائض: «ما تقرّب إلىَّ عبدى بشىء أحَبَّ إلىَّ ممَّا افترضتُ عليه»، فجعل مفروضَه أحبَّ إليه من أوّل الأمر، وجعل ثمرته القربَ. بخلاف النوافل، فإنّ القُرْبَ منها تدريجىٌّ، يتدرَّجُ العبدُ إليه شيئاً فشيئاً. وبالجملة أنّهما فى النتيجة سواء، وهى المحبوبيةُ، غير أنّها تَحْصُلُ بالفرائض أوّلاً، وبالنوافل ثانياً. (فيض البارى: ٤/٤٣٠)

قوله: ﴿ فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ ﴾ : الله پاک فرمائي چه کله زه د هغه بنده سره محبت کوم نو د هغه غوږ جوړ شم، چه په هغې سره هغه اوري. سترګې ئې جوړې شم چه په هغې سره هغه ګوري

د حديث الباب مختلف مطلبونه : ظاهره ده چه دا الفاظ په خپله حقيقي معنى کښې نه دی. الله پاک د جسم او د جسم د لوازماتو نه پاک او منزه دې. په دې وجه د دې مجازی معنی اخستلې شوې ده او لاندې ذکر شوې مطالب بيان کړې شوې دی:

① په دې سره د الله پاک د نصرت او تائيد طرف ته اشاره ده او مقصد دا دې چه کوم بنده د الله پاک محبوب جوړ شی. د هغه دا اندامونه د الله پاک په نصرت او تائيد سره چليږی، حرکت کوی او کار کوی. مشهور صوفی بزرګ ابو عثمان حيری د دې معنی وضاحت کولو سره فرمائی : ﴿ معنى الحديث : كنت اسرع الى قضاء حوائجه من سمعه فى الاستماع، وعينه فى النظر، ويده فى اللبس، ورجله فى المشى ﴾ يعنى زه د هغه حاجتونه زر پوره کوم، د هغه د حاسه سمع نه په اوريدو کښې، د هغه د سترګو نه په ليدو کښې، د هغه د لاس نه په مس کولو کښې او د هغه د قدم نه په تلو کښې، د دې حاصل هم دا دې چه د الله پاک نصرت او تائيد داسې بنده ته حاصل وی. (١)

② دويمه معنى دا بيان کړې شوې ده چه سمع او بصر د اسم مفعول مسموع په معنى کښې دې او مطلب ئې دا دې چه داسې بنده صرف زما ذکر اوری، زما د قدرتونو کرشمې ګوری او صرف زما په مرضئ باندې د هغه لاسونه او خپې وراندې ځی. (٢)

③ بعض حضراتو وئيلې دی چه دلته د حافظ لفظ په طور د مضاف محذوف دې. تقدير د عبارت داسې دې : ﴿ كنت حافظ سمعه الذى يسمع به، فلا يسمع الا ما يحل سماعه، وحافظ بصره ﴾، يعنى زه د هغه د غوږونو او د هغه د نظر حفاظت کوم او دغه شان هغه د ګناه او نافرمانئ نه محفوظ وی. (٣)

④ بعض علماء کرامو وئيلې دی چه دا په طور د مثال دې او مطلب ئې دا دې چه څنګه سترګې، لاسونه او نور جوارح انسان ته محبوب وی زه هم ورته دغه شان محبوب شم او هغه زما نافرمانی نه کوی. (٤)

قوله: ﴿ وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ ﴾ : زه چه يو کارکوم نو په هغې کښې تردد نه کوم. څنګه چه د يومومن په روح اخستلو کښې ماته تردد وی. (١)

---

(١) فتح الباري : ٤١٨/١١، ارشاد الساري : ٥٠٣/١٣، عمدة القاري : ١٣٨/٢٣

(٢) فتح الباري : ٤١٨/١١، ارشاد الساري : ٥٠٣/١٣، عمدة القاري : ١٣٨/٢٣

(٣) عمدة القاري : ١٣٨/٢٣

(٤) فتح الباري : ٤١٨/١١

مقصد دا دې چه زه کوم کار هم کوم نو په هغې کښې ماته تذبذب او تردد نه وی چه دا کار کول پکار دی یا نه، سوا د مومن د روح اخستلو نه، چه په هغې کښې راته تردد وی چه روح ئې قبض کړې شی یا نه؟ ځکه چه مومن مرګ نه خوښوی او زه هغه تکلیف نه خوښوم.
ظاهره ده چه د تذبذب نسبت د الله پاک طرف ته حقیقی معنی کښې صحیح نه دې ځکه چه تردد یو انفعالی کیفیت دې کوم چه د کمزورئ علامت وی او الله پاک د هر قسم انفعالیت نه پاک او منزه دې.
په دې وجه باندې دلته د تردد نسبت د الله پاک طرف ته مجازا دې او مراد د دې نه د ملائکو تردد دې کوم چه د یو مومن بنده د روح قبض کولو دپاره ځی. د سیدنا موسی علیه السلام د روح قبض کولو دپاره چه کله فرشته لاړه او اجازت ئې اوغوښتلو نو هغوی د فرشتې نه سپېړه ویستلې او چونکه دا فرشتې د الله پاک حکم سره ځی. په دې وجه الله پاک د تردد نسبت خپل ځان ته اوکړو. (۲)

قوله: ﴿يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَه﴾: (مساءة) (د میم په فتحې سره) مومن سړې مرګ ناخوښه ګنړی (چه دروح د وتلو په وخت ئې ډیر تکلیف وی) او زه د هغه تکلیف ناخوښه ګنړم، د دې دوه مطلبونه بیان کړې شوې دی.

---

(۱) علامه انور شاه کشمیری رحمه الله د دې جملې متعلق په فیض الباری کښې ډیره نفیس نکته لیکلې ده. لاندې د هغوی کلام نقل کولې شی!
قوله: (وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ)... إلخ. لا ريبَ أن الترددَ فی جَنَابه تعالى مُحَالٌ. ولكنَّه جیء به على شأن خاطر عباده. ليَعْلَمُوا ما قدْرهمَ عند ربِّهم. وليس له لفظٌ لمثل هذا الموضع فِي عالمهم إلاَّ هو. فحادثهم بحسب مجاری عُرْفهم. هذا بحسَب الجلیٌ من النظر، وعند تدقيق النظر يَظْهَرَ أنَّ التفاتَه تعالى إلى أمرين متعارضين هو الذی عَنَى بالتردُّد، وعَبَّر عنه. فإنَّ اللّهَ تعالى يتوجَّه أولاً إلى توفِّی العبد. ثم إلى مَلاَلة العبد من موته. ولا بدَّ له منه فی الدنيا. فكأنَّه مادةُ التردُّد للعبد. فإنَّ العبدَ إذا تردَّدَ فيما تتعارضُ فيه الجهات. فلا يَسْنَحُ له الترجيح، فيحدث له فيه التردُّد لا مَحَالَةَ. واللّهُ سبحانه بریءٌ عن التردُّد. ولكنَّه عبَّر عنه فی اللفظ. لكونه مادتَه عندهم. بعبارة أخرى: إنص العبدَ يكره موتَه. ومَلَکُ الموت يجیء لتوفَّاه. فحدث صورة التصادم والتقابل. وتلک الصورة سُمِّيت بالتردُّد. وإلاَّ فلا تردُّد فی جَنَابه تعالى. فإنَّه فعَّالٌ لمَا يَشَاءُ. وحاكمٌ لمَا يريدُ ثم إنَّ تلک الصورة أيضاً فی المواطن التحتانية، وأمَّا فی الفوَق، فلا شیءَ منه. وهَذا كما فی الحديَث: «إن البلاَ يَنْزِلُ من السماء، وتَصْعَدُ الصدقةُ إليه. فلا يزالان يَتَصَارَعَان إلى يوم القيامة، حتی لا يَنْزِلَ هذا، ولا يَصْعَدَ هذا»، أوَ كما قال. فأمعن النظرَ فيه، هل يُوهمُ فی الظاهر أن الصدقةَ تَرُدُّ من القَدَر شيئاً. والَوجهُ فيه: أنَّ هذا التصارعَ إنَّما هو فی عالم الأسباب، وأمَّا عندَ ربک فقد جَفَّ القلمُ بما هو كائنٌ. وقَد عُلمَ من قبل أنَّ هذا البلاَ يُرَدُّ عنه لأجل صدقته. ولمَّا كان ردَّه من صدقته، لا بدَّ أن يَظْهَرَ هذا التعليقُ أيضاً فی موطن، وهو كما فی الحديث. فهكذا لا تردُّد عند ربِّک أصلاً. ولكن لمَّا كانت مادةُ التردُّدَ ممَّا تتجاذبُ فيها الجهاتُ، وهی متحقِّقَةٌ فيما نحن فيه، عبَّر عنه بالتردُّد بحسب هذا الموطن، مع أنَّه لا تردُّد عند ربک. فإنَّه لا صباحَ عنده ولا مساءَ، فافهم. (فيض الباری: ۴/۴۳۰-۴۳۱)
(۲) فتح الباری: ۴۲۰/۱۱، ارشاد الساری: ۵۰۳/۱۳، عمدة القاری: ۱۳۸/۲۳

① الله پاک فرمائی چه مومن، مرګ لره د دې سختئ او د روح د بدن نه د جدایئ د تکلیف په وجه باندې ناخوښه ګڼړی او ماته د هغه دا تکلیف خوښ نه دې. دا مطلب نه دې چه الله پاک ته د مومن مرګ نه دې خوښ. ځکه چه مرګ خو هغه لره الله پاک سره یوځائې کونکی دې، بلکه مطلب دا دې چه روح قبض کیدو سره چه هغه ته کوم طبعي تکلیف وی، د هغه د وجې نه الله پاک اووې ﴿وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَه﴾ [1]

② دویم مطلب ئې دا دې چه مومن خو مرګ ناخوښه ګڼړی خو زه د هغه دپاره په دنیا کښې د اوږد ژوند مشکلات او تکالیف ناخوښوم. په دې وجه هغه خپل ځان ته راوبلم. یعنی د ﴿مساءة﴾ نه د دنیا د اوږد ژوند تکلیفونه دی او مصیبتونه دی، چه کله انسان بوډا او ضعیف عمر ته اورسیږی، په بیماریانو کښې اخته شی نو د دنیاوی ژوند دا اذیت چونکه الله پاک ته د مومن دپاره ناخوښه ده، په دې وجه الله پاک هغه لره خپل ځان ته د رابللو فیصله اوفرمائی او حال دا چه مومن مرګ لره ناخوښه ګڼړی. [2]

په دې حدیث کښې الله پاک د اولیاء الله مقام او مرتبه بیان فرمائیلې ده چه که د مرګ د روستو کیدو ګنجائش وې نو الله پاک به د هغوی په حق کښې هغه هم روستو کړې وې ځکه چه الله پاک ته خپل داسې بندګان ډیر ګران او نزدې دی.

په حدیث الباب باندې اعتراض او د هغې جواب : په حدیث الباب کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ الشیخ خالد بن مخلد قطوانی دې، علامه ذهبی رحمه الله په میزان الاعتدال کښې د مختلف محدثین او ائمه جرح و تعدیل رائې د هغوی په باره کښې نقل کړی دی. په هغوی کښې ډیرو حضراتو هغوی ته ضعیف وئیلې دې، پس امام احمد رحمه الله فرمائی ﴿له مناکیر﴾، امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی ﴿یکتب حدیثه ولایحتج به﴾ [3]

ابن سعد رحمه الله فرمائی ﴿منکر الحدیث مفرطاً فی التشیع﴾ [4] امام ابن عدی رحمه الله په الکامل فی ضعفاء الرجال کښې د هغوی ذکر کړې دې او د هغوی لس احادیث نقل کولو سره ئې تولو ته نسبتا منکر وئیلې دی. [5] علامه ذهبی رحمه الله د حدیث الباب ذکر کولو سره فرمائی ﴿هذا حدیث غریب جدا﴾ که د صحیح بخاری هیبت نه وې نو محدثینو به دا د خالد بن مخلد په منکر احادیثو کښې شمار کړې وې. [6]

علامه ذهبی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله نه علاوه بل چا هم د هغه نه نقل نه دې کړې،

---

[1] فتح الباری : ۴۲۰/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۳/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۸/۲۳

[2] فتح الباری : ۴۲۱/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۳/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۸/۲۳

[3] اوګورئ : میزان الاعتدال ۶۴۰/۱، رقم الترجمة : ۲۴۶۳

[4] میزان الاعتدال ۶۴۰/۱، رقم الترجمة : ۲۴۶۳

[5] الکامل فی ضعفاء الرجال : ۳۶/۳، رقم : ۵۹۵

[6] میزان الاعتدال ۶۴۲/۱، رقم الترجمة : ۲۴۶۳

شریک بن عبدالله په دې کښې متفرد دې او هغه حافظ نه دې، او د دې سند نه علاوه په بل یو سند سره هم دا حدیث نه دې روایت شوې او زما خیال دې چه په مسند احمد کښې دا نشته.[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په مسند احمد کښې خو یقینا دا روایت نشته خو دا وئیل چه په بل څه سند سره نه دې روایت کړې شوې، صحیح خبره نه ده. ځکه چه دا روایت د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه علاوه د لاندې ذکر شوې صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت کړې شوې دې:

① د سیده عائشه رضی الله عنها نه ..... د هغوی روایت امام احمد او امام بیهقی په کتاب الزهد کښې او ابو نعیم په حلیة الاولیاء کښې نقل فرمائیلې دې.

② د سیدنا ابوامامة الباهلی رضی الله عنه نه ..... د هغوی روایت طبرانی او بیهقی په زهد کښې نقل فرمائیلې دې او د هغې سند ضعیف دې.

③ د سیدنا علی رضی الله عنه د هغوی روایت سماعی په مسند علی کښې نقل کړې دې.

④ د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه، د هغوی روایت امام طبرانی په ضعیف سند سره نقل فرمائیلې دې.

⑤ د سیدنا انس رضی الله عنه نه ..... د هغوی روایت ابویعلی، بزار او طبرانی نقل کړې دې، خو د هغې سند هم ضعیف دې.

⑥ سیدنا حذیفه رضی الله عنه نه ..... د هغوی روایت امام طبرانی رحمه الله نقل فرمائیلې دې او د هغې سند حسن غریب دې.

⑦ د سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه نه ..... د هغوی روایت امام ابن ماجة په سنن کښې او ابو نعیم په حلیة الاولیاء کښې نقل فرمائیلې دې او د دې سند هم ضعیف دې.

بهر حال اګر چه انفرادی طور دا سندونه ضعیف دی، خو د اووه مختلف صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په مختلف طرق سره د دې مفهوم حدیث منقول کیدل، په دې باندې دلالت کوی چه د دې حدیث اصل ضرور دې.[2]

علامه انور شاه کشمیری رحمه الله په علامه ذهبی رحمه الله باندې رد کولو سره فرمائی:

﴿ ومرّ علیه الذهبیّ فی «المیزان»، وقال: لولا هیبةُ الجامع لقلتُ فیه: سبحان الله. وکان الذهبیّ لم یتعلّم علمَ المنطق، قلتُ: إذا صَحّ الحدیثُ، فَلْیَضَعْهُ علی الرأس والعین، وإذا تعالی شیءٌ منه عن الفهم، فَلْیَکِلْهُ إلی أصحابه، ولیس سبیلُه أن یُجْزَمَ فیه، أمّا علماءُ الشریعة فقالوا: معناه أنّ جوارحَ العبد تصیرُ تابعةً للمرضاة الإلهیة، حتّی لا تتحرّك إلّا علی ما یرضی به ربُّه. فإذا کانت غایةُ سمعِه وبصرِه وجوارحِه کلّها هو اللهُ سبحانه، فحینئذٍ صَحّ أن یقالَ: إنه لا یَسْمَعُ إلّا له، ولا یتکلّمُ إلّا له، فکأنّ اللهَ سبحانه صار سمعَه وبصرَه، قلتُ: وهذا عدولٌ عن حقّ الألفاظ، لأنّ قولَه: «کنتُ سمعَه»، بصیغة المتکلّم، یَدُلُّ علی أنّه لم یبق من المتقرّب بالنوافل

---

[1] میزان الاعتدال ۶۴۲/۱

[2] فتح الباری ٤١٥/١١، وارشاد الساری ٥٠٤/١٣

إلاّ جسدُه وشبحُه، وصار المتصرّفُ فيه الحضرةَ الإلهيةَ فحسب، وهو الذی عناه الصوفية بالفناء فی الله، أی الانسلاخ عن داوی نفسه، حتی لا یکونَ المتصرّفُ فیه إلاّ هو. وفی الحدیث لمعةٌ إلی وَحْدَةِ الوجود. وکان مشایخُنا مولعین بتلك المسألة إلی زمن الشاه عبد العزیز. أمّا أنا، فلستُ بمتشدّدٍ فیها:

د من عَجَبٍ أنّی أحِنُّ إلیهم   وأسألُ عنهم دائماً، و هم معی

وتبکیهم عینی، وهم فی سوادِها   وتَشْتَاقُهم روحی، وهم بین أضْلُعی[1]

یعنی : حافظ ذهبی رحمه الله په میزان الاعتدال کښې په دې حدیث باندې نقد کولو سره فرمائیلې دی چه که د صحیح بخاری رعب مانع نه وې نو د دې حدیث متعلق به ما به (د طنز په طور) سبحان الله ! وئیلې وې...

اصل کښې حافظ ذهبی رحمه الله د علم منطق نه ناخبر وو، زما په خیال کښې د یو حدیث صحت ثابت شی نو هغه په سر سترګو باندې کیخودل پکاردی او که د هغې مفهوم او معنی ډیر اوچت وی نو په داسې صورت کښې د هغې متعلق په تندئ سره فیصله کولو باندې هغه فورا رد کول یا په هغې کښې جرح کول مناسب طریقه نه ده، بلکه په داسې صورت کښې د معانی حدیث ماهرین (فقهاء کرام) طرف ته رجوع کول پکار دی.

پس علماء شریعت د دې حدیث دا معنی بیان کړې ده، د بنده اندامونه د الله پاک د رضا داسې تابع شی چه د الله پاک د رضا نه بغیر هغه حرکت هم نه کوی او چه کله دا کیفیت دې درجې ته اورسیږی چه د هغه غوږونه، سترګې او نور جوارح ، اول او اخر مقصد او غایة د الله پاک ذات مقدسه جوړ شی نو دې وخت کښې دا وئیلې شی چه دا بنده چه اوری نو صرف د الله پاک دپاره او څه چه وائی نو صرف د الله پاک دپاره، ګویا الله پاک د هغه غوږ او سترګه شی. زما په خیال کښې د دې مطلب معنی سره الفاظ حدیث مطابقت نه ساتی بلکه په دې سره د الفاظو حق ضائع کیږی، ځکه چه په حدیث مبارک کښې ﴿کنت سمعه﴾ الفاظ په صیغهٔ د متکلم سره راغلې دی، چه د هغې نه دا خبره معلومیږی چه د نوافلو په ذریعه باندې قرب حاصلونکې بنده ګویا فناء (او بې اختیاره) شی او د هغه خو صرف ظاهری جسم او بدن په نظر راځی، ګینې په حقیقت کښې هغه پوره په پوره د الله پاک د تصرف لاندې شی او د هغه د ټول بدن نه صرف د الله پاک د مرضئ او منشاء مطابق افعال صادریږی، دې کیفیت ته حضرات صوفیاء فناء فی الذات یا فناء فی الله نه تعبیر کوی، په دې حدیث کښې د مسئله وحدة الوجود طرف ته هم اشاره ملاویږی. د شاه عبدالعزیز پورې زمونږ ټول مشائخ په دې مسئله کښې ډیره دلچسپی اخستله، خو زه په دې باره کښې د تشدد نه ځان ساتم.

① تعجب دې چه زه همیشه د هغوی دپاره پریشانه یم او د هغوی په باره کښې تپوس کوم حال دا چه هغه ماسره وی.

② زما سترګې د هغوی دپاره ژړیږی، حال دا چه هغه زما د سترګو په ګاتی کښې اوسیږی

[1]) فیض الباری : ۴۲۸/۴

او زما روح د هغوئ دپاره بې صبره وی حال دا چه هغه زما د پختو ترمینځه اوسیږی. (١)

١) مولانا بدر عالم میرتهی رحمه الله د فیض الباری په حاشیه او په ترجمان السنة کښې د انور شاه کشمیری رحمه الله د دې کلام نور هم وضاحت کړې دی. هغوی لیکی:

د دوه انسانانو ترمینځه د محبت مراحل سر کولو سره ډیر کرته داسې اثرات په نظر راځی چه د هغې لیدلو سره یو پردې سړې هم لیدلو سره دا اندازه کوی چه ضرور په دې دوه کسانو کښې داسې تاثر اود مغلوبیت تعلق دې کوم چه د هغه ظاهر هم مسخر کړې دې او هغه ګوری چه د ناستې ولاړې د مرحلو نه تیریدلو سره د هغه په خط او خال کښې هم د یو شان والی صفت پیدا شوې دې. چه کله د خواهش اتحاد، د ارادې اتحاد، د جذباتو د اتحاد سره د ظاهر اتحاد هم په نظر راځی نو د دې اتحاد د صحیح ترجمانئ دپاره د لفظ اتحاد نه سوا هیڅ دویم لفظ نه ملاویږی:

من توشدم تومن شدی من تن شدم تو جان شدی
تا کس نه گوید بعد ازین من دیگرم تو دیگری

متنبی وائی: ما الخل الا من اود بقلبه :: واری بطرف لا یری بسوانه

د فارسئ او عربئ شاعرانو چه د آثار محبت د ادا کولو دپاره چه د کوم مناسب تعبیر انتخاب کړې دې هغه لفظ د اتحاد دې خو په دې الفاظو سره چاته دا شبه نه دی کیدل پکار چه د دې اتحاد د وجې نه د هغوی حقیقی اثنینیت باقی نه پاتې کیږی بیا چه د مخلوق په دائره کښې په دې الفاظو سره دا ښکاره غلط فهمی نه پیدا کیږی نو د خالق او مخلوق ترمینځه په څه تعبیری توسع سره د عقیدې غلط فهمی نه پیدا کیږی نو د خالق او مخلوق ترمینځه په یو تعبیری توسع سره د عقیدې غلط فهمی ولې پیدا کیږی. بیشکه چه کله یو بنده د عبدیت په لاره باندې روان شی او د فرائضو او نوافلو په سبب د عجز ونیاز قدمونه اوچتوی نو دا اندازه کول ګران نه دی چه اوس د هغه ظاهر او باطن لره د الوهیت سلطان پوره پوره مسخر کړې دې، که هغه اوری نو هم هغه اوری د کومې چه ورته الله پاک د اوریدلو امر کړې دې، که هغه ګوری او خبرې کوی نو هم هغه ګوری او وائی د کوم چه هغه ته اجازت ورکړې شوې دې، که هغه خپل لاس یا قدم اوچتوی نو هم هلته ئې اوچتوی چرته چه د هغه مولی د هغه دپاره اوچتول خوښ کړې دی. د هغې نه علاوه نه هغه اوری نه ګوری او نه بل څه ادنی حرکت کوی نو د دې محبت د ترون د اظهار دپاره ضرور هم هغه الفاظ اختیارول پکار وی کوم چه د دې موقع او محل دپاره مانوس دی بیا چه څنګه هلته د دې الفاظو ښکاره مطلب صرف د دې محبت د رشتې ترجمانی ده هم دغه شان دلته هم د دې الفاظو دلته ښکاره مطلب هم دا دې چه اوس دا بنده د محبت دره باندې تیریدلو سره د خپل مولی په رضا او تسلیم کښې فنا شوې دې او د امر شریعت داسې مطیع او منقاد شوې دې لکه یو ښه اس چه د خپل سور د اشاراتو، نه د هغه اس حس او حرکت خپل دې او نه د دې بنده نقل او حرکت خپل، په کتلو کښې خو دې خپله اودریږی او حرکت کوی او په حقیقت کښې د هغه حس او حرکت د هغه د مالک دې د هغه جوارح د هغه د ارادې مظاهر جوړ شوې دی چه هر کله د مخلوق قوت ارادی دې درجه فنا کیږی چه د هغه حرکت او سکون د بل د ارادې تابع شی نو بیا د هغه حکم د هم هغه صاحب اراده تابع شی.

د سپی په شان خبیث ځناور د معلم کیدو سره چه کله خپل قوت ارادی فناء کړی او په تول بدن سره د خپل مالک د رضا تابع شی نو شریعت د هغه د جوارح خپل هیڅ حکم باقی نه دې پریخودلې بلکه کوم چه د هغه د مالک حکم دې د هغه هم هغه حکم دیپه دې وجه که هغه سپې د مسلمان وی نو د هغه ښکار حلال دې او که د کافر وی نو د هغه ښکار حرام دی. د دې مطلب دا دې چه د دومره درجې فنائیت نه پس اوس دا ښکار د سپی بالکل نه دې بلکه د هغه د مالک دې که هغه مسلمان وو نو دا هم حلال دې هم دغه شان چه کله بنده خپله اراده فنا کړی نو بیا دا اطلاق صحیح کیږی چه د هغه سمع او بصر د الله پاک د ارادې مظهر جوړ شوې دی، تاسو اوکتل چه ... [بقیه بر صفحه آئنده...

د ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: ① شارحين حديث د ترجمة الباب سره، د دې حديث مختلف مناسبتونه بيان فرمائيلې دی:

① علامه كرمانی رحمه الله فرمائی چه په دې حديث كښې د نوافل په ذريعه د الله پاک د قربت د حصول ذكر دې او دا تقرب چونكه په انتهائی تواضع او د الله پاک په دربار كښې د حد درجه عاجزئ اختيارولو نه بغير نه حاصليږی، په دې وجه دې مناسبت سره حديث الباب د باب التواضع د لاندې ذكر كړې شو. [1]

علامه گنگوهی رحمه الله هم دې ته نزدې نزدې خبره ارشاد فرمائيلې ده چه په روايت كښې د عبادت او مانځه ذكر دې او مونځ د انتهائی درجې خضوع او تواضع وی، په روايت كښې په دې تواضع باندې مرتب كيدونكې ثمره يعنی د رب په نزد د قبوليت او اوچتې درجې د حصول درجه ده. [2]

② حافظ ابن حجر او علامه قسطلانی رحمهما الله فرمائی چه په ترجمة الباب كښې د ﴿ من عادلی وليا ﴾ نه په فهم كښې راځی ځكه چه د هغې تقاضا دا ده چه د الله پاک د دشمنئ نه انسان ځان بچ كړی او هغوی سره د محبت دوستئ او اكرام والا معامله اختيار كړې شی او د بزرگانو دوستی او اكرام، تواضع نه بغير نه شی حاصليدې. [3]

③ شيخ الحديث مولانا زكريا صاحب رحمه الله فرمائی چه په ترجمة الباب كښې د ﴿ من عادلی وليا ﴾ نه ثابتيږی چونكه متواضع انسان د چا سره دشمنی نه كوی، پاتې لا دا چه د الله پاک د دوستانو سره دشمنی اوكړی، پس حضرت ليكی:

﴿ والاوجه عند هذا العبد الضعيف ان الترجمة فی قوله : من عادی لی وليا .... فان المتواضع لا يعادی احدا، فضلا عن الاولياء ﴾ [4]

٣٩: باب قول النبی صلی الله عليه وسلم «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ».

(وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)

امام بخاری رحمه الله په دې باب كښې د قيامت قرب بيان كړې دې، د سورة نحل كوم آيت كريمه

...بقيه ازحاشيه گذشته] د فناء او ارادې دې مرحلې ته رسيدلو سره ځنگه يو سپې د خپل مالک حكم اختيار كړی خو چه كله يو انسان د شريعت د متابعت په ځائې د هغې مقابله كوی نو بيا د هغه حكم د ځناور نه بدتر شی. (ترجمان السنة : ١/٣١٤)

[1] شرح الكرمانی للبخاری : ٢٠/٢٣

[2] لامع الدراری : ١٠/٧٨

[3] فتح البارى : ١١/٤٢١، ارشاد السارى ١٣/٥٠٤

[4] تعليقات لامع الدراری : ١٠/٧٨

چه ئې ذکر کړې دي، د هغې ترجمه دا ده : د قيامت معامله به د سترګې د رپ برابر وي يا د دې نه کم وخت. بيشکه الله پاک په هر يو څيز باندې قادر دې.

[۶۱۳۸] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ هَكَذَا » وَيُشِيرُ بِإِصْبَعَيْهِ فَيَمُدُّ بِهِمَا. [ر: ۴۶۵۲]

د سيدنا سهل رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زه او قيامت دومره نزدې نزدې رالیږلې شو او رسول الله ﷺ د خپلو دواړو ګوتو په اشاره باندې د هغه قرب بيان کړو، بيا ئې دا دواړه خواره کړل.

د امام بخاری رحمه الله شيخ سعيد بن محمد بن الحکم بن ابی مريم دې، د هغوی شيخ ابوغسان دې، چه د هغه نوم محمد بن مطرف دې او ابوحازم د سلمة بن دينار کنيت دې.

قوله: ﴿ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ ﴾ : ﴿ بُعِثْتُ ﴾ : د ماضی مجهول واحد متکلم صيغه ده او ﴿الساعة﴾ مرفوع دې، ځکه چه د هغې عطف د ﴿ بُعِثْتُ ﴾ په ضمير متکلم باندې دې او په ضمير متصل باندې د ضمير منفصل سره د تاکيد راوړلو نه بغير چونکه د اسم ظاهر عطف صحيح نه دې، په دې وجه ئې د هغې نه پس د ضمير متصل د تاکيد په طور ﴿ انا ﴾ ضمير منفصل راوړلو. چه د اسم ظاهر عطف پرې صحيح شی. (۱)

بعض حضراتو په دې ترکيب باندې اعتراض کړې دې چه په ضمير متکلم باندې عطف صحيح نه دې، ځکه چه ﴿ بعثت الساعة ﴾ (قيامت مبعوث کړې شو) نه شی وئيلې کيدې، ځکه چه دا هغه وخت وئيلې شی چه کله د مخکښې نه څه څيز موجود وی او بيا هغه راوليږلې شی او اوچت کړې شی او حال دا چه قيامت خو راتلونکې دې، د مخکښې نه موجود نه دې.

د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه چونکه د قيامت راتلل يقينی دی، په دې وجه دا په منزله د موجود منلو سره دا لفظ استعمال کړې شو. (۲)

د ابو البقاء عکبری په نزد په ﴿ بعثت انا والساعة ﴾ کښې واؤ د مع په معنی کښې دې او ﴿الساعة﴾ د مفعول معه کيدو په صورت کښې منصوب دې. (۳)

خو قاضی عياض د رفع والا صورت ته احسن وئيلې دې. (۴)

قوله: ﴿ وَيُشِيرُ بِإِصْبَعَيْهِ فَيَمُدُّ بِهِمَا ﴾ : رسول الله ﷺ خپلې دواړه ګوتې خورولو سره اشاره اوفرمائيله، زه او قيامت دواړه يو بل ته دومره نزدې يو، د دوه ګوتو نه مينځنۍ او د

---

(۱) فتح الباری : ۴۲۲/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۵/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۹/۲۳

(۲) فتح الباری : ۴۲۲/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۵/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۹/۲۳

(۳) فتح الباری : ۴۲۲/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۵/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۹/۲۳

(۴) فتح الباری : ۴۲۲/۱۱، ارشاد الساری : ۵۰۵/۱۳، عمدة القاری : ۱۳۹/۲۳

شهادت گوته مراد ده پس د کتاب التفسير په روايت کښې د دې تصريح ده. [1]

د حديث دوه مطلبونه : د دې حديث شريف دوه مطلبونه بيان کړې شوې دى!

① دا دواړه گوتې چونکه يو بل سره متصل او نزدې دی، په دې وجه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چه زما او د قيامت ترمينځه فاصله ډيره زياته نه ده، او زما نه پس د دې وقوع ډير زيات لرې نه دې، يو بل ته نزدې او متصل دی، په مينځ کښې نه بل څوک نبى راځى او نه به يو امت راشى، څنگه چه د دې دوه گوتو ترمينځه بله گوته نشته. علامه توربشتى رحمه الله دا معنى بيان کړې ده. [2]

② دويم مطلب دا دې چه په دې دوه گوتو کښې د مينځ والا گوته لږه شان لويه وى او په دې کښې لږه شان اضافه وى، د دې قليل اضافې طرف ته اشاره ده چه زما او د قيامت ترمينځه دومره لږه شان فاصله ده، پس قاضى بيضاوى رحمه الله فرمائى :

﴿ معنى الحديث ان نسبة تقدم بعثه صلى الله عليه وسلم على قيام الساعة كنسبة فضل احدى الاصبعين على الاخرى ﴾ [3]

او په دواړو معنو کښې خپل مينځ کښې هيڅ تضاد نشته، د اتصال طرف ته هم اشاره کيدې شى او د قليل فاصلې طرف ته هم اشاره کيدې شى.

[٦١٣٩] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ -هُوَ الْجُعْفِيُّ- حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ وَأَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ»

د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زه او د قيامت ورځ د دې «دواړو گوتو» په شان «نزدې نزدې» راليږلې شوې يو.

[٦١٤٠] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ». يَعْنِي إِصْبَعَيْنِ. تَابَعَهُ إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي حَصِينٍ.

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زه او قيامت د دې دواړو په شان راليږلې شوې يو. د هغوى مراد دوه گوتې وې، د دې روايت متابعت اسرائيل د ابو حصين نه کړې دې.

قوله: ﴿تَابَعَهُ إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ﴾: ابو حصين «د حاء په فتحې او د صاد په

---

[1] اوگورئ : کشف البارى، کتاب التفسير : ٧٢١

[2] فتح البارى ٤٢٤/١١، ارشاد السارى : ٥٠٦/١٣

[3] فتح البارى ٤٢٥/١١، ارشاد السارى : ٥٠٦/١٣. قال الكرمانى : قيل هو إشارة إلى قرب المجاورة، وقيل إلى تقارب ما بينهما طولاً وفضل الوسطى على السبابة لأنها أطول منها بشىء يسير. فالوجه الأول بالنظر إلى العرض، والثانى بالنظر إلى الطول، وقيل أى ليس بينه وبين الساعة نبى غيره مع التقريب لحينها اهـ (انظر شرح الكرمانى : ٢٤/٢٢)

کسرې سره) د هغوی نوم عثمان بن عاصم دې.
د ابوبکر بن عیاش متابعت اسرائیل بن یونس کړې دې، دا متابعت اسماعیلي موصولا نقل کړې دې. (١)

٤٠: باب طُلُوعِ الشَّمسِ مِن مَغرِبِهَا

دا باب بغیر د ترجمې نه دې او د کالفصل من الباب السابق د قبیل نه دې، مونږ چه کومه نسخه د متن په طور اختیار کړې ده په هغې کښې د پورته الفاظو سره ترجمة الباب دې. خو په ډیرو نسخو کښې دا باب بغیر د ترجمې نه دې.
پس شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله د دې متعلق لیکی:

﴿ والاوجه عند هذا العبد الضعیف: ان المصنف ذکره بغیر ترجمة لمناسبة قوله تعالی فی الباب السابق: ﴿وما امر الساعة الا کلمح البصر﴾ لما ذکر فی حدیث الباب من امور تدل علی فجاءة القیامة، کقوله صلی الله علیه وسلم: لتقومن الساعة، وقد نشر الرجلان ﴾ (٢)

یعنی د دې ضعیف بنده په نزد زیاته مناسب دا ده چه امام بخاري رحمه الله دا باب بغیر د ترجمې نه قائم فرمائیلې دې، ځکه چه د دې نه مخکښې باب کښې چه کوم آیت کریمه ذکر دې، ﴿وما امر الساعة الا کلمح البصر﴾ د هغې سره د وړاندې حدیث مناسبت دې، په دې حدیث کښې د داسې امورو تذکره ده چه د هغې نه معلومیږی چه قیامت به ناڅاپه راځی، او د مخکښې باب د آیت کریمه نه هم دا معلومیږی.

[٦١٤١] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ فَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ، فَذَلِكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا، لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلاَنِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلاَ يَتَبَايَعَانِهِ وَلاَ يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلاَ يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهْوَ يَلِيطُ حَوْضَهُ فَلاَ يَسْقِي فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلاَ يَطْعَمُهَا». [ر: ٤٣٥٩]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږی ترڅو پورې چه نمر د مغرب نه وی راختلې، چه کله نمر د مغرب نه راوخیژی او خلق اوګوری نو ټول به ایمان راوړی، هم دا به هغه وخت وی چه د چا دپاره به د هغه ایمان فائده مند نه وی، چا چه د دې نه مخکښې ایمان نه وی راوړې یا چا چه د ایمان نه

١) فتح الباري: ١١/٤٢٤، ارشاد الساری: ١٣/٥٠٦، عمدة القاری: ٢٣/١٤٠
٢) الابواب والتراجم: ٢/١٣٢

پس د خیر عمل نه وی کړې.
پس قیامت به راشی او دوه سړی به کپړه په مینځ کښې (د اخستلو او خرڅولو دپاره) خوره کړې وی، لا به اخستل او خرڅول پوره شوې هم نه وی او نه به هغوی راټوله کړې وی (چه قیامت به راشی) او قیامت به په داسې حال کښې قائمیږی چه یو سړې به خپله اوښه اولشی او د هغې پئ به راوړی او لا به ئې څکلې نه وی چه قیامت به راشی. قیامت به په داسې حال کښې قائمیږی چه یو سړې به خپل حوض تیاروی او د هغې اوبه به ئې لا څکلې هم نه وی، قیامت به په داسې حال کښې قائمیږی چه یو سړی به نمړئ د خپلې خولې طرف ته اوچته کړې وی او هغه به او نه خوړلې شی.
د حدیث شریف مقصد دا دې چه قیامت به ناڅاپه قائمیږی او ډیر خلق به په خپلو مذکوره کارونو کښې مصروف وی، لا به ئې کار نه وی پوره کړې چه قیامت به قائم شی.
﴿لِقْحَة﴾ (د لام په کسرې سره) د پیو والا اوښه.
قوله: ﴿وَهُوَ يَلِيطُ حَوْضَهُ﴾: لاط-یلیط-لیطا: لیو کول، جوړول، خولهٔ جوړول. لاط حوضه اذا مدره ای جمع حجارة فصیرها کالحوض ثم سد ما بینها من الفرج بالمدر ونحوه.([1])
قوله: ﴿آمَنُوا أَجْمَعُونَ﴾: د تاکید کیدو په وجه باندې مرفوع دې، دا د امنوا د ضمیر فاعل دپاره تاکید دې.
په حدیث شریف کښې دی چه کله خلق د مغرب د طرف نه د نمر راختل وینی نو دې خرق عادت او خلاف معمول واقعې لره لیدلو سره به ټول ایمان راوړی. علامه گنگوهی رحمه الله فرمائی چه د خرق عادت کارونو صدور خو د سیدنا ادم علیه السلام نه تر نن وخته پورې راروان دې، د حضرات انبیاء علیهم السلام په لاسونو باندې د معجزاتو ظهور کیږی او د حضرات اولیاء په لاسونو باندې د کراماتو ظهور کیږی خو یو خرق عادت کار لیدلو سره چه ټول خلق مسلمانان شوې وی، داسې کله هم نه دی شوی نو د طلوع الشمس من المغرب په لیدو باندې به ټول څنګه ایمان راوړی؟
فرمائی چه کیدې شی د دې وجه دا وی چه شیطانان په دې موقع باندې د خلقو د گمراه کولو دپاره او بې لارې کولو نه بند شی، څکه چه هغوی ته به معلوم وی چه د دې نه پس به ایمان راوړل د چا دپاره به مفید نه وی، لهذا خلقو لره د ایمان د راوړلو نه د منع کولو ضرورت نشته.([2])
فائده : د قرب قیامت د لوئې نخښې ظهور: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په قرب قیامت کښې په زمکه کښې د عام حالاتو بدلیدل، چه د کومو لوئې نخښو په ذریعه سره واقع کیږی، د هغې شروع به په خروج الدجال سره کیږی او د عیسی علیه السلام په وفات سره به د هغې اختتام وی او په پورته عالم کښې چه به په کومو لویو لویو نخښو سره تغیر پیدا شی د

[1]) ارشاد الساری: ۵۱۰/۱۳
[2]) لامع الدراری ۷۸/۱۰، والابواب والتراجم: ۱۳۲/۲

هغې شروع به د مغرب نه په نمر راختلو سره وی او د قیامت په واقع کیدو سره به د هغې اختتام اوشي. (۱)

پس په صحیح مسلم کښې د سیدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روایت دې ((إِنَّ أَوَّلَ الآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالأُخْرَى عَلَى إِثْرِهَا قَرِيبًا)) (۲)

امام حاکم رحمه الله فرمائی چه په ظاهره کښې به د طلوع الشمس نخښنه مخکښې ظاهریږی. او د هغې نه روستو به خروج دابة وی. (۳)

د دې نخښنو د ظهور نه پس به ایمان راوړل معتبر نه وی، د سیده عائشه رضي الله عنها حدیث طبرانی نقل کړې دې:

((اذا خرجت الایات، طرحت الاقلام، وطویت الصحف، وخلصت الحفظة، وشهدت الاجسام علی الاعمال)) (۴)

یعنی: چه کله د قیامت د هغه نخښنو ظهور اوشی نو قلمونه به اوغورځولې شی. صحیفې به راټولې کړې شی، د نګرانی کونکی ملائک به رخصت شی. او بدنونه به په اعمالو باندې ګواهی ورکوی.

۴۱: باب ((مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ))

د ترجمة الباب وضاحت: څوک چه الله پاک سره ملاقات کول غواړی نو الله پاک به هم هغه سرا ملاقات خوښوی، علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه د الله پاک د ملاقات غوښتلو مطلب دا دې چه انسان اخرت ته په دنیا باندې ترجیح ورکړی او د آخرت دپاره تیار اوسیدو سره اوږد ژوند خوښ نه کړی او د الله پاک د داسې بنده سره د ملاقات غوښتلو مطلب دا دې چه الله پاک هغه سره د خیر اراده فرمائی. (۵)

[۶۱۴۲] حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ ((مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ)).

قَالَتْ عَائِشَةُ أَوْ بَعْضُ أَزْوَاجِهِ إِنَّا لَنَكْرَهُ الْمَوْتَ. قَالَ ((لَيْسَ ذَاكِ، وَلَكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللَّهِ وَكَرَامَتِهِ، فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ، فَأَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ وَأَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللَّهِ وَعُقُوبَتِهِ، فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ، كَرِهَ

---

۱) فتح الباری: ۱۱/۴۲۹

۲) الحدیث اخرجه الامام مسلم فی کتاب الفتن واشراط الساعة، رقم الحدیث: ۲۹۴۱

۳) ارشاد الساری: ۱۳/۵۰۹

۴) ارشاد الساری: ۱۳/۵۱۰

۵) عمدة القاری: ۲۳/۱۴۲

لِقَاءَاللّٰهِ وَكَرِهَ اللّٰهُ لِقَاءَهُ». اخْتَصَرَهُ أَبُودَاوُدَ وَعَمْرٌوعَنْ شُعْبَةَ.
وَقَالَ سَعِيدٌعَنْ قَتَادَةَعَنْ زُرَارَةَعَنْ سَعْدٍعَنْ عَائِشَةَعَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

د سيدنا عبادة بن صامت رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: کوم سړي چه د الله پاک ملاقات لره محبوب ساتی، الله پاک هم د هغه ملاقات محبوب ګڼړی. او څوک چه د الله پاک ملاقات نه خوښوی، الله پاک هم د هغه ملاقات نه خوښوی. او سيده عائشه رضی الله عنها يا په ازواج مطهرات کښې بل چا عرض اوکړو چه مرګ خو مونږ هم ناخوښه ګڼړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دا خبره نه ده بلکه چه کله د مومن د مرګ وخت نزدې راشی نو هغه ته د الله پاک د رضا او د الله پاک په نزد د هغه د عزت زيرې ورکړې شی، هغه وخت مومن ته يو څيز هم د دې نه زيات عزيز نه وی کوم چه د هغه وړاندې (د الله پاک سره ملاقات او د هغه د رضا حصول) وی. په دې وجه هغه د الله پاک د ملاقات خواهش مند شی او الله پاک هم د هغه ملاقات خوښوی او کله چه د کافر د مرګ وخت نزدې راشی نو هغه ته د الله پاک د عذاب او د هغه د سزا خبر ورکړې شی، هغه وخت راتلونکی عذاب نه هغه ته زيات يو څيز هم ناخوښه نه وی.

دوه بيل بيل څيزونه، مرګ او د الله پاک ملاقات: چونکه په ظاهر کښې معلوميږی چه د ﴿لقاء الله﴾ نه مرګ مراد دې په دې وجه سيده عائشه رضی الله عنها يا په ازواج مطهرات رضی الله تعالى عنهن کښې بل چا د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، د راوی شک دې چه سوال چا اوکړو؟ بهر حال تپوس اوکړې شو چه مرګ خو زمونږ خوښ نه دې، ګويا د الله پاک ملاقات د مرګ نه بغير ممکن نه دې او مرګ مونږ ناخوښه ګڼړو نو آيا مونږ د الله پاک ملاقات ناخوښه ګڼړنکو کښې خو داخل نه يو؟ رسول الله ﷺ وضاحت اوفرمائيلو چه مرګ او د الله پاک ملاقات دوه بيل بيل څيزونه دی، چونکه مرګ د الله پاک د ملاقات يوه ذريعه او پل دې، په دې وجه د هغې نه هم په ﴿لقاء الله﴾ سره تعبير کولې شی.

د حسان بن اسود رحمه الله قول دې: ﴿الموت جسر يوصل الحبيب الى الحبيب﴾ [1] يعنی مرګ يو پل دې کوم چه دوست لره د دوست سره يوځائې کوی.

په سورة عنکبوت کښې دی: ﴿مَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ اللّٰهِ فَإِنَّ أَجَلَ اللّٰهِ لَآتٍ﴾ يعنی څوک چه د الله پاک د ملاقات اميد ساتی نو بيشکه د الله پاک د طرف نه مقرر وخت راتلونکې دې.

قوله: ﴿اخْتَصَرَهُ أَبُو دَاوُدَ وَعَمْرٌو، عَنْ شُعْبَةَ﴾: ابوداؤد سليمان طيالسی د دې حديث اختصار کړې دې، امام ترمذی رحمه الله هغه موصولا نقل کړې دې او د عمرو بن مرزوق روايت طبرانی موصولا نقل کړې دې. [2]

---

[1]) ارشاد الساری: ۵۱۱/۱۳

[2]) فتح الباری: ٤٣٧/١١، ارشاد الساری: ۵۱۲/۱۳، عمدة القاری: ١٤٤/٢٣

قوله: ﴿ وَقَالَ سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ ...... ﴾: د سعيد بن ابى عروبه دا تعليق امام مسلم رحمه الله موصولا نقل كړې دې. (١)

[٦١٤٣] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ». [ر: ٧٠٦٥]

د سيدنا ابوموسى اشعرى رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كوم سړې چه الله پاک سره ملاقات خوښوى الله پاک هم د هغه ملاقات خوښوى. او څوک چه د الله پاک ملاقات ناخوښه ګڼړى الله پاک هم د هغه ملاقات ناخوښه ګڼړى.

د ابو اسامة نوم حماد بن سلمة دې، د ابوبردة نوم حارث يا عامر دې او د بريد د پلار نوم عبدالله بن ابى بردة دې، سيدنا ابوموسى اشعرى رضي الله عنه مشهور صحابى دې او د هغوى نوم عبدالله بن قيس دې.

يو اشكال او د هغې جواب: په يو حديث كښې د مرګ د غوښتلو نه منع كړې شوې ده، او د حديث الباب نه معلوميږى چه د الله پاک د ملاقات دپاره د مرګ غوښتنه پكار ده، په ظاهره دواړو احاديثو كښې تعارض دې، علامه قسطلانى رحمه الله ليكى:

﴿ فيه أن محبة لقاء الله لا تدخل في النهي عن تمني الموت لأنها ممكنة مع عدم تمنيه لأن النهي محمول على حال الحياة المستمرة أما عند الاختصار والمعاينة فلا تدخل تحت النهي بل هي مستحبة ﴾ (٢)

يعنى د دې حديث نه معلوميږى چه د الله پاک د ملاقات محبت كيدل پكار دى او هغه د مرګ نه بغير ممكن نه دې او په بل حديث كښې د مرګ د غوښتلو نه منع كړې شوې ده.

د دې جواب دا دې چه دواړه د بيلو بيلو موقعو دى، چه كله ژوند جارى شى نو په دې حالت كښې د مرګ غوښتنه نه دى كول پكار، نهى او ممانعت هم په دې حالت باندې محمول دى خو كه د مرګ وخت نزدې راشى او د عالم برزخ مشاهده شروع شى نو د الله پاک سره د ملاقات خواهش كيدل پكار دى او دا خواهش كول ممنوع نه دى بلكه مستحب دى.

[٦١٤٤] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ فِي رِجَالٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ «إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ قَطُّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ». فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ، وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي، غُشِيَ عَلَيْهِ سَاعَةً، ثُمَّ أَفَاقَ، فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى». قُلْتُ إِذًا لاَ يَخْتَارُنَا، وَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ - قَالَتْ - فَكَانَتْ تِلْكَ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ

---

(١) فتح البارى: ٤٣٨/١١، عمدة القارى: ١٤٤/٢٣

(٢) ارشاد السارى: ٥١٢/١٣

بِهَا النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- قَوْلُهُ «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى». [ر ٤١٧١]
د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ چه کله هغوی صحت مند وو. به فرمائيل کله هم د يو نبي ترهغه وخته پورې روح نه شي قبض کولې ترڅو پورې چه په جنت کښې د اوسيدو ځائې هغه ته او نه ښودلې شي. نو بيا هغه ته اختيار ورکولې شي پس کله چه رسول الله ﷺ بيمار شو او د هغوی سر مبارک زما په پټون باندې وو. نو په هغوی باندې د لږ وخت دپاره بيهوشي راغله، چه کله بيدار شو نو هغوی د چهت طرف ته يو شان کتل او بيا ئې اوفرمائيل ﴿ اللهم الرفيق الاعلى ﴾ ما اووئيل چه اوس رسول الله ﷺ مونږ ته ترجيح نه شي راکولې. دا هم هغه حديث دې کوم چه به رسول الله ﷺ مونږ ته بيانولو
هغه حديث دا وو چه رسول الله ﷺ به فرمائيل : چه ترڅو پورې په دنيا او آخرت کښې يو نبي ته اختيار ورنکړې شي، تر هغه وخته پورې د هغه نبي روح نه شي قبض کولې
سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه دا رسول الله ﷺ آخرى کلمه وه. کومه چه هغوی په خپله ژبه مبارکه باندې ادا اوفرمائيله، يعنى دا ارشاد : ﴿ اللهم الرفيق الاعلى ﴾

قوله: ﴿فِي رِجَالٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ﴾ : يعنى نور اهل علم هم په مجلس کښې ناست وو. د هغوی ټولو په موجودګئ کښې دا روايت مونږ د سعيد بن المسيب او عروة بن الزبير رضي الله عنهما نه واوريدلو.
رسول الله ﷺ ته په ژوند او مرګ کښې اختيار ورکړې شوې وو، رسول الله ﷺ مرګ اختيار اوفرمائيلو کوم چه د الله پاک د ملاقات ذريعه ده، دغه شان د دې حديث مناسبت د باب سره ظاهرېږى. (١)

٤٢: باب سَكَرَاتِ الْمَوْتِ

سکرات، د سکرة جمع ده او د سکر معنى ده داسې سختى کوم چه عقل او شعور ختم کړى، امام بخارى رحمه الله په دې باب کښې د مرګ شدت او سختى بيان کړې ده.

[٦١٤٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ أَبَا عَمْرٍو ذَكْوَانَ مَوْلَى عَائِشَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- كَانَتْ تَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ -أَوْ عُلْبَةٌ فِيهَا مَاءٌ، يَشُكُّ عُمَرُ- فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ، فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ وَيَقُولُ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ» . ثُمَّ نَصَبَ يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ « فِي الرَّفِيقِ الأَعْلَى » . حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ. قَالَ أَبُوعَبْدِاللَّهِ: الْعُلْبَةُ مِنَ الْخَشَبِ، وَالرَّكْوَةُ مِنَ الأَدَمِ. [ر: ٨٥٠]
د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت د هغوی مخې ته يو

---

١) فتح البارى : ٤٣٨/١١، ارشاد السارى : ٥١٣/١٣، عمدة القارى : ١٤٥/٢٣

لوښې کیخودلې شوې وو ، چه په هغې کښې اوبه وې، عمر ته شبه وه (چه د لوښی دپاره ئې لفظ د (رکوة وئیلې وو یا علبة) رسول الله ﷺ به په هغې کښې خپل لاس مبارک دننه کولو او بیا به ئې هغه په خپل مخ مبارک باندې راښکلو او فرمائیل به ئې : د الله پاک نه سوا بل معبود نشته. بیشکه د مرګ دپاره سختې دی، بیا ئې خپل لاس مبارک اوچتولو سره اوفرمائیل : ﴿فی الرفیق الاعلی﴾ تردې چه د هغوی روح مبارک قبض کړې شو او لاس مبارک ئې ښکته شو.

﴿رکوة﴾ او ﴿علبة﴾ د دواړو یوه معنی ده : پیاله، بعضو د دواړو ترمینځه فرق کړې دې چه رکوة د څرمنې او علبة د لرګی پیالې ته وائی. (۱)

د مرګ سختې. چه کله د انسان روح اوځی نو د روح د بدن نه د وتلو په وخت ډیر تکلیف وی، د قرآن کریم په څلورو آیتونو کښې د مرګ سختې بیان کړې شوې دی؛

① په سورة ق کښې دی : ﴿وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ﴾ (۲)

② په سورة انعام کښې دی : ﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ﴾ (۳)

③ په سورة واقعه کښې دی : ﴿إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ﴾ (۴)

④ سورة القیامة کښې دی : ﴿إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ﴾ (۵)

د سیدنا جابر بن عبدالله رضی الله عنهما یو حدیث ابن ابی شیبة موصولا نقل فرمائیلې دې چه د بنی اسرائیلو یو جماعت قبرستان ته راغلو نو د دوه رکعتو نفل کولو نه پس ئې دعا اوکړه چه یو مړې دې مونږ ته د مرګ په باره کښې اوائی، د هغوی دعا قبوله شوه، یو سړې د قبر نه سر راویستلو او وې وئیل چه زما د مرګ سل کاله اوشو خو د مرګ تریخ والې تر نن پورې زما په حلق کښې محسوسیږی. (۶)

او په حلیة الاولیاء کښې د سیدنا واثلة رضی الله عنه یو مرفوع حدیث نقل کړې شوې دې؛

﴿والذی نفسی بیده لمعاینة ملك الموت أشد من ألف ضربة بالسیف﴾ (۷)

یعنی قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما نفس دې د مرګ د فرشتې معاینه د تورې د زرو ګزارونو نه زیاته سخته ده.

---

(۱) عمدة القاری : ۱۴۶/۲۳

(۲) سورة ق : ۱۹

(۳) سورة الانعام : ۹۳

(۴) سورة الواقعة : ۸۳

(۵) سورة القیامة : ۲۶

(۶) ارشاد الساری : ۵۱۴/۱۳

(۷) ارشاد الساری ۵۱۴/۱۳، (حلیة الاولیاء : ۱۸۶/۵) (فیه اسماعیل وروایته عن غیر الشامیین ضعیف وهذه منها)

[۶۱۴۶] (١)حَدَّثَنِي صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الأَعْرَابِ جُفَاةً يَأْتُونَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَيَسْأَلُونَهُ مَتَى السَّاعَةُ، فَكَانَ يَنْظُرُ إِلَى أَصْغَرِهِمْ فَيَقُولُ « إِنْ يَعِشْ هَذَا لاَ يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ». قَالَ هِشَامٌ يَعْنِي مَوْتَهُمْ.

د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه څه بانډچيان به رسول الله ﷺ ته راتلل او تپوس به ئې كولو چه قيامت به كله قائميږي؟ رسول الله ﷺ به په هغوى كښې د ټولو نه كم عمر والا ته كتلو سره فرمائيل چه كه دې ژوندې پاتې شو نو د هغه د بوډاوالى نه مخكښې به په تاسو باندې قيامت قائم شى. هشام فرمائى چه د رسول الله ﷺ مراد (ستاسو د قيامت نه) د هغوى مرګ وو.

قوله: ﴿رِجَالٌ مِنَ الأَعْرَابِ جُفَاةٌ﴾: ﴿جفاة﴾ د جافى جمع ده. جافى داسې سړى ته وائى، كوم چه د سخت طبيعت وى. ځكه چه عموما بانډچيان خلق د سخت طبيعت والا وى، په دې وجه د هغوى دپاره دلته د جفاة لفظ استعمال كړې شو. او په بعض نسخو كښې ﴿حفاة﴾ دې كوم چه د جمع ده، چه د هغې معنى د داسې سړى ده چه خپې ابله وى. (٢)

د رسول الله ﷺ دا جواب د حكيم په اسلوب وو او مطلب دا وو چه په هغوى كښې چه كله د يو كم عمر انسان بوډاتوب راشى نو يو زمانه به تيره شوې وى او د هر انسان د مرګ سره سره كم از كم د هغه قيامت خو راځى، حديث مشهور دې: من مات فقد قامت (عليه) قيامته (٣). په حديث كښې چونكه د مرګ ذكر دې او هر مرګ، د خپلو سختو او سكرات سره راځى، په دې وجه ئې حديث د دې باب د لاندې ذكر كړو.

[۶۱۴۷، ۶۱۴۸] (٤)حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ عَنْ مَعْبَدِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ بْنِ رِبْعِيٍّ الأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ فَقَالَ «مُسْتَرِيحٌ، وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْمُسْتَرِيحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ قَالَ « الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللَّهِ، وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلاَدُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ».

د سيدنا ربيع انصارى رضي الله عنه نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ په خوا كښې خلق د يوې جنازې

---

(١) اخرجه مسلم فى الفتن واشراط الساعة، باب : قرب الساعة، رقم ٢٩٥٢

(جفاة) : غافلون فى طبعهم لقلة مخالطة الناس (لا يدركه الهرم) لا يبلغ فى جيانه الهرم، وهو الشيخوخة ونهاية العمر، (موتهم) اى فسر ساعتهم بموتهم وانقراض عصرهم، لان من مات فقد قامت (عليه) قيامته.

(٢) ارشاد السارى : ١٣/٥١٤

(٣) اتحاف سادة المتقين : ٩/١١

(٤) اخرجه مسلم فى الجنائز، باب: ما جاء فى مستريح او مستراح منه، رقم : ٩٥٠

سره تير شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه : ﴿ المستريح او المستراح منه ﴾ آرام موندونكي دي يا د هغه نه آرام اوموندلې شو، صحابه كراموﷺ عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ! ﴿ المستريح والمستراح منه ﴾ څه څيز دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه مومن بنده د دنيا د مشقتونو او تكليفونو نه د الله پاک په رحمت سره خلاصې بيا مومى او د فاجر بنده نه د الله پاک بندگان، ښارونه، اونې او ځاروى خلاصې بيا مومى.
حاصل دا دې چه كه مړ شوي د الله پاک نيک بنده دې نو هغه د دنيا د ژوند د تكليفونو نه په آرام شى او كه هغه گناهگار او نافرمان وى نو د الله پاک مخلوق د هغه د تكليفونو او اذيتونو نه خلاصې بيا مومى.
د امام بخارى رحمه الله شيخ اسماعيل بن ابى اويس دي او هغه د امام مالک رحمه الله نه نقل كوى، د ابوقتادة نوم حارث دې، او ربعى د راء په كسرې سره دې، دا حديث امام بخارى رحمه الله دلته په اول كرت ذكر فرمائيلې دې، وړاندې حديث هم د دې اختصار دې.

[٦١٤٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ حَدَّثَنِي ابْنُ كَعْبٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « مُسْتَرِيحٌ، وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ، الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ».

د سيدنا ابوقتادة رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : مړې كيدونكې يا آرام موندونكې دې او يا د هغه نه آرام موندلې شى. مومن آرام موندونكې دې.

[٦١٤٩] (١) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلاَثَةٌ، فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ، يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ، فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ، وَيَبْقَى عَمَلُهُ».

د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د مړى سره درې څيزونه ځى. دوه خو واپس راشى، صرف يو د هغه سره پاتې شى، هغه سره د هغه د كور خلق ځى، د هغه مال او د هغه عمل ځى. د هغه د كور خلق او مال خو راواپس شى او د هغه عمل هغه سره باقى پاتې شى.
د سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه روايت امام احمد رحمه الله نقل كړې دې چه بيا د مړى ته په قبر كښې د يو ښكلى شكل والا ښكلې لباس اغوستې سړې راشى او وائى تاته دې زيرې وى، مړې ترې تپوس كوى چه ته څوک يې؟ هغه وائى زه ستا عمل يم او كافر ته يو بد شكله راشى او وائى چه زه ستا بد عمل يم. (٢)
په دې روايت كښې د مړى ذكر دې او هر مړې، د مرگ په سكراتو باندې تيريږى، په دې

---

(١) اخرجه مسلم فى اوائل الزهد والرقاق، رقم الحديث : ٢٩٦٠، واخرجه الامام الترمذى فى كتاب الزهد، باب ما جاء مثل ابن ادم واهله وماله وعمله : ٥٨٩/٤، رقم الحديث : ٢٣٨٩
(٢) ارشاد السارى ٥١٧/١٣

وجه نې د دې باب د لاندې دا روایت ذکر کړو.
حمیدی د امام بخاری رحمه الله شاګرد دې او د هغوی نوم عبدالله بن زبیر دې.

[۶۱۵۰] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ غُدْوَةً وَعَشِيًّا، إِمَّا النَّارُ وَإِمَّا الْجَنَّةُ، فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى تُبْعَثَ». [ر: ۱۳۱۳]

د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : چه کله په تاسو کښې څوک مړ شی نو سحر او مابنام د هغه د اوسیدو ځائې هغه ته ښودلې شی، که هغه دوزخ وی او که جنت وی او ورته وئیلې شی چه دغه ستاد اوسیدو ځائې دې تردې چه قیامت راشی.
د ابو النعمان نوم محمد بن الفضل دې، په صحاح ستة کښې د امام بخاری رحمه الله نه علاوه بل چا دا حدیث نه دې ذکر کړې. والحدیث من افراد البخاری(۱)

[۶۱۵۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ، فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا». [ر: ۱۳۲۹]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : مړو ته بدې ردې مه وایئ ځکه چه کوم عملونه هغوی مخکښې لیږلې دی هغوی خپله هغې ته رسیدلې دی.
په دې باب کښې ذکر شوې ټولو احادیثو کښې د مرګ یا میت ذکر دې، په دې سره په سکرات الموت باندې په خپله دلالت کیږی.

۴۳: باب نَفْخِ الصُّورِ

قَالَ مُجَاهِدٌ الصُّورُ كَهَيْئَةِ الْبُوقِ (زَجْرَةٌ) صَيْحَةٌ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ النَّاقُورُ الصُّورُ. (الرَّاجِفَةُ) النَّفْخَةُ الأُولَى. وَ(الرَّادِفَةُ) النَّفْخَةُ الثَّانِيَةُ.

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د شپیلئ د پوکولو ذکر کړې دې، شپیلئ په حقیقت کښې یو ښکر دې چه په هغې کښې به سیدنا اسرافیل علیه السلام پوکې وهی، په هغې کښې پوکی وهلو ته نفخ صور وئیلې شی، دا د شپیلئ پوکې وهل به څو کرته وی په دې کښې اختلاف دې.
د قیامت په ورځ باندې د نفخات تعداد: د قیامت په ورځ باندې د نفخات تعداد کښې اختلاف دې، علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی چه څلور نفخات به کیږی، اوله نفخه به هغه وی چه په هغې سره به ټول ژوندی مړهٔ شی، دویمه نفخه به هغه وی چه په هغې سره به ټول مړی ژوندی شی، او د حساب دپاره به جمع کیږی، دریمه نفخه به هغه وی چه په هغې سره به عام بیهوشی راشی او څلورمه نفخه په هغه وی چه په هغې سره به دا راغلې بیهوشی ختمه شی.(۲)

---
(۱) ارشاد الساری ۱۳/۵۱۸
(۲) فتح الباری ۶/۴۴۴، کتاب احادیث الانبیاء، باب وفاة موسی وذکره بعد.

شاه عبدالقادر رحمه الله هم دا قول اختیار کړې دې.[1]
مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په لامع الدراری کښې د ږې[2] او په کوکب الدری کښې د څلورو نفخاتو قول اختیار کړې دې، یو د مرګ نفخه. دویمه د احیاء، دریمه د بیهوشۍ، او څلورمه د بیداریدو، د بیهوشۍ نفخه به هغه وی چه کله د حساب دپاره ظهور اوفرمائیلې شی.[3]
بعض حضراتو د پنځو نفخو قول اختیار کړې دې، پس شاه عبدالقادر رحمه الله د سورة النمل په تفسیر کښې پنځه نفخات ذکر کړې دی، هغوی لیکی:
یو کرت به شپیلۍ پوکی چه په هغې سره به مخلوق مړ شی، چه دویم کرت اوپوکی نو دوباره به ژوندی شی، د دې نه پس چه اوپوکی نو او به یریږی، بیا اوپوکی نو بېهوشه به شی، او چه بیا اوپوکی نو بیدار به شی.[4]
صاحب جمل په دې باندې د تعجب اظهار کولو سره فرمائی: وقد سمعنا بمن زاد فی الطنبور نغمة، ولم نسمع بمن زاد فی الصور نفخة[5] یعنی دا خو مونږ اوریدلې وو چه په ساز کښې د څه نغمې اضافه یو سړی اضافه اوکړه (چه یوه نغمه ئې نوې ایجاد کړه) خو په شپیلۍ کښې د نفخې د اضافې قول مونږ نه وو اوریدلې.
علامه الوسی رحمه الله د درې نفخات قول ته ترجیح ورکړې ده.[6] ابن عربی رحمه الله هم دا قول اختیار کړې دې. هغوی فرمائی، یو نفخه د فزع ده چه د هغې ذکر د قرآن کریم په سورة النمل کښې دې: ﴿وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ﴾[7] او دویمه نفخه صعق ده او دریمه نفخه بعث ده د دې دواړو ذکر د سورة زمر په آیت کښې دې: ﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ﴾[8]
د دې تائید د طبری د روایت نه کیږی په هغې کښې دی: ﴿ثم ينفخ فی الصور ثلاث نفخات نفخة الفزع فيفزع أهل السماء والأرض بحيث تذهل كل مرضعة عما أرضعت، ثم نفخة الصعق، ثم نفخة القيام لرب العالمين﴾[9] په دې روایت کښې د درې نفخاتو ذکر دې، خو د دې روایت سند ضعیف دې.

[1]) اوګورئ: تفسیر عثمانی: ۶۲۰.
[2]) اوګورئ: لامع الدراری: ۵۸/۸، کتاب الانبیاء
[3]) تعلیقات لامع الدراری: ۵۹/۸، کتاب الانبیاء
[4]) تفسیر عثمانی: ۶۱۲، سورة النمل
[5]) تعلیقات لامع الدراری:۵۹/۸،کتاب الانبیاء (پښتو کښې هم دا متل دې:د سحر په بانګ کښې نوې تپه)
[6]) اوګورئ: روح المعانی: ۳۸۸/۲۴
[7]) سورة النمل: ۸۷
[8]) سورة الزمر: ۶۸
[9]) ارشاد الساری: ۵۱۹/۱۳

د جمهور علماء او محققينو په نزد باندې به ټول دوه کرته نفخ صور وی. [١] چه د هغې تذکره د سورة الزمر په آيت کښې کړې شوې ده چه اول کرت به نفخ د صور کيږی او د زمکې او آسمان ټول جاندار به بيهوشه شی. مګر څوک چه الله پاک غواړی ﴿ الا من شاء الله ﴾ نه بعض حضراتو، جبرائيل، ميکائيل، اسرافيل او ملک الموت ﷺ مراد کړې دی، د بعض په نزد انبياء او شهداء مراد دی او د بعض په نزد ددې نه هغه جاندار مراد دی کوم چه د نفخه اولی نه مخکښې مړه شوی دی. [٢]

روايت الباب امام بخاری رحمه الله په کتاب احاديث الانبياء کښې هم نقل کړې دې [٣]

قوله: ﴿ قَالَ مُجَاهِدٌ الصُّورُ كَهَيْئَةِ الْبُوقِ ﴾ : په سورة الزمر کښې دی ﴿ ونفخ فی الصور ﴾ مشهور مفسر مجاهد رحمه الله فرمائی چه صور د بوق په شکل کښې وی، بوق ښکر ته وائی، فريابی دا تعليق موصولا نقل کړې دې. [٤]

قوله: ﴿ زَجْرَةٌ: صَيْحَةٌ ﴾ : د سورة النازعات په آيت کښې ﴿ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴾ مجاهد په دې کښې د لفظ ﴿ زجرة ﴾ تفسير په ﴿ صيحة ﴾ سره کړې دې. د ﴿ صيحة ﴾ معنی اکر چه د يوې چغې راځی خو علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد نفخه ثانيه ده، لکه چه په سورة يس آيت نمبر ۴۹ کښې د نفخه اولی دپاره دا لفظ استعمال شوې دې، ﴿ مَا يَنْظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ ﴾ [٥] د مجاهد رحمه الله دا تعليق فريابی موصولا نقل کړې دې. [٦]

قوله: ﴿ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ النَّاقُورُ: الصُّورُ ﴾ : د سورة المدثر په آيت کريمه ۸ کښې دی : ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴾ سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه په آيت کريمه کښې د ناقور نه صور مراد دې، طبری او ابن ابی حاتم دا تعليق موصولا نقل کړې دې. [٧]

قوله: ﴿ الرَّاجِفَةُ : النَّفْخَةُ الْأُولَى ، وَالرَّادِفَةُ: النَّفْخَةُ الثَّانِيَةُ ﴾ : په سورة نازعات کښې دی : ﴿ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ، تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴾ سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه د ﴿ راجفة ﴾ نه اوله نفخه او د رادفة نه دويمه نفخه مراد ده، دا تعليق هم ابن ابی حاتم او طبری موصولا نقل کړې دې. [٨]

---

[١] اوګورئ : تفسير عثمانی : ۶۲۰
[٢] اوګورئ : الجامع لاحکام القرآن : ۲۸۰/۱۵
[٣] اوګورئ : صحيح البخاری مع فتح الباری، کتاب احاديث الانبياء، باب وفاة موسی وبعده : ۴۴۱/۶
[٤] ارشاد الساری : ۵۱۸/۱۳
[٥] ارشاد الساری : ۵۱۸/۱۳
[٦] ارشاد الساری : ۵۱۸/۱۳
[٧] ارشاد الساری : ۵۱۸/۱۳
[٨] ارشاد الساری : ۵۱۸/۱۳

[٦١٥٢] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالأَعْرَجِ أَنَّهُمَا حَدَّثَاهُ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ، رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ الْمُسْلِمُ وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا عَلَى الْعَالَمِينَ. فَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْعَالَمِينَ، قَالَ فَغَضِبَ الْمُسْلِمُ عِنْدَ ذَلِكَ، فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ، فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم «لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى، فَإِنَّ النَّاسَ يُصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَأَكُونُ فِي أَوَّلِ مَنْ يُفِيقُ، فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ، فَلَا أَدْرِي أَكَانَ مُوسَى فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي، أَوْ كَانَ مِمَّنِ اسْتَثْنَى اللهُ». [ر: ٢٢٨٠]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه دوه کسانو خپل مینځ کښې یو بل ته کنځلې اوکړې، یو مسلمان وو او یو یهودی، مسلمان اووې قسم په هغه ذات چه محمد ﷺ هغه په ټول جهان کښې منتخب کړې او غوره کړې دې، یهودی اووې : قسم په هغه ذات چا چه موسی علیه السلام په ټول جهان کښې غوره کړې او منتخب کړې دې.

سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه مسلمان د یهودی په دې خبره باندې غصه شو او هغه ئې په مخ باندې او وهلو، نو یهودی رسول الله ﷺ ته راغلو او هغوی ته ئې خپله او د هغه مسلمان معامله بیان کړه، رسول الله ﷺ په دې باندې اوفرمائیل : په موسی علیه السلام باندې زما د برترئ دعوی مه کوئ. ځکه چه د قیامت په ورځ باندې ټول خلق بیهوشه شی او زه به د ټولو نه اولنې سړې یم چه په هوش کښې به راشم، هغه وخت به زه موسی علیه السلام وینم چه هغه به د الله پاک د عرش کناره نیولې وی، ماته نه ده معلومه چه هغوی به هم په هغه خلقو کښې وی چه بیهوشه شوې وو. او که زما نه مخکښې په هوش کښې راغلی دی، او که د هغه چا نه وو څوک چه الله پاک د دې بیهوشئ نه مستثنی کړل.

قوله: ﴿أَوْ كَانَ مِمَّنِ اسْتَثْنَى اللهُ﴾: د قرآن کریم په سورة الزمر آیت نمبر ٦٨ کښې دی : ﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللهُ ﴾ دوه کرته به شپیلئ پو کلې شی، اول کرت چه نفخ صور اوشی نو ټول به بیهوشه شی، څومره چه ژوندی دی هغوی ټول به مړهٔ شی او کوم چه مړهٔ وو، د هغوی په روحونو باندې په بې هوشی راوستلې شی، د دې نه پس به په دویمې شپیلئ سره د بې هوشه کیدونکو نه څه خلق مستثنی هم وی، په آیت کریمه کښې ﴿ الامن شاء الله ﴾ سره استثناء کړې شوې ده.

مستثنی به څوک وی؟ لکه چه تیر شوې دی چه په دې کښې مختلف اقوال دی؛

اول : مړی چه هغوی د مخکښې نه بیهوشه دی، دویم : شهداء، دریم : حضرات انبیاء علیهم السلام، څلورم : جبرائیل، میکائیل، اسرافیل او ملک الموت علیهم السلام، پنځم : د عرش والا ملائک، شپږم : سیدنا موسی علیه السلام، اووم : علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی چه ټول ملائک د دې نه مراد

دی. (۱) علامه طبری رحمه الله د شهداء والا قول ته ترجیح ورکړې ده.

[۶۱۵۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «يَصْعَقُ النَّاسُ حِينَ يَصْعَقُونَ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ قَامَ، فَإِذَا مُوسَى آخِذٌ بِالْعَرْشِ، فَمَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ». رَوَاهُ أَبُو سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. [ر: ۲۲۸۰، ۲۲۸۱]

د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د بیهوشئ په وخت به ټول خلق بیهوشه شي او د ټولو نه اول بیداریدونکې به زه یم، هغه وخت به سیدنا موسی علیه السلام عرش الهی لره نیولې وی، اوس ماته معلومه نه ده چه موسی علیه السلام د هغوی نه وو چه بې هوشه شوې وو (یا نه).

قوله: ﴿رَوَاهُ أَبُو سَعِيدٍ﴾: د سیدنا ابو سعید خدری رضي الله عنه روایت امام بخاری رحمه الله په کتاب احادیث الانبیاء کښې موصولا نقل کړې دې. (۲)

۴۴: باب يَقْبِضُ اللَّهُ الأَرْضَ.

رَوَاهُ نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

د ترجمة الباب مقصد: د قبض معنی یو څیز لره جمع کول او د هغې د راټولولو هم ده او د فناء او ختمولو هم ده.

د امام بخاری رحمه الله په دې باب سره دا مقصد دې چه د قیامت په ورځ باندې به الله پاک دا د دنیا زمکه ختمه کړی. او د حشر زمکه به یوه نوې زمکه وی. پس د قرآن کریم آیت دې:

د محشر زمکه به کومه او څنګه وی؟: ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ یعنی: د قیامت ورځ به داسې وی چه په هغې کښې به موجوده زمکه هم بدله شی او آسمان هم او ټول په ټول به د الله پاک واحد او قهار مخکښې حاضر شی.

په زمکه او اسمان کښې دننه دا تبدیلی ذاتی هم کیدې شی او صفاتی هم، د دې د بدلولو دا معنی هم کیدې شی چه د هغې صفات او شکل او صورت بدل کړې شی، لکه چه په بعض روایاتو کښې دی چه پوره زمکه به یو سطح مستوی شی، چه په هغې کښې به نه یو کور وی، نه اونه وغیره، نه غر او غونډئ او نه غار او ژوره، د قرآن کریم په یو بل آیت کریمه کښې دی: ﴿لَا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا﴾ یعنی د تعمیراتو او غرونو د وجې نه چه نن صبا کومې لارې او سړکونه تاویدو سره تیر شوې وی او چرته لوړ والې دې او چرته ژوروالې، دا صورت به پاتې نه شی بلکه ټول به په صفا میدان کښې راجمع شی.

او دا بدلون ذاتی هم کیدې شی چه بالکل د هغه زمکې په بدل کښې بله زمکه او د دې

---

(۱) عمدة القاری: ۱۵۴/۲۳، وفتح الباری: ۴۵۱/۱۱

(۲) عمدة القاری: ۱۵۴/۲۳

آسمان په ځائې بل آسمان جوړ کړې شی، په دې سلسله کښې روايات مختلف دی، د بعض احاديثو نه صرف د صفاتو بدلون معلوميږی او د بعض نه د ذات بدلون
اختلاف د رواياتو او په هغې کښې د تطبيق صورت : اما بيهقی رحمه الله په شعب الايمان کښې د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د دې آيت کريمه په باره کښې روايت نقل کړې دې
﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ : أَرْضٌ بَيْضَاءُ الْبَقَرَةِ كَأَنَّهَا فِضَّةُ الْبَقَرَةِ لَمْ يُسْفَكْ فِيهَا دَمٌ حَرَامُ الْبَقَرَةِ وَلَمْ يُعْمَلْ عَلَيْهَا خَطِيئَةٌ ﴾ [1] يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د محشر په ورځ به زمکه بالکل نوې د چاندئ د زمکه په شان سپينه شی او دا زمکه به داسې وی چه په هغې باندې به چا ګناه نه وی کړې چه په هغې کښې د چا ناحقه وينه نه وی غورځولې شوې.
دا روايت مرفوعا او موقوفا دواړو طريقو سره روايت کړې شوې دې خو د دې موقوف طريق اصح دې؛
دلته اوس وړاندې د سيدنا سهل رضی الله عنه روايت راروان دې، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی چه د قيامت په ورځ باندې به خلق په يو داسې زمکه باندې اوچت کړې شی کومه چه به داسې صفا او سپينه وی لکه د ميدې ډوډئ، په هغې کښې به د چا يو علامت (کور، باغ، درخت، غرونه، غونډئ وغيره) هيڅ به نه وی، هم دا مضمون بيهقی د سيدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د دې آيت کريمه په تفسير کښې نقل کړې دې. [2]
د دې قسم رواياتو نه معلوميږی چه د محشر زمکه به د دې موجوده زمکې نه علاوه وی او د کومې تبديلئ ذکر چه په دې آيت کريمه کښې دې، د دې نه د ذات بدلون مراد دې.
خو د بعض رواياتو نه معلوميږی چه دا بدلون به صرف په صفاتو کښې وی پس امام حاکم رحمه الله په قوی سند سره د سيدنا جابر رضی الله عنه نه روايت نقل کړې دې
﴿ تُمَدُّ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَدًّا لِعَظَمَةِ الرَّحْمَنِ ، ثُمَّ لَا يَكُونُ لِبَشَرٍ مِنْ بَنِي آدَمَ إِلَّا مَوْضِعُ قَدَمَيْهِ ، ثُمَّ أُدْعَى أَوَّلَ النَّاسِ فَأَخِرُّ سَاجِدًا ثُمَّ يُؤْذَنُ لِي فَأَقُومُ فَأَقُولُ : يَا رَبِّ أَخْبَرَنِي هَذَا - لِجِبْرِيلَ وَهُوَ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَاللهِ مَا رَآهُ جِبْرِيلُ قَبْلَهَا قَطُّ - أَنَّكَ أَرْسَلْتَهُ إِلَيَّ ، قَالَ وَجِبْرِيلُ سَاكِتٌ لَا يَتَكَلَّمُ حَتَّى يَقُولَ اللهُ : صَدَقَ ، ثُمَّ يُؤْذَنُ لِي فِي الشَّفَاعَةِ فَأَقُولُ : يَا رَبِّ عِبَادُكَ عَبَدُوكَ فِي أَطْرَافِ الْأَرْضِ ، فَذَلِكَ الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ ﴾ [3]
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی چه د قيامت په ورځ باندې به دا زمکه داسې راښکلې شی، لکه څنګه چه خرمن راښکلې شی چه په هغې سره به د دې کونجی هموار شی (د هغې په وجه باندې به د زمکه غارونه او غرونه ټول برابريدلو سره په يوه سطح باندې مستوی شی او هغه وخت به د آدم عليه السلام ټول اولاد په هغه زمکه باندې راجمع شی، او د هجوم په وجه باندې به د يو انسان په حصه کښې صرف دومره زمکه وی، چه په هغې باندې هغه اودريدلې شی، بيا به په

[1]) فتح الباری : ۱۱/٤٥٤، والمستدرک للامام حاکم، کتاب الاموال : ٦١٤/٣، رقم الحديث : ۸٦۹۹
[2]) فتح الباری : ۱۱/٤٥٤
[3]) المستدرک، کتاب الاموال : ٦١٤/٤

محشر کښې د ټولو نه مخکښې زه راوبللې شم، زه به د رب العزت مخکښې به سجده کښې پريوځم، بيا به ماته د شفاعت اجازت راکړې شي نو زه به د ټول مخلوق دپاره شفاعت کوم .د هغوی حساب کتاب زر او شی، هم دا مقام محمود دې

د سيدنا جابر رضي الله عنه د دې روايت نه حو په ظاهره معلومېږی چه په زمکه کښې به دا بدلون صرف د صفت وی چه غار او غرونه او اونې به پاتې نه شی، خو د زمکې ذات به هم دا باقی وی، پس امام قرطبی رحمه الله هم د ابوالحسن بن حيدره نه هم دغه شان دواړه قسم رواياتو کښې تطبيق نقل فرمائيلې دې، هغوی ليکی :

﴿ أنه جمع بين هذه الاخبار بأن تبديل السماوات والأرض يقع مرتين إحداهما تبديل صفاتهما فقط وذلك عند النفخة الأولى ... ثم بين النفختين تطوی السماء والأرض وتبدل السماء والأرض ﴾ (١)

يعنی مختلف احاديثو کښې داسې تطبيق کيدې شی چه د زمکې او آسمان دا بدلون دوه کرته واقع شوې دې، اول کرت به د صفاتو بدلون وی او دا به د نفخه اولی په وخت وی بيا د دواړو نفخو ترمينځه چه کومه موده ده، په هغې کښې به اسمان او زمکه راجمع کړې شی او نوې اسمان او زمکه به پيدا شی نو دويم کرت به دا بدلون ذاتی وی.

يعنی په دې دواړو خبرو کښې هيڅ تضاد نشته، کيدې شی چه د اول نفخه صور په وخت هم د دې موجود زمکې صفات تبديل کړې شی او بيا د حساب کتاب دپاره هغه چرته د بلې زمکې طرف ته منتقل کړې شی. د امام عکرمه رحمه الله د يو قول نه د دې تائيد کيږی. په هغې کښې دی :

﴿ بلغنا أن هذه الأرض يعنی ارض الدنيا تطوی والى جنبها أخرى يحشر الناس منها إليها ﴾ (٢) يعنی دا زمکه به راټوله شی او د دې په اړخ کښې به يوه بله زمکه وی چه په هغې باندې به خلق د حساب کتاب دپاره اودرولې شی.

په صحيح مسلم کښې د سيدنا ثوبان رضي الله عنه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو يهودی عالم راغلو او دا سوال ئې اوکړو چه په کومه ورځ دا زمکه بدله شی نو انسانان به چرته وی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چه د پل صراط سره به په يو تيارهٔ کښې موجود وی. (٣)

د دې نه دا هم معلومېږی چه د موجوده زمکې نه به د پل صراط په ذريعه خلق بل طرف ته منتقل کړې شی او ابن جرير په خپل تفسير کښې د ډيرو صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله اقوال نقل کړی دی چه هغه وخت به موجوده زمکه او د هغې ټول دريابونه اور شی، گويا دا ټوله علاقه چه په هغې باندې اوس دنيا آباده ده، هغه وخت به د جهنم علاقه شی. (٤)

(١) فتح البارى : ٤٥٨/١١
(٢) فتح البارى : ٤٥٦/١١
(٣) صحيح مسلم، كتاب الحيض، باب بيان صفة منى الرجل والمراءة، رقم الحديث : ٣١٥
(٤) مولانا شمس الحق افغانی صاحب رحمه الله په علوم القرآن کښې ليکی : ...[بقيه برصفحه آئنده...

بهر حال په دې سلسله کښې مختلف روايات راغلي دي او بعض روايات په ظاهر کښې د يو بل سره متضاد دي. د آخرت حقيقت او د صحيح صورت حال علم الله پاک ته دې. رسول الله ﷺ چه څومره اندازه امت ته بيان فرمائيلي دې په هغې باندې ايمان راوړل فرض دي.

[٦١٥٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «يَقْبِضُ اللَّهُ الأَرْضَ، وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الأَرْضِ». [ر: ٤٥٣٤]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک به زمکه په خپل موټی کښې اونيسي او اسمان به په خپل لاس باندې راټول کړي او بيا به اوفرمائي چه زه بادشاه يم د دنيا بادشاهان چرته دي.

د يمين نه مراد د الله پاک قدرت دې، دا حديث د حديث صفات نه دې، چه د هغې تفصيل وړاندې د باب الصراط د لاندې راروان دې.

[٦١٥٥] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلاَلٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « تَكُونُ الأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً، يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ، كَمَا يَكْفَأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ، نُزُلاً لأَهْلِ الْجَنَّةِ». فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ بَارَكَ الرَّحْمَنُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، أَلاَ أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ «بَلَى». قَالَ تَكُونُ الأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً كَمَا قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَنَظَرَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَيْنَا، ثُمَّ ضَحِكَ

...بقيه ازحاشيه گذشته] زمکه به په محشر کښې هم د دنيا نه مختلف وي. په قرآن مجيد کښې: ﴿ يوم تبدل الارض غير الارض ﴾ يعنی په کومه ورځ باندې چه زمکه بدله کړې شي، د اولې زمکې نه مختلف... دا تبديلي به ذاتي وي يا صفاتي؟ يو قول دا دې چه ذاتي به وي، دويم دا چه صرف صفاتي به وي، دريم دا چه يو کرت به صرف صفاتي وي او دويم کرت به ذاتي وي. قول مختار دا دې چه صرف صفاتي به وي. په بخاري او مسلم کښې د سيدنا سهل بن سعد رضي الله عنه نه مرفوع حديث دې ﴿ يحشرالناس يوم القيامة على ارض بيضاء عفراء كقرصة النقى ليس فيها علم لاحد ﴾ او په صحيحين کښې د سيدنا ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مرفوع حديث راغلي دې: ﴿ تكون الارض خبزة واحدة ﴾ چه د هغې معنی دا ده چه خلق به په يو داسې زمکه باندې اوچت کړې شي کومه چه به د سپينو غنمو رنګ ته مائل وي، لکه د ميدې ډوډئ، په هغه باندې به هيڅ قسم نخښه نه وي. او د ابوسعيد رضي الله عنه په روايت کښې دي چه: شي به دا زمکه د زمکې يو ډوډئ، او په بعض رواياتو کښې د سپينو زرو ذکر راغلي دې، د هغې مطلب په سپين والي کښې د چاندئ سره مشابهت دې، نه دا چه زمکه به په حقيقت کښې د سپينو زرو شي. په بيهقي کښې د ابن مسعود رضي الله عنه نه په صحيح سند سره دا الفاظ راغلي دي، ﴿ تبدل الارض ارضا كانها فضة ﴾ يعنی د دنيا زمکه به په داسې صورت کښې بدله شي چه هغه به د سپينو زرو په شان وي، ابن جرير د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه مرفوعا دا حديث نقل کړې دې، ﴿ انها تكون يومئذ بيضاء مثل الفضة ﴾ يعنی دا زمکه به په هغه ورځ باندې د چاندئ په شان سپينه شي... راجح د صفاتو بدلون دې. (اوګورئ: علوم القرآن، از مولانا شمس الحق افغاني ٢٤٦)

حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ثُمَّ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِإِدَامِهِمْ قَالَ إِدَامُهُمْ بَالَامٌ وَنُونٌ، قَالُوا وَمَا هَذَا قَالَ ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا.

د سيدنا ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د قيامت په ورځ باندې به زمکه د يوې ډوډئ په شان شي، کومه چه به الله پاک د اهل جنت د ميلمستيا دپاره داسې راټوله کړي څنګه چه تاسو د سفر په موقع باندې خپله ډوډئ راټوله ردئ. بيا يو يهودي راغلو او وې وئيل : ابوالقاسم! په تاسو دې رحمن برکت نازل کړي، آيا زه تاسو ته د قيامت په ورځ باندې د اهل جنت ذ ټولو نه د اول خوراک خبر درنکړم چه په هغې سره به د هغوی ميلمستيا کولې شي، خبر درنکړم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ولې نه! نو هغه هم هغه شان اووئيل کوم چه رسول الله ﷺ فرمائيلي ووچه زمکه به يو ډوډئ شي، بيا رسول الله ﷺ زما طرف ته اوکتل او مسکې شو چه په هغې سره د هغوی مخامخ غابنونه مبارک ښکاره شو، بيا ئې تپوس اوکړو زه تاسوته دهغوی دترکارئ متعلق خبر درنکړم؟ وې وئيل چه دهغوی ترکاری به بالام ونون وی، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو داڅه څيزدې؟ هغه اووئيل: غوئې او مهې! چه د هغې د اينې وړوکې ټکړه به اويا زره کسان په مړه خيټه باندې اوخوري.

قوله: ﴿تَكُونُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً﴾: زمکه به يو ډوډئ شي، د زمکې نه د دنيا زمکه مراد ده.

قوله: ﴿يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَكْفَأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ﴾: يعنى الله پاک به هغه داسې راټوله کړي لکه څنګه چه په تاسو کښې يو سړې په سفر کښې دننه خپله روټئ راټولوی. ﴿كفا﴾ د باب فتح نه دې، د دې معنی د راټولولو، را اولټه کولو او راجمع کولو ده. د اوړو د پيړې نه چه کله ډوډئ جوړولې شي نو هغه د يو لاس نه د بل لاس طرف ته اړولې او منتقل کولې شي چه هغه بالکل صحيح شي، هم دغه شان د ډوډئ پخيدو نه پس هغه په لاسونو کښې اولټه راولټه کولو سره برابرولې شي. پس علامه نووی رحمه الله د دې جملې ترجمه کړې د ه : ﴿ای يميلها من يد الى يد حتى تجتمع وتسوى﴾ [1] او علامه خطابی رحمه الله د دې ترجمه داسې کړې ده يعنى ﴿خبز الملة الذى يصنعه المسافر، فانها لا تدحی کما تدحی الرقاقة، وانما تقلب على الايدى حتى تستوى﴾ [2] يعنى د ډوډئ پيړه، کومه چه مسافر جوړوی، چونکه هغه د چپاتی په شان خوره او نيغه نه وی (بلکه ګول وی) هغه د يو لاس نه د بل لاس طرف ته اړولو سره برابرولې شي او دغه شان د هغې نه ډوډئ جوړه شي.

﴿فى السفر﴾ د دې قيد اتفاقی دې. په بعض نسخو کښې سُفَر (د سين د ضمې او د فاء د فتحې

---

[1] شرح مسلم للنووی، کتاب صفات المنافقين، باب نزل اهل الجنة : ۱۳۳/۱۷

[2] فتح الباری : ۴۵۳/۱۱

سره، دي. هغه د سُفْرَة جمع ده، سفرة د مسافر دپاره چه کوم خوراک تياروليې شي هغې ته هم وائي او دسترخوان ته هم وائي. (۱)

قوله: ﴿نُزُلاً لأَهْلِ الْجَنَّةِ﴾: ﴿نزل﴾ (د نوم او زا- په ضمې سره) د ميلمه مخکښې چه کوم څه حاضر څيز پيش کړې شي، هغې ته وائي.

د حديث شريف دوه مطلبونه : ① دا حديث بعض علماء كرامو د حقيقي معنى په ځائې مجازي معنى ته محمول کړې دې، د هغوى وينا ده چه د زمکې ډوډئ جوړيدل او د اهل جنت د هغې نه خوراک کول د الله پاک د قدرت په اعتبار سره خو هيڅ بعيد نه دى خو په بل روايت کښې راځي چه د دنيا دا زمکه به اور جوړيدو سره د جهنم حصه جوړه شي نو د جنتيانو دپاره به د ډوډئ کار څنګه ورکوى، په دې وجه ﴿تكون الارض خبزة واحدة﴾ د حقيقي معنى په ځائې په مجازي معنى باندې محمول کول زيات مناسب دى چه په طور د تشبيه او تمثيل اووئيلې شو چه زمکه به د ډوډئ په شان نيغه او مستوى کړې شي پس هم په دې باب کښې د سيدنا سهل ﷺ په حديث کښې ﴿كقرصة النقى﴾ الفاظ راغلې دى په دې وجه به وئيلې شى چه د روټئ سره مثال پيش کولو سره د زمکه په دوه معنى کښې تشبيه ورکړې شوې ده. يو خو د هغه زمکې حالت او هيبت بيانول مقصود دى چه هغه به د ډوډئ په شان بالکل نيغ وى. دويم د اهل جنت دپاره چه الله پاک کومه ډوډئ تياره کړې ده، د هغې بيان دې چه هغه به د زمکې په شان لويه او عظيمه وى، پس قاضي بيضاوى رحمه الله ليکي:

﴿أن هذا الحديث مشكل جدا لا من جهة إنكار صنع الله وقدرته على ما يشاء بل لعدم التوقيف على قلب جرم الأرض من الطبع الذى عليه إلى طبع المطعوم والمأكول مع ما ثبت فى الآثار أن هذه الأرض تصير يوم القيامة نارا وتنضم إلى جهنم فلعل الوجه فيه أن معنى قوله خبزة واحدة أى كخبزة واحدة من نعتها كذا وكذا وهو نظير ما فى حديث سهل يعنى المذكور بعده كقرصة النقى فضرب المثل بها لاستدارتها وبياضها فضرب المثل فى هذا الحديث بخبزة تشبه الأرض فى معنيين أحدهما بيان الهيئة التى تكون الأرض عليها يومئذ والاخر بيان الخبزة التى يهيئها الله تعالى نزلا لأهل الجنة وبيان عظم مقدارها ابتداعا واختراعا﴾ (۲)

② خو علامه طيبى رحمه الله، حافظ ابن حجر او د اکثرو علماء کرامو په نزد دا حديث په خپل حقيقي معنى باندې محمول دې هغوى فرمائى چه د دې زمکې نه به ډوډئ جوړه شي او ميدان حشر کښې به د حساب نه مخکښې جنت ته تلونکى د هغې نه خوراک کوى، ﴿نزلا لاهل الجنة﴾ هم دا مطلب دې چه اهل جنت به په دې موقع باندې د هغې نه خوراک کوى. (۳)

---

(۱) فتح البارى : ۴۵۳/۱۱، عمدة القارى : ۱۵۷/۲۳

(۲) فتح البارى : ۴۵۳/۱۱، ۴۵۴، وشرح الطيبى للمشكاة : ۱۲۹/۱

(۳) شرح مشكاة للطيبى، كتاب الفتن : ۱۲۹/۱، وفتح البارى : ۴۵۲/۱۱، وارشاد السارى : ۵۲۲/۱۳

او روستو به هغوی په جنت کښې ننه د هغوی دپاره نزل او میلمستیا جوړه شي. د هغې تائید د سعید بن جبیر رحمه الله د یو قول نه هم کیږی کوم چه امام طبری رحمه الله نقل کړې دې، چه زمکه باندې سپینه ډوډئ شي او مومن به ئې د خپلې خپو د لاندې خوری. (۱) هم دغه شان امام بیهقی رحمه الله د امام عکرمه رحمه الله قول نقل کړې دې ﴿ تبدل الارض مثلا الخبزة یاکل منها اهل الاسلام حتی یفرغوا من الحساب ﴾ (۲).

باقی هر چه تعلق د آثارو دې چه په هغې کښې ئې وئیلې دی چه دا زمکه به اور شي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې نه ارض بحر مراد دې، یعنی د دنیا په کومه حصه باندې چه سمندر قائم دې صرف هغه حصه به اور جوړیدو سره د جهنم سره یو ځائې کولې شي، پس امام طبری رحمه الله د کعب احبار رحمه الله نه نقل کړی دی چه په هغې کښې تصریح ده، هغوی فرمائی ﴿ یصیر مکان البحر نارا ﴾ د سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه نه هم د دې صراحت منقول دې، لهذا په دواړه قسم روایاتو کښې هیڅ تعارض نشته. (۳)

قوله: ﴿ فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ ﴾: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې سړی نوم ماته معلوم نه دې. (۴)

قوله: ﴿ ثَوْرٌ وَنُونٌ ﴾: د بالام تشریح هغه په ثور سره اوکړه، ثور غوئی ته وائی او نون مهی ته وائی.

قوله: ﴿ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا ﴾: اویا زره خلق به د غوئی او مهی د زیاتی حصې نه خوراک کوی.

قوله: ﴿ زائدة الكبد ﴾: اینې سره چه یو وړه شان حصه او ټکړه وی هغې ته وائی، دا ډیره مفید او غوره وی. (۵)

په مسلم شریف کښې د سیدنا ثوبان رضی الله عنه حدیث دې: ﴿ تحفة اهل الجنة زیادة كبد النون ﴾ (۶). یعنی د اهل جنت ډالئ د مهی د اینې زیاتی حصه ده

---

(۱) فتح الباری: ۴۵۲/۱۱، وراشاد الساری: ۵۲۲/۱۳

(۲) فتح الباری: ۴۵۲/۱۱، وراشاد الساری: ۵۲۲/۱۳

(۳) اوګورئ: فتح الباری: ۴۵۷/۱۱، مولانا محمد تقی عثمانی مدظلهم په تکملة د فتح الملهم کښې لیکلي دی چه حافظ ابن حجر رحمه الله د حدیث حقیقی معنی ته ترجیح ورکړې ده، خو د هغه آثارو جوابونه ئې نه دی ورکړی، چه په هغې کښې د زمکې نه د اور جوړیدو ذکر دې. (اوګورئ تکملة فتح الملهم: ۶۰/۶ باب نزل اهل الجنة) حال دا چه حافظ ابن حجر رحمه الله ذکر کړې شوې جواب ورکړې دې خو د دې بحث نه لاندې نه بلکه هم د دې باب په وړاندې حدیث کښې ئې پورته جواب ورکړې دې، کیدې شي چه د حضرت نظر هلته نه وی تلې.

(۴) فتح الباری: ۴۵۴/۱۱

(۵) فتح الباری: ۴۵۵/۱۱

[۶۱۵۶] (۲)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ نَقِيٍّ». قَالَ سَهْلٌ أَوْ غَيْرُهُ لَيْسَ فِيهَا مَعْلَمٌ لأَحَدٍ.

د سیدنا سهل رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د قیامت په ورځ باندې خلق د صفا او سپینې ډوډئ په شان اینختلې زمکه باندې جمع کړې شی، سهل یا د هغه نه علاوه بل چا بیان اوکړو چه په دې زمکه باندې به د بل چا هیڅ نخښبه نه وی.

قوله: ﴿بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ﴾: سپینه سرخئ ته مائله، عفراء : داسې رنګ چه خالص سپین نه وی، بلکه غنم رنګې وی، بعضو وئیلې دی چه عفراء خالص سپین رنګ ته وائی خو حافظ ابن حجر رحمه الله اول قول ته معتمد وئیلې دې.(۳)

قوله: ﴿كَقُرْصَةِ نَقِيٍّ﴾: لکه چه د میدې ډوډئ وی، ﴿قرصة﴾ ډوډئ او ککړوی ته وائی، ﴿نقی﴾ په وزن د ولی میده ته وائی.

قوله: ﴿قَالَ سَهْلٌ، أَوْ غَيْرُهُ لَيْسَ فِيهَا مَعْلَمٌ﴾: دا د ماقبل سند سره متصل دې، د حدیث راوی سهل فرمائی، یا د سهل نه علاوه بل چا وئیلې دی یعنی روایت کونکی ته د ویونکی په باره کښې شک دې چه قائل سهل دې او که بل څوک دې؟

قوله: ﴿ليس فيها معلم﴾: یعنی په دې زمکه کښې به هیڅ نخښبه او علامت نه وی، د دې نه معلومه شوه چه ﴿ليس فيها معلم﴾ الفاظ د حدیث مرفوع حصه نه ده بلکه دا د راوی د طرف نه په طور د تشریح لیکلې شوې دی، د ﴿غیره﴾ نه څوک مراد دې، حافظ د لا علمئ اظهار فرمائیلې دې.(۴)

﴿معلم﴾ په معنی د علامت راځی یعنی زمکه به بالکل برابر وی او په هغې کښې به هیڅ قسم تعمیر او څه کور، یا بنګله وغیره هیڅ نخښبه نه وی.

۱۶: بَاب كَيْفَ الْحَشْرُ

د حشر معنی او قسمونه: د حشر معنی د جمع کولو راځی، د مرګ نه پس چه کله د آخرت ژوند شروع شی نو د قیامت د قائمیدلو نه پس به ټول اولین او آخرین، د دنیوی ژوند په

(۱) فتح الباری : ۱۱/۴۵۵

(۲) اخرجه مسلم فی صفات المنافقین واحکامهم، باب : فی البعث والنشور وصفة الارض، رقم : ۲۷۹۰. (عفراء) بيضاء مشوبة بحمرة. (كقرصة النقي) كرغيف مصنوع من دقيق خالص من الغش والنخالة. (معلم) علامة يستدل بها، اى مستوية لا حدب فيها ولا بناء عليها ولا شئ سواه.

(۳) فتح الباری : ۱۱/۴۵۵

(۴) فتح الباری : ۱۱/۴۵۵

حساب سره په يو ميدان کښې راجمع کړې شي، دې ته حشر وائي او هم دا د ټولو نه مشهوره معنی ده، بعض شارحينو د حشر درې قسمونه ليکلې دي.

① يو حشر هغه دې او هغه د قيامت د علاماتو نه دې چه قيامت ته نزدې به خلق د شام په علاقو کښې د يو اور نه تختيدلو سره جمع شي، دا د قيامت نه مخکښې د هغه لس نخښو نه يوه ده چه د هغې ذکر په حديث کښې راغلې دې.

② دويم د حشر ميدان دې يعنی حشر الاموات من القبور چه د هغې ذکر د قرآن کريم په آيت کښې دې، ﴿ وحشرناهم فلم نغادر منهم احدا ﴾، او مونږ به ټول جمع کوو او په هغوی کښې به څوک هم نه پريږدو.

③ دريم حشر جنت او جهنم دې، دا به د حساب نه پس وی چه اهل جنت، به په جنت کښې او جهنميان به په جهنم کښې جمع کولې شي. (١)

[٦١٥٧] (٢) حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلاَثِ طَرَائِقَ، رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ، وَثَلاَثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ، وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ، وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَيَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ، تَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا، وَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا، وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا، وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا».

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د خلقو حشر به په دريو طريقو باندې وی (يو داسې چه) خلق به رغبت کونکی وی خو ويريږی به، (دويمه ډله به د هغه خلقو وی چه) په يو اوښ باندې به دوه سړی وی، په يو اوښ باندې به درې وی او په څه باندې به څلور وی او په څه باندې به لس وی. او (دريمه ډله به د هغه خلقو وی کوم چه به اور راجمع کوی) چه کله هغوی قيلوله کوی نو اور به هم هغه وخت هغوی سره د آرام په وخت موجود وی، چه کله هغوی شپه تيره کړی نو اور به هم هغوی سره موجود وی، چه کله هغوی سحر کړی نو اور به هم هغوی سره د سحر په وخت موجود وی او چه کله هغوی مابنام کړی نو اوربه هم هغوی سره موجود وی، يعنی چه هغوی چرته ځی اور به هلته رسيږی.

وهيب بن خالد، عبدالله بن طاؤس نه نقل کوی او عبدالله، د خپل پلار طاؤس بن کيسان نه نقل کوی.

قوله: ﴿ يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلاَثِ طَرَائِقَ ﴾: خلق به په درې طريقو سره جمع کولې شي، يعنی د حشر په وخت به د خلقو درې قسمونه وی، يو د راغبينو او راهبينو، دويم په اوښانو باندې د سورو او دريم د اور نه تختيدونکی!

په حديث الباب کښې د راغلی حشر مصداق : ① د بعض علماء کرامو په نزد د دې حشر نه د

(١) د تفصيل دپاره اوګورئ: فتح الباری: ٤٦٠/١١

(٢) اخرجه مسلم فی الجنة وصفة نعيمها، باب: فناء الدنيا وبيان الحشر يوم القيامة، رقم: ٢٨٦١٠

آخرت حشر مراد دې او د حدیث شریف مطلب دا دې چه خلق کله د قبرونو نه اوچتیدلو سره د محشر طرف ته لاړ شي نو د هغوی به درې قسمونه وی
★ ... یو خو د راغبین و راهبین یعنی د عام مومنانو به وی چاته چه به د خپل ایمان او اعمالو په وجه د الله پاک د رحمت امید هم وی او د الله پاک د عذاب ویره به ورسره هم وی، دوی به د خوف او رجاء والا کیفیت کښې وی، دا به اصحاب میمنة وی.
★ .. دویم به هغه حضرات وی کوم چه په اوښانو باندې سوریدلو سره د محشر په طرف ځی. په یو اوښ باندې دوه دوه، درې درې او څلور څلور د مراتبو مطابق سوارهٔ وی، دا به هغه نیکان وی چه د هغوی درجه به د عام مومنانو نه زیاته وی.
په یو اوښ باندې به دوه دوه درې درې په یو وخت سوارهٔ وی ځکه چه هغه اوښ به د هغوی تحمل کولې شی، یا به د دنیا په شان په نمبر نمبر په هغې باندې د مختلف تعداد دا حضرات سورلی کوی. (۱)
★ دریم به هغه کافر وی کوم چه به اور شړی، دا اصحاب مشامه دی.
فضل الله توربشتی، علامه طیبی او مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده. (۲)
د مصابیح په شرح کښې علامه توربشتی رحمه الله ډیر زور ورکولو سره په دلائلو سره ثابت کړې دی چه د دې نه د دنیا حشر نه دې مراد، بلکه د آخرت حشر مراد دې.
د مشکاة شارح علامه طیبی رحمه الله اول ډیر په تفصیل سره د علامه توربشتی رحمه الله قول رد کړې دې او وئیلې ئې دی چه د دې نه د آخرت حشر نه دې مراد، بلکه د دنیا حشر مراد دې کوم چه به قیامت ته نزدې واقع کیږی او کوم چه به د قیامت په لسو لویو نخښو کښې وی، خو د دې نه پس ئې لیکلې دی چه دا تفصیل ما د خپل اجتهاد نه لیکلې وو، بیا ما په صحیح بخاری کښې په باب الحشر کښې حدیث اولیدو په هغې کښې د «یوم القیامة» تصریح ده:
«یُحْشَرُ النَّاسُ یوم القیامة عَلَی ثَلَاثِ طَرَائِقَ» د یوم القیامة د تصریح نه پس اوس گنجائش نشته چه د دې نه د دنیا حشر مراد کړې شی. پس هغوی لیکی:
«هذا ما سنح لی علی سبیل الاجتهاد ثم رأیت فی صحیح البخاری فی باب المحشر یحشر الناس یوم القیامة علی ثلاث طرائق فعلمت من ذلک ان الذی ذهب إلیه الإمام التوربشتی هو الحق الذی لا محید عنه» (۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د بخاری په هیڅ روایت کښې د «یوم القیامة» تصریح ما ته معلومه نه شوه. (۴)
مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه زمونږ په نسخو کښې دا موجود ده. (۵)

---

۱) فتح الباری: ۱۱/۴۶۱
۲) شرح الطیبی للمشکاة، کتاب الفتن، باب الحشر، ۱۰/۱۵۹، وفیض الباری: ۴/۴۳۳
۳) شرح الطیبی للمشکاة، کتاب الفتن، باب الحشر، ۱۰/۱۶۳
۴) فتح الباری: ۱۱/۴۶۴
۵) فیض الباری: ۴/۴۳۳

حقيقت دا دې چه په بعض نسخو کښې د ﴿يوم القيامة﴾ اضافه ده، غالبا حافظ رحمه الله سره چه کومې نسخې وې په هغې کښې دا اضافه نشته.

② خو د علماء کرامو د يو لوئې جماعت په نزد د دې نه مراد د آخرت حشر نه دې. بلکه د دنيا حشر دې کوم چه به قيامت ته نزدې واقع کيږي او د کوم ذکر چه د سيدنا حذيفه بن اسيد رضي الله عنه په روايت کښې دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په کتاب الفتن کښې ذکر فرمائيلې دې، په هغې کښې دی:

﴿إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ. فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ -صلى الله عليه وسلم- وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ﴾[1] يعنى ترڅو پورې چه تاسو دا لس نخښې نه وې ليدلې تر هغه وخته پورې به قيامت نه قائميږي، هغه لس نخښې دا دی: لوږې، دجال، دابة الارض، نمر د مغرب نه راختل، د سيدنا عيسى عليه السلام نزول، د ياجوج ماجوج راوتل، او درې خسوف (د خسف نه مراد په زمکه کښې ننوتل دی) او اور کوم چه به د يمن نه راوځی او خلق به د محشر طرف ته ديکه کوی.

د دې نه علاوه په مسند احمد کښې د سيدنا عبدالله بن عمر او مستدرک حاکم کښې د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما په روايت کښې هم د دې حشر ذکر دې. د مستدرک حاکم د حديث الفاظ دا دی: ﴿تُبْعَثُ نَارٌ عَلَى أَهْلِ الْمَشْرِقِ فَتَحْشُرُهُمْ إِلَى الْمَغْرِبِ تَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا، وَتَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا﴾[2]

د دې رواياتو د تفصيلاتو حاصل دا دې چه د قيامت په ورځ باندې د قعر عدن نه يو اور راوځی، خلق به د هغې د نورو علاقو طرف ته تختی او د هغې درې قسمونه دی:

① يو قسم خو به د هغه خلقو وی چه هغوی سره سورلی او د سفر د توښې انتظام وی، په راتلونکو حالاتو کښې به د هغوی رغبت وی او د مخکښې حالاتو نه په ويره کښې کيدو سره به هغوی راوتلې وی، په حديث کښې د راغبين راهبين نه هم دا خلق مراد دی.

② دويم قسم به د هغه خلقو وی چه هغوی به د اول قسم خلقو په مقابله کښې کم وی، د سورلئ او د سفر د توښې انتظام به ئې معمولی وی، او په يو اوښ باندې به دوه دوه، درې درې او په نمبر نمبر سوريږی.

③ دريم قسم د هغه خلقو دې چه هغوی سره به بالکل انتظام نه وی او هغوی چه چرته ځی، اور به په هغوی پسې روان وی. ﴿تبيت معهم حيث باتو﴾ نه هم دا مراد دې.

علامه خطابی او حافظ ابن حجر رحمهما الله دې دويم قول ته ترجيح ورکړې ده چه د دې نه د دنيا .

[1]) صحيح مسلم، کتاب الفتن، باب فى الايات التى تکون قبل الساعة، ۲۳۵/۱۸، رقم الحديث: ۷۲۱٤
[2]) مستدرک للامام الحاکم، کتاب الفتن والملاحم، ٥۹۱/٤، رقم الحديث: ۸٦٤۷

حشر مراد دي. (١)
بيا چه په دې کښې د کوم اور ذکر دې هغه ئې په حقيقت باندې محمول کړې دې او بعضو د دې نه د فتنې اور مراد اخستلې دې او دا مطلب ئې بيان کړې دې چه سخته فتنه به راوچتيږي کومه چه به په شام کښې نسبتا کمه او په نورو علاقو کښې به زياته وي. په دې وجه به خلق د شام طرف ته زيات شي. (٢)

[٦١٥٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَغْدَادِيُّ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ -رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ قَالَ «أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». قَالَ قَتَادَةُ بَلَى وَعِزَّةِ رَبِّنَا. [ر: ٤٤٨٢]

د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې چه يو صاحب عرض اوکړو. يا رسول الله ﷺ! الله پاک به کافران په مخونو باندې څنګه راجمع کوي، (د قيامت په ورځ) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا هغه ذات چا چه په دنيا کښې په دوه خپو باندې ګرځولو په دې قادر نه دې.
چه د قيامت په ورځ ئې په مخونو باندې اوګرځوي، قتاده رحمه الله فرمائي: ﴿بلى وربنا﴾، ولې نه قسم دې په رب زمونږ.

[٦١٥٩، ٦١٦٠، ٦١٦١] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «إِنَّكُمْ مُلاَقُو اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً مُشَاةً غُرْلاً». قَالَ سُفْيَانُ هَذَا مِمَّا نَعُدُّ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ سَمِعَهُ مِنَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو به د الله پاک سره (د قيامت په ورځ) خپې ابله، بربنډ او پياده ملاقات کوئ. سفيان بيان اوکړو چه دا حديث د هغې نه دې چه د هغې متعلق به مونږ ګنړل چه سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دې.
د عمرو نه عمرو بن دينار مراد دې.
﴿حُفَاة﴾: د حفي جمع ده، داسې سړې چه خپې ابله وي.
﴿عُرَاة﴾: د عاري جمع ده، بربنډ
﴿مشاة﴾: د ماشي جمع ده، پياده.
﴿غرل﴾: د اغرل جمع ده، ناسنته.

(١) فتح البارى: ١١/٤٦٤
(٢) فتح البارى: ١١/٤٦٤

[٦١٦٠] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رضي الله عنهما-قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-يَخْطُبُ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ «إِنَّكُمْ مُلاَقُو اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً».

د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغوی په منبر باندې خطبه ورکوله او وې فرمائيل چه تاسو به د الله پاک سره په داسې حال کښې ملاويږئ چه خپې ابله، بربنډ او ناسنته به يئ.

د رواياتو تعارض او د هغې حل: دلته په روايات الباب کښې دی چه د قبرونو نه به مړی بربنډ بدن راوخی، او حال دا چه امام ابوداؤد او امام حاکم رحمهما الله د سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه روايت نقل کړې دې چه هغوی د مرګ په وخت نوې جامې راطلب کړې او وې وئيل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی چه ﴿إِنَّ الْمَيِّتَ يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي يَمُوتُ فِيهَا﴾ يعنې مړې به هم په هغه جامو کښې اوچتولې شی په کومو کښې چه د هغوی مرګ راغلې وی. [١] هم دغه شان د سيدنا معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت دې ﴿ احسنوا اكفان موتاكم فانهم يحشرون فيها ﴾ [٢] (خپلو مړو ته ښه کفن ورکوئ ځکه چه هم په هغې کښې به د هغوی حشر کولې شی)

د دې دوه احاديثو نه معلوميږی، چه د قبرونو نه وتونکی مړی به ، بربنډ نه وی بلکه پټ به وی، د دې تعارض مختلف جوابات کړې شوې دی :

① د سيدنا معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت خو ضعيف دې، هغه قابل استدلال نه دې او د سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه په حديث کښې د ﴿ ميت ﴾ عام مړې نه دې مراد . بلکه شهيد مراد دې. خو سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه هغه په عام مړی باندې محمول اوفرمائيلو . حاصل دا چه په احاديث الباب کښې د عام مړو د پاسيدو حال بيان کړې شوې دې، او د سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه په حديث کښې د شهيد حالت بيان کړې شوې دې.

② دويم جواب دا ورکړې شوې دې چه د قيامت په ورځ باندې به څه خلق بربنډ راوخی او څه به په پټ وی.

③ دريم جواب دا دې چه په شروع کښې به ټول د خپلو کفنونو سره وی، د سيدنا ابوسعيد رضي الله عنه په روايت کښې د هغې ذکر دې، روستو به ترې کفن لرې کړې شی، او ټول به بربنډ شی، په روايات الباب کښې د دې روستنی حالت ذکر دې.

④ او څلورم جواب دا دې چه د سيدنا ابوسعيد رضي الله عنه په روايت کښې د ثياب نه مراد اعمال دی، په قرآن کريم کښې دی ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ﴾ [٣]

---

[١] اخرجه ابوداؤد فی کتاب الجنائز، باب ما يستحب من تطهير الميت : ١٩٠/٣، رقم الحديث : ٣١١٤، واخرجه الامام الحاكم فی المستدرک، کتاب الجنائز ٣٤٠/١

[٢] اورده ابن عراق فی تنزيه الشريعة : ٣٧٢/٣

[٣] سورة اعراف : ٢٦

دا مختلف جوابات ورکړې شوې دی، خو اول جواب راجح او وزنی معلومیږی.

[۶۱۶۱] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَامَ فِينَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَخْطُبُ فَقَالَ «إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ حُفَاةً عُرَاةً (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ) الآيَةَ ، وَإِنَّ أَوَّلَ الْخَلاَئِقِ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ، وَإِنَّهُ سَيُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي، فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ. فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُصَيْحَابِي . فَيَقُولُ إِنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ . فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ (وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ) إِلَى قَوْلِهِ (الْحَكِيمُ) قَالَ فَيُقَالُ إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ». [ر: ۳۱۷۱]

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مونږ ته د خطبې راکولو دپاره اودریدلو او وې فرمائیل چه تاسو به د قیامت په ورځ باندې داسې حال کښې اوچت کړې شئ بربنډ او خپې ابله به یئ، څنګه چه مونږ د تخلیق شروع کړې وه، هم هغه شان به مو مونږ واپس کړو «الآیة» او په ټول مخلوق کښې چه اول کوم انسان ته کپړه اچولې شی هغه به ابراهیم علیه السلام وی، او زما د امت نه به ډیر خلق راوستلې شی چه د هغوی اعمال نامې به په ګس لاس کښې وی، زه به وایم اې زما ربه ! دا خو زما ملګری دی! الله پاک به فرمائی تاته نه دہ معلومه چه هغوی ستا نه روستو څه نوې څیزونه پیدا کړې وو، هغه وخت به زه هم هغه وایم کوم د نیک بنده سیدنا عیسی علیه السلام وئیلې وو ﴿ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ - إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ یعنی ترڅو پورې زه په دوی کښې موجود اوم تر هغه وخته پورې زه په دوی ګواه اوم او کله چه تا زه اوچت کړم نو بیشکه هم ته د هر یو څیز نګهبان ئې... نو او به وئیلې شی «رسول الله ﷺ ته» چه روستو هغوی په خپلو پوندو واپس شوې وو «یعنی ستاسو د وفات نه پس دا خلق مرتد شوې وو او ستاسو په حق دین باندې برقرار نه وو پاتې شوې».

قوله: ﴿ إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ ﴾: د دې نه د رسول الله ﷺ نه پس د ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دور کښې مرتد کیدونکی خلق مراد دی، راجح قول هم دا دی.[1]

[۶۱۶۲] حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ أَبِي صَغِيرَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «تُحْشَرُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً» قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ. فَقَالَ «الأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يُهِمَّهُمْ ذَاكِ».

[1]) فتح الباری : ۴۶۹/۱۱، وعمدة القاری : ۱۶۵/۲۳، وارشاد الساری ۵۲۸/۱۳

د ام المومنين سيده عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو به خپې ابله، بربنډ او ناسنته اوچتولې شئ، سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه په دې باندې ما تپوس اوکړو: يارسول الله ﷺ! آيا سړی او ښځې به يو بل ته ګوری؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه هغه وخت به معامله د دې نه زياته سخته وی چه هغوی يو بل ته اوکتلې شی.

د ابو صغيره نوم مسلم قشيری دې، صغيره د صاد په فتحې او د غين په کسرې سره دې او د ابو مليکة نوم زهير دې.

[٦١٦٣] (١) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي قُبَّةٍ فَقَالَ «أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ». قُلْنَا نَعَمْ. قَالَ «تَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ». قُلْنَا نَعَمْ. قَالَ «أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ». قُلْنَا نَعَمْ. قَالَ «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنِّي لأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَذَلِكَ أَنَّ الْجَنَّةَ لاَ يَدْخُلُهَا إِلاَّ نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَمَا أَنْتُمْ فِي أَهْلِ الشِّرْكِ إِلاَّ كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الأَسْوَدِ أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الأَحْمَرِ». [٦٢٦٦]

د سيدنا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو خيمه کښې وو، هغوی اوفرمائيل : آيا تاسو به په دې خوشحاله شئ چه تاسو به د اهل جنت يو څلورمه حصه يئ، مونږ عرض اوکړو: او جی! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو به په دې خوشحاله شئ چه تاسو د جنتيانو دريمه حصه شئ؟ مونږ عرض اوکړو : او جی ..... رسول الله ﷺ اوفرمائيل : آيا تاسو په دې باندې خوشحاليږئ چه تاسو د جنتيانو نيمه حصه شئ؟ مونږ اووې : او جی! بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل : قسم دې په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې د محمد ﷺ نفس دې، زما اميد دې چه تاسو (امت مسلمه) به د اهل جنت نيمه حصه يئ او داسې به څکه وی چه جنت ته به سوا د مسلمان روح نه څوک هم داخل نه شی او تاسو د اهل شرک ترمينځه داسې يئ لکه د تور غوئی په بدن باندې سپين ويښته، يا لکه چه د سور غوئی په بدن باندې سرۀ ويښته وی. -يعنی څنګه چه د تور غوئی په بدن باندې څه ويښته سپين وی نو هغه د هغه د پوره بدن په مقابله کښې ډير کم او په اوړو کښې د مالګې برابر وی هم دغه شان د مشرکانو په نسبت سره به ستاسو تعداد ډير کم په جهنم کښې وی).

[٦١٦٤] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ ثَوْرٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «أَوَّلُ مَنْ يُدْعَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ آدَمُ، فَتَرَاءَى ذُرِّيَّتُهُ فَيُقَالُ هَذَا أَبُوكُمْ آدَمُ. فَيَقُولُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ. فَيَقُولُ أَخْرِجْ بَعْثَ جَهَنَّمَ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ. فَيَقُولُ يَا رَبِّ كَمْ أُخْرِجُ فَيَقُولُ أَخْرِجْ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ». فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذَا

(١) اخرجه مسلم فى الايمان، باب : كون هذه الامة نصف اهل الجنة، رقم : ٢٢١

أُخِذَ مِنَّا مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ ، فَمَاذَا يَبْقَى مِنَّا قَالَ « إِنَّ أُمَّتِي فِي الأُمَمِ كَالشَّعَرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي الثَّوْرِ الأَسْوَدِ ».

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه اول سيدنا آدم علیه السلام رابللې شى، بيا به د هغه نسل هغوى ته ګورى چه دا ستاسو نيکه محترم سيدنا آدم علیه السلام دې، هغوى به وائى ﴿لبيك وسعديك﴾، الله پاک به ورته اوفرمائى : چه د خپل نسل جهنميان راوباسه! سيدنا آدم علیه السلام به عرض اوکړى : يا الله څومره راوباسم، الله پاک به فرمائى چه په هر سلو کسانو کښې يو کم سل راوباسه (يعنى په هر سلو کښې به يو کم سل جهنميان وى)، صحابه کرامو عرض اوکړو : يا رسول الله ﷺ چه کله په سلو کښې يو کم سل راويستلې شى نو بيا به باقى څه پاتې شى؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د نورو امتونو په مقابله کښې به زما امت په دومره تعداد کښې وى لکه د تور غوئى په بدن باندې چه سپين ويښته وى. (يعنى زما د امت تعداد به په هغه جهنميانو کښې ډير کم وى).

د باب په دې آخرى دوه احاديثو کښې اګر چه صراحة د حشر ذکر نشته خو د جنت او جهنم ذکر پکښې دې. چه په هغې کښې د داخليدو سلسله به د حشر نه فورا پس وى، په دې مناسبت سره ئې دا احاديث دلته ذکر فرمائيلي دي. د دې حديث ټول راويان مدنى دى او دا حديث صرف امام بخارى رحمه الله نقل فرمائيلي دې. [1]

٣٦: باب قَوْلُهُ عَزَّوَجَلَّ (إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ).

(أَزِفَتِ الآزِفَةُ) (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ)

دا د سورة حج اول آيت کريمه دې، پوره آيت ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ﴾

اې خلقو! د الله پاک نه اويريږئ، بيشکه د قيامت زلزله ډير لوئې څيز دې.

په ايت کريمه کښې د راغلې زلزلې مصداق : د دې زلزلې په باره کښې دوه اقوال دى!

① يو دا چه د دې نه مراد د قيامت نه مخکښې راتلونکې زلزله ده کومه چه به د طلوع الشمس من المغرب نه لږه مخکښې وى او د قيامت د علاماتو نه به د يو علامت په طور وى. يعنى د قيامت طرف ته د هغې نسبت د قرب د وجې نه کړې شوې دې.

② دويم قول د دې چه د دې نه د قيامت د واقع کيدو زلزله مراد ده. [2] ظاهره ده چه کله قيامت ختم شى او دا نظام او کائنات ختمولې شى او د غرونه، زمکه او سمندر ټول ختميږى، مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله د دې آيت کريمه په پاره کښې ليکى :

د قيامت په عظيم الشان زلزله کښې يو عين مقام د قيامت په وخت يا د نفخه ثانيه نه پس، دويم د قيامت نه لږ مخکښې چه کوم د علامات قيامت نه دې، که دلته دويم مراد وى نو آيت به په خپله ظاهره معنى باندې وى او که اول مراد وى نو دواړه احتمالات شته، که

---

[1] ورواته كلهم مدنيون وهو من افراده ...... (ارشاد السارى : ١٣/٥٣١)

[2] فتح البارى : ١١/٥٧٥، ارشاد السارى : ١٣/٥٣١

حقیقتا زلزله راشی او بی ورکونکي یا حاملې زنانه په دې خپل هیبت باندې محشورې شی، یا د زلزلې نه مراد: د هغه ځاني احوال او مصیبتونه وی او ﴿يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ﴾ لره په تمثیل باندې حمل کړې شی یعنی دومره ویره او سختی به وی چه که د پئ ورکونکې زنانه موجود وی نو د ویرې او شدت د وجې نه به ترې خپل بچی هیر شی او د حاملو زنانو حمل به ساقط شی. دې وخت کښې به خلق دومره مدهوش شی چه کتونکې به پرې د شرابو د نشې ګمان کوی حال دا هلته د نشې څه کار!...... د الله پاک د عذاب تصور او د احوال او شدائدو سختی به ئې هوش ختم کړی.... که دا ویره ټولو ته عام شی نو ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ﴾ کښې نفی په اعتبار د اکثر احوالو او دلته اثبات په اعتبار د ساعت قلیلة اخستلې شی او که آیت د حاضر او اکثر الناس په حق کښې وی د ټولو په حق کښې نه وی نو بیا خو بالکل اشکال نشته. (۱)

قوله: ﴿أزفت الآزفة: اقتربت الساعة﴾: د ﴿أزفت الآزفة﴾ ترجمه امام کړې ده، ﴿اقتربت الساعة﴾ یعنی قیامت نزدې دې، ﴿ازِف﴾ د باب سمع نه دې، د ﴿ازف﴾ معنی د قرب ده، ﴿ازِف كذا﴾ نزدې کیدل، قیامت ته آزفة وئیلې شی ځکه چه د دې وقوع نزدې ده. (۲) ﴿أزفت الآزفة﴾ د سورة نجم آیت ۵۷ دې، ﴿اقتربت الساعة﴾ اګر چه دلته امام بخاری رحمه الله د تفسیر او ترجمې په طور ذکر کړې دې، خو دا د سورة قمر اولنې آیت دې.

[۶۱۶۵] حَدَّثَنِي يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «يَقُولُ اللَّهُ يَا آدَمُ. فَيَقُولُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ. قَالَ يَقُولُ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ. قَالَ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ. فَذَاكَ حِينَ يَشِيبُ الصَّغِيرُ، وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا، وَتَرَى النَّاسَ سَكْرَى وَمَا هُمْ بِسَكْرَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ». فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّنَا الرَّجُلُ قَالَ «أَبْشِرُوا، فَإِنَّ مِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ أَلْفٌ وَمِنْكُمْ رَجُلٌ - ثُمَّ قَالَ - وَالَّذِي نَفْسِي فِي يَدِهِ إِنِّي لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ». قَالَ فَحَمِدْنَا اللَّهَ وَكَبَّرْنَا، ثُمَّ قَالَ «وَالَّذِي نَفْسِي فِي يَدِهِ إِنِّي لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، إِنَّ مَثَلَكُمْ فِي الْأُمَمِ كَمَثَلِ الشَّعَرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ أَوِ الرَّقْمَةِ فِي ذِرَاعِ الْحِمَارِ». [ر: ۳۱۷۰]

د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: الله به فرمائی: اې آدم!...... آدم علیه السلام به عرض اوکړی: حاضر یم ستا د حکم د پوره کولو دپاره، ټول خیرونه

(۱) تفسیر عثمانی: سورة الحج: ۴۴۲

(۲) هو من الازف (بفتح الزاء) وهو القرب. يقال: ازف كذا: اى قرب، وسميت الساعة آزفة، لقربها او لضيق وقتها (فتح الباری: ۱۱/۴۷۳)

ستا په لاس کښې دی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله پاک به فرمائی : کوم خلق چه به جهنم کښې اچولې شی هغوی راوباسه، آدم علیه السلام به تپوس اوکړی : په جهنم کښې اچولې کیدونکی خلق څومره دی؟ الله پاک به ورته فرمائی : په هر زرو کسانو کښې نهه سوه او نهه نوی. هم دا به هغه وخت وی چه ماشومان به بوډاګان شی او حامله زنانه به خپل حمل راوغورځوی او ته به خلق د نشې په حالت کښې محسوس کړې، حال دا چه هغوی به د نشې په حالت کښې نه وی. بلکه د الله پاک عذاب سخت دې.

صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا خبره ډیره سخته معلومه شوه نو عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ! بیا به په مونږ کښې هغه سړې څوک وی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تاسو ته دې زیرې وی، زر کسان به د یاجوج ماجوج قوم نه وی او په تاسو کښې به هغه یو وی (یعنی جهنم ته تلونکی که د یاجوج ماجوج نه زر کسان وی نو په تاسو کښې به صرف یو وی). بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل، قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما نفس دې! زما امید دې چه تاسو به د جنت دریمه حصه یئ.

سیدنا ابوسعید رضی الله عنه فرمائی چه په دې خبره باندې د الله پاک حمد او ثناء اووې، بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما نفس دې، زما امید دې چه تاسو به د اهل جنت نیمه یئ، ستاسو مثال د نورو امتونو په مقابله کښې داسې دې لکه د تور غوئی په بدن چه سپین ویښته وی یا هغه سپین داغ کوم چه د خر په مخکښې خپو باندې وی.

﴿ رقمة ﴾ : سپینې ټکړې ته وائی. [1]

په دې روایت کښې چونکه د سورة حج د اول آیات ذکر دې، په دې وجه د حدیث او آیت مناسبت ظاهر دې، حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

﴿ أشار بهذه الترجمة إلى ما وقع في بعض طرق الحديث الأول انه صلى الله عليه و سلم تلا هذه الآية عند ذكر الحديث ﴾ [2] یعنی : امام بخاری رحمه الله د معمول مطابق په ترجمة الباب سره د حدیث الباب بعض طرق طرف ته اشاره فرمائیلې ده چه رسول الله ﷺ دا آیت کریمه، د دې حدیث د بیانولو په وخت اولوستلو.

٤٧: باب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى (أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ * لِيَوْمٍ عَظِيمٍ * يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ) وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ) قَالَ الْوُصُلَاتُ فِي الدُّنْيَا.

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د سورة المطففین آیات کریمه ذکر فرمائیلې دی، د هغې ترجمه ده : آیا خیال نه ساتی هغه خلق چه هغوی به پاسی د هغه لوئې ورځ دپاره، کومه ورځ چه به خلق د الله پاک رب العالمین مخکښې اودریږی.

[1] رقمة (بفتح الرا وسكون القاف) وهى قطعة بيضاء، اوشئ مستديرلا شعر فيه (ارشاد السارى : ۵۳٤/۱۳)
[2] فتح البارى ٤٧٢/١١

قوله: ﴿ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ:وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ قَالَ الْوُصُلَاتُ فِي الدُّنْيَا﴾: په سورة البقرة کښې دی ﴿ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ ﴾ سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما د دې تفسیر فرمائیلې دې چه د دې نه په دنیا کښې خپل مینځ کښې تعلقات او روابط مراد دی چه د قیامت په ورځ باندې به دا ټول منقطع شی، عبد بن حمید دا تعلیق موصولا نقل کړې دې. [1] ﴿ الواصلات ﴾ د واؤ په ضمې سره او په صاد باندې ضمه او سکون دواړه صحیح دی. [2] د وُصْلَة جمع ده، وصلة خپل مینځ کښې تعلق او رابطې ته وائی.

[۶۱۶۶] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبَانَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضى الله عنهما-عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. (يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ) قَالَ «يَقُومُ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ». [ر: ۴۶۵۴]

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ﴿ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ په تفسیر کښې اوفرمائیل چه په هغوی کښې به یو کس په خپلو خولو کښې ډوب ولاړ وی د غوږونو د نیمې حصې پورې؛ یعنی د هغوی خولې به د غوږونو د نیمې حصې پورې وی او هغه به په هغې کښې ډوب وی.

د ابن عون نوم عبد الله دې.

﴿ رشح ﴾: خولې ته وائی.

[۶۱۶۷] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا، وَيُلْجِمُهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ».

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د قیامت په ورځ باندې به خلق په خولهٔ کښې ډوب وی او حالت به دا شی چه د خلقو خوله به په زمکه باندې اویا لاسه خوره شی او خولې ته رسیدلو سره به غوږونه مس کوی.

﴿يُلْجِمُهُم﴾: الجمه الماء: چه کله اوبه خولې ته اورسیږی، هغه وخت وئیلې شی. [3]

په دې حدیث کښې د بعض خلقو حالت بیان کړې شوې دې چه خوله به د هغوی غوږونو ته اورسیږی، د بعضو معامله به د دوی نه سپکه وی نو خوله به ئې تر د کونډو پورې وی، د څه خلقو به د ګیټو پورې وی لکه چه په نورو روایاتو کښې تفصیل او تصریح ده. [4]

---

[1] فتح الباری ۴۷۷/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۴/۱۳

[2] فتح الباری ۴۷۷/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۴/۱۳، عمدة القاری ۱۶۹/۲۳

[3] ارشاد الساری: ۵۳۵/۱۳، عمدة القاری ۱۷۱/۲۳

[4] ارشاد الساری: ۵۳۶/۱۳ _ أخرجه البیهقی فی البعث بسند حسن عنه قال ...[بقیه برصفحه آئنده...

۴۸: بابُ القِصَاصِ یَوْمَ القِیَامَةِ

وَهِیَ الحَاقَّةُ لأَنَّ فِیهَا الثَّوَابَ وَحَوَاقَّ الأُمُورِ، الحَقَّةُ وَالحَاقَّةُ وَاحِدٌ. وَالقَارِعَةُ، وَالغَاشِیَةُ، وَالصَّاخَّةُ، وَالتَّغَابُنُ غَبْنُ أَهْلِ الجَنَّةِ أَهْلَ النَّارِ.

د ترجمة الباب وضاحت: امام بخاری رحمہ اللہ په دې باب کښې د قیامت د ورځې ذکر کړې دې او د هغې د کیفیت متعلق ئې احادیث بیان کړی دی چه د هغې حاصل دا دې چه په دنیا کښې به یو سړې هم مظلوم جوړیدو سره خپله بدله وانخستلې شی نو د قیامت په ورځ باندې به د ظالم نه د هغه حق وصول کړې شی او د هغې صورت به دا وی چه د ظالم نیکئ به مظلوم ته ورکولې شی ځکه په هغه ورځ باندې به سوا د نیکئ نه یو څیز هم دکار پاتې نه شی، که د ظالم سره نیکئ نه وی نو د مظلوم ګناهونه به کمولو سره د ظالم په اعمال نامه کښې واچولې شی، بلکه کوم مومنان چه د جهنم نه نجات موندلو سره لاړ شی هغوی به هم جنت ته د داخلیدو نه مخکښې په یو پل باندې جمع کړې شی، دا پل به د جنت او جهنم ترمینځه وی. په هغې باندې به خپل مینځ کښې د کړې شوې زیاتو کمې پوره کولې شی او د ظالم نه به د مظلوم بدله اخستلې شی، چه کله د یو بل ټول حقوق ادا شی نو پاک صفا کیدو سره به جنت ته د داخلیدو اجازت ورکړې شی.

قوله: ﴿وهی الحاقة لأن فیها الثواب وحواق الأمور الحقة والحاقة واحد﴾: ﴿ هی ﴾

ضمیر د قیامت طرف ته راجع دې، د قیامت ورځې ته ﴿حاقة﴾ وائی، ځکه چه په دې ورځ باندې به د اعمالو ثواب متحقق او ثابت وی او ډیر زیات امور به په دې کښې ثابت شی. د حقه او حاقة دواړو یوه معنی ده، دا په حقیقت کښې د مشهور امام فراء رحمہ اللہ عبارت دې کوم چه هغوی په معانی القرآن کښې لیکلې دې، امام بخاری رحمہ اللہ هم د هغه ځائې نه اخستلې دې (۱)

﴿القارعة، والغاشیة، والصاخة﴾ دا درې واړه هم د قیامت نومونه دی.

...بقیه ازحاشیه گذشته] یشتد کرب ذلک الیوم حتی یلجم الکافر العرق قیل له فأین المؤمنون قال علی الکراسی من ذهب ویظلل علیهم الغمام وبسند قوی عن أبی موسی قال الشمس فوق رؤوس الناس یوم القیامة وأعمالهم تظلهم وأخرج بن المبارک فی الزهد وبن أبی شیبة فی المصنف واللفظ له بسند جید عن سلمان قال تعطی الشمس یوم القیامة حر عشر سنین ثم تدنی من جماجم الناس حتی تکون قاب قوسین فیعرقون حتی یرشح العرق فی الأرض قامة ثم ترتفع حتی یغرغر الرجل زاد بن المبارک فی روایته ولا یضر حرها یومئذ مؤمنا ولا مؤمنة.

وفی حدیث بن مسعود عند الطبرانی والبیهقی ان الرجل لیفیض عرقا حتی یسیح فی الأرض قامة ثم یرتفع حتی یبلغ انفه وفی روایة عنه عند أبی یعلی وصححها بن حبان ان الرجل لیلجمه العرق یوم القیامة حتی یقول یا رب ارحنی ولو إلی النار. (فتح الباری: ۴۷۹/۱۱)

(۱) فتح الباری: ۴۸۱/۱۱

﴿القارعة﴾: ټکېدونکې، د قيامت ورځ به زړونه د خپلو سختو د وجې ټکوی، په دې وجه هغې ته قارعة وائی
﴿غاشية﴾: غوړېدونکې، پټوونکې، دا ورځ به هم په ټولو خلقو باندې خوره شی، په دې وجه هم دې ته غاشية وائی.
﴿الصاخة﴾: کڼوونکې، د دنيا د معاملاتو نه به خلق کاڼهٔ کړی او د ﴿صاخة﴾ معنی ﴿داهية﴾ د لوئې مصيبت هم راځی او د چغې هم راځی. [1]
قوله: ﴿التغابن: غَبْن اهلِ الجنةِ اهلَ النار﴾: د قيامت ورځې ته ﴿يوم التغابن﴾ هم وئيلې شی دا د ﴿غبن﴾ نه اخستلې شوې دې، چه د هغې معنی ده: د خپلې حصې او مراد نه محروم کېدل، د اهل جهنم دپاره چه به په جنت کښې کوم کورونه جوړ کړې شوې وی، د هغې نه به هغوی محروم وی او په هغې کښې به جنتيان راشی،
د ﴿غَبْن اهل الجنة اهلَ النار﴾ مطلب هم دا دې چه اهل جنت به د جهنميانو هغه کورونو ته راشی او هغوی به محروم کړی. [2]
امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب د قيامت پنځه نومونه ذکر فرمائيلې دی، امام غزالی رحمه الله او علامه قرطبی رحمه الله چه د قيامت د ورځې نومونه جمع کړل نو تقريباً اتيا (۸۰) نومونه جمع شو چه په هغې کښې يوم الجمع، يوم التناد، يوم الحسرة اويوم التلاق وغيره شامل دی. [3]
[۶۱۶۸] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ- رضى الله عنه - قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ بِالدِّمَاءِ». [۶۴۷۱]
د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: د ټولو نه اول چه به د کوم څيز په خلقو کښې کولې شی هغه به د وينې بدله وی.
دا حديث امام بخاری رحمه الله دلته په اول کرت ذکر فرمائيلې دې، د امام بخاری رحمه الله شيخ عمر بن حفص دې، هغه د خپل پلار حفص بن ثابت نه روايت نقل کوی، د شقيق نه شقيق بن سلمة مراد دې، د هغوی کنيت ابو وائل دې او په کنيت سره زيات مشهور دی، د سند ټول راويان کوفيان دی. [4]

[1] فتح الباری ۴۸۱/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۶/۱۳، عمدة القاری ۱۷۲/۲۳
[2] فتح الباری ۴۸۱/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۶/۱۳، عمدة القاری ۱۷۲/۲۳
[3] فتح الباری ۴۸۱/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۶/۱۳، عمدة القاری ۱۷۲/۲۳
[4] فتح الباری ۴۸۲/۱۱، ارشاد الساری: ۵۳۷/۱۳، عمدة القاری ۱۷۲/۲۳

د امام بخاري رحمه الله نه علاوه امام مسلم، امام ترمذي، امام ابن ماجة او امام نسائی رحمهم الله هم د دې حديث تخريج کړی دی. [1]

د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه اول د څه څيز فيصله کولې شي؟ په دې حديث کښې دی چه د ټولو نه اول به د وينې فيصله کولې شي، يعنی د دنيا د قتلونو محاسبه او فيصله به کولې شي، د دې نه پس به د باقی اعمالو او نورو معاملاتو فيصلې وی.

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه په يو روايت کښې دی چه د ټولو نه اول محاسبه به د مانځه وی.

خو په دواړو کښې تطبيق داسې کيدې شی چه په حقوق الله کښې به د ټولو نه اول د مانځه او په حقوق العباد کښې به د ټولو نه اول د وينې فيصله او محاسبه وی. [2]

[۶۱۶۹] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- قَالَ «مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهَا، فَإِنَّهُ لَيْسَ ثَمَّ دِينَارٌ وَلاَ دِرْهَمٌ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُؤْخَذَ لِأَخِيهِ مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ أَخِيهِ، فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ». [ر: ۲۳۱۷]

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : چا چه په خپل يو رور باندې ظلم اوکړو نو هغه له پکار دی چه هغه (په دې دنيا کښې په صاحب حق باندې) معاف کړی، ځکه چه په آخرت کښې به دينار او درهم نه وی، د دې نه مخکښې چه د هغه د رور دپاره د هغه د نيکو نه واخستلې شی او که هغه سره نيکئ نه وی نو د هغه د مظلوم رور بدئ به په هغه باندې واچولې شی. (په دې وجه د بې وسئ د وخت نه مخکښې مخکښې په دنيا کښې خپل معاملات صفا کول پکار دی).

[۶۱۷۰] حَدَّثَنِي الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ (وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ) قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ النَّاجِيِّ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ -رضی الله عنه- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- «يَخْلُصُ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ، فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ، مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا، حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِي الدُّنْيَا». [ر: ۲۳۰۸]

---

[1] الحديث اخرجه البخاري ايضا في كتاب الديات، باب قول الله تعالى : ...[بقيه برصفحه آئنده...

...بقيه ازحاشيه گذشته] ﴿ ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاءه جهنم ﴾ رقم الحديث : ۶۸۶۴، واخرجه الامام مسلم فی كتاب الحدود، باب المجازاة بالدماء فی الاخرة، وانها اول ما يقضى فيه بين الناس يوم القيامة، رقم الحديث : ۴۳۵۷، واخرجه الترمذی فی كتاب الديات، باب الحكم فی الدماء، رقم الحديث : ۱۳۹۶، واخرجه النسائی فی كتاب تحريم الدم، باب تعظيم الدم، رقم الحديث : ۴۰۰۲، واخرجه ابن ماجة فی كتاب الديات، بالتغليظ فی قتل مسلم ظلما، رقم الحديث : ۲۶۱۵.

[2] فتح البارى ۴۸۲/۱۱، ارشاد السارى : ۵۳۷/۱۳، عمدة القارى ۱۷۲/۲۳

د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : مومنان به د جهنم نه خلاصې بیا مومی، خو د جهنم او دوزخ ترمینځه به هغوی په یو پل باندې اودرولې شی او بیا به په یو بله غاړه باندې د دې ظلمونو بدله واخستلې شی او کله چه برابرې اوشی او صفائی راشی نو هغوی ته به جنت ته د تلو اجازت ملاؤ شی. پس قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما نفس دې چه په جنتیانو کښې به هر یو په جنت کښې خپل کور د دنیا د کور په مقابله کښې زیاتې غوره طریقې سره اوپیژنی.

په سند کښې آیت کریمه ﴿ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ ﴾ لره ذکر کولو سره دې طرف ته اشاره اوکړه چه د حدیث متن د دې آیت دپاره د تفسیر په درجه کښې دې.

قوله: ﴿عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ﴾ : د جنت او جهنم ترمینځه دا پل، یا به یو بیل پل وی یا به د مشهور پل صراط یو ګټ وی، علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا به هغه مومنان وی چه د هغوی په باره کښې به الله پاک ته علم وی چه د قصاص په صورت کښې به د هغوی حسنات او نیکئ نه ختمیږی. (۱) دا حدیث، د دې نه مخکښې په مظالم کښې تیر شوې دې.

۴۹: بَابٌ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ عُذِّبَ

د قیامت په ورځ د حساب مناقشه: امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب د حدیث یوه جمله اخستلو سره قائم کړې ده، حدیث، امام په باب کښې ذکر فرمائیلې دې، چه د هغې حاصل دا دې چه د قیامت په ورځ چه د چا سره په حساب کښې مناقشة اوکړې شوه او تپوس ترې شروع شو چه داسې دې ولې اوکړل؟ ولې دې اونکړل؟ نو هغه به په عذاب کښې اخته کړې شی.
د قرآن کریم د سورة انشقاق په آیت کریمه کښې دی چه کومو خلقو ته عمل نامه په ښی لاس کښې ورکړې شی نو د هغوی حساب به آسان وی، سیده عائشه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه د دې حدیث متعلق تپوس اوکړو چه د قرآن کریم په پورته آیت کریمه کښې د حساب ذکر دې او دا به اصحاب میمنة وی او د حدیث نه معلومیږی چه د چا سره حساب کولې شی، هغوی ته به عذاب ورکولې شی.
رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په آیت کریمه کښې د حساب نه صرف پیشی مراد ده، مناقشه نه ده، په حساب کښې چه به د چا مناقشه کولې شی، هغوی به رانیولې شی او هغوی به په عذاب کښې اخته کیږی.

[۶۱۷۱، ۶۱۷۲] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ عُذِّبَ». قَالَتْ قُلْتُ أَلَيْسَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا). قَالَ «ذَلِكِ الْعَرْضُ».

د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د چا په حساب کښې چه سختی اوکړې شی، په هغه باندې عذاب یقینی دې، سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه په دې

(۱) ارشاد الساری : ۵۳۹/۱۳

باندې ترې ما تپوس اوکړو چه ایا د الله پاک دا ارشاد نه دې چه : بیا به نزدې د هغوی نه سپک حساب واخستلې شی. چه د هغې نه معلومیږی چه حساب به د خلاصی موندونکو سره هم وی، رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه د دې نه مراد بس صرف پېښی ده
دا روایت په کتاب العلم کښې تیر شوې دې.

حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الأَسْوَدِ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ -رضي الله عنها- قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- مِثْلَهُ.
وَتَابَعَهُ ابْنُ جُرَيْجٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمٍ وَأَيُّوبُ وَصَالِحُ بْنُ رُسْتُمٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

د عثمان بن الاسود متابعت ابن جریج (عبدالملک بن عبدالعزیز) محمد بن سلیم، ایوب سختیانی او صالح بن رستم کړې دې، د ابن جریج، محمد بن سلیم او ایوب سختیانی متابعت ابو عوانة په خپل صحیح کښې او د صالح بن رستم متابعت اسحاق بن راهویه موصولا نقل کړې دې. [1]

[۶۱۷۲] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ أَبِي صَغِيرَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ هَلَكَ». فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ * فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّمَا ذَلِكِ الْعَرْضُ، وَلَيْسَ أَحَدٌ يُنَاقَشُ الْحِسَابَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ عُذِّبَ». [ر: ۱۰۳]

د سیده عائشه رضی الله عنها نه رایت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل: د کوم سړی نه هم چه د قیامت په ورځ باندې حساب طلب کړې شو، هغه هلاک شو، ما عرض اوکړو، یا رسول اللهﷺ! ایا الله پاک پخپله نه دی فرمائیلی چه : پس د چا اعمال نامه چه د هغه په ښی لاس کښې ورکړې شی نو نزدې به د هغه نه سپک حساب واخستلې شی.
په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه دا خو به صرف پیشی وی، د وئیلو مطلب دا دې چه د قیامت په ورځ چه د چا سره هم په حساب کښې سختی اوکړې شی. په هغه باندې عذاب یقینی دې.

[۶۱۷۳] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ -رضي الله عنه- أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ «يُجَاءُ بِالْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ لَهُ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ

[1]) فتح الباری ۴۸۲/۱۱، ارشاد الساری : ۵۳۷/۱۳، عمدة القاری ۱۷۲/۲۳

الأَرْضِ ذَهَبًا أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ. فَيُقَالُ لَهُ قَدْ كُنْتَ سُئِلْتَ مَا هُوَ أَيْسَرُ مِنْ ذَلِكَ». [۳۱۵۶]

د سیدنا انس بن مالک ﷺ نه روایت دي چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه د قیامت په ورځ باندې به کافر راوستلې شي او د هغه نه به تپوس اوکړې شي چه ستا څه خیال دې؟ که د زمکې برابر تاسره سره زر وی نو آیا هغه به (د خپل خلاصي دپاره) فدیه ورکوې؟ هغه به وائي او: خو هغه وخت به هغه ته اوونیلې شي چه ستا نه (په دنیا) کښې د دې نه ډیر معمولي څیز مطالبه کړې شوې وه (او تا هغه هم پوره نه کړو یعني ایمان او عمل صالح).

[۶۱۷۴] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي خَيْثَمَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَسَيُكَلِّمُهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، لَيْسَ بَيْنَ اللَّهِ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ، ثُمَّ يَنْظُرُ فَلاَ يَرَى شَيْئًا قُدَّامَهُ، ثُمَّ يَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَتَسْتَقْبِلُهُ النَّارُ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَّقِيَ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ».

د سیدنا عدی بن حاتم ﷺ نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: تاسو د هر هر فرد نه الله پاک د قیامت په ورځ داسې کلام کوی چه د الله پاک او د هغه ترمینځه به ترجمان نه وی. بیا چه هغه بنده اوګوری نو هغه ته به یو څیز هم په نظر رانشي، بیا به هغه خپلې مخې ته اوګوری او د هغه مخې ته به اور وی، پس کوم سړې هم چه د اور نه د بچ کیدو استطاعت لری چه (په دې دنیا کښې دې عمل کولو سره) هغه ځان بچ کړی اګر که هغه د کهجورې د یوې ټکړې په ذریعه ولې نه وی. (هغه دې د الله پاک په لاره کښې خرچ کړی او د خپل بچ کیدو بندوبست دې اوکړی).

قَالَ الأَعْمَشُ حَدَّثَنِي عَمْرٌو عَنْ خَيْثَمَةَ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «اتَّقُوا النَّارَ» ثُمَّ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ، ثُمَّ قَالَ «اتَّقُوا النَّارَ» ثُمَّ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ ثَلاَثًا، حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا، ثُمَّ قَالَ «اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ». [ر: ۱۳۴۷]

دا د ماقبل سند سره متصل دې، سیدنا عدی بن حاتم ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د جهنم نه بچ شئ، بیا هغوی خپل مخ مبارک واړولو. بیا ئې اوفرمائیل: د جهنم نه ځان بچ کړئ. او د دې نه پس ئې بیا خپل مخ مبارک واړولو. درې کرته رسول الله ﷺ داسې اوکړل. مونږ دا اوګنړله چه رسول الله ﷺ جهنم لره وینی. بیا ئې اوفرمائیل د جهنم ځان بچ کړئ اګر چه د کهجورې د یوې ټکړې په ذریعه ولې نه وی او چاته چه دا هم ملاؤ نه شي نو هغه د ښه خبرې په ذریعه (دې ځان بچ کړی).

قوله: ﴿وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ﴾: د اور نه ځان بچ کړئ اګر چه د کهجورې د یوې ټکړې په ذریعه وی.

① د دې مطلب دا هم کیدې شي چه د جهنم نه د بچ کیدو هر ممکن کوشش کول پکار دی او د کهجورې په وړه شان ټکړه کښې هم احتیاط کول پکار دی چه هغه چرته حرام او ناجائز نه

وی، د ورې نه وړه گناه هم معمولي نه دی گڼل پکار.
⑦ او دا مطلب هم کیدې شي چه د نیکۍ هر څومره توفیق ملاؤ شی، نیکی کول پکار دی که چاته د یو کهجورې د صدقه کولو موقع ملاویږی نو هغه هم غنیمت گڼل پکار دی. (١)
او په ظاهر دواړو معنو کښې هیڅ تضاد نشته، دواړه مطلبونه کیدې شي.
قوله: ﴿ثُمَّ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ﴾: د اشاح معنی د اعراض کولو، لرې کولو او اړولو راځی، مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ خپل مخ مبارک واړولو، داسې محسوسیده چه اور د هغوی مخې ته ده او رسول الله ﷺ هغې ته گوری او کتلو سره مخ مبارک بل طرف ته اړوی.

٥٠: باب يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ

په جنت کښې د اویا زره کسانو بغیر د حساب نه داخلیدل: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د رسول الله ﷺ د امت مسلمه دپاره زیرې بیان کړې دې، چه د دې امت نه به اویا زره کسان جنت ته ځی!
اویا زره د دې نه عدد معین مراد دې یا د دې نه کثرت مراد دې چه ډیر خلق به جنت ته بې حسابه داخلیږی ځکه چه د اویا عدد په عربۍ کښې د کثرت دپاره راځی.
راجح دا معلومیږی چه د دې نه عدد معین مرادنه دې، بلکه کثرت مراد دې ځکه چه په مسند احمد او بیهقی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دی چه اویا زره کسان به جنت ته ځی، رسول الله ﷺ په هغې کښې د اضافې دعا اوکړه نو د هر زرو کسانو سره د زرو اضافه اوکړې شوه. (٢)
په یو بل روایت کښې دی چه د هر زرو کسانو سره د اویا زره کسانو اضافه اوکړې شوه. (٣)
او په یو دریم روایت کښې په اویا زره کسانو کښې د هر یو سره د اویا زره کسانو اضافه ده. (٤) دغه شان دا تعداد ډیر زیاتیږی او د الله پاک د رحمت دریاب بې کنارې دې، امید هم دا دې چه انشاء الله د دې نه به هم دا کثیرتعداد مراد وی. اللهم اجعلنا منهم....یا ارحم الراحمین!
[٦١٧٥] حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ. وَحَدَّثَنِي أَسِيدُ بْنُ زَيْدٍ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُصَيْنٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَقَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ، فَأَخَذَ النَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ الأُمَّةُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ النَّفَرُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ الْعَشَرَةُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ الْخَمْسَةُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ وَحْدَهُ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا

(١) قال المظهری: يعنی إذا عرفتم ذلک فاحذروا من النار فلا تظلموا أحداً ولو بمقدار شق تمرة ويحتمل أن يراد وأن أمامكم النار فاجعلوا الصدقة جنة بينكم وبينها ولو بشق تمرة. (ارشاد الساری: ١٣/٥٤٣)
(٢) فتح الباری ١١/٥٠٠، ارشاد الساری: ١٣/٥٤٥
(٣) فتح الباری ١١/٥٠٠، ارشاد الساری: ١٣/٥٤٥
(٤) فتح الباری ١١/٥٠٠، ارشاد الساری: ١٣/٥٤٥

سَوَادٌ كَثِيرٌ قُلْتُ يَا جِبْرِيلُ هٰؤُلَاءِ أُمَّتِي قَالَ لَا وَلٰكِنِ انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ. فَنَظَرْتُ فَإِذَا سَوَادٌ كَثِيرٌ. قَالَ هٰؤُلَاءِ أُمَّتُكَ، وَهٰؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا قُدَّامَهُمْ، لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ. قُلْتُ وَلِمَ قَالَ كَانُوا لَا يَكْتَوُونَ، وَلَا يَسْتَرْقُونَ، وَلَا يَتَطَيَّرُونَ، وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ». فَقَامَ إِلَيْهِ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. قَالَ «اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ». ثُمَّ قَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ آخَرُ قَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. قَالَ «سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ». [ر: ٣٢٢٩]

د سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زما مخکښې امتونه پیش کړې شو ، د یو نبی سره پوره امت تیر شو ، د یو نبی سره څو کسان تیر شو ، د یو نبی سره لس کسان تیر شو ، د بعض سره پنځه کسان تیر شو چا چه په هغوی باندې ایمان راوړې وو ، او څه انبیاء یواځې تیر شو (چه په هغوی باندې یو هم ایمان راوړونکې نه وو) بیا ما اوکتل چه د انسانانو یو لوئې جماعت د لرې نه په نظر راغلو ، ما د جبرئیل علیه السلام نه تپوس اوکړو آیا دا زما امت دې؟ هغوی اوفرمائیل : نه بلکه د آسمان طرف ته اوګورئ چه او مې کتل نو د ډیر لوئې جماعت غیر واضح مخونه ښکاره کیدل ، وې فرمائیل چه دا ستاسو امت دې او دا د هغوی مخې ته چه کوم خلق دی ، د هغوی تعداد اویا زره دې ، د هغوی نه به نه حساب اخستلې شی او نه به په هغوی باندې عذاب وی . ما تپوس اوکړو ، داسې به ولې وی؟ هغوی اوفرمائیل : چه د دې وجه دا ده چه دې خلقو به داغونه نه لګول ، غلا به ئې نه کوله ، بد فالی به ئې نه کوله او په خپل رب باندې به ئې اعتماد کولو .

بیا د رسول الله ﷺ طرف ته عکاشه بن محصن رضي الله عنه ورمخکښې شو او عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ ! دعا اوکړئ چه الله پاک ما هم په دغه خلقو کښې داخل کړی ، رسول الله ﷺ دعا اوکړه چه یا الله ! دې هم په دغه خلقو کښې داخل کړه .

د دې نه پس یو بل سړې اودریدلو او عرض ئې اوکړو چه زما دپاره هم دا دعا اوکړئ چه الله پاک ما هم په هغوی کښې داخل کړی ، رسول الله ﷺ په دې باندې اوفرمائیل چه عکاشه ستا نه مخکښې شوې دې

د حدیث شریف دوه سندونه دی او دواړه تلو سره په حصین بن عبدالرحمن واسطی باندې جمع کیږی .

په اول سند کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ عمران بن مسیرة او شیخ الشیخ محمد بن فضیل دې او په دویم سند کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ اسید بن زید او شیخ الشیخ هشیم بن بشیر واسطی دې .

قوله: ﴿سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَة﴾ : د دې دویم سړی دپاره رسول الله ﷺ دعا او نه فرمائیله ، د دې یو وجه خو دا کیدې شی چه دا سلسله به بیا اوږده شوې وه او په حاضرینو کښې به نور هم ډیر حضرات اودریدلې وې او د خپل ځان دپاره به ئې په رسول الله ﷺ باندې دعا کوله . او دا وجه هم کیدې شی چه سیدنا عکاشه رضي الله عنه چه کله اووئیل نو هغه د قبول والی وخت وو ، کوم چه روستو پاتې نه شوه ، په دې وجه روستنی سړی ته رسول الله ﷺ دا جمله ارشاد

اوفرمائيله. او دا هم كيدې شي چه د هغوى په باره كښې رسول الله ﷺ د وحى په ذريعه دا خبره اوفرمائيله. د باقى په باره كښې وحى نه وه راغلې.[1]

[٦١٧٦] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا، تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ». وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ الأَسَدِيُّ يَرْفَعُ نَمِرَةً عَلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. قَالَ «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ» ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. فَقَالَ «سَبَقَكَ عُكَّاشَةُ». [ر: ٥٤٧٤]

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زما د امت يو جماعت به جنت ته داخليږى. چه د هغوى تعداد به اويا زره وى. د هغوى مخونه به داسې روښانه وى لکه د څوارلسمې د شپې سپوږمۍ چه روښانه وى.

سيدنا ابوهريره رضی الله عنه فرمائى چه په دې باندې عكاشه بن محصن رضی الله عنه پاسيدو او خپل څادر كوم چه د هغوى په بدن باندې وو هغه ئې اوچت كړو او عرض ئې اوكړو يا رسول الله ﷺ! د الله پاك نه دعا اوكړئ چه ما هم په هغوى كښې داخل كړى. رسول الله ﷺ دعا اوكړه چه اې الله! دې هم په هغوى كښې داخل كړې، د هغوى نه پس يو بل صاحب پاسيدو او عرض ئې اوكړو. يا رسول الله ﷺ! دعا اوكړئ چه ما هم الله پاك په هغوى كښې داخل كړى، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: عكاشه ستا نه مخكښې شو.

[٦١٧٧] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا أَوْ سَبْعُمِائَةِ أَلْفٍ - شَكَّ فِي أَحَدِهِمَا - مُتَمَاسِكِينَ، آخِذٌ بَعْضُهُمْ بِبَعْضٍ، حَتَّى يَدْخُلَ أَوَّلُهُمْ وَآخِرُهُمُ الْجَنَّةَ، وَوُجُوهُهُمْ عَلَى ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ». [ر: ٣٠٧٥]

د سيدنا سهل بن سعد رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: جنت ته به زما د امت اويا زره يا اويا لاكهه (راوى ته په دې كښې په يو تعداد كښې شك وو)، كسان داخليږى چه بعض به. بعض نورو لره ونيسى دغه شان به جنت ته اول او آخر ټول داخل شى او د هغوى مخونه د څوارلسمې د سپوږمۍ په شان وى.

[٦١٧٨] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ حَدَّثَنَا نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُومُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ يَا أَهْلَ النَّارِ لاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لاَ مَوْتَ، خُلُودٌ». [٦١٨٢]

[1]) فتح البارى ٥٠١/١١، ارشاد السارى : ٥٤٥/١٣

د سیدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چه رسول الله ﷺ فرمائی: چه کله اهل جنت. جنت ته او اهل جهنم جهنم ته داخل شی نو آواز کونکي به د هغوی ترمینځه اودریدلو سره آواز اوکړی چه اې اهل جهنم: په تاسو به مرګ نه راځی. او اې اهل جنت! په تاسو به مرګ نه راځی. بلکه همیشه به هم دلته اوسیږئ

[۶۱۷۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «يُقَالُ لأَهْلِ الْجَنَّةِ خُلُودٌ لاَ مَوْتَ. وَلأَهْلِ النَّارِ يَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ لاَ مَوْتَ»

د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اهل جنت ته به وئیلې شی چه اې اهل جنت! تاسو به همیشه هم دلته اوسیږئ په تاسو به مرګ نه راځی او هل دوزخ ته به وئیلې شی چه اې اهل دوزخ همیشه به تاسو دلته اوسیږئ. په تاسو به مرګ نه راځی

۵۱: باب صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ

وَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ زِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ». عَدْنٌ خُلْدٌ، عَدَنْتُ بِأَرْضٍ أَقَمْتُ، وَمِنْهُ الْمَعْدِنُ، فِي مَعْدِنِ صِدْقٍ، فِي مَنْبِتِ صِدْقٍ.

د دې باب د لاندې امام بخاری رحمه الله هغه احادیث بیان فرمائیلې دی چه په هغې کښې رسول الله ﷺ د جنت او جهنم اوصاف اود هغې کیفیت بیان کړې دی. د سیدنا ابوسعید خدری رضي الله عنه دا تعلیق امام بخاری رحمه الله ځو بابونه مخکښې په باب یقبض الله الارض.....موصولا نقل کړې دې

قوله: ﴿ عَدْنٌ خُلْدٌ عَدَنْتُ بِأَرْضٍ أَقَمْتُ وَمِنْهُ الْمَعْدِنُ ﴾: په قرآن کریم کښې په ډیرو ځایونو کښې د ﴿عدن﴾ لفظ د جنت سره استعمال شوې دې. په سورة توبه کښې دی ﴿فی جنت عدن﴾ یعنی د همیشوالی باغونو کښې. د ﴿عدنت بارض﴾ معنی ده ما په زمکه باندې قیام اوکړو. هلته اوسیدم. هم په دې سره مشهور لفظ معدن دې. یعنی کان د چرته نه چه معدنیات سرۀ زر. سپین زر او پیتل وغیره راویستلې شی.[1]

قوله: ﴿ فِي مَعْدِنِ صِدْقٍ فِي مَنْبِتِ صِدْقٍ ﴾: معدن صدق خلق وائی. د دې ترجمه دۀ ﴿منبت صدق﴾ او په یوه نسخه کښې ﴿مقعد صدق﴾ دې. د معدن په ځائې د ﴿مقعد﴾ لفظ دې. دا لفظ په سورة قمر کښې د جنت په تذکره کښې واقع دې ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ﴾ د مقعد صدق نه داسې مجلس مراد دې چه په هغې کښې څه لغو یا د ګناه

[1] فتح الباری ۵۱۰/۱۱. ارشاد الساری: ۵۴۸/۱۳، عمدة القاری ۱۸۲/۲۳

خبره نه وي، دلته چونکه د جنت ذکر دې، په دې وجه ئې ورسره صدق مناسبت په باب سره واضح دې. خو د ابوعبيده په کلام کښې د معدن صدق معنی منبت صدق ليکلې شوې ده. [1] او د دې نه مخکښې چونکه د عدن لفظ راغلې دې نو د دې لفظ مناسبت هم راځي. هسې هم امام بخاري رحمه الله په معمولي مناسبتونو سره الفاظ ذکر کوي. لکه چه د هغې مشاهده تاسو په کتاب التفسير کښې کړې ده.

[۶۱۸۰] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ أَبِي رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ». [ر: ۳۰۶۹]

د سيدنا عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ما په جنت کښې اوکتل نو د هغه ځائې اوسيدونکی اکثر غريب خلق وو او ما په جهنم کښې اوکتل نو د هغه ځائې اوسيدونکې اکثر زنانه وې.

د ابو رجاء نوم عمران عطاردي دې. د دې حديث راويان ټول بصريان دي.

[۶۱۸۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أُسَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينَ، وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ، غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ». [ر: ۴۹۰۰]

د سيدنا اسامة رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زه د جنت په دروازه باندې اودريدم نو هلته اکثر داخليدونکی مساکين وو او مالدار خلق (جنت ته د داخليدو نه) منع کړې شو (د حساب او قصاص وغيره دپاره)، خو جهنميانو ته اور ته د تلو حکم اوکړې شو او ما د جهنم په دروازه باندې اودريدلو سره اوکتل نو په هغې کښې اکثر داخليدونکې زنانه وې. د اصحاب الجد نه مالدار خلق مراد دی.

[۶۱۸۲] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ حَدَّثَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -
«إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ، وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ، جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ثُمَّ يُذْبَحُ، ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لاَ مَوْتَ، يَا أَهْلَ النَّارِ لاَ مَوْتَ، فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ، وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ» [۶۱۷۸]

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کله اهل جنت جنت ته لاړ شي او اهل دوزخ دوزخ ته لاړ شي نو مرګ به راوستلې شي او هغه به د جنت او دوزخ ترمينځه ذبح کړې شي، بيا به يو آواز کونکې آواز اوکړی چه اې اهل جنت! په تاسو به

[1] فتح الباري ۵۱۰/۱۱، ارشاد الساري : ۵۴۸/۱۳، عمدة القاري ۱۸۲/۲۳

مرګ نه راځي. اې اهل دوزخ! بې له دې نه به مرګ نه راځي، په دې وخت کښې به جنتيان نور هم خوشحاله شي او دوزخيان به نور هم غمژن شي

[٦١٨٣] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ. يَقُولُونَ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ. فَيَقُولُ هَلْ رَضِيتُمْ فَيَقُولُونَ وَمَا لَنَا لاَ نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ. فَيَقُولُ أَنَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. قَالُوا يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ فَيَقُولُ أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلاَ أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا». [٧٠٨٠]

د سيدنا ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک به اهل جنت ته فرمائى: اې اهل جنت! جنتيان به وائى: مونږ حاضر يو اې زمونږ ربه! ستا د فرمانبردارئ دپاره! الله پاک به ترې نه تپوس اوکړى: اوس تاسو خوشحاله يئ؟ هغوى به وائى: مونږ به څنګه خوشحاله نه يو اوس خو تا مونږ ته تا هر هغه څيز راکړو کوم چه دې په خپل مخلوق کښې چاته هم نه دې ورکړې، الله پاک به ورته فرمائى: آيا زه تاسو ته د دې نه هم غوره څيز درنکړم، جنتيان به وائى، اې ربه! د دې نه غوره څيز نور څه کيدې شى؟ الله پاک به فرمائى چه زه اوس ستاسو دپاره خپله رضوان او خوشحالى نازلوم. د دې نه پس به زه ستاسو نه کله هم ناراضه نه شم. (١)

د الله پاک رضا د جنت د ټولو نه لوئې نعمت دې، د قرآن کريم په سورة توبة کښې دى ﴿ورضوان من الله اكبر﴾ او د الله پاک په مناسبت سره ډير لوئې دې. (٢)

[٦١٨٤] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ أُصِيبَ حَارِثَةُ يَوْمَ بَدْرٍ وَهُوَ غُلاَمٌ، فَجَاءَتْ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَرَفْتَ مَنْزِلَةَ حَارِثَةَ مِنِّي، فَإِنْ يَكُ فِي الْجَنَّةِ أَصْبِرْ وَأَحْتَسِبْ، وَإِنْ تَكُنِ الأُخْرَى تَرَى مَا أَصْنَعُ. فَقَالَ «وَيْحَكِ -أَوَهَبِلْتِ- أَوَجَنَّةٌ وَاحِدَةٌ هِيَ جِنَانٌ كَثِيرَةٌ، وَإِنَّهُ لَفِي جَنَّةِ الْفِرْدَوْسِ» [ر: ٢٦٥٤]

د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه حارثه رضي الله عنه د بدر په جنګ کښې شهيد شو، هغوى دې وخت کښې کم عمر وو، نو د هغوى مور د رسول الله ﷺ په خدمت

---

(١) الحديث ايضا اخرجه البخارى فى صحيحه، كتاب التوحيد، باب كلام الرب مع اهل الجنة، رقم الحديث : ٧٥١٨، ومسلم فى صحيحه، كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها، باب احلال الرضوان على اهل الجنة فلا يسخط عليهم ابدا، رقم الحديث : ٧٠٧٠، واخرجه الترمذى فى جامعه، كتاب صفة الجنة، باب محاورة الرب اهل الجنة، احل عليكم رضوانى، رقم الحديث : ٢٥٥٥.

(٢) ارشاد السارى : ٥٥١/١٣

كنبي حاضره شو او عرض ئې اوكړو يا رسول اللهﷺ تاسو ته معلومه ده چه د حارثه سره زما څومره محبت وو. كه هغه په جنت كنبې وي نو زه به صبر اوكړم. او په صبر باندې به د اجر اميد لرم. او كه بل څه خبره وي نو تاسو به كورئ چه زه څه كوم؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل افسوس، ليونئ شوې ئې؟ آيا جنت يو دې څه، هغه خو ډير جنتونه دی. او هغه حارثه رضي الله عنه خو په جنت الفردوس كنبې دې.

﴿أَوَهَبِلْتِ﴾ په دې كنبې همزه داستفهام دپاره دې او واؤ عاطفه دې، معطوف عليه محذوف دې.

﴿هَبِلَتِ المراة﴾: خوئې وركول، دا صيغه معروف او مجهول دواړه طريقو سره استعمال شوې ده. تركيبى عبارت دې، افقدت عقلك ووهبلت: يعنى د بچى په وركيدو باندې ستاسو عقل ورک شوې دې چه په جنت نه پوهيږې؟

[٦١٨٥] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ أَسَدٍ أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا الْفُضَيْلُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ مَسِيرَةُ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ».

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل: د كافر د دواړو اوږو ترمينځه د تيز تلونكى دپاره د درې ورځو د مسافت فاصله ده.

په دې حديث كنبې. د جهنم ذكر نشته، خو د جهنمى ذكر دې، په دې مناسبت سره په ﴿باب صفة النار﴾ سره د دې مطابقت راشى. (١)

[٦١٨٦] وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ سَلَمَةَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لاَ يَقْطَعُهَا».

دا د ماقبل سند سره موصول دې.... او ابن اسحاق بن ابراهيم بيان كړې دې، هغوى ته مغيره بن سلمة خبر وركړو، هغوى ته وهيب حديث بيان كړو، هغوى ابوحازم ته، هغوى ته سهل بن سعد رضي الله عنه او هغوى ته رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه په جنت كنبې يوه اونه ده چه د هغې په سورى كنبې سوارۀ تر سلو كالو پورې د گرځيدو نه پس به هم هغه قطع نه كړې شى.

قَالَ أَبُو حَازِمٍ فَحَدَّثْتُ بِهِ النُّعْمَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ الْجَوَادَ الْمُضَمَّرَ السَّرِيعَ مِائَةَ عَامٍ مَا يَقْطَعُهَا».

دا هم د ماقبل سند سره متصل دې...ابوحازم فرمائى چه بيا ما دا حديث د نعمان بن ابى عياش نه بيان اوكړو چه هغوى اووې چه ماته ابوسعيد حديث بيان كړو، هغوى ته رسول اللهﷺ

(١) ارشاد السارى: ١٣/٥٥١

اوفرمائيل : په جنت كښې به يو: اونه وى چه د هغې په سورى كښې غوره او په تيز رفتار اس باندې سوريدلو سره تر سلو كالو پورې روان وى او بيا به هم هغه قطع نه كړې شى

[۶۱۸۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَوْ سَبْعُمِائَةِ أَلْفٍ - لاَ يَدْرِي أَبُو حَازِمٍ أَيُّهُمَا قَالَ - مُتَمَاسِكُونَ، آخِذٌ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، لاَ يَدْخُلُ أَوَّلُهُمْ حَتَّى يَدْخُلَ آخِرُهُمْ، وُجُوهُهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ». [ر ۳۰۷۵]

د سيدنا سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زما د امت نه به اويا زره يا اويا لاكهه كسان جنت ته ځى. د ابوحازم يقين نه وو چه په روايت كښې كوم يو عدد بيان شوى وو. اويازره يااويا لاكهه... فرمائى چه (هغوى به جنت ته داسې داخليږى چه) يو بل به ئې نيولې وى. يو بل به ئې نيولې وى په هغوى كښې به اولنې لا دننه داخل شوى نه وى چه آخرى سړى به داخل شى. د هغوى مخونه به د څوارلسمې د سپوږمۍ په شان روښانه وى

[۶۱۸۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ الْغُرَفَ فِي الْجَنَّةِ كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ فِي السَّمَاءِ».

قَالَ أَبِي فَحَدَّثْتُ النُّعْمَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ فَقَالَ أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ يُحَدِّثُ وَيَزِيدُ فِيهِ «كَمَا تَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الْغَارِبَ فِي الأُفُقِ الشَّرْقِيِّ وَالْغَرْبِيِّ».

د سيدنا سهل رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : بيشكه اهل جنت به (د خان نه پورته درجو والا) بالاخانې داسې وينى څنګه چه تاسو په آسمان كښې ستورى وينئ

زما والد بيان اوكړو چه بيا ما دا حديث نعمان بن ابى عياش ته بيان كړو نو هغوى اوويې چه زه ګواهى وركوم چه ما د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه واوريدل هغوى به حديث بيانولو او په هغې كښې به ئې دا اضافه كوله چه څنګه چه تاسو په مشرقى يا مغربى اسمانى كنارو كښې پټيدونكې ستورى وينئ.

﴿قال ابى﴾ : دا روايت عبدالعزيز بن حازم د خپل پلار ابو حازم نه نقل كوى، هغوى وائى چه زما پلار ابو حازم وائى چه دا حديث ما نعمان بن ابى عياش ته واورولو نو هغوى اوويې چه زه ګواهى وركوم چه ما هم دا حديث د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه اوريدلې دې او په هغې كښې ﴿كما تراءون الكوكب﴾ اضافه كوى؟

[۶۱۸۹] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى لأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ. فَيَقُولُ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ أَنْ لاَ تُشْرِكَ بِي

شَيْئًا فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي». [ر: ٣١٥٦]

(د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه الله پاک به په قيامت کښې د اهل دوزخ د ټولو نه کم عذاب موندونکي نه تپوس اوکړي، که تاسو ته د زمکې په سر باندې يو څيز ميسر وی نو آيا ته به د هغې فديه (د دې عذاب نه د خلاصيدو دپاره) ورکوې؟ هغه به وائی : او .... الله پاک به فرمائی چه ما ستا نه د دې نه هم د معمولی څيز هغه وخت مطالبه کړې وه، چه کله ته د آدم عليه السلام په شا کښې وې چه ما سره به څوک نه شريکوې، خو تا هم په هغې باندې اصرار کولو چه تا به زما سره شريک جوړوې. (په دې وجه به ته اوس په عذاب کښې گرفتاريږې).

[٦١٩٠] (١) حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ بِالشَّفَاعَةِ كَأَنَّهُمُ الثَّعَارِيرُ». قُلْتُ مَا الثَّعَارِيرُ قَالَ الضَّغَابِيسُ. وَكَانَ قَدْ سَقَطَ فَمُهُ فَقُلْتُ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ أَبَا مُحَمَّدٍ سَمِعْتَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «يَخْرُجُ بِالشَّفَاعَةِ مِنَ النَّارِ». قَالَ نَعَمْ.

د سيدنا جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څه خلق به د جهنم نه د شفاعت په ذريعه داسې راوځی گويا هغوی به (ثعارير) وی، ما تپوس اوکړو (ثعارير) څه څيز دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د دې نه مراد (ضغابيس) (يعنی واړه واړه بادرنگ مراد دی، د بادرنگ سره تشبيه په دې وجه ورکړې شوه چه بادرنگ ډير زر غټيږی او په هغې باندې سپين داغونه هم وی نو دا مطلب هم کيدې شی چه د جهنم نه راوتونکو باندې به نرى نرى سپين وينښته هم وی) دی، د هغوی خولې به پريوتلې (يا رژيدلې) وی.

بيا ما د عمرو بن دينار نه تپوس اوکړو! اې ابو محمد! ما د سيدنا جابر رضي الله عنه نه واوريدل، هغوی بيان اوکړو چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل، هغوی اوفرمائيل : چه د جهنم نه به د شفاعت د وجې نه خلق راوځی، هغوی اوفرمائيل : او.

(الثَّعَارِيرُ) : ثعرور : (په وزن د عصفور) جمع ده، وړو وړو بادرنگو ته وائی چه په هغې باندې داغونه او واړه واړه وينښته وی. (٢)

(ضغابيس) : د ضُغبوس جمع ده واړه بادرنگ، بعض وئيلې دی دا يو قسم ساگ دې. (٣)

(١) اخرجه مسلم فی الايمان، باب : ادنی اهل الجنة منزلا فيها، رقم : ١٩١

(٢) د دې حديث معنی کښې ماته غلطی ښکاره کيږی صحيح دا ده چه : د ثعارير په باره کښې راوی د خپل استاذ عمرو نه تپوس کړې دې او هغوی په ضغابيس سره جواب ورکړې دې او راوی د خپل استاذ په باره کښې وائی چه د هغه غاښونه نه وو. (فتح الباری)

(٣) ارشاد الساری : ٥٥٧/١٣، والنهاية لابن الاثير : ٨٣/٢، والفائق فی غريب الحديث : ١٦٦/١

[٦١٩١] حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ بَعْدَ مَا مَسَّهُمْ مِنْهَا سَفْعٌ، فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ، فَيُسَمِّيهِمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَهَنَّمِيِّينَ ». [٧٠١٢]

د سيدنا انس بن مالك ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : يو جماعت به د جهنم نه د دې نه پس راوځي چه اور به هغوى ته رسيدلې وى او بيا به هغوى جنت ته داخل شي، هغوى ته به جهنميين وئيلې شي.

سفع: د اور نخښه، سوزيدلې ځائې. د اور گرمی. (١)

[٦١٩٢] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ يَقُولُ اللَّهُ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ. فَيُخْرَجُونَ قَدِ امْتُحِشُوا وَعَادُوا حُمَمًا، فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَاةِ، فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ - أَوْ قَالَ - حَمِيَّةِ السَّيْلِ ». وَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « أَلَمْ تَرَوْا أَنَّهَا تَنْبُتُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً ». [ر ٢٢]

د سيدنا ابوسعيد خدرى ﷺ روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کله اهل جنت، په جنت کښې او اهل جهنم به اهل جهنم ته داخل شى نو الله پاک به فرمائى چه دچا په زړه کښې د اورى د دانې برابر ايمان وى نو هغه د دوزخ نه راوباسئ، هغه وخت به خلق راويستلې شى نو هغوى به سوزيدلو سره د سکروټو په شان وى د دې نه پس به هغوى په نهر حياة کښې واچولې شى، نو هغوى به تروتازه شى، څنګه چه د سيلاب په خځو کښې تيغ راوځى، يا ئې ﴿حبة السيل﴾ اووې چه د ﴿حميل السيل﴾ په ځائې او رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه آيا تا نه دې ليدلې چه د هغه دانې نه د زيړ رنګ والا بوټې راوخيژى.

﴿امْتُحِشُوا﴾ هغوى به سوزيدلو وى، د امتحاش معنى د سوزيدو ده.

﴿حُمَم﴾ : د حممة جمع ده، تور سكارهٔ.

﴿الحِبة﴾ (د حاء په کسرې سره) صحرائى تيغ ته وائى، د دې جمع حبب راځى او يو ﴿حبة﴾ (بفتح الحاء) په معنى د عام دانې راځى، د هغې جمع حبوب راځى، دلته حبة په کسرې سره دې، د دې خصوصيت دا وى چه فورا راخيژى. (٢)

---

(١) سعفته النار : اور په هغه باندې حمله اوکړه، ارشاد السارى : ٥٧/١٣، والنهاية : ٧٨٣/١، وعمدة القارى : ١٩١/٢٣.

(٢) علامه قسطلانى رحمه الله ليکى : بزر العشب او البقلة الحمقاء. لانها تنبت سريعا. (ارشاد السارى : ٥٥٨/١٣، والنهاية : ٤٣٣/١.

﴿فی حمیل السیل﴾: سیلاب چه دخان سره کومه خاورد اوزک وغیره راوړی هغې ته حمیل وائی.

﴿ او قال حمیة السیل ﴾ د راوی شک دې چه د ﴿ حمیة ﴾ لفظ ئې ونیلې دې او که د ﴿ حمیل ﴾ د حمیة ترجمه : معظم جری الماء واشتداده سره شارحینو کړې ده. یعنی چرته چه د اوبو بهیدل په تیزئ سره او زیات وی، په بعض نسخو کښې ﴿ حمئة ﴾ راغلې دې، کوم چه تورې خاورې ته وائی. (١)

﴿ صفراء ملتوية ﴾: زیړ او کمزورې، د ﴿ ملتوية ﴾ معنی ده : کمزورې

امام نووی رحمه الله فرمائی :

﴿ لسرعة نباته یکون ضعیفا، ولضعفه یکون اصفر ملتویا، ثم بعد ذلک تشتد قوته ﴾ (٢).

دا حدیث په کتاب الایمان کښې په باب تفاضل اهل الایمان د لاندې تیر شوې دې. (٣)

[۶۱۹۳، ۶۱۹۴] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ سَمِعْتُ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَرَجُلٌ تُوضَعُ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَةٌ يَغْلِي مِنْهَا دِمَاغُهُ».

د سیدنا نعمان رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : د قیامت په ورځ باندې د عذاب په اعتبار سره د ټولو نه کم انسان هغه وی چه د هغه د قدمونو د لاندې به د اور سکروټه کیخودلې شی او د هغې په وجه باندې به : هغه مازغهٔ خوټکیږی.

﴿ اخمص ﴾: باطن قدمیه الذی لا یصل الی الارض عند المشی (٤) یعنی د قدم نه لاندې هغه حصه کومه چه په ګرځیدو کښې د زمکې نه اوچته وی، دا حدیث امام بخاری رحمه الله دلته اول کرت ذکر فرمائیلې دې.

[۶۱۹۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ عَلَى أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ، كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ وَالْقُمْقُمُ».

د سیدنا نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : د قیامت په ورځ باندې به په جهنمیانو کښې د عذاب په اعتبار د ټولو نه کم عذاب موندونکې هغه سړې وی چه د هغې د دواړو خپو د لاندې سکروټې کیخودلې شی، چه د هغې د وجې نه به دهغه دماغ خوټکیږی لکه څنګه چه کټوئ خوټکیږی.

---

(١) عمدة القاری : ۱۹۱/۲۳، ارشاد الساری : ۵۵۸/۱۳

(٢) ارشاد الساری : ۵۵۸/۱۳

(٣) کشف الباری : کتاب الایمان : ۱۰۹/۲

(٤) ارشاد الساری : ۵۵۸/۱۳

﴿ تقم ﴾ لوښي چه په هغې کښې عموما اوبه ګرمولې شي مرجل او قمقم دواړه په يو معنى کښې دى. قمقم د اوبو ګرمولو د لوښى دپاره استعماليږى بعض روايتونو کښې واؤ په حرف عطف سره دي. المرجل والقمقم، زيات واضح دي. (١)

[٦١٩٥] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ خَيْثَمَةَ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- ذَكَرَ النَّارَ فَأَشَاحَ بِوَجْهِهِ فَتَعَوَّذَ مِنْهَا، ثُمَّ ذَكَرَ النَّارَ فَأَشَاحَ بِوَجْهِهِ فَتَعَوَّذَ مِنْهَا، ثُمَّ قَالَ «اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ». [ر: ١٣٤٧]

د سيدنا عدى بن حاتم ﷺ روايت دې چه رسول الله ﷺ د جهنم ذکر کړې دې او مخ مبارک ئې ترې واړولو. بيا ئې د هغه نه پناه اوغوښتله. د دې نه پس فرمائى چه د دوزخ نه ځان بچ کړئ. اګر که د کهجورې په يو ټکړه باندې ولې نه وى، چه چاته دا هم ملاؤ نه شى هغه له پکار دى چه د ښه خبرې په ذريعه (د دوزخ نه ځان بچ کړى).

[٦١٩٦] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ وَالدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ يَزِيدَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رضى الله عنه- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَذُكِرَ عِنْدَهُ عَمُّهُ أَبُو طَالِبٍ فَقَالَ «لَعَلَّهُ تَنْفَعُهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُجْعَلُ فِي ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ، يَبْلُغُ كَعْبَيْهِ، يَغْلِي مِنْهُ أُمُّ دِمَاغِهِ». [ر: ٣٦٧٢]

د سيدنا ابو سعيد خدرى ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د رسول الله ﷺ مخکښې د هغوى د ترۀ ابو طالب ذکر کړې شوې وو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ممکن ده چه د قيامت په ورځ باندې زما شفاعت د هغوى په کار راشى او هغوى د جهنم په کم اور والا حصه کښې واچولې شى، د اور دا حصه به صرف د هغوى د ګيټو پورې وى خو په دې سره به هم د هغوى مازغۀ خوټکيږى.

﴿ ضحضاح ﴾: لږې شان اوبه. دلته ترې لږ اور مراد دې. د يبلغ ضمير د ضحضاح طرف ته راجع دې.

[٦١٩٧] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «يَجْمَعُ اللَّهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُونَ لَوِ اسْتَشْفَعْنَا عَلَى رَبِّنَا حَتَّى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا. فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ أَنْتَ الَّذِي خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ، وَأَمَرَ الْمَلاَئِكَةَ فَسَجَدُوا لَكَ، فَاشْفَعْ لَنَا عِنْدَ رَبِّنَا. فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ - وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ وَيَقُولُ - ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ رَسُولٍ بَعَثَهُ اللَّهُ. فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ - وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ - ائْتُوا إِبْرَاهِيمَ الَّذِي اتَّخَذَهُ اللَّهُ خَلِيلاً. فَيَأْتُونَهُ، فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ - وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ - ائْتُوا مُوسَى الَّذِي كَلَّمَهُ اللَّهُ فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ، فَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ - ائْتُوا عِيسَى فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ، ائْتُوا مُحَمَّدًا صلى الله عليه وسلم فَقَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ فَيَأْتُونِي فَأَسْتَأْذِنُ

(١) النهاية: ٢/٤٩١

عَلَى رَبِّي، فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا، فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللهُ، ثُمَّ يُقَالُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، سَلْ تُعْطَهْ، وَقُلْ يُسْمَعْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ. فَأَرْفَعُ رَأْسِي، فَأَحْمَدُ رَبِّي بِتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِي، ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا، ثُمَّ أُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ، وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ، ثُمَّ أَعُودُ فَأَقَعُ سَاجِدًا مِثْلَهُ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ حَتَّى مَا بَقِيَ فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ» وَكَانَ قَتَادَةُ يَقُولُ عِنْدَ هَذَا أَيْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ. [ر: ۴۲۰۶]

د سیدنا انس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله پاک به د قیامت په ورځ باندې خلق راجمع کړي، هغه وخت به خلق وائی چه که مونږ د خپل رب په حضور کښې د چا شفاعت یو سو نو فائده مند کیدې شي، ممکنه ده چه الله پاک مونږته د دې حالت نه آرام راکړي.

پس خلق به سیدنا آدم علیه السلام ته راشي او عرض به کوي. هم تاسو هغه انسان یئ کوم چه الله پاک په خپل لاس باندې جوړ کړو، او په تاسو کښې ئې خپل روح او پوکلو او بیا ئې ملائکو ته حکم اوکړو نو هغوی تاسو ته سجده اوکړه، تاسو زمونږ شفاعت زمونږ د رب په نزد اوکړئ، هغوی به وائی زه د دې قابل نه یم. بیا به هغوی د خپل لغزش ذکر کوي او وائی به چه نوح علیه السلام ته لاړ شئ، هغه د ټولو نه اول رسول دې، کوم چه الله پاک رالیږلي دې.

خلق به نوح علیه السلام ته راشي خو هغوی به هم دا جواب اوکړي چه زه د دې قابل نه یم. هغوی به خپل لغزش ذکر کړي او وائی به چه ابراهیم علیه السلام ته لاړ شئ، د چا نه چه الله پاک خپل خلیل جوړ کړې وو خلق به هغه ته راشي خو هغوی به هم داسې وائی چه زه د دې قابل نه یم، هغوی به د خپل لغزش ذکر کوي او وائی به چه موسی علیه السلام ته لاړ شئ، د چا سره چه الله پاک کلام کړې دې.

خلق به موسی علیه السلام ته لاړ شي خو هغوی به هم وائی چه زه د دې قابل نه یم، د خپل لغزش ذکر به کوي او وائی به چه عیسی علیه السلام ته لاړ شئ.

خلق به عیسی علیه السلام ته لاړ شي خو هغوی به هم فرمائی چه زه د دې قابل نه یم، محمد ﷺ ته لاړ شئ، ځکه چه د هغوی مخکښې روستو ټول ګناهونه معاف کړې شوې دی.

پس خلق به ماته راشي، هغه وخت به زه د خپل رب نه (د شفاعت) اجازت اوغواړم او په سجده کښې به پریوځم، الله پاک چه څومره وخت غواړي ما به په سجده کښې پریږدي، بیا به اوویلې شي چه خپل سر اوچت کړه، چه څه غواړې درکولې به شي، وایه! اوریدلې به شي، شفاعت کوه، شفاعت به دې قبلولې شي. زه به د خپل رب هغه وخت حمد او ثناء بیانوم، داسې کومه چه به ماته زما رب ښائي، بیا به زه شفاعت کوم او زما دپاره به حد مقرر کړې شي، زه به خلقو لره د جهنم نه ویستلو سره جنت ته داخل کړم، بیا به زه راشم او داسې به په سجده کښې پریوځم، دریم یا څلورم کرت...... او اوس (د شفاعت د قبلیدو او د جهنم نه ویستلو سره جنت ته د بوتلو نه پس) به په جهنم کښې صرف هم هغه خلق باقي پاتې شي کوم چه قرآن منع کړې دی، یعنی مشرکین او کفار ومنافقین چه د هغوی په باره کښې دی چه هغوی ته به بخښنه نه شي کولې، چه د هغوی په جهنم کښې د اوسیدو ذکر په قرآن کریم کښې په صراحت سره موجود دې، امام قتادة به په دې موقع باندې فرمائیل چه د دې نه مراد دا دې چه په کومو خلقو باندې په جهنم کښې خلود او همیشګی ده.

[٦١٩٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنِ الْحَسَنِ بْنِ ذَكْوَانَ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ - رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ، يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ».

د سیدنا عمران بن حصین رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : یو جماعت به د جهنم نه دمحمد ﷺ د شفاعت په وجه باندې راوځی، او جنت ته به داخل شی، چه د هغوی نوم په جهنمیین کیخودلې شی.

[٦١٩٩] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُمَّ حَارِثَةَ أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ هَلَكَ حَارِثَةُ يَوْمَ بَدْرٍ، أَصَابَهُ غَرْبُ سَهْمٍ. فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْتَ مَوْقِعَ حَارِثَةَ مِنْ قَلْبِي، فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ لَمْ أَبْكِ عَلَيْهِ، وَإِلاَّ سَوْفَ تَرَى مَا أَصْنَعُ. فَقَالَ لَهَا «هَبِلْتِ، أَجَنَّةٌ وَاحِدَةٌ هِيَ إِنَّهَا جِنَانٌ كَثِيرَةٌ، وَإِنَّهُ فِي الْفِرْدَوْسِ الأَعْلَى».

د سیدنا انس رضي الله عنه نه روایت دي چه د سیدنا حارثه رضي الله عنه مور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه، حارثه رضي الله عنه د بدر په جنګ کښې د یو نامعلوم غشی لګیدو د وجې نه شهید شوې وو هغوی راتلو سره اووې. یا رسول الله ﷺ! تاسو ته معلومه ده چه د حارثه سره زما څومره د زړه تعلق دې، که هغه په جنت کښې وی نو زه به په هغه باندې نه ژاړم، ګینې تاسو به اوګورئ چه زه څه کوم، رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل : لیونئ شوې ئې؟ ولې جنت یو دې څه؟ جنتونه خو ډیر دی او حارثه په الفردوس الاعلی (د جنت په اوچته درجه) کښې دې.

وَقَالَ «غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ أَوْ مَوْضِعُ قَدَمٍ مِنَ الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى الأَرْضِ، لأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلأَتْ مَا بَيْنَهُمَا رِيحًا، وَلَنَصِيفُهَا - يَعْنِي الْخِمَارَ - خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا». [ر: ٢٦٣٩، ٢٦٥٤]

دا د ماقبل سند سره متصل دې...... او رسول الله ﷺ فرمائی چه د الله پاک په لاره کښې یو سحر او یو ماښام د دنیا وما فیها نه غوره دې او په جنت کښې ستاسو د یوې لیندۍ برابر ځائې یا د یو قدم فاصلې ځائې د دنیا وما فیها نه غوره دې او که د جنت د زنانوُ نه یوه زنانه د زمکې طرف ته راښکاره شی نو ټوله فضاء به منور کړی او ټوله فضاء به د خوشبوئ نه ډکه کړی او د هغې صرف لوپټه د دنیا وما فیها نه غوره ده.

[٦٢٠٠] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ يَدْخُلُ أَحَدٌ الْجَنَّةَ إِلاَّ أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، لَوْ أَسَاءَ، لِيَزْدَادَ شُكْرًا، وَلاَ يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ إِلاَّ أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، لَوْ أَحْسَنَ، لِيَكُونَ عَلَيْهِ حَسْرَةً».

د سیدنا ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : جنت ته چه څوک هم داخل شی، هغه ته به د هغه د جهنم استوګنه هم اوښودلې شی، چه که نافرمانې دې کړې وې (نو هلته به درته ځائې ملاویدو) چه هغه نور هم زیات شکر اوکړی او څوک هم چه جهنم ته داخل

شی. هغه ته به د هغه د جنت استوګنه هم ښودلې شي چه که نيک عمل دې کړې وې نو هلته به درجه ځائې ملاوْ شوې وې، چه د هغه دپاره دا نظاره د ارمان و افسوس باعث شي.

[۶۲۰۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- أَنَّهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ «لَقَدْ ظَنَنْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْ لاَ يَسْأَلَنِي عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ، لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الْحَدِيثِ، أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. خَالِصًا مِنْ قِبَلِ نَفْسِهِ». [ر: ۹۹]

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه ما رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو. يا رسول اللهﷺ: د قيامت په ورځ به ستا د شفاعت سعادت د ټولو نه زيات چاته نصيب کيږي؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل: چه اې ابوهريره! زما هم دا خيال وو چه دا حديث به ستا نه مخکښې زما نه بل څوک نه تپوس کوی. ځکه چه د حديث متعلق زه ستا ډير شوق وينم. د قيامت په ورځ باندې به زما د شفاعت سعادت د ټولو نه زيات هغه چاته حاصل وی چا چه ﴿لا اله الا الله﴾ کلمه د زړه په خلوص سره وئيلې وی.

دا حديث په کتاب العلم کښې په باب الحرص على الحديث د لاندې تير شوې دې.

د شفاعت قسمونه: په دې حديث کښې د رسول اللهﷺ د شفاعت ذکر دې چه کوم سړی بغير د څه جبر او اکراه د خپل طرف نه، د زړه په خلوص سره کلمه طيبه لوستلې وی. هغه ته به د رسول اللهﷺ د شفاعت سعادت حاصل وی. رسول اللهﷺ په مختلف مواقع باندې د مختلفو خلقو دپاره سفارش کوی، قاضی عياض رحمه الله د هغې پنځه قسمونه ليکلې دی:

① اول شفاعت. شفاعت عظمى دې، دا هغه سفارش دې چه د هغې ذکر په حديث الباب کښې تير شوې دې چه په ميدان حشر کښې به د حساب دپاره خلق راجمع شي او حساب به نه شروع کيږي، رسول اللهﷺ به سفارش فرمائی او د هغوی سفارش به قبولې شي. امام نووی رحمه الله فرمائی چه هم دا مقام محمود دې، چه د هغې ذکر د سورة اسراء په آيت کريمه کښې دې: ﴿عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا﴾

د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه په روايت کښې دی چه د رسول اللهﷺ نه د مقام محمود په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائيل د دې نه مراد شفاعت دې.

② ډير خلق به بغير د حساب نه جنت ته د رسول اللهﷺ په سفارش باندې داخليږی. دا د شفاعت دويم صورت دې.

③ د ډيرو خلقو به حساب شوې وی او د عذاب مستحق به وی خو د رسول اللهﷺ په سفارش سره به هغوی د عذاب نه بچ کيدلو سره جنت ته لاړ شي.

④ څلورم شفاعت به د هغه خلقو دپاره وی کوم چه به د خپلې ګناه د وجې نه جهنم ته تلې وی، خو د رسول اللهﷺ په شفاعت سره به هغوی د جهنم نه راويستلې شي.

⑤ پنځم شفاعت د جنتیانو د درجاتو سره متعلق دي چه د بعض مومنانو دپاره، په جنت کښې د اوچتو درجاتو والا جنت سفارش به رسول الله ﷺ کوی او د هغوی په سفارش سره به د هغوی درجات زیات شي.(١)

[٦٢٠٢] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - « إِنِّي لأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا، وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولاً رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ كَبْوًا، فَيَقُولُ اللَّهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ. فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلأَى، فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلأَى، فَيَقُولُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ. فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلأَى. فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلأَى، فَيَقُولُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا. أَوْ إِنَّ لَكَ مِثْلَ عَشَرَةِ أَمْثَالِ الدُّنْيَا. فَيَقُولُ تَسْخَرُ مِنِّي، أَوْ تَضْحَكُ مِنِّي وَأَنْتَ الْمَلِكُ ». فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، وَكَانَ يُقَالُ ذَلِكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً. [٧٠٧٣]

د سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. زه به پوهیږم چه د اهل جهنم نه به څوک د ټولو نه په آخر کښې راوځی. او په اهل جنت کښې به څوک د ټولو نه آخری هغې ته داخلیږی.

یو سړې به د جهنم نه پرمخې غورځیدلې راوځی. الله پاک به هغه ته وائی چه لاړ شه او جنت ته داخل شه. هغه به د جنت دروازې ته راشی. خو هغه ته به معلومه شی چه جنت ډک شوې دې. پس هغه به واپس راشی. او عرض به کوی، اې زما ربه: ما خو جنت ډک بیا موندلو، الله پاک به بیا هغه ته اوفرمائی: لاړ شه او جنت ته داخل شه. هغه به بیا راشی خو هغه ته به داسې معلومیږی چه جنت ډک شوې دې، هغه به واپس شی او عرض به کوی: اې ربه! ما جنت ډک بیا موندلو. الله پاک به ورته فرمائی: لاړ شه او جنت ته داخل شه، تاته د دنیا او د هغې نه لس چنده زیات جنت درکولې شی. هغه سړې به وائی: ته ما سره ټوقې کوې حال دا چه شهنشاه ئې! ما آوکتل چه په دې موقع باندې رسول الله ﷺ په خندا شو او د هغوی غاښونه مبارک ښکاره شو. او د هغه سړی په باره کښې به وئیلې شی چه: دا په جنت کښې ادنی جنتی دې.

[٦٢٠٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنِ الْعَبَّاسِ - رضى الله عنه - أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - هَلْ نَفَعْتَ أَبَا طَالِبٍ بِشَيْءٍ. [ر: ٣٦٧٠]

د سیدنا عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، آیا تاسو ابو

---

(١) اوګورئ: نسیم الریاض فی شرح شفاء القاضی عیاض. فصل فی تفصیله بالشفاعة والمقام المحمود: ٣/١٩٣-٢٢٠، وارشاد الساری ١٣/٥٦٧

طالب ته څه فائده اورسوله؟

په دې حدیث کښې صرف سوال دې او رسول الله ﷺ چه کوم جواب ورکړې دې هغه پکښې نشته، په کتاب الادب کښې دا روایت تیر شوې دې، په هغې کښې جواب دتې،

پوره حدیث دا دې: ﴿هَلْ نَفَعْتَ أَبَا طَالِبٍ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَغْضَبُ لَكَ قَالَ نَعَمْ هُوَ فِي ضَحْضَاحٍ مِنْ نَارٍ لَوْلَا أَنَا لَكَانَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾ [1]

یعنی سیدنا عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه ابوطالب به ستاسو حفاظت کولو او ستاسو دپاره به په خلقو ته غصه کیدو او خفه کیدو نو آیا تاسو هغوی ته څه فائده اورسوله؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: او! هغه به په معمولی اور کښې وی، که زه نه وې نو هغه به د جهنم په بالکل لاندې حصه کښې وې.

۵۲: باب الصِّرَاطُ جَسْرُ جَهَنَّمَ

پل صراط: ﴿جِسر﴾ د جیم په فتحې او کسرې سره، پل ته وائی امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د پل صراط ذکر کړې دې کوم چه په جهنم باندې واقع دې او په هغې باندې تیریدلو سره به جنت ته داخله کولې شي، دا پل د ویښته نه زیات نرې دې او د تورې نه زیات تیره دې. [2] امام فضیل بن عیاض رحمه الله نقل کړی دی چه دا پل د پنځلس زرو کالو په مسافت باندې مشتمل دې، پنځه زره کاله د کوزیدو، پنځه زره کاله د ختلو او پنځه زره کاله ئې د تلو مسافت دې. [3]

[۶۲۰۴] [4] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي سَعِيدٌ وَعَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُمَا عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. وَحَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أُنَاسٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ «هَلْ تُضَارُّونَ فِي الشَّمْسِ، لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ». قَالُوا لاَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «هَلْ تُضَارُّونَ فِي الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، لَيْسَ دُونَهُ سَحَابٌ». قَالُوا لاَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَذَلِكَ، يَجْمَعُ اللَّهُ النَّاسَ فَيَقُولُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْهُ، فَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الشَّمْسَ، وَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الْقَمَرَ،

---

[1] فتح الباری ۵۴۱/۱۱، ارشاد الساری: ۵۶۹/۱۳، عمدة القاری ۲۰۱/۲۳

[2] ارشاد الساری: ۵۷۰/۱۳

[3] ارشاد الساری: ۵۷۰/۱۳، نسیم الریاض فی شرح شفاء القاضی عیاض. القسم الاول: ۲۱۶/۳

[4] (تضارون) تضرون احدا او یضرکم احد، بمنازعة ومضایقة. (یجیز) یمشی علیه ویقطعه. (به) ای بالجسر الذی علی جهنم، قال النووی: مذهب اهل السنة ان رؤیة المومنین ربهم ممکنة، ثم قال: فقد تضافرت الادلة من الکتاب والسنة واجماع الصحابة وسلف الامة علی اثباتها فی الآخرة للمؤمنین، قال العینی: روی فی اثبات الرؤیة حدیث الباب وعن نحو عشرین صحابیا. [۱۳۳/۲۳]

وَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الطَّوَاغِيتَ، وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا، فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فِي غَيْرِ الصُّورَةِ الَّتِي يَعْرِفُونَ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ، هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا أَتَانَا رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فِي الصُّورَةِ الَّتِي يَعْرِفُونَ فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ. فَيَقُولُونَ أَنْتَ رَبُّنَا، فَيَتْبَعُونَهُ وَيُضْرَبُ جِسْرُ جَهَنَّمَ». قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ، وَدُعَاءُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ، وَبِهِ كَلاَلِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، أَمَا رَأَيْتُمْ شَوْكَ السَّعْدَانِ». قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، غَيْرَ أَنَّهَا لاَ يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلاَّ اللَّهُ، فَتَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ، مِنْهُمُ الْمُوبَقُ بِعَمَلِهِ، وَمِنْهُمُ الْمُخَرْدَلُ، ثُمَّ يَنْجُو، حَتَّى إِذَا فَرَغَ اللَّهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ عِبَادِهِ، وَأَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ مِنَ النَّارِ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ، مِمَّنْ كَانَ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، أَمَرَ الْمَلاَئِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوهُمْ، فَيَعْرِفُونَهُمْ بِعَلاَمَةِ آثَارِ السُّجُودِ، وَحَرَّمَ اللَّهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ مِنِ ابْنِ آدَمَ أَثَرَ السُّجُودِ، فَيُخْرِجُونَهُمْ قَدِ امْتُحِشُوا، فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءٌ يُقَالُ لَهُ مَاءُ الْحَيَاةِ، فَيَنْبُتُونَ نَبَاتَ الْحِبَّةِ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ، وَيَبْقَى رَجُلٌ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ عَلَى النَّارِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ قَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا، فَاصْرِفْ وَجْهِي عَنِ النَّارِ فَلاَ يَزَالُ يَدْعُو اللَّهَ. فَيَقُولُ لَعَلَّكَ إِنْ أَعْطَيْتُكَ أَنْ تَسْأَلَنِي غَيْرَهُ. فَيَقُولُ لاَ وَعِزَّتِكَ لاَ أَسْأَلُكَ غَيْرَهُ. فَيَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ، ثُمَّ يَقُولُ بَعْدَ ذَلِكَ يَا رَبِّ قَرِّبْنِي إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ. فَيَقُولُ أَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لاَ تَسْأَلَنِي غَيْرَهُ، وَيْلَكَ ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ. فَلاَ يَزَالُ يَدْعُو. فَيَقُولُ لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَ ذَلِكَ تَسْأَلُنِي غَيْرَهُ. فَيَقُولُ لاَ وَعِزَّتِكَ لاَ أَسْأَلُكَ غَيْرَهُ. فَيُعْطِي اللَّهَ مِنْ عُهُودٍ وَمَوَاثِيقَ أَنْ لاَ يَسْأَلَهُ غَيْرَهُ، فَيُقَرِّبُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَإِذَا رَأَى مَا فِيهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَسْكُتَ، ثُمَّ يَقُولُ رَبِّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ. ثُمَّ يَقُولُ أَوَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لاَ تَسْأَلَنِي غَيْرَهُ، وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لاَ تَجْعَلْنِي أَشْقَى خَلْقِكَ. فَلاَ يَزَالُ يَدْعُو حَتَّى يَضْحَكَ، فَإِذَا ضَحِكَ مِنْهُ أَذِنَ لَهُ بِالدُّخُولِ فِيهَا، فَإِذَا دَخَلَ فِيهَا قِيلَ تَمَنَّ مِنْ كَذَا. فَيَتَمَنَّى، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ تَمَنَّ مِنْ كَذَا. فَيَتَمَنَّى حَتَّى تَنْقَطِعَ بِهِ الأَمَانِيُّ فَيَقُولُ لَهُ هَذَا لَكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ». قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَذَلِكَ الرَّجُلُ آخِرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولاً.
قَالَ وَأَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ، لاَ يُغَيِّرُ عَلَيْهِ شَيْئًا مِنْ حَدِيثِهِ حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَوْلِهِ «هَذَا لَكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ». قَالَ أَبُو سَعِيدٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «هَذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ». قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَفِظْتُ «مِثْلُهُ مَعَهُ». [ر: ٧٧٣]

د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه څه خلقو عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! آيا د قيامت په ورځ باندې به مونږ خپل رب ليدلې شو؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : آيا د نمر په کتلو کښې څه تکليف وی چه کله په هغه باندې وريځ نه وی؟
صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو : نه يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ تپوس اوکړو : آيا که چه وريځ نه وی نو تاسو ته د څوارلسمې د سپوږمۍ په ليدو کښې څه تکليف وی؟ صحابه

كرامو ﷺ عرض اوكړو : نه يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ببه تاسو هم دغه شان په قيامت كښې خپل رب وينئ.
الله پاك به خلق راجمع كړى چه په تاسو كښې چه چا د كوم څيز عبادت كولو هغه دې هغې پسې روان شى. پس كومو خلقو چه د نمر عبادت كولو هغوى به په هغه پسې روان شى. چا چه د سپوږمۍ بندګى كوله هغوى به په هغې پسې روان شى. چا چه د بتانو بندګى كوله هغوى به په هغوى پسې روان شى. او په آخر كښې به دا امت باقى پاتې شى. په دوى كښې به د منافقانو جماعت هم وى. هغه وخت به الله پاك هغوى ته په داسې صورت كښې راشى كوم چه به هغوى پيژنى نه. او الله پاك به ورته وائى زه ستاسو رب يم. خلق به وائى مونږ ستا نه په الله پاك پورې پناه غواړو مونږ دلته يو او زمونږ رب به مونږ ته راځى. چه كله زمونږ رب راشى نو مونږ به ئې اوپيژنو.
پس الله پاك به هغوى ته په داسې صورت كښې راشى كوم چه به هغوى اوپيژنى. او فرمائى به چه زه ستاسو رب يم. خلق به وائى ته زمونږ رب ئې. او بيا به په هغه پسې روان شى او د جهنم پل به جوړ كړې شى. رسول الله ﷺ فرمائى چه زه به د ټولو نه اولنې سړې يم كوم چه به په دې پل باندې تيريږى. او هغه ورځ به د رسولانو دا دعا وى : اې الله ! سلامتى راكړه. سلامتى راكړه. او د دې پل سره به د ماركونډو د ازغنو په شان ازغى لګيدلې وى. تاسو د ماركونډو ازغى ليدلې دى؟ صحابه كرامو ﷺ عرض اوكړو : ولې نه يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : نو هغه ازغى به د ماركونډۍ د ازغو په شان وى. خو د هغې پلن والې او اوږد والې د الله پاك نه سوا چاته هم نه دې معلوم. هغه به خلق د هغوى د اعمالو مطابق اونيسى او دغه شان به په هغوى كښې بعض خو د خپل عمل د وجې نه هلاک شى او د بعض بدنونه به د اورى د دانې برابر كټ شوې وى. بيا به هغه خلاصې بيا مومى.
آخر چه كله الله پاك د خپلو بندګانو ترمينځه د فيصلې كولو نه فارغ شى او د جهنم نه د هغوى راويستل غواړى د كومو د راويستلو چه د الله پاك اراده وى. يعنى هغه خلق چا چه د ﴿لا اله الا الله﴾ ګواهى وركړې وى، نو الله پاك به فرشتو ته حكم وركړى چه هغوى دې داسې افراد د جهنم نه راوباسى، فرشتې به هغوى د سجدو د نخښو نه اوپيژنى. ځكه چه الله پاك په اور باندې حرام كړې ده چه د ابن ادم د بدن د سجدې نخښې ختم كړى
پس فرشتې به هغه خلق راوباسى، دوى به سوزيدو سره سكاره شوې وى. بيا به په هغوى باندې اوبه اچوى كومو ته چه ﴿ماء الحياة﴾ د ژوند اوبه، وئيلې شى هغه وخت به هغوى تروتازه شى. لكه د سيلاب په خټو كښې د راوړې دانې تيغ چه راوټوكيږى.
يو سړې به داسې باقى پاتې شى چه د هغه مخ به د جهنم طرف ته وى او هغه به وائى: اې زما ربه ! د دې لمبو زه سيزلې يم او د دې تيزۍ زه سيزلې يم، زما مخ د اور نه بل طرف ته واړوه. هغه به هم دغه شان د الله پاك نه غوښتنه كوى، آخر به ورته الله پاك اوفرمائى : كه زه ستا دا مطالبه پوره كړم نو د بل څيز غوښتنه شروع كړې. هغه سړې به عرض اوكړى نه! ستا په عزت مې دې قسم وى د دې نه سوا به بل څيز نه غواړم!

پس د هغه مخ به د جهنم نه بل طرف ته واړولي شي. اوس به د دې نه پس هغه وائي. اې زما ربه: ما د جنت د دروازې ته ورنزدې کړه. الله پاک به ورته فرمائي: تا اوس دا خبره نه وه کړې چه د دې نه سوا به بل څيز نه غواړې؟. افسوس: د ادم خويه: د خومره وعده خلافي کوې. بيا هغه برابر هم دغه شان غوښتنه کوي. او آخر به ورته الله پاک وائي چه که زه ستا دا دعا پوره کړم نو ته به د دې نه علاوه د بل څيز غوښتنه کوې، هغه به وائي چه نه: ستا په عزت مې دې قسم وي زه به د دې نه سوا بل څيز هم نه غواړم. هغه به د الله پاک سره عهد او لوظ کوي. چه د دې نه سوا به بل څيز هم نه غواړم. پس الله پاک به هغه د جنت دروازې ته ورنزدې کړي. چه کله هغه د جنت دننه نعمتونو ته اوګوري نو د خومره مودې پورې چه الله پاک غواړي هغه سړې به هم خاموش وي. بيا به وائي. اې زما ربه: ما جنت ته داخل کړه. الله پاک به ورته فرمائي: تا نه وو وئيلي چه ته به د دې نه علاوه بل څيز نه غواړې. افسوس اې ابن ادم: ته څومره لوظ ماتونکې ئې. هغه سړې به عرض اوکړي: اې الله: ما په خپل مخلوق کښې د ټولو نه بدبخته مه جوړوه. هغه به برابر دا دعا کوي. تردې چه الله پاک به اوخاندي: چه کله الله پاک اوخاندي نو هغه ته به جنت ته د تلو اجازت هم ملاؤ شي

چه کله هغه جنت ته دننه لاړ شي نو هغه ته به اووئيلي شي چه د فلانې څيز خواهش اوکړه. پس هغه به د هغې خواهش کوي. د دې نه پس به ورته بيا اووئيلي شي چه د فلانې څيز خواهش اوکړه. پس هغه به بيا دهغې خواهش اوکړي. تردې چه د هغه خواهشات به ختم شي د دې نه پس به هغه ته اووئيلي شي چه ستا دا ټول خواهشات پوره کولې شي او هم دومره درته نور نعمتونه هم درکولې شي.

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه هغه سړې به جنت ته د ټولو نه آخرې داخليدونکې وي. عطاء بن يزيد رحمه الله فرمايي چه سيدنا ابو سعيد رضي الله عنه هم دې وخت کښې د ابوهريره رضي الله عنه سره ناست وو او هغوی د ابوهريره رضي الله عنه په حديث کښې هيڅ قسم تصحيح او تبديلي اونکړه. خو چه کله سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د حديث دې ټکې ته راورسيدلو چه ستا دا ټول خواهشات پوره کولې شي او هم دومره نور نعمتونه درکولې شي: نو ابوسعيد رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: ستا دا ټول خواهشات پوره کولې شي او د دې نه لس چنده نور هم درکولې شي، سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چه ماته تر د ﴿ومثله معه﴾ (پس هم دومره) الفاظ ياد دي.

د سند وضاحت. امام بخاري رحمه الله دا حديث په دوه طريقو سره نقل کړې دې او دواړه طريق په امام زهري رحمه الله باندې تلو سره جمع کيږي.

① په اول طريق کښې د امام بخاري رحمه الله شيخ ابواليمان (حکم بن نافع) دې. د هغوی شيخ شعيب بن ابی حمزة دې او هغوی د امام زهري رحمه الله نه نقل کوي. د امام زهري رحمه الله دوه شيوخ دي. سعيد بن المسيب. او عطاء بن يزيد په دې طريق کښې د امام بخاري او امام زهري رحمهما الله ترمينځه صرف دوه واسطې دي.

② دويم طريق د امام بخاري رحمه الله شيخ محمود بن غيلان دې، د هغوی شيخ عبدالرزاق بن

همام او د هغوی شيخ معمر بن راشد دي او معمر. د امام زهري رحمه الله نه نقل کوي او امام زهري رحمه الله د عطاء بن يزيد نه روايت کوي، په دې طريق کښې : امام زهري رحمه الله يو شيخ دې، په اول طريق کښې دوه وو، دغه شان په دې طريق کښې : امام بخاري او امام زهري ترمينځه درې واسطې دی، په اول طريق کښې دوه واسطې وې، د حديث الفاظ هم د دې دويم طريق دی. (١)

قوله: ﴿وبه كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ ﴾: ﴿كلاليب﴾ : د **﴿كلوب﴾** (بروزن تنور) جمع ده. زنبور، ازغنو والا، اوسپنه، ازغې، د **﴿به﴾** ضمير د جسر طرف ته راجع دې. **سعدان** : (د سين په فتحې سره) دا يو ازغنو والا بوټۍ دې (مونږ ورته مارکونډۍ وايو) **﴿شَوْك﴾** : ازغنه. ابن عربي رحمه الله فرمائی چه د دنيا نفسانی خواهشات به د هغه ازغنو په صورت کښې ظاهر شی چه د هغې طرف ته په حديث کښې اشاره اوکړې شوه. **﴿خفت النار بالشهوات﴾** (٢)

قوله: ﴿مِنْهُمُ الْمُوبَقُ بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمُ الْمُخَرْدَلُ ﴾: ﴿موبق﴾ د باب افعال نه د اسم مفعول صيغه ده، هلاک کړې شوې سړې، **﴿ المخردل ﴾** : زخمی شوې سړې چه د هغې اندامونه د اوری د دانې برابر واړه واړه غوځ شوې وی، پس علامه کرمانی رحمه الله فرمائی :

﴿ المخردل : المصروع، وما تقطع اعضاؤه ای جعل كل قطعة منه بمقدار خردلة ﴾ (٣) د دې نه هغه مومن مراد دې کوم چه گناهګار وی

﴿ امْتُحِشُوا﴾ : دا د ماضی مجهول صيغه ده او معروفه هم استعماليږی، سوزيدلې به وی.

علامه ابن اثير رحمه الله ليکی : **﴿ ای احترقوا، والمحش : احتراق الجلد، وظهور العظم ﴾** (٤)

قوله: ﴿قَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا﴾: ﴿تشب﴾ معنی تکليف ورکول او د بد لګيدو ده، يعنی د دې هوا ماته تکليف راکوی، **ذکاء** : ګرمی، تاؤ. (٥)

قوله: ﴿فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فِي الصُّورَةِ الَّتِي يَعْرِفُونَ ﴾: په دې حديث کښې دی چه د قيامت په ورځ به الله پاک په خپل صورت کښې راځی. صورت د جسم د لوازماتو نه دې او الله پاک د جسم او د لوازم نه پاک او منزه دې، دې صفاتو ته متشابهات وائی او د اهل علم په دې کښې اختلاف دې، دلته په دې باندې نسبتا تفصيلی بحث کولې شی!

مسئله د الله پاک د صفاتو: په قرآن او حديث کښې د الله پاک دپاره ډير داسې اوصاف دی چه

---

(١) فتح الباري ٥٤٣/١١، ارشاد الساري : ٥٧٠/١٣، عمدة القاري ٢٠٣/٢٣

(٢) ارشاد الساري : ٥٧٣/١٣

(٣) شرح الكرماني : ٦١/٢٣، وعمدة القاري : ٢٠٦/٢٣

(٤) النهاية : ٦٣٨/٢

(٥) د لغاتو د تحقيق دپاره اوګورئ : شرح الكرماني : ٢٣/٦١-٦٢

د هغې په خپله حقيقي معنى کښې د الله پاک دپاره ثابتول صحيح نه دی ځکه چه هغه د جسم او د جسم د لوازم نه دی او الله پاک د جسم او د هغې د هر قسم لوازم نه پاک او منزه دې، مثلاً : يد، وجه، ساق، ذات، استواء على العرش، فوق، تحت، وغيره، ډير داسې الفاظ په قرآن او حديث کښې د الله پاک دپاره استعمال شوې دی.

دا ټول کلمات په خپله ظاهری او حقيقي معنى باندې محمول کول بعض خلقو د الله پاک دپاره ثابت منلې دې او دا عقيده ئې اختيار کړې ده چه د الله پاک دپاره هم دغه شان يد، وجه او ساق دی څنګه د مخلوق دپاره دی، دا يو باطل عقيده ده کوم ته چه فرقه مجسمه او مشبه اختيار کړې ده. [1]

د دې بالمقابل، يوې بلې ډلې، د الله پاک دا اوصاف او صفات رد کړی دی. د هغې د اصل نه انکار کولو سره، د دې اوصافو مجازی معنى بيان کړې دی او وائی چه د دې اوصاف هم دا مجازی معنى يقيني طور باندې مراد دی، دې فرقې ته معتزله او معطله وئيلې شی. [2]

د اهل سنت مسلک: د اهل السنت والجماعت مسلک دا دې چه د الله پاک دپاره دا اوصاف په قرآن او حديث کښې ثابت دی او الله پاک د جسم، د جسم د لوازمو او د مخلوق سره د هر قسم مشابهت نه پاک او منزه دې، لکه چه د الله پاک ارشاد دې : ﴿ليس كمثله شئ﴾ خو د دې اجماعی عقيدې نه پس د نصوص او صفات په باره کښې تعبير او تشريح يو اختلاف په اهل السنت والجماعت کښې موندلې شی چه هغې لره تاسو په درې مسلکونو کښې تقسيم کولې شئ :

① **اول مسلک** : د جمهور علماء اهل سنت مسلک دا دې چه دا نصوص د هغه متشابهاتو نه دی، چه د هغې معنى صرف الله پاک ته معلومه ده او مونږ هغې لره د ثابت منلو نه پس، د هغې حقيقي يا مجازی معنى بيانول نه متعين کوو، دا متشابه المعنى هم دی او متشابه الكيفية هم دی. ﴿ومايعلم تاويله الا الله﴾ يعنى د دې تفسير صرف الله پاک ته معلوم دې، دا مسلک د تفويض دې او هم دا د جمهور متقدمين اهل السنت او ائمه اربعه مسلک دې. [3]

② **دويم مسلک** : دا دې چه دا نصوص په خپل حقيقت باندې دی، د الله پاک طرف ته نسبت کولو سره، د الله پاک شايان شان چه کومه حقيقي معنى د دې کيدې شی هم هغه مراد دی، د دې کيفيت، کنه او صورت به څه وی؟ دا معلومه نه ده، يعنى دا نصوص او صفات معلوم المعنى او متشابه الكيفية دی، هم د دې مسلک وضاحت کښې مشهور مقوله وئيلې شوې ده. ﴿الاستواء معلوم، والكيف مجهول، والسؤال عنه بدعة ....او ..... الاستواء غير مجهول، والكيف غير

---

[1] اوګورئ : شرح المقاصد : ۳۴/۳، المقصد الخامس فى الالهيات، فصل فى التنزيهات، واصول فخر الاسلام البزدوى : ۹۴/۱، والمسامرة : ۴۴-۵۵

[2] كشف الاسرار عن اصول فخر الاسلام : ۹۴/۱-۹۵، ومجموع فتاوى ابن تيمية، كتاب الاسماء والصفات، ۲۸/۵، ۴۷۰، والتمهيد لابن عبدالبر : ۱۴۵/۷

[3] اوګورئ : تحفة الاحوذى، ابواب صفة الجنة، باب ما جاء فى خلود اهل الجنة : ۳۳۷/۳

معقول، والايمان به واجب ﴾ د امام مالک او د هغوی د استاذ ربیعه بن ابی عبدالرحمن ﷺ طرف ته دا مقوله منسوب ده. (١)

په حقیقت کښې دا مسلک هم مسلک د تفویض دې خو په دویمه مرحله کښې. د اول مسلک قائلین د دې صفاتو په باره کښې د شروع نه د تفویض خبره کوی چه د دې حقیقی یا مجازی معنی مونږ ته نه ده معلوم، صرف د الله پاک به علم کښې ده. د دوم مسلک قائلین وائی چه دا په حقیقی معنی کښې دی،اوس د الله پاک طرف ته ددې نسبت کولو سره،چه ددې کنه او حیثیت به څه وی، هغوی وائی چه مونږ ته نه دې معلوم. د دې علم صرف الله پاک ته دې.

دریم مسلک : د اهل سنت والجماعت دریم مسلک دا دې چه د صفات او نصوص داسې مجازی معنی بیان کړې شی کومې چه د الله پاک شایان شان وی او لفظ کښې د هغه معنی د مراد کولو گنجائش وی، مثلاً د ید نه قدرت، د وجه نه ذات او استواء نه استیلاء مراد اخستلې کیدې شی. دې مسلک ته مسلک تاویل وائی او اکثر متاخرین اهل سنت هم دا مسلک اختیار کړې دې. خو چه کومه مجازی معنی مراد کولې شی هغه یقینی او قطعی نه وی او نه هغوی په هغې باندې د جزم عقیده ساتی، بلکه هغه د ظن او احتمال په درجه کښې وی. یعنی د ید تاویل په قدرت سره کولو باندې وائی چه دا د تاویل او احتمالی تفسیر په درجه کښې دی. د ید نه یقینی او حتمی طور په نصوص کښې قدرت مراد دې. د دې عقیده هغوی نه ساتی. (٢)

پس علامه ابن الهمام په خپل مشهور کتاب المسايرة فى العقائد المنجية فى الاخرة کښې لیکی :

﴿ انه تعالى استوى على العرش : مع الحكم بانه ليس كاستواء الاجسام على الاجسام من التمكن والمماسة، والمجاذاة، بل بمعنى يليق به هو سبحانه اعلم به، وحاصله وجوب الايمان بانه استوى على العرش مع نفى التشبيه، فاما كون المراد انه استيلاءه على العرش فامر جائز الارادة، اذ لا دليل على ارادته عينا، فالواجب علينا ما ذكرنا، واذا خيف على العامة عدم فهم الاستواء اذا لم يكن بمعنى الاستيلاء الا باتصال ونحوه من لوازم الجسمية وان لا ينفوه، فلا بأس بصرف فهمهم الا الاستيلاء، فانه قد ثبت اطلاقه وارادته لغة ...... وعلى نحو ما ذكرنا كل ما ورد مما ظاهره الجسمية فى الشاهد كالاصبع، والقدم، واليد، فان اليد وكذا الاصبع وغيره صفة له تعالى لا بمعنى الجارحة، بل على وجه يليق به وهو سبحانه اعلم به، قد تؤول اليد

---

١) اوګورئ: مجموع فتاوى ابن تيمية. كتاب الاسماء والصفات : ٢٣/٥

قال ابن عبدالبر فى التمهيد : ١٤٥/٧ : أهل السنة مجمعون على الإقرار بالصفات الواردة كلها فى القرآن والسنة والإيمان بها وحملها على الحقيقة لا على المجاز إلا أنهم لا يكيفون شيئا من ذلك.

هم دغه شان اوګورئ : دار العلوم ديوبند ...... مدرسة فكرية. باب التوحيد : ٥٤٥. (مقالة سماحة العلامة مولانا محمد تقى العثمانى حفظه الله ورعاه)

٢) فتح البارى، كتاب التوحيد. باب ما يذكر فى الذات : ١٦٩/١٣

والاصبع بالقدرة، والقهر لما ذكرنا من صرف فهم العامة من الجسمية وهو ممكن ان يراد، ولا يجزم بارادته خصوصا على قول اصحابه انها من المتشابهات وحكم المتشابه انقطاع رجاء معرفة المراد منه في هذا الدار والا لكان قد علم)[1]

يعني مونږ په استواء على العرش باندې ايمان راوړو. د دې خبرې د حكم سره چه د الله پاک استواء د بدنونو سره استوا. كولو په شان نه ده چه په يو مكان كښې كيني. د مس كولو يا مقابل كيدلو معنى لرى. بلكه د داسې معنى په اعتبار سره دې كومه چه د الله پاک د شان لائق وى. بيا كوم چه د هغه نه سوا څوک هم نه پوهيږى. حاصل دا چه په استواء على العرش باندې ايمان راوړل د تشبيه د نفى سره واجب دى. او د دې نه مراد استيلاء هم اخستلې كيدې شى خو په دې هيڅ دليل نشته او چونكه د عام خلقو په باره كښې ويره وه چه هغوى چرته د استواء نه هغه معنى مراد نه كړى كومه چه د جسم په لوازم كښې ده. په دې وجه د هغوى فكر او سوچ د جسميت د طرف نه د اړولو دپاره د استواء على العرش معنى استيلاء راخى. هم دا مسلک به د هغه ټولو نصوصو او الفاظو په باره كښې اختيارولې شى كوم چه ظاهرا د جسم دپاره استعماليږى. لكه اصبع. قدم او يد دى. پس يد د الله پاک صفت دې خو د جارحة په معنى كښې نه دې بلكه د الله پاک طرف ته نسبت كولو سره چه كومه شايان شان معنى ده هم هغه مراد ده. د يد او اصبع تاويل په قدرت او قهر سره هم كړې شوې دې دا امكانى معنى خو كيدې شى خو يقينى اوختمى معنى نه ده. خاص كر زمونږ د اصحابو (يعنى اشاعره او ماتريدية) په نزد دا د متشابهاتو نه دى او د متشابهاتو حكم دا دې چه په دې دنيا كښې د دې د مراد يقينى طور د معرفت اميد نه شى كيدلې، گينې د دې معنى به ټولو ته معلومه وې.

بهر حال دا درې واړه مسلكونه د اهل سنت والجماعت دى.

دا ټول په دې خبره باندې متفق دى چه دا نصوص او اوصاف د الله پاک دپاره ثابت دى.

دا ټول په دې متفق دى چه د انسانانو او مخلوق طرف ته نسبت كولوسره چه د دې الفاظو كومه معنى ده. د الله پاک طرف ته نسبت كولو سره هغه معانى نه دى مراد.

دا ټول په دې خبره باندې متفق دى چه الله پاک د جسم، لوازم جسم او مخلوق سره د هر قسم مشابهت نه بالكل پاک او منزه دې. **(ليس كمثله شئ وهو السميع العليم)**[2]

مولانا عبدالحى لكهنوى رحمه الله دويم مسلک ته د اكثر علماء او دريم مسلک ته د اكثر متاخرين متكلمين مذهب وئيلې دې، پس مولانا په خپله يو فتوى كښې ليكى:

په دې باب كښې د علماء كرامو څو مسلكونه دى. يو مسلک د تاويل چه استواء په معنى د استيلاء او يد په معنى د قدرت او وجه په معنى د ذات ده. وعلى هذا القياس او هم دا مختار

---

[1]) المسايرة فى العقائد المنجية فى الاخرة : ٤٤-٤٨

[2]) سورة الشورى : ١١

مسلک دي د متاخرين متکلمينو. دويم مذهب : تشابه في المعنى وفي الكيفية. دريم مسلک معلوم المعنى متشابه الكيفية او حق په دي کښې مسلک ثالث دي او هم دا مذهب دي د صحابه کرامو او تابعين او ائمه مجتهدينو او د محدثينو او محققيينو فقهاء کرامو او اصولينو [1]

راجح او محتاط مسلک : خو حقيقت دا دي چه اکثر علماء کرامو اول مسلک اختيار کړې دي کوم چه په مسلک تفويض سره مشهور دي او هم هغه مسلک د ټولو نه زيات اسلم او محتاط مذهب دي :

★..... پس امام ترمذي رحمه الله په سنن ترمذى کښې فرمائى:

﴿ قَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رِوَايَاتٌ كَثِيرَةٌ مِثْلُ هَذَا مَا يُذْكَرُ فِيهِ أَمْرُ الرُّؤْيَةِ أَنَّ النَّاسَ يَرَوْنَ رَبَّهُمْ وَذِكْرُ الْقَدَمِ وَمَا أَشْبَهَ هَذِهِ الأَشْيَاءَ وَالْمَذْهَبُ فِي هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ الأَئِمَّةِ مِثْلِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَابْنِ الْمُبَارَكِ وَابْنِ عُيَيْنَةَ وَوَكِيعٍ وَغَيْرِهِمْ أَنَّهُمْ رَوَوْا هَذِهِ الأَشْيَاءَ ثُمَّ قَالُوا تُرْوَى هَذِهِ الأَحَادِيثُ وَنُؤْمِنُ بِهَا وَلاَ يُقَالُ كَيْفَ وَهَذَا الَّذِي اخْتَارَهُ أَهْلُ الْحَدِيثِ أَنْ تُرْوَى هَذِهِ الأَشْيَاءُ كَمَا جَاءَتْ وَيُؤْمَنُ بِهَا وَلاَ تُفَسَّرُ وَلاَ تُتَوَهَّمُ وَلاَ يُقَالُ كَيْفَ وَهَذَا أَمْرُ أَهْلِ الْعِلْمِ الَّذِي اخْتَارُوهُ وَذَهَبُوا إِلَيْهِ ﴾ [2]

يعنى : د الله پاک د ليدو په باره کښې داسې ډير روايات راغلى دى چه خلق به (په آخرت کښې) د الله پاک ديدار کوى، هم دغه شان د قدم وغيره الفاظ هم راغلې دى. په دې سلسله کښې سفيان ثورى، امام مالک بن انس، سفيان بن عيينة او وکيع وغيره حضرات ائمه اهل علم مسلک دا دې چه د دې احاديثو دې روايت اوکړې شى. په دې باندې دې ايمان راوړې شى او د کيفيت په باره کښې دې تپوس اونکړې شى چه د دې صورت او کيفيت به څه وى. حضرات محدثينو هم دا مسلک اختيار کړې دې چه دا احاديث څنګه راغلې دى، هم هغه شان دې په دې باندې ايمان راوړلې شى، د هغې دې نه تفسير اوکړې شى نه دې تجسيم لره موهم معنى مراد کړې شى او نه دا اووئيلې شى چه د دې کيفيت به څه وى، د اهل علم هم دا مسلک دې.

★ ..... د سفيان به عيينة او امام محمد رحمه الله نه منقول دى:

﴿ ما وصف الله تبارك وتعالى بنفسه في كتابه، فقراءته تفسيره، ليس لاحد ان يفسره بالعربية ولا بالفارسية ﴾ [3]

★..... امام وکيع بن الجراح رحمه الله فرمائى :

---

[1]) مجموعة الفتاوى عبدالحئ : ۳۹/۱۰

[2]) سنن الترمذى، ابواب صفة الجنة، باب ما جاء فى خلود اهل الجنة، رقم الحديث : ۲۵۵۷

[3]) كتاب الاسماء والصفات للبيهقى : ۳۱٤، (قلت : وروى الدارقطنى بسنده عن سفيان بن عيينة لما سئل عن أحاديث الصفات فقال: هى كما جاءت نقر بها ونحدث بلا كيف (ق ٥ /۲). فالمراد من قول سفيان الأول إنما هو نفي الكيفية فقط)

﴿ ادركت اسماعيل بن ابي خالد، وسفيان، ومسعرا يحدثون بهذه الاحاديث ولا يفسرون شيئا ﴾ (۱)

يعنی ما اسماعيل بن ابی خالد، سفيان ثوری او مسعر اوليدل چه هغوی به دا احاديث بيانول خو د يو څيز به ئې هم تفسير نه کولو.

★... هم د دې مسلک په باره کښې علامه طيبی رحمه الله فرمائی: هذا هوالمذهب المعتمد، وبه يقول السلف الصالح (۲) يعنی هم دا مذهب قابل اعتماد دې، او سلف صالحين هم د دې قائل دی.

★ او علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمائی:

﴿ أكثر السلف يمتنعون من تأويل مثل هذا ويمرونه كما جاء وينبغي أن يراعي في مثل هذا الامرار اعتقاد أنه لا تشبه صفات الله صفات الخلق ومعنى الامرار عدم العلم بالمراد منه مع اعتقاد التنزيه ﴾ (۳)

يعنی حضرات سلف کښې اکثرو په داسې صفاتو کښې د تاويل نه منع کوله او څنګه چه راغلی وو او څنګه دا وارد دی، هم دغه شان به ئې هغه تيرول، د دې عقيدې د رعايت سره چه د الله پاک اوصاف د مخلوق د اوصافو سره مشابهت نه ساتی، د امرار يعنی تيرولو معنی دا ده چه د تنزيه عقيده ساتلو سره چه د هغې د مراد په باره کښې لا علم کيدل.

څو اهم خبرې: د اهل حق په دې درې وارو مسلکونو باندې د ځان پوهه کولو نه پس څو خبرې د صفات متشابهات په باره کښې په ذهن کښې اوساتئ!

★... په دې درې مذاهبو کښې د چا مسلک ته هم بالکليه غلط او باطل نه شی وئيلی کيدې، په قرآن او حديث کښې د هر يو مسلک دپاره د تعبير بهر حال ګنجائش دې، خو اول مسلک اسلم او محتاط دې او هم هغه مسلک د جمهور علماء او ائمه اربعه دې لکه چه واضح کړې شوې ده.

★ ... په عالم اسلام کښې، د يو اوږدې مودې نه په دې مسئله کښې مناظرې او بحثونه کيږی او ډير کرته د دواړو طرفونو نه غلو او تجاوز هم کيدلو او دا سلسله تر اوسه پورې جاری ده حال دا چه ذکر کړې شوې متفق عليه امور نه پس دا اختلاف څه دومره وزنی حيثيت نه لری او تقريبا د تعبير اختلاف پاتې کيږی خو د مناظرې ماحولونو د دې نه يو هوا جوړه کړې ده او د طرفين د بعض حضراتو د طرف نه غلو کيدله.

پس اکثر متاخرين متکلمين اهل سنت د تاويل مسلک اختيار کړې دې چه چرته عوام دې صفاتو لره په عام حقيقی معنو کښې اخستلو سره د مجسمه مسلک اختيار نه کړی، دې ځائې پورې خو صحيح ده خو د دې مسلک بعض غالی حضرات، حق صرف هم دا مسلک ګڼرې، بلکه د متقدمين مسلک تفويض لره هم په مسلک تاويل کښې د اچولو سعی کوی او وائی چه د هغوی مسلک په تاويل اجمالی باندې مشتمل دې حال دا چه متقدمين

---

۱) التمهيد لابن عبدالبر: ۱۴۹/۷

۲) فتح الباری، کتاب التوحيد، باب قول الله تعالى: ولتصنع على عينى: ۴۷۸/۱۳

۳) فتح الباری، ۴۰/۶، کتاب الجهاد، باب الکافر يقتل المسلم، رقم الحديث: ۲۸۶۶

مطلقا تاويل نه كوي. نه اجمالي، نه تفصيلي. بلكه تفويض خپلوي
د سلفي حضراتو تشدد ★ . دويم طرف ته سلفي حضرات و غير مقلدين تاويل كونكي په حق باندې نه ګڼي او هغوى ته معطله وئيلو سره هغوى ګمراه ګڼي. په دې سلسله كښې هغوى د مقالو او مضامينو يو انبار لګولې دى او داسې محسوسيږي چه د تعبيرى اختلاف دا اجتهادى مسئله د عالم اسلام د ټولو نه لويه مسئله ده. د فتح البارى چه كومه نوې نسخه راغلې ده. په هغې كښې چه حافظ ابن حجر رحمه الله په صفات متشابهات كښې كوم كوم ځائې د علماء او ائمه كرامو تاويلى اقوال نقل كړى دى. په سلفى اهل قلم زهير شاويش صاحب. په هغه مقاماتو باندې ډير په اهتمام سره حاشيه لګوى چه دا تاويل صحيح نه دې او خپل مسلک ذكر كوى، مثلاً حافظ ابن حجر رحمه الله دلته په كتاب الرقاق كښې د يو حديث تشريح كولو سره فرمائيلې دى چه د الله پاک د رضا مطلب. د الله پاک د خير اراده كول دى او د سخط الله مطلب د شر اراده كول دى. بعض علماء كرامو د الله پاک د رضا او د سخط دا مطلب بيان كړې دې، په دې باندې دا سلفى ليكى:

﴿ الواجب اثبات هاتين الصفتين : الرضاء والسخط كباقى الصفات على الحقيقة اللائقة بالله عزوجل من غير تكييف ولا تمثيل، ولا تحريف ولا تعطيل، هذا الواجب فى باب الاسماء والصفات جميعا كما قال سبحانه وتعالى : ﴿ليس كمثله شئ وهو السميع البصير﴾ وسد باب التاويل الذى هو فى الحقيقة نفى وتعطيل ﴾ [1]

د تاويل په باره كښې دا وئيل چه هغه په حقيقت كښې د الله پاک د صفاتو نفى ده او صفاتو لره معطل كول دى، دا تشدد، غلو او د حقيقت خلاف خبره ده. د اهل سنت والجماعت متاخرين متكلمين چه كوم د تاويل مسلک اختيار كړې دې هغه حضرات د صفاتو نفى هر ګز نه كوى بلكه د هغې چه كومې محتمل معانى كيدې شى په هغې كښې يو معنى ظنى د تفسير او مراد په طور بيانوى چه د دې صفت دا معنى مراد اخستلې كيدې شى. لكه چه مخكښې تير شوې دى او معتزله او جهميه په تاويلى معنى باندې جزم كوى. شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدنى رحمه الله ليكى :

اعتراض واردیږى چه څنګه د اشاعره ډله، ماتريديه تاويلات كوى، معتزله او جهميه هم تاويلات كوى. په دوى او هغوى كښې څه فرق دې؟ د دې جواب دا دې چه د دواړو په تاويلاتو كښې فرق دې چه اشاعره او ماتريديه په تاويلاتو باندې جزم نه كوى. په خلاف د معتزله وغيره چه هغوى تاويلات كوى او وائى چه بس دلته هم دا معنى مراد ده. [2]

د صحابه كرامو او جليل القدر تابعين نه په مختلف آيتونو او نصوص كښې تاويل منقول دې چه د هغې تفصيل وړاندې په كتاب التوحيد كښې راځى. په دې وجه دا وئيل چه مسلک تاويل مسلک تعطيل دې صحيح خبره نه ده. علامه ابن الجوزى رحمه الله د دفع شبه

---

[1]) فتح البارى : كتاب الرقاق، باب من نوقش الحساب عذب : ٤٩١/١١

[2]) معارف مدنية : ٨٤٧

التشبیه په نوم باندې مسئلې بر کتاب لیکلې دی. چه په هغې کښې په هغه خلقو باندې تنقید کړې شوې دې کوم چه د تاویل مطلق انکار کوی. هم دې صاحب ورباندې په کتاب التوحید کښې د تفویض او تاویل دواړو مسلکونو ته باطل وئیلې دی. [١] ظاهره ده. دا غلو. افراط او د حد نه تجاوز دی.

★ او په آخری خبره باندې داسې ځان پوهه کړئ چه پورته چه کوم درې مسلکونه بیان شوې دی. هغه درې واړه صحیح دی. علامه ابن تیمیه، علامه ابن قیم او د هغوی په اتباع کښې د عربو سلفیانو او د هندوستان غیر مقلدینو دویم مسلک اختیار کړې دې. خو ډیر کرته هغوی په تفصیل کښې تلو سره داسې عبارتونه او الفاظ راوړی. چه د هغې نه د تجسیم او تشبیه بوئی راځی. [٢]

د صفات باری تعالی مسئله چونکه نازک او حساس ده. په دې وجه یو داسې لفظ، داسې کلمه او عبارت نه دې استعمالول پکار کومه چه تجسیم لره موهم وی. حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله لیکی:

نن صبا بعض خلق چه په هغوی باندې ظاهریت غالب دې چه کله د متشابهاتو تفسیر کوی نو په درجه د اجمال کښې خو په مسلک سلف باندې اوسیږی. خو څلور غلطئ کوی:

① یو دا چه د تفسیر ظنی د قطعیت مدعی شی.

② دویمه غلطی داده چه کله تفصیل کوی نو عنوانات موهمه تکییف او تجسیم اختیاروی.

③ دریمه غلطی دا چه مسلک د تاویل ته علی الاطلاق باطل وئیلو سره چه زرګونو اهل حق تضلیل کوی. حال دا چه د اهل حق سره د هغوی د مسلک د صحت دپاره احادیث هم بناء دی او قواعد شرعیه هم

④ څلورمه غلطی دا کوی چه تفسیر بالاستقرار خو د سلف په مسلک ګڼړی او نورو تفاسیر لغویه ته د خلف تاویل وائی، حال دا چه د ټولو مساوی کیدل پورته ظاهر شو [٣]

علامه ابن تیمیة او علامه ابن القیم رحمه الله په دې مسئله کښې متشدد وو. خو سلفی حضرات او غیر مقلدین صرف خپل مسلک حق ګڼړی هم دې ته د اهل السنت مسلک وائی. باقی حضرات هغوی ګمراهان او په باطله ګڼړی.

جمهور اهل سنت چه په هغوی کښې صحابه کرام، تابعین او جلیل القدر ائمه کرام داخل دی لره ګمراه ګنړل خپله لویه ګمراهی ده.

﴿اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه﴾ (آمین)

---

[١] پس شاویش صاحب لیکی: ﴿وطریقی التفویض والتاویل فی باب الصفات مسلکان باطلان. اما اهل السنة والجماعة فیقابلون نصوص الاسماء والصفات بالایمان بها، والتسلیم والاثبات والتنزیه علی الکمال الاثق به. (فتح الباری، کتاب التوحید، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم : لاشخص اغیر من الله) : ۴۹۲/۱۳)

[٢] اوګورئ: فیض الباری، کتاب استتابة المرتدین : ۴۷۳-۴۷۴

[٣] امداد الفتاوی : ۱۱۱/۶

۵۳: باب في الحوض

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ). وَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ زَيْدٍ قَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «اصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ». [ر ۲۰۱۵]

د حوض مفهوم: د حوض په باره کښې څو خبرې په ذهن کښې اوساتئ:

① حوض په عربئ ژبه کښې تقريبا هم په دې مفهوم کښې استعمال شوې دې په کومه معنی کښې چه په اردو کښې مستعمل دې، د حوض نه مراد حوض کوثر دې، چه په هغې سره به رسول اللهﷺ خپل امتيانو ته په ميدان حشر کښې اوبه ورکوی، دا په حقيقت کښې په ميلونو خور شوې وسيع او عريض تالاب دې، چه د هغې نه به په جنت کښې د کوثر نهر نه صفا او شيرين او خورې اوبه وی کومې چه به د پيو نه زياتې سپينې، د شهدو نه زياتې خورې او د مشکو نه زياتې خوشبوداري وی، لکه چه وړاندې په حديث الباب کښې راځی.

د حوض کوثر ثبوت: معتزله وغيره د حوض کوثر انکار کوی، خو په احاديثو کښې د دې ثبوت تقريبا تواتر معنوی ته رسيدلې دې، قاضی عياضرحمه الله د پنځويشتو صحابه کرامورضی الله عنهم نه د حوض روايات نقل کړی دی. [۱] امام نووی‌رحمه الله په دې باندې د دريو اضافه کړې ده. [۲] او حافظ ابن حجررحمه الله د پنځوسو نه زياتو صحابه کرامورضی الله عنهم نه د حوض روايات نقل فرمائيلې دی او ليکلې ئې دی چه د بعض علماء کرامو په باره کښې معلومه شوې ده چه هغوی دا تعداد زياتولو سره اتيا ته رسولې دې. [۳]

د رسول اللهﷺ نه علاوه د نورو انبياء علیهم السلام دپاره هم په حديث کښې د حوض ذکر ملاويږی، پس په سنن ترمذی کښې د سيدنا سمرة بن جندب‌رضی الله عنه مرفوع روايت دې، ﴿ ان لکل نبی حوضا﴾ يعنی د هر نبی حوض دې. امام ترمذی‌رحمه الله فرمائی چه د دې په موصول او مرسل کيدو کښې اختلاف دې او د دې مرسل طريق زيات صحيح دې. [۴]

ابن ابی الدنيا د امام حسن بصری‌رحمه الله نه په صحيح سند سره روايت نقل کړې دې، په هغې کښې دی: ﴿إن لکل نبی حوضًا وهو قائم على حوضه بيده عصا يدعو من عرف من أمته ألا وإنهم يتباهون أيهم أکثر تبعًا وإني لأرجو أن أكون أكثرهم تبعًا﴾

يعنی بيشک د هر نبی به يو حوض وی، هغه به د دې حوض په خوا کښې ولاړ وی، په لاس کښې به ئې همسا وی، په خپلو امتيانو کښې به چه څوک پيژنی، هغوی به راغواړی او حضرات انبياء علیهم السلام به د خپل امتونو په کثرت باندې فخر کوی او زما اميد دې چه زما امت

---

[۱] فتح الباری: ۵۷۰/۱۱، وشرح مسلم للنووی، باب اثبات الحوض، ۵۳/۱۶

[۲] شرح مسلم للنووی، کتاب الفضائل، باب اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم ۵۳/۱۵

[۳] فتح الباری: ۵۷۰/۱۱

[۴] سنن الترمذی، کتاب صفة القيامة، باب ما جاء في صفة الحوض: ۶۲۸/۴، رقم الحديث: ۲۴۴۳

به په تعداد كښې د ټولو نه زيات وى
خو دا روايت هم مرسل دې ( ) خو د رسول الله ﷺ حوض كوثر به د ټولو نه ممتاز او بيل وى په هغې كښې به د جنت د نه نه اوبه راځى
حوض به د صراط نه مخكښې وى كه روستو ③ دريم بحث دا دې چه د حوض كوثر نه به د اوبو څكولو دا سلسله كله وى. د پل صراط نه پس يا كه د هغې نه مخكښې؟
★ ... د ډيرو علماء كرامو خيال دې چه دا به صراط نه اول وى، خلقو به د قبرونو نه راوځى نو هغوى به په ميدان حشر تنده لګيدلې وى او لا به د صراط مرحله نه وى راغلې، هغه وخت به دا حوض وى او رسول الله ﷺ به په ميدان محشر كښې د صراط نه مخكښې مخكښې خلقو باندې د هغې خوږې اوبه څكوى.
د علامه قرطبى او حافظ ابن حجر رحمهما الله وغيره رجحان هم دې طرف ته دې او مشهوره هم دا ده. ([2])
★ ... خو نور ډير علماء كرام فرمائى چه دا به د صراط نه پس وى. د امام بخارى رحمه الله د صنيع نه هم دا معلوميږى، څكه چه امام بخارى رحمه الله د باب الصراط نه پس باب فى الحوض قائم كړې دې. ([3])
د سيدنا انس رضى الله عنه د يو روايت نه د دې تائيد كيږى كوم چه امام ترمذى رحمه الله نقل كړې دې چه ما رسول الله ﷺ ته درخواست اوكړو چه زما دپاره به په قيامت كښې سفارش كوئ، رسول الله ﷺ ورته اقرار اوكړو، سيدنا انس رضى الله عنه تپوس اوكړو زه به تاسو كوم ځائې ګورم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ته د ټولو نه اول ما په صراط باندې اوګوره، ما اووې: كه هلته ملاقات اونشو نو بيا؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ميزان سره، ما عرض اوكړو: كه هلته ملاؤ نه شو نو بيا؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: حوض كوثر سره. ([4])
په دې حديث كښې صراحت دې چه د حوض په زمانه كښې به پل صراط موجود وى!
بعض حضراتو وئيلې دى چه د رسول الله ﷺ به دوه حوضونه وى يو په ميدان حشر كښې او د صراط نه مخكښې او دويم په جنت كښې دننه او د دواړو نوم حوض كوثر دې.
د علامه عينى رحمه الله رجحان هم دې طرف ته دې. ([5])
يو اشكال او د هغې جواب: په حوض قبل الصراط باندې اشكال كړې شوې دې چه د ميدان حشر او جنت ترمينځه وى چه په هغې باندې به پل صراط خوړولې شى او د حوض اوبه به د جنت د نهر كوثر نه راځى، كه حوض د صراط نه مخكښې تقسيم كړې شى نو د جنت او

---
[1]) ارشاد السارى : ۵۷۸/۱۴
[2]) فتح البارى: ۵۶۸/۱۱
[3]) فتح البارى: ۵۶۷/۱۱، ارشاد السارى : ۵۷۷/۱۳
[4]) سنن الترمذى، كتاب صفة القيامة، باب ما جاء فى شان الصراط، ۶۲۱/٤، رقم الحديث : ۲٤۳۳
[5]) عمدة القارى : ۲۰۹/۲۳

حوض ترمينځه به جهنم وي. د جنت د نهر نه به اوبه حوض ته څنګه راځي؟ [1]
خو د دې جواب دا ورکړې کيدې شي چه د آخرت امور نه په دنيا باندې قياس کيدې شي او نه د هغې مناظرو صحيح او حقيقي تصوير مونږ په دنيا کښې ذهن کولې شو. په دې وجه دا څه بعيده نه ده چه د جهنم د حائل کيدو باوجود به د جنت د نهر نه به حوض کوثر کښې اوبه راځي چه د الله پاک د قدرت عجائبات بيشميره دی.

د ترجمة الباب وضاحت: ④ امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې تقريبا نورلس احاديث ذکر فرمائيلي دی. چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د حوض ذکر دې. په ترجمة الباب کښې د سورة کوثر اول ايت ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾ ذکر فرمائيلي دې. د دې تفسير په کتاب التفسير کښې تير شوې دې. د کوثر نه خير کثير مراد کړې شوې دې. او په حوض کوثر سره هم د دې تفسير کړې شوې دې [2] امام بخاري رحمه الله په باب الحوض کښې آيت ذکر کولو سره، دې دويم تفسير طرف ته اشاره اوفرمائيله.

په ترجمة الباب کښې چه ئې د عبدالله بن زيد کوم تعليق ذکر فرمائيلې دې. هغه امام بخاري رحمه الله په کتاب المغازي کښې په باب غزوة حنين کښې موصولا نقل کړې دې.

د باب په ډيرو روايتونو کښې راځي چه د رسول الله ﷺ خواله به حوض کوثر ته يو جماعت راځي. رسول الله ﷺ به هغوی اوپيژني او په هغوی باندې به د حوض نه اوبه څکل غواړي چه په مينځ کښې به ئې بنديز راشي. رسول الله ﷺ به اوفرمائي چه دا خو زما صحابه او زما امتيان دی. هغوی ته به اوونيلې شي چه هغوی ستاسو نه روستو خپل دين بدل کړې وو.

د دوی نه کوم خلق مراد دی، بعض وئيلې دی چه د رسول الله ﷺ د زمانې منافقان مراد دی. خو صحيح قول دا دې چه د هغوی نه د رسول الله ﷺ نه پس مرتد کيدونکی خلق مراد دی چه هغوی سره سيدنا صديق اکبر رضي الله عنه جهاد کړې وو. [3]

[٦٢٠٥] [4] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ».

---

[1] قال القسطلاني : وأما قول صاحب التذكرة والصحيح أن له -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حوضين أحدهما في الموقف قبل الصراط. والآخر داخل الجنة وكلاهما يسمى كوثراً متعقب بأن الكوثر نهر داخل الجنة وماؤه يصب في الحوض، ويطلق على الحوض كوثر لكونه يمدّ منه. وفي حديث أبي ذر عند مسلم أن الحوض يشخب فيه ميزابان من الجنة. وقد سبق أن الصراط جسر جهنم، وأنه بين الجنة والموقف فلو كان الحوض دونه لحالت النار بينه وبين الماء الذي يصب من الكوثر في الحوض والله أعلم. (ارشاد الساري : ٥٧٨/١٣)

[2] كشف الباري، كتاب التفسير : ٧٦٠

[3] فتح الباري : ٤٦٩/١١، وعمدة القاري : ١٦٥/٢٣

[4] اخرجه مسلم في الفضائل، باب : اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته، رقم : ٢٢٩٧

(فرطكم : هو الذي يتقدم الواردين ليصلح لهم الحياض والدلاء ونحوها من امور الاستقاء. (ليرفعن) يظرهم الله تعالى لي حتى اراهم. (ليختلجن) يعدل بهم عن الحوض ويجذبون من عندي. (دوني) قبل ان يصلوا الي. (ما احدثوا) من بدعة وفتنة ومعصية.

د سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زه به ستاسو نه مخکښې په حوض باندې موجود یم

(فرط) هغه سړی ته وائي چه د ا بـ اوبو سبب پراؤخانی لتپولو د پاره دقافلې نه مخکښې ځي

وَحَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ، وَلَيُرْفَعَنَّ رِجَالٌ مِنْكُمْ ثُمَّ لَيُخْتَلَجُنَّ دُونِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي. فَيُقَالُ إِنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ». تَابَعَهُ عَاصِمٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ. وَقَالَ حُصَيْنٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. [٦٢٠٤]

د سیدنا عبدالله رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زه به په حوض باندې ستاسو نه مخکښې موجود یم. او ستاسو نه به څه خلق زما مخې ته راوستلي شي. بیا به هغوی زما د مخې نه لرې کړې شي نو زه به وایم چه اې زما ربه! دا زما ملګری دی. خو ماته به اووئیلې شي چه هغوی ستاسو نه روستو څه څه نوې څیزونه ایجاد کړي وو

(یختلجن): د جمع مذکر مجهول صیغه ده او په آخره کښې ئې نون ثقیلة دې یعنی بیا به زمانه رابنکلي شي. بیل به کړې شي؛

یقال: اختلجه منه: اذانزعه منه او جذبه: رابنکل. لرې کول

(تباعه عاصم): د اعمش متابعت عاصم اوکړو. حارث بن ابی اسامة هغه موصولا نقل کړې دې [١] او حصین بن عبدالرحمن واسطی دا روایت د ابو وائل په واسطې سره د سیدنا حذیفه رضي الله عنه نه نقل کړې دې او مسلم د حصین روایت موصولا نقل کړې دې [٢]

[٦٢٠٦] [٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رضى الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ «أَمَامَكُمْ حَوْضٌ كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ».

د سیدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ستاسو مخې ته حوض دې، په دومره فاصله باندې څومره چه، د جرباء او ازرح ترمینځه ده.

(جرباء): د شام یو کلي دې.

(اذرح): اذرح هم د شام د یو کلی نوم دې د دواړو ترمینځه تقریبا د دیرشو ورځو مسافت دې [١]

---

[١] عمدة القاری: ٢١١/٢٣، وارشاد الساری: ٥٧٩/١٣

[٢] عمدة القاری: ٢١١/٢٣، وارشاد الساری: ٥٧٩/١٣

[٣] اخرجه مسلم فی الفضائل، باب: اثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته، رقم: ٢٢٩٩

(جرباء واذرح) موضعان، وقیل: هما قریتان بالشام والمراد: ضرب المثل لبعد اقطار الحوض وسعته، فکان یشبه ذلک بالبلاد التی ینای بعضها عن بعض، ولا یراد بذلک حقیقة المسافة بین هذه البلاد.

[٦٢٠٧] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ وَعَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنه - قَالَ الْكَوْثَرُ الْخَيْرُ الْكَثِيرُ الَّذِي أَعْطَاهُ اللَّهُ إِيَّاهُ. قَالَ أَبُو بِشْرٍ قُلْتُ لِسَعِيدٍ إِنَّ أُنَاسًا يَزْعُمُونَ أَنَّهُ نَهَرٌ فِي الْجَنَّةِ. فَقَالَ سَعِيدٌ النَّهَرُ الَّذِي فِي الْجَنَّةِ مِنَ الْخَيْرِ الَّذِي أَعْطَاهُ اللَّهُ إِيَّاهُ. [ر: ٤٦٨٢]

د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه د ﴿ الكوثر﴾ نه مراد ډير زيات خير (خير كثير) دې، كوم چه الله پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وركړې دې، ابو بشر وائى چه ما سعيد بن جبير رحمه الله ته اووې چه د بعض خلقو خيال دې چه ﴿ كوثر﴾ په جنت كښې يو حوض دې نو هغوى اووې چه كوم نهر په جنت كښې دې، هغه هم د دې خير (نيكئ) يوه حصه ده، كوم چه الله پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وركړې دې.[1]

[٦٢٠٨] (٢) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلاَ يَظْمَأُ أَبَدًا».

د سيدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: زما حوض به د يوې مياشتې په مسافت باندې خور وى، د هغې اوبه به د پيو نه زياتې سپينې وى او د هغې خوشبوئى به د مشكو نه زياته ښه وى، او د هغې ګلاسونه به د آسمان د ستورو په شان وى، كوم انسان چه د هغې نه يو كرت اوڅكى، بيا به كله هم تږې نه شى.

﴿كيزان﴾: د كوز جمع ده: ګلاس، كوزه.

[٦٢٠٩] (٣) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِنَّ قَدْرَ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ وَصَنْعَاءَ مِنَ الْيَمَنِ، وَإِنَّ فِيهِ مِنَ الأَبَارِيقِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ».

د سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: زما د حوض

---

[1]) عمدة القارى: ٢١٢/١٣، وارشاد السارى: ٥٨٠/١٣

[2]) اخرجه مسلم فى الفضائل، باب: اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته، رقم: ٢٢٩١
(مسيرة): اى طول حافته تحتاج الى السير هذه المدة، (كيزانه) جمع كوز، والتشبيه بالنجوم من حيث الكثرة والضياء، (يظماء) يعطش.

[3]) اخرجه مسلم فى الفضائل، باب: اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته، رقم: ٢٣٠٣
(قدر حوضى) طول شاطئة: (ايلة) مدينة كانت عامرة، وهى بطرف البحر الاحمر من ناحية الشام، (صنعاء) البلد المعروف فى اليمن، (الاباريق) جمع ابريق.

اوږدوالي به دومره وی خومره چه د ایله او یمن ښار ترمینځه مسافت دې او هلته به په دومره لوښي تعداد کښې ښالې وی څومره چه د آسماز د ستورو تعداد دې.

﴿اباريق﴾ د ابريق جمع ده، د چاندۍ پياله، لوښي.

[٦٢١٠] [1] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- . وَحَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «بَيْنَمَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذَا أَنَا بِنَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ قُلْتُ مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ . فَإِذَا طِينُهُ - أَوْ طِيبُهُ - مِسْكٌ أَذْفَرُ» . شَكَّ هُدْبَةُ. [ر: ٤٦٨٠]

د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زه په جنت کښې روان اوم چه زه یو نهر ته اورسیدم، د هغې په دواړو غاړو باندې د ډېرو ملغلرو ګنبدونه جوړ شوې وو، ما تپوس اوکړو، اې جبرئیل دا څه دی؟ هغوی اووئیل : کوثر دې، کوم چه ستاسو رب تاسو ته درکړې دې، ما اوکتل چه د هغې خاوره یا د هغې خوشبوئی د مشکو په شان وه، د هدبه شک وو (چه خاوره ئې وئیلې وه که خوشبوئی)

﴿حافتاه﴾: د حافة نه غاړه مراد ده. ﴿قباب﴾: د قبة جمع ده، ګنبد ته وائی.

﴿الدر المجوف﴾ داسې ملغلره کومه چه د دننه خالی وی. ﴿اذفر﴾: تیز خوشبودار.

ابن فارس رحمه الله فرمائی ﴿ذفر﴾ د بوئی تیز والی ته وائی.

[٦٢١١] [2] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لَيَرِدَنَّ عَلَىَّ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِي الْحَوْضَ، حَتَّى عَرَفْتُهُمُ اخْتُلِجُوا دُونِي، فَأَقُولُ أُصَيْحَابِي. فَيَقُولُ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ» .

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: زما ملګری به حوض له زما مخې ته راوستلې شی تردې چه کله زه هغوی اوپیژنم، بیا به هغوی زما د مخې نه لرې کړې شی، زه به په دې باندې اووائم چه دا خو زما ملګری وو، لیکن ما ته به اووئیلې شی چه تاته پته نشته چه دوی ستاسو نه پس کوم نوی څیزونه ایجاد کړی وو.

[٦٢١٢] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «إِنِّي فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ، مَنْ مَرَّ

---

[1] اخرجه مسلم في الفضائل، باب: اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته، رقم: ٢٣٠٤
(اصيحابي) اى ممن كان يصاحبني، (اختلجوا) جذبوا وابعدوا، (ما احدثوا) من معصية توجب حرمانهم وابعادهم من الحوض.

[2] اخرجه مسلم في الفضائل، باب: اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته، رقم: ٢٢٩٠، ٢٢٩١

عَلَيَّ شَرِبَ، وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا، لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونِي، ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ».

د سيدنا سهل بن سعد رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زه به په حوض باندې ستاسو نه مخکښې موجود يم. کوم سړې هم چه زما طرف ته راتير شي هغه به د هغې اوبه څکي. اوڅوک چه دهغې اوبه څکي هغه به بياکله هم نه تږې کيږي. اوهلته به داسې خلق راشي کوم چه په زه پيژنم اوهغوی به ما پيژني. خوبيا به زما او د هغوی مينځ کښې حجاب راشي

قَالَ أَبُو حَازِمٍ فَسَمِعَنِي النُّعْمَانُ بْنُ أَبِي عَيَّاشٍ فَقَالَ هَكَذَا سَمِعْتَ مِنْ سَهْلٍ فَقُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ أَشْهَدُ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ لَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَزِيدُ فِيهَا «فَأَقُولُ إِنَّهُمْ مِنِّي. فَيُقَالُ إِنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ. فَأَقُولُ سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِي». [٦٦٤٣]

دا تعليق نه دې، بلکه د ماقبل سره متصل دې. ابو حازم (سلمه بن دينار) فرمائي چه دا حديث ما د نعمان بن ابی عياش نه واوريدلو او وې وئيل چه آيا تاسو د سيدنا سهل رضی الله عنه نه هم دغه شان اوريدلې وو، ما اووې او. هغوی ودرمائيل چه زه ګواهي ورکوم چه ما د سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه دا حديث اوريدلې وو. او هغوی به په دې حديث کښې اضافه کوله (يعنی دا چه رسول الله ﷺ به فرمائي) چه زه به وايم چه دا خو زما نه دی. رسول الله ﷺ ته به اووئيلې شي چه تاسوته معلومه نه ده چه هغوی ستاسو نه روستو څه نوې څيزونه ايجاد کړې وو. زه به په دې باندې وايم چه لرې شئ، لرې شئ چا چه زما نه پس بدلون کړې وو

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سُحْقًا بُعْدًا، يُقَالُ سَحِيقٌ بَعِيدٌ، وَأَسْحَقَهُ أَبْعَدَهُ.

سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چه د ﴿ سحقا ﴾ معنی د لرې والی ده. دا لفظ په سورة الملک آيت نمبر ۱۱ کښې دې ﴿ فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴾ او د سحيق معنی د بعيد راځي دا په سورة حج آيت نمبر ۳۱ کښې دی: ﴿ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ سحقة واسحقه مجرد او د باب افعال دواړو نه د دې معنی د لرې کولو راځي؛ ابن ابی حاتم دا تعليق موصولا نقل کړې دې[1] دلته چونکه په حديث کښې د ﴿ سحقا ﴾ لفظ راغلې وو. د دې مناسبت د وجې نه امام بخاري رحمه الله د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دا تشريح دلته نقل اوفرمائيله.

[٦٢١٣، ٦٢١٤] وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ شَبِيبِ بْنِ سَعِيدٍ الْحَبَطِيُّ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «يَرِدُ عَلَيَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِي فَيُحَلَّئُونَ عَنِ الْحَوْضِ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي. فَيَقُولُ إِنَّكَ لاَ عِلْمَ لَكَ بِمَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمُ الْقَهْقَرَى».

د سعيد بن المسيب نه روايت دې چه سيدنا ابوهريره رضی الله عنه به حديث بيانولو چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به زما د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه يو جماعت په ما باندې

[1] فتح الباری: ۵۷۶/۱۱، وعمدة القاری: ۲۱۷/۲۳، وارشاد الساری: ۵۸۰/۱۳

پيش كړې شي، بيا به هغوى د حوض نه لرې كړې شي، زه به عرض اوكړم، اې زما ربه! دا خو زما صحابه وو. الله پاک به فرمائي چه تا ته معلومه نه ده چه هغوى ستا نه روستو څه نوې ځيزونه ايجاد كړي وو. دا خلق په شا باندې واپس شوي وو.
د احمد بن شبيب دا تعليق ابو عوانة موصولا نقل كړې دې.[1]

[۶۲۱۴] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «يَرِدُ عَلَى الْحَوْضِ رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِي فَيُحَلَّئُونَ عَنْهُ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي. فَيَقُولُ إِنَّكَ لاَ عِلْمَ لَكَ بِمَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمُ الْقَهْقَرَى».

سعيد بن المسيب رحمه الله د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه نقل كولو سره فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل، په حوض باندې به زما د ملګرو يو جماعت راوستلې شي. بيا به هغوى د هغې نه لرې كړې شي. زه به عرض اوكړم، اې الله! دا خو زما صحابه دي، الله پاک به اوفرمائي چه تا ته معلومه نه ده چه هغوى ستا نه روستو څه نوې ځيزونه ايجاد كړې وو دوى په خپلو پوندو (د اسلام نه) واپس شوي وو.

﴿ قهقرى ﴾: په پوندو باندې شاته تلل.

وَقَالَ شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَيُجْلَوْنَ. وَقَالَ عُقَيْلٌ فَيُحَلَّئُونَ.

شعيب چه د زهري نه كوم روايت نقل كړې دې، په هغې كښې ﴿ فَيُجْلَوْن ﴾ الفاظ دي او هم دغه شان د عقيل بن خالد په روايت كښې د ﴿ فَيُحَلَّؤُون ﴾ الفاظ دي.

﴿ يحَلّؤُون ﴾: د ﴿ تحلئة ﴾ نه دې، د دې معنى د منع كولو او د لرې كولو ده. وئيلې شي ﴿ حلاءه عن الماء ﴾: هغه ئې د اوبو نه منع كړو. او ﴿ يجلون ﴾ مجهول صيغه ده، د ﴿ جلاء ﴾ معنى ده، لرې كول، ﴿ يجلون ﴾، هغوى به لرې كړې شي.[2]
د شعيب دا تعليق امام ذهلي موصلا نقل كړې دې.[3]

وَقَالَ الزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

زبيدي، د زبيد طرف ته منسوب دې، چه يوه قبيله ده او د دې نه مراد محمد بن الوليد بن عامر دې، سيدنا ابورافع رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ازاد كړې غلام وو، د هغوى نوم اسلم وو، عبيدالله د هغوى ځوئې وو، په دې سند كښې درې تابعين دي: امام زهري رحمه الله، د هغوى

[1] فتح الباري: ۵۷۶/۱۱، وعمدة القاري: ۲۱۷/۲۳، وارشاد الساري: ۵۸۰/۱۳
[2] عمدة القاري: ۲۱۸/۲۳
[3] فتح الباري: ۵۷۷/۱۱، وارشاد الساري: ۵۸۶/۱۳

شیخ محمد بن علی او د هغوی شیخ عبیدالله رحمهم الله، دري واړه تابعین دي. (١) امام دارقطني رحمه الله دا تعلیق موصولا نقل کړي دي. (٢)

[٢٢١٥] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي هِلَالٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «بَيْنَا أَنَا قَائِمٌ إِذَا زُمْرَةٌ، حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ فَقَالَ هَلُمَّ. فَقُلْتُ أَيْنَ قَالَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهِ. قُلْتُ وَمَا شَأْنُهُمْ قَالَ إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمُ الْقَهْقَرَى. ثُمَّ إِذَا زُمْرَةٌ حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ فَقَالَ هَلُمَّ. قُلْتُ أَيْنَ قَالَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهِ. قُلْتُ مَا شَأْنُهُمْ قَالَ إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمُ الْقَهْقَرَى. فَلَا أُرَاهُ يَخْلُصُ مِنْهُمْ إِلَّا مِثْلُ هَمَلِ النَّعَمِ».

د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : زه به (په حوض باندې) ولاړ یم چه یو جماعت به مخې ته راشي او چه کله ئې زه اوپیژنم نو یو سړې به زما او د هغوی ترمینځه راوځی او وائی به چه دلته راشئ او زه به وایم چه چرته؟ هغه به وائی، د اور طرف ته. زه به تپوس اوکړم، دا څنګه خلق دی. هغه به وائی چه دا خلق ستاسو نه روستو په خپلو پوندو باندې واپس شوې وو، بیا به یوه بله ډله زمونږ مخې ته راشی او کله چه زه هغوی اوپیژنم نو بیا به یو سړې زما او د هغوی ترمینځه راوځی او هغوی ته به وائی چه دلته راشئ. زه به تپوس اوکړم چرته؟ هغه به وائی چه د جهنم طرف ته، قسم په الله زه به ترې تپوس اوکړم چه د هغوی احوال څه دی؟ هغه به وائی دا خلق ستاسو نه روستو په خپلو پوندو باندې واپس شوې وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی پس زه نه وینم هغوی لره چه د هغوی نه به خلاصې بیا مومی مګر ډیر لږ تعداد.

قوله: ﴿فَلَا أُرَاهُ يَخْلُصُ مِنْهُمْ إِلَّا مِثْلُ هَمَلِ النَّعَمِ﴾: یعنی زما خیال نه دې چه هغوی به خلاص شی، مګر د بیکاره پریخودلې شوې اوښ په شان ډیر کم!

﴿همل﴾: هغه څاروی او اوښ وغیره ته وائی چه هغه بیکار پریخودلې شی او د هغې څوک نګرانی او خیال نه ساتلې کیږی، چه چرته تلل غواړی، چرته څریدل غواړی هلته څریږی، داسې څاروې هلاک او ضائع کیږی، عموما داسې څاروی ډیر کم وی. په دې وجه دلته د دې نه قلت مراد دې چه د هغوی نه به د جهنم نه بچ کیدونکی خلق ډیر کم وی. علامه عینی رحمه الله لیکی: ﴿ای لایخلص منهم من النار الا القلیل﴾. (٣)

د ترجمة الباب سره مناسبت: په دې حدیث کښې د حوض کوثر ذکر نشته، خو د مرتدینو ذکر دې او مخکښې چه کوم احادیث تیر شوې دی په هغې کښې د حوض او مرتدینو دواړو ذکر دې، په دې وجه براه راست خو د دې د ترجمة الباب سره څه مناسبت نشته، خو د حوض

١) فتح الباری : ١١/٥٧٧، وعمدة القاری : ٢٣/٢١٩، وارشاد الساری : ١٣/٥٨٦
٢) فتح الباری : ١١/٥٧٧، وعمدة القاری : ٢٣/٢١٩، وارشاد الساری : ١٣/٥٨٦
٣) د ذکر شوې تفصیل دپاره اوګورئ: عمدة القاری : ٢٣/٢١٩

والا احادیثو سره د دې مطابقت دې. نود هغې د مناسبت د وجې نه نې هم ددې سره مطابقت راځي.[1]

﴿خرج رجل﴾: د دې نه مراد فرشته ده چه د انسان په صورت کښې به ظاهریږي.[2]

[۲۲۱۶] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ خُبَيْبِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي». [ر: ۱۱۳۸]

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زما د کور او منبر ترمینځه د جنت د باغونو نه یو باغ او زما منبر زما په حوض باندې دې.

﴿منبری﴾: د منبر نه مراد یا خو دنیا والا منبر دې کوم چه په مسجد نبوی ﷺ کښې نصب دې او یا د آخرت منبر مراد دې کوم چه به د حوض کوثر سره نصب کولې شي.[3]

د رسول الله ﷺ د کور او په مسجد نبوی کښې چه د منبر ترمینځه کوم ځائې دې. هغه ته ﴿روضة الجنة﴾ وائي. یعنی د جنت باغ دې ته یا خو په دې وجه د جنت باغ وئیلې شي چه بعینه هم دا حصه به د جنت طرف ته منتقل شي او یا مطلب دا دې چه په دې کښې عبادت به انسان لره د جنت طرف ته منتقل کړي.[4]

[۲۲۱۷] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ».

د سیدنا جندب رضی الله عنه نه روایت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل. هغوی اوفرمائیل: زه به ستاسو نه مخکښې په حوض کوثر باندې موجود یم.

د امام بخاری رحمه الله شیخ عبدان دې، عبدان لقب دې، او د هغوی نوم عبدالله بن عثمان دې، دوی د خپل پلار نه نقل کوی، د هغوی د پلار نوم عثمان بن حبلة دې.[5]

[۲۲۱۸] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ « إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الْآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ - أَوْ مَفَاتِيحَ الْأَرْضِ - وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا». [ر: ۱۲۷۹]

---

[1]) عمدة القاری: ۲۱۹/۲۳
[2]) عمدة القاری: ۲۱۹/۲۳، وفتح الباری: ۵۷۸/۱۱
[3]) عمدة القاری: ۲۲۰/۲۳
[4]) عمدة القاری: ۲۲۰/۲۳
[5]) عمدة القاری: ۲۲۰/۲۳

د سيدنا عقبة بن عامر رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ بهر تشريف راوړلو او په شهداء احد باندې ئې داسې مونځ اوکړو څنګه چه په مړی باندې مونځ کولې شی. بيا ئې منبر ته تشريف راوړلو او وې فرمائيل: زه به ستاسو نه مخکښې ځم او په تاسو بندې به ګواه يم او زه به والله د خپل حوض طرف ته دې وخت کښې هم ګورم. او ماته د زمکې د خزانو کنجيانې راکړې شوې دی، يا (ئې اوفرمائيل چه، د زمکې کنجيانې راکړې شوې دی. والله: زه ستاسو باره کښې د دې نه نۀ ويريږم چه تاسو به شرک اوکړئ، خو زه د دې نه ويريږم چه تاسو به د دنيا دپاره د يو بل نه د مخکښې کيدو کوشش کوئ.

په سند کښې د يزيد نه مراد يزيد بن ابی حبيب دې، چه د هغوی کنيت ابو رجاء دې. ابو حبيب د سويد کنيت دې او د ابوالخير نوم مرثد بن عبدالله دې.

(مرثد): د ميم په فتحې او د راء په سکون او د ثاء په فتحې سره دې.

[٦٢١٩] (١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّهُ سَمِعَ حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَذَكَرَ الْحَوْضَ فَقَالَ «كَمَا بَيْنَ الْمَدِينَةِ وَصَنْعَاءَ

وَزَادَ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ حَارِثَةَ سَمِعَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَوْلَهُ حَوْضُهُ مَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَالْمَدِينَةِ.

فَقَالَ لَهُ الْمُسْتَوْرِدُ أَلَمْ تَسْمَعْهُ قَالَ الأَوَانِي . قَالَ لاَ . قَالَ الْمُسْتَوْرِدُ تُرَى فِيهِ الآنِيَةُ مِثْلَ الْكَوَاكِبِ.

د سيدنا حارثه بن وهب رضی الله عنه نه روايت دې چه هغوی د رسول الله ﷺ نه واوريدل، رسول الله ﷺ د حوض ذکر اوکړو او وې فرمائيل چه (هغه به دومره لوئې وی، څومره چه د مدينې او د صنعاء ترمينځه مزل دې.

او ابن ابی عدی دشعبه په واسطې سره د سيدنا حارثه رضی الله عنه نه دا اضافه نقل کړه. چه هغوی د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد واوريدلو چه د رسول الله ﷺ حوض به دومره اورد وی څومره چه د صنعاء او د مدينې ترمينځه مسافت دې. په دې باندې هغوی ته مستورد رحمه الله اووې چه آيا تاسو د رسول الله ﷺ نه د هغه حوض د لوښو متعلق اوريدلې دي؟ هغوی اوفرمائيل: نه: مستورد اووې په هغې کښې به لوښی داسې په نظر راځی لکه د آسمان ستوری (په کثرت سره پرقيدونکی)

قوله: (وَزَادَ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ): د ابن ابی عدی نوم محمد بن ابراهيم دې، ابو عدی د

---

(١) اخرجه مسلم فی الفضائل، باب: اثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته: رقم ٢٢٩٨
(كما بين ... ما بين) المراد بيان سعته وطول ابعاده، كما مر فی الحديث (٦٢٠٦). (الاوانی) جمع انية، والانية جمع اناء، وهو الوعاء، والمراد: الكؤوس التی يشرب بها من الحوض. (مثل الكوكب): النجوم فی السماء كثرة وضياء.

هغوی نیکه دی علامه عینی رحمه الله فرمائی
﴿ولا یعرف اسمه، وهو بصری ثقة، کثیر الحدیث﴾ یعنی د ابو عدی نوم معلوم نه دی، خو هغه کثیر الحدیث ثقه محدث دی. (۱)
د ابن ابی عدی دا اضافه امام مسلم رحمه الله موصولا نقل کړې ده. (۲)
مستورد ابن شداد رضی الله عنهما: دلته په حدیث کښې د مستورد ذکر دی (مستورد په وزن د مستفعل) دا صحابی دی او د هغوی پلار هم صحابی وو. په کوفه کښې اوسیدل او د مصر د فتح په وخت حاضر وو، د هغوی وفات په ۴۵ هجری کښې شوی دی. په بخاری کښې د هغوی صرف هم دا یو روایت دی او د هغوی د حدیث مرفوع دی اګر چه هغوی د دې تصریح نه ده کړې. (۳)

[۲۲۲۰] (۴) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ عَنْ نَافِعِ بْنِ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ - رضي الله عنهما - قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنِّي عَلَى الْحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ، وَسَيُؤْخَذُ نَاسٌ دُونِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي. فَيُقَالُ هَلْ شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ وَاللَّهِ مَا بَرِحُوا يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ». فَكَانَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ نَرْجِعَ عَلَى أَعْقَابِنَا أَوْ نُفْتَنَ عَنْ دِينِنَا. (أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ) تَرْجِعُونَ عَلَى الْعَقِبِ. [۲۲۴۱]

د سیده اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: زه به په حوض کوثر باندې موجود یم او ګورم به چه په تاسو کښې کوم کوم ماته راځی، بیا به څه خلق زما نه بیل کړې شی. زه به عرض اوکړم چه اې زما ربه! دا خو زما ملګری دی او زما د امت خلق دی. ماته به اووئیلې شی چه آیا تاته معلومه هم ده! هغوی ستا نه روستو څه کارونه کړې وو. قسم په الله همیشه وو دوی چه روستو به واپس کیدل
ابن ابی ملیکه رحمه الله به فرمائیل چه اې الله! مونږ د دې خبرې نه ستا پناه غواړو چه په پوندو واپس شو. یا د خپل دین په باره کښې په فتنه کښې واچولې شو.
قوله: ﴿أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ: تَرْجِعُونَ عَلَى الْعَقِبِ﴾: دا په سورة المومنون کښې واقع دی ﴿قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ﴾ یعنی زما آیتونه به په تاسو باندې

(۱) عمدة القاری: ۲۲۱/۲۳
(۲) صحیح مسلم، کتاب الفضائل، باب اثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته: ۶۰/۱۵، فتح الباری: ۵۷۹/۱۱، وعمدة القاری: ۲۲۲/۲۳
(۳) فتح الباری: ۵۷۹/۱۱، وعمدة القاری: ۲۲۲/۲۳
(۴) اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الفتن، باب ما جاء فی قول الله تعالی: ﴿واتقوا فتنة لاتصيبن الذين ظلموا منكم خاصة﴾ رقم الحدیث: ۷۰۴۸، واخرجه مسلم فی الفضائل: باب اثبات حوض نبینا صلی الله علیه وسلم وصفاته، رقم ۵۹۲۸، ۵۵/۱۵

لوستلې کیدل نو تاسو به په خپلو پوندو باندې واپس کیدلئ.
یعنی د قیامت په ورځ به الله پاک کفارو ته فرمائی چه اوس ولې شور کوئ. هغه وخت یاد کړئ چه د الله پاک پیغمبر به درته آیتونه لوستل نو تاسو به په پوندو باندې واپس کیدلئ، اوریدل به مو هم بد ګڼړل، ستاسو تکبر به اجازت نه درکولو چه حق قبول کړئ او د پیغمبرانو خبره اومنئ.

په حدیث کښې چونکه ﴿ يرجعون على اعقابهم ﴾ الفاظ راغلې دی، د دې مناسبت د وجې نه امام بخاری رحمه الله د قرآن کریم د ایت کریمه دا الفاظ اود هغې تشریح نقل فرمائیلې ده؟. دا د ابوعبیده د تفسیر نه اخستلې شوې دې. (۱)

﴿ وهذا اخر ما اردنا ايراده من شرح احاديث كتاب الاستذان، وكتاب الدعوات، وكتاب الرقاق من صحيح البخارى رحمه الله تعالى للشيخ المحدث سليم الله خان حفظه الله ورعاه متعنا الله بطول حياته وقد وقع الفراغ من تسويده واعادة النظر فيه، ثم تصحيح ملازم الطبع بيوم الخميس ٦ صفر المظفر ١٤٢٩هـ الموافق ١٤ فرورى ٢٠٠٨، والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات وصلى الله على النبى الامى واله وصحبه وتابعيهم وسلم عليه وعليهم ما دامت الارض والسّموات، رتبه وراجع نصوصه وعلق عليه ابن الحسن العباسى عضو قسم التحقيق والتصنيف والاستاذ بالجامعة الفاروقية، وفقه الله تعالى لاتمام باق الكتب، كما يحبه ويرضاه وهو على كل شئ قدير، ولا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم، يليه ان شاء الله شرح كتاب القدر ﴾

(۱) فتح البارى : ۵۷۹/۱۱، وعمدة القارى : ۲۲۲/۲۳

المصادر والمراجع

☆ (کشف الباری المجد السادس لصحیح البخاری المجلد الثانی)

☆ الابواب والتراجم لصحیح البخاری / محمد زکریا الکاندھلوی رحمه الله تعالیٰ. متوفی ۱۴۰۲ھ / ۱۹۸۲م.
ایچ ایم سعید کراچی۔

☆ امانی الاحبار شرح معانی الآثار / مولانا یوسف کاندھلوی رحمه الله. ادارہ تالیفات اشرفیه لاهور۔

☆ اسماء الدارقطنی / حافظ ابو الحسن علی بن عمر دار قطنی رحمه الله. متوفی ۳۸۵ھ۔

☆ الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف / علاؤ الدین علی بن سلیمان مرداوی. دار احیاء التراث العربی بیروت

☆ احسن الفتاوی / مولانا رشید احمد لدھیانوی رحمه الله. ایچ ایم سعید کمپنی کراچی

☆ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان / ابو حاتم محمد بن حبان بستی رحمه الله تعالیٰ. متوفی ۳۵۴.
مؤسسة الرسالة بیروت۔

☆ احکام القرآن / ابو بکر احمد بن علی الرازی الجصاص رحمه الله. متوفی ۳۷۰. دار الکتب العلمیة بیروت

☆ احکام القرآن / ابو بکر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربی المتوفی ۵۴۳ھ / دار المعرفة بیروت۔

☆ امداد الفتاویٰ / حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمه الله. متوفی ۱۳۶۲ھ. مکتبه دار العلوم کراچی۔

☆ الاکمال / الامیر الحافظ ابن ماکولا رحمه الله. المتوفی ۴۷۵. محمد امین دمج. بیروت۔

☆ امداد الباری / حضرت مولانا عبدالجبار اعظمی. مکتبه حرم مراد آباد۔

☆ احیاء علوم الدین مع اتحاف السادة المتقین / امام محمد بن محمد الغزالی رحمه الله. المتوفی ۵۰۵ھ.
دار احیاء التراث العربی بیروت۔

☆ الادب المفرد مع شرح فضل الله الصمد / امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسمٰعیل البخاری. المتوفیٰ
۲۵۶ھ. مکتبة الایمان المدینة المنورة۔

☆ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری / ابو العباس شهاب الدین احمد القسطلانی۔ رحمه الله۔ متوفیٰ
۹۲۳ھ. المطبعة الکبریٰ الامیریة مصر / دار الکتب العلمیة بیروت۔

☆ الاستذکار / ابن عبد البر رحمه الله. المتوفی ۴۶۳ھ. دار احیاء التراث العربی بیروت. الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۱ھ۔

☆ الاستیعاب فی اسماء الاصحاب بهامش الاصابة / ابو عمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبد البر۔
رحمه الله۔ متوفی ۴۶۳ھ. دار الفکر بیروت۔

☆ اسد الغابة فی معرفة الصحابة / عز الدین ابو الحسین علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر۔
رحمه الله۔ المتوفی ۶۳۰ھ. دار الکتب العلمیة بیروت۔

☆ الاصابة فی تمییز الصحابة / شهاب الدین ابو الفضل احمد بن علی العسقلانی المعروف بابن حجر۔
رحمه الله۔ متوفی ۸۵۲ھ. دار الفکر بیروت۔

☆ انوار الباری / مولانا سید احمد رضا بجنوری رحمه الله. مدینه پریس بجنور۔

☆ اعلام الحدیث / ابو سلیمان احمد بن محمد الخطابی۔ رحمه الله۔ متوفی ۳۸۸ھ. مرکز احیاء التراث
الاسلامی جامعة ام القریٰ مکة المکرمة۔

☆ اعلاء السنن / ظفر احمد العثمانی ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۱۳۹۴ ھ ، ادارۃ القرآن کراچی ۔
☆ الانساب / ابو سعید عبد الکریم بن محمد بن منصور السمعانی رحمه الله متوفیٰ ۵۶۲ ھ ، دار الجنان بیروت
☆ اوجز المسالک الیٰ مؤطا مالک / محمد زکریا کاندھلوی ۔ رحمه الله ۔ ، متوفی ۱۴۰۲ ھ ، ادارۃ تالیفات اشرفیه ملتان / دار القلم ، دمشق ۔
☆ ایضاح البخاری / مولانا سید فخر الدین احمد مکتبه مجلس قاسم المعارف دیوبند ۔
☆ البحر الرائق / علامه زین العابدین بن ابراهیم بن نجیم رحمه الله ، المتوفیٰ ۹۶۹ ھ یا ۹۷۰ ھ ، مکتبه رشیدیه کوئٹه ۔
☆ بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع / علاء الدین ابو بکر بن مسعود الکاسانی ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۵۸۷ ھ ، ایچ ایم سعید کراچی ۔
☆ بدایة المجتهد / ابو الولید محمد بن احمد بن رشد القرطبی ، متوفیٰ ۵۹۵ ھ ، مصر طبع خاص ۔
☆ البدایة والنهایة / عماد الدین ابو الفداء اسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۷۷۴ ھ ، مکتبة المعارف بیروت ۔
☆ بذل المجهود فی حل ابو داؤد / خلیل احمد السهارنفوری ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۱۳۴۶ ھ ، مطبعة ندوة العلماء لکهنؤ ۱۳۹۳ ھ / مرکز الشیخ ابی الحسن الندوی ، مظفر فور ، الهند ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۷ ھ ۔
☆ البنایة شرح الهدایة / بدر الدین عینی محمود ابن احمد المتوفیٰ ۸۵۵ ھ ، مکتبه رشیدیه کوئٹه ۔
☆ البدر الساری الی فیض الباری / مولانا بدر عالم میرٹھی متوفیٰ ۱۳۸۵ ھ ، خضر راہ بکڈپو دهلی مطبوعه : ۱۹۸۰ء
☆ بستان المحدثین / حضرت شاه عبد العزیز صاحب ، متوفیٰ ۱۲۳۹ ھ ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی ۔
☆ بیان القرآن / حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی ، شیخ غلام علی سنز ، لاهور ۔
☆ تعلیقات الرفع والتکمیل / شیخ عبد الفتاح ابو غده ، متوفیٰ ۱۴۱۷ ھ ، مکتب المطبوعات الاسلامیة حلب ۔
☆ تعلیقات فتح الباری زهیر شاویش / دار السلام ریاض ، ۲۰۰۰ م ۔
☆ ترجمان السنة / مولانا بدر عالم میرٹھی ، اداره اسلامیات لاهور ۔
☆ تاج العروس بن جواهر القاموس / ابو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضیٰ الزبیدی ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۱۲۰۵ ھ ، دار مکتبة الحیاة ، بیروت ۔
☆ تاریخ بغداد / احمد بن علی المعروف بالخطیب البغدادی ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۴۶۳ ھ ، دار الکتاب العربی بیروت ۔
☆ التاریخ الکبیر / محمد بن اسماعیل البخاری ۔ رحمه الله ۔ ، متوفیٰ ۲۵۶ ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت ۔
☆ تبیین الحقائق شرح کنز الدائق / فخر الدین عثمان بن علی الزیلعی متوفیٰ ۷۴۳ ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت
☆ تحفة الاحوذی / شیخ عبد الرحمن المبارکفوری رحمه الله ، المتوفیٰ ۱۳۵۳ ھ ، نشر السنة ملتان ۔
☆ تنزیه الشریعة المرفوعة عن الاحادیث الشیعة الموضوعة / ابو الحسن علی بن محمد ابن عراق کنانی ، دار الکتب بیروت ۔
☆ تذهیب التهذیب / حافظ شمس الدین الذهبی المتوفیٰ ۷۴۸ ھ ، بیروت لبنان ۔

☆ تحفة الباری بشرح صحیح البخاری / ابو یحیی زکریا بن محمد الانصاری. المتوفی ۹۲۶ھ. دار الکتب العلمیة بیروت. الطبعة الاولی ۱۴۲۵ھ۔

☆ تعلیقات علی لامع الدراری / محمد زکریا الکاندهلوی ـ رحمه الله ـ. متوفی ۱۴۰۲ھ

☆ جامع البیان / محمد بن جریر الطبری ـ رحمه الله ـ. متوفی ۳۱۰ھ. دار المعرفة بیروت۔

☆ تفسیر عثمانی / شبیر احمد العثمانی ـ رحمه الله ـ. تاج کمپنی۔

☆ تفسیر القرآن العظیم / ابو الفداء عماد الدین اسماعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقی ـ رحمه الله ـ. متوفی ۷۷۴ھ. دار احیاء الکتب العربیة۔

☆ التفسیر الکبیر / فخر الدین الرازی ـ رحمه الله ـ مرکز النشر. مرکز العلمیة الاسلامی۔

☆ التفسیر المظهری / ثناء الله پانی پتی ـ رحمه الله. دار الکتب العلمیة بیروت۔

☆ تذکرة الخلیل / مولانا عاشق الٰهی میرٹھی رحمه الله. متوفی ۱۳۶۰ھ. ادارة اسلامیات لاهور۔

☆ تاریخ طبری / ابو جعفر محمد بن جریر الطبری. متوفی ۳۱۰ھ. مؤسسة الرسالة بیروت۔

☆ تنویر الابصار / للشیخ شمس الدین محمد بن عبدالله بن احمد الغزی الحنفی. المتوفی ۱۰۰۴ھ. مکتبه رشیدیه کوئٹه۔

☆ تقریب التهذیب / ابن حجر عسقلانی ـ رحمه الله ـ. متوفی ۸۵۲ھ. دار الرشید حلب۔

☆ تکملة فتح الملهم / محمد تقی العثمانی حفظه الله. مکتبه دار العلوم کراتشی / دار القلم دمشق۔

☆ التلخیص الحبیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر / حافظ ابن حجر العسقلانی رحمه الله. المتوفی ۸۵۲ھ. دار نشر الکتب الاسلامیة لاهور۔

☆ تلخیص المستدرک (المطبوع بذیل المستدرک) / حافظ شمس الدین محمد بن احمد عثمان ذهبی رحمه الله. المتوفی ۷۴۸ھ. دار الفکر بیروت۔

☆ التمهید لما فی الموطا من المعانی و الاسانید / ابو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد عبد البر مالکی ـ رحمه الله ـ. متوفی ۴۶۳ھ. المکتبة التجاریة مکة المکرمة۔

☆ تهذیب الاسماء و اللغات / محی الدین ابو زکریا یحی بن شرف النووی ـ رحمه الله ـ. متوفی ۶۷۶ھ. ادارة الطباعة المنیریة۔

☆ تهذیب التهذیب / ابن حجر عسقلانی رحمه الله متوفی ۸۵۲ھ. دائرة المعارف النظامیة حیدر آباد دکن

☆ تهذیب الکمال / جمال الدین ابو الحجاج یوسف بن عبد الرحمن مزی ـ رحمه الله. متوفی ۷۴۲ھ. مؤسسة الرسالة۔

☆ تدریب الراوی بشرح تقریب النواوی / حافظ جلال الدین عبد الرحمن سیوطی رحمه الله. المتوفی ۹۱۱ھ. المکتبة العلمیة مدینه منوره۔

☆ تذکرة الحفاظ / حافظ ابو عبد الله شمس الذین محمد بن احمد بن عثمان الذهبی رحمه الله. المتوفی ۷۴۸. دائرة المعارف العثمانیة. الهند۔

☆ الترغیب و الترهیب / امام عبد العظیم بن عبد القوی المنذری رحمه الله. المتوفی ۶۵۶ھ. دار احیاء التراث العربی بیروت. الطبعة الثانیة ۱۳۸۸ھ. ۱۹۶۸م۔

☆ تعليقات على تهذيب الكمال / دكتور بشار عواد معروف حفظه الله تعالى، مؤسسة الرسالة طبع اول ۱۴۱۳ھ
☆ تغليق التعليق / حافظ احمد بن على المعروف بابن حجر رحمه الله المتوفى ۸۵۲ ھ. المكتب الاسلامى ودار عمار
☆ الثقات لابن حبان / ابو حاتم محمد بن حبان البستى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۳۵۴ھ، دائرة المعارف العثمانية حيدر آباد ۱۳۹۳ھ۔
☆ جلاء الافهام فى الصلاة على خير الانام / علامه ابن قيم، دار الكتب العلمية بيروت۔
☆ الجامع لاحكام القرآن / ابو عبد الله محمد بن احمد الانصارى القرطبى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۶۷۱ھ، دار الفكر بيروت۔
☆ جامع الترمذى / ابو عيسىٰ محمد بن عيسىٰ بن سورة الترمذى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۲۷۹ھ، سعيد كراچى / دار احياء التراث العربى بيروت۔
☆ الجرح والتعديل / عبد الرحمن بن ابى حاتم الرازى رحمه الله، المتوفى ۳۲۷ھ، دار الكتب العلمية بيروت
☆ الجمع بين الرجال الصحيحين / ابو الفضل محمد بن طاهر المقدسى المعروف بابن القيسرانى، المتوفى ۵۰۷ھ، دار الكتب العلمية بيروت۔
☆ الجوهرة النيرة / الشيخ العلامة ابو بكر بن على بن محمد الحداد، المتوفى ۸۰۰ھ، مكتبه حقانيه ملتان۔
☆ جامع الاصول / مبارك بن احمد بن اثير الجزرى، متوفى ۶۰۶ھ، دار الفكر بيروت۔
☆ حاشية السندى على البخارى / ابو الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادى السندى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۱۱۳۸ھ، دار المعرفة بيروت۔
☆ حاشية البخارى / احمد على سهارنفورى، متوفى ۱۲۹۷ھ، قديمى كتب خانه كراچى۔
☆ حلية الاولياء / حافظ ابو نعيم احمد بن عبد الله بن احمد اصبهانى رحمه الله، المتوفى ۴۳۰ھ، دار الفكر بيروت
☆ خلاصة الجزرى / صفى الدين الخزرجى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۹۲۳ھ، مكتب المطبوعات الاسلامية بحلب۔
☆ الدر المختار / علاء الدين محمد بن على بن محمد الحصكفى رحمه الله، متوفى ۱۰۸۸ھ، مكتبه عارفين، كراتشى
☆ الدر المنثور فى التفسير بالمأثور / حافظ جلال الدين عبد الرحمن السيوطى رحمه الله، المتوفى ۹۱۱ھ، مؤسسة الرسالة۔
☆ دار العلوم ديوبند ــــ مدرسة فكرية / مولانا عبيد الله الاسعدى، مجلس نشريات اسلام، كراچى۔
☆ دلائل النبوة / ابو بكر احمد بن الحسن البيهقى ـ رحمه الله ـ، المتوفى ۴۵۸ھ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الاولىٰ۔
☆ الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل / مولانا عبد الحى لكهنوى، متوفى: ۱۳۰۴ھ، مكتب المطبوعات الاسلامية حلب، ۱۴۰۷ھ
☆ رحمة القدوس ترجمة بهجة النفوس / مولانا ظفر احمد عثمانى، ادارة اسلاميات لاهور۔
☆ رد المحتار على الدر المختار / محمد امين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الشامى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۱۲۵۲ھ، مكتبه رشيديه كوئٹه / دار الثقافة والتراث، دمشق، سورية / دار المعرفة بيروت۔
☆ روح المعانى فى تفسير القرآن العظيم والسبع المثانى / ابو الفضل شهاب الدين سيد محمود آلوسى بغدادى ـ رحمه الله ـ، متوفى ۱۲۷۰ مكتبه امداديه ملتان۔

☆ روائع البیان فی تفسیر آیات الاحکام / للشیخ محمد علی الصابونی، مکتبة الغزالی، دمشق۔
☆ زاد المعاد فی ھدی خیر العباد / ابو عبداللہ محمد بن ابی بکر، ابن قیم الجوزیة، تحقیق: شعیب الارنؤوط، عبدالقادر الارنؤوط، مؤسسة الرسالة، بیروت۔
☆ سنن ابن ماجہ / ابو عبداللہ محمد بن یزید بن ماجہ ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۲۷۳ھ، قدیمی کراچی / دارالکتاب المصری قاھرہ، دار الکتب العلمیة بیروت، بتحقیق لمحمود محمد محمود حسن نصار۔
☆ سنن ابی داؤد / ابو داؤد سلیمان بن الاشعث السجستانی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۲۷۵ھ، سعید کراچی / دار احیاء السنة النبویة۔
☆ سنن الدار قطنی / ابو الحسن علی بن عمر الدار قطنی رحمہ اللہ، متوفی ۳۸۵ھ، دار نشر الکتب العلمیة، بیروت
☆ سنن الدارمی / ابو محمد عبد اللہ بن عبد الرحمن الدارمی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۲۵۵ھ، قدیمی)
☆ السنن الصغری للنسائی / ابو عبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۳۰۳ھ، نشر السنة ملتان / قدیمی کراتشی
☆ السنن الکبری للبیہقی / ابو بکر احمد بن الحسن بن علی البیہقی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۴۵۸ھ، نشر السنة ملتان۔
☆ سیر اعلام النبلاء / ابو عبد اللہ شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان الذھبی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۷۴۸ھ، مؤسسة الرسالة۔
☆ سیرة النبی / مولانا شبلی نعمانی، مولانا سید سلیمان ندوی، دار الاشاعت کراچی۔
☆ الاشباہ والنظائر / ابن نجیم الحنفی ۔ رحمہ اللہ ۔ ادارة القرآن کراتشی۔
☆ شرح سنن الترمذی / لابن العربی المالکی، المتوفی ۵۴۳، طبعة الصاوی ۱۹۳۴۔
☆ شرح المقاصد / الامام مسعود بن عمر: سعد الدین التفتازانی، المتوفی: ۷۹۳ھ، دار الکتب العلمیة بیروت ۲۰۰۱۔
☆ شرح نخبة الفکر / ابن حجر عسقلانی، قدیمی کتب خانہ کراچی۔
☆ شرح ابن بطال / ابو الحسن علی بن خلف بن عبد الملک، المعروف بابن بطال ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۴۴۹ھ، مکتبہ الرشد، الریاض۔
☆ شرح الابی علی مسلم (اکمال اکمال المعلم) / ابو عبد اللہ محمد بن خلفة الابی المالکی رحمہ اللہ، المتوفی ۸۲۷ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت۔
☆ شرح الکرمانی / شمس الدین محمد بن یوسف بن علی الکرمانی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۷۸۶ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت۔
☆ شرح مشکل الآثار / ابو جعفر احمد بن محمد سلامة الطحاوی، المتوفی ۳۲۱ھ، مؤسسة الرسالة بیروت، الطبعة الثانیة ۱۴۲۷ھ۔
☆ شرح معانی الآثار / امام ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامة الطحاوی رحمہ اللہ، المتوفی ۳۲۱ھ، میر محمد کتب خانہ آرام باغ کراچی۔

☆ شرح النووی علی صحیح مسلم / ابو زکریا یحییٰ بن شرف النووی ـ رحمه الله ـ ، المتوفیٰ ۶۷۶ھ ، قدیمی کراتشی / دار المعرفة بیروت۔
☆ شذرات الذهب فی اخبار من ذهب / علامه عبد الحی بن احمد بن محمد بن العماد العکری الحنبلی رحمه الله ، متوفی ۱۰۸۹ھ ، دار الآفاق الجدیدة ، بیروت ۔
☆ شعب الایمان / امام حافظ احمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمه الله ، المتوفی ۴۵۷ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت ، ۱۴۱۰ھ۔
☆ الشمائل المحمدیة للترمذی / امام ابو عیسیٰ محمد بن عیسیٰ بن سورة الترمذی رحمه الله ، المتوفی ۲۷۹ھ ، فاروقی کتب خانه ملتان۔
☆ الصحیح للبخاری / ابو عبدالله محمد بن اسمٰعیل البخاری ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۲۵۶ھ ، قدیمی / دار السلام ریاض / دار ابن کثیر
☆ الصحیح لمسلم / مسلم بن الحجاج القشیری النیسابوری ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۲۶۱ھ ، قدیمی / دار السلام / دار المعرفة۔
☆ الطبقات الکبریٰ / ابو محمد بن سعد ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۲۳۰ھ ، دار صادر بیروت۔
☆ طبقات الشافعیة الکبریٰ / علامه تاج الدین ابو نصر عبد الوهاب بن تقی الدین سبکی رحمه الله ، المتوفیٰ ۷۷۱ھ ، دار المعرفة بیروت ۔
☆ ظفر الامانی / علامه عبد الحی لکهنوی رحمه الله ، المتوفی ۱۳۰۴ھ ، مکتب المطبوعات الاسلامیة بحلب الطبعة الثالثة ۱۴۱۶ھ۔
☆ عوارف المعارف / عمر بن محمد سهروردی ، المتوفی ۶۳۲ ، مکتبه مکیه ، مکه مکرمه ۱۴۲۲ھ۔
☆ اعراب القرآن و بیانه / محی الدین الدرویش ، دار الیمامة بیروت ۲۰۰۳ء ۔
☆ علوم القرآن / مولانا شمس الحق افغانی ، اردو بازار لاهور۔
☆ غنیة الطالبین / امام عبد القادر جیلانی رحمه الله ، ایچ ایم سعید کراچی ۔
☆ العنایة / علامه اکمل الدین محمد بن محمود البابرتی ، متوفی ۷۸۶ھ ، مکتبه رشیدیه کوئٹه ۔
☆ عمدة القاری / بدر الدین ابو محمد بن محمود احمد العینی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۸۵۵ھ ، ادارة الطباعة المنیریة / دار الکتب العلمیة بیروت ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۱ھ۔
☆ عون المعبود شرح سنن ابی داؤد / شمس الحق عظیم آبادی ، دار الفکر بیروت ۔
☆ فتاوی حقانیه / مفتیان جامعه دار العلوم حقانیه اکوڑه خٹک ، مؤتمر المصنفین ، اکوڑه خٹک
☆ الفتاوی التتارخانیة / عالم بن علاء الانصاری الاندرپتی الدهلوی ـ رحمه الله ـ ، المتوفیٰ ۷۸۶ھ ، قدیمی کتب خانه ۔
☆ فتح الباری / احمد بن علی المعروف بابن الحجر العسقلانی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۸۵۲ھ ، دار الفکر بیروت / قدیمی کراتشی / دار السلام۔
☆ فتح القدیر / کمال الدین محمد بن عبدالواحد السیواسی المعروف بابن الهمام ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۸۶۱ھ ، مکتبه رشیدیه / شرکة و مطبعة مصطفیٰ البابی الحلبی مصر۔

☆ فیض الباری / انور شاہ کشمیری ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۱۳۵۲ھ ۔ ربانی بک ڈپو دھلی۔
☆ العدة شرح العمدة فی مذهب الامام احمد بن حنبل ۔ رحمہ اللہ ۔ / بہاء الدین عبد الرحمن بن ابراهیم المقدسی رح / مکتبة الریاض الحدیثه بالریاض۔
☆ فتاوی رحیمیہ / حضرت مولانا مفتی عبد الرحیم صاحب مدظلہ ۔ دار الاشاعت کراچی۔
☆ فضل اللہ الصمد فی توضیح الادب المفرد / فضل اللہ جیلانی ۔ صدف پبلشرز کراچی۔
☆ الفقه الاسلامی و ادلته / علامہ وهبه زحیلی مکتبہ حقانیہ پشاور۔
☆ فتاوی عالمگیریہ / جماعة من العلماء نورانی کتب خانہ پشاور۔
☆ الفائق / علامہ جار اللہ ابو القاسم محمود بن عمر الزمخشری ۔ المتوفی ۵۳۸ھ ۔ دار المعرفة بیروت۔
☆ القاموس الوحید / وحید الزمان بن مسیح الزمان قاسمی کیرانوی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۱۴۱۵ھ ۔ /۱۹۹۵ء ۔ ادارہ اسلامیات لاهور۔
☆ القاموس الجدید / مولانا وحید الزمان قاسمی رحمہ اللہ ۔ ادارہ اسلامی لاهور۔
☆ الکاشف / شمس الدین ابو عبد اللہ محمد بن احمد بن عثمان ذهبی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۷۴۸ھ ۔ شرکة دار القبلة / مؤسسة علوم القرآن۔
☆ الکاشف عن حقائق السنن (شرح الطیبی) / شرف الدین حسین بن محمد بن عبد اللہ الطیبی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۷۴۳ھ ۔ ادارة القرآن کراچی۔
☆ الآلی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة / علامہ جلال الدین سیوطی ۔ المتوفی ۹۱۱ھ ۔
☆ کشف الاسرار عن اصول فخر الاسلام / علاء الدین عبد العزیز بن احمد البخاری ۔ المتوفی : ۷۳۰ ۔ دار الکتب العلمیة بیروت۔
☆ کتاب الزهد / الامام احمد بن حنبل ۔ دار الکتاب العربی ۔ ۱۹۹۳ء ۔
☆ الکافی الشاف فی تخریج احادیث الکشاف / الحافظ ابن حجر العسقلانی ۔ دارا الکتب العلمیة بیروت۔
☆ کتاب الضعفاء الکبیر / ابو جعفر محمد بن عمر بن موسی بن حماد العقیلی المکی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۳۲۲ھ ۔ دار الکتب ۔
☆ کنز العمال / علامہ علاء الدین علی المتقی بن حسام الدین الهندی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۹۷۵ھ ۔ مکتبة التراث الاسلامی ۔ حلب۔
☆ الکوکب الدری / رشید احمد گنگوهی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۱۳۲۳ھ ۔ ادارة القرآن کراچی۔
☆ الکامل فی التاریخ / علامہ ابو الحسن عز الدین علی بن محمد ابن الاثیر الجزری ۔ المتوفی ۶۳۰ھ ۔ دار الکتاب العربی بیروت۔
☆ الکامل فی ضعفاء الرجال / ابو احمد عبد اللہ بن عدی الجرجانی رحمہ اللہ المتوفی ۳۶۵ھ ۔ دار الفکر بیروت
☆ کفایت المفتی / حضرت مولانا مفتی کفایت اللہ صاحب ۔ دار الاشاعت ۔ کراچی ۔
☆ القول البدیع / فی الصلاة علی خیر الانام / علامہ ابن قیم ۔ دار الکتب العلمیة بیروت۔
☆ لامع الدراری / رشید احمد گنگوهی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۱۳۲۳ھ ۔ مکتبہ امدادیہ مکة المکرمة۔

☆ لسان العرب / ابو الفضل جمال الدین محمد بن مکرم ابن منظور الافریقی المصری ۔ رحمہ اللہ ۔ ۔ متوفیٰ ۷۱۱ھ، نشر ادب الحوزۃ ، قم ، ایران۔
☆ المؤطا / مالک بن انس ۔ رحمہ اللہ ۔ ، متوفیٰ ۱۷۹ھ ، دار احیاء التراث العربی بیروت ۔
☆ المؤطا / امام محمد بن الحسن الشیبانی رحمہ اللہ المتوفی ۱۸۳ھ ، نور محمد اصح المطابع ، آرام باغ کراچی
☆ المتواری علی تراجم ابواب البخاری / ناصر الدین احمد بن محمد المعروف بابن المنیر الاسکندرانی ۔ رحمہ اللہ ، متوفیٰ ۶۸۳ ، مظہری کتب خانہ کراچی۔
☆ مجمع بحار الانوار / علامہ محمد طاہر پٹنی رحمہ اللہ متوفیٰ ۹۸۲ ، دائرۃ المعارف العثمانیہ حیدر آباد۔
☆ مجمع الزوائد /نور الدین علی بن ابی بکری الھیثمی ۔ رحمہ اللہ ۔ ، متوفیٰ ۸۰۷ھ ، دار الفکر۔
☆ المجموع شرح المھذب / محی الدین ابو زکریا یحییٰ بنی شرف النووی رحمہ اللہ ، متوفی ۶۷۶ھ ، شرکۃ من علماء الازھر /دار الفکر بیروت۔
☆ مجموعۃ الفتاویٰ / ابو الحسنات عبد الحی الکھنوی ، متوفی ۱۳۰۴ھ ، ایچ ایم سعید کراچی ۔
☆ المعرفۃ والتاریخ/الشیخ ابو یوسف یعقوب بن سفیان الفسوی المتوفی ۲۷۷ھ ، مؤسسۃ الرسالۃ بیروت
☆ المحلی /ابو محمد علی احمد بن سعید بن حزم رحمہ اللہ ، متوفی ۴۵۶ھ ، المکتب التجاری بیروت / دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
☆ مختار الصحاح / محمد بن ابی بکر بن عبد القادر الرازی رحمہ اللہ ، متوفی ۶۶۶ھ ، دار المعارف
☆ مختصر القدوری / ابو الحسن بن احمد بن محمد بن جعفر البغدادی رحمہ اللہ ، المتوفی ۴۲۸ھ ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔
☆ المدونۃ الکبری / مالک بن انس رحمہ اللہ ، متوفی ۱۷۹ھ ، دار صادر ، بیروت / مکتبۃ نزار مصطفی الباز ، مکۃ المکرمۃ الریاض۔
☆ مرقاۃ المفاتیح شرح مشکوۃ المصابیح / نور الدین علی بن سلطان القاری رحمہ اللہ ، متوفی ۱۰۱۴ھ ، امدادیہ ملتان / مکتبۃ رشیدیۃ کوئٹہ ۔
☆ المستدرک علی الصحیحین / ابوعبداللہ محمد بن عبداللہ الحاکم النیسابوری رحمہ اللہ، متوفی ۴۰۵ھ ،دار الفکر۔
☆ مسند احمد / احمد بن حنبل رحمہ اللہ ، متوفی ۲۴۱ھ ، المکتب الاسلامی ، دار صادر بیروت ۔
☆ مسند ابی داؤد الطیالسی / حافظ سلیمان بن داؤد بن الجارود المعروف بابی داود الطیالسی رحمہ اللہ ، متوفی ۲۰۴ھ، دار المعرفۃ بیروت۔
☆ مصباح اللغات / ابو الفضل عبد الحفیظ البلیاوی رحمہ اللہ ،متوفی ۱۳۹۱ھ ، مکتبہ برھان دھلی۔
☆ المصنف لابن ابی شیبۃ /عبد اللہ بن محمد بن ابی شیبۃ المعروف بابی بکر بن ابی شیبۃ رحمہ اللہ ، متوفی ۲۳۵ھ ، دار الکتب العلمیۃ بیروت / دار قرطبۃ ،بیروت۔
☆ المصنف لعبد الرزاق / عبد الرزاق بن ھمام صنعانی رحمہ اللہ ، متوفی ۲۱۱ھ ، مجلس علمی کراتشی۔
☆ مظاھر الحق (جدید) /نواب محمد قطب الدین خان دھلوی ، دار الاشاعت کراچی ۔

☆ معالم السنن / الامام ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی رحمہ اللہ . متوفی ۳۸۸ھ . مطبعة انصار السنة المحمدیة۔
☆ معارف القرآن / حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمہ اللہ . متوفی ۱۹۷۶ھ . ادارۃ المعارف کراچی
☆ المعجم الکبیر / سلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی رحمہ اللہ . متوفی ۳۶۰ھ . دار الفکر۔
☆ مقدمہ صحیح مسلم / مولانا شبیر احمد العثمانی . ادارۃ شرکت علمیہ . دیوبند۔
☆ مقدمہ کتاب الزھد لابن المبارک / مولانا حبیب الرحمن اعظمی . دار الکتب العلمیة بیروت۔
☆ معرفة علوم الحدیث / امام ابو عبداللہ محمد بن عبداللہ حاکم نیسابوری رحمہ اللہ . المتوفی ۴۰۵ھ . دار الفکر بیروت۔
☆ المغنی / موفق الدین ابو محمد عبداللہ بن احمد قدامہ رحمہ اللہ . متوفی ۶۳۰ھ . دار الفکر۔
☆ مکمل اکمال الاکمال / ابو عبد اللہ محمد بن محمد بن یوسف السنوسی رحمہ اللہ . متوفی ۸۹۵ھ . دار الکتب العلمیة بیروت۔
☆ الموضوعات / للامام ابی الفرج عبد الرحمن ابن الجوزی . المتوفی ۵۹۷ھ . قرآن محل اردو بازار کراچی۔
☆ میزان الاعتدال فی نقد الرجال / شمس الدین محمد احمد بن عثمان الذھبی رحمہ اللہ . متوفی ۸۴۸ھ . دار احیاء التراث العربیة . مصر۔
☆ المفہم لما اشکل من تلخیص کتاب مسلم / الامام الحافظ ابو العباس احمد بن عمر بن ابراھیم القرطبی . المتوفی ۶۵۶ھ . دار ابن کثیر . دمشق . بیروت۔
☆ معارف الحدیث / مولانا محمد منظور نعمانی . دار الاشاعت کراچی۔
☆ معارف مدنی / مولانا عبد الشکور ترمذی رحمہ اللہ . ادارۃ تالیفات اشرفیہ لاھور۔
☆ مجموع فتاویٰ / تقی الدین احمد بن عبد الحلیم ابن تیمیہ المتوفی : ۷۲۸ دار الکتب العلمیة بیروت ۱۳۲۶۔
☆ المسامرۃ شرح المسایرۃ / محمد بن محمد . المتوفی ۹۰۵ . دار الکتب العلمیة بیروت ۲۰۰۲۔
☆ المسایرۃ فی العقاید المنجیة فی الآخرۃ / محمد بن عبد الواحد : ابن الھمام . المتوفی ۸۶۱ . دار الکتب العلمیة بیروت ۲۰۰۱۔
☆ نصب الرایہ فی تخریج احادیث الھدایة / جمال الدین ابو محمد عبد اللہ بن یوسف الزیلعی . المتوفی ۷۶۲ھ . مؤسسة الریان . بیروت . الطبعة الاولی ۱۴۱۸ھ
☆ النھایة فی غریب الحدیث والاثر / مجد الدین ابو السعادات المبارک بن محمد ابن الاثیر رحمہ اللہ . متوفی ۶۰۶ھ . دار احیاء التراث العربی بیروت / دار المعرفة بیروت الطبعة الاولی ۱۴۲۲ھ
☆ وفیات الاعیان / شمس الدین احمد بن محمد المعروف بابن خلکان رحمہ اللہ . متوفی ۶۸۱ھ . دار صادر بیروت
☆ الھدایة / برھان الدین ابو الحسن علی بن ابی بکر المرغینانی رحمہ اللہ . متوفی ۵۹۳ھ . مکتبہ شرکت علمیہ ملتان / ادارۃ القرآن کراتشی۔
☆ ھدی الساری مقدمة فتح الباری) / ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ . متوفی ۸۵۲ھ . دار الفکر . بیروت۔